بسم الله الرحمن الرحيم

صفوة التفاسير

پښتو

تألیف

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کښې د پاچا عبدالعزيز پوهنتون
د شرعیاتو او اسلامي زده کړو استاذ

ژباړونکی

مولوي شمس الله کمال زاده

المكتبة المعروفية
کوئټه لاهور پاکستان

صفوة التفاسير

پنځم ټوک

د قرآن کریم هغه تفسیر چې د مأثور او معقول تولګه اوله خورا معتبرو تفسیرونو ټخه لکه: طبري، کشاف، قرطبي، اُلوسي، ابن کثیر، بحر محیط اونورو ټخه یې غور چاڼ شوي او په روانو اونویو اسلوبو چې بیان اولغوي ارخونو ته پکښې پاملرنه شوي لیکل شوي دي۔

مؤلف

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کښې د پاچا عبدالعزیز پوهنتون
د شرعیاتو او اسلامي زده کړو استاذ

ژباړونکي:

مولوي شمس الله کمال زاده

کمپوزنگ: منیر الاسلام صابر


المکتبة المعروفیة

(کوټه) کاسي روډ شالدره کوټه پاکستان
(لاهور) بادیه حلیمه سنټر غزني سټریټ اُردو بازار لاهور

:03337907394-03353132868
Ph:03159807152-03337907398
E-mail:maktabamaroofia786@gmail.com
http://www.facebook.com/maktabamarofia

دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم:---------------پښتو صفوه التفاسیر

تالیف:-----------الشیخ محمد علي الصابوني رحمه الله

پښتو ژباړه:----------مولوي شمس الله کمال زاده

دکمپوزچاري:-----------مرحوم انجنیرعبدالله ګل (ریان) او زیاته برخه مولوي عبد البصیر

خپرونکي اداره:---------------المکتبة المعروفية (کوئټه) (لاهور)

دچاپ شمیر:-------------------۸۰۰ ټوکه

دچاپ کال:----------۱۴۴۰ هجري قمري د محرم الحرام میاشت

دکتاب ترلاسه کولو پته---------------المکتبة المعروفية (کوئټه) (لاهور)

منبر انوار سنز ... پبلشرز



المکتبة المعروفية

(کوئټه) کاسي روډ شالدره کوئټه پاکستان

(لاهور) بادیه حلیمه سنټر غزني سټریټ اُردو بازار لاهور

:03337907394-03353132868

Ph:03159807152-03337907398

E-mail:maktabamaroofia786@gmail.com

http://www.facebook.com/maktabamarofia

اللہ تعالی فرمایئ:

﴿ ۞ وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡۖ وَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡنَا
وَأُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمۡ وَٰحِدٞ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ﴿٤٦﴾ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَۚ فَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ
ٱلۡكِتَٰبَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۖ وَمِنۡ هَٰٓؤُلَآءِ مَن يُؤۡمِنُ بِهِۦۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٤٧﴾ وَمَا كُنتَ تَتۡلُواْ مِن قَبۡلِهِۦ
مِن كِتَٰبٖ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَۖ إِذٗا لَّٱرۡتَابَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ﴿٤٨﴾ بَلۡ هُوَ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ فِي صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَۚ
وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٩﴾ وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَٰتٞ مِّن رَّبِّهِۦۖ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ
وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿٥٠﴾ أَوَلَمۡ يَكۡفِهِمۡ أَنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحۡمَةٗ
وَذِكۡرَىٰ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥١﴾ قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ شَهِيدٗاۖ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ وَكَفَرُواْ بِٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٥٢﴾ وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَلَوۡلَآ أَجَلٞ مُّسَمّٗى
لَّجَآءَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ وَلَيَأۡتِيَنَّهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٥٣﴾ يَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٥٤﴾ يَوۡمَ
يَغۡشَىٰهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِن فَوۡقِهِمۡ وَمِن تَحۡتِ أَرۡجُلِهِمۡ وَيَقُولُ ذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٥٥﴾ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ أَرۡضِي
وَٰسِعَةٞ فَإِيَّٰيَ فَٱعۡبُدُونِ ﴿٥٦﴾ كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ غُرَفٗا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ نِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿٥٨﴾ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ
يَتَوَكَّلُونَ ﴿٥٩﴾ وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٖ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦٠﴾ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ
خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٦١﴾ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ
وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿٦٢﴾ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا
لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿٦٣﴾ وَمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَهۡوٞ وَلَعِبٞۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ
ٱلۡأٓخِرَةَ لَهِيَ ٱلۡحَيَوَانُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٦٤﴾ فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ
إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ ﴿٦٥﴾ لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ وَلِيَتَمَتَّعُواْۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ﴿٦٦﴾ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا جَعَلۡنَا حَرَمًا
ءَامِنٗا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنۡ حَوۡلِهِمۡۚ أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ يُؤۡمِنُونَ وَبِنِعۡمَةِ ٱللَّهِ يَكۡفُرُونَ ﴿٦٧﴾ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ
كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُۥٓۚ أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡكَٰفِرِينَ ﴿٦٨﴾ وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ
وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٦٩﴾ ﴾ العنكبوت: ٤٦ - ٦٩

مناسبت:

کله چي الله تعالی دهغو کسانو چي پرته له الله یې نور معبودان نیولي گمراهي وښوده او ددوی مثال یې دغني (تناو کبنې) دخوني څرګند کړ نو دلته یې داهل کتابو لپاره دایمان په بلنه او دعوت کي د نرمي امر وفرمایاو وروسته یې درسول الله ﷺ په رښتنولي کوټلي دلائل اوبراهین راوړل اودقرآنکریم دصحت اوصدق لپاره یې دلائل وړاندي کړل دسورت په پای کي یې دهغه څه یادونه وکړه کوم چي دتوحید په لاره کي مانع ګرزي او هغه دفاني دنیا په ژوند غولېدل دي اوبیایې دمشرکینو هغه حالت چي پـ سختي کي یې الله په یادوي اوپه توحیدیې یادوي مګر دسوکالي په وخت کي یې بیاهېرکړي (او مشرکان شي) بیان کړ.

لغتونه:

(بغتة) ناڅاپه نابېره (یغشاهم) پټوي یې له غشآء څخه اخیستل شوی اوغشاء غطاته وایي(لنبوئنهم) په یوځای کي داقامت په توګه اوښېدلوته (بوأ) وایې یعني زه به دوی ته داوسېدلولپاره هستوګنځی ورکړم(غرفا) بالاخانې دجنت لوړي خوني (یؤفکون) ګرزول کاوه شي له حق څخه د باطل په لوري (یبسط) خپروي غوړوي (یقدر) تنګوي (مثوی) هغه ځای چي هلته انسان اوسي.

دنزول سبب:

ابن عباس رضی الله عنهما وایې چي رسول الله ﷺ هغه وخت چي مسلمانان دمشرکانو له ضررڅخه ډېر په څور شول دهجرت امر ورکړ او ورته یې وویل: مدینې ته ولاړشئ اوهجرت وکړئ له ظالمانوسره مه اوسئ هغوی ورته وویل: موږ خوهلته نه سرای لرو اونه څمکه نه داسي خپلوان چي موږته خواړه اوبه راکړي نو داآیت شریف نازل شو: ﴿ وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ٱللَّهُ يَرْزُقُهَا وَإِيَّاكُمْ ﴾ (۱)دآیت ترپایه

تفسیر:

﴿ وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ أَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ﴾ او جګړې مکوئ (ای مؤمنانو) له اهل کتابو سره مګرپه هغه (خصلت) چي هغه ډېرښه دی (لکه دالله جل جلاله دقدرت په نښانوبلنه اویاتنبیه په دلائلو اوبراهینوباندي) ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنْهُمْ ﴾ مګرهغه کسان چي ظلم یې وکړ له دوی ځیني (او تاسو سره جنګېږي اودرسره دښمني کوي نوله هغوی سره په توره وجنګېږئ په شدت اوغلظت ورسره مجادله وکړئ. امام فخر رازي وایې چي: که مشرک دیوبدکار دکولو ملاتړلي وه نوله هغه سره دي په سخته رویه رفتار وشي اودهغه دتګلاري دي سپکاوی وکړل شي خوکه چېري کتابیانوچي په کتابونویې ایمان

(۱) انقرطبي ۳۶۰/۱۳

راوړی اوپه پیغمبرانوهم مګریوازي په رسول الله ﷺ یې اعتراف ندی کړی احسان کاوو تاسوهم ورسره په هغه ډېرښه خصلت باندې مجادله کوئ مګرهغه کسان چې دوی ظلم کړی اوالله ته دولدنسبت کوي اویاوایې چې :الله ثالث ثلاثة (ددرې ګونویودی)نوله هغوی سره دي په سخته رویه مجادله وشي اوددوی جهالت دي ورته څرګندشي (١) ﴿ وَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَأُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ ﴾ اووایاست تاسي چې ایمان راوړی دی موږپه هغه (قرآن) چې نازل کړی شوی دی موږ ته او(په هغه کتابونوچې) نازل کړی شوي دي تاسوته (چې تورات، انجیل دی ابوهریرة ﷺ وایې چې اهل کتابوبه تورات په عبراني ژبه لوستل اودمسلمانانرلپاره به یې په عربي تفسیرکاوونو رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسومه دهغوی تکذیب کوئ اومه یې تصدیق کوئ اوداسي وایاست چې موږ ایمان راوړی په هغه کتاب چې موږ ته نازل شوی اوپه هغوچې تاسوته نازل شوي دي (٢) ﴿ وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمۡ وَٰحِدٞ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ﴾ اوالله زموږ اوالله ستاسویودی اوموږخاص الله ته غاړه ایښودونکي یو(په وحدانیت یې منوحکمونو اوامرونو ته یې غاړه ایږدو) ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَۚ ﴾ اوهمداسي (لکه په نوروانبیاوو) نازل کړی دی موږتاته کتاب (قرآن) ای محمده ! ﴿ فَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۖ ﴾ پس هغه کسان چې ورکړی دی موږ دوی ته کتاب (لکه عبدالله بن سلام اونورملګري یې) ایمان راوړی دوی په دې قرآن ﴿ وَمِنۡ هَٰٓؤُلَآءِ مَن يُؤۡمِنُ بِهِۦۚ ﴾ اوځیني له دغومکې والوهغه څوک دي چې ایمان راوړي په دې (قرآن) ﴿ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴾ (اونه منکرېږي په آیتونوزموږمګرکافران) یعني اونه منکرېږي زموږپه آیتونوچې خوراڅرګنداوپه دلائلوولاړدي مګر هغه په کفرکي ډوب کافران چې په عنادکي ښخي وروستي پړاوته رسېدلي وي قتاده وایې چې جحد هغه انکارته چې وروسته له معرفت (پېژندګلوي) وي ویل کېږي (٣) ﴿ وَمَا كُنتَ تَتۡلُواْ مِن قَبۡلِهِۦ مِن كِتَٰبٖ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَۖ إِذٗا لَّٱرۡتَابَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ﴾ (اونه وې ته (ای محمده !) چې لوست به تاپخواله دې قرآنه څخه کوم کتاب(له پخوانیو کتابونونه) اونه به دي لیکه (دغه کتاب) په ښي لاس خپل (اوکه چېرې ته لیکونکی اولوستونکی وای) نوهلته به شک کاوو باطلونکوخلکو) یعني ای محمده تاخودقرآنکریم ترنزول دمخه لیک اولوست نه پېژاند اُمي وې ابن عباس وایې چې رسول الله ﷺ اُمي وو نه یې څه لوستل اونه لیکل(٤) که چېرې تاسولوستلای لیکلای شوای نوبه کافرانو په قرآنکریم کي شک کاووچې ښایې دغه به یې له پخوانیو کتابونوراخیستي اوالله ته به یې منسوب کړي وي په آیت شریف کي ددې دلیل دی چې دغه قرآن دالله له لوري نازل شوی کتاب

---

(١) التفسیرالکبیر٢٥ / ٧٥
(٢) أخرجه البخاري
(٣)القرطبي ١٣/ ٣٥١
(٤) أخرجه البخاري

دی ځکه هغه أمي پيغمبردی دغه معجزکتاب چي په پټوچارو اودتېرو أمتونو په خبرونو ډک دی دوی ته راوړی اودغه دده په رښتنولي ستربرهان اولوړ دليل دی ابن کثيروايي معناداچي ای محمده تاخو پخپل قوم کي وخت ډېر تېرکړی پخواله دې چي قرآن ورته راوړې ته خونالوستی وې اونه دي څه ليکلای شوای هرسړی دې پېژني چي ته أمي وې او همداسي رسول الله ﷺ ترپايه پوري څه نه ليکل ، نه يې کوم توری اوحرف ليکلی هغه ﷺدوحی کاتبان لرل چي وحی به يې ورته ليکله (۱) ﴿ بَلۡ هُوَ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ فِي صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَۚ ﴾ (بلکه دغه (قرآن) ښکاره آيتونه دي په سينو دهغو کسانوکي چي هغوی ته علم ورکړی شوی دی) يعني خبره دغسي نه ده لکه چي ظالمان اوباطلونکي يې انګېري بلکه دغه په اعجازڅرګنداوښکاره آيتونه دي دا په ډاګه کوي چي قرآن الهي کتاب دی اودعلماوو په زړونوکي خوندي دی مفسرين کرام وايې چي د قرآنکريم له ځانګړتياوو څخه دادی چي الله پاک هغه له تغيېراوتبديل څخه په دوو ډولونو ساتلی لومړی حفظ فی السطور اودوهم يې حفظ في الصدور دی په خلاف دنورو کتابونوچي هغه خويوازي په ليکنه کي راغلی مګرپه سينوکي خوندي شوی نه دی ځکه نوتحريف ورته لاره موندلي ده اوددغه امت په صفتونوکي راغلي چي (انجيلونه يې په سينوکي دي) حسن رحمه الله وايې چي دغه أمت ته حفظ ورکول شوی دی اوپخوانيوبه خپل کتابونه بې له دې چي له مخي يې ووايي نشو لوستلای اوکله چي به يې پټ او ونغښتل پرته له انبياوو عليهم السلام نه په هغه څه به نه پوهېدل کوم چي به ددوې په کتاب کي وو﴿ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ اونه منکرېږي په آيتونوزموږ (هيڅوک) مګرظالمان (هغه چي په کفر اوعنادکي وروستي پړاوته رسېدلي وي) ﴿ وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَٰتٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ ﴾ اووايي دغه (دمکې کافران) چي ولي نه نازلوی شي پردغه (محمد) معجزې له لوري د رب دده؟ (چي دده په رښتنولي دلالت وکړي لکه اوښه دصالح ﷺ او ياالکړه دموسی اومائده دعيسی عليهماالسلام ﴿ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ ووايه دوی ته بېشکه همداخبره ده معجزې خاص دالله په نزددي (زماپه لاس نه دي چي معجزې درته راوړم که الله وغواړي معجزې رااستوي اوکه وغواړي منع کوي يې زماپه وس کي نشته) ﴿ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴾ اوبېشکه همداخبره ده چي زه ښکاره وېرونکی يم (دالله له عذابه نه داچي معجزې درته راوړم) ﴿ أَوَلَمۡ يَكۡفِهِمۡ أَنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡۚ ﴾(آيادوی ته کافي نه دی (له جهته دمعجزې) داچي) بېشکه موږ نازل کړی دی په تاکتاب (قرآن) چي تل پردوی لوستل کېږي) استفهام دتوبيخ لپاره دی يعني مشرکينوته دغه معجزکتاب کافي نه دی چي همېشه يې دوی اوري؟ اوڅرنګه چي دوی دمعجزاتو غوښتنه کوي چي دغه قرآن ستا په نبوت خوراڅرګنددليل دی ؟ ابن کثيروايي چي الله تعالی ددوی زيات جهل اودعقل خامي بيانوي چي دوی درسول الله په رښتنولي باندي معجزه وغوښتله پداسي حال کي چي هغه داسي معجزکتاب دی چي هيڅ باطل ورته هيڅ لاره نلري اوتر سترو معجزاتولاستردی ځکه

(۱) مختصرابن کثير۳ / ۴۰

چي دوخت فصحاء اوبلغاء يې له مقابلې څخه عاجزدي آيادوی ته داکافي نه ده چي په تاأمي غوندي شخص چي نه ليکلای اونه لوستلای شي داسي کتاب چي دپخوانيو أمتونوپه اخبارومشتمل دي درکړی شوي؟ څکه نووروسته فرمايي: ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ (بېشکه چي پدې (کتاب قرآن) کي خامخارحمت مهرباني اوپندی لپاره دهغه قوم چي ايمان راوړي) يعني بېشکه چي په نازلولو ددې قرآن عظيم الشان کي په بندګانو سترنعمت دی چي دضلالت اوګمراهي څخه يې ژغورلي اوهمداراز پندپکي شته دهغه چالپاره چي مقصديې ايمان راوړل دی تعنت اوعنادنه کوي ﴿ قُلْ كَفَىٰ بِاللَّهِ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ شَهِيدًا ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته !) الله زمااوستاسي په مينځ کي شاهدکافي دی (چي زمادرسالت دربښتنولي شاهدي وايې) ﴿ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ چي ورمعلوم دی هرهغه شی چي په آسمانونوکي دی او(هرهغه څه چي) په ځمکه کي دی (که زه دروغجن يم هغه به راڅخه کسات واخلي) ﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوا بِاللَّهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴾ اوهغه کسان چي ايمان يې په باطل راوړي اوپه الله کافران شوي دي هم دوی زيانکاران دي (چي کفريې په ايمان بدل کړی دی) ﴿ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ ﴾ اوبېړه (تلوار) کوي دغه (کفار) په تاپه راتلودعذاب کي(وايي:) ﴿ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَاءِ ﴾ اودغه هسي استعجال دی چي تکذيب او استهزآء ورسره دی ﴿ وَلَوْلَا أَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَاءَهُمُ الْعَذَابُ ﴾ اوکه نه وای هغه نېټه ټاکلي شوی (لپاره دعذاب) نو خامخاراغلي به وو دغو (غوښتونکودعذاب ته) عذاب (سمدلاسه) ﴿ وَلَيَأْتِيَنَّهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ اوخامخارابه شي (داعذاب) دوی ته يوناڅاپه حال داچي دوی به خبرنه وي (په راتلواووخت يې) ﴿ يَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ ﴾ (بېړه کوي کفارپه تاپه (راتلو) دعذاب (په دنيا کي) حال داچي بېشکه دوزخ خامخاپه کافرانو احاطه کونکی دی) دغه ددوی له عناد او سرکښي څخه تعجب دی چي دوی څرنګه په دنياکي دژر راتلونکي عذاب غوښتونکي دي حال داچي ددوزخ عذاب پردوی داسي راګرزېدلی لکه لاس وندی (ونبی) په لاس باندي چي خني پټېدلای او تښتېدلای نشي بيايې څرنګوالی داسي بيانوي چي: ﴿ يَوْمَ يَغْشَاهُمُ الْعَذَابُ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ ﴾ (ياد کړه ای محمده هغه) ورځ چي لاندي به کړي دوی عذاب له پاسه (دسرونو) ددوی اوله لاندي د پښو د دوی نه (اوله ټولوطرفو نو اولورو) ﴿ وَيَقُولُ ذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ اووبه وايي دوی ته (الله دپرښتو په ژبه) وڅکئ تاسي (خونددسزا) دهغه (عمل) چي وی تاسي کاووبه مو(په دنياکي له استهزاء او ګناهونوڅخه) وروسته الله تعالی له دې چي دمنکرانوکفاروحال يې بيان کړدمتقيانو نېکانوحال داسي بيانوي چي: ﴿ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ أَرْضِي وَاسِعَةٌ ﴾ (ای زمابندګانوچي ايمان يې راوړی دی بېشکه زماځمکه ارته ده) دغه خطاب دتعظيم اوتشريف لپاره دی چي دهجرت لپاره هڅونه او تحريض پکي شته يعني ای هغوکسانوچي الله دځپل عبوديت لپاره مشرف کړي ياست که چېري تاسو دځپل ايمان په

څرګندولوکي ستونزي ويني اوله ظالمانوسره ګاونډي توب نشي کولای نودالله ځکه پراخه ده مقاتل وايې دغه دمکې دبېوزلانو په باب نازل شوی دی[1] ﴿ فَإِيَّـٰىَ فَٱعْبُدُونِ ﴾ پس خاص ما لره عبادت وکړئ تاسي (نه بل چاته) ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ﴾ هريونفس څکونکی دمرګ دی (خامخا مري) ﴿ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴾ بيا (خاص) موږته (په بعث بعد الموت کي) راوستل کېږي) يعني هر څېري چي ياست مرګ درته راتلونکی دی نوتل دالله په طاعت عبادت کي اوسئ اوچي کله د هجرت درته وويل شي نوهجرت وکړئ له مرګه خلاصون هېچېري نشته وروسته به بياالله ته دحساب او جزا لپاره راوستل کېږي ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ ﴾ اوهغه (کسان) چي ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه عملونه (يعني دايمان اواعمالو اخلاص يې يوځای کړي دي) ﴿ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ ٱلْجَنَّةِ غُرَفًا ﴾ خامخاځای به ورکړو موږ هرومرو دوی ته له جنته په دنګوماڼيوکي ﴿ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ ﴾ چي بهېږي لاندي (له ونوماڼيو) ويالې ﴿ خَـٰلِدِينَ فِيهَا ۚ نِعْمَ أَجْرُ ٱلْعَـٰمِلِينَ ﴾ حال داچي تل به اوسېږي په دغو(ماڼيو) کي ښه دی اجرددغو عمل کونکو(اوچتي ماڼۍ په داجنت کي) ﴿ ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ هغه (عمل کونکي) چي صبريې کړی (په تکليفونوګاللودهجرت اوربړونو په لاره دالله کي) او(خاص) پخپل رب باندي توکل کوي (په ټولوچاروکي په البحر المحيط کي راوړي چي همدغه دخير ښيګڼو ،کوچي اومغز دي چي صبرپه تکليفونواودچاروسپارښت الله ته وشي[2]) ﴿ وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ﴾ (اوډېردی له خوځېدونکو(په ځمکه) چي نه پورته کوي دوی خپله روزي) يعني ډېر داسي کمزوري ذی روح (ساکښان) دي چي پخپله دروزي په لاس ته راوړلونه توانېږي مګرالله هغوی ته سره له کمزوري ددوی روزي ورکوي ﴿ ٱللَّهُ يَرْزُقُهَا وَإِيَّاكُمْ ۚ ﴾ الله رزق رسوي هغوی ته اوتاسي ته هم ,الله ﷻ دټولومخلوقاتودروزي دتکفل وعده فرمايلي ده تاسي له دې مه وېرېږئ چي کله هجرت وکړی روزي به له کومه کوی الله رزاق دی په التسهيل کي وايې چي په آيت شريف کي مقصددمسلمانانود زړونوتقويه کول دي کله چي دوی دخپلو ټاټوبواو هيوادونو دپرېښودلوپه وخت کي له لوږي اوفقرڅخه وېرېږي نولکه چي څرنګه الله دغو کمزورو ساکښانوته روزي ورکوي کله چي تاسي له خپله ښاره اوديارہ هجرت وکړی داسي به يې تاسي ته هم درکوي ﴿ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ ([3]) اوهم دی ښه اورېدونکی (دټولواقوالو ستاسي) ښه پوه دی (په ټولواحوالوستاسي) بياخبره دمشرکانوتوبيخ اوترټني ته راغبرګه شوه چي دوی څرنګه دغيرالله عبادت کوي؟ ﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَسَخَّرَ

([1]) زادالمسير ٢٨١/٦

([2]) البحر ١٥٧/٧

([3]) التسهيل ١١٩/٣

ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ ﴾ اوقسم دی که سوال وکړې ته (له دوی نه ای محمده!) چې چاپیداکړي دي آسمانونه اوځمکه ؟ اومسخرکړي (په کارېې اچولي) دي لمراوسپوږمۍ. نوخامخاهرووايې کفاردمکې چې الله (پیداکړي دي يعني ای محمده که ته مشرکانوته دعالم علوي اوسفلي په هکله اوهغه عجائبات او غرائب چې پکې دي وپوښتې چې داچاپیداکړي دي ؟ اودغه لمر، سپوږمۍ چاپه داسې دقیق نظام د بندګانودمصلحتونو ترسره کولو لپاره تابع کړي دي؟ نودوی به وايې الله ﴿ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴾ پس څرنګه دوی (له توحیده) ګرزولی شي (سره له دې چې دغه اقرار هم کوي؟ ﴿ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ ﴾ الله پراخوي رزق لپاره دهرهغه چاچې اراده وکړي (دپراخي يې) له خپلو بندګانو څخه اوتنګوي يې په ده (که اراده دتنګي يې وکړي) اودغه ټول دازمويښت لپاره، چې شاکر اوصابر ښکاره شي) ﴿إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴾ بېشکه چې الله په هرشي ښه عالم دی (هغه کوي چې دده د حکمت اومصلحت غوښتنه وي ﴿ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ ﴾ اوبياقسم دی چې که سوال وکړې ته له دوی نه ای محمده!) چې چانازل کړي دي له (لوري) دآسمانه اوبه؟ پس ژوندی کړي يې ده په دې اوبوسره ځمکه پس له مرګه (وچوالي) ددې نو خامخاوايې دوی هرومرو چې الله (نازلې کړي دي!) يعني که ته له مشرکانوڅخه پوښتنه وکړې چې له آسمانه اوبه چاااورولي چې ډول ډول مېوې دانې اوفصلونه يې وروسته له وچوالي دځمکي را زرغونه کړي ؟نودوی به وايې دغه (دالله جل جلاله کاردی﴿ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ﴾ ووايه(ای محمده!) ټوله ثناالله ته دی بلکه زياتره ددوی عقل نلري (چې پدې اقرار کوي چې الله رازق اوخالق دی خوله دې سره سره دبل چاعبادت کوي ﴿ وَمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَهۡوٞ وَلَعِبٞۚ ﴾ او ندی دغه ژوندون ددنيامګرعبث اولوبې دي ژرتېرېږي لکه چې ماشومان يوه شېبه لوبې کوي اوبيا سره تېت پرک شي.

﴿ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ لَهِيَ ٱلۡحَيَوَانُۚ ﴾ اوبېشکه چې دارآخرت خامخاهم دی دی واقعي ژوندون (چې مرينه اوتلخي نه لري) ﴿لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴾ که چېرې وای دوی چې پوهېدلای (نوفاني به يې په باقي باندې نه غوره کولای ځکه چې دنياخسيسه اوسپکه ده دالله په وړاندې دماشي دوزرتول نلري (۱)﴿ فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ (پس هرکله چې سپاره شي دوی په بېړۍ نودوی بولي (هلته يوازي) الله په داسې حال کې چې خالص کونکي وي دوی دغه الله ته دين (اعتقاد) دغه په مشرکانوباندې ددريم دليل راوړل دي چې دوی څرنګه چې سختي اومشکلات وويني الله بولي اودسوکالۍ اوراحت په وخت کې بيامشرکان شي؟ د﴿ مُخۡلِصِينَ ﴾ په لفظ کې يوډول تهکم اواستهزآء

---

(۱) په حديث شريف کې راغلي چې که چېرې دنيادغوماشي دوزر غوندې قدرلرلای نوبه يې کافرته داوبوغوړپ غوندې هم نه وه ورڅکلې.

شته ﴿ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴾ (پس هر کله چي نجات ورکړي الله دوی ته وچي ته ناڅاپه دوی بیا له الله سره شریکان نیسي (لکه پخوا غوندي) یعني کله چي الله دوی ته دسمندر له ډوبېدلو څخه نجات ورکړي اووچي ته راووزي نو دوی بیرته کفر غوره کوي او اشراک خوښوي هغه الله چي دوی یې ژغورلي هېروي ﴿ لِيَكْفُرُوا۟ بِمَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ وَلِيَتَمَتَّعُوا۟ ﴾ کافران دي شي دوی په هغه نعمت چي موږ دوی ته ورکړي وو او ګټه دي واخلي دوی (په دغه ژوندانه کي) ﴿ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴾ پس ژر به دوی پوه شي (په عاقبت دخپل کار)(۱) امر د تهدید لپاره دی ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا ءَامِنًا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ﴾ (آیا نه وینې) نه پوهېږي) چي بېشکه موږ ګرزولی مودی (دابنار ددوی مکه) حرم امن ورکونکی (له آفتونو) حال دا چي تښتول کېږي نور خلګ له چاپېره ددوی) یعني آیا دغه کفار د پند او عبرت په ستر ګو نه ګوري چي څرنګه مومکه دامن ښار ګرزلی چي نه پکي قتل کېږي او نه څوک بندیانېږي او له دوې خوا و شا دغه پېښې کېدونکي دي ضحاک وایې چي د ﴿ وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ﴾ معنا دا چي ځیني ځیني نور وژني او په اسارت یې نیسي(۲) ﴿ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ ٱللَّهِ يَكْفُرُونَ ﴾ (آیا پس په باطلو معبودانو ایمان راوړي دوی او په نعمت دالله (چي په حرم کي اوسېدل او امن دی) کافران کېږي)یعني آیا وروسته له دې سترو نعمتونو دوی بیا هم په الله کافران او په بتانو ایمان راوړي؟ ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُۥٓ ﴾ او څوک دی ډېر ظالم له هغه چا چي له ځانه په الله دروغ وتړي او تکذیب وکړي (د حق قرآن) چي کله ده ته راشي (بلکه ترده بل ډېر ظالم نشته) ﴿ أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَٰفِرِينَ ﴾ آیا نشته په دوزخ کي ځای دهستوګني لپاره دکافرانو (په آیاتونو دالله جزا د تکذیب او کفر د دوی)؟ بلکه شته) ﴿ وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُوا۟ فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ﴾ او هر چي هغه کسان دي چي جهاد کوي تل (له نفس شیطان، خواهشاتو او کفارو سره چي ددین دښمنان دي دالله درضاء لپاره) خامخا و به ښیوو دوی ته لاري خپلي (چي موږ ته پرې راځي) ﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ او بېشکه الله خامخا له نېکو کارانو سره دی (په مرسته او مدد کي).

بلاغت:

پدې آیتونو کي چي دبدیع او بیان کومې ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

۱ – تحضیض او هڅونه لکه چي فرمایې: ﴿ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَٰتٌ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾.

(۱) دغه دامر معنا دصابوني صاحب دتفسیر دی.
(۲) القرطبي ۱۳ / ۳۶۳

۲ - دطباق صنعت لکه دا کلام ﴿ ءَامَنُوا۟ بِٱلْبَٰطِلِ وَكَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ ﴾ .

۳ - دحصر افاده چي پدې کلام کي شته ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴾ يعني نه بل څوک.

۴ - اطناب چي څو ځله دعذاب یادونه شوي لکه چي الله فرمايي ﴿ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ ۚ وَلَوْلَآ أَجَلٌ مُّسَمًّى .... يَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ ....وَإِنَّ جَهَنَّمَ .... يَوْمَ يَغْشَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ ﴾ ترپایه پوري

۵ - اضافت دتشريف اوتکريم لپاره لکه دلته ﴿ يَٰعِبَادِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ ﴾ .

۶ - دطباق صنعت ﴿ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ وَيَقْدِرُ ﴾ اوهمداسي ﴿ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ ٱللَّهِ يَكْفُرُونَ ﴾ .

۷ - عقلي مجازچي پدې کلام کي دی ﴿ حَرَمًا ءَامِنًا ﴾ يعني اهل دهغه.

۸ - بليغه تشبيه چي پدې آيت شريف کي دی ﴿ وَمَا هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ ﴾ چي په اصل (کاللهو، کاللعب) وودتشبيه ادوات اووجه دشبه حذف شوه نوبليغه تشبيه وگرزېده لکه چي وايې زيدزمرى دی.

۹ - ایجاز بالحذف چي دشرط ځواب حذف شوی ځکه چي سياق ورباندي دلالت کوي هلته چي فرمايي:
﴿ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴾ يعني که چېري پوهېدای نودنيابه يې په آخرت اوفنا په بقانه بدلولای اوغوره کولای.

۱۰ - دفواصلو مراعت کول چي دکلام رونق اوجمال زیاتوي اوپه اورېدلو کي ځانګړي اغيزه لري لکه ﴿ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ ٱللَّهِ يَكْفُرُونَ.... بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ....إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴾ .

تنبيه: مسلمان ته نه ښايي هلته چي دالله عبادت کول ورته ګران وي واوسي دالله ځمکه پراخه ده اوپه آيتونوکي دهجرت وجوب ته اشاره ده چي دارالاسلام ته دي ورشي اولکه چي ویل شوي دي (کل مکان ينبت العز طيب) هرچېري چي عزت شته هغه ښه دی.

دالله په مرسته دالعنکبوت سورت تفسير بشپړشو.

***

دالروم سورت مکي او شپېته آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

* الروم سورت مکي اوهدفونه يې همغه دمکي سورتونودي چي دعقيدې قضاياوي څېړي اودهغوی عمومي چوکاټ اوپراخ ډگرچي ايمان په وحدانيت ، رسالت اوبعث اوجزاء دی تعقيبوي.

* دسورت پيل په يوغيبي مهم خبرچي پخواله پېښېدويې قرآنکريم وړاندوينه کوي پيلېږي هغه چي کله پدې نژدې کي ددوی تر مينځ جگړه پېښه شي روميان به په فارسيانوبری مومي اوهمداسي وشول لکه چي قرآنکريم فرمايلي وو اونبوت ثرگندشوهمدغه درسول الله صلی الله عليه وسلم په رسالت يوډېر ثرگنددليل دی چي کوم څه يې راوړي هغه وحی اودقرآن له خورا لوړو معجزاتو څخه گڼل کېږي.

* بياسورت دهغي جگړې حقيقت ښيي کومه چي درحمن اوشيطان دپلويانوترمينځ وي دغه جگړه ډېره پخوانی ده چي له ژوندانه سره سمه راروانه ده دغه جگړه به ترهغو ونه درېږي څوحق اوباطل شتون لري شراوخير موجودوي اوشيطان خپلي لښکري راغونډوي اودالله دنورله مينځه وړلوهلي ځلي کوي دانبياوو عليهم السلام ددعوت مخه نيسي اوپه دې آيتونوکي داسي دلائل اوشواهدشته چي حق په باطل بری مومي اودغه په ټولو زمانواوختونوکي راځي دغه دالله سنت دی. ولن تجد لسنة الله تحويلا.

* بياسورت دقيامت خبري کوي اودکفارو گمراهانوبرخه ليک رااخلی چي په دغه سخته ورځ به څرنگه له کړاوونو کړېږي؟ هلته چي مؤمنان به په پراخو باغچودجنت کي خوښ اوهوساوي اوکفاربه په عذاب کي اوړي رااوړي وروستی تم ځای به ددواړو ډلوجلاجلا وي اوحقيقي بری اوربښتوني بدمرغي همدغه دي.

* وروسته سورت دکائناتوځيني مشاهد راوړي اوغيبي دلائل وړاندي کوي هغه چي دالله ﷻ په قدرت اووحدانيت گواه دي ترڅودالله په عظمت اوجلال باندي دليل شي دهغه چي هغه په وړاندي غاړي کږېږي اودمنني سرونه ورته ټيټېږي چي دلته الله ځيني مثالونه دهغوچي درحمان عبادت کوي اودهغوچي دبتانوعبادت کوي رااخلي.

* په پای کي سورت دقريشي کفارو خبر راوړي هغوته چي آيتونه اواخطارونه گټه نه ور رسوي اوهر څومره دقدرت نښانې اوثرگنددلائل چي ووينې بياهم پندنه اخلي اونه لاري ته راځي دوی لکه مړي داسي دي چي نه اوري ، نه ويني همدغه گرديبانونه درسول الله ﷺ دتسليت اودلاساينې په مقصد چي هغه له مشرکانوډېر تکاليف ليدل نوهغه ته دصبرمارېنه ده چي څوپوري مرسته اونصرت مومي زغم دي ولري.

تسميه اونومول:

ځکه ورته سورة الروم وايي چي دغه څرګنده معجزه هغه چي دقرآنکريم په رښتنولي دلالت کوي پکي راغلي فرمايي: ﴿ الٓمٓ غُلِبَتِ ٱلرُّومُ فِىٓ أَدْنَى ٱلْأَرْضِ وَهُم مِّنۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ فِى بِضْعِ سِنِينَ ﴾ اودغه دقرآنکريم له ځيني معجزاتو څخه ګڼل کيږي

الله تعالى فرمايي:

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓمٓ ﴿١﴾ غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ﴿٢﴾ فِىٓ أَدْنَى ٱلْأَرْضِ وَهُم مِّنۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ﴿٣﴾ فِى بِضْعِ سِنِينَ ۗ لِلَّهِ
ٱلْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِنۢ بَعْدُ ۚ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿٤﴾ بِنَصْرِ ٱللَّهِ ۚ يَنصُرُ مَن يَشَآءُ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿٥﴾ وَعْدَ ٱللَّهِ ۖ لَا يُخْلِفُ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦﴾ يَعْلَمُونَ ظَٰهِرًا مِّنَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ
ٱلْءَاخِرَةِ هُمْ غَٰفِلُونَ ﴿٧﴾ أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِم ۗ مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ وَإِنَّ
كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكَٰفِرُونَ ﴿٨﴾ أَوَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ
كَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَأَثَارُوا۟ ٱلْأَرْضَ وَعَمَرُوهَآ أَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ ۖ فَمَا كَانَ
ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٩﴾ ثُمَّ كَانَ عَٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔوا۟ ٱلسُّوٓأَىٰٓ أَن كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ
وَكَانُوا۟ بِهَا يَسْتَهْزِءُونَ ﴿١٠﴾ ٱللَّهُ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١١﴾ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُبْلِسُ ٱلْمُجْرِمُونَ
﴿١٢﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَآئِهِمْ شُفَعَٰٓؤُا۟ وَكَانُوا۟ بِشُرَكَآئِهِمْ كَٰفِرِينَ ﴿١٣﴾ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ
يَتَفَرَّقُونَ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَهُمْ فِى رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ ﴿١٥﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟
وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآئِ ٱلْءَاخِرَةِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ فِى ٱلْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴿١٦﴾ فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ
﴿١٧﴾ وَلَهُ ٱلْحَمْدُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ ﴿١٨﴾ يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ
وَيُحْىِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ وَكَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١٩﴾ ﴾ الروم: ١ - ١٩

لغتونه:

(يغلبون) مات به شي (اثاروا الارض) ځمکه يې وکرله دکښت لپاره يې واړوله (السوء آ) د(اسوا) تانيث دی لکه چي (حسنى) د(أحسن) تانيث دی او(سوءای) متناهي عذاب ته وايي (يحبرون) خوشحاله به وي جوهري وايي چي (حبر) (سرور) ته وايي يعني په نعمت اوښه حالت کي به خوشحاله وي (عشيا) له ماښامه نيولي ترماسخوتن تياري پوري وخت ته وايي (تظهرون) دغرمي په وخت کي ورګډېدلوته وايي.

تفسير:

﴿ الٓمٓ ﴾ له مقطعاتو حروفو څخه دی څو د قرآنکریم په اعجاز دلالت وکړي (۱)﴿ غُلِبَتِ ٱلرُّومُ فِيٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ ﴾ مغلوب کړی شو (اهل د) روم په متصله (نژدې) ځمکه کي (د فارس ځمکي ته) ﴿ وَهُم مِّنۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ سَيَغۡلِبُونَ ﴾ او دغه (روميان) وروسته له دغه مغلوبيت ددوی ژربه غالب شي (په فارسيانو باندي ﴿ فِي بِضۡعِ سِنِينَ ﴾ په څو کاله کي يعني په دومره موده کي چي څو کاله به زيات نه وي (بضع) له دريو کالونو نيولي ترنهو کالونو پوري مودې ته وايي . مفسرين کرام ليکي چي دفارسيانو او روميانو ترمينځ جګړه ونښته او فارسيان په روميانو غالب شول دغه خبره رسول الله ﷺ ته ورسېده او اصحابان ﷺ خبرشول اوسخته ورته ښکاره شوه خو ابدي شول مشرکان پدې خوشحاله شول ځکه چي فارسيان آتش پرسته مجوسيان وو او کتاب يې نه لاره او روميان خو اهل کتاب وو مشرکانو اصحابو ته وويل تاسو خواهل کتاب ياست او روميان هم کتابيان دي موږ چي بې کتابه اُميان يو زموږ ورونه فارسيان ستاسو په ورونو روميانو غلبه وموندله همداسي به موږ پرتاسو بری مومو ابوبکرصديق ﷺ ورته وويل: الله موداآرمان نيمګړی کړه (لايقرالله أعينکم) نو الله دا آيت راواستاوو ﴿ وَهُم مِّنۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ سَيَغۡلِبُونَ فِي بِضۡعِ سِنِينَ ﴾ او دجګړې په اووم کال بيا لنبکري سره ښکرېډ ښکرشوې او روميانو فارسيان راوپرزول مسلمانان پدې خوشحاله شول ابو السعود وايي چي دغه آيتونه له ښکاره معجزاتو د قرآنکريم څخه دي چي د رسول الله د نبوت په رښتنولي شاهدي وايي او داچي قرآنکريم دالله جل جلاله له لوري رانازل شوی کتاب دی چي له داسي پټو خبرو څخه پرده پورته کوي چي له الله پرته بل هيچاته معلوم نه دی او لکه څرنګه چي يې وړاندوينه کړي وه هغسي وشول (۲) بيضاوي وايي چي دغه آيت شريف د نبوت دليل دی چي له غيبو څخه يې خبر راوړی (۳)﴿ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ مِن قَبۡلُ وَمِنۢ بَعۡدُۚ ﴾ (خاص الله ته دی حکم امر پخوا او اوس) ترپخوا اله غلبې او اوس وروسته له هغې دغه ټول دالله په فيصله کېږي ابن جوزي رحمه الله وايي معنا داچي غلبه د غالب او مغلوبيت د مغلوب دالله په حکم او قضاء سره کېږي (۴)﴿ وَيَوۡمَئِذٖ يَفۡرَحُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴾ او په دغه ورځ (دغلبې د روم په فارس) خوشحاله به شي مؤمنان (په غلبه دکتابيانو په فارسيانو مجوسيانو باندي ځکه اهل کتاب ترمجوسيانو مؤمنانو ته نژدې دي او همداسي دغه فتح دبدر دورځي له بري سره سمون پيدا کړ ابن عباس ﷺ وايي چي دبدر ورځ دبتانو او وردعبادت کونکو لپاره دماتي ورځ وه .

---

(۱) وګوره هغه څه چي موږ دالبقرة سورت په پيل کي ليکي دي
(۲) ابو السعود ۴ / ۱۷۲
(۳) البيضاوي ۲ / ۱۰۳
(۴) زاد المسير ۲ / ۲۸۸

﴿ بِنَصْرِ ٱللَّهِ ۚ يَنصُرُ مَن يَشَآءُ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ (په نصرت دالله (له کتابیانو سره په مجوسیانو) مرسته کوي الله له هرهغه چاسره چي د نصرت اراده یې وکړي هم دی ښه غالب ډېر رحم والادی) یعني الله خپلو بندګانو ته مرسته ورکوي او هغه زورور ذات دی چي له دښمنانو کسات اخلي او په خپلو دوستانو ډېر رحم کونکی دی ﴿ وَعْدَ ٱللَّهِ ۖ لَا يُخْلِفُ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥ ﴾ وعده کړي ده الله (وعده کول) الله له خپلې وعدې خلاف نه کوي (ځکه چي وعده یې حق او وینایې رښتیاده) ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ ولیکن زیاتره خلګ نه پوهېږي (پدې له جهله او بې عقلي څخه چي دالله په وعده کي خلاف نشته) ﴿ يَعْلَمُونَ ظَٰهِرًا مِّنَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ (بلکه) پوهېږي په ښکاره سطحي شیانو له دغه ژوندددنیاڅخه هغه چي ددوی مصالح لکه زراعت ، تجارت ، تعمیرات اوداسي نوري چاري تشکیلوي ابن عباس وایې دوی ته دژوندانه چاري ورمعلومېږي چي کله به کښت کرونده کوي کله به یې رېبي ، کله به درختي کېنوي اوځرنګه به کور ودانوي ؟([1]) ﴿ وَهُمْ عَنِ ٱلْءَاخِرَةِ هُمْ غَٰفِلُونَ ﴾ (حال داچي دوی له آخرت نه هم دوی غافلان دي) یعني دوی دآخرت له چارو ړانده دي چي دآخرت لپاره سوچ وکړي اویادآخرت کاروکړي امام فخر رازي وایې : دآیت معناداچي ددوی علم په دنیاکي راګېردی خوسره له دې دنیاهم هغسي نه پېژني لکه چي ده، دوی یې یوازي سربېره سطحي پېژني چي هغه یې لذتونه اوهوسونه لوبي دي اودننه باطن یې ورته معلوم نه دی چي داکړاوونه اوتاوانونه لري دوی ته یې برسېره معلوم دی او په آخوا فنایې نه پوهېږي له آخرت څخه غفلت کونکي دي ([2]) ښایې چي په دغه تعبیرد ﴿ ظَٰهِرًا ﴾ کي دي دې ته اشاره وي چي دوی یوازي پټوکي(قشر) پېژندلی مغز یې هډو پېژندلی نه دی ددوی پوهه دڅارویو (حیواناتو) پوهه ده ﴿ أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِم ۗ مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾ (آیافکرنه کوي دوی پخپلو ځانونوکي چي نه دي پیداکړي الله دغه آسمانونه اوځمکه اوهرهغه څه چي په مینځ ددغو دواړو کي دي مګرپه حقه اوپه ټاکلي نېټې سره) یعني دوی فکرنه کوي په خپلوعقلونوچي وپوهېږي الله هغه عظیم اوجلیل ذات دی چي ځمکه اوآسمانونه یې عبث نه دي پیداکړي بلکه دیورسېدلي حکمت له مخي یې پنځولي دي چي په یوه ټاکلي نېټې به له مینځه ځي چي هغه دقیامت ورځ ده؟ قرطبي وایې چي پدې کي دفناء راتلولپاره تنبیه نغښتي ده چي هرمخلوق اجل لري اوداچي نیکوکارته به ثواب اوبدکارته جزاورکولی شي([3]) ﴿ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكَٰفِرُونَ ﴾ اوبېشکه چي ډېرله خلګو(کفارو) په ملاقات درب خپل (په قیامت کي) خامخا منکران دي (چي بعث اوجزانشته) ﴿ أَوَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ ﴾ (آیانه ګرزي دغه کفار په ځمکه کي پس ودي ګوري داچي څرنګه وه آخره خاتمه دهغو کسانوچي تردوی پخواتېرشوي دي) یعني

([1]) القرطبي ۱۴/ ۷
([2]) التفسیرالکبیر ۲۵/ ۹۷
([3]) القرطبي ۱۴/ ۷

آيادوی سفرنه کړي چي دوی دهلاک شوکندوالي ووینی او وپوهيږي چي هغه کسان چې دخپلو
انبیاوو تکذیب یې کاوو هغوی هلاک شوي نوبه دوي عبرت اخیستی وو ﴿ كَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ﴾
ووهغه پخواني اُمتونه ډېرسخت له دغو (کفارو) له جهته دقوت) یعني قوی بدنونه زیات مالونه
اولادونه یې درلودل ﴿ وَأَثَارُوا۟ ٱلْأَرْضَ وَعَمَرُوهَآ أَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا ﴾ او خیرو له به دوی ځمکه (لپاره
داستخراج دمعادنو، کښتونو کرلو او مانی جوړولو لپاره) او ودانه کړي وه (پخوانیو کفارو) دغه ځمکه
ډېره له هغي ځمکي نه چي دوی ودانه کړي وه داځمکه بیضاوي وایې چي دغه دمکې په کفاروباندي
تهکم او استهزاده یعني دوی خوپه دنیامغروره دي خودوی ډېر کمزوري دي ځکه چي دوی خوپه
ښارونوکي پراخي لتوي په خلکوبرلاسي غوارړي اودځمکي په گوټ گوټ کي تعمیرات اوودانی
جوړوي پداسي حال کي چي دوی داسي ځای ته فناورورږي چي گته پکي نشته ([1]) ﴿ وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم
بِٱلْبَيِّنَٰتِ ﴾ اوراغلي وودوی ته رسولان ددوی په ښکاره دلائلو (دقدرت اومعجزو) خودوی یې تکذیب
وکړ) ﴿ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ اونه وو الله چي پردوی باندي ظلم
وکړي ولاکن وودوی چي پرخپلوځانونوبه یې ظلم کاوو (په کفر اوتکذیب کولونودهلاکت وړ اومستحق
وگرزېدل ﴿ ثُمَّ كَانَ عَٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔوا۟ ٱلسُّوٓأَىٰٓ ﴾ بیاوه آخره خاتمه دهغوکسانوچي بدیې کړي وو ډېره بده
(چي ددوزخ اوردی) ﴿ أَن كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَكَانُوا۟ بِهَا يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ پدې سبب چي دوی تکذیب کړی
دی دالله دآیتونو او وودوی چي (دالله په آیتونوبه یې) ملنډي وهلې ﴿ ٱللَّهُ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيْهِ
تُرْجَعُونَ ﴾ الله اول ځل خلک پیداکوي (پخپل قدرت) بیایې رااعاده کوي (وروسته له مرگه) بیابه
خاص همدغه الله جل جلاله ته بېول کېږی تاسي (لپاره دحساب اوجزاء) ﴿ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُبْلِسُ
ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ (اوپه هغه ورځ چي قیامت قائم شي ناهیلي (زړه ماتي) به شي ظالمان) یعني کله چي قیامت
قائم شي اوخلک دحساب لپاره راټول کړل شي نومجرمان به چوپه خوله پاتي شي دلیل به ورته پاتي
نشي شونډي به نشي خوځولای ابن عباس وایې ﴿ يُبْلِسُ ﴾ ناامیده به شي اومجاهدوایې رسوابه شي
قرطبي وایې چي په لغت کي مشهوره داده چي کله څوک ووایې (أبلس الرجل) هغه چي چوپه خوله پاتي
شي اودلیل یې نه وي ﴿ وَلَمْ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَآئِهِمْ شُفَعَٰٓؤُا۟ ﴾ اونه به وي دوی ته له خپلو شریکانوددوی
کوم شفاعت کونکی(چي شفاعت به وکړي) ﴿ وَكَانُوا۟ بِشُرَكَآئِهِمْ كَٰفِرِينَ ﴾ اوشي به دوی له
خپلو شریکانوبېزاره منکران ﴿ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَتَفَرَّقُونَ ﴾ اوپه هغه ورځ چي قیامت قائم شي
په دغه ورځ کي تارپه تارخپاره به شي ټول مخلوقات ، دقیامت دقیام لفظ یې دوهروني اوتخویف لپاره
مکرر راووړ ځکه دغه یوهینبوونکی حالت دی او مؤمنان کافران به سره بېلېږي یوه ډله به جنت ته اوبله

[1]) البیضاوي ٢ / ١٠٣

به دوزخ ته درومي څکه فرمايي: ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ پس هرهغه (کسان) چي ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه هغه چي ايمان او اعمال صالحه يې يو ځای کړي) ﴿ فَهُمْ فِي رَوْضَةٖ يُحْبَرُونَ ﴾ پس دوی به دجنت په روضه کي خوشحاله کړی شي ﴿ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآيِٕ ٱلْأٓخِرَةِ ﴾ او هرهغه کسان چي کافران شوي دي او دروغجن يې شمېرلي دي آيتونه د (قرآن) زموږ او (کافران دي) په ملاقات دآخرت (بعث بعد الموت) باندي ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴾ پس دغه کسان په عذاب کي حاضر کړی شوي دي (تل ترتله) ﴿ فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ ﴾ پس (تسبيح ووايې د (الله) کله چي داخل شي په ببګاه کي او کله چي ننوزي په سبا کي (يعني د الله تنزيه له ټولو صفاتو د نقصان څخه وکړی او هغه وستايې) ﴿ وَلَهُ ٱلْحَمْدُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَعَشِيّٗا وَحِينَ تُظْهِرُونَ ﴾ او خاص هم ده ته د ټولو ثناصفت دی په آسمانونو کي او په ځمکه او کله چي ننوزي په آخرد ورځي کي او کله چي ننوزي په وخت دماسپښين کي. ابن عباس رضي الله عنه وايي چي اهل السماوات او اهل الارض يې ثنا وايي او ورته لمنځونه کوي(١) مفسرين کرام وايي چي ﴿ وَلَهُ ٱلْحَمْدُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ اعتراضيه جمله ده او اصل کلام همغه ﴿ فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ وَعَشِيّٗا وَحِينَ تُظْهِرُونَ ﴾ دي او حکمت پدې کي دې لوري ته اشاره کول دي چي دعبادت توفيق نعمت دی ښايي چي وربانديِ حمد وويل شي (العشي) دماښام له لمانځه ترتياري خپرېدو پوري ﴿ تُظْهِرُونَ ﴾ کله چي په ماسپښين کي ورګډ يږي ﴿ يُخْرِجُ ٱلْحَيَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَيِّ ﴾ راوباسي (الله) ژوندی له مړي (لکه مؤمن له کافره ،مرغه له هګۍ) او راوباسي (الله) مړی له ژوندي (لکه جاهل له عالمه ،نطفه له حيوانه) ﴿ وَيُحْيِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَاۚ وَكَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴾ او ژوندی کوي ځمکه پس له مرګه (وچوالي) دهغې او په مثل (درا ايستلو ددې شيانو) راايستل کېږی تاسي (له قبرونو څخه لپاره دحساب جزاء په ورځ دقيامت کي. قرطبي وايي چي الله ﷻ دخپل قدرت کمال بيان کړنو لکه چي ځمکه دنباتاتو په را زرغونولو وروسته له وچوالي راژوندی کوي همداسي به تاسي په بعث بعد الموت کي راژوندي کړي(٢)

بلاغت:

پدې آيتونو کي چي دبديع او بيان کومي ښکلاوي شته لنډ يزيې دا دی:

١- دطباق صنعت لکه ﴿ غُلِبَتِ ... سَيَغْلِبُونَ ﴾ او د ﴿ قَبْلُ ... بَعْدُ ﴾ ترمينځ.

٢- دسلب طباق چي فرمايي: ﴿ لَا يَعْلَمُونَ ... يَعْلَمُونَ ظَٰهِرٗا مِّنَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾

---

(١) القرطبي ١٤/ ١٠

(٢) القرطبي ١٤/ ١٢

٣- دمبالغې صيغه ﴿ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ يعني بنه زورور بنه رحم والا.

۴- دضمير تكرار دحصر دافادې لپاره لكه ﴿ وَهُمْ عَنِ ٱلْآخِرَةِ هُمْ غَٰفِلُونَ ﴾ اوداچي اسميه جمله يې راوړه ترڅوچي ددوی دغفلت په استمرار اودوام دلالت وكړي.

۵- انكاراوتوبيخ چي پدې آيت كي شته: ﴿ أَوَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ ﴾.

۶- اشتقاقي جناس لكه ﴿ أَسَٰٓـُٔوا۟ ٱلسُّوٓأَىٰٓ ﴾ ترمينځ.

٧- بياطباق چي د ﴿ تُمْسُونَ ... تُصْبِحُونَ ﴾ ترمينځ.

٨- مقابله چي دنېكمرغه كسانو اوبدمرغانو دحال ترمينځ دی فرمايي: ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَهُمْ فِى رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ ﴿١٥﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآئِ ٱلْآخِرَةِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ فِى ٱلْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴾.

٩- باريكه استعاره پدې كلام كي ﴿ يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ ﴾ دلته يې ژوندی دمؤمن لپاره استعاره كړاومړی يې دكافر لپاره اودغه خورابنكلي اوآغلي استعاره ده چي په بنايست اوجمال كي وتلي ده.

١٠- دفواصلو مراعات كول چي په سمع باندي اغيز پرې باسي لكه ﴿ فِى رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ ... فِى ٱلْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ... تُرْجَعُونَ ﴾ اونوروځايونو كي.

لطيفه:

زمخشري وايي چي دالله تعالى داويناچي فرمايي: ﴿ يَعْلَمُونَ ظَٰهِرًا مِّنَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ پدې دلالت كوي چي دنياظاهراوباطن لري ظاهريې هغه څه دي چي جهال يې په بنايست، بنكلا، سوكالي اوخوندونو كي ويني اوباطن اوحقيقت يې بياهغه دي چي دآخرت لپاره پكي تونبه برابره شي طاعات، عبادات اونيک اعمال پكي ترسره كړي.[1]

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ ﴿٢٠﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا لِّتَسْكُنُوٓا۟ إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَٰتٍ لِّلْعَٰلِمِينَ ﴿٢٢﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱبْتِغَآؤُكُم مِّن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ

[1] الكشاف ٣/ ٣٦٨

خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَيُحْيِۦ بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٤﴾
وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ بِأَمْرِهِۦ ۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ إِذَآ أَنتُمْ تَخْرُجُونَ ﴿٢٥﴾ وَلَهُۥ مَن فِى
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ﴿٢٦﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ۚ وَلَهُ ٱلْمَثَلُ
ٱلْأَعْلَىٰ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾ ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا مِّنْ أَنفُسِكُمْ ۖ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ
أَيْمَٰنُكُم مِّن شُرَكَآءَ فِى مَا رَزَقْنَٰكُمْ فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَآءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ
ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾ بَلِ ٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَهْوَآءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ فَمَن يَهْدِى مَنْ أَضَلَّ ٱللَّهُ ۖ وَمَا لَهُم مِّن
نَّٰصِرِينَ ﴿٢٩﴾ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ
ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ ۞ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَٱتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ
ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٣١﴾ مِنَ ٱلَّذِينَ فَرَّقُوا۟ دِينَهُمْ وَكَانُوا۟ شِيَعًا ۖ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٣٢﴾ وَإِذَا مَسَّ
ٱلنَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا۟ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَآ أَذَاقَهُم مِّنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾ لِيَكْفُرُوا۟ بِمَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ ۚ
فَتَمَتَّعُوا۟ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾ أَمْ أَنزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوا۟ بِهِۦ يُشْرِكُونَ ﴿٣٥﴾ وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ
رَحْمَةً فَرِحُوا۟ بِهَا ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ ﴿٣٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ
وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٣٧﴾ فَـَٔاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلْمِسْكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ
وَجْهَ ٱللَّهِ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٣٨﴾ وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن رِّبًا لِّيَرْبُوَا۟ فِىٓ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرْبُوا۟ عِندَ ٱللَّهِ ۖ وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن
زَكَوٰةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ ٱللَّهِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُضْعِفُونَ ﴿٣٩﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۖ
هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفْعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَىْءٍ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٠﴾ ﴾ الروم: ٢٠ - ٤٠

مناسبت:

کله چي الله تعالی په آخرت کي دخلګواحوال یادکړل اوپه پیدا اینبت اواعاده یې خپل قدرت وښوده دلته یې پخپل ربوبیت اووحدانیت باندي هغه دلائل چي بشریې پنځولی مختلف صورتونه او ژبې یې وربښلي ځمکي یې په باران وداني کړي دخلګودخوب آرام اوروزګارچاري یې پرمخ بېولي بیان کړل بیایې دمشرکانولپاره مثالونه راوړي چي هغوی څرنګه دغیرالله عبادت کوي سره له دې چي الله خالق اورازق دی ؟!

لغتونه:

(آیاته) دآیت جمع اوپه ربوبیت اووحدانیت باندي علامې ته وایې (تنتشرون) انتشار دژوندانه په شئونوکي خپرېدلوته وایې (لتسکنوا الیها) څوتاسي هغوی ته میلان وښیی اوالفت وموميٰ (قانتون) دهغه ارادې ته

غاړه ایښودونکي (المثل الاعلی) په کمال اوجلال کي ستروصف (القیم) سم برابرچي کړ والي پکي نه وي (منیبین) له انابت څخه اخیستل شوی چي په توبه او اخلاص سره رجوع کولو ته وایي.

تفسیر:

﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ﴾ اویوه له نښو (دقدرت) ددغه (الله) داده چي پیدا یې کړی (اصل) دتاسي له خاورو (چي آدم علیه السلام وو او اضافت دپیدا ایښت یې څکه دوی ته وکړچي آدم دبشر اصل وو ﴿ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ ﴾ (بیا اوس تاسي یی بشرخورېږی) یعني بیا وروسته تاسي اړول کېږی له نطفې څخه علقې ته، بیا مضغې ته، وروسته بیا هوښیاران بشرجوړېږی چي تصرفات کوی په هغه څه کي چي ستاسي دمعیشت قوام وربانديراځي. ابن کثیروایي پاکي ده هغه ذات لره چي دوی یې پیدا کړل ویې ګرزول تابع یې کړل اوډژوندانه دارتیاوو اومکاسبولاري چاري یې وروښودلې اوددوی ترمینځ یې په علوموا وفکرونو، حسن اوقبح، بډایي اوفقر، سعادت اوشقاوت کي تفاوت راووړ([1]).

﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا ﴾ اوځیني له نښو د(قدرت) ددغه (الله) دادی چي پیدا کړي دي تاسي ته له ځانونو ستاسي مېرمني (ښځي جوړه) یعني دالله په عظمت اوبشپړ قدرت باندي له دلالت کونکوڅخه یودادی چي ستاسوله جنسه یې آدمیاني ستاسو په شان ښځي درته پیدا کړي له بله جنسه څخه نه دي. ابن کثیروایي که چېري ښځي له کومه بله جنسه وای له پېریانو، یاله حیواناتونو دغه مینه الفت به نه وو موجود بلکه کرکه اونفرت به یې ځای نیولی ووهمدغه دالله بشپړرحمت دی چي په بني آدم یې لورولی دی ﴿ لِّتَسْكُنُوٓا۟ إِلَيْهَا ﴾ لپاره ددې چي مائل شی دوی ته (اومطمئن اوسی) ورسره الفت ونیسی) ﴿ وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ﴾ اوګرزولی یې دی په مینځ ستاسي (اودښځو) کي دوستي اومهرباني شفقت. ابن عباس وایې چي ﴿ مَّوَدَّةً ﴾ دسړي محبت له ښځي سره اوشفقت مهرباني بیاد ﴿ وَرَحْمَةً ﴾ معناده چي هغې ته کله تکلیف رسېږي خاوندیې وربانديترحم کوي. ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ بېشکه په دغه (پیدا کولو دمودت اورحمت) کي خامخاډېري نښي دقدرت دي دپاره دهغه قوم چي فکرکوي (په قدرت اوعظمت دالله کي اوبیا دهغه سترحکمت پېژني) ﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ ﴾ او(ځیني) له نښو (دقدرت) ددغه (الله) پیدا کول دآسمانونو اوځمکي دي اواختلاف دژبو ستاسي اودرنګونو ستاسي) یعني دالله په بشپړقدرت ستردلالت کونکی دادی چي آسمانونه یې په پراخوالي اواوچت والي پیدا کړي اوځمکه یې په پنډوالي اوټیټ والي پیدا کړی لغتونه اوژبي یې لکه عربي، عجمي، ترکي، رومي اونورپیدا کړي رنګونه یې سپین، تور اوسره پیدا کړي ترڅوچي یو تن له بله سره مشتبه نشي اویوانسان په بل خطانشي سره له دې

([1]) مختصرابن کثیر ۳/۷

چي ګرددآدم ﷺ اولاده ده ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَٰتٖ لِّلۡعَٰلِمِينَ ﴾ ببشکه په دغه (اختلاف کي) خامخاډېري نښي (دقدرت) دي لپاره دعالمانو پوهانو (دبصیرت خاوندانو لپاره) ﴿ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ ﴾ اوځيني له نښو (د کامل قدرت) ددغه (الله) ستاسي خوب دی په شپه اوورځ کي (ستاسودبدني راحت لپاره) ﴿ وَٱبۡتِغَآؤُكُم مِّن فَضۡلِهِۦٓۚ ﴾ اوطلب ستاسي دی (په ورځ کي) دالله له فضله (روزي) ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ﴾ ببشکه پدې (خوب اومعیشت) کي خامخاډېري نښي (دقدرت) دي لپاره دهغه قوم چي اوري (په اورېدلودپوهي اوپېژندلو) ﴿ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلۡبَرۡقَ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا ﴾ او(ځيني) له نښو (دقدرت) ددغه (الله دادي) چي ښيي تاسي ته برېښناد پاره دوېري (دتندر) اولپاره دامید (دباران) قتاده وايي معناداچي وېره پکي ده دمسافرلپاره اوامید پکي دی دمقیم لپاره (١) ﴿ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَيُحۡيِۦ بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ ﴾ اونازلوي (الله) له (طرفه) دآسمانه اوبه پس ژوندي کوي په دغو (اوبو) سره ځمکه وروسته له مرګه (وچوالي) دهغې (چي نه نبات اونه کښت پکي وي) ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴾ ببشکه په دغه (برېښنااوباران) کي خامخاډېري نښي (دقدرت) دي دپاره د(هغه) قوم چي عقل لري (اوپه نعمتونو کي تدبراوسوچ کوي) ﴿ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ بِأَمۡرِهِۦۚ ﴾ او(ځيني) له نښو (دقدرت اوعظمت) ددغه (الله دادي) چي ولاړدی آسمان (اوچت بې له ستنو) اوځمکه په امرده (اوحکمت یې چي نه لوېږي اونه اوړي په اوسېدونکوباندي).

﴿ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمۡ دَعۡوَةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ إِذَآ أَنتُمۡ تَخۡرُجُونَ ﴾ بیاکله چي راوبولي تاسي په بللوسره له ځمکي څخه ناڅاپه تاسي راوزی (ژوندي له قبرونولپاره دحساب اوجزاء یوه ثانیه هم ځنډنه کوی په راوتلوکي مفسرین کرام وايي چي داهله چي کله اسرافیل (علیه السلام) په دوهمه نفخه شپېلۍ پوکړي اووايي: ای دقبرونو خاوندانو پاڅئ نوله پخوانیو او وروستنیوڅخه به څوک پاتي نشي مګر پاڅي به اوانتظاربه کوي (٢) ﴿ وَلَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ ﴾ اوخاص الله لره دي هرهغه چي په آسمانونوکي دي اوپه ځمکه کي دي (له ملائکوپېريانواوانسانانو خلقاً ملکاًاوعبیداً تصرفاًچي هیڅوک ورسره شریک نه دی)

﴿ كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ﴾ داټول دغه (الله) ته اطاعت کونکي امرمنونکي) دي ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِي يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ﴾ او(الله) هم هغه (مطلق قادر) دی چي اول ځلي خلک پیداکوي بیابه داخلګ را ژوندي (وروسته له مرګه لپاره دحساب اوجزاء) ﴿ وَهُوَ أَهۡوَنُ عَلَيۡهِۚ ﴾ اودغه (بیاژوندي راپاڅول هم) ډېرآسان دي په دغه (الله) دغه دابن عباس(رض) وېناده مجاهدوايي معناداچي دغه بیاراپاڅول

(١) الطبري ٢١/ ٢٢

(٢) البحرالمحیط ٧/ ١٢٨

ترلومړي پیدا اینبت الله ته زښته ډېر سهل او زښته ډېر سپک دی لومړی پیدا اینبت ورته سهل او سپک دی (۱) مفسرین کرام وایي الله تعالی له خلگو سره داسي مخاطبه کوي چي د دوی عقل ورسېږي یعني کله کله چي ستاسو په اندازه دوهم ځل جوړول ترلومړي ځل آسانه دي نو هغه چي لومړی پیدا اینبت کوي هغه ته بې بیا دوهم وار راپاځول ستاسي له اصولو او منطق سره خورا آسانه ده ﴿وَلَهُ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ﴾ او خاص الله لره دی شان صفت ډېر لوی ، لوړ چي بل چا لره هغه جلال ، کمال، سلطان او عظمت نشته) ﴿فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ (په آسمانونو او په ځمکه کي) یعني څوک چي په آسمانونو او په ځمکه کي دي هغوی بې داسي ستايي چي: (لیس کمثله شئ) ﴿وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ﴾ او همدی دی ښه غالب، قوي ، ښه حکمت والا (چي گرد کارونه یې د حکمت او مصلحت په غوښتنه دي بیا الله تعالی د دوی د بتانو د عبادت بطلان داسي بیانوي چي: ﴿ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا مِّنْ أَنفُسِكُمْ﴾ بیانوي (الله) تاسي ته (ای مشرکانو!) یو مثال له ځانونو ستاسي څخه د هغه مثال دادی) ﴿هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُم مِّن شُرَكَآءَ فِي مَا رَزَقْنَٰكُمْ﴾ (آیا شته تاسي ته (بلکه نشته) له هغو مریانو چي مالکان شوي دي د هغو، ښي لاسونه ستاسي څه شریکان (له تاسي سره) په هغه څه کي چي موږ تاسي ته درکړي(له رزقه ؟) یعني آیا ستاسو کوم یو پدې راضي یاست چي ستاسي مریی په خپل هغه مال روزي کي چي الله درکړي شریک ومنی نو چي تاسي خوښ نه یاست بیا څرنگه پدې راضي کېږی چي له الله سره بل څوک شریک کوی چي هغه په اصل کي د الله مخلوق او بنده وي؟! ﴿فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَآءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ﴾ (پس تاسي او د امریان مو په هغه (رزق) کي سره برابري چي وېرېږی له هغولکه وېرېدل ستاسي له نفسونو (د نورو اصیلو شریکانو) خپلو) دغه د مثال تتمه ده یعني تاسو او ستاسي مریونه خو په دغه مال کي ستاسو سره برابرنه یاست او نه تاسي له هغوی څخه داسي وېرېږی لکه له نورو احرارو شریکانو څخه او تاسي چي خپل مریونه پخپل مال کي شریکان نه منی نو څرنگه له الله سره د هغه په خلق او ملک کي شریکان منی ؟

﴿كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ په مثل د دغه (تفصیل) موږ په تفصیل سره بیانوو آیتونه (د قدرت) د پاره (د هغه) قوم چي عقل لري (او سوچ کوي) ﴿بَلِ ٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَهْوَآءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾ بلکه متابعت کوي هغه کسان چي ظلم یې کړی دی (په شریک نیولو له الله سره) د آرزوگانو خپلو بې له علمه (او برهانه) قرطبي وايې چي کله د دوی په شریک نیولو باندي کوم دلیل او عذرپاتي نشو نو بې وفرمایل چي د دوی شریک نیول یوازي د دوی د نفسي خواهشاتو او د پلرونو او اسلافو د ړانده تقلید زېږنده ده (۲) ﴿فَمَن يَهْدِي مَنْ أَضَلَّ ٱللَّهُ﴾ پس څوک به سمه صافه لاره وښيي هغه چاته چي الله دی گمراه کړی وي (هیڅوک یې ورته ښودلای نشي) ﴿وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ﴾ او نشته د دوی لپاره هیڅوک

---

(۱) مختصر ابن کثیر ۳ / ۵۲

(۲) القرطبي ۱۴ / ۲۳

له مرسته کونکو(ژغورونکوله عذابه دالله نه) ﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ﴾ پس برابر کړه (ای محمده) مخ خپل دین ته پداسي حال کي چي مائل اوسې حق ته (له باطل نه) چي حق داسلام دین دی) ﴿ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ﴾ (لازم ونیسی) پیدایښت دالله هغه چي الله پیداکړي دي خلک په هغه پیدایښت) یعني دغه حق دین چي موږ بې تاته داستقامت امرکوو هغه فطرت دی چي الله ورباندي خلک پیداکړي اودغه دتوحید فطرت دی لکه چي په حدیث شریف کي راځي: کل مولود یولد علی الفطرة فابواه یهودانه..)(۱) ﴿ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِ ﴾ نشته له سره بدلول پیدایښت(دین) دالله ته ابن جوزي رحمه الله وايې چي لفظ يې دنفی اومعنايې دنهی ده یعني دالله پیدایښت مه بدلوئ چې خلک له فطرت څخه اړوي کوم چي الله ورباندي پیداکړي دي ﴿ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ ﴾ همدغه مستقیم دین دی(چي هیڅ کوږوالی نلري) ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ لیکن زیاتره خلک(په توحید) نه پوهېږي دخپل معبود او خالق په هکله سوچ نکوي ﴿ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَٱتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ حال داچي رجوع کونکي یاست دغه (الله) ته او وېرېږئ(له عذابه د) الله او قائموئ لمنځونه یعني ای خلګو پردین باندي استقامت وکړئ پداسي حال کي چي خپل رب ته په اخلاص دعمل اوپه توبه رجوع کونکي یاست له الله جل جلاله څخه پخپلو کړوړوکي ووېرېږئ اولمنځونه اداکوئ داسي چي الله رضاکړی ﴿ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ اومه کېږئ تاسي له مشرکانو، بیايې دهغه تفسیرداسي وفرمایوچي: ﴿ مِنَ ٱلَّذِينَ فَرَّقُوا۟ دِينَهُمْ وَكَانُوا۟ شِيَعًا ﴾ له هغو(مشرکانو) چي تارپه تارکړی يې دی دین خپل اودوی ډلي ډلي شوي وو(هرچادخپلي خوښي اوخواهش سره سم عبادت کاوو) ﴿ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴾ (هره یوه ډله په هغه(دین) چي له دوی څخه دی خوشحاله دي) یعني هره ډله ټپله پخپل له ځانه جوړکړي دین باندي خوښ دي خپل باطل لکه حق داسي ورته برېښي ابن کثیروایې معنا داچي دهغومشرکانوپه شان مه کېږئ چي خپل دین يې بدل اوتغیرکړی ووپه ځیني يې ایمان درلود اوپه ځیني نوربیاکافران وولکه یهودان اونصرانیان، مجوسیان اوبت پرستان او نورکافران پرته له مسلمانانونوددغوباطلودینونوپلویانو پخپلوکي سره اختلاف درلودهري ټولۍ به ځان برحق ګاڼه (۲) ﴿ وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا۟ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ﴾ اوکله چي ورسېږي خلګوته څه ضرر (فقرناجوړي اونور څه)نوبولي دوی خپل رب په داسي حال کي چي رجوع کونکي وي خاص الله ته ترڅويې له دې ضرر څخه وژغوري داوخت دوی خپل بتان پرېږدي ځکه دوی پوهېږي چي هغه دوی ته له ضرره ژغورنه نشي ورکولای نوددوی رجوع فقط همداوخت وي ﴿ ثُمَّ إِذَآ أَذَاقَهُم مِّنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴾

---

(۱) متفق علیه.

(۲) مختصرابن کثیر۳/۵۵

بیاکله چي الله وروخکي له خپله لوري کوم رحمت ناڅاپه یوه ډله له دوی نه خپل رب سره شریکان نیسي دآیت شریف مقصد دمشرکانو بدي ښودل دي چي دوی هغه کسان دي چې دکړاو اومصیبت په وخت کي الله مني اوکله چي سوکالي اونعمت الله ورکړي بیاله الله سره شریکان نیسي ﴿ لِيَكْفُرُوا بِمَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ فَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾ دپاره ددې چي ناشکري وکړي (اوکافرشي) په هغونعمتونو) چي الله دوی ته ورکړي دي پس ګټه اخلئ (ای کفارو) پس ژربه معلوم کړی تاسي (دخپل عمل عاقبت چي په فاني دنیاکي مودژوندانه له خپلوخوښیومزې اخیستي) ﴿ أَمْ أَنزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوا بِهِۦ يُشْرِكُونَ ﴾ آیانازل کړی دی موږپردوی کوم برهان (علمي سند) پس هغه خبري کوي په هغه چي وو دوی په هغه سره شریک پیداکوی (له الله سره دوی ،بلکه نه مودی نازل کړی استفهام دانکاراوتوبیخ لپاره دی ﴿ وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوا بِهَا ﴾ (کله چي وروخکوموږو خلګوته څه رحمت نودوی په هغه باندي خوشحاله شي ﴿ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ ﴾ اوکه ورسېږي هغوی ته څه سختي په سبب دهغو (اعمالو) چي پخوالېږلي دي لاسونوددوی ناڅاپه به بیادوی ناامیده شي (دالله له رحمت اوخلاصون څخه) ابن کثیروایې چي دغه دانسان په خټه کي شته هرچاته چي نعمت ورسېږي خوښ شي اووغوړېږي اوچي کله ورته سختي ورسېږي نوبیاناهیلی شي مګرهغه چي الله ژغورلی وي (۱)﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ﴾ آیانه ویني (نه دي خبر) دوی چي بېشکه الله پراخوي رزق هرهغه چاته چي اراده وکړي اوتنګوي یې (هغه چاته چي وېې غواړي ؟ (نودوی دي دفقر اوتنګ لاسي په وخت کي دالله له رحمته نه ناامیده کېږي) ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأَيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ بېشکه په دغه (پراخي اوتنګي) کي خامخادلائل (دقدرت) دي لپاره دهغه قوم چي ایمان راوړي (په حکمت دالله چي خالق اورازق دی) ﴿ فَـَٔاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلْمِسْكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ ﴾ پس ورکړه (ای مؤمنه !) خاوند دخپلوي (قرابت) ته حق دده (چي نېکي اوصله رحمي ده) اومحتاج ته اومسافرته صدقه اواحسان.
قرطبي وایې چي کله الله مخکي ذکرکړل چي پراخي اوتنګي دالله له جانبه ده نویې شتمنوته امروکړ چي فقیرانوته دهغوی کفایت ورکړئ ترڅو بدایي شکر وازمویې خطاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اومقصدورڅخه دهغه امت دی (۲)﴿ ذَٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجْهَ ٱللَّهِ ﴾ دغه (ورکول دحقوقو) خیر غوره دی (له امساک اوبخل څخه) لپاره دهغوکسانوچي اراده لري دثواب (رضا) دالله (تعالی) ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ اوهمدغه (ورکونکي) دحقوقو) هم دوی دي په مراد رسېدونکي بریالیان ﴿ وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن رِّبًا لِّيَرْبُوَا فِيٓ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرْبُوا عِندَ ٱللَّهِ ﴾ (اوهغه څه چي تاسي یې له سود نه ورکوی لپاره

(۱) مختصرابن کثیر ۳/ ۵۵
(۲) القرطبي ۱۴/ ۳۵

ددې چي زيات شي په مالونو دخلگو کي پس نه زياتېږي هغه په نزد(دالله) يعني اى بدايانو کوم مالونه چي تاسي دسودلپاره ورکوى چي ستاسي مالونه وربانديږ زيات اوتكثيرشي هغه نه زياتېږي اونه پاكېږي څكه دغه ناولى پليت كسب دى الله بركت پكي نه اچوي زمخشري وايي: دغه آيت كټ مټ لكه هغه بل آيت غوندي چي فرمايي: ﴿ يَمْحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرْبِى ٱلصَّدَقَـٰتِ ۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴾ (البقره ۲۸۲) دى(۱) ﴿ وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن زَكَوٰةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ ٱللَّهِ ﴾ اوهرهغه چي وركوى يي تاسي له زكات څخه چي اراده لرئ تاسي په هغه سره ثواب (اورضاء) دالله) يعني هغه چي تاسويې دصدقې اواحسان په توگه محض دالله دخوښي اورضالپاره وركوى ﴿ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُضْعِفُونَ ﴾ پس همدغه (محضاًالله وركونكي) همدوى دي زياتونكي (دحسناتوخپلو) ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ﴾ (الله هغه (مطلق قادردى) چي پيدا كړي يې يى تاسي بيايې روزي دركړي ده تاسي ته) يعني الله جل وعلاهغه دبندگانو خالق اورازق ذات دى چي انسان دمورله گېډي بربندلوڅ لغړ پداسي حال كي پيداكوي چي نه علم اوپوهه لري اونه اوربدل ليدل (پخپل واک) كوي بياالله روزي وركوي مال، متاع او دولت ورسپاري ﴿ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۖ ﴾ بيامړه كوي تاسي بيابه ژوندي كړي تاسي (په بعث) سره (ترڅوستاسي دكړو جزاء دركړي) ﴿ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفْعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَىْءٍ ۚ ﴾ آياشته له دغو شريكانوستاسي داسي څوک چي كولاى شي هغه له دغوكارونو څخه كوم شى ؟ بلكه يوازي الله دخپل واک خاونددى په پيداكولو، روزي وركولو، مړه كولو اوبيرته راپاڅولو كي ﴿ سُبْحَـٰنَهُۥ وَتَعَـٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ (پاكي ده الله ته اوډېرلوى پورته دى شان دالله له دې نه چي شريک پيداكوي دوى له الله سره) يعني الله لره پاكي ده چي ده لره دي شريک، هم مثله، ولداويااولدوي

بلاغت:

پدې آيتونو كي چي دبديع اوبيان كومي ښكلاوي شته لنډيزيې داى:

۱- دطباق صنعت د ﴿ خَوْفًا وَطَمَعًا ﴾ او ﴿ يَبْدَؤُا ..... يُعِيدُهُۥ ﴾ او ﴿ يَبْسُطُ .....وَيَقْدِرُ ﴾ او ﴿ يُمِيتُكُمْ .....يُحْيِيكُمْ ﴾ ترمينځ.

۲- اشتقاقي جناس لكه دا: ﴿ دَعَاكُمْ..... دَعْوَةً ﴾ او ﴿ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ ﴾ په كلماتو كي.

۳- مقابله چي فرمايي: ﴿ وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُواْ بِهَا ۖ ﴾ اود ﴿ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ﴾ ترمينځ چي راغلي ده

۴- مرسل مجازپدې كلام كي چي فرمايي: ﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ ﴾ دلته راوړل دجزء اومرادځني كل دى يعني الله ته ټول برابرشه !.

---

(۱) الكشاف ۳/ ۳۷۹

٥ – مرصع سجع لکه پېلي ملغلري غوندي چي فرمايي: ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ﴾ ترپايه پوري.

الله تعالى فرمايي:

﴿ ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِي ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ ٱلَّذِي عَمِلُوا۟ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤١﴾ قُلْ سِيرُوا۟
فِي ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلُ ۚ كَانَ أَكْثَرُهُم مُّشْرِكِينَ ﴿٤٢﴾ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ ٱلْقَيِّمِ مِن قَبْلِ
أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ۖ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾ مَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِأَنفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴿٤٤﴾
لِيَجْزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٤٥﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن يُرْسِلَ ٱلرِّيَاحَ مُبَشِّرَٰتٍ
وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ وَلِتَجْرِيَ ٱلْفُلْكُ بِأَمْرِهِۦ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ
قَوْمِهِمْ فَجَآءُوهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَٱنتَقَمْنَا مِنَ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ ۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِي يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ
سَحَابًا فَيَبْسُطُهُۥ فِي ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهُۥ كِسَفًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَٰلِهِۦ ۖ فَإِذَآ أَصَابَ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ
عِبَادِهِۦٓ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْهِم مِّن قَبْلِهِۦ لَمُبْلِسِينَ ﴿٤٩﴾ فَٱنظُرْ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحْمَتِ
ٱللَّهِ كَيْفَ يُحْيِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْيِ ٱلْمَوْتَىٰ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾ وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا رِيحًا فَرَأَوْهُ
مُصْفَرًّا لَّظَلُّوا۟ مِنۢ بَعْدِهِۦ يَكْفُرُونَ ﴿٥١﴾ فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ ٱلْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوْا۟ مُدْبِرِينَ ﴿٥٢﴾ وَمَآ أَنتَ
بِهَٰدِ ٱلْعُمْىِ عَن ضَلَٰلَتِهِمْ ۖ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴿٥٣﴾ ۞ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن ضَعْفٍ ثُمَّ
جَعَلَ مِنۢ بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْقَدِيرُ ﴿٥٤﴾ وَيَوْمَ تَقُومُ
ٱلسَّاعَةُ يُقْسِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ مَا لَبِثُوا۟ غَيْرَ سَاعَةٍ ۚ كَذَٰلِكَ كَانُوا۟ يُؤْفَكُونَ ﴿٥٥﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ وَٱلْإِيمَٰنَ لَقَدْ
لَبِثْتُمْ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْبَعْثِ ۖ فَهَٰذَا يَوْمُ ٱلْبَعْثِ وَلَٰكِنَّكُمْ كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٥٦﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ
ظَلَمُوا۟ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٥٧﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَلَئِن جِئْتَهُم
بِـَٔايَةٍ لَّيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٩﴾
فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ۖ وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ﴿٦٠﴾ ﴾ الروم: ٤١ – ٦٠

مناسبت:

کله چي الله تبارک وتعالی دمشرکینو بدي څرګنده کړه چي دوی دغیرالله عبادت کوي نودلته يې دمحنت او ابتلاء سببونه وښودل چي هغه کفر، دګناهونو خپرېدا اودفسق اوفساد پروالی دی چي برکتونه ټولوي

اوعذابونه رابولي نوبې دتېرو اُمتونو دهلاکتونو مثالونه راوړل چي قریش تنبیه شي اوهغوی ته يې وفرمايل ترڅودرومبنیو مشرکانوڅخه عبرت واخلي چي هغوی څرنګه الله ددوی دطغیان اوسرغړوني له امله پوپناکړل ؟!

لغتونه:

(یصدعون) جلاجلاتارپه تارکېدل او(صداع) هم له دغي مادې څخه دی اوځکه يې صداع بولي چي دسربرخي یوله بله بېلوي (یمهدون) پرځای کول غوړول له (مهاد) څخه اخیستل شوی هغه (فراش) ته وايي (کسفًا) د(کسف) جمع اوټوټې ته وايي (الورق) باران (مبلسین) نااُمیده چي غمګین وربانديي معلومېږي (یؤفکون) اړول کېږي (افک) دروغوته وايي (یستعبون) دالله درضاترلاسه کولوډپاره غوښتل شوي

تفسیر:

﴿ ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِى ٱلنَّاسِ ﴾ څرګنده شو(آثارد) فساد په وچه اولمده کي په سبب دهغې (ګناه اوشرک) چي کړي دي لاسونو دخلګو) بیضاوي وايي چي مقصدله فسادڅخه کاختي ,سوځېدل ، ډوبېدل ، بې برکتي اوتاوانونه دي چي دخلګودګناهونو له شامته پېښېږي [1] ابن کثیروايي چي مراد په مېوو دانوکي نقصان دی چي دګناه په وجه رامینځ ته کېږي ځکه دآسمان اوځمکي سم والی ، ښه والی په طاعت سره دی [2] ﴿ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ ٱلَّذِى عَمِلُوا۟ ﴾ لپاره ددې چي (الله) وروڅکوي دوی ته څه (سزا) دهغو(عملونو) چي دوی کړي دي) یعني لپاره ددې چي ددوی دعملونوځیني سزاپه دنیاکي ورکول شي پخوادآخرت له سزانه ﴿ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾ دپاره ددې چي دوی واوړي (له دغوګناهونواوبدیوڅخه) ﴿ قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلُ ﴾ ووایه (ای محمده ! مشرکانوته) چي وګرزئ په ځمکه کي (دتېرو اُمتونو) پس وګورئ څرنګه شوه خاتمه دهغوکسانوچي پخواله دوی څخه وو (آیاالله هغوی دهغه تکذیب له کبله چي دخپلو نبیانويې کاووهلاک نکړل ؟ چي دپنداخیستونکو لپاره عبرت شي) ﴿ كَانَ أَكْثَرُهُم مُّشْرِكِينَ ﴾ ووزیاتره د دوی مشرکان (نوهلاک شول) ﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ ٱلْقَيِّمِ ﴾ پس برابرکړه مخ (وجود) خپل دین سم (معتدل داسلام) ته [3] ﴿ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ﴾ (پخواله هغه چي هغه ورځ راشي چي نشته هیڅ بیرته ګرځېدل هغې ته له (جانبه د) الله) یعني ترپخواله راتلودهغې ورځي چي الله تاکلي راځي به اوهیڅوک نشي کولای هغه وګرزوي ځکه دادالله فیصله ده ﴿ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴾ په دغه ورځ کي به دغه

---

[1] البیضاوي ۲/۱۰۲

[2] مختصرابن کثیر۵۷

[3] القرطبي ۱۴/۴۲

(مخلوق) تارپه تارشي يوه ډله به په جنت كي اوبله به دوزخ ته درومي ﴿ مَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ ﴾ هرڅوک چي كافرشوپس په هغه ده (سزا) دكفردهغه (اوتل به په اوركي وي) ﴿ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِأَنفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴾ اوهرڅوک چي هغه ښه عمل وكړي پس خاص لپاره دځانونو خپلو فرشونه غوړوي اوپه زړه پوري ساماني جوړوي. قرطبي وايې چي ﴿ يَمْهَدُونَ ﴾ معناداچي دوى پخپل دغه ښه عمل كولو سره دځان لپاره په آخرت كي فرشونه غوړوي(۱) د(مهد الفراش) معناغوړول دفراش دي ﴿ لِيَجْزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن فَضْلِهِۦٓ ﴾ لپاره ددې چي (الله) جزاوركړي هغوكسانوته چي ايمان يې راوړى دى اوكړي يې دي ښه (عملونه) له فضله خپله (هغه چي له متقيانوسره يې وعده كړي ده) ﴿ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ بېشكه چي الله نه خوښوي كافران (بلكه الله يې بدګني نوهغوى ته پخپل عدل سزاوركوي اومؤمنانوته پخپل فضل سره جزاء وركوي) ﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن يُرْسِلَ ٱلرِّيَاحَ مُبَشِّرَٰتٍ ﴾ (اوځيني له نښانود(قدرت) دالله دادي چي رالېږي بادونه زېرى وركونكي) يعني ځيني له هغو نښوچي دالله په بشپړقدرت دلالت كوي دادي چي بادونه راالوزوي اوهغه وريځي راشړي اودبارانو داوربښت اودځمكي دزرغونوالي اوروزي زېري وركوي ﴿ وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ ﴾ اولپاره ددې چي وڅكوي په تاسي (په سبب ددغوبادونو) ځيني (مزې) درحمت خپل (چي بارانونه دي اوبلادعباد وربانديژوندي كوي) ﴿ وَلِتَجْرِيَ ٱلْفُلْكُ بِأَمْرِهِۦ ﴾ اوبل لپاره ددې چي بېړۍ پرې روانه شي په حكم دالله (اواراده يې) ﴿ وَلِتَبْتَغُواْ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ اولپاره ددې چي طلب كړي (په چلولودبېړۍ له ځينو) له فضل دالله څخه (په سوداګري دبحر) اوددې لپاره چي تاسي شكر وباسى(په دغو سترو نعمتونوباندي) ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ ﴾ اوخامخاپه تحقيق لېږلي وو موږمخواله تا(اى محمده! نور) رسولان په لوري دقومونو ددوى (په دې كي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ډاډينه اوتسلاده چي نصرت اوفتح نژدې راتلونكي ده) ﴿ فَجَآءُوهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَٱنتَقَمْنَا مِنَ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُواْ ﴾ پس راغلل (دغه رسولان) دوى ته په ښكاره معجزوسره (چي ددوى تصديق يې كاوو) پس بدل واخيست موږله هغوكسانوچي كافران شول (نوهلاک موكړل) ﴿ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اودى حق (واجب) پرموږنصرت دمؤمنانو) دغه آيت معترض واقع شوى دى چي دبادونو داحكاموپه مينځ كي رامخته شوى اومقصدپكي درسول الله صلى الله عليه وسلم ډاډينه اوتسليت دى ابوحيان وايې چي دغه آيت دالله جل جلاله ددې ويناچي ﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن يُرْسِلَ ٱلرِّيَاحَ مُبَشِّرَٰتٍ ﴾ اوددې قول چي ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا ﴾ ترمينځ راغلى دى مقصدورڅخه درسول

(۱) القرطبي ۱۴/۴۲

الله زړه ته ډاډورکول او ورته زېرى اورول دي او همداسي د کفارو لپاره تهديد او وعيدونه دي وروسته الله تعالى د بادونو له الوتلو څخه حکمت بيانوي چي هغه دوريځو راپاڅول او له هغوى څخه د باران اورول دي فرمايي: ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى يُرْسِلُ ٱلرِّيَـٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا ﴾ الله هغه (مطلق قادر) ذات دی چي رالېږي بادونه پس پورته کوي (په هواکي) وريځي ﴿ فَيَبْسُطُهُۥ فِى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ ﴾ پس خپروي دغه وريځي په آسمان کي چي څرنگه يې خوښه شي (دالله پنډي اويانرى، يو دبل دپاسه اويا يوستوي) ﴿ وَيَجْعَلُهُۥ كِسَفًا ﴾ اوگرزوي دغه (وريځي) ټوټه لاندي باندي ﴿ فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَـٰلِهِۦ ﴾ پس وينې به ته څاڅکي دباران چي راوزي له مينځه د دغي (وريځي) ﴿ فَإِذَآ أَصَابَ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦٓ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴾ پس کله چي ورسوي دغه باران هغه چاته چي اراده وکړي (الله) له بندگانو خپلو ناڅاپه دوى پرې خوشحالېږي اوزېرى کوي ﴿ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْهِم مِّن قَبْلِهِۦ لَمُبْلِسِينَ ﴾ او (بېشکه چي وو (دوى پخوا له دې چي نازل کړى شوى وو په دوى باران) پخواله دې (ظهورد) وريځي اوباران) خامخا نااميده (له اوربښته) يعني که څه هم دوى ترپخوا له اوربښته دبارانه ناهيلي وو بيضاوي وايي چي تکرار دتاکيدلپاره راغلى ترڅو پدې دلالت وکړي چي پردوى اوږدې وچکالى تېري شوي او له بارانه ښېخي نااميده وو(١) ﴿ فَٱنظُرْ إِلَىٰٓ ءَاثَـٰرِ رَحْمَتِ ٱللَّهِ كَيْفَ يُحْىِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ﴾ وگوره (اى مخاطبه !) نښي د رحمت (باران) دالله ته چي څرنگه ژوندى کوي ځمکه په باران د (ونو، گلانو، ونو، مېوو او کښتوپه زرغونولو) وروسته له مړيني او وچوالي دهغې؟ ﴿ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ بېشکه دغه (ژوندي کونکي دځمکي) خامخا ژوندى کونکي دمړوهم دى او هغه (الله) په هرشي باندي (چي اراده وکړي) ښه قادردى (هيڅوک الله مغلوبولاى نشي) ﴿ وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا رِيحًا فَرَأَوْهُ مُصْفَرًّا ﴾ (اوکه ولېږو موږباد(په شنه کښت اوفصل) پس وبه وينې دوى دا(کښت) تک ژيړ) يعني که چېري موږددوى په شنو کښتونو باندي ورانونکى تاواني باد راوالوزوو اوددوى کښتونه ورتک ژيړ کاندي ﴿ لَّظَلُّوا۟ مِنۢ بَعْدِهِۦ يَكْفُرُونَ ﴾ خامخا دوى به وروسته له دغه ژيړ والي کافران وگرزي (څکه دوى په نعمت خوشحالېږي او چي کله مصيبت ورته راشي بيانو دپخواني نعمت څخه انکارکوي ددوى څخه دپوهي اومنلوتمه مه کوه بيا الله فرمايي چي دوى لکه مړي غوندي دي نصيحت ورته گټه نه رسوي ﴿ فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ ٱلْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوْا۟ مُدْبِرِينَ ﴾ پس بېشکه ته مړي نشې اورولاى اونشې اورولاى کڼوته غږ (دبللو) کله چي وگرزي دوى په داسي حال کي چي شاگرزوونکي وي) يعني اى محمده ! (ص) ته مړي نشې اورولاى اونه هغه څوک چي کوڼ وي په ځانگړي توگه کله بياچي کوڼ مخ هم اړولى وي نو دغه کافران همداسي دي نه اوري اونه په اورېدلي نصيحت باندي غوږ گروي اونه گټه ترې اخلي. مفسرين کرام وايي داهسي مثل

---

(١) البيضاوي ٢/ ١٠٨

دی چي الله دکافرانولپاره ویلی دوی یې له مړو او کڼوسره مشابه کړي دي ﴿ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِ ٱلْعُمْيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمْ ﴾ اونه یې ته سمه لاره ښوونکی (دزړونو) ړندوته له ګمراهي ددوی نه ﴿ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴾ نشې اورولای ته (دپوهي اومنلوپه توګه) مګرهغه چاته چي ایمان یې راوړی دی په آیتونوزمونږپس دوی مسلمانان غاړه ایښودونکي دي یعني ته پرته له هغو مؤمنانوچي زمونږ په آیتونویې باور دی نورڅوک نشې اورولای همدغه مؤمنان دي چي له وعظ نصیحت څخه ګټه اخلي څکه الله ته غاړه ایښودونکي دي ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن ضَعْفٍ ﴾ الله هغه ذات دی چي تاسي یې پیداکړي یاست (ای خلګو) له کمزوړاي (شي څخه چي نطفه ده اوبیاپه مختلفو مراحلواړوي چي یوځل دمورپه نس کي ماشوم بیازېږېدلی مولودبیاتی رودونکی وروسته بیاله تي جلاشوی (مفطوم) یاست چي دغه ګرددکمزوري اوضعف مرحلې دي لکه چي کمزوري ستاسي د پیدایښت ماده وي ﴿ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ﴾ بیایې درکړي ده وروسته له ضعف (طفولیت) څخه قوت د(ځواني) ﴿ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً ﴾ بیایې درکړیدی وروسته له قوت(ځلمیتوبه) ضعف اودوښتوسپین والی (بوډاتوب) ﴿ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ﴾ پیداکوي (الله) هرهغه چي اراده وکړي (دپیدایښت یې) له کمزوري ، قوت ، ځواني او بوډاتوبه څخه) ﴿ وَهُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْقَدِيرُ ﴾ اوهمدغه (الله) ښه عالم دی ، ښه قادردی(په هرڅه) یعني الله دخلګوپه تدبیرښه پوه دی اوڅه چي غواړي په هغه ښه قدرت درلودونکی دی. ابوحیان وایې چي دانسان پیدایښت له کمزوري څخه دده دوړکتوب ددورې کمزوري دبوډاتوب په وخت کي اوپه دغو وختونوکي ګرزول راګرزول دیوپوه جوړونکي پیداکونکي په قدرت سره کېږي (۱) ﴿ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُقْسِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ مَا لَبِثُوا۟ غَيْرَ سَاعَةٍ ﴾ اوپه هغه ورځ کي چي قیامت قائم شي نومجرمان (کافران) به قسمونه خوري پدې چي نه دي پاتي شوی (په دنیاکي) غیرله یوه ساعته ، بیضاوي وایې دوی به دغه لږ موده یاخوپدې وګڼي چي عذاب یې په آخرت کي تل ترتله دی اویابه ځني هېروي (۲) ﴿ كَذَٰلِكَ كَانُوا۟ يُؤْفَكُونَ ﴾ همدارنګه وو دوی چي ګرزول کېدل به (له حق څخه باطل ته اوله رښتیانه دروغوته په دنیاکي) ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ وَٱلْإِيمَٰنَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِى كِتَٰبِ ٱللَّهِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْبَعْثِ ﴾ او وایې به دوی ته) هغه کسان چي ورکړی شوي وو دوی ته علم اوایمان درد اوتکذیب په توګه چي ولي دروغ وایاست ؟) خامخاپه تحقیق دېرپاتي شوي یې په دنیاکي (چي هغه لیکلي دي په کتاب دالله (لوح محفوظ) کي ترورځي دبعث پوري) ﴿ فَهَٰذَا يَوْمُ ٱلْبَعْثِ وَلَٰكِنَّكُمْ كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ پس دغه ده ورځ دبعث (چي تاسي ترې منکروی) ولیکن تاسي وې په دنیاکي (چي دجهل اوغفلت له امله) نه پوهېدی

---

(۱) البحر ۱۸۰/۷
(۲) البیضاوي ۱۸/۲

(اوانکارموکاوو تاسودحق اودحق دپلویانوسره جفاکوله الله فرمايي: ﴿ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مَعْذِرَتُهُمْ ﴾ پس په دغي ورځي کي به ګټه نه رسوي هغوکسانوته چي ظلم يې کړی دی (په خپلو خانونوپه کفرسره) عذرددوی ﴿ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴾ اونه به دوی دالله راضي کولوته وبللی شي (چي توبه وکاږي اوطاعات عبادات وکړي ځکه چي دتوبې وخت تېرشويدی ﴿ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ﴾ اوخامخاپه تحقيق بيان کړي موږلپاره دخلګوپه دغه قرآن کي له هرډول مثال(ځکه چي انسانان ورته اړوي لکه وعظونه ، پندونه اواخبار چي دچاشک اوشبه پاتي نشي ﴿ وَلَئِن جِئْتَهُم بِـَٔايَةٍ لَّيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ ﴾ (اوقسم دی ای محمده !) که راوړې ته دوی ته کوم آيت (دقدرت معجزه) نوخامخاهرومرو به ووايې هغه کسان چي کافران شويدي چي نه ياست تاسي (ای محمده اومؤمنانو) مګردروغجنان (باطل ويونکي) يعني که چېري ته ددوی دوړاندېزپه شان هغوی ته دموسی ﷺ دهمسا، يدبيضاء ، يادصالح ﷺ داوښې اونوري معجزې راوړې هم دوی به له ډېره عناده ووايې چي ته اوستاملګري دروغجنان اوتېرايستونکي ياست ﴿ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ همدارنګه (لکه چي مهر مولګولی دی) مهرلګوي الله په زړونودهغوکسانوچي نه پوهېږي (په توحيداوصفاتودالله باندي) ﴿ فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ۖ وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ﴾ پس صبرکوه (ای محمده په تکذيب اوضرردوی !) دالله دنصرت وعده رښتياده (چي دين ته به غلبه ورکوي) اونه دي پورته کوي تا(پرېشاني اوخفګان ته دي نه اړباسي) هغه کسان (چي په آخرت) يقين نه راوړي (ته خپل صبراوزغم له لاسه مه ورکوه اوپخپل دعوت کي ثابت قدم اوسه !).

بلاغت:

پدي آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱- دطباق صنعت چي فرمايي: ﴿ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ﴾ .

۲- مرسل مجازچي جزء راوړل شي او دکل اراده ترې وشي لکه ﴿ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِى ٱلنَّاسِ ﴾ .

۳- داشتقاقي جناس صنعت چي کله فرمايي: ﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ ٱلْقَيِّمِ ﴾ .

۴- باريکه استعاره پدي کلام کي چي ﴿ فَلِأَنفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴾ هغه ځوک چي نيک اوښه عملونه يې له مخه استوولي دي دهغه چاسره يې تشبيه کړل چي دخوب لپاره ځای غوړولي ترڅويې خوب اوآرام کوم تاواني شی ورتريخ نه کړي

۵ - داطناب اسلوب دالله تعالى پدې كلام كې چې ﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن يُرْسِلَ ٱلرِّيَاحَ مُبَشِّرَٰتٍ وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ ﴾

دآيت ترپايه داددې لپاره چې زيات نعمتونه ورپه ګوته کړي که نه دغه کافي وو چې الله فرمايلي وای (لتبتغوا من فضله) خو الله په تفصيل سره ددې لپاره راوړل چې بندګانو ته د نعمتونو يادونه وکړي

۶ - اشتقاقي جناس لکه ﴿ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلًا ﴾.

۷ - ايجاز بالحذف چې کله وايي ﴿ فَجَآءُوهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَٱنتَقَمْنَا ﴾ دلته يې هغه څه حذف کړل چې ويلي يې وای نو دوی تکذيب استهزآء وکړه بيا مونږ بدل ترې واخيست.

۸ - تصريحي استعاره پدې کلام کې ﴿ فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾ کفار يې له مړو سره او همداسي له کڼو سره تشبيه کړل چې دوی احساس نلري مواعظ نه اوري او براهين نه مني.

۹ - طباق د ﴿ ضَعْفٍ ... قُوَّةً ﴾ په کلماتو کې.

۱۰ دمبالغې صيغې لکه ﴿ ٱلْعَلِيمُ ٱلْقَدِيرُ ﴾ چې راغلی دی.

۱۱ - تام جناس چې کله فرمايي ﴿ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُقْسِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ مَا لَبِثُوا۟ غَيْرَ سَاعَةٍ ﴾ په لومړي ساعت سره مراد د قيامت ورځ او په دوهم سره ګړۍ (موده) چې دغه کامل جناس دی او له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

تنبيه:

سمه خبره داده چې مړي اوري څکه چې رسول الله ﷺ يووخت وفرمايل: تاسو تر دوی ښه نه اوری.)

او بيا فرمايي چې (مړي د خلګو د پښو غږ اوري) او دا چې الله تعالى فرمايي: ﴿ فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾ له دې څخه مراد د تدبر او پند اخيستلو او رېدل دي والله اعلم.

دالله تعالى په مرسته د الروم سورت تفسير بشپړ شو.

***

دلقمان سورت مكي او څلور دېرش آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

* دلقمان سورت له مكي سورتونو څخه يودی اولكه نورمكي سورتونه دعقيدې موضوع څېړي اودهغې بنستيزدرې اصول رااخلي چي وحدانيت ، نبوت اوبعث نشوردی.

سورت په پيل كي دكتاب حكيم يادونه كوي هغه چي درسول اكرم ﷺ تلپاتي معجزه كتاب دی څودا جهان وي دامعجزه به وي بيادالله په وحدانيت باندي دلائل اوبراهين راوړي اودقدرت څرګندي نښې اوپدغه پراخوكائناتو كي دابداع عجائبات اومحكم متناسق نظام چي په څمكه ، آسمان ، لمر، سپوږمۍ ،شپه ، ورځ ، غرونو، دريابونو، څپو، بارانونو، واښو، ونواونوروهغه څه چي سرې يې خواوشاويني اوڅرګنددي يادونه كوي چي څرنګه دسړي زړه ته دالله قدرت لاره مومي اوعقل څرنګه ورته حيرانېږي چي پرته له دې چي ددې ستر خالق قدرت ته تسليم شي بل لوری نه مومي.

* لكه چي سورت دمشركانو پام دالله دقدرت اووحدانيت هغودلائلوته چي په دغه عجيبه كائناتوكي ليدل كېږي رااړوي كله چي فرمايي: ﴿ هَٰذَا خَلْقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِى مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ۚ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ .

* په پای كي سورت دهغې سختي ورځي يادونه كوي چي هلته مال اولادچاته ګټه نه رسوي نوداسي فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ وَٱخْشَوْا۟ يَوْمًا لَّا يَجْزِى وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيْـًٔا ﴾ دآيت ترپايه

تسميه اونومول يې:

دغه سورت ته ځكه دلقمان سورت وايي چي دحكيم لقمان ﷺ كيسه پكي راغلي ده هغه چي دحكمت ،فضيلت اودالله دمعرفت رازپكي نغښتی دی دالله صفات بيانوي دشرك بدي اوذم وايي له قبائحواوګناهونو څخه نهی كوي اودښوخويونو اومكارم الاخلاق په هكله ماربينه فرمايي پدې كيسه كي قيمتي وصيتونه شته چي الله ﷻ دلقمان ﷺ په ژبه بيان كړي دي اودحكمت اولارښووني په هكله غوره ځای لري.

الله تعالی فرمايي:

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓمٓ ﴿١﴾ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ﴿٢﴾ هُدًى وَرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِينَ ﴿٣﴾ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ
وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٥﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشْتَرِى لَهْوَ
ٱلْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٦﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا وَلَّىٰ
مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا كَأَنَّ فِىٓ أُذُنَيْهِ وَقْرًا ۖ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٧﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ
جَنَّٰتُ ٱلنَّعِيمِ ﴿٨﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۖ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقًّا ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٩﴾ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ۖ وَأَلْقَىٰ فِى

ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ ۚ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ﴿١٠﴾
هَٰذَا خَلْقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ۚ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿١١﴾ ﴾ لقمان: ۱ - ۱۱

لغتونه:

(الحكيم) محكم چي پكې خلل اوتناقض نه وي (يوقنون) يقين بشپړباور(جازم تصديق) ته وايي (لهوالحديث) له خيراوعبادت څخه ګرزونكى مشغول كونكى باطل(وقرا) دروندوالى چي له اورېدلو څخه منع كونكي وي (عمد) دعماد جمع اوستني ته وايي (رواسى) ټينګ غرونه اوويل كېږي (رست السفينة) كله چي ودرېږي اوقرار ونيسي (تميد) ښوربدل خوځېدل(بث) خپرېدل اوتيت اوپرک كېدلو ته وايي.

دنزول سبب:

وايي چي نضربن الحارث به سند رغاړي مينځي رانيولې او كله به يې يوڅوک پيدا كړچي هغه به داسلام دراوړلواراده درلوده نوبه يې هغه راووست هغې مينځي ته به يې وسپاروا و ورته ويل به يې خواړه وركړه اوشراب وربانديې وڅښه سندري ورته وبوله اوبيابه يې هغه ته ويل چي دغه ترهغه څه بهتر دى كوم چي محمد ﷺ دى هغه ته بولي چي لمونځ ، روژه اودده په وړاندي جنګېدل دي نوالله ﷻ داآيت نازل كړچي:

﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ ٱلْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ (١)

تفسير:

﴿ الٓمٓ ﴾ دغه له مقطعاتو تورو څخه دى چي دقرآنكريم په اعجاز تنبيه وركوي اودې ته اشاره كوي چي دغه معجزكتاب چي دده دآيتونو په شان بل منظوم كلام علماء ، فصحاء بلغاء او اديبان هڅه راوړى نشي هغوى ته چيلنج وركول شوى دى مګرله توانه يې بهردى سره له دې چي هغوى په عربي ګړېږي هغه چي له دي تورو ﴿ الف , لام , ميم ﴾ څخه جوړشوي همدغه له خورا څرګندودلائلو او براهينو څخه دى چي دغه دحكيم اوعليم ذات له لوري راغلى كتاب دى ﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ﴾ داآيتونه دكتاب حكمت لرونكي دي دهغه چي په ټولوكتابونوباندي په بيان، تشريع اواحكاموكي لوړدى) دحكيم معنادلوړحكمت خاوند اوداچي ورته په بعيداشاره شوي دده لپاره چي دهغه منزلت په فضل اوشرف كي ليري او اوچت دي ﴿ هُدًى وَرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِينَ ﴾ هدايت اورحمت دى لپاره دنېكوكارانو دهغوى چي په دنياكي يې نېک عملونه كړي اوداچي دوى يې ځانګړي يادكړل دده لپاره چي دوى وربانديې نفع اخيستونكي دي وروسته يې الله صفتونه داسي ستايي ﴿ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ هغه كسان چي قائموي (سم اداكوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ او وركوي دوى زكات (مستحقينوته په اخلاص دالله درضاء لپاره ﴿ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴾ اودوى په آخرت باندي هم دوى يقين كوي) چي هيڅ شک اوشبه پكي نلري د(هم) ضميرېي دده لپاره مكرر راووړچي حصرافاده كړي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ

(١) وګوره اسباب النزول دواحدي ليكنه همداراز دقرطبي اوبحرمحيط تفسيرونه.

﴿هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ دغه (ستايلي شوي کسان) په سمه لاره دي له (لوري) درب ددوی اودغه (کسان) همدوی په مراد رسېدلي دي، په دنيا او آخرت کي نېکمرغه دي. ابوحيان وايې چي په ﴿أُولَٰئِكَ﴾ سره تکراري اشاره ددې لپاره شوي چي ددوی لوړ قدر او فضيلت څرګند کړي (۱) کله چي الله تعالی دهغه نېکمرغه کسانو حال وښود چي په کتاب الله يې سمه لاره موندلي ادهغه په اورېدلو يې نفع اخيستي ده اوس دهغو بدمرغانو يادونه کوي چي دوی دالله دکتاب له اورېدلو څنګ کړي ګټه يې ورباندي نه ده اخيستي اودغنا اوموسيقي لورته يې مخه کړې ده نو فرمايې: ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ﴾ اوځيني له خلکو څخه هغه څوک دي چي پېري (اخلي) عبث خبري (اړونکي له طاعته دالله راګرزونکي له لاري دهغه کومي چي نه پکي خيروي اونه کومه ګټه زمخشري وايې لهو هر باطل ته چي له خير څخه سړی مشغولوي وايې لکه په کيسو نکلونو شپې رڼول اوپه ټوکو ټکالو مجلسونه کول يا بې فائدې اوناښايسته کلام (۲) ابن جرير له عبدالله بن مسعود څخه روايت کوي چي هغه له دې آيت شريف څخه وپوښتل شو هغه ورته په ځواب کي وويل: والله الذي لااله الاهو دري ځله يې دغسي لوړه وکړه اوبيايې وويل چي: دغه غناء (سندري) دي (۳) حسن بصري وايې چي دغه آيت دسندرو اوموسيقي په هکله نازل شوی دی (۴) ﴿لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾ دپاره ددې چي وښويوي (خلک) دالله له لاري بې له علمه (دليل اوبرهانه) ﴿وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا﴾ اوچي ونيسي دا (آيتونه دکتاب الله) په ټوکو مسخرو؛ اودغه په بدي کي زيات اوګمراهي کي ژوردي ﴿أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ﴾ دغه (کسان) شته دوی ته عذاب سپک کونکی (سخت سره له ذلت اوخواري) ﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا وَلَّىٰ مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا﴾

اوکله چي ولوستل شي په ده باندي آيتونه (دقرآن) زموږ نو مخ ترې وګرزوي حال داچي متکبر سرغړونکی وي داسي چي ګواکي له سره يې ندي اورېدلي داآيتونه ﴿كَأَنَّ فِي أُذُنَيْهِ وَقْرًا﴾ ګواکي په دواړو غوږونو دده کي درونډوالی کوڼوالی دی (چي نه يې اوري) ﴿فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ﴾ پس ده ته زېری ورکړه (ای محمده!) په عذاب دردناک سره، دلته يې دتهديد پرځای بشارت دتهکم اومسخرې په توګه راوړی دی په البحرالمحيط کي وايې چي دلته داخيستونکي (پېرودونکي) بدي له ښوو جوهاتو وښودل شوه يو داچي له حکمت څخه مخ اړوي بل له حق څخه تکبر کوي اوبيايې اورېدلو ته التفات اوپاملرنه نه کوي دومره زيات په ښنګ کولوکي ډوب وي چي دده حال له هغه چاسره تشبيه کېږي چي ببخي يې اورېدلي نه وي ځکه هغه ببخي دې لوري ته توجه نکړي وروسته بيا هغه ته دتهکم په

---

(۱) البحر ۷۰/۱۸۳

(۲) الکشاف

(۳) الطبري ۲۱/۳۹

(۴) ابن کثير ۳/۱۲۳

اسلوبو سخت عذاب زړې ورکول کېږي (¹) کله چي الله کفاروته ددردناک عذاب تهديد واوراوه دلته بې ورپسي دمؤمنانو هغه وعده چي ورسره په جنات النعيم شوي راوړه چي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ بېشکه هغه کسان چي ايمان يې راوړی اوکړي يې دي ښه (عملونه) يعني ايمان اونېک اعمال يې يوځای کړي اوښه نيت په عمل کي اخلاص يې ترسره کړی) ﴿ لَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلنَّعِيمِ ﴾ شته دوی لره جنتونه دنعمتونو (هستوګنځی چي ډول ډول خوندونه مزې اوپه ښايسته خوراک، څښاک ، پوښاک کي همداسي په مېرمنوحورالعين اونورو هغوانعامونو چي پاک الله تبارک وتعالی له خپل فضل اومرحمت څخه ورباندي لورولي (پېرزو کړي) کوم چي نه سترګوليدلي ، نه غوږو اورېدلي ، نه دچاپه زړه تېرشوي به مشتمل وي ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ ﴾ حال داچي تل به وي دوی په دغو (جنتونو) کي (هيڅکله به ځني نه وزي) ﴿ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ ﴾ وعده دالله حقه رښتياده (خلاف پکي نشته ان الله لايخلف الميعاد) ﴿ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴾ اوهم دی ښه غالب قوي (چي هيڅوک يې مغلوبولای نشي چي له خپلي وعدې يې تېرکړي) ښه حکمت لرونکی هغه چي هرکارپه حکمت اومصلحت کوي بياالله تعالی دخپل قدرت دلائل اودعظمت اوجلال آثارڅرګندوي چي دهغه ﷻ په وحدانيت برهان شي فرمايي: ﴿ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ﴾ پيداکړي دي (الله) آسمانونه بې له ستنوچي تاسي يې وينی) يعني آسمانونه سره دهغوی له لويوالي پراخوالي ټينګوالي بې ستنوپيداکړي حال داچي تاسويې همداسي بې ستنوولاړوينی چي پرته دقادر مقتدر الله له قدرته يې بل څه نه تکيه کوي ﴿ وَأَلۡقَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمۡ ﴾ اوغورځولي (پيداکړي يې دي) په ځمکه کي غرونه دپاره ددې چي ځمکه په تاسي باندي ونه خوځېږي (چي هلاک به موکړي ودانې به موورانې شي . امام فخر رازي وايي : پوه شه چي دځمکي ثبات په دروندوالي دی که داسي نه وای داوبوپه واسطه به له خپله ځايه خوځېدله اوبادونوبه هرلوري ته وړه اوکه چېري الله لکه شګي غوندي پيداکړي وای بيابه دکښت اوزراعت لپاره سمه نه وه لکه چي موږ وينو شګلنه ځمکه بوټي نه زرغونوي اوله يوځايه بل ځای ته يې شګي لېږدي همدغه دالله ﷻ حکمت دی چي غرونه يې ورباندي غورځولي دي فسبحانَ الله المتعال ﴿ وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٖۚ ﴾ اوويې شيندل (خواره واره يې کړل) په دغه ځمکه کي له هرډول (ساکښو) خوځېدونکوحيواناتوڅخه اوهغه چي ځيني يې دخوړلولپاره ځيني يې دسپرلی لپاره اوځيني نور دنورو کارونو اومنافعولپاره چي شمېر اوشکل يې يوازي الله تعالی ته معلوم دی پيداکړي دي ﴿ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ ﴾ اونازلي کړي دي موږ له (لوري) دآسمانه اوبه (ستاسي او ستاسي دچارپايانو دساتني لپاره) ﴿ فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجٖ كَرِيمٍ ﴾ پس زرغونه کړي دي موږ په دغه ځمکه کي له هرقسمه ګياوي ښې (ګټوري خاصي جوړې غذاوي

(¹) البحرالمحيط ۱۸۴/۷

اودواوي(١)﴿ هَٰذَا خَلْقُ ٱللَّهِ ﴾ دغه ټول مذكوره شيان) دالله مخلوق دى) يعني اى مشركانوداچي وينى گردد الله تعالى مخلوقات دي وګورئ آسمانونو اوځمکي ته ,انسان ته ,نبات ته , حيوان ته اوټولو مخلوقاتو ته بيادالله دقدرت اوبديع صنعت آثارپکي ولټوئ اوسوچ پرې وکړئ ﴿ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ﴾ پس وښيئ (اى مشركانو) ماته هغه شى چي دغوبتانوپرته له الله پيداكړي دي؟! دغه داسي پوښتنه ده چي تهكم اواستهزاء پکي ده وروسته له دې تبكيت څخه يې بيادد وى ښكاره گمراهي داسي په ډاګه كړه چي ﴿ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ بلكه دغه ظالمان (مشركان) په ښكاره ګمراهي كي دي يعني ددوى خسران ښځي څرګند اوګمراهي يې ښكاره ده څكه دوى عبادت هغه چاته كوي چي هغه يې اهل نه دى دهسي چاعبادت كوي چي نه اوري ، نهويني ، نه ګټه رسوي نه تاوان دفع كوي دوى ترخلوربولو خارويولابې لاري دي څكه څوک چي دجامد بت عبادت كوي اوسترخالق چي دتدبيرخاوندوي پرېږدي هغه ترحيوان لا په مرتبه كي ټيټ دى.

بلاغت:

پدې آيتونوكي چي دبديع اوبيان كومي ښكلاوي شته لنډيزيې دادى:

١ – دمصدرراوړل دمبالغې لپاره لكه ﴿ هُدًى وَرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِينَ ﴾.

٢ – په بعيدسره اشاره كول چي ﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ﴾ اوداسي يې ونه فرمايل چي: (هذه) څكه چي هغه دستري مرتبې اولوړشان اومقام خاوند دى.

٣ – اطناب دضميراواسم اشارت په تكرار سره لكه ﴿ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ لپاره دزياتي ستايني اوتكريم همداسي دغه جمله حصر افاده كوي يعني دوى په مرادرسېدلي دي نه بل څوک.

۴ – تصريحي استعاره پدې كلام كي چي ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ ٱلْحَدِيثِ ﴾ ددوى حال يې له هغه چاسره مشابه كړچي يوداسي څيزرانيسي چي په هغه كي تاواني وي اوهمداراز يې اخيستل (شراء) دتبديل په ځاى استعاره كړه چي تصريحي استعاره ورته ويلاى شو.

۵ – مرسله مجمله تشبيه پدې كلام كي ﴿ كَأَنَّ فِيٓ أُذُنَيْهِ وَقْرًا ﴾ دلته يې دتشبيه ادات اوتوري يې راوړل خودشبهي وجه يې حذف كړه نومرسله مجمله تشبيه ده.

---

(١) سيدقطب رحمه الله پخپل تفسيرفي ظلال القرآن كي وايې چي قرآنكريم داښيي چي نباتات جوړه جوړه پيداشوي ﴿ مِن كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ﴾ اوداډيرسترحقيقت دى چي همدااوس علم هغه ته لاره وموندہ هربوټي (نارينه والى اوښځينه والى خانته خانته خليې لري ياپه يوګل بوټي كي اوياپه جلاجلاګلانوكي په يوه ښاخ كي ياپه جلاجلاونوكي اوهيڅ مېوه ترهغونه پيداكېږي څوچي نارينه اوښځينه تلقيح يې سره نه وي شوي لكه داسي چي انسان اوحيوان توالدكوي

۶- د تهکم اسلوب چي فرمايي ﴿ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ ځکه بشارت او زېرى خو د خير بښېګڼي په باب وي او په شر کي استعمال يې استهزاء او تهکم دى.

۷- التفات له غيبت څخه تکلم ته چي ﴿ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ وروسته له ﴿ خَلَقَ ..... وَأَلْقَىٰ وَبَثَّ ﴾ څخه راغلى او هغه ګرد د غائب ضمائر وو وروسته يې ﴿ وَأَنزَلْنَا ﴾ واوړى چي د رحمن د شأن تعظيم او د نعمتونو د امتنان بشپړتيا و ښيي او د اهم له بديعي محسناتو ګڼل کېږي

۸- په اسم مفعول باندي د مصدر اطلاق د مبالغې په توګه لکه ﴿ هَٰذَا خَلْقُ ٱللَّهِ ﴾ يعني دغه د الله مخلوق دى.

۹- استفهام د توبيخ او تبکيت لپاره لکه ﴿ مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ﴾.

۱۰- د ضمير پر ځاى د ظاهر راوړل چي زيات توبيخ افاده کړي او د دوى زښته زيات جهل او ګمراهي وټاکي لکه داچي ﴿ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ او د ود داسي وو چي ويلى شوي واى (بل هم في ضلال مبين)

۱۱- په وروستي توري کي د فواصلو مراعت کول لکه ﴿ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ..... بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ..... جَنَّٰتُ ٱلنَّعِيمِ ..... زَوْجٍ كَرِيمٍ ﴾ دغه ډول ته په بديع کي سجع وايي او غوره يې هغه دي چي فقرې يې برابري ، له تکلف څخه آزاده او بې له تکراره وي او دا په قرآنکريم کي ډېره شته

فائده او ګټه:

الله ﷻ پدې سورت کي دغه کتاب ته د حکمت خاوندو وايو چي ﴿ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ﴾ ځکه چي د سورت له آب وهوا سره برابره ده او د حکمت موضوع پکي څوځلي تکرارشوي چي ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا لُقْمَٰنَ ٱلْحِكْمَةَ ﴾ نو له کتاب سره دا صفت مناسب وو چي دده له نورو صفاتو څخه غوره او راوړل شي او دا هم د قرآنکريم دود ، دستور دى چي د الفاظو او د هغوى د استعمال د ځايونو تنسيق او ښه او بد تل په پام کي نيسي الله تعالى فرمايي:

﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا لُقْمَٰنَ ٱلْحِكْمَةَ أَنِ ٱشْكُرْ لِلَّهِ ۚ وَمَن يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ حَمِيدٌ ﴿۱۲﴾
وَإِذْ قَالَ لُقْمَٰنُ لِٱبْنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَٰبُنَىَّ لَا تُشْرِكْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴿۱۳﴾ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ
حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَٰلُهُۥ فِى عَامَيْنِ أَنِ ٱشْكُرْ لِى وَلِوَٰلِدَيْكَ إِلَىَّ ٱلْمَصِيرُ ﴿۱۴﴾ وَإِن جَٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن
تُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ۖ وَصَاحِبْهُمَا فِى ٱلدُّنْيَا مَعْرُوفًا ۖ وَٱتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَىَّ ۚ ثُمَّ إِلَىَّ
مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۱۵﴾ يَٰبُنَىَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِى صَخْرَةٍ أَوْ فِى
ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَوْ فِى ٱلْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا ٱللَّهُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿۱۶﴾ يَٰبُنَىَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَأْمُرْ بِٱلْمَعْرُوفِ وَٱنْهَ عَنِ

ٱلْمُنكَرِ وَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَ ۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴿١٧﴾ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿١٨﴾ وَٱقْصِدْ فِى مَشْيِكَ وَٱغْضُضْ مِن صَوْتِكَ ۚ إِنَّ أَنكَرَ ٱلْأَصْوَٰتِ لَصَوْتُ ٱلْحَمِيرِ ﴿١٩﴾

لقمان: ۱۲ - ۱۹

مناسبت:

کله چي الله تعالی دمشرکانو عقیدوي فساددوی دعناداو شرک له وجهي وښود چي هغوی هغه بتان چي دهیڅ څیزپیداکونکي نه دي له الله سره چي دهرڅه خالق دی شریکان نیولي نودلته یې دحضرت لقمان وصیتونه چي خوراقیمتي ملغلري دبشپړحکمت په تول تللي دبلني اودعوت دسمي لاري بل مثالونه دي اولومړی پیل یې له شرک څخه دځان ژغورني په وصیت شوي راوړل هغه شرک چي ترټولو گناهونو دالله په نزدبداوستردی.

لغتونه:

(الحکمة) په کړو وړوکي سموالی په اصل کي حکمت هرڅیزپه خپل ځاي ایښودلوته وایې په اللسان کي وایې چي د(أحکم الامر) معناداچي چاره یې په ښه توگه سرته ورسوله چي کله وویل شول (رجل حکیم) معنایې دادی چي په چارو ښه پوهېدونکی داتقان خاوندوی ([1]) (یعظه) ورته وعظ اونصیحت یې کاووپندیې ورکاوو (وهنا) ضعف ته چي بل ځای الله فرمایې ﴿وَهَنَ ٱلْعَظْمُ مِنِّى﴾ (مریم ۴) یعني ضعیف شوهډوکي مي (فصاله) داهسي لفظ دی چي یوازي دتي رودلو (رضاع) په هکله ځانگړي استعمالېږي او فصل بیاعام دی اوکله چي وایې (فصلت المرأة ولدها) یعني هغه یې له تي څخه جلاکړ (أناب) په توبه اواستغفارسره رجوع کولوته وایې (تصَعّر) صعر په دوو،زورونوباندي یوډول ناروغي ده چي اوښانوته رسېږي اوغاړې یې کږېږي بیاوروسته په کبراوویاړسره له یوچاڅخه مخ اړولوته وویل شو (مرحا) خوښي اونازنخروته وایې (مختال) په کبراوغرورتگ کونکی بولي (اقصد) درمیانه تگ کول چي نه ډېرگړندی ي اونه ډېرآرام (أغضض) ټیټ کړه.

تفسیر:

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا لُقْمَٰنَ ٱلْحِكْمَةَ﴾ اوخامخاپه تحقیق موږلقمان ته حکمت (عقل ،علم) ورکړی وو یعني هغه ته مود رایې ، ویناسموالی رښتنولي ورکړي وه چي له حق سره سمه وینابه یې کوله مجاهدوایې حکمت یعني فقه اوعقل اوپه ویناکي صواب، لقمان نبي نه وو بلکه هغه حکیم وو([2]) ﴿أَنِ ٱشْكُرْ لِلَّهِ﴾ (چي الله ته شکرکوه) یعني هغه ته مو وویل چي الله ﷻ دانعامونوشکر اداکړه چي تاته یې حکمت درکړی اوستاپه ژبه یې جاري کړی دی قرطبي وایې چي دجمهوروعلماوو رایه داده چي حضرت لقمان پیغمبرنه وو اوپه حدیث شریف کي راځي چي: لقمان نبي نه وو بلکه دالله یوبنده وو چي زیات تفکریې کاوو دښه یقین خاوندوو ده له الله سره ښه گمان درلوده نوالله ته محبوب شو نو ورباندي یې دحکمت پېرزوینه وکړه

([1]) لسان العرب مادة حکم

([2]) الطبري ۲۱/ ۴۳

(۱) ﴿ وَمَن يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِۦ ﴾ اوهرچاچي شكروكړ پس بېشكه هم دا خبره ده چي شكركوي دپاره (دښېګڼي) دځان خپل (فائده اوثواب يې ده ته راجع ده ځكه الله ته دشاكرشكرڅه ګټه نه رسوي اونه هم ورته دكافركفرڅه تاوان رسولای شي ځكه نو وروسته فرمايي ﴿ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴾ اوهرڅوک چي كافرشوپس بېشكه الله غني دهربې پرواد ګردو محامدوخاونددی (مستحق دثنادی چي په ذات اوصفاتويې وويله شي. امام رازي وايي چي معناداچي دچاشكرته اړنه دی چي ديوچاكفرالله ته تاوان ورسوي الله پخپله ستايلی شوی ذات دی كه خلک يې شكرپرځای كړي اوكه نه (الله يي پروا نلري)

(۲) وروسته الله تعالى دلقمان څه نصيحتونه خپل زوی ته داسي بيانوي چي لومړی يې له شرک څخه وېروي ځكه هغه ترټولو ګناهونو بده ګناه ده ويې فرمايل چي: ﴿ وَإِذْ قَالَ لُقْمَٰنُ لِٱبْنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِٱللَّهِ ﴾ اويادكړه (ای محمده هغه وخت) چي وويل لقمان خپل زوی ته په داسي حال كي چي ده پند وركاووهغه ته ای زمازوی ګوتيه له الله سره شريک مه نيسه (هيڅوک نه بت ، نه بشراونه زوی) ﴿ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾ بېشكه چي شرک خامخادېرلوی ظلم دی؛ ځكه چي يوڅيزله خپله ځايه پرته بل ځای اېښودل دی چي يوڅوک خالق اومخلوق سره مساوي ګڼي اوالله اوبت يوډول مني دغه (بېشكه) چي ترګردوخلګواحمق اوناپوه دی دعقل اوحكمت له منطقه ډېرليري دی او ورسره ښايي چي ظالم وبلل شي اودحيواناتوپه كتار كي ودرول شي ﴿ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ ﴾ اوموږ وصيت امركړی دی انسان ته (داحسان كولو) له مور اوپلارسره (په ځانګړي توګه له مورسره) ﴿ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ ﴾ (چي په نس كي) ګرزاووده لره مور دده په سستي سره له پاسه دبلي سستي) چي دحمل له وخته بياترزېږېدلوپوري يې كړاوونه ګاللي څومره چي دمورپه ګېډه كي جنين لوئېږي هغومره دمور ضعف زياتېږي ﴿ وَفِصَٰلُهُۥ فِى عَامَيْنِ ﴾ اوبېلول دده دی له تي څخه (په پوره كېدلو) ددوو كالوكي ﴿ أَنِ ٱشْكُرْ لِى وَلِوَٰلِدَيْكَ إِلَىَّ ٱلْمَصِيرُ ﴾ (او ورته ويلي مودي داچي) شكركوه ماته اوخپل مور اوپلارته خاص ماته ستاسي راتله دي) يعني دخپل رب دايمان اواحسان شكراداكړه اودمور اوپلار دروزني شكرپرځای كړه ماته ستاسي راتله دي زه به نېكوكارته دنېكي اوبدكارته دبدي بدله وركړم ابن جزي وايي چي داوينا ﴿ أَنِ ٱشْكُرْ لِى ﴾ دوصيت تفسيردی اودده اوتفسيرترمينځ داآيت چي ﴿ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَٰلُهُۥ فِى عَامَيْنِ ﴾ معترضه راغلی چي داوښيي موردزوی ډېركړاوونه ګاللي چي دهغې سترحق ښكاره كوي اوترپلاريې حق دمخه دی(۳) ﴿ وَإِن جَٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن تُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ

(۱) القرطبي ۱۴ / ۵۹
(۲) التفسيرالكبير ۲۵ / ۱۴۵
(۳) التسهيل ۳ / ۱۲۲

﴿ فَلَا تُطِعْهُمَا ﴾ او که کوښښ وکړي دامور اوپلارپه تاپدي چي شریک کړې ته له ماسره هغه شی چي نه وي تاته په هغه سره څه علم نوددوی دوارو اطاعت مکوه (چي لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق)

﴿ وَصَاحِبْهُمَا فِى ٱلدُّنْيَا مَعْرُوفًا ﴾ اوله دوی سره په دنیاکي ښه غوره ملګرتیاکوه (ورسره احسان اومعروف کوه ځکه چي د دوی کفرهغه ددوی کړاوونه چي له تاسره يې کړي له مینځه نه وړي اوپه ښکیو بې سترګې پښتول په کارنه دي ﴿ وَٱتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَىَّ ﴾ اومتابعت کوه دهغه چاچي بیرته ماته راګرزېدلي دي (په توحید، طاعت اونېکواعمالو) ﴿ ثُمَّ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ بیا(خاص) ماته ستاسي راتله دي (په قیامت کي) پس زه به خبرکړم تاسي په هغوعملونوچي تاسي به کول اوحکمت په وصیت کولوداحسان له مور اوپلارسره دلقمان دوصیتونو په ترڅ کي دادی چي دلومړي آیت تاکیدوښيي چي هلته دشرک بدي راغلي وه ﴿ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾ لکه چي الله تعالی وايې چي سره له دې چي مورله مور اوپلار سره داحسان کولو امرفرمایلی اودهغوی دسترحق په وجه موددوی اطاعت وربانديلازم کړی له دې ګردوسره سره بیاهم مورهغه ته پداسي حال کي چي شرک ته يې بولي دنه منلو اواطاعت نه کولو ویلي دي چي شرک خوراستره ګناه اوډېره بده اونهایته شنیع عمل دی وروسته بیا کلام دلقمان وصیت ته راګرزي چي ﴿ يَٰبُنَىَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ ﴾ ای زمازوی ګوتیه ببشکه دا(ګناه) که کوم شی دی په اندازه ددانې د(ډدن) اوزي څخه (په کوچنیوالي کي)

﴿ فَتَكُن فِى صَخْرَةٍ أَوْ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَوْ فِى ٱلْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا ٱللَّهُ ﴾ پس وي دادانه په کومي تېږي کي یاوي په آسمانونو کي یاپه ځمکي کي الله به يې راوړي (حساب کتاب ته) غرض له دې څخه یوتمثیل دی چي له الله تعالی څخه هیڅ شی پټ نه دی که هرڅومره ووړوي اوهرڅومره خوندي اوګوښه شوی وي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴾ ببشکه الله ښه باریک لیدونکی (او) ښه خبردارد ی (په پټو رازونو) ﴿ يَٰبُنَىَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَأْمُرْ بِٱلْمَعْرُوفِ وَٱنْهَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ ﴾ ای زمازوی ګوتیه لمونځ قائموه (پخپلووختونو او خشوع آدابوسره له ټولو حقوقو) اوامر کوه (خلګوته) په ښېګي اومنع کوه (خلګ) له بدونه ﴿ وَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَ ﴾ اوصبرکوه په هغه سختي چي تاته رسېږي (له تکالیفواومحنتونوڅخه (ځکه چي دعوتګرته ارومروخلګ ربړونه وررسوي. ابوحیان وايې چي کله يې لومړی ځل له شرک څخه منع کړ دوهم ځل يې ورته وښودل چي الله څومره دقدرت خاونداوپوهه يې څومره زیاته ده نوبیايې دطاعاتو اوعباداتو ورته امر وکړ اوترټولوغوره طاعت ته يې متوجه کړچي هغه لمونځ دی وروسته يې امربالمعروف اونهی عن المنکروپه لاس کړ ورپسي يې په هغه لاره کي دزغم اوصبرحوصلې ماربینه ورته وکړه ځکه چي په عمومي توګه دغسي کسان له کړاوونو، ازمویښتونوسره مخ په مخ کېږي [1] ﴿ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴾

---

[1] البحرالمحیط ۷ / ۱۸۸

بېشکه دغه (ذکرشوي نصيحتونه) له مهمو مقصودي کارونو څخه دي) ابن عباس ﷺ وايي چي دايمان حقيقت دادی سري به په کړاوونو صبرکوي امام رازي وايي معناداچي دغه له واجبي امورو څخه چي لازم دي ګڼل کېږي (عزم) مصدر د مفعول په معنادی (١) ﴿ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ ﴾ اومه ګرزوه مخ خپل خلګوته (له ډېره کبره اوغروره) قرطبي وايي چي له دوی نه دکبرپه وجه چي پرځان وياړي اودوی سپک ګڼي مخ مه کږوه اودغه دابن عباس وينا ده ﴿ وَلَا تَمْشِ فِي ٱلْأَرْضِ مَرَحًا ﴾ اومه کوه تګ په ځمکه کي په ناز اونخرو ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴾ بېشکه الله نه خوښوي هرکبر کونکی فخر کونکی (په خلګو) دغه دپورتني نهي لپاره تعليل دی يعني دکبرجنو خلګو تګ مکوه ځکه چي الله کبرجنان نه خوښوي هغه چي خپل ځان په خلګولوړګڼي دالله په بندګانو مستي کوي په ناز اومکيز روان وي وروسته کله چي يې له بدوخويونوڅخه منع کړ دښوخويونو يې ورته تلقين وفرمايو چي: ﴿ وَٱقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَٱغْضُضْ مِن صَوْتِكَ ﴾ اوميانه روڅه پخپل تګ کي (مه ډېر وروڅه مه ډېر ګرندی) او وروکړه غږ خپل (مه يې لوړوه چي هوښيارسړي په ډېر لوړ آواز ګړېدل ښه نه ايسي) ﴿ إِنَّ أَنكَرَ ٱلْأَصْوَٰتِ لَصَوْتُ ٱلْحَمِيرِ ﴾ بېشکه چي ډېربد دټولو غږونو خامخاد خروغږ دی (نو څوک چي غږ لوړوي نوهغه به داسي ښکارېږي حسن بصري رحمه الله وايي مشرکانوبه په لوړ آواز فخرکاوو نودا آيت ددوی ترديدکوي چي که چېری لوړ آواز ښه وای دخرو خوترهرچاآواز لوړدی قتاده وايي چي بدآواز دخرودی لومړی پيل يې (زفير) او وروستی يې (شهيق) دی.

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١- دطباق صنعت چي د ﴿ يَشْكُرْ...كَفَرَ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

٢- دمبالغي صيغه چي فرمايي ﴿ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴾ او ﴿ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴾ او ﴿ فَخُورٍ ﴾ ځکه چي فعيل اوفعول حميد اوفخور دمبالغې صيغې دي اومعنايې زيات حمدويلی شوی اوزيات فخر کونکی دی.

٣- ذکرد خاص وروسته له عام څخه لکه: ﴿ بِوَٰلِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ ﴾ اودادې لپاره چي دخاص په هکله زياته پاملرنه او اهتمام وشي.

٤- ړومبی راوړل دهغه چي دتأخيروړ اومستحق وي لکه ﴿ إِلَيَّ ٱلْمَصِيرُ ﴾ او ﴿ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ ﴾ يعني خاص ماته نه بل چاته ددې لپاره چي دحصرافاده وکړي.

٥- دتمثيل صنعت چي فرمايي: ﴿ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِي صَخْرَةٍ ﴾ دغه يې دالله ﷻ دپراخ علم اودهغه داحاطې لپاره مثال راوړی چي ګردشيان که واړه دي اوکه غټ سپک دي اوکه درانه اوچت دي، که ښکته الله پاک په ډېر وړوکي چي که ډېرپټ ځای کي هم وي پوهېدونکی اوعالم دی.

---

(١) التفسيرالکبير ٢٥ / ١٤٩

٧- تتميم (بشپړاوی) چي کله فرمايي: ﴿فَتَكُن فِي صَخْرَةٍ﴾ يوځل يې دخپل وړوکوالی خفا بيا په تېږه کي چي ځای يې هم پټ وي نو دغه دبديع له صنائعو څخه يوبل صنعت دی.

٧- مقابله چي د ﴿وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ﴾ بيافرمايي ﴿وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ﴾ ددواړولفظونو ترمينځ مقابله شته.

٨- تمثيلي استعاره داسي چي ﴿إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ﴾ هغه څوک چي په لوړ آواز کوکاري وهي له خروسره تشبيه شول اوغږونه يې دخروله هنګاروسره ،دتشبيه ادات يادشوي نه دي بلکه داستعارې په توګه يې راوړل چي دلوړغږونو څخه کرکه وښيي.

تنبيه:

کله چي الله تعالی دمور اوپلاردشکرپرځای کولو امر وکړنويې دخپل ځان شکر ترهغوی دمخه کړ اوويې فرمايل ﴿أَنِ اشْكُرْ لِي﴾ وروسته يې زياته کړه چي ﴿وَلِوَالِدَيْكَ﴾ اودادديليپاره چي دالله حق ترمور اوپلار دمخه دی پدې چي الله پاک جل جلاله وعم نواله دانسان دپيدا اينبت اوخلقت حقيقي سبب دی اومور اوپلار دپيدا اينبت ظاهري اوصوري سبب جوړېږي نوځکه يې الله پاک هغه وخت چي مور اوپلارخپل اولاد کفرته رابولي هغوی اطاعت منل حرام وګڼل اوويې فرمايل: ﴿فَلَا تُطِعْهُمَا﴾.

الله تعالی فرمايي:

﴿أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً ۗ وَمِنَ النَّاسِ مَن يُجَادِلُ
فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَابٍ مُّنِيرٍ (٢٠) وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ
آبَاءَنَا ۚ أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ يَدْعُوهُمْ إِلَىٰ عَذَابِ السَّعِيرِ (٢١) ۞ وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ
اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ ۗ وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ (٢٢) وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحْزُنكَ كُفْرُهُ ۚ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا
عَمِلُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ (٢٣) نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٍ (٢٤) وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ۚ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٢٥) لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ إِنَّ اللَّهَ هُوَ
الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ (٢٦) وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ
اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (٢٧) مَّا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَاحِدَةٍ ۗ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ (٢٨) أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ
يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى وَأَنَّ اللَّهَ بِمَا
تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ (٢٩) ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِ الْبَاطِلُ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ (٣٠) أَلَمْ تَرَ أَنَّ
الْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنْ آيَاتِهِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ (٣١) وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوْجٌ
كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ ۚ وَمَا يَجْحَدُ بِآيَاتِنَا إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ
كَفُورٍ (٣٢) يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا لَّا يَجْزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِ شَيْئًا

إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿۳۳﴾ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِى نَفْسٌۢ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌۢ ﴿۳۴﴾ ﴾ لقمان: ۲۰ ـ ۳۴

مناسبت:

کله چي الله ﷻ له شرک څخه تحذیر وفرمایو او دهغه د تائید لپاره یې د حضرت لقمان وصیتونه دایمان اوښو اخلاقو په هکله راوړل وروسته دلته د خپل وحدانیت په باب ښکاره دلائل راوړي او دصنعت له مخي په صانع باندي برهان اوهغه نعمتونه چي شمېرېې نشي کېداى چي هغه دآسمانونو تسخیر او هغو شیانو چي په همدې آسمانونو کي دي لکه لمر ، سپوږمۍ ، ستوري ، وریځي اونور اوهمداسي دځمکي اودځمکي په مخ اوتل کي چي څه شیان دي لکه حیوانات ، نباتات کانونه ، سمندرونه اونورچي دانسان لپاره یې تابع ، اوتسخیرکړي دي اودغه ګرددالله په وحدانیت ګواهي ورکوي دسورت پاى کي دپنځو مغیباتو په بیان سره کېږي

لغتونه:

(اسبغ) بشپړکړي یې دي(استمسک) منګولي یې لګولي دي(نفدت) خلاص اوتمام به شي (یولج) ننې باسي لکه چي الله فرمایي ﴿ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلْجَمَلُ فِى سَمِّ ٱلْخِيَاطِ ﴾ (الاعراف ۴) (الفلک) بېړۍ (کالظلل) لکه وریځي دظل جمع ده اوداهرهغه څه ته وایې چي پرتاسیورى کوي هغه که غروي ، که وریځ اوکه بل څه (ختار) مکرجن غدار(الغرور) خطا یستونکى شیطان اوانسان لکه چي وایې(غره الامل) آرزوتېرایستلي وو.

تفسیر:

﴿ أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ آیانه وینى تاسي (اى انسانانو) چي بېشکه الله مسخرکړي (په کاراچولي دي) تاسي ته هرهغه چي په آسمانونوکي دي اوهرهغه چي په ځمکه کي دي، لکه لمر، سپوږمۍ، ستوري ځو وړباندي ګټه واخلى اولکه غرونه وني، مېوې، رودونه (نهرونه) داټول ستاسي دخیر ښېګني لپاره دي ﴿ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةً وَبَاطِنَةً ﴾ (اوپوره کړي دي الله پرتاسي خپل نعمتونه په ښکاره اوپه پټه) یعني اوبشپړکړي یې دي پرتاسو اى خلکو خپل ښکاره لیدونکي نعمتونه لکه اورېدل ، لیدل ، روغتیا او اسلام اوناڅرګند نعمتونه لکه زړه ، عقل ، فهم اوپېژند ګلوي ،یانور. بیضاوي وایې: معناداچي درکړي یې دي محسوس اومعقول نعمتونه هغه چي پېژنى یې اوهغه چي نه یې پېژنى(۱)﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِى ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ ﴾ اوځیني له خلکو هغه څوک دي چي جګړه کوي په (حق د) الله چي بې له پوهي (دتوحید اوصفاتو) اوبې له (لاري دهدایت اوبې له روښانه کتابه(چي دالله له لوري رانازل شوى وي. قرطبي وایې: دغه آیت دیهودي په باب رانازل شوى چي پیغمبر ﷺ ته راغى ورته ویل یې ماته ستادرب خبرراکړه هغه له څه شي څخه (جوړشوى) دى

(۱) البیضاوي ۲ / ۱۰۹

نوتندر وربانديي راپرېووت اودى بې هلاک کړ(۱) دروښان معنا ژغورونکي له تاريکي دجهل اوبېونکي رڼاته ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُوا۟ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ﴾ اوکله چي وويل شي دوى ته چي متابعت وکړئ په صدق سره دهغه (قرآن) چي الله نازل کړى دى (پخپل استازي) اوپه هغه باور وکړئ ځکه هغه دحق اوباطل هدايت اوضلالت ترمينځ جلاوالى کوي ﴿ قَالُوا۟ بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ ﴾ نووايې دوى نه! بلکه دهغه شي متابعت کووچي موږپلرونه په هغه موندلي وو (چي دبتانو عبادت بې کاوو) ﴿ أَوَلَوْ كَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ يَدْعُوهُمْ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴾ (نوالله وايې) آيا (د پلرونو متابعت کوى) اګرکه وي شيطان داسي چي بولي دوى په لوري ددوزخ (عذاب؟) استفهام د انکار لپاره دى يعني آيادوى دهغه متابعت کوي که څه هم هغه ګمراه اودوى دسخت عذاب طرف ته بيايي؟ بلکه متابعت دي نه کوي ﴿ وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ اوهرڅوک چي وسپاري مخ (ځان) خپل الله ته (طاعات يې کوي حکمونوته يې غاړه ايږدي) ﴿ وَهُوَ مُحْسِنٌ ﴾ حال داچي دى نيکوکاروي (موحد مؤمن وي) قرطبي وايې چي عبادت پرته له احسان اوقلبي معرفته ګټه نه رسوي (۲) اومثال يې دغه آيت دى ﴿ وَمَن يَعْمَلْ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ﴾ (طه ۱۱۲) ۱۱۲) نوايمان ته ارو مرو اړتياشته ﴿ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ ﴾ نوپه تحقيق ده منګولي ښخي کړې په کړۍ مضبوطي (چي پرې کېدل نلري . کشاف وايې دغه دمثال په ډول راوړل شوى دى چي دتوکل کونکي حال يې له هغه چاسره تمثيل کړچي له لوړي څخه راکوزېږي اوپه مضبوطه رسۍ يې منګولي ټينګي کړي وي امام رازي وايې ترګردوټينګه کړۍ دالله ﷻ لوری دى اوهرڅه له الله ﷻ پرته شلېدونکي اوفاني دي(۳) يوازي الله باقي اوتلپاتي ذات دى ﴿ وَإِلَى ٱللَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ ﴾ اوخاص الله ته دي دټولو کارونو خاتمه نه بل چاته نوالله به عمل کونکوته ښه جزاورکړي ﴿ وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحْزُنكَ كُفْرُهُۥٓ ﴾ اوهرڅوک چي کافرشو پس تادي خفه نکړي کفردده) دغه د رسول الله ﷺ لپاره تسليت دى چي اى محمده! ﷺ تاته دي دکفارو کفراودګمراهانو ضلالت خواشيني اوغم پېښ نکړي چي موږبه اورمروله دوى څخه انتقام اوکسات واخلو که ژروي اوکه وروسته ﴿ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓا۟ ﴾ (ځکه چي) خاص موږ ته دي بيارا تله ددوى په قيامت کي پس موږ به دوى خبرکړو په هغوأعمالوچي دوى کړي دي (په دنياکي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴾ ببشکه چي الله ښه عالم دى په هغو خبرو چي (ددوى) په

(۱) القرطبي ۱۴ / ۷۴ ـ اوچابياويلي چي دنضربن حارث اوأبي بن خلف اونورو کسانو چي له رسول الله سره يې دالله دوحدانيت اوصفاتوپه هکله بې له عقلي علمه اوشرعي دليله مجادله کوله راغلى دى

(۲) التفسيرالکبير ۲۵ / ۱۵۴

(۳) الکشاف ۳-۳۹۵

سینوکي دي (له مکره ، کفره، اوتکذیب څخه په هغوبه جزاورکړي) ﴿ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴾ نفع به ورکړو موږ دوی ته (په دنیاکي)لږشاني بیاراولودوی په ډېره ناچاري سره په لوري دسخت عذاب (دجهنم) بیاالله تعالی ددوی استحقاق دعذاب لپاره څرګندوي چي دوی څرنګه په دنیاکی متناقض اودوه مخي کړنلاره درلوده هغه داچي الله یې پدې پېژاندوچي ځمکي آسمانونه یې پیداکړي خوله دې سره سره به یې د بتانو عبادت کاوو اوهغه یې ورسره شریکان نیول اوپدې یې اعتراف کاوو چي الله ﷻ مالک دی اودانور ګردیې مخلوقات دي نو الله فرمایي: ﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ﴾ اوقسم دی که وپوښتې ته ای محمده !) دغه (کفاردمکي مشرکان) چي چاپیداکړي دي دغه آسمانونه او ځمکه نوخامخاوبه وایې دوی هرومرو چي الله (څکه چي دابښځي روښانه خبره ده نودوی مجبور دي په دې به اقرارکوي ﴿ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ ﴾ ووایه (ای محمده !) ټوله ثنا، خاص الله لره ده) یعني کله چي دوی مقرشول نوته دوی ته و وایه چي الحمدلله پرتاسودلیل ثابت شواوپردې ثناء ووایه ،دایمان دلائل ظاهره ، عیان اوڅرګند دي ﴿ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (بلکه زیاتره ددوی نه پوهېږي) یعني زیاتره ددې مشرکانو نه سوچ کوي اونه فکرځکه نونه پوهېږي بیاالله فرمایي ﴿ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ خاص الله لره دي هرهغه څه چي په آسمانونوکي دي اوپه ځمکه کي دي (ملکا، خلقًااو تدبیرًا)﴿ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴾ ببشکه چي الله دی همدی دی بې پرواډېره ثناوړته ویلي شوي (په صنعت اونعمتونوبې) ﴿ وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ ﴾ او که چېري هغه څه چي په ځمکه کي دي له ونوڅخه (هغه ټول) قلمونه شي ﴿ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ ﴾ (اوسیاهي شي)بحر مرسته وکړي له ده سره پس له تمامېدوده او وروسته له ده اوه (نور) دریابونه(او ورباندي ولیکلي شي کلماتي دالله چي دالله په عظمت ، صفاتو اوجلال دلالت کوي ﴿ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ ﴾ پس خلاص به نشي کلمات دالله) اودغه دریابونه او قلمونه به خلاص اوتمام شي ځکه ونې اوسیندونه متناهي اودالله کلماتي غیرمتناهي دې قرطبي وایې کله چي الله ددې یادونه وکړه چي الله آسمانونه اوځمکي مسخرکړې اونعمتونه یې بشپړکړي نویې ددې تنبیه وفرمایله چي که چېري داګرده ونې اوسیندونه سیاهي اوقلمونه شي اودالله دصنعت عجائبات چي دالله په قدرت اووحدانیت دلالت کوي ولیکي دغه عجائبات به تمام نشي[1] اوابن جوزي وایې چي په کلام کي محذوف شته هغه داچي ولیکلی شي په دغو قلمونواوپدې سیاهیو باندي دالله کلمات دغه قلمونه به مات اوسیاهي به تمامه شي مګربیابه هم دالله کلمات پوره اوبشپړ شوي نه وي یعني منقطع به نشي[2] ﴿ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾

---

(۱) القرطبي ۱۴/۷۶
(۲) زادالمسیر۲-۳۳۲

بېشکه چي الله ښه غالب قوي دی (هيڅ څيزېې مغلوبولای نشي) ښه حکمت والادی (چي هيڅ شی اوچاره يې له علم اوحکمت څخه وتلي نه ده) ﴿ مَّا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَٰحِدَةٍ ﴾ ندی پيداکول ستاسي او بياژوندي راپاڅول ستاسي مګرداسي دی (لکه پيداکول) ديونفس (څکه کله چي الله ديوڅيزد پيدا کولواراده وکړي د (کن) په حکم (فيکون) شي صاوي وايې معناداچي په الله هيڅ شئ مشکل نشي دګرد عالم پيداکول او بيا راژوندي کول ورته داسي آسانه دي لکه چي يونفس پيداکوي اويايې بياژوندی راپاڅوي (١)﴿ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴾ بېشکه چي الله ښه اورېدونکی (دبندګانو د اقوالو) ښه ليدونکی (په اعمالو د دوی) دی بياالله دخپل قدرت اوځواک نښانې چي په آفاقوکي تر سترګوکېږي داسي بيانوي ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ ﴾ (آيانه وينې (ته ای مخاطبه بلکه وېنې يې) چي بېشکه الله ننې باسي شپه په ورځ کي اوننې باسي ورځ په شپه کي) يعني ای مخاطبه ته په بشپړه توګه پدې علم نلرې هغسي علم لکه چي په سترګويې وينې چي لوی الله پخپل کامل قدرت سره دشپې تياره دورځي په رڼا ننې باسي اودورځي رڼادشپې په تيارۀ کي دننه کوي له يوې څخه کموي بله لويوي دغه يې دازلي حکمت سره سمه کړنلاره ده ﴿ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِىٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾ (اومسخرکړي په کاراچولي يې دي تاسي ته لمر اوسپوږمۍ هريوله (دغودواړو نه لکه نور سيارات) روان دي (په آسمان کي) ترټاکلي مودې پوري) يعني تابع کړي يې دي په راختلو اولوېدلوچي دمودوټاکنه وکړي اومنافع ګټي بشپړي کړي هريوپخپل فلک کي ګرزي ترڅو(چي دقيامت ورځ راځي)﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾ (اوبېشکه الله په هرهغه څه چي تاسي يې کوی ښه خبردی) يعني الله تعالی ستاسوپه احوالو ،اعمالوخبرداردی هيڅ شی ورڅخه پټ اوالونيانه دی بېشکه يوڅوک چي دغه ښايسته صنعت ګوري اودغه لوړتدبيرسنجوي نوبياله دې څخه نه غافله کېږي چي دغه الله جَلَّ جَلَالُهُ دده په ګردواعمالو محيط اوخبرداردی ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ ﴾ (دغه (شامل معرفت کامل قدرت) له دې سببه دی چي بېشکه الله هم دی حق دی) يعني داچي وموليدل الله څرنګه دکامل قدرت خاوند اوعجيبه صنعتونو څښتن دی ددې لپاره دی ترڅودرته له ورايه وبرېښي چي الله حق ذات دی اولازم دی چي يوازي دهمده عبادت وکړای شي﴿ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلْبَٰطِلُ ﴾ (او بېشکه هغه (بتان) چي دوی يې بولي (عبادت يې کوي) بې له دغه (الله نه) باطل دي) ګردهغه چي دوی يې پرته له الله عبادت کوي لکه بتان اونورمعبودان باطل دي حقيقت نلري لکه چي لبيدوايې :(الاكل شئ ماخلا الله باطل) ټول دالله مخلوق اوبندګان دي دالله له حکم نه بغيرڅوک يوه ذره له ځايه خوځولای نشي ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴾ اوبېشکه الله هم دی ښه پورته لوی دی (په صفاتواو ذات کي) ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱلْفُلْكَ تَجْرِى فِى ٱلْبَحْرِ بِنِعْمَتِ ٱللَّهِ ﴾ (آيانه وينې ته چي بېشکه دابېړۍ په بحرکي د الله په نعمت (فضل) تګ

---

(١) حاشية الصاوي على الجلالين ٣ / ٢٥٩

کوي؟) دغه يوه بله دنعمتونو يادونه ده چي اى هوښياره ته دغه ستري ستري بېړۍ نه وينې چي دالله په قدرت په بحر کي رواني دي او بحر الله ورته مسخر کړى دى ځکه که چېري په اوبو کي دغه څواک او قوت نه واى چي بېړۍ وربأندي رواني شي تللى به نه وې (١) ځکه نو وروسته فرمايې ﴿ لِيُرِيَكُم مِّنْ ءَايَـٰتِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴾ لپاره ددې چي تاسي ته وښيي له دلائلو د (قدرت وحدانيت) دده بېشکه پدې (تسخير دبېړيو او بارول دخوراکونو، او روزي او سوداګري توکوکي) خامخا ډېر دلائل دقدرت) دي لپاره دهر ډېر صابر ډېر شاکر ﴿ وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوْجٌ كَٱلظُّلَلِ ﴾ او کله چي لاندي کړي دغه (کفار) يو موج لکه وريځي (يو غرغوندي) ﴿ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ نو بولي دوى الله پداسي حال کي چي دوى خالص کونکي وي خاص الله ته (دين خپل (کله چي وپوهېږي پرته له الله بل څوک ددوى ژغورونکى نشته نو همدغه الله ته زاري جګي کوي ﴿ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ فَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ ۚ ﴾ پس کله چي دوى ته الله نجات ورکړي (راويې باسي) دوچي لوري ته نو ځيني ددوى په سمي لاري وي. په آيت شريف کي حذف راغلى هغه داچي ځيني په سمه لاري او ځيني نور بيا انکار کوي او دليل يې دادى چي الله بيا فرمايې:

﴿ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَـٰتِنَآ ﴾ دمقتصد معنا په عمل کي ميانه رو. ابن کثير وايې: معنا داچي دغسي هيڅ نه ښايې ځکه هغه چا چي داسي سترګراوونه او هيبت ناکي پېښي يې ولېدې او دالله دقدرت او وحدانيت لويې لويې نښانې ورته څرګندي شوې وروسته بيا چي کله الله وربأندي خپل فضل او مهرباني وکړه او دى يې وژغورو نو داسي ورسره ښائېدل چي بشپړښه عمل وکړي او طاعاتو، عباداتو ته ملاوتړي او څوک چي بيا هم مقتصدوي هغه مقصردى (٢) ﴿ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَـٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُورٍ ﴾ او انکار نه کوي زمونږ د قدرت له دلائلو مګر هغه چي ډېر عهد ماتونکى غدار او ناشکره وي (دنعمتونو دالله) ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ ﴾ اى خلکو ووېرېږى (له عذابه) درب ستاسي (په امتثال داوامرو او اجتناب له نواهيو څخه) ﴿ وَٱخْشَوْا۟ يَوْمًا لَّا يَجْزِى وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ ﴾ او ووېرېږئ تاسي له هغي ورځي چي نه به شي دفع کولاى عذاب هيڅ پلار له خپله زويه) ﴿ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيْـًٔا ۚ ﴾ او نه هيڅ زوى (داسي دى) چي هغه دفع کونکى شي له خپل پلار څخه کوم شى (څه عذاب او ګناه يې پخپله غاړه واخلي). طبري وايې معنا داچي نه عذاب دفع کوي او نه کوم شفاعت او سپارښتنه هلته په کار ېږي مګر دنېکو عملونو او طاعاتو به ورته ګټه رسېږي او دده په ښه به کېږي کوم چي پخوايې له دنيانه استولي وي (٣) ﴿ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ۖ ﴾ بېشکه دالله وعده رښتيا ده (وعده د ثواب او عذاب او بعث او جزاء) ﴿ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ﴾

(١) مختصر ابن کثير ٣ / ٢٩

(٢) الط[illegible] (٢١) ٥٥

پس نه دي غره کوي تاسي خامخا دغه ددنيا ژوند(په لذتونو اوخوندونو چي ورباندي تېروزی) ﴿ وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴾ اونه دي غره کوي خامخا تاسي په الله باندي شيطان) غره کونکی (هغه چي خلګ په چټياتوله آخرت څخه خطا باسي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ ﴾ (ببشکه خاص له الله څخه علم دقيامت دی) يعني هغه دغيبو کليګاني پنځه دي لکه چي په حديث کي راځي (مفاتح الغيب خمس لايعلمهن الا الله) اودغه آيت يې تلاوت وفرمايو (١) ﴿ وَيُنَزِّلُ ٱلْغَيْثَ ﴾ اوالله باران نازلوي (وخت اوځای دنزول يې ورته ښکاره دی) ﴿ وَيَعْلَمُ مَا فِي ٱلْأَرْحَامِ ﴾ اومعلوم دی الله ته هغه څه چي دمیندو په ارحامو کي دي (چي نردی که ښځه ، نېکمرغه سعيددی اوکه بدمرغه شقي) ﴿ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ﴾ اونه پوهېږي هيڅوک چي سبا به څه کار کوي ؟ښه به کوي که بد) ﴿ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ﴾ اونه پوهېږي هيڅ نفس چي په کومه ځمکه کي به مري (اوخښېږي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴾

ببشکه الله ښه عالم دی (په دغو څيزونو اونورو اقوالو) ښه خبردارد ی په ټولو احوالوپه ظاهري اوباطني ګردوچارو پوه اوخبردی.

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې په لاندي ډول دی:

١-دطباق صنعت لکه ﴿ ظَٰهِرَةً .....وَبَاطِنَةً ﴾ اوداسي د ﴿ٱلْحَقُّ.....ٱلْبَٰطِلُ ﴾ ترمينځ.

٢-انکاراوتوبيخ سره له حذفه چي فرمايي ﴿ أَوَلَوْ كَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ يَدْعُوهُمْ ﴾ آيادوی يې پلوی کوي که څه هم شيطان يې ددوزخ اورته بولي ؟.

٣-مرسل مجازلکه ﴿ وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُۥٓ ﴾ جزء يې راوړی اودکل اراده يې ده.

۴-تمثيلي تشبيه لکه ﴿ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ ﴾ هغه څوک چي په اسلام يې منګولي ښخي کړي له هغه چاسره يې مشابه وګڼه چي لوړغره ته خېژي اوپه مضبوطه رسۍ يې لاسونه ټينګ کړي دي دلته يې دتشبيه ادات حذف کړی چي مبالغه افاده کړي.

۵-مقابله چي فرمايي: ﴿ وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ ﴾ اود ﴿ وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحْزُنكَ كُفْرُهُۥٓ ﴾ ترمينځ.

(١) أخرجه البخاري

۶-استعاره چي فرمايي ﴿ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴾ دغلظت (پنډوالی) کلمه يې دشدت لپاره استعاره کړې که څه هم هغه داجسامواجرامو په باب راتله دمعنوي څيزلپاره يې استعاره راوړې ده.

۷ – ړومبی راوړل دهغه څه چي دوروستي راوړلوړ اومستحق وولکه ﴿ وَإِلَى اللَّهِ عَٰقِبَةُ الْأُمُورِ ﴾ ترڅوچي حصرافاده کړي يعني يوازي الله ته نه بل چاته.

۸ – دمبالغې صيغې چي ﴿ صَبَّارٍ... شَكُورٍ... خَتَّارٍ... كَفُورٍ... عَلِيمٌ... خَبِيرٌ... سَمِيعٌ..... بَصِيرٌ ﴾ اولکه چي دفواصلوتوافق هم پکي ښکاره دی اودغه ته سجع وايې چي له بديعي محسناتوڅخه ګڼل کېږي

دسورت لقمان تفسيربشپړشو لله الحمد والمنة.

***

دالسجدة سورت مکي اودېرش آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

* دغه سورت مکي اودنوروسورتونوپه شان دعقيدې موضوع څېړي ايمان په الله ، دقيامت په ورځ اوپه کتابونواوپيغمبرانواوپه بعث اونشوردايې مهم توکي دي اوهغه محور چي دغه سورت ورباندي راګرزي دبعث بعدالموت موضوع ده هغه چي مشرکانوبه ډېرځله دهغې په هکله جګړې اوشخړې کولې اودرسول الله ﷺ ددروغجن ګڼلولپاره يې واسطه ګرزولي وه.

* دسورت پيل دشک اوشبهې په دفع کولوکېږي کوم چي دقرآنکريم په هکله يې درلودهغه مقدس کتاب چي درسول الله ﷺ ستره معجزه اوپه خواوشايې دشک اوترديدځای نشته کېږي ددغه سپېڅلي کتاب داعجاز ښکندتيا،ددلائلوروښانتيا، دبيان ځلااوداحکامولوړتيا اواعتلاء څخه يې هيڅوک انکارنشي کولای خوبیاهم مشرکانوبه رسول الله ﷺ په دې تورن ګاوو چي دغه يې له خپله ځانه جوړکړی نودغه سورت نازلېږي اودغه بهتان په خپل کوټلي برهان اودليل له مينځه وړي

* بياسورت دقدرت اووحدانيت دلائل بيانوي هغه چي په علوي کائناتواوسفلي کي يې آثارښکاره دي چي په ترڅ کي يې دواحدقهارذات ابداع ته پام راواړول شي.ورپسې دمشرکانوهغه بېځايه شک اوشبهه چي دبعث اونشور په باب يې لرله رااخلي اوپه ښکاره اقرار کوي اودغه دقرآنکريم دځواکمن بيان اودليل ښکندوی دی.

* په پای کي سورت ديوم الحساب يادونه کوي اوهغه څه بيانوي چي الله پاک دمتقيانومؤمنانو لپاره له نعمتونوڅخه تيارکړي چي تل ترتله جنت اودهغه بې شمېره نعمتونه دي همداراز دمجرمينو کفاروتل ترتله عذاب اوکړاوونه چي همېشه به په دوزخ کي ورسره لاس اوګرېوان وي بيانوي.

تسمیه اونومول یې:

دې سورت ته ځکه سورت السجدة وايې چي الله پکي د ښکانو مؤمنانو اوصاف راوړي هغوی چي کله به يې قرآني آيتونه واورېدل نو په سجده به پرېوتل ﴿ خَرُّوا۟ سُجَّدًا وَسَبَّحُوا۟ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴾

الله تعالی فرمايي:

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓمٓ ﴿١﴾ تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۚ بَلْ هُوَ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ
قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٣﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ
أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ مَا لَكُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِىٍّ وَلَا شَفِيعٍ ۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٤﴾ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ إِلَى ٱلْأَرْضِ
ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِى يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُۥٓ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٥﴾ ذَٰلِكَ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٦﴾
ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ كُلَّ شَىْءٍ خَلَقَهُۥ ۖ وَبَدَأَ خَلْقَ ٱلْإِنسَٰنِ مِن طِينٍ ﴿٧﴾ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ ﴿٨﴾ ثُمَّ
سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِۦ ۖ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۚ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٩﴾ وَقَالُوٓا۟ أَءِذَا ضَلَلْنَا
فِى ٱلْأَرْضِ أَءِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍۭ ۚ بَلْ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ كَٰفِرُونَ ﴿١٠﴾ ۞ قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ
رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١١﴾ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا۟ رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَآ أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَٱرْجِعْنَا
نَعْمَلْ صَٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ﴿١٢﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَءَاتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدَىٰهَا وَلَٰكِنْ حَقَّ ٱلْقَوْلُ مِنِّى لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ
ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١٣﴾ فَذُوقُوا۟ بِمَا نَسِيتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَآ إِنَّا نَسِينَٰكُمْ ۖ وَذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلْخُلْدِ بِمَا
كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾ إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا۟ بِهَا خَرُّوا۟ سُجَّدًا وَسَبَّحُوا۟ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا
يَسْتَكْبِرُونَ ۩ ﴿١٥﴾ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ ٱلْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿١٦﴾
فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِىَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾ ﴾ السجدة: ١ - ١٧

لغتونه:

(افتراء) له ځانه جوړول (يعرج) پورته کېږي (يدبر) د نورو خلکو د چارو تدبير کوي (سلالة) خلاصه[1] (مهين) سپک خوار (سوّاه) په تکميل د اندامونو يې برابر او سم کړ (ضللنا) چي مو ړ هلاک شو ضائع شو د عربو له دې وينا څخه اخيستل شوی چي (ضل اللبن فی المآء) شيدې په اوبو کي ورکي شوې (ناکسوا) ټيټ سرونه ښکته اچونکي (الجنة) پېريان او الونيا پټ ځيزته وايې.

---

[1] د سلالة په وضاحت سره معنا د المؤمنون په سورت کي وکتلای شئ.

تفسیر:

﴿ الٓمٓ ﴾ له مقطعاتوتوروڅخه دی اودقرآنکریم په اعجاز تنبیه ورکوي (۱) ﴿ تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ (نازلېدل د(دغه) کتاب (قرآن) چې نشته هیڅ شک پدغه کي له (جانبه د) رب دعالمیانودی) یعني دغه کتاب چې تاته ای محمده وحی شوی بېشکه چې دغه دالله عزوجل له لوري اودرب العالمین تنزیل دی ﴿ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ﴾ آیاوایي (دغه کفارقریش) له خپله ځانه یې جوړکړی دی؟ (أم) دبل په معنادی سره له همزې د (بل أیقولون) معنا داچې آیامشرکان وایې چې دغه قرآن محمدله ځانه جوړکړی دی؟ نه داسي نه ده لکه چې دوی وایې ﴿ بَلْ هُوَ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ﴾ بلکه همدغه (قرآن) حق دی نازل شوی دی) له جانبه درب ستا. بیضاوي وایې چې لومړی یې دقرآن مجید اعجازته اشاره وفرمایله بیایې داوبناورباندي مرتب کړه چې دغه درب العالمین له لوري دی اوپدې یې دشک اوشبهې لیري کول تائیدکړل اوبیایې له دې څخه هغه جانب ته لېږدېدل اوانتقال وکړ کوم چې دوی به ویل اوددې خلاف به یې خبري کولې ترڅوددوی دوینا ناسموالی اوتعجب ښکاره کړي ورپسې یې له راتلوڅخه مقصدبیان کړچې ﴿ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ ﴾ چې ووېروې ته (په قرآن سره) هغه قوم چې نه دی راغلی دوی ته هیڅ وېرونکی پخواله تانه (ای محمده!) مفسرین کرام وایې چې دوی دفترت دزمانې خلک ووهغه موده چې دمحمد ﷺ اوعیسی علیه السلام ترمینځ وه اوتردې دمخه انبیاعلیهم السلام راغلي وو لکه ابراهیم، هود اوصالح علیهم السلام خوکله چې پردوی موده اوږده شوه نوبې محمدمصطفی ﷺ راواستاوترڅو دوی ووېروي اودلیل وربانديې ثابت شي ﴿ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴾ ددې لپاره چې دوی سمه لاره ومومي اوپه الله ﷻ ایمان راوړي بیاالله پاک دتوحیددلائل داسي بیانوي ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ﴾ الله هغه (مطلق قادر) ذات دی چې ځمکه اوآسمانونه یې پیداکړي دي اوهرهغه چې په مینځ ددغو دواړوکي دي په (اندازه) دشپږو ورځوکي. حسن بصري رحمه الله وایې چې دغه ددنیادورځوپه اندازه اوکه الله غوښتي وای دسترګوپه رپ کي به یې پیداکړي وو خودالله غوښتنه داده چې بندګانوته په کرار اوتأني دچاروسرته رسول وروښیي. قرطبي وایې چې الله دوی ته دخپل قدرت بشپړتیااوکمال وروښود ترڅوقرآن واوري اوسوچ پرې وکړي او د(خلق) معناوروسته له نېستي اوعدم څخه پیدا ایښت دی (۲) ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ بیایې استواء وفرمایله پرعرش باندي (همغسي چې دالله له شانه سره وړ او لائقه ده بې له تشبیه اوتمثیل نه) ﴿ مَا لَكُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِىٍّ وَلَا شَفِيعٍ ﴾ نشته تاسي لره (ای کفارو) غیرله الله هیڅ دوست اونه شفاعت کونکی (چې دالله په وړاندي ستاسي شفاعت وکړي مګرپه اجازه دده بلکه الله هغه ذات دی چې ستاسي

(۱) هغه څه چې دالبقره سورت په پیل کي پدې هکله لیکل شوي وګوره.
(۲) القرطبي ۱۴/ ۸۲

دچارو تدبیر کوي او ستاسي مصلحتونه په پام کي لري ﴿أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ﴾ آیا پس پند نه آخلی؟ (چي ایمان راوړی) ﴿يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ إِلَى ٱلْأَرْضِ﴾ (تدبیر کوي (او نازلوي) امر کار له آسمانه ځمکي ته) یعني الله د ګردو مخلوقاتو چاري سمبالوي که په آسمان کي دي او که په ځمکه کي د هیڅ کار خوشي نه پرېږدي ابن عباس ﷺ وایي معنا دا چي الله فیصله او قضا له آسمانه ځمکي ته رالېږي او هغه څه چي الله یې تدبیر او قضا فرمایلي وي را ښکته کوي ﴿ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ﴾ بیا بیرته خېژي هغه کار الله ته (ګرد په ورځ د قیامت کي چي ترمینځ یې فیصله صادره کړي) ﴿فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُۥٓ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ﴾ چي د ه اندازه د هغې (ورځي) زر کاله له هغو (دنیوي وختونو) چي تاسي یې شمېرئ ﴿ذَٰلِكَ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ﴾ همدی عالم دی په هرپټ او ښکاره. قرطبي وایي چي په آیت شریف کي د وعید او تهدید معنا نغښتي ده لکه چي ویلي یې وي په اخلاص وینا او عمل کوئ زه ورباندي جزاء درکوم او د ﴿ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ﴾ معنا ده هغه چي له خلکو پټ او هغه چي ورته څرګند وي(١) ﴿ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ﴾ ښه غالب (په تقدیر) ښه مهربان (په بندګانو چي د چارو یې تدبیر کوي ﴿ٱلَّذِيٓ أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُۥ﴾ هغه الله چي ښایسته کړی یې دی هرشی چي پیدا کړی یې دی یعني هرشیز چي یې پیدا کړی دی هغه یې ښه محکم او مضبوط جوړ کړی. ابوحیان وایي چي د غه دا متن لپاره ښه ابلغ دی او معنا دا چي هرشی یې پخپل ورځای باندي اینښی دی څکه نو ابن عباس ﷺ وایي چي بیزو (شادی) خوښایسته نده مګر هغه جوړښت یې مضبوط محکم دی(٢) ځیني علماء کرامو ویلي که بالفرض ته داسي تصور وکړې چي د فیل سر د اوښ وي او د سوی سر دي د زمري وي ، یا د انسان سر دي لکه د خره وي نو پدې کي به د ډېر نقصان ومومئ او هیڅ تناسب به پکي نه وي خو که چېري پدې وپوهېږې چي د اوښ اوږده غاړه او څېرلي شونډي ددې لپاره دي چي هغه وکولای شي د تګ په حال کي خوراک وکړي او یا دا چي که چېري د فیل خرطوم نه وای نو بیا به یې نشوای کولای د خوړلو ،څښلو لپاره په پروتو او یا ناستي خوراک ،څښاک وکړي څکه چي خوراغټ بدن لري که پدې ګردو وپوهېږې نو به دي په دې باور شي چي د الله جوړښت خورا پرځای او په اتقان پوره دی نو بې اختیاره ووایې:﴿فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحْسَنُ ٱلْخَٰلِقِينَ﴾ (٣) ﴿وَبَدَأَ خَلْقَ ٱلْإِنسَٰنِ مِن طِينٍ﴾ او شروع کړی یې دی پیدایښت د انسان (یعني آدم) له ختي څخه ﴿ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ﴾ بیا یې پیدا کړ نسل اولاد دده له خلاصي له خوارو ضعیفو اوبو څخه (چي مني دي) ﴿ثُمَّ سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِۦ﴾ (بیا یې برابر کړ (قالب د) هغه او پو یې کړ په دغه (قالب کي) له روح خپل څخه) یعني کله چي یې اندامونه برابر کړل او د مور په رحم کي یې خلقت ورکړ وروسته یې پکي روح پو کړه نو هغه په بشپړ صورت

(١) القرطبي:١٤/ ٨٩
(٢) البحر٧/ ١٩٩
(٣) اوضح التفاسیر

اوښایسته جوړښت څرګندشو ابوالسعودوایې چې دروح نسبت الله تعالی ته کول دانسان دتشریف اوتعظیم لپاره دی اوچې پدې ګواهي ورکړي چې دغه یوعجیب اوبدیع مخلوق دی دسترشان خاوندی چې د حضرت ربوبیت سره مناسبت لري (۱)﴿ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَـٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ﴾ ویې ګرزول (دربې کړل) تاسي ته (ای بنیادمانو) غوږونه اوسترګي (چې پرې اوری اووینی) اوزړونه (چې عقل اوفکرپرې کوی حق اوهدایت وربانديي پېژنی) ﴿ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴾ خوسره له دغونعمتونوبښخي تاسي (خپل رب ته) لږشکرکوی د (ما)کلمه دلږوالي دتأکید لپاره راوړل شوي ده﴿ وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ضَلَلْنَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ اووایې (دمکې کفارچې له بعث نه منکردي) آیاکله چې موږپه ځمکه کي ورک شو(هډوکي موایرې شي اوغوښې موخاوري آن تردې چې ښخي ورک شو) ﴿ أَءِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍۭ ﴾ آیابېشکه موږخامخاپه نوي پیداښت کي یو؟ (بلکه نه یودغه استبعاد دبعث اونشورپه هکله دی اوبعث بعدالموت ریشخنداوملنډي بولي ځکه الله فرمایې: ﴿ بَلْ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ كَـٰفِرُونَ ﴾ بلکه دوی له ملاقات درب خپل منکران دي (چې په قیامت ایمان نه راوړي) ﴿ قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى وُكِّلَ بِكُمْ ﴾ ووایه (ای محمده دوی ته ځواب په دغوباطلوګمانونوددوی) قبض کوي ارواح ستاسي پرښته دمرګ (عزرائیل) هغه چې مقرره ده په تاسي (دی اودده مرستندویان) ﴿ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴾ بیابه خپل رب ته بیرته بوتلل شی (په ورځ دقیامت لپاره دحساب اوجزاء. ابن کثیروایې چې ظاهره دادی چې ملک الموت یومعلوم ذات اوشخصیت دی اوپه ځینو آثارو کي هغه ته عزرائیل نوم ورکول شوی اومشهورهم دی هغه بیامرستیالان لري (لکه چې په حدیث شریف کی راغلی) هغوی دخلګوساوي له ګرده بدنه راکاږي ترخوبې مری ته راورسوي بیایې ملک الموت قبض کوي(۲) اومجاهدویلي چې ګرده ځمکه لکه یوطشت (لګن) غوندي راونغښتل شي بیا (عزرائیل) هغه ارواحان چې غواړي-قبض یې کړی ترګوتوکوي (۳) وروسته الله تعالی دمجرمانوحال احوال چې له ذلت اوخواري سره به لاس اوګریوان وي داسي بیانوي﴿ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلْمُجْرِمُونَ نَاكِسُواْ رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ اوکه ته ووینې (ای محمده!) کله چې دغه کافران ښکته اچونکي به وي سرونوخپلو په نزددرب خپل(په ورځ دقیامت له شرم اوخجالته ,ندامته نویوډېرسخت هینبوونکی منظربه وي چې اندازه بې په هیبت اوفظاعت کي نشي کېدای (۴)﴿ رَبَّنَآ أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا ﴾ (وایې به) ای زموږ ربه موږ ولیده دحقیقت (چاري)او وامو وریده (وعده ستااو تصدیق دپیغمبرانوهغه چې موږترې منکروو اوموږپخواړانده کانه وو) ﴿ فَٱرْجِعْنَا نَعْمَلْ صَـٰلِحًا ﴾ پس بیرته بوزه موږ (دنیاته) چې ښه عمل وکړو ﴿ إِنَّا مُوقِنُونَ ﴾ بېشکه چې موږیقین کونکي

(۱) ابوالسعود ۴ / ۱۹۲
(۲) مختصرابن کثیر ۳ / ۷۳
(۳) الطبري ۲۱ / ۲۲
(۴) ابوالسعود ۴ / ۱۹۷

یو(په ټینګ باور سره چي ستا وعده حق او ملاقات دي حق دی. طبري وايي: معنا دا چي موږ اوس ستا په وحدانیت یقین کوو اوله تا پرته هیڅوک دعبادت وړنه دی بېشکه ته ژوندي کوې خلګ اومړه کوې یې

(۱) الله تعالی ددوی تردید هسي فرمایي: ﴿ وَلَوْ شِئْنَا لَآتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدَاهَا ﴾ اوکه موږ اراده کړې وای نوخامخاورکړې به وو موږ هرنفس ته (په دنیاکي) هدایت دهغه (خودغه زموږ له حکمت سره اړخ نه لګوي ځکه موږ له دوی څخه داختیاري ایمان غوښتونکي یونه داچي په جبر اواکراه سره یې ایمان ته اړباسو ﴿ وَلَكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّي ﴾ ولیکن مقرره شوي ده دغه وینا(حکم) له ما(چي مجرمانو ته به عذاب ورکوم) ﴿ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴾ خامخاډک به کړم دوزخ (له کفارو نه) له پېریانو اوانسانانو ټولو څخه) ﴿ فَذُوقُوا بِمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَذَا ﴾ پس وڅکئ تاسي (داعذاب) په سبب ددې چي هېرکړی وو تاسي ملاقات ددغي ورځي ستاسي (دغه به دوزخیانوته دتوبیخ په توګه وویل شي چي تاسي په دنیاکي په ملذاتواوشهوتونوکي ښخ او ډوب وی نو اوس دغه داهانت (سپکتیا)عذاب وڅکئ ﴿ إِنَّا نَسِينَاكُمْ ﴾ بېشکه چي موږ به هم تاسي هېرکړو (په عذاب کي لکه چي تاسو زموږ په آیتونو عمل کول هېرکړی وو) ﴿ وَذُوقُوا عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ اووڅکئ تاسي دائمي عذاب په سبب دهغه (کفر او تکذیب چي وی تاسي کاووبه مو(په دنیاکي) کله چي یې دبدمرغه کسانو حال ووایو ورپسې یې دنېکمرغه کسانو حال اوهغه څه بیان کړل چي الله ﷻ په دار الجزاء کي دائمي نعمتونه مقرر کړي دي ترڅو چي بندګان درغبت اورهبت ترمینځ خپل ژوند عیارکړي

﴿ إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا ﴾ بېشکه همدا خبره ده چي ایمان راوړي په آیتونوزموږ هغه کسان کله چي پندورکړی شي دوی ته په دغو(آیتونو) نو پرېوزي پداسي حال کي چي سجده کونکي وي (الله ته لپاره دتعظیم دآیتونویې) ﴿ وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴾ او تسبیح وایي سره له ثنا دړب خپل اودوی تکبر لویې نه کوي (له طاعت اوعبادت څخه یې) ﴿ تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ ﴾ لیري کېږي ډډي ددوی له ځایونو دخوب څخه (لپاره دتهجد کولو مقصد دا چي خوب یې لږ وي ځکه دوی شپې لمانځه ته پاڅېږي لکه چي الله بل ځای فرمایي ﴿ كَانُوا قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴾ الذاریات ۱۷-۱۸ مجاهد وایي چي ددې څخه مراد قیام اللیل دی ﴿ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا ﴾ بولي دوی رب خپل له ویرې د(عذابه دالله نه) اوله طمعي (درحمت اوثواب دده نه)

﴿ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ ﴾ اوځیني له هغو مالونو چي موږ دوی ته ورکړي دي لګوي یې (په لاره دالله کي چي دخیرښېګڼي کارونه وي) ﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ ﴾ پس نه دی معلوم هیڅ نفس ته هغه شی چي پټ کړی شوی دی دوی ته له یخوالي دسترګو نه چي (لاعین رأت ولا أذن سمعت

(۱) الطبري ۲۱/ ۶۲

ولاخطرعلى قلب بشر) ﴿جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ﴾ جزاء دهغه عمل چي دوی به کاوو (له نېکو اعمالو په دنیاکي).

الله تعالی فرمايي:

﴿أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًاۚ لَّا يَسْتَوُۥنَ ﴿١٨﴾ أَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمْ جَنَّٰتُ ٱلْمَأْوَىٰ
نُزُلًۢا بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فَسَقُواْ فَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخْرُجُواْ مِنْهَآ أُعِيدُواْ فِيهَا وَقِيلَ لَهُمْ ذُوقُواْ
عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَدْنَىٰ دُونَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ
يَرْجِعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَآۚ إِنَّا مِنَ ٱلْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا
مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَلَا تَكُن فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآئِهِۦۖ وَجَعَلْنَٰهُ هُدًى لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٢٣﴾ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ
بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُواْۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ
﴿٢٥﴾ أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّنَ ٱلْقُرُونِ يَمْشُونَ فِى مَسَٰكِنِهِمْۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍۖ أَفَلَا
يَسْمَعُونَ ﴿٢٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّا نَسُوقُ ٱلْمَآءَ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِۦ زَرْعًا تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَٰمُهُمْ وَأَنفُسُهُمْۖ أَفَلَا
يُبْصِرُونَ ﴿٢٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْفَتْحُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٨﴾ قُلْ يَوْمَ ٱلْفَتْحِ لَا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ
إِيمَٰنُهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَٱنتَظِرْ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾﴾ السجدة: ١٨ - ٣٠

مناسبت:

کله چي الله تعالی دمجرمانو حال په آخرت کي بيان کړاوبيايې ورپسې دمتقيانو مؤمنانو احوال ونبودل چي په دارالنعيم کي بيې ورته څرنګه کرامتونه اوعزتونه خوندي کړي نودلته يې داپه ډاګه کړه چي دواړه ډلي يوډول اومساوي نه دي يوه ډله دابرارونېکانواوبله دفجارو بدکردارو ده څکه چي دالله دعدل دغه غوښتنه اوتقاضاده چي دصالح مؤمن اوفاسق فاجر ترمينځ توپيروکړي

لغتونه:

(فاسقا) دالله له طاعت څخه وتلی اوخارج ته فاسق وايې (نزلا) مېلمستيااوهغه ورکړه چي د مېلمانه په وياړتيارېږي (الجرز) وچه لامزروع چي پکي نبات نه وي (جرز) قطع ته وايې زمخشري ليکي چي (جرز) هغي ځمکي ته وايې چي وابنه يې رېبل شوي قطع شوي وي ياداچي داوبوله نېستي څخه ورک شوي، ياهم ليري شوي اوحيواناتوپرې کړي وي هغي ځمکي ته چي ببخي څه نه شنه کوي (جرز) نشي ويلای (۰)

(۱) (الفتح) حکم ته ویل کېږي لکه چي حاکم ته فاتح او فتاح وایې ځکه د خلګو ترمینځ د خلاصون فیصلې کوي (ينظرون) مهلت ورکول شوی ځنډول شوی

دنزول سبب:

وایې چي د حضرت علی بن ابی طالب او (عقبه بن أبي معيط) ترمینځ دښمني او منازعه وه ولید بن عقبه حضرت علی کرم الله وجهه ته وویل: چي چُپ شه ته خو کوچنی هلک یې او په الله سوګند چي زه تر تا زړه ور او ژب غړاندیم تر تا پوه او ښه لیکونکی یم حضرت علي کرم الله وجهه ورته وویل چي: ته چُپ شه ته فاسق یې نو بیا دا آیت نازل شو: ﴿ أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا لَّا يَسْتَوُونَ ﴾ (۲)

تفسیر:

﴿ أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا لَّا يَسْتَوُونَ ﴾ آیا پس هغه څوک چي مؤمن (متقي) وي لکه هغه څوک دی چي فاسق دی (خارج له طاعته دی) ؟ ندي برابر د قیامت په ثواب او کرامت کي لکه چي په دنیاکي په طاعت او عبادت کي نه وو سره برابر او دغه هغسي ده لکه چي فرمایې: ﴿ أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ ﴾ (القلم ۳۵) ابن کثیر وایې الله تعالی له خپل عدل او کرم څخه اخبار فرمایې: چي د قیامت په ورځ دده په حکم کي هغه کسان چي په دنیاکي مؤمنان او د انبیاوو علیهم السلام تابع وو له هغو کسانو سره چي هغوی فاسقان او مکذبین وو برابر ندي (۳) بیا الله د دوی جزا په تفصیلي توګه داسي بیانوي چي ﴿ أَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ جَنَّاتُ الْمَأْوَىٰ ﴾ هرچي هغه کسان دي چي ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) پس شته دوی لره جنتونه د هستوګني (چي هلته یې داوسېدلو ځایونه لوړي ودانۍ او خوني وي بیضاوي وایې چي جنت په حقیقي توګه هستوګنځی دی او دنیا د کوچېدلو مېنه ده چي ارو مرو به ځني لېږدي (۴) ﴿ نُزُلًا بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ (په طریقه د مېلمستیا په سبب د هغو عملونو چي دوی به کول) یعني دغه د جنت ورکول مؤمنانو ته لکه هغه د مېلمانه لپاره چي د سوغاتونو او هدایاوو تیارول دود وي څوېې اکرام وشي دوی ته ورکول کېږي ځکه چي دوی نېک اعمال ترسره کړي دي ﴿ وَأَمَّا الَّذِينَ فَسَقُوا فَمَأْوَاهُمُ النَّارُ ﴾ او هرڅه هغه کسان دي چي فاسقان شوي دي پس ځای د هستوګني د دوی اور (د دوزخ) دی ﴿ كُلَّمَا أَرَادُوا أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا أُعِيدُوا فِيهَا ﴾ هرکله چي اراده وکړي چي راووزي له دغه اوره نو بیرته به دوی په دغه اور کي غورځول کېږي. فضیل بن عیاض رحمه الله وایې زما دي په الله سوګند وي چي لاسونه به یې

(۱) الکشاف ۳ / ۴۰۸

(۲) حاشية الصاوي على الجلالين ۳ / ۲۲۵

(۳) مختصر ابن کثیر ۳ / ۷۲

(۴) البیضاوي ۲ / ۱۱۲

ترلي اوپښې به يې څولنې وي اوداور لمبې به يې پورته راوخېژوي اوپرښتې به يې په څټكونووهي (١)

﴿وَقِيلَ لَهُمْ ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ﴾ اودوی ته به ويل کېږي (دتوبيخ اواهانت په توګه) وڅکئ تاسي عذاب داور (ددوزخ) هغه (عذاب) چي وی تاسي دهغه به موتكذيب كاوو (په دنياكي اومسخرې ملندې به مو وريسي كولې بيايې په ژرترژره عذاب تهديدوي، فرمايي:

﴿وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَدْنَىٰ﴾ اوخامخاوبه څكوو موږ هرومرو په دوی باندي له هغه عذابه نژدې (په دنياكي له قتل، بندي كېدلو، ازميښتونو او كړاوونوڅخه حسن رحمه الله وايې چي ﴿ٱلْعَذَابِ ٱلْأَدْنَىٰ﴾ ددنيامصيبتونه ، رنځونه اونورمشكلات دي چي بندګان ورباندي ازمويلي کېږي ترڅوتوبه وكاږي اوابومجاهدوايې چي مرادله دې څخه قتل اولوږه ده ﴿دُونَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَكْبَرِ﴾ (٢) ترپنځواله لوی عذاب نه (چي دآخرت دی ﴿لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ لپاره ددې چي دوی (له كفرګناه نه اسلام ته) وګرزي، وروسته له دې چي دوی يې دعذاب وړا ومستحق وګڼل ويې فرمايل ﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَـٰتِ رَبِّهِۦ﴾ اوڅوک دی ډېر ظالم له هغه چاڅخه چي پندوركړل شي په آيتونودرب خپل (قرآن باندي؟) ﴿ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَآ﴾ بيامخ ترې واړوي (اوويې نه مني ايمان ورباندي رانه وړي بلكه له دې لوی ظالم نشته) ﴿إِنَّا مِنَ ٱلْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ﴾ بېشكه موږله دغو مجرمانوڅخه غچ اخيستونكي يو، دلته يې اسم ظاهر دضميرپرځای راووړ چي دغه جرم اوګناه پردوی تثبيت كاندي ﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَـٰبَ﴾ اوخامخاپه تحقيق موږ موسی ته كتاب (تورات) وركړی وو ﴿فَلَا تَكُن فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآئِهِۦ﴾ پس مه کېږه ته په شک کي له ملاقاته ددغه (موسی) يعني لكه چي هغه ته مو تورات وركړی ووهغسي مو تاته قرآن دركړی نولكه څنګه چي موسی دتورات تلقی وكړه پس مه کېږه ته په شک کي له تلقی دقرآنه (٣) اومقصددرسول الله ﷺ درسالت تقرير اوتثبيت دی اوداچي كوم كتاب وركول شوی هغه آسماني وحی دی الهي كتاب دی ﴿وَجَعَلْنَـٰهُ هُدًى لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ﴾ اوګرزولی وو موږ تورات هدايت لپاره دبني اسرائيلو (له ګمراهي څخه) ﴿وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً﴾ اوګرزولي وو موږ ځيني له دوی نه امامان (چي دخيرښېګڼو پېشوايان وو) ﴿يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا﴾ چي لاره به يې ښودله خلګوته زموږپه حكم ﴿لَمَّا صَبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا يُوقِنُونَ﴾ (كله چي دوی صبروكړاو وودوی چي په آيتونوزموږبه يې يقين كاوو)

---

(١) المختصر ٣ / ٧٢

(٢) مفسرين كرام وايې چي دمكې خلګوته داسي لوږه اوكاختي راغله اوه كاله يې دوام وكړ اودوی دسپيو، مړزګوغوښې اوهډوكي خوړل.

(٣) ځيني مفسرينولېكلي چي ضميرموسی ته راجع دی چي ته دموسی له ملاقات څخه په شک كي مه کېږه اوكوم چي موږلېكلي راجح او دبيضاوی او ابو السعودغوره دي

يعني کله چي يې دالله په لیارکي په تکليفونوصبروکړ اووو دوی چي زموږ په آيتونويې ټينګ باور اوتصديق کاوو ابن جوزي وايې چي په دې کي قريشوته تنبيه ده که چېري تاسواطاعت وکړی اوايمان راوړی له تاسو څخه به امامان وټاکم (۱) ﴿ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴾ او بېشکه رب ستاهم دی به فيصله (حکم) کوي په مينځ ددوی کي په ورځ دقيامت کي په هغه شي کي چي وو دوی په دغه شي کي به يې اختلاف کاوو (په دنياکي له دېني امورو څخه) طبري وايې چي دوی به په دېني امورو کي لکه بعث، ثواب اوعذاب کي اختلاف کاوو(۲) وروسته الله په خپل مخلوق کي د قدرت په آثارو تنبيه فرمايې اوپه کفارو باندي دپخوانيو اُمتونوهغوی چي کفريې کاووهلاک شول دليل راوړي فرمايې ﴿ أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْقُرُونِ ﴾ آيالاره نه ده ښودلي دغو (دمکې کفارو) ته چي څومره (ډېر) هلاک کړي دي موږ پخواله دې نه له اهل دزمانودپخوانيوچي د خپلوانبياوو تکذيب يې کړی وو) ﴿ يَمْشُونَ فِى مَسَٰكِنِهِمْ ﴾ چي تل تېرېږي دغه (کفار) په (ورانو کنډوالو) کورونودديې (کفارو) (اوپخپلوسفرونوکي دهغوی وراني هستوګنځيويني آياعبرت نه اخلي؟ ابن کثيروايې چي دغه مکذبين دهغوظالمانوپه کورونوتېرېږي اوله هغوی څخه هيڅوک نه ويني کوم چي به دلته اوسېدل(۳) ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ ۖ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴾ بېشکه په دغه (هلاکولو (د پخوانيو) کي خامخا لوی دلائل دقدرت دي آياپس دوی نه اوري؟ (دعبرت په غوږنوچي پدې هلاکولوددوی کي زموږ په قدرت باندي ستردلائل موجوددي بياالله تعالی دوحدانيت دلائل داسي بيانوي چي: ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا نَسُوقُ الْمَآءَ إِلَى الْأَرْضِ الْجُرُزِ ﴾ آيادوی نه ويني چي بهوو موږ (ويالې د) اوبوطرف دځمکي وچي ته (چي ګياه پکي نه وي) ﴿ فَنُخْرِجُ بِهِۦ زَرْعًا ﴾ پس راوباسوموږ په هغه سره کښت (فصل) مېوې دانې) ﴿ تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَٰمُهُمْ وَأَنفُسُهُمْ ۖ ﴾ چي خوري له دغه کښته چارپايان ددوی (واښه پاڼي) اونفسونه ددوی (دانه اومېوه سبزيجات اوفاکهه) ﴿ أَفَلَا يُبْصِرُونَ ﴾ آياپس دوی نه ويني (نښي دقدرت دده چي وپوهېږي هغه څوک چي دځمکي په راژوندي کولوقادردی ددوی په راژوندي کولوهم توانادی ﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ (اووايې (کفار) کله به وي دغه فتح (فيصله) که چېري يی تاسي رښتوني (په دغه فتح کي) يعني دمکې کفاروبه مسلمانانوته دملنډواواستهزآء په توګه ويل چي کله به تاسي په موږ بری مومی اوغالب کېږی به؟ که تاسي پخپله دعوی کي رښتوني ياست صاوي وايې چي مسلمانانو به ويل چي: الله به ژر موږ ته په مشرکانوفتح اوبری راپه برخه کړي اوزموږترمينځ به فيصله وکړي اوچي کله به دمکې مشرکانودغه واورېدونوبه يې

(۱) زادالمسير ۶/۳۴۴
(۲) الطبري ۲۱/۷۲
(۳) مختصرابن کثير ۳/۷۷

دتکذیب او استعجال په توګه داسي ویل چي کله به وي دغه فتح؟ بیا دا آیت نازل شو چي ﴿ قُلۡ يَوۡمَ ٱلۡفَتۡحِ لَا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِيمَٰنُهُمۡ ﴾ ووایه (ای محمده! دوی ته دتوبیخ په توګه) چي په ورځ دفتحي (قیامت) کي به هیڅ ګټه ونه رسوي هغو کسانو ته چي کافران شوي دي ایمان راوړل ددوی (او نه عذر وړاندي کول ددوی نوبیا ولي تلواره کوی) ﴿ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴾ او نه به دوی ته مهلت ورکړل شي او نه به ورته انتظار وکړی شي. بیضاوي وایې چي یوم الفتح دقیامت ورځ او دمسلمانانو دبري او فتح ورځ ده چي هم دا به دفیصلې ورځ وي چابیاویلي چي دغه دبدر ورځ ده (۱) ﴿ فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ ﴾ پس له دوی نه مخ وګرځوه (ددوی پروا مکوه ای محمده) ﴿ وَٱنتَظِرۡ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴾ او منتظر اوسه (دالله نصرت ته) بېشکه دوی هم منتظر دي (چي پرتا غلبه ومومي) یعني دوی ته دعذاب دراتلو سترګي په لار اوسه او دوی هم پرتا د عذاب راتللو انتظار کوي قرطبي وایې چي دوی پرتاسي باندي دزمانې دحوادثو انتظار باسي (۲)

بلاغت:

په پخوانیو او په دې آیتونو کي چي دبیان او بدیع کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

۱- اشتقاقي جناس لکه: ﴿ لِتُنذِرَ... نَّذِيرٍ ﴾ همداسي ﴿ وَٱنتَظِرۡ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴾

۲- دطباق صنعت چي ﴿ ٱلۡغَيۡبِ... وَٱلشَّهَٰدَةِ ﴾ ترمینځ او د ﴿ خَوۡفٗا ...وَطَمَعٗا ﴾ ترمینځ دی.

۳- له غیبت څخه خطاب ته التفات لکه ﴿ وَجَعَلَ لَكُمُ ﴾ چي په اصل کي (وجعل له) دی او نکته داده چي خطاب له ژوندي سره اکبري نو کله چي الله پکي ساپوه کړه نوبیې له اولادې سره خطاب کول ښه اېسي.

۴- انکاري استفهام چي مقصدیې استهزاء وي لکه ﴿ وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ضَلَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدِۭ ﴾.

۵- داضمار صنعت لکه ﴿ أَبۡصَرۡنَا وَسَمِعۡنَا ﴾ یعني (یقولون ربنا أبصرنا وسمعنا).

۶- اختصاص او ځانګړتیا لکه چي فرمایې: ﴿ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ﴾ یعني یوازي هغه ته، نه بل چاته په ورځ دقیامت کي رجوع کونکي یاست.

(۱) البیضاوي ۲ / ۱۱۳

(۲) القرطبي ۱۴ / ۱۱۲

۷- حذف دځواب د(وَلَوْ) دتهويل اوهيبت لپاره چي کله يې فرمايلي دي: ﴿ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا۟ رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ يعني که چېري دي وليدنو يو هيښوونکی هيبتناک منظربه وي.

۸- دمشاکلت صنعت هغه چي په لفظ کي يو رنګه اوپه معناکي مختلف وي لکه: ﴿ نَسِيتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَآ إِنَّا نَسِينَٰكُمْ ﴾ ځکه چي الله تعالی خوهېرول نه کوي معنادا چي په عذاب کي به موهسي پرېږدم لکه چي يو څوک کوم هېرکړی شی پرېږدي.

۹- لطيفه مقابله چي دابرارواوفجارود جزا ترمينځ راغي ﴿ أَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمْ جَنَّٰتُ ٱلْمَأْوَىٰ ... وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فَسَقُوا۟ فَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ﴾ اودغه له بديعي محسناتو څخه يوصنعت دی.

۱۰- کنايه له زيات عبادت اود شپې رښولو څخه چي فرمايي: ﴿ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ ٱلْمَضَاجِعِ ﴾.

۱۱- استفهام دتوبيخ اوتقريع لپاره کله چي راغي ﴿ أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ ﴾ ؟ ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا نَسُوقُ ٱلْمَآءَ ﴾ ؟ ﴿ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴾ ؟ ﴿ أَفَلَا يُبْصِرُونَ ﴾ ؟.

۱۲- دفواصلواودآيتونو دپيل دسجع مراعات هلته چي فرمايي: ﴿ إِنَّا مُوقِنُونَ... لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ... أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴾ اودغه هم له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي اودا په قرآنکريم کي زيات شته

دالله په مرسته دالسجدة سورت تفسيربشپړشو

***

دالاحزاب سورت مدني اودرې اويا آيتونه لري.

د سورت په وړاندي:

دالاحزاب سورت دمدني سورتونو څخه دى هغه چي د اسلامي اُمت دژوندانه تشريعي اړخ ته پاملرنه كوي او هغه لكه نور مدني سورتونه دمسلمانانو عمومي اوخصوصي ژوند څېړي اوپه ځانګړي توګه دكورنۍ چاري پداسي توګه سمبالوي چي دنېكمرغي اوسوكالي ضمانت يې وكړي ځيني دودونه اودستورونه غندي او هغه رواجي موروثي عادات لكه زوى نيول (تبني) (ظهار) اوداچي دچاپه سينه كي دوه زړونه كېداى شي باطل اعلانوي اواسلامي ټولنه دجاهليت له پېكه اوناولو دودونو څخه پاكوي او هغه خرافات اوباطل سوچونه چي په هغه وخت كي تيت اوخپاره وو راټولوي اوله مينځه يې وړي كولاى شوچي ددغه سورت ستر موضوعات په دريو ټولګيو كي خلاصه كړو:

لومړى: اسلامي آداب او توجيهات.

دوهم: الهي احكام اوتشريعات.

دريم: داحزاب اوبني قريظه له غزاګانو څخه يادونه.

لومړى له اجتماعي آدابو څخه غوږېږي لكه دوليمې آداب دستر اوحجاب مسئله اوله بې حيايې او تبرج څخه ځان ژغورنه همداسي درسول الله ﷺ سره دآدابو معامله اونورو ډېرو ټولنيز آداب اواخلاق په ګوته كوي.

دوهم: دلته تشريعي ځيني حكمونه لكه دظهار ، تبنى ، مېراث اودمتبنى زوى دطلاق شوي مېرمني سره نكاح كول او درسول الله ﷺ دزوجاتو تعدد اوپه هغه كي حكمت په رسول الله ﷺ باندي درود لوستل ، شرعي حجاب اوهغه دوليمې په بلنه كي اړوند اُمور اوداسي نورحكمونه راځي.

دريم: دغه سورت په تفصيل سره دخندق دغزاء هغه چي داحزاب غزوه يې هم بولي بيانوي اودهغې دېرباريک انځوركارې چي څرنګه ګردي دكفراوشر قواوي په مسلمانانو چاپېر راوګرزېدې اوپه دې ترڅ كي دمنافقانوله پټورازونو څخه پرده پورته كوي اومسلمانان ددوى له دوكو ،چلونو او نيمګړتياوو وېروي چي منافقين مسلمانان كمزوري كوي ، عزمونه يې سستوي اودسورت په پيل اوپاى كي ددوى په هكله تفصيلي خبري كوي آن تردې چي هيڅ رازيې پټ نه پاتي كېږي اوداسي يې رسواكوي چي هيڅ چل، مكر اودوكه يې پټه نه پرېږدي اومؤمنانو ته هغه الهي ستر نعمت اونصرت وروپه يادوي چي دد ښمنانو زوريې اوبه كړ اوملائكي اوباد يې ددوى دمرستي لپاره ورته راواستولو لكه چي دبني قريظه غزاهم راآخلي اوديهودانو پېمان شكني اوبدعهدي چي له رسول الله ﷺ سره يې كړي وه غندي.

تسميه اونومول يې:

ځكه ورته سورت الاحزاب وايې چي مشركانوله ټولوخواوو په مسلمانانوراودانګل اوټول كفار لكه غطفان ، بني قريظه ،دمكې مشركان اوعربي لنډغر يوموټي دمسلمانو جګړې ته تيارشول مګرالله پاک

هغوی تورمخ شرمېدلي په شاو تمبول او مسلمانان یې د جګړې له ناتار څخه په دغي څرګنده معجزې سره وژغورل.

الله تعالی فرمایي:

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ وَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١﴾ وَٱتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ
مِن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿٢﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿٣﴾ مَّا جَعَلَ ٱللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن
قَلْبَيْنِ فِى جَوْفِهِۦ ۚ وَمَا جَعَلَ أَزْوَٰجَكُمُ ٱلَّٰٓـِٔى تُظَٰهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَآءَكُمْ أَبْنَآءَكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ قَوْلُكُم
بِأَفْوَٰهِكُمْ ۖ وَٱللَّهُ يَقُولُ ٱلْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِى ٱلسَّبِيلَ ﴿٤﴾ ٱدْعُوهُمْ لِءَابَآئِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ ٱللَّهِ ۚ فَإِن لَّمْ تَعْلَمُوٓا۟
ءَابَآءَهُمْ فَإِخْوَٰنُكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَمَوَٰلِيكُمْ ۚ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَآ أَخْطَأْتُم بِهِۦ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ ۚ
وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥﴾ ٱلنَّبِىُّ أَوْلَىٰ بِٱلْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ ۖ وَأَزْوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمْ ۗ وَأُو۟لُوا۟ ٱلْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ
بِبَعْضٍ فِى كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ إِلَّآ أَن تَفْعَلُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِكُم مَّعْرُوفًا ۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِى
ٱلْكِتَٰبِ مَسْطُورًا ﴿٦﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّۦنَ مِيثَٰقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ۖ وَأَخَذْنَا
مِنْهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا ﴿٧﴾ لِّيَسْـَٔلَ ٱلصَّٰدِقِينَ عَن صِدْقِهِمْ ۚ وَأَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟
نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٩﴾ إِذْ
جَآءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ وَإِذْ زَاغَتِ ٱلْأَبْصَٰرُ وَبَلَغَتِ ٱلْقُلُوبُ ٱلْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ ٱلظُّنُونَا۠ ﴿١٠﴾
هُنَالِكَ ٱبْتُلِىَ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا۟ زِلْزَالًا شَدِيدًا ﴿١١﴾ وَإِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ
إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢﴾ وَإِذْ قَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يَٰٓأَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَٱرْجِعُوا۟ ۚ وَيَسْتَـْٔذِنُ فَرِيقٌ مِّنْهُمُ ٱلنَّبِىَّ يَقُولُونَ إِنَّ
بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ وَمَا هِىَ بِعَوْرَةٍ ۖ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا ﴿١٣﴾ وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِم مِّنْ أَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا۟ ٱلْفِتْنَةَ لَءَاتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا۟
بِهَآ إِلَّا يَسِيرًا ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ كَانُوا۟ عَٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ مِن قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ ٱلْأَدْبَٰرَ ۚ وَكَانَ عَهْدُ ٱللَّهِ مَسْـُٔولًا ﴿١٥﴾ قُل لَّن يَنفَعَكُمُ
ٱلْفِرَارُ إِن فَرَرْتُم مِّنَ ٱلْمَوْتِ أَوِ ٱلْقَتْلِ وَإِذًا لَّا تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٦﴾ قُلْ مَن ذَا ٱلَّذِى يَعْصِمُكُم مِّنَ ٱللَّهِ إِنْ أَرَادَ بِكُمْ
سُوٓءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ۚ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٧﴾ ۞ قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلْمُعَوِّقِينَ مِنكُمْ وَٱلْقَآئِلِينَ
لِإِخْوَٰنِهِمْ هَلُمَّ إِلَيْنَا ۖ وَلَا يَأْتُونَ ٱلْبَأْسَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٨﴾ أَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۖ فَإِذَا جَآءَ ٱلْخَوْفُ رَأَيْتَهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ
كَٱلَّذِى يُغْشَىٰ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْمَوْتِ ۖ فَإِذَا ذَهَبَ ٱلْخَوْفُ سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى ٱلْخَيْرِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا۟ فَأَحْبَطَ

اللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا ﴿١٩﴾ يَحْسَبُونَ الْأَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوا ۖ وَإِن يَأْتِ الْأَحْزَابُ يَوَدُّوا لَوْ أَنَّهُم بَادُونَ
فِي الْأَعْرَابِ يَسْأَلُونَ عَنْ أَنبَائِكُمْ ۖ وَلَوْ كَانُوا فِيكُم مَّا قَاتَلُوا إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢٠﴾ ﴾ الأحزاب: ۱ - ۲۰

لغتونه:

(أدعياءكم) متبنى زوى ته وايې هغه چي دبل چازوى وي اوخان ته يې نسبت وكړى شي په لسان العرب كي وايې چي (دعّى) هغه چاته وايې چي له پلاره پرته بل چاته منسوب شي (اقسط) بنه عادلانه او ويل كېږي (اقسط الرجل) كله چي عدل وكړي اوبيا (قسط الرجل) كله چي ظلم وكړي (مسطوراً) ليكلى شوي چي نه وركېږي (ميثاقهم) په قسم سره مؤكد شوى عهداوپيمان (الحناجر) د حنجره جمع اوحلق ستوني ته وايې (يثرب) دمديني منورې پخوانى نوم اورسول الله ﷺ طيبه ونوموله (عورة) ناخوندي هغه ځاى چي پكي نارينه نه وي ويل كېږي (دارمعورة) يعني ناخوندي سراى هغه چي ورننوتل آسانه وي جوهري وايې چي (عورة) هرهغه ځاى ته ويل كېږي چي انسان له دښمن څخه ورباندي وېرېږي هغه كه كنډو وي يابل دننوتلوغار (۱)(اقطار) دقطرجمع اولوري طرف ته وايې (يعصمكم) ژغوري مو،منع كوي مو (المعوقين) په شاكونكي ،ګرزونكي له (عاق) څخه اخيستل شوى دى.

دنزول سبب:

أ – روايت كېږي چي په قريشوكي يوتن چي جميل بن معمرنوميدو خوراهوښياراودحافظې خاوند وواوقريشوبه ويل چي دغه ډير څه يادوي ځكه دوه زړونه لري نوالله ﷻ داآيت نازل كړ﴿ مَّا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ ﴾ (۲)

ب – روايت كېږي كله چي نبي ﷺ دتبوک دغزاليپاره چمتووالى اعلان كړځيني خلګوويل مونږ به له مور اوپلار سره مشوره وكړو نوالله تبارک وتعالى داآيت نازل كړ﴿ النَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ ﴾ (۳)

تفسير:

﴿ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ ﴾ اى نبي (محمده !) ووېرېږه (تل) له الله څخه ، نداء دتشريف اوتعظيم لپاره شويده ځكه چي دنبوت منصب دتعظيم اوتكريم ګواهي وركوي يعني په تقوى باندي تل ترتله ثابت اوسه . ابوالسعود وايې چي رسول الله ﷺ ته دنبوت په عنوان نداكول دهغه دشان سترتوب ښيي او مرادله تقوى څخه د هغې زياتوالى اوپه هغې باندي ثبات اوټينګاردى ځكه چي هغه خوراپراخه ساحه

---

(۱) الصحاح د(عور) ماده
(۲) زادالمسير ۲/ ۳۴۹
(۳) الالوسي ۲۱/ ۱۵۱

لري په ټوله ساحه يې څوک نشي رسېدلای (۱) ﴿وَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ﴾ او مه منه (حکم) د کافرانو او منافقانو (کله چي تا نرمي او تساهل ته بولي چي د دوی خدايانو ته بد ونه وايې او د دوی خبرو ته غوږ مه نيسه که څه هم دوی داسي درته ښکاره کړي چي دغه نصيحت او خيرخواهي ده مفسرين کرام وايې مشرکانو به رسول الله ته ويل چي د دوی معبودان دي په بدو نومونو او صفتونو نه ستايې او داسي دي وايې چي دغه معبودان شفاعت کولای شي خو رسول الله ﷺ دغه بده وګڼله او کرکه يې تري وکړه چي دغه آيت نازل شو(۲) ﴿إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا﴾ بېشکه چي الله ښه عالم دی (په هر شي) ښه حکمت والا دی) يعني الله د خپلو بندګانو په عملونو او کړو وړو عالم دی او څه چي يې په زړونو کي دي ورته معلوم دي د دوی چاري په تدبير د حکمت سره سرته رسوي ﴿وَٱتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ﴾ او متابعت کوه (ای محمده!) د هغه حکم چي درلېږل کېږي تا ته له جانبه درب ستا (له شريعت او دين حکيم څخه په قرآنکريم منګولي ولګوه هغه چي تا ته را نازل شوی دی) ﴿إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا﴾ بېشکه چي الله دی په هغو کارونو چي تاسي يې کوی ښه خبردار (ستاسي د چارو هيڅ څيز ورڅخه پټ نه دی په هر څه به جزا درکړي) ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ﴾ او توکل وکړه په الله (هغه ته په ګردو اُمورو کي پناه يوسه) ﴿وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا﴾ او کافي بس دی الله کارجوړونکی (مرستندوی او ساتونکی ستا او ملګرو دی بيا الله تعالی د جاهليت ګمانونه د حق په رښتوني بيان داسي باطلوي چي ﴿مَّا جَعَلَ ٱللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلْبَيْنِ فِى جَوْفِهِۦ﴾ نه دی پيدا کړی الله لپاره د هيڅ سړي دوه زړونه په دننه دده کي. مجاهد وايې دغه آيت د قريشو د هغه تن په باره کي نازل شوی چي دوی به ورته له ډېره زېرکتيا او هوښياري (ذاقلبين) وايو او ده به هم دعوی کوله چي زما په سينه کي دوه زړونه دي په هريوه باندي د محمد تر عقل زه زيات عاقل يم (۳) ﴿وَمَا جَعَلَ أَزْوَٰجَكُمُ ٱلَّٰٓـِٔى تُظَٰهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَٰتِكُمْ﴾ او نه دي ګرزولي الله ښځي ستاسي هغه چي ظهار کوی تاسي له هغو څخه ميندي ستاسي. ابن جوزي (رحمه الله) وايې الله داسي اعلانوي چي مېرمن مورنشي کېدای او په جاهليت په دغه خبره ښځه طلاق کېدله چي کله به يې هغې ته وويل (ته په ما باندي لکه د مور شاغوندي يې)(۴) ﴿وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَآءَكُمْ أَبْنَآءَكُمْ﴾ او ندی ګرزولی الله هغه په زامنو بلل شوی ستاسي (واقعي) زامن ستاسي ﴿ذَٰلِكُمْ قَوْلُكُم بِأَفْوَٰهِكُمْ﴾ دغه (ګردي چتي) خبري ستاسي دي په خولو ستاسي (چي هيڅ حقيقت نلري) ﴿وَٱللَّهُ يَقُولُ ٱلْحَقَّ﴾ او الله حق وايې (هغه چي له واقعيت سره سمون لري او له هره لوري سره مطابق وي) ﴿وَهُوَ يَهْدِى ٱلسَّبِيلَ﴾ او هم دغه (الله) سمه

---

(۱) ابو السعود ۴/ ۲۰۱
(۲) القرطبي ۱۴/ ۱۱۵
(۳) القرطبي ۱۴/ ۱۱۲
(۴) زاد المسير ۶/ ۳۵۰

صافه لاره ښيي ، غرض او مقصد په آيت شريف کي د جاهليت د دوري غلط ګمانونه او بې ځايه انګېرني دي چي ورباندي د بطلان کرښه راکاږي لکه چي د يو چا په سينه کي دوه زړونه نشي کېداى همداسي نشي کېداى چي د يو چا ښځه دي د هغه مورشي او يا دي (متبنى) زوى بلل شوى د هغه رښتونى حقيقي زوى وګرزي نو دوى څرنګه هغه مېرمني چي ظهار ورسره کوي خپلي ميندي وبولي ؟ او يا څرنګه هغه زامن بلل شوي کسان چي د بل چا اولادوي د دوى زامن کېداى شي؟ سره له دې چي د دوى له نسله څخه نه دي.

بيا الله تعالى فرمايي چي دوى د خپلو پلرونو په نامه يادوي فرمايي: ﴿ ٱدۡعُوهُمۡ لِأٓبَآئِهِمۡ هُوَ أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِۚ ﴾ اووبولئ تاسي دغه (أدعياء) پلرونو د دوى ته دغه (نسبت) اصلي پلرونو د دوى ته) ډېر برابر (او غوره) دى د الله په نزد سره (١) ابن جرير وايي معنا دا چي د دوى منسوبول خپلو پلرونو ته د الله په نزد خور ابرابر او رښتوني او غوره دي تر دې چي تاسو يې له پلرونو پرته بل چا ته نسبت کوى(٢)﴿ فَإِن لَّمۡ تَعۡلَمُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِ ﴾ پس که نه پېژنى تاسي پلرونه د دوى (اى مؤمنانو) پس دوى ستاسي ورونه دي په دين کي ﴿ وَمَوَٰلِيكُمۡۚ ﴾ او دوستان ستاسي دي (په دين او اسلام کي) نو بايد يو څوک داسي ورته ووايي اى وروره ! اى دوسته !چي ديني ورورولي او دوستي مقصد وي ابن کثير وايي الله تعالى امر کړى تر څو نسبتونه د أدعيا و خپلو اصلي پلرونو ته وکړى شي او که يې پلرونه نه پېژندل بيا دي ورونه او دوستان و پېژني پر ځاى د دې چي ځان ته يې په زوى و نوموي او له دې کبله رسول الله ﷺ زيد بن حارثه ته وويل چي (أنت اخونا ومولانا) (٣) ابن عمر رضي الله عنه وايي چي موږ به زيد بن حارثه زيد بن محمد بالو تر څو چي دا آيت نازل شو چي ﴿ ٱدۡعُوهُمۡ لِأٓبَآئِهِمۡ هُوَ أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِۚ ﴾ (٤)﴿ وَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٞ فِيمَآ أَخۡطَأۡتُم بِهِۦ ﴾ او نشته پر تاسي (هيڅ) ګناه په هغه څه کي چي تاسي پکي خطا شوي يى (پرته له خپله پلاره مو بل چا ته منسوب کړي وي لکه چي وايې (زيد بن محمد) ﴿ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتۡ قُلُوبُكُمۡۚ ﴾ وليکن شته ګناه په هغه شي کي چي قصد يې وکړي زړونه ستاسي (او بې له خپله پلاره بې قصدا بل چا ته نسبت وکړي) ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمًا ﴾ او دى الله ښه ښښونکى ډېر رحم لرونکى (چي له خطاکار څخه عفو کوي او په مؤمنانو رحم فرمايي وروسته الله ﷻ د رسول الله ﷺ شفقت او نصيحت پخپل امت باندي داسي ستايي ﴿ ٱلنَّبِيُّ أَوۡلَىٰ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡ أَنفُسِهِمۡۖ ﴾ ((د الله) نبى (محمد) ډېر وړ لائق دى له مؤمنانو سره تر ځانونو د دوى) يعني رسول الله پر خلګو مؤمنانو د دوى تر خپلو ځانونو لا هم مهربان دى او د دى حقدار دى چي په ټولو ديني او دنيوي چارو کي يې حکم ته غاړه کښېښودل شي طاعت يې

(١) تفسير آيات الاحکام للصابوني ٢ / ٢٥٤
(٢) الطبري ٢١ / ٧٦
(٣) مختصر ابن کثير ٣ /٨٢
(٤) أخرجه البخاري

واجب اولازم دی ﴿ وَأَزْوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمْ ﴾ او ښځي ددغه (نبي دالله) میندي ددوی دي (تعظیما اوتحریما) ابوالسعودوایې دهغوی منزلت دمیندو منزلت دی په حرمت اواستحقاق دتعظیم کي اوله دې پرته بیاهغوی لکه اجنبیاتي دغسي دي (۱) ﴿ وَأُوْلُواْ ٱلْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِى كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ ﴾ اوخاوندان د خپلوي ځیني ددوی ډیرور لائق دي پرځینونورو (په میراث کي) په (حکم د) کتاب دالله کي له مؤمنینو (انصارو) اوله مهاجرینوڅخه ﴿ إِلَّآ أَن تَفْعَلُوٓاْ إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِكُم مَّعْرُوفًا ﴾ مګرخوداچي وکړي (پخپل ژوندکي) له دوستانو خپلوسره (چي انصار اومهاجرین دي) څه احسان (یاورته دمرګ په وخت کي وصیت وکړي دغه جائزدي ځکه چي الله تعالی خپل بندګان داحسان اوښېګني لوري ته هڅولي دي مفسرین کرام وایې چي دادهغه حکم ناسخ دی کوم چي پخوابه مسلمانانوپه ایماني اخوت اوهجرت باندي یوله بله میراث وړ(۲) ﴿ كَانَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْكِتَٰبِ مَسْطُورًا ﴾ دی دغه (توارث په مینځ دذوی الارحاموخپلوانوکي) په کتاب (عزیز) کي لیکلی شوي (چي تغیراوتبدیل نه مومي قتاده وایې معناداچي دالله په نزد لیکلی شوي چي کافر له مسلمان څخه میراث نشي وړلای ﴿ وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّۦنَ مِيثَٰقَهُمْ ﴾ او(یادکړه ای محمده!) کله چي واخیست موږ له ټولو انبیاووڅخه عهد (ټینګ په قسم) ددوی (چي په درباندي لازم شوي حکمونوبه وفاکوی اوځیني به دځینونورو تصدیق کوی او درسول الله محمد ﷺ او نورونبیانوپه رسالت به ایمان راوړی ﴿ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ﴾ اوله تانه اوله نوح نه اوله ابراهیم نه او له موسی اوله عیسی زوی دمریمي نه (چي دغه مشهور پیغمبران اولو العزم دي اوداچي رسول الله (محمد) یې ترګردو له مخه یادکړترڅوچي مزید شرف اوتعظیم یې بیان شي بیضاوي وایې دغه انبیاء علیهم السلام یې په ځانګړي توګه ځکه ذکرکړل چي دوی دشریعت خاوندان اومشهور کسان دي اوچي ړومبی له ټولویې محمد رسول الله ﷺ یادکړچي دشان تعظیم اوتکریم یې وشي(۳) او ابن کثیروایې چي له رسول الله خاتم الانبیاء څخه یې ځکه پیل کړل چي شرافت اوسترمقام یې وښیي اوبیایې دمودې اوزمانې په ترتیب سره یادکړل(۴).

﴿ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا ﴾ اوواخیست موږ له دغو (ټولوانبیاوو) څخه (په قسم سره) محکم عهد (چي درسالت دتبلیغ په لاره کي به پخپلو جائبووفاکوي ﴿ لِّيَسْـَٔلَ ٱلصَّٰدِقِينَ عَن صِدْقِهِمْ ﴾ دپاره ددې چي وپوښتي (الله) له صادقانوڅخه له صدقه (رښتیا) ددوی (چي خپل قوم ته یې درسالت تبلیغ کړی دی؟ صاوي وایې چي حکمت له پوښتلودانبیاوو سره له علمه دالله تعالی په رښتنولي دانبیاوو دادی چي

(۱) ابوالسعود۴/۲۰۳
(۲) زادالمسیر۶/۳۵۴
(۳) البیضاوي۱/۱۱۴
(۴) مختصرابن کثیر۳/۸۳

دکفاروتقبیح اورسوایې دقیامت په ورځ وشي(۱) قرطبي وايې چي دلته داتنبیه شته چي کله انبیاء علیهم السلام هم پوښتل کېږي نورخلگ به ولي نه پوښتل کېږي ؟ اودپوښتني گټه دکفارو توبیخ دی لکه چي الله تعالی عیسی ﷺ ته فرمايې ﴿ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ ﴾ (المائده ۱۱۲) (۲) ﴿ وَأَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾ اوالله تیارکړی دی له پاره دکافرانوعذاب دردناک (په سبب دکفرددوی اوپه سبب ددې چي له حق څخه څنگ کوي وروسته الله تعالی داحزاب دغزاپېښي داسي بیانوي چي الله څومره سترنعمت درباندي وکړ ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ ﴾ ای هغوکسانوچي ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو) یادکړئ تاسي نعمت دالله پرتاسي ﴿ إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُودٌ ﴾ کله (چي (په غزوه داحزاب کي) راغلې تاسي ته لښکري (دکفارواوپرتاسي را وگرزېدې ابوالسعود وايې چي مرادله لښکروهغه گوندونه چي قریش، غطفان ,دقریظه اوبني نضیر یهودان وو اوتقریبًا دوولس زره کسان ووکله چي رسول الله ﷺ دغه واورېدل دسلمان فارسي ﷺ په اشاره یې په مدینه منوره دخندق راتاوولو کارپیل کړاودرې زره مسلمانان یې لښکرتیار اودخندق په وړاندي یې مېشت کړل اوسخته وېره خپره شوه ، مسلمانانوډول ډول گمانونه وکړل منافقان راپاڅېدل او(معتب بن قشیر) وویل موږ ته محمد دکسری اوقیصردخزانووعدې راکوي خوموږ اودس ماتي ته نشو تلای (۳) . ﴿ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا ﴾ نوراولېږل موږ پردوی باد او داسي فوځونه (دملائکو) چي تاسي دوی (هیڅ) نه لیدلې یعني پردوی موسخت باد راوالوزاوو او د پرښتو لښکري مو راواستولې چي نژدې یوزرتنه پوخ وو مفسرین کرام وايې چي الله پاک په سخته توره اوسړه شپه کي وربانديي دصباباد راوالوزاووچي د دوی دېگونه یې واړول اوخېمې یې له بېخي وایستلې اوسرې یې پرځمکه وویشتل الله پاک ملائکي راواستولې چي ددوی په زړونو کي یې رعب اووېره وراچوله (۴) ﴿ وَكَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴾ (او دی الله په هغو کارونوچي تاسي یې کوی ښه لیدونکی) یعني الله تعالی ستاسي په کړو وړوچي خندق کینی اوله رسول الله سره په دغه وخت کي په مرسته دوام اوثبات کوی ښه لیدونکی دی ﴿ إِذْ جَاءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ ﴾ کله چي راغلې تاسي ته دکفارو لښکري له پاسه (دختیز له لوري چي هغه اسداو غطفان وو) ﴿ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ ﴾ اوله ښکته (لوري) دتاسي (دلوېدیز له لوري چي قریش، کنانه اود عربو لندغر (اوباش) وو مقصدداچي مشرکان له مشرق اومغرب څخه راغلل اوپه مسلمانانو باندي لکه چې لاسوندی په مړوند راتاووي هسي را وگرزېدل اودبني قریظه یهودانو ورسره مرسته وکړه درسول الله عهد یې مات کړاوله مشرکانوسره ملگري شول هغه ووچي وېره زیاته شوه اوابتلاء

(۱) الصاوي علی الجلالین ۳ / ۳۷۹
(۲) القرطبي ۱۴ / ۱۲۲
(۳) ابو السعود ۴ / ۳۰۴
(۴) الصاوی علی الجلالین.

خوراستره شوه ځکه الله فرمايي ﴿ وَإِذْ زَاغَتِ ٱلْأَبْصَٰرُ ﴾ اوكله چي ستر ګي خړي كړې شوې (له هيبت اوويري نه) ﴿ وَبَلَغَتِ ٱلْقُلُوبُ ٱلْحَنَاجِرَ ﴾ او ورسېدل زړونه ستوني ته (له ډېري وېري) دغه د سختي وېري لپاره تمثيل دی لكه چي دهرچازړه ستوني ته له ډېره كړاو اوهيبته راختلی وي (١) ﴿ وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ ٱلظُّنُونَا۠ ﴾ اوګمانونه وكړل تاسوپرالله راز راز ګمانونه. حسن بصري رحمه الله وايې: چي منافقانو داسي ګمان وكړچي مسلمانان به له بېخه وايستل شي اومسلمانانو هسي ګمان وكړچي دوی به بری مومي نو مسلمانانو دخير ګمان وكړاومنافقانو دشر ګمان ابن عطيه وايې نژدې ووچي مسلمانانوپه دې اضطراب كي هسي ګمان كړی وای چي داځرنګه وعده خلافي وشوه اودغه داسي وسوسې دي چي مؤمنانوته رسېږي اوبنيادم يې دفع نشي كولای اومنافقانوتلواروكړه اوويې ويل چي موږ ته الله اوپيغمبردوكه راكړه(٢)(العياذبالله) ﴿ هُنَالِكَ ٱبْتُلِيَ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ پدغه وخت كي مؤمنان وازمويل شول (له منافقانو څخه) قرطبي وايې دغه ابتلاء په وېره اوقتال سره وه همداراز په ولږه , محاصره اوجګړه كولو يو سترازموينبت وو(٣) ﴿ وَزُلْزِلُوا۟ زِلْزَالًا شَدِيدًا ﴾ اووخوځول شول په خوځولو سختوسره (لكه چي ځمكه يې ترېښولاندي په زلزله او وخوځېږي ابن جزي وايې چي دزلزلې اصل سخت خوځول دي او دلته مرادځني اضطراب دزړونو او دهغوښورېدل دی (٤) ﴿ وَإِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ ﴾ اوكله چي وويل منافقانو اوهغو كسانو چي ددوی په زړونو كي (دنفاق) ناروغي وه (ځكه چي ايمان يې زړه ته ننوتلی نه وو) ﴿ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورًا ﴾ نه ده وعده كړې له موږ سره الله اورسول ددغه (الله) مګرپه تېرايستلو سره (باطله اودوكه صاوي وايې چي دغه ويونكی (معتب بن قشير) ووهغه چي ويل به يې: محمد موږ ته دفارس اوروم دفتحي خبراكوي اوس داودس تازه كولو لپاره هم له وېري څخه چېرته كوښه كېدلای نشودغه دتېرايستلو پرته بله وعده نه ده (٥) چي محمد(ص) موتېرباسي ﴿ وَإِذْ قَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ ﴾ اوكله چي وويل يوې طائفې له دغو(منافقانو) څخه چي هغوی (اوس بن قيظي) او دده پلويان وو (أبی بن سلول) او دهغه پيروان وو) ﴿ يَٰٓأَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَٱرْجِعُوا۟ ﴾ ای ديثرب خلكونشته ځای(د هستوګني) تاسي ته پس بيرته وګرزوئ (پرېږدئ محمد اوملګري يې) ﴿ وَيَسْتَـْٔذِنُ فَرِيقٌ مِّنْهُمُ ٱلنَّبِىَّ ﴾ اواجازه د بيرته تللوغواړي يوه ډله له دوی له نبي څخه (اوغيرمعقول عذرونه وايې چي) ...

(١) القرطبي ددغي معناله عكرمه رضی الله عنه څخه رانقل شوي اوځرګند دادی چي زړه يې له ډېره تكانه اواضطرابه ګواكي ستوني ته راختلی وو.
(٢) البحرالمحيط ٧ / ٢١٧
(٣) القرطبي ١٤ / ١٤٢
(٤) التسهيل ٣ / ١٣٤
(٥) حاشية الصاوي ٣ / ٢٧٢

﴿ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ ﴾ وايې چي بېشكه زموږ كورونه (له سړيو) تش پراته (خالي) دي (وېرېږو چي دښمن ياغل ورته مخه نكړي) ﴿ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ﴾ (الله يې تكذيب فرمايې) حال داچي نه دي تش پراته كورونه د دوی (لكه چي دوی گمان كوي) ﴿ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا ﴾ نلري اراده دوی (په دغه تگ سره) مگر د تېښتي (له جنگه اوپه مضارع سره تعبيركول چي ﴿ وَيَسْتَـْٔذِنُ ﴾ دی لپاره داستحضاررااوړل شوی لكه چي اورېدونكي هم دااوس ورته گوري اودوی خپل عذرونه اوحيلې وړاندې كوي بيايې الله داسي رسوا كوي چي ددوی كذب اونفاق ښكاره كوي: ﴿ وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِم مِّنْ أَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا۟ ٱلْفِتْنَةَ لَـَٔاتَوْهَا ﴾ او كه راننې ايستی شي (دغه كفار) پردوی (منافقانو) له اطرافو ددغې (مدينې منورې) بيا له دوی څخه د كفر، ياله مسلمانانو سره دجنگ فتنه وغوښتل شي نوخامخارابه شي دوی هغې (فتنې) ته (او دكفاروملگرتيابه وكړي) ﴿ وَمَا تَلَبَّثُوا۟ بِهَآ إِلَّا يَسِيرًا ﴾ اوځنډبه ونكړي په دغه قبول دفتنې كي مگرلږ (څكه چي سخت په فساد ككړدي حق ورڅخه تللی ايمان يې بايللی له لږ ويري اوترهې سره هم ايمان تېنگولای نشي (١) دغه ددوی ترټولوستره بدمرغي ښيي ﴿ وَلَقَدْ كَانُوا۟ عَـٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ مِن قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ ٱلْأَدْبَـٰرَ ﴾ او خامخاپه تحقيق وو دوی چي له الله سره يې وعده كړي وه پخواله دې نه چي وبه نه گرزوي (په جنگ كي) شاوي خپلي) يعني دغه منافقان هغه ځوک دي چي له الله سره ټينگه وعده كړي وه ترپخواله دې جنگ دخندق اووروسته دبدرله جنگه چي له جگړې څخه به هډونه تښتي ﴿ وَكَانَ عَهْدُ ٱللَّهِ مَسْـُٔولًا ﴾ (اودی عهد دالله پوښتېدلی شوی) يعني دغه وعده په وفاكولو وړ اولائقه وه څكه دوی به له هغې څخه وپوښتل شي اوپدې كي وعيداوتهديدنغښتی دی. قتاده وايې كله چي منافقان دبدرله غزاڅخه پټ شول اوهغه څه يې وليدل چي الله ﷻ اهل بدرته له كرامت اومرستي څخه وركړل نودوی وويل كه الله موږته جگړه راوليدله خامخابه وجنگېږو (٢) ﴿ قُل لَّن يَنفَعَكُمُ ٱلْفِرَارُ إِن فَرَرْتُم مِّنَ ٱلْمَوْتِ أَوِ ٱلْقَتْلِ ﴾ (ووايه (ای محمده دوی ته) چي له سره به نفع نه رسوي تاسي ته تېښته كه چېري تاسي له مرگه اويا قتله وتښتی) يعني ای محمده دغو منافقينوته ووايه هغه ځوک چي له جنگه ددې لپاره تښتي چي ژوندي پاتې شي نوستاسي تېښته به ستاسي عمرونه اوږده نكړي اوله سره به مو أجل وروسته نكړي اونه به مرگ درڅخه وگرزوي ﴿ وَإِذًا لَّا تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ اوكله چي وتښتی نو ژوندي به پاتې نكړی شی مگرلږ وخت (څكه چي مرگ هرچاته راتلونكی دی اوځوک چي په توره ونه مري په بل څه مري ﴿ قُلْ مَن ذَا

---

(١) دغه دقتاده اوابن زيدويينااوابن جريرغوره كړي ده قرطبي وايې چي سدي، حسن اوفرآء وايې معناداچي نه به شي پاتې په مدينه كي وروسته له ملگرتيادكفره مگرلږ كسان چي گردبه هلاک شي اولومړی ويينااكثرومفسرين كرامووده اودغه ددوی دكمزوري ونيتونو اوزيات نفاق له مخي كه چېري كفار ورته راگډشي نودوی به هم كفر ورسره اعلان كړي. قرطبي ۱۵۰/۱۴

(٢) حاشية الصاوي ۲۷۳/۳

﴿ ٱلَّذِى يَعْصِمُكُم مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ ووايه (اى محمده دوى ته!) څوک دی هغه ذات چي وساتي تاسي له (عذاب) دالله تعالى ﴿ إِنْ أَرَادَ بِكُمْ سُوٓءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ﴾ كه چېري اراده وفرمايي پرتاسي دبدي (هزيمت)، يااراده وفرمايې پرتاسي درحمت (ژوندي پاتي كېدلواونصرت) ﴿ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴾ اونه به مومي دوى خپلوځانونوته بې له الله كوم دوست (فريادرس) اونه كوم مددګار (دفع كونكى دضرر) ﴿ قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلْمُعَوِّقِينَ مِنكُمْ ﴾ په تحقيق سره الله ته ښه معلوم دي منع كونكي له (جهاده) له تاسي (هغه منافقان چي دخلكوعزائم سستوي اوله جنګه يې راګرزوي) ﴿ وَٱلْقَآئِلِينَ لِإِخْوَٰنِهِمْ هَلُمَّ إِلَيْنَا ﴾ او ويونكي خپلو ورونوته (چي) راشئ په لوري زموږ (چي آرامي ، هوسايې اوراحت ومومئ) يعني اوهغه كسان چي خپلو دكفراونفاق ورونوته وايې چي موږته راشئ محمداو ملګري بې خوشي كړئ چي هلاک شي تاسي له دوى سره ملګري مه جنګېږئ الله فرمايي: ﴿ وَلَا يَأْتُونَ ٱلْبَأْسَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ اونه راځي دوى جنګ ته مګرلږ (لپاره دريآء اوسمعت). صاوي وايې چي شان د همدغوكسانو چي خلک له جنګه منع كوي همداسي دى چي جنګ ته نه راځي مګرلږ كله ناكله هغه هم دناولي او پليت مقصدلپاره وي([1]) په البحر المحيط كي ليكي معنادا چي نه راځي جنګ ته مګر په راتګ لږ سره له مسلمانانوسره راووزي چي ګواكي دوى بې ملګري دي جنګ نه كوي مګرلږ كله چي مجبور او اړشي نو ددوى جنګ كول دريآء لپاره دى حقيقت نلري([2]) ﴿ أَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ﴾ (بخيلان دي (په دوستي شفقت له تاسي سره اونصيحت پرتاسي (چي خير خواهان مونه دي) ﴿ فَإِذَا جَآءَ ٱلْخَوْفُ رَأَيْتَهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ كَٱلَّذِى يُغْشَىٰ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْمَوْتِ ﴾ (پس كله چي راشي وېره (ددښمن) نووبه وينې ته دوى چي ګوري به تاته (ترهور) چي چاپېربه چورلي (ګاتي) دسترګوددوى په شان دهغه چا چي بېهوښي راغلي وي په هغه (دځنكندن) دمرګ) يعني كله چي قتال پېښ شي نوته به دغه منافقان پداسي فوق العاده وېره كي وګورې چي مثال دي كله نه وي ليدلى سترګي به يې رډي بډي راختلي وي لكه چي څوک دمرګ په سكراتوكي وي قرطبي وايې چي دغه ددوى دبې زړه والي اوجبن ستاينه ده ځكه چي بې زړه ښي اوكيڼ لوري ته ګوري اونېغي سترګي اړوي دبرخله خوله ډېري وېري وربانديي بې هوښي راځي([3]) ﴿ فَإِذَا ذَهَبَ ٱلْخَوْفُ سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ حِدَادٍ ﴾ كله چي وېره لاړه شي (جګړه پاى ته ورسېږي) نو دوى تاسي ته په تېرو ژبوسره ضرر رسوي (اوپه پېغور اوبدي بيانولو كي مبالغه كوي قتاده وايې كله چي دغنېمتونودوېش وخت وي نو تاسي ته ژبه ور شي اووايې موږته يې راكړئ موږ ستاسوسره وو تاسي څوترموږ وړاومستحق نه ياست هود جګړې په وخت ترګردوخلګودوى بې زړه او ډارن وي خود ولجې (غنېمت) دوېش په وخت كي ترټولو ژب غړاند

([1]) حاشية الصاوي.
([2]) البحر ٧/ ٢٢٠
([3]) القرطبي ١٤/ ١٥٣

اوبخیلان وي (۱) ﴿ أَشِحَّةً عَلَى ٱلْخَيْرِ ﴾ (بخیلان (حریصان) وي په خیرکي) یعني دوی تاسي سره هسي مخاطبه کوي چي د بخیلانووي دوی په غنیمت اومال ترلاسه کولوکي ډېرحریصان وي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ لَمْ يُؤْمِنُواْ ﴾ دغه کسان (دجنګ ګیدړان دوړجې زمریان) ایمان بې ندی راوړی (په حقیقت سره) که څه هم په ظاهره ځان مؤمن ګڼي) ﴿ فَأَحْبَطَ ٱللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ پس باطل کړل الله عملونه ددوی (ځکه چي ایمان داعمالوپه قبلېدوکي لومړی شرط دی) ﴿ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴾ اودی دغه (ابطال داعمال) په الله باندي آسانه، وروسته الله تعالی هغه څه بیانوي چي ددوی په بې زړه توب دلالت کوي فرمایي ﴿ يَحْسَبُونَ ٱلْأَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُواْ ﴾ (ګمان کوي دغه (منافقان) په لښکرو (دکفارو) چي تللي نه دي) (بیرته په ماتې) یعني دغه منافقان له ډېري وېري داسي ګمان کوي چي دقریشي کفارو اونوروډلو ټپلولښکري چي په مدینه راتاو شوي وې تللی نه دي (حال داچي هغه تللی دي) ﴿ وَإِن يَأْتِ ٱلْأَحْزَابُ يَوَدُّواْ لَوْ أَنَّهُم بَادُونَ فِي ٱلْأَعْرَابِ ﴾ او که چېري بیاراشي لښکر (دکفارو جنګ ته) نومنافقان دا دوست ګڼي چي دوی کاشکي په لیري کلیو) داعرابو کي وای (وتلي له ښاره) ځکه دوی له جنګه سخت وېرېږي اوپر تاسي باندي دهلاکت انتظار کوي ﴿ يَسْـَٔلُونَ عَنْ أَنۢبَآئِكُمْ ﴾ چي پوښتني به يې کولې (له لیري) له (احوالو خبرو ستاسي (چي څه ورته پېښه شوه؟) آیامؤمنان هلاک اوابوسفیان بریالی شو؟ ترڅو ستا سي حال په خبرونو ترلاسه کړي نه دا چي په سترګو مووويني ﴿ وَلَوْ كَانُواْ فِيكُم مَّا قَٰتَلُوٓاْ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ اوکه چېري وای دغه منافقان په تاسي کي نوجنګ به يې نه ووکړی مګرلږ (دریاء لپاره ځکه دوی ډېرډارن اوپه ژوندانه مین خلګ دي

بلاغت:

په دې آیتونوکي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

۱- تنکیردا ستغراق اوشمول دافادې لپاره لکه چيَ فرمایې: ﴿ مَّا جَعَلَ ٱللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلْبَيْنِ ﴾ او د حرف جر راوړل دتاکیدي استغراق لپاره دی اودنني سینې ﴿ فِي جَوْفِهِۦ ﴾ یادونه دانکار دزیات انځورولو په مقصدراغلی دی.

۲- اشتقاقي جناس کله چي فرمایې ﴿ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴾ .

---

(۱) زادالمسیر ۶/ ۳۶۶

٣ - دطباق صنعت په مینځ د ﴿ أَخۡطَأۡتُم... تَعَمَّدَتۡ قُلُوبُكُمۡ ﴾ او د ﴿ رَحۡمَةٗ... سُوٓءًا ﴾ ترمينځ ځکه چي مراد له (سوء) څخه شر او له (رحمت) څخه خير دی.

۴ - بليغه تشبيه هلته چي فرمايي: ﴿ وَأَزۡوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمۡ ﴾ دلته د تشبيه وجه او ادات حذف شوی نو بليغه تشبيه بلل کيږي او اصلي کلام داسي راځي چي (وأزواج... مثل أمهاتهم) په لزوم د درنښت، تعظيم، اجلال او عزت کي.

۵ - مجاز بالحذف چي وايي: ﴿ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ ﴾ يعني وړ او لائق دی په وړلو د ميراث د څينو کي

۶ - ذکر د خاص وروسته له عام څخه د تشريف لپاره چي فرمايي: ﴿ وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمۡ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٖ ﴾ ځکه دغه ګرد ذکر شوي عليهم السلام د انبياوو په جمله کي راتلل او ځانګړي يې ځکه راوړل چي د شأن لوړتيا او شرافت يې وښيي.

٧ - استعاره چي فرمايي: ﴿ مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ﴾ حسي ټينګيږي کوم چي د اجسامو لپاره استعماليږي د معنوي ټينګ لپاره استعاره کړ چي د ميثاق حرمت عظمت او درونوالی وښيي.

٨ - د التفات صنعت چي پدې کلام کي دی ﴿ لِّيَسۡـَٔلَ ٱلصَّٰدِقِينَ عَن صِدۡقِهِمۡ ﴾ او غرض ور څخه تبکيت او د مشرکانو تقبيح ده.

٩ - د طباق صنعت چي د ﴿ مِّن فَوۡقِكُمۡ وَمِنۡ أَسۡفَلَ مِنكُمۡ ﴾ ترمينځ دی

١٠ - تمثيلي تشبيه د الله په دې وينا کي: ﴿ تَدُورُ أَعۡيُنُهُمۡ كَٱلَّذِي يُغۡشَىٰ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِ ﴾ ځکه چي وجه د شبه له متعدد څخه اخيستل شوې ده.

١١ - په تمثيل کي مبالغه چي فرمايي: ﴿ وَبَلَغَتِ ٱلۡقُلُوبُ ٱلۡحَنَاجِرَ ﴾ د زړونو تصوير يې داسي وکړ لکه چي په اضطراب او خوځښت کي ستوني ته را پورته شوی وي.

١٢ - کنايه چي فرمايي: ﴿ لَا يُوَلُّونَ ٱلۡأَدۡبَٰرَ ﴾ چي له جګړې څخه د تېښتي کنايه ده.

١٣ - مکنيه استعاره چي فرمايي: ﴿ سَلَقُوكُم بِأَلۡسِنَةٍ حِدَادٍ ﴾ ژبه يې له تېرې توري سره تشبيه کړه مشبه به يې حذف او له لوازمو څخه يې يوه ته اشاره وکړه چي (سلق) دی دوهلو په معنا چي دغه مکنيه او لفظ د (حِدَادٍ) يې ترشيح دی.

۱۴- دڅوا صلو توافق په وروستنيو توروکي لکه ﴿ كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلْكِتَٰبِ مَسْطُورًا ﴾ ﴿ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورًا ﴾ اوداسي نورچي دکلام ښايست اورونق زياتوي اوخوندوره آزانګه خپروي او په زړه کي ځاى پرانيزي (۱)

تنبيه:

الله تعالى پخپل کلام کي انبيآء عليهم السلام ته ددوى په نومونو خطاب کوي وايي ﴿ قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهْبِطْ بِسَلَٰمٍ مِّنَّا ﴾ (هود۴۸) ﴿ وَنَٰدَيْنَٰهُ أَن يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ۝ قَدْ صَدَّقْتَ ٱلرُّءْيَآ ﴾ (الصافات ۱۰۵) ﴿ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّي ٱصْطَفَيْتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِي وَبِكَلَٰمِي ﴾ الاعراف ۱۰۴) اورسول الله ﷺ ته يې دخطاب لپاره پرته د نبوت اورسالت له لفظه بله کلمه نه ده کارولي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسْبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ (الانفال ۲۴) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ ﴾ (المائده ۲۷) ترپايه پدې ټولو کي درسول الله ﷺ دشان لوړتيا اودمقام تعظيم دى اودې ته اشاره ده چي دغه سترنبي خاتم الانبياء سيدالاولين والآخرين دى امام الانبياء والمرسلين دى اوموږته له هغه ﷺ سره دادب ښوونه اوتعليم راکوي ترڅويي په دېردرناوي اواجلال، عزت سره يادکړوپه ښه صفت سره يې وستايولکه چي فرمايي ﴿ لَّا تَجْعَلُوا۟ دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُم بَعْضًا ﴾ (النور۲۳) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَٰتَهُمْ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱمْتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ ﴾ (الحجرات ۳)(۲)

لطيفه:

که څوک وايي چي رسول الله ته په تقوى امرکول څه فائده لري هغه خودمتقيانوامام دى ؟ ځواب داچي دغه امردتقوى په ثبات اودوام باندي دى لکه چي الله فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ ءَامِنُوا۟ ﴾ (النساء ۱۳۶) يعني په ايمان ثابت واوسئ اويالکه چي مسلمان وايي ﴿ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴾ (الفاتحه ۲) اوهغه ته دسمي لاري ښودنه شوي مقصديې داچي تل ترتله موپه سمه لاره ولرې اويا داچي ورته ووايې خطاب رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دى اومرادورڅخه دهغه اُمت دى.

---

(۱) موږدبلاغت مثالونه په لنډه ګنډه توګه يادکړل ترڅولوستونکي له بياني ښکلاڅخه څه خوندوڅکي اوکه نه دالله (ﷻ) په معجز کلام کي خودومره زيات دبلاغت پانګه اودبيان رازونه شته چي انسان يې خوندڅکي خوپه ژبه ورڅخه تعبيرکول محال وي.

(۲) وګوره هغه بيان چي ابوحيان په البحرالمحيط کي ليکلى اوهغه چي قاضي عياض په شفا کي راوړى دواړو په دى هکله ډېري ښې خوندوري اوښايسته ليکني کړي دي.

الله تعالى فرمايي:

﴿ لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾ وَلَمَّا رَءَا
الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَٰذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ ۚ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا ﴿٢٢﴾ مِّنَ
الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾ لِّيَجْزِيَ اللَّهُ
الصَّادِقِينَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ إِن شَاءَ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٢٤﴾ وَرَدَّ اللَّهُ الَّذِينَ
كَفَرُوا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا خَيْرًا ۚ وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ الْقِتَالَ ۚ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا ﴿٢٥﴾ وَأَنزَلَ الَّذِينَ ظَاهَرُوهُم مِّنْ
أَهْلِ الْكِتَابِ مِن صَيَاصِيهِمْ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيقًا تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا ﴿٢٦﴾ وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ
وَدِيَارَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ وَأَرْضًا لَّمْ تَطَئُوهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرًا ﴿٢٧﴾ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ
الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٢٨﴾ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ
الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٢٩﴾ يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ
لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا ﴿٣٠﴾ ۞ وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَا
أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾ يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاءِ ۚ إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ
فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٣٢﴾ وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ ۖ وَأَقِمْنَ
الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ
تَطْهِيرًا ﴿٣٣﴾ وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَىٰ فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا ﴿٣٤﴾
إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ
وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ
وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا
عَظِيمًا ﴿٣٥﴾ ﴾ الأحزاب: ٢١ ـ ٣٥

مناسبت:

کله چې الله داحزاب غزوه بيانوله په ترځ کې يې دمنافقانواومذبذب خلکودريز څرګندکړچې له جهادڅخه يې څنګ کاوو اونوريې هم راګرزول پدې آيتونوکې الله ﷻ مؤمنانوته امرکوي چې په رسول الله ﷺ پسې اقتداء وکړي دهغه صبر، ثبات ، قرباني اوجهاددځان لپاره سرمشق وګرزوي ورپسې بيادامهات المؤمنين درسول الله ﷺ دمېرمنوڅخه غربېږي اوهغوى ته دنبوي زهد اوله دنياڅخه دمخ اړولو مارېينه کوي ترڅودنورو مؤمناتو مېرمنومقتداياني جوړې شي.

لغتونه:

(أسوة) قدوة او پیشوا ایې ته وایې په دې کې دوه لغتونه دي یویې دهمزې زېر او دوهم پېښ دی ویل کېږي: (ائتسی فلان بفلان) یعني فلاني په فلاني پسې اقتداوکړه (نحبه) نذردده اوعهدیې ، ویل کېږي (قضی نحبه) کله چي ومري تعبیرله مرګه څخه په نحب ځکه چي هرژوندی بایدومري اودغه یې په غاړه پوردی اوچي ومړ، وفات شوګواکي خپل نذریې پرځای کړ(۱) (صیاصیهم) برجونه ددوی د(صیصة) جمع دی (أمتعکن) متاع هغه توښې ته وایې چي سړی یې له ځانه سره وړي اوله دې څخه دطلاق شوي ښځي دنفعي اخیستلواودزړه دتسکین لپاره هغوجاموته چي دمېړه له خوا ورکول کېږي هم متعه وایې (۲) (أسرحکن) اسراح په لغت کي خوشي کولوآزادولو ته وایې (۳) اودلته مراد ورڅخه طلاق دی (تبرجن) (تبرجت المرأة) معنا زینت یې څرګند کړاوپردوته یې خپل محاسن وښودل اصل یې له څرګندولو اوظهورڅخه اخیستل شوی اوبرج ته چي ویلای شي هم ځکه چي ښکاره او سترلوي دی (قرن) اصل یې (أقررن) وو راء یې حذف کړه اوفتحه یې ماقبل ته ورکړه دوصل همزه یې دقاف له تحرک څخه وروسته چي ورته اړتیانه لیدل کېده وغورځوله نو(قرن) پاتي شو(الرجس) په لغت کي پلیدي اونجاست ته وایې اومراددلته څني ګناهونه دي ځکه ګناهکارپه ګناهونوداسي ناولی اوپلیت کېږي لکه په نجاستونو باندي چي تن اوبدن ناولی کېږي (۴)

دنزول سبب:

أ – ابن جریر طبري له أنس بن مالک څخه روایت کوي وایې چي زماتره (أنس بن نضر) دبدرپه غزا کي ونډه نه واخیستي اوویې ویل زه له لومړي جنګ څخه چي درسول الله په ملګرتیاوو پاتي شوم که الله بیاجګړه راولیدله الله به مي ووینې چي زه څرنګه له دښمن سره جنګېږم؟ کله چي دأحد جګړه پېښه شوه اومسلمانانوماتي وخوړه نوهغه وویل: ای الله زه بېزاره یم له دې کاره چي دغووکړ (مقصدیې مشرکان وو) اوزه تاته معذرت وړاندي کوم له دې کاره چي دانورو وکړ (مقصدیې مؤمنان وو) اوبیامخ په وړاندي توره په لاس روان شوچي سعدبن معاذ په مخه ورغی نویې وویل: ای سعده زمادي په الله سوګندوي چي دجنت خوشبویې دأحدله غره سره احساسوم بیایې په جګړه کولوپیل وکړ ترڅوچي شهید شو نوسعدوویل: ای رسول الله مادومره ونشوکړای لکه چي ده وکړل (رضی الله عنه وأرضاه) أنس بن مالک وایې موږ هغه دشهیدانوپه مینځ کي بیاموندا وڅه دپاسه اتیاپرهارونه یې په بدن لګېدلي ووچي یاخودتوري وار وو ، یادنېزې زخم اویادغېشي ټپ موږ هغه نشوپېژندلای ترڅویې خور راغله اوډګوتوپه بندونویې وپېژاند أنس رضی الله عنه وایې موږبه ویل چي دغه آیت شریف ﴿مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ

---

(۱) القرطبی ۱۴-۱۵۸

(۲) المعجم الوسیط ۱ / ۱۲۷

(۳) المصباح المنیر ۲ / ۲۲۲

(۴) الکشاف ۳ / ۴۲۵

صَدَقُوا۟ مَا عَـٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُۥ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ﴾ دده اودده دملګروپه هکله رانازل شوی دی(۱)

ب-امام احمدله حضرت جابر ﷺ څخه روایت کوي چي حضرت ابوبکرالصدیق ﷺ راغی اورسول الله ته دورتلواجازه یې وغوښتله چي نورخلګ هم درسول الله په دروازه کي انتظارکوي اجازه ورنکړای شوه اوبیاعمر ﷺ راغی اجازه یې وغوښته ورنکړی شوه اوبیاابوبکراوعمر ﷺ ته دنني ورتلو اجازه ورکول شوه چي ړاغلل که ګوري رسول الله ﷺ ناست دی اوخواوشایې مېرمني (رضوان الله علیهن) ناستي دي رسول الله ﷺ هیڅ هم نه وایې حضرت عمر رضی الله عنه وویل زه به رسول الله ته څه (مالګیني) خبرې وکړم ښایې چي وخاندي نوبې وویل: ای رسول الله! که دزیدلور(دعمرمېرمن) له ماڅخه دنفقې غوښتنه وکړي ورمېږبه پرې تاوکړم رسول الله ﷺ موسکی شوچي نواجذیې ښکاره شول اووبې ویل: دوی له ماڅخه دنفقې غوښتنه کوي نوابوبکر ﷺ راولاړشوچي عائشه رضی الله عنها ووهي اوحضرت عمر بیاحفصې رضی الله عنهاته ګواښېدو دواړو وویل: تاسي دواړه له رسول الله ﷺ څخه هغه څه غواړی چي له ده سره نشته؟ اورسول الله ﷺ دوی دواړه منع کول اودوی (مېرمنو) وویل چي: قسم په الله که به وروسته له دې مجلس څخه بیاهغه څه وغواړو کوم چي له رسول الله سره نشته اوالله ﷻ دخیارآیت نازل کړچي ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴾ نوله عائشې رضی الله عنهاڅخه یې پیل کړه اوورته ویې ویل: زه تاته دیوکارپه هکله وایم اونه غواړم چي په تلواره سره پرېکړه وکړې ترڅودي مور اوپلار په مشوره کي درسره ګډ کړي نه وي هغې وویل: داڅه کاردی ای رسول الله؟ نورسول الله ﷺ دغه آیت ورته تلاوت کړ. هغې رضی الله عنهاوویل: آیاستاپه باب له مور اوپلارسره مشوره وکړم بلکه زه الله اورسول الله اوآخرت غوره کوم اوله تاڅخه غوښتنه کوم چي خپلومېرمنوته به دي دغه زماغوراوی نه یادوې نورسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه الله پاک مشقت بارونکی نه یم رااستولی بلکه ښودونکی اوآسانونکی استازی یم که له دوی څخه چي هره یوه له مانه وپوښتي زه به یې خبره کړم(۲)

ج-أم سلمة رضی الله عنهاوایې چي دې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای دالله نبي څه خبره ده چي زه اورم سړي په قرآنکریم کي ذکرکېږي اودښځویادونه نه کېږي؟ نوالله ﷻ داآیت نازل کړ: ﴿ إِنَّ ٱلْمُسْلِمِينَ وَٱلْمُسْلِمَـٰتِ وَٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ (۳) دآیت ترپایه

تفسیر:

﴿ لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِى رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ﴾ خامخاپه تحقیق دی تاسي ته (ای مؤمنانو) په (کارد) رسول الله کي نېکه (غوره) اقتداء (چي دده په اخلاص، جهاد، صبر اوټولو اقوالو، افعالو، احوالو کي

---

(۱) ابن جریرطبري ۲۰/۸۵

(۲) أخرجه الامام احمد كذافی ابن كثیر ۳/۹۲

(۳) رواه النسائي في سننه عن أم سلمة

ورپسي اقتداء وکړئ ځکه هغه له ځانه څه نه وايي اونه دخپلو خواهشاتو پيروي کوي هغه گرځوندوحی اوتنزيل تابع دی ځکه نودده پيروي اوتگلاره پرتاسوواجب ده ﴿لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْـَٔاخِرَ﴾ لپاره دهغه چاچي وي دی ډاربري له الله اوأميدلري (درضاء اولقاءيې) او(دثواب دنعمتونو) ورځي وروستی (دقيامت) ﴿وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا﴾ اوالله ډير يادوي (په زړه اوژبه ابن کثير وايي الله تبارک وتعالی خلگوته امرکړی چي په رسول الله پسي دهغه په صبر، جهاد، ثبات دالله په لاره کي پيره داري اونوروچاروکي اقتداء وکړي ځکه نوهلته چي ځيني کسان داحزاب په جنگ کي پرېشانه متزلزل، مضطرب شول ورته يې وفرمايل: ﴿لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِى رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ يعني دهغه شمائل په ځان کي راوړئ اوپه هغه پسي اقتداء وکړئ (١) ورپسې الله دصادقانو مؤمنانو دريزېدغه جگړه کي ستايي کله چي دوی دقريشولښکري اوله هغوی سره مل ډلي تپلي وليدې نوله دوی ځخه ديقين اواخلاص وېناوي ځرگندي شوې چي ددوی په ايمان اوقرباني يې له ورايه شاهدي ويله الله فرمايې: ﴿وَلَمَّا رَءَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْأَحْزَابَ قَالُوا۟ هَـٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ﴾ اوكله چي وليدلې مؤمنانولښکري (دکفارو) نوويل: مؤمنانو داهغه دي چي وعده کړي ده له موږ سره الله اورسول ددغه (الله دنصرت) يعني کله چي مؤمنانوکفار وليدل چي له هره لوري پردوی راچاپېرشول لکه چي لاس وندی په مرونداتاووي نوبې وويل چي دغه دالله اورسول الله هغه وعده ده چي موږته يې راکړي وه چي کړاوونه اوابتلاوي به راځي اوبيابه په دښمنانو بری مومی ﴿وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ﴾ اورښتياويلي وو الله اورسول ددغه الله (چي کله يې موږته بشارت اوزيری راکاوو مفسرين کرام وايې کله چي مؤمنانو خندق کيندل يوه ستره اوټينگه ډبره يې مخي ته راغله چي ماتول يې له توانه بهروو رسول الله صلى الله عليه وسلم يې خبرکړ اوهغه بياکلنگ راواخيست درې ځله يې ووهله چي دکسری اوروم د ماڼيو انځورونه يې په شغلوکي ځرگندشول نورسول الله دوی ته وويل: په برياليتوب باندي زيری درکوم) اوكله چي دوی دمشرکانولښکري وليدلې چي دادي راغلي ويې ويل: ﴿هَـٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ﴾ (٢) ﴿وَمَا زَادَهُمْ إِلَّآ إِيمَـٰنًا وَتَسْلِيمًا﴾ اوزيات نه کړو دغو (کفري لښکرو) مؤمنانوته مگر ايمان اوتسليم (الهي احکاموته) يعني دغه بې سروپايه لښکرواوسختي تنگسيااو ايسارتيا دوی (مومنانو) ته ورزيات نکړ مگرپه الله يې قوي اوڅور ايمان اودهغه حکمونوته غاړه اېښودل يې ورزيات کړل ﴿مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا۟ مَا عَـٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ عَلَيْهِ﴾ ځيني له مؤمنانوڅخه داسي دي چي رښتياکړي يې ده هغه خبره چي عهد يې له الله سره په هغه باندي کړی وو (چي ويلي يې ووکه له رسول الله سره يوځای دجنگ کولو موقع راغله دوی به ثبات او استقامت کوي څوچي شهادت ته رسېږي ﴿فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُۥ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ﴾ پس ځيني له دوی هغه دي چي ترسره يې کړ نذر خپل (شهيدان شول لکه أنس بن نضراوسيدناحمزه رضی الله عنهم)

---

(١) مختصر ابن کثير ٣-٨٨ (٢) حاشية البيضاوی

اوخپني له دوی هغه دي چي انتظارباسي (د شهادت في سبيل الله) ﴿ وَمَا بَدَّلُوا۟ تَبۡدِيلًا ﴾ اوبدل یې نه کړ (عهدخپل یوه ذره هم) په بدلولو سره (کوم چي له الله سره یې کړی وو ﴿ لِّيَجۡزِيَ ٱللَّهُ ٱلصَّٰدِقِينَ بِصِدۡقِهِمۡ ﴾ لپاره ددې چي جزاء ورکړي الله رښتنیوته (په سبب د) رښتینې ددوی (نېکه جزا په آخرت کي) ﴿ وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ إِن شَآءَ أَوۡ يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ ﴾ اوپه عذاب به کړي منافقان که اراده وفرمایې د (تعذیب یې چي په نفاق کي به یې مړه کړي) یا رجوع په رحمت سره وریاندې وکړي (اوورباندي ورحمېږي چي ایمان راوړي)

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴾ بېشکه چي الله دی ښه ښوونکی (د خطیئاتو) ښه رحم والا (په بندګانو) ابن کثیر وايي: څرنګه چي دالله رحمت اومهرباني پرغضب اوقهرغالبه وه آیت شریف یې وریاندي پای ته ورساوو[1] ﴿ وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِغَيۡظِهِمۡ ﴾ اوبیرته وشړل الله (له مدینې نه) هغه کسان چي کافران شوي شوي وو (په ماتي سره له جنګه) سره له قهره خپله (ډک زړونه هغه چي هغه څه ته نه ورسېدل کوم چي یې هیله وه) ﴿ لَمۡ يَنَالُوا۟ خَيۡرٗاۚ ﴾ چي ویې نه موندهیڅ خیر (بری پر مسلمانانو) یعني دوی نه په دنیاکي خیرولیدنه په آخرت کي بلکه څانونه یې په ګناهونو بارکړل چي د رسول الله (صلي الله علیه وسلم) وژلوته یې لېځي رانغښتي وې ﴿ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلۡقِتَالَۚ ﴾ اوکفایت وکړ الله مؤمنانوته دجنګ کولو (په امداد داستولو دباد اوپرښتوترڅوچي دغه کفاروتښتېدل) ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزٗا ﴾ اودی الله قوي ښه زورور ډېر زبردست (چي څوک یې مغلوب کولای نشي څکه به رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل: لااله الاالله وحده ، نصرعبده وأعز جنده وهزم الأحزاب وحده) [2] ﴿ وَأَنزَلَ ٱلَّذِينَ ظَٰهَرُوهُم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن صَيَاصِيهِمۡ ﴾ اوراکوز کړل الله هغه کسان چي کومک یې کړی وو له دغو (ډلواحزابو) سره (اووعده یې ماته کړې وه چي بني قریظه وو)له کلاګانوددوی (چي هلته یې پناه اخیستي وه)

﴿ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَ ﴾ اووغورځوله الله په زړونوددوی کي وېره (ترڅوچي څانونه یې تسلیم کړل اوبرجونو څخه راکوزشول. ابن جریر وايې چي دغه آیت دبنی قریظه دیهودوپه باب راغلی دی کوم چي له رسول الله سره یې عهدکړی وو (دمسلمانانوددښمنانوملاتړبه نه کوي) بیایې وعده ماته کړه اودقریشوملګرتیایې وکړه اوکله چي قریش له مدینې منورې څخه په شاشول نو رسول الله بني قریظه محاصره کړل ترڅوچي د (سعدبن معاذ) په حکم کولو راضي اوراښکته شول نوسعد رضی الله عنه داسې فیصله صادره کړه چي نارینه دي ووژل شي اوښځي ، ماشومان دي په اسارت ونیول شي [3] همدغه دالله جل جلاله ویناده چي فرمایې ﴿ فَرِيقٗا تَقۡتُلُونَ ﴾ یوه ډله تاسي ووژله (چي داتوسوو اونهو سوو ترمنځ

---

[1] مختصرابن کثیر ۳ / ۸۹

[2] أخرجه الشیخان .

[3] التسهيل فی علوم التنزیل ۳ / ۱۳۲

وو) ﴿ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا ﴾ اوبندي کوله به تاسي بله ډله چي ښځي او ماشومان ددوی و ﴿ وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَـٰرَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُمْ ﴾ اوپه ميراث يې درکړه تاسي ته ځمکه ددوی اوکورونه ددوی اومالونه ددوی ﴿ وَأَرْضًا لَّمْ تَطَـُٔوهَا ﴾ اوهغه ځمکه چي تاسي پائمال کړي نه وه (چي دخيبرځمکه وه ځکه هغه له بني قريظه وروسته دمسلمانانولاس ته راغله اونوري ګردي ځمکي چي له دې وروسته مسلمانانوفتحي کړي پکي راځي ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرًا ﴾ اودی الله په هرڅيزباندي ښه قادر (چي اراده وفرمايې) هيڅ څيزيې له آسماني موجوداتو او ځمکني موجوداتوڅخه مغلوب کولای نشي ابوحيان وايې چي الله پاک دغه آيت دخپل قدرت په بيانولو پای ته ورساوه اولکه چي دې ته اشاره وي چي مسلمانانوته به دېرفتوحات ورپه برخه کوي يعني لکه چي دغه فتح يې درکړه همداسي نورښارونه ملکونه به هم ستاسي په واک کي درکړي (۱) ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا ﴾ ای نبي ووايه ښځوخپلوته که چېري يی تاسي چي غواړی همدغه ژوندون (لره) ددنيا (اوروتق ښايست (دهغه) يعنی ای نبي ستاهغومېرمنوته چي له تاڅخه دنفقې دلګښتونودزياتوالي غوښتنه کوي ووايه که چېري ددنيادښايست اونعمتونو غوښتونکي ياستی ﴿ فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ ﴾ پس راشئ چي(طلاق) متعه درکړم تاسی ته ﴿ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴾ اوخوشي کړم تاسي په خوشي کولو نېکوسره ﴿ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلدَّارَ ٱلْـَٔاخِرَةَ ﴾ اوکه يی تاسي چي اراده لری دالله اود رسول ددغه (الله) (اوبری په نعمتونودکور دآخرت) ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَـٰتِ مِنكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ (پس بېشکه الله تيارکړي دپاره دنېکي کونکو(ښځو) له تاسي څخه اجر ډېر لوی) دغه ثواب دشرط دی يعني نوبياالله دنېکي کونکو(محسناتو) لپاره ددوی دنېکي په مقابل کي سترثواب چي ستايل يې نشي کېدای تيارکړی چي هغه دجنت نعمتونه دي کوم چي نه سترګوليدلي ، نه غوږونو اورېدلي اونه دچاپه زړه باندي تېرشوي دي په البحرالمحيط کي ليکي چي کله الله ﷻ خپل پيغمبرته بری ورپه برخه کړ احزاب وتښتېدل اوبني قريظه اوبني نضيرفتح شول نودرسول الله صلی الله عليه وسلم ازواج مطهراتو خيال کاووچي ديهودوخزانې اوګېڼي دمسلمانانولاس ته ورغلي نودوی هم رسول الله ﷺته وويل ای دالله استازي دکسری اوقيصرلوني په ورېښمينوجاموا وګانوپسولي اومونږلکه چي ته موويني په تنګسيااولوږه کي ژوندکوو !! په رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه خبره شاقه اوسخته شوه چي دوی ورڅخه دمزيدولګښتونواوسامانونو غوښتنه وکړه چي له دوی سره دي همداسي معامله اوچلندوکړي لکه چي پاچهان اولويان يې له خپلو مېرمنوسره کوي نوالله ﷻ ورته وفرمايل چي دوی ته دي هغه څه ولولي کوم چي ددوی په هکله رانازل شوي دي اوپدې وخت کي درسول الله ﷺ (۹) مبارکي مېرمني وې (۲).

---

(۱) البحرالمحيط ۷ / ۲۲۵

(۲) البحر ۷ / ۲۲۹

﴿ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ﴾ اواى دنبي ښځوهرڅوک چي راشي له تاسي په يوه ناكاره كارښكاره (كبيره ګناه له كبائرويا داسي ګناه چي په بدي كي له حدنه متجاوزوي ابن عباس ﷺ وايې معناداچي نشوز اوسوء الخلق وكړي (دنبي عصيان)([1]) ﴿ يُضَٰعَفْ لَهَا ٱلْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ﴾ نودوچندبه شي هغې ته عذاب په دوچند (دعذاب دنورو ښځو څكه چي زيادت دبدوالي دګناه تابع دزيادت دفضل اومرتبې دى([2]) ﴿ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴾ اودى دغه (دوچندي دعذاب) پرالله آسانه ستاسي وجاهت اودرسول الله دزوجيت نسبت دالله له عقوبت څخه له سره څه ممانعت نشي كولاى په آيت شريف كي دخطاب تلوين دى وروسته له هغه چي دوى ته مخاطبه دپيغمبرپه ژبه كېدله اوس دوى ته مستقيمًادالله خطاب متوجه شو ترڅوېې ددې چاري پاملرنه كړي وي اوددوى نصيحت يې مهم ګڼلى وي. صاوي وايې چي دغه آيتونه دالله له لوري دنبي الله مېرمنوته خطاب اووينا ده چي دذوى دبهتري څرګندونه كوي اوددوى مرتبه اومقام ښكاره كوي څكه ترېنه اوپه خطاب كي تشديدددوى دستري مرتبې تنبيه وركوي چي دوى رسول الله ته نژدې اوپه جنت كي درسول الله صلى الله عليه وسلم مېرمني(ښځي) دي نوپه اندازه دنژدې والي پيغمبرته ددوى قرب اونژدېوالى الله تبارك وتعالى ته دى ([3]) ﴿ وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتَعْمَلْ صَٰلِحًا ﴾ اوهرڅوك چي (تل) اطاعت وكړي له تاسي الله اورسول الله ته اودنېكيوعمل كوي ﴿ نُّؤْتِهَآ أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ﴾ نو وربه كړو موږ هغې (ښځي) ته اجردهغې دوه كرته (دوه چنده په ثواب دنوروښځو) دوه ځلي به ثواب وركړويوځل په طاعت اوتقوى باندي، بل ځل درسول الله صلى الله عليه وسلم دخوښي ترلاسه كولوپه غرض چي په حسن معاشرت يې ورسره دقناعت ژوند خپل كړى دى ﴿ وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا ﴾ اوتياركړى دى موږهغې ته رزق روزي نېكه (په جنت كي دعزت تل ترتله بيايې ددوى فضيلت په نوروښځوهسي بيان كړچي: ﴿ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ ﴾ اى دنبي ښځو ! نه ياست تاسي لكه يوتولګى (دمحمدي أمت له) ښځوڅخه. تاسي ترهغوى افضل اوأشرف مقام لرى تاسي د خاتم الانبيآء زوجاتي ياستى دنورأمت دښځوپه شان نه يى ﴿ إِنِ ٱتَّقَيْتُنَّ ﴾ كه چېري تاسي پرهېزګاري كوله ،دغه شرط دى اوځواب يې حذف شوى څكه چي ماقبل ورباندي دلالت كوي يعني كه موپرهېزګاري كوله نوبياپه خوراسترو مرتبوكي ياست. قرطبي وايې چي الله داوښوده چي د فضيلت بشپړتوب دتقوى په شرط دى څكه چي الله دوى ته دسيدالاولين والآخرين ملګرتياورپه برخه كړي([4]) ابن عباس وايې: معناداچي پرماستاسو قدر دنورو صالحاتوښځوپه شان نه دى تاسوماته ډېري معززي اوثواب موږ پر ستردى كله چي تقوى يې ورلره شرط كړه څكه چي فضيلت په

([1]) زادالمسير ٦/ ٣٧٨
([2]) الكشاف ٣/ ٤٢٤
([3]) الصاوي ٣/ ٢٧٢
([4]) القرطبي ١٤/ ١٧٧

تقوی تر لاسه کړ دای شي په یوازي نبوي پیوستون او اتصال فضیلت نه مومی(۱) ﴿ فَلَا تَخْضَعْنَ بِٱلْقَوْلِ ﴾ پس نرمي مه کوئ په خبرو کې (که مو پسته خبره وکړه له نارینه وو سره) ﴿ فَيَطْمَعَ ٱلَّذِى فِى قَلْبِهِۦ مَرَضٌ ﴾ نو به طمع وکړي هغه څوک چي په زړه کي رنځ وي (دګناه او دښځو خبري اتري خوښوي) ﴿ وَقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴾ او ووایاست تاسي ښه خبره (تکه سپینه چي پکي نرمي او ماتوالی نه وي کله چي له سړیو سره خبري کوئ(۲)) ابن کثیر وایې چي ددې معنادا چي له پردیو نارینه وو سره به داسي خبري نکوئ چي نزاکت او پوستوالی پکي محسوس وي اونه به ورسره داسي غږېږئ لکه چي له خپل خاوند (مېړه) سره غږېږی ﴿ وَقَرْنَ فِى بُيُوتِكُنَّ ﴾ (او قراري په کورونو کي کښېنئ) اوپرته له اړتیا بهرمه راوزئ لکه هغه کوڅه دبی بې معناښځي چي ګرده ورځ په بازارونو کي ګرزي ﴿ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ ٱلْأُولَىٰ ﴾ اومه ښکاروئ (ښایست خپل بېګانه سړي ته) په شان داظهار دجاهلیت د(ښځو) ړومبنیو (چي بازار ته به راوتلې ،ښایست ، ګینه به یې لوڅه کړي وه دبدن هغه غړي او اندامونه چي لوڅول یې مناسب نه وو دوی به بربنډ کړي وو قتاده وایې دهغوی په تګ کي به یوډول ناز اوخرام وو الله ترې منع کړي ﴿ وَأَقِمْنَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتِينَ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ اوسم دروئ لمونځ اوورکوئ زکات ابن کثیر وایې الله پاک دوی لومړی له شرڅخه منع کړل اوبیایې دخیر ورته امروکړ چي هغه دلمونځ درول دي چي یوازي الله ته عبادت دی اوبل دزکات ورکول دي چي هغه له مخلوقاتو سره نېکي کول دي (۳) ﴿ وَأَطِعْنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ﴾ او(تل) اطاعت کوئ دالله اودرسول ددغه الله په ګردو اوامرو اونواهیو کي چي دمتقي مېرمنو مرتبې مو په برخه شي ﴿ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجْسَ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ ﴾ بېشکه همدا خبره ده چي الله اراده لري ددې چي لیري کړي له تاسي ګناه ای اهل بیتو (درسول الله کورنی) ﴿ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴾ اوچي پاک کړي تاسي (له ګناه) په پاکوالي سره (په ښه توګه) ﴿ وَٱذْكُرْنَ مَا يُتْلَىٰ فِى بُيُوتِكُنَّ مِنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱلْحِكْمَةِ ﴾

اویادوئ تاسي هغه چي لوستی کېږي په کورونو ستاسي کي له آیتونو دالله (چي قرآن دی) اوسنت دنبي علیه السلام دی (څکه چي فلاح اونجاح پکې ده) زمخشري وایې چي دوی ته یې ورپه یاد کړل چي کورونه یې (مهابط الوحی) دوحی دراکوزېدلو ځایونه دي اوورته یې وفرمایل چي هېرنکړي هغه کتاب

(۱) زادالمسیر ۶ / ۳۷۸

(۲) زه وایم کله چي قرآنکریم مېرمنو ته داسي حکم کوي چي په پسته اوزړه وړونکي لهجه دي له پردو نارینه وو سره خبري ونکوي ترڅو فاسقان فاجران دزړه رنځوران دګناه هیله من نشي نوبیا هغه چي په ناروا سندرو او سازونو رقصونو شپې ړنوي اوراديوګاني تلویزونان یې نورو ته هم خپروي اوپه بې حیایي سره یې خلګ اوري ،ویني ددوی به څه حال وي ؟ اوداچي له دې سره سره خیني هغه چي ځان ته علماء وایې بیاحکم کوي چي دښځي غږ عورت نه دی ؟ الهي ددغي زماني له شره چي خوانان یې فاسقان ،ښځي بې حیا اومعروف ته منکر اومنکر ته معروف ویل کېږي مونږ وساته ولاحول ولاقوة الابالله. (صابوني) رحمه الله

(۳) ابن کثیر ۳ / ۴۹ المختصر

چي دوه ښځه سره جمع کوي يو دا چي د نبوت په رښتنولي دلالت کونکي آيات او بل دا چي آيتونه د حکمت د علومو او آسماني شريعتونو دي (١) ﴿إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا﴾ بېشکه چي الله دى ښه عالم الاسرار ښه خبردار. عالم په مصلحتونو د بندګانو او خبردار وربانديي ځکه يې نوهغه څه ورته شريعت ګرځولي چي په دنيا او آخرت کي يې د ښکمرغي لامل ګرزي بيا الله ﷻ داسي ځرګندونه کوي چي نارينه او ښځينه په ثواب او وجزاء کي سره برابردي فرمايي: ﴿إِنَّ ٱلْمُسْلِمِينَ وَٱلْمُسْلِمَٰتِ﴾ بېشکه چي مسلمانان نارينه او مسلماناني ښځينه (هغوى چي د اسلام په اوامرو او اخلاقو ښايسته وي) ﴿وَٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ﴾ او مؤمنان نارينه او مؤمناني ښځي (چي د الله او د هغه په آيتونو چي په انبياوو يې نازل کړي تصديق کونکي وي) ﴿وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْقَٰنِتَٰتِ﴾ او اطاعت کونکي سړي او اطاعت کونکي ښځي (تل ترتله عبادت کونکي) ﴿وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلصَّٰدِقَٰتِ﴾ او رښتيني سړي او رښتوني ښځي په ايمانو، نيتونو، اقوالو افعالو کي ﴿وَٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰبِرَٰتِ﴾ او صبر کونکي سړي او صبر کونکي ښځمني (چي په طاعاتو ثبات اوله شهواتو څخه په هرحال ځان راګرزوي) ﴿وَٱلْخَٰشِعِينَ وَٱلْخَٰشِعَٰتِ﴾ او وېرېدونکي عاجزي کونکي سړي او وېرېدونکي عاجزي کونکي ښځي (په زړونو او اندامونو) ﴿وَٱلْمُتَصَدِّقِينَ وَٱلْمُتَصَدِّقَٰتِ﴾ او خيرات کونکي سړي او خيرات کونکي ښځي (د خپلو مالونو په مسکينانو باندي د صدقې او زکات) ﴿وَٱلصَّٰٓئِمِينَ وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ﴾ او روژه نيونکي سړي او روژه نيونکي ښځي (د رمضان د مياشتي او نوري نفلي روژې چي د بدن زکات دى روژه بدن پاکوي) ﴿وَٱلْحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَٱلْحَٰفِظَٰتِ﴾ او حفاظت کونکي سړي ځاى د شهوت خپل (له پرديو ښځو) او حفاظت کونکي (ښځي ځاى د شهوت خپل له پرديو سړيو اولو څولو) ﴿وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ﴾ او ذکر کونکي سړي الله لره (په ذکر) ډېر او ذکر کونکي ښځي (الله لره په ډېر ذکر په خپلو ژبو او زړونو په ګردو وختونو او ټولو ځايونو کي) ﴿أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا﴾ تيار کړى دى الله دغو (متقينو ابرارو ته چي په دغو صفاتو متصف دي) مغفرت او اجر لوى (چي جنت دى سره له بخښلو د ګناهونو يې په سبب د ښکو اعمالو د دوى.

بلاغت:

پدې آيتونو کي چي د بديع او بيان کومي ښکلاوي شته لندېزيې په لاندي ډول دى.

١- اطناب په تکرار سره د اسم ظاهر لکه ﴿هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ﴾ د غه اسم کريم يې د تعظيم او تشريف لپاره مکرر ياد کړى دى.

---

(١) الکشاف ٣ / ٤٢٥

۲ - استعاره چي فرمايي: ﴿ قَضَىٰ نَحْبَهُۥ ﴾ نحب نذرته وايي دمرګ لپاره يې استعاره کړې چې دهرځه پای مرګ او مړينه ده لکه چې دغه مرګ دانسان په غاړه پور اونذروي(۱)

۳ - اعتراضيه جمله چي فرمايي: ﴿ وَيُعَذِّبَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ إِن شَآءَ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ﴾ اودادې لپاره چې پدې تنبيه وفرمايي چې دعذاب اورحمت چاري دالله ﷻ په مشيت پوري اړه لري.

۴ - مقابله چي داسي راغي: ﴿ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا ﴾.... ﴿ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ ﴾

۵ - بليغه تشبيه پدې کلام کي: ﴿ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ ٱلْأُولَىٰ ﴾ چي اصل يې دادی (کتبرج الجاهلية) ادات (توری) دتشبيه او وجه دشبه حذف شوي بليغه تشبيه يې بولي.

۶ - دعام عطف پرخاص باندي لکه ﴿ وَأَقِمْنَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتِينَ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ وروسته له دې وينا څخه چي ﴿ وَأَطِعْنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ﴾ ځکه چي دالله اورسول اطاعت خوپه ړومبني اوامرواونواهي کي شامل او ګڼل وو.

۷ - استعاره پدې کلام کي ﴿ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجْسَ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴾ دلته يې رجس دګناهونولپاره استعاره کړاوپاکي يې دتقوی لپاره ځکه چي ګناهکار په ګناوو ناولی کيږي او تقوی بياسړی پاکوي لکه چي پاکه سوتره جامه وي.

۸ - ايجاز بالحذف دالله پدې قول کي چي ﴿ وَٱلْحَٰفِظَٰتِ ﴾ دمفعول حذف دپخواني دلالت له کبله شوی که داسي نه وای وَالحافظات فروجهن به راوړل کيدو.

۹ - دتغليب صنعت هلته چي فرمايي: ﴿ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم ﴾ دنارينه ووجمع يې راوړي که څه هم ښځمني ورسره ګډې دي دغه جمع يې تغليبي راوړې ده.

۱۰ - دفواصلو توافق لکه ﴿ قَدِيرًا .... يَسِيرًا ﴾ چي دغه هم له بديعي محسناتو څخه ګڼل کيږي اوا غېزمن وي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا ﴿٣٦﴾ وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِىٓ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ وَتُخْفِى فِى نَفْسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَىٰهُ ۖ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَٰكَهَا لِكَىْ لَا يَكُونَ

(۱) البيضاوي ۲ / ۱۱۲

عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِىٓ أَزْوَٰجِ أَدْعِيَآئِهِمْ إِذَا قَضَوْا۟ مِنْهُنَّ وَطَرًا ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٣٧﴾ مَّا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِىِّ مِنْ حَرَجٍ
فِيمَا فَرَضَ ٱللَّهُ لَهُۥ ۖ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا ﴿٣٨﴾ ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ
وَيَخْشَوْنَهُۥ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَ ۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبًا ﴿٣٩﴾ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ
وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٤٠﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴿٤١﴾ وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً
وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُصَلِّى عَلَيْكُمْ وَمَلَٰٓئِكَتُهُۥ لِيُخْرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَكَانَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا
﴿٤٣﴾ تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُۥ سَلَٰمٌ ۚ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا كَرِيمًا ﴿٤٤﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ شَٰهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٤٥﴾
وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذْنِهِۦ وَسِرَاجًا مُّنِيرًا ﴿٤٦﴾ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَضْلًا كَبِيرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ
وَٱلْمُنَٰفِقِينَ وَدَعْ أَذَىٰهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿٤٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا نَكَحْتُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ ثُمَّ
طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا ۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٤٩﴾
يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ إِنَّآ أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَٰجَكَ ٱلَّٰتِىٓ ءَاتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيْكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ
وَبَنَاتِ عَمَّٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَٰلَٰتِكَ ٱلَّٰتِى هَاجَرْنَ مَعَكَ وَٱمْرَأَةً مُّؤْمِنَةً إِن وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِىِّ إِنْ أَرَادَ ٱلنَّبِىُّ
أَن يَسْتَنكِحَهَا خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۗ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِىٓ أَزْوَٰجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ
أَيْمَٰنُهُمْ لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٠﴾ ۞ تُرْجِى مَن تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُـْٔوِىٓ إِلَيْكَ مَن
تَشَآءُ ۖ وَمَنِ ٱبْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَآ ءَاتَيْتَهُنَّ
كُلُّهُنَّ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِى قُلُوبِكُمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمًا ﴿٥١﴾ لَّا يَحِلُّ لَكَ ٱلنِّسَآءُ مِنۢ بَعْدُ وَلَآ أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ
أَزْوَٰجٍ وَلَوْ أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ رَّقِيبًا ﴿٥٢﴾ ﴾ الأحزاب: ٣٦ – ٥٢

مناسبت:

کله چې الله جل شانه دمؤمنانو صفتونه یادکړل اوهغه منزلتونه اورتبې یې وستایلې چې دوی ته ورکول کېږي ورپسې يې وفرمايل چې درسول الله اطاعت دالله جل جلاله اطاعت اودرسول الله ﷺ امر دالله دامرپه شان دی اوبيايې دهغه سترنعمت يادونه وکړه کوم چې د ﷺ سراج منيرذات بعثت وو هغه چې دعالميانولپاره رحمت دی.

لغتونه:

(الخيرة) مصدر اوداختيارپه معنادی دغه مصدرغيرقياسي لکه چې (طيرة له تطير) څخه راغلی([1]) (مبديه) څرګندونکی دهغه (أبدى الشئ) څرګند يې کړ(وطرا) حاجة ،دنفسي خواهش ارتيازجاج وايې(وطر) هغه حاجت ته وايې چې دترسره کولو په هڅه کې يې وی اوکله چې انسان ته ورسېږي ویل کېږي (قضی

([1]) البحرالمحيط ٧ / ٢٣٣

وطره) اومبردبیاوایې (الوطر) شهوت ته وایې مثلاچي وایې (ماقضیت من لقائک وطراً) یعني داسي خوند مي دربانديوانه خیستل لکه چي زړه مي غوښتل (حرج) تنګسیااوګناه (خلوا) تېرشوي (قدرامقدورا) ازلي فیصله شوي (بکرة) دسهارلوموړی وخت (أصیلا) دورځي وروستی موده (ترجی) ځنډوي (۱) (تؤوی) ځان ته درولې لکه چي الله فرمایي ﴿ ءَاوَىٰٓ إِلَيۡهِ أَخَاهُۖ ﴾ (یوسف ۶۹).

دنزول سبب:

ابن عباس (رض) وایې چي رسول الله ﷺ زینب بنت جحش (رضی الله عنها) حضرت زیدبن حارثة ته وغوښتله خوهغې ممانعت کاوواوله دغه نکاح څخه خوښه نه وه نوداآیت نازل شو: ﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ ﴾ دآیت ترپایه نوزینب رضی الله عنها دغه الهي حکم ته غاړه کښېښوده اوهغه یې په نکاح واخیست.

اوپه یوروایت کي راځي چي هغې هم ممانعت وکړ اوورورېې عبدالله هم غوښتل ممانعت وکړي ځکه چي خورېې قریشي نسبه وه اوکله چي آیت شریف نازل شو نوعبدالله دحضرت زینبې ورور راغی رسول الله (ﷺ) ته یې وویل: ای رسوله الله څنګه چي غواړې ماته امروکړه! رسول الله ورته وویل: چي زیدته یې ورنکاح کړه نوهغه راضي شواوله زید (رض) سره یې نکاح وروتړله (۲)

تفسیر:

﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ ﴾ اونه دی (روا) ښائېدونکي هیڅ مؤمن سړي اونه هیڅ مؤمني ښځي ته ﴿ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا ﴾ کله چي حکم وکړي الله اورسول ددغه (الله) په یوامرکارکي. صاوي وایې چي دالله تعالی نوم دتعظیم لپاره راوړل شوی اوپدې کي دغه ته اشاره هم شته چي درسول الله فیصله دالله فیصله ده ځکه هغه له خپله هوئ خواهشه څخه نه غږېږي (۳) ﴿ أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ ﴾ داچي وي دوی ته اختیارله امره کاره خپله (بلکه دوی بایددالله اورسول الله حکم ته غاړه کښېږدي ابن کثیروایې چي دغه آیت په ګردوامورو اوچارو کي عام دی چي کله رسول الله یوحکم صادرکړي بیایې چاته دمخالفت کولو مجال نشته اونه په یکي خپله رأیه اووینا چلوي (۴) ځکه نوسخت تهدید فرمایې چي:

﴿ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ﴾ هرڅوک چي دالله اودالله درسول اطاعت نه کوي پس په تحقیق ګمراه شوپه ښکاره ګمراهي سره (سمه لاره یې پرېښوده په کږوسرشو) ﴿ وَإِذۡ تَقُولُ لِلَّذِيٓ أَنۡعَمَ

---

(۱) نفس المرجع.
(۲) القرطبي ۱۴/۱۸۷
(۳) حاشیة الصاوي ۳/۲۷۸
(۴) ابن کثیرمختصر ۳/۹۷

ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَأَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِ ﴾ (اوياد كړه اى محمده!) كله چي تاوويل هغه (زيد) ته چي الله ورباندي (په اسلام) نعمت كړى وواوتا ورباندي د(آزادولو) انعام كړى وو مفسرين كرام وايې چي زيدبن حارثه دجاهليت دوختونو مريى وو اوخديجې رضى الله عنهاپېرلى (اخيستى) وو اوبيايې رسول الله (ﷺ) ته وروبانبه اوهغه هم په زويتوب ونيو اودخپلي ترور لور(زينب بنت جحش) يې ورته په نكاح كړه:

﴿أَمۡسِكۡ عَلَيۡكَ زَوۡجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ﴾ چي وساته ته په ځان ښځه دتا(زينب بنت جحش) اوله الله ووېرېږه (مه يې طلاقوه!) ﴿وَتُخۡفِي فِي نَفۡسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبۡدِيهِ﴾ حال داچي پټوله (اى محمده) تاپخپل زړه كي هغه خبره چي الله دهغې ښكاره كونكى وو(چي دهغې دنكاح كولو اراده وه (¹) په التسهيل كي وايې چي درسول الله دغه پټول داسي څه دي چي نه پكي گناه شته اونه عيب خوهغه په دې وېرېدوچي خلگ به وايې دخپل متبنى ښځه يې په نكاح كړه نويې دحياء اوحشمت له مخي دغه خبره پټوله اوالله دغه ښكاره كړه چي دهغې دنكاح فيصله يې له رسول الله سره وكړه. ﴿وَتَخۡشَى ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَىٰهُ﴾ او وېرېدې ته له خلگواوالله ډېرلائق دى ددې چي ووېرېږې ته له ده نه) يعني ته له دې وېرېدې چي خلگ به وايې: محمدصلى الله عليه وسلم دخپل (متبنى) مېرمن په نكاح واخيسته اولائق خودادى چي ته له الله ﷻ

---

¹ځيني داسلام دښمنان په ضعيفوروايتونوپوري لاس نيسي چي نه سرلري اونه سربند اورسول الله ته وربانديي پېغور وركوي اودسترمقام اهميت ته يې نه گوري ماپه ځيني تفاسيروكي ددغوباطلو خبرى وليدي چي دمستشرقينوله خولې څخه يې رااخيستي اودحاطب الليل په شان يې راټول كړي چي له هغوڅخه يوداچي رسول الله ﷺ زينب بنت جحش وليدله پداسي حال كي چي دزيد مېرمن وه خودرسول الله په زړه كي يې ځاى ونيواووېې ويل (سبحان مقلب القلوب) نوكله چي حضرت زينب دغه واورېدل زيد ته يې وويل اوزيد رضى الله عنه وغوښتل چي هغه طلاقه كړي خورسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل

﴿أَمۡسِكۡ عَلَيۡكَ زَوۡجَكَ﴾ آن تردې چي قرآنكريم نازل شواورسول الله ته يې عتاب وكړچي ولي يې پټوې ... دغه هغه باطل روايتونه دي چي هيڅ صحت نلري لكه چي علامه ابوبكرابن العربي وايې: اوآيت شريف پدې صراحت كوي چي دغه بهتان دى ځكه الله ورته اخباركوي چي الله به هغه څه څرگند كړي كوم چي رسول يې پټوي ﴿وَتُخۡفِي فِي نَفۡسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبۡدِيهِ﴾ نوالله څه څرگند كړل آيادرسول الله عشق اومحبت يې له زينب سره څرگند كړ؟ اوكه هغه چي رسول الله ته دهغې نكاح كولو امر چي سترحكمت پكي نغښتى وو اوهغه دتبنى (حكم باطلول وو كوم چي په جاهليت كي مشهور دود ووځكه الله پدې په ښكاره توگه تصريح فرمايې ﴿فَلَمَّا قَضَىٰ زَيۡدٞ مِّنۡهَا وَطَرٗا زَوَّجۡنَٰكَهَا لِكَيۡ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ حَرَجٞ فِيٓ أَزۡوَٰجِ أَدۡعِيَآئِهِمۡ إِذَا قَضَوۡاْ مِنۡهُنَّ وَطَرٗاۚ﴾ اى خلگوفكرسوچ وكړئ حق دحق لپاره وپېژنئ اووگورئ چي تاسي څه واياست؟ دغه غيرمعقول دى چي يوڅوك دې په دې وتړل شي چي دگاوندي له ښځي سره مينه نه افشاءكوي اومعاذالله چي دالله پيغمبردي له يوې داسي مېرمني سره زړه وتړي چي هغه دبل په عصمت اونكاح كي وي اوبيادي دغه محبت پټ كړي ترڅو چي قرآن نازل شي اوپدې مينه پټولو يې وترټي ځكه دغه خو له يوه عادي سړي سره هم نه ښايي څه خواشرف الخلق محمد (ﷺ) سره اوغايت مافى الامر لكه چي په البحرالمحيط كي له علي بن الحسين څخه راوړي چي هغه وايې: الله پيغمبر (ﷺ) ته خبر وركړى ووچي زينب به ستامېرمن شي تريڅوالله هغه چي په نكاح يې واخلې اوچي زيدورته راغى دخپلي مېرمني شكوه گيله يې كوله نورسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ﴿أَمۡسِكۡ عَلَيۡكَ زَوۡجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ﴾ الله رسول الله ته عتاب وكړچي مادرته ويلي ووهغه به ستاپه نكاح كي راځي اوته هغه پټوې چي ستاپه زړه كي دي هغه چي الله به يې څرگندوي!.

ددغي ناروا افتراء بطلان زموږپه كتاب النبوة والانبياء ص ۹۹ كي وگورئ(صابوني) رحمه الله.

څخه وویرېږې او هغه څه ښکاره کړې کوم چې الله تاته وحی کړي چې ته به وروسته له هغه چې زید ﷺ زینب ته طلاق ورکړي ورسره نکاح کوي ابن عباس ﷺ وايي چې رسول الله له دې ویرېدو چې منافقین به وايي محمد د خپل زوی (مطلقه) مېرمن پخپله نکاح کې واخيسته ﴿فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَٰكَهَا﴾ کله چې تمام کړ زید له دغې (ښځې) څخه خپل غرض (او طلاقه یې کړه او عدت یې تېرشو) نو په نکاح درکړه موږ تاته دغه (زینب) او دغه قطعي په ډاګه ددې دلالت کوي چې رسول الله د هغې د نکاح کولو اراده پټه ساتلي وه چې دهغې له طلاق کېدلو وروسته به دالهي وحی د تنفیذ په غرض هغه په نکاح اخلي نه دا چې دهغې مینه یې پټه ساتلي وه لکه چې دروغجنان وايي او مفسرين کرام وايي چې رسول الله ته دهغې دور په نکاح کولو چاري الله ترسره کړي وې او کله چې دهغې عدت تېرشو نو رسول الله ﷺ بې له اذن ، عقد ،مهر او شهودو ورته راغی او دغه د رسول الله ﷺ خانګړتيا وه بخاري له انس بن مالک ﷺ څخه روايت کوي چې حضرت زینب به په نورو أمهات المؤمنينو د رسول الله ﷺ په مېرمنو باندې وياړ کاووچې تاسو خپلو خپلوانو په نکاح ورکړي یاست او زه الله ﷻ له اووآسمانونو د پاسه د پیغمبر په نکاح تاکلې یم او وروسته الله د دغه زواج حکمت داسې بیانوي چې: ﴿لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِىٓ أَزْوَٰجِ أَدْعِيَآئِهِمْ إِذَا قَضَوْا۟ مِنْهُنَّ وَطَرًا﴾ لپاره ددې چې نه وي په مؤمنانو سختي (اووبال) په (نکاح کولو) ښځو أدعيا وو ددوی کله چې تمام کړي دغه أدعيا) له دوی نه غرض خپل ابن جوزي وايي: معنادا چې موږ به زینب تاته په نکاح درکړو هغه چې د زید ښځه ده کوم چې تا په زیدتوب نیولی ځو چې څوک داسې ګمان ونکړي چې د متبنی ښځه نکاح کول (وروسته له طلاق او عدت تېرېدلو څخه) ندی روا ﴿وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا﴾ (او دی امر حکم د الله هرو مرو کېدونکی) یعني د الله حکم او وحی داسې ده چې ارومرو به زینب ستا په نکاح کې راځي او کله چې له مؤمنانو څخه حرج لیرې کړ نو له سید المرسلين څخه یې په ځانګړې توګه د هغه د تکریم او تشریف په توګه حرج او تکلیف نفی کړچې: ﴿مَّا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِىِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ ٱللَّهُ لَهُۥ﴾ نشته پر نبي هیڅ قدر سختي اووبال په هغه کارکې چې مقرر کړی دی الله ده ته (له ورکولو د زوجاتو مطهراتو) ضحاک وايي چې یهودانو به د رسول الله عیب پدې وایو چې ډېرې نکاح ګانې لري نو الله ددوی دغه عیب داسې باطل کړچې ﴿سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ﴾ (دغه) طریقه مقرره کړې ده الله په هغو انبیاوو چې تردہ ړومبی تېرشوي دي ابن کثیر وايي معنادا چې دغه په نکاح کې پراخي او زیاتوالی د تېروشویو انبیاوو سنت دی کوم چې الله ﷻ محمد رسول الله ته وربښلی لکه چې د حضرت داوْد ﷺ (۱۰۰) ښځې او د حضرت سلیمان ﷺ بیا درې سوه (۳۰۰) مېرمني وې پرته له مینځو څخه ﴿وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا﴾ او دی حکم امر د الله یو حکم مقرر کړی شوی (په قطعي توګه په ازل کې چې تغییر او تبدیل به نه مومي وروسته الله (ﷻ) په انبیاء علیهم السلام داسې ثنا وايي: ﴿ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ﴾ هغه انبیاء چې رسوي پیغامونه د الله (خپلو امتیانو ته) یعني دغه کسان چې تاته مې د هغوی خبر درکړای محمده او ستا مقتدایان دي هغه

انبياء دي چي دالله پيغامونه خلکوته رسوي ﴿ وَيَخْشَوْنَهُۥ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَ ﴾ او وېرېږي له دغه (الله) نه او نه وېرېږي د بل هيچا نه مګر يوازي له الله نو پردوی پسي اقتداء وکړه ﴿ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبًا ﴾ او کافي دی الله ښه حساب کوونکی (دبندګانو) (په ټولو اعمالو، افعالو نوښايي له چاونه وېرېږې! وروسته الله دتبنی حکم چي په جاهليت کي دود وو داسي باطلوي چي: ﴿ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ ﴾ ندی محمد (ﷺ) (حقيقي) پلار دهيڅ يوتن له سړيو ستاسي. مفسرين کرام وايي کله چي رسول الله ﷺ زينب رضی الله عنها په نکاح واخيستله نو خلګو ويل چي محمد دخپل زوی ښځه په نکاح کړه بيا دغه آيت نازل شو. زمخشري وايي: معنادا چي محمد ﷺ په تاسو کي دهيچا حقيقي پلار نه دی ترڅو دده او هغه ترمينځ داسي حرمت لکه دپلار او زوي دمصاهرت او نکاح په هکله ثابت کاندي (۱) ﴿ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ﴾ ولکن دالله رسول دی (خلګوته) او خاتم النبيين دی (چي وروسته به بل نبي نه راځي. ابن عباس وايي ګواکي که چېري په ده نبوت ختم شوی نه وای نو به يې زوی درلود له ده وروسته به هغه نبي وو(۲) ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴾ او دی الله په هرڅېز ښه عالم (ستاسي داحوالو هيڅ ورڅخه پټ اوالونيانه دی ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴾ ای هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) يادوئ الله په ډېر يادولو سره (په تهليل) تمجيد، تقديس او تحميد سره دشپې او ورځي او په سفر او حضر کي) ﴿ وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴾ او تسبيح وايی (لمونځ کوئ) ده ته په سبا او بېګاه کي علماء کرام وايي دغه وختونه يې ځکه ځانګړي کړل چي پدې دواړو وختونو کي ملائکي رابنکته کېږي (۳).

﴿ هُوَ ٱلَّذِى يُصَلِّى عَلَيْكُمْ ﴾ الله هغه ذات دی چي رحمت رانازلوي په تاسي (او ستاسي چاري ستاسي له مصلحتونو سره سمي پرمخ بيايي ﴿ وَمَلَـٰٓئِكَتُهُۥ ﴾ او پرښتې ددغه (الله هم دعا او استغفار درته کوي رحمت درته غواړي. ابن کثير وايي دالله له لوري (صلوة) معنا په بنده باندي دپرښتو په وړاندي ثناويل دي او چا بياويلي چي (صلاة) معنا رحمت استول دي او دملائکو (صلوة) بيا دعا او استغفار ګڼلی شي (۴) ﴿ لِيُخْرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَـٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ﴾ دپاره ددې چي (الله) وباسي تاسي له تيارو (دکفره) او دګناه رڼا (داسلام او طاعت) ته ﴿ وَكَانَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا ﴾ او دی الله پرمؤمنانو ډېر رحم والا (چي لږ ښک اعمال يې هم قبلوي او له ډېرو ګناهونو څخه ورتېرېږي ځکه دوی په ايمان کي اخلاص لري) ﴿ تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُۥ سَلَـٰمٌ ﴾ پېشکش دوی ته (دالله له لوري) په هغې ورځي چي دوی ملاقات وکړي له دغه (الله)

---

(۱) الکشاف ۳/ ۳۰
(۲) زادالمسير ۶/ ۳۹۳
(۳) حاشية الصاوي ۳/ ۲۸۱
(۴) مختصر ابن کثير ۳/ ۱۰۱

سره سلام دی او په جنت کي د ملک العلام له لوري اکرام دی لکه چي الله فرمايي ﴿ سَلَٰمٌ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ ﴾ (يس ۵۸) ﴿ وَأَعَدَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَرِيمٗا ﴾ او تيار کړی دی الله دوی ته اجر ډېر لوی (جنت) او دهغه ټول ترټله نعمتونه ابن کثير وايي چي مراد له اجر کريم څخه جنت او دائمي نعمتونه دي چي هلته د خوراک ,څښاک ,داغوستلو جامې ,خوندونه او ښکلي مناظر دي چي نه ستر گو ليدلي، نه غوږونو اورېدلي نه دکوم بشر په زړه باندي تېر شوي دي (۱) بيا چي کله الله دا وفرمايل چي مؤمنان بې دکفر له تيارو ده آيت او ايمان رڼاته راايستلي نو يې د رونښانه ډېرو اوصاف داسي ياد کړل هغه چي کائنات يې رڼا کړي دي فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا ﴾ ای نبي بېشکه مونږ لېږلی يې ته شاهد پخپل اُمت او نورو اُمتونو چي انبياوو يې هغوی ته رسالت رسولی دی ﴿ وَمُبَشِّرٗا ﴾ او زېری کونکی (په نعيم سره مؤمنانو ته) ﴿ وَنَذِيرٗا ﴾ او وېرونکی (له جحيم څخه لپاره د کافرانو) ﴿ وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذۡنِهِۦ ﴾ او بلونکی (د خلگو عبادت ته د) الله په حکم اذن سره (نه له خپله ځانه څخه) ﴿ وَسِرَاجٗا مُّنِيرٗا ﴾ (او ډېوه روښانه کونکی) يعني ای محمده ته لکه روښانونکي ډېوه غوندي يې چي له معاند او منکر څخه پرته بل څوک درڅخه انکار نشي کولای(۲) زمخشري وايي رسول الله ﷺ يې له بلي ډېوې سره تشبيه کړ څکه چي دهغه په وسيله الله تعالی دکفر تياري رڼا کړې او گمراهانو ته يې ورباندي لاره ونښودله لکه چي دتوري شپې تيارې په بل مشال او ډېوې رڼا کېږي او لارېکي ليدل کېږي(۳) الله ﷻ په پنځو اوصافو وستايو چي هغه ټول کمال , جمال او ثنا,جلال دي او په پای کي يې وفرمايل چي ﷺ لکه بله ډېوه غوندي دی چي دگمراهي تيارې ورباندي خيرلي کېږي (صلوات الله وسلامه عليه في کل حين وآن) ﴿ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَضۡلٗا كَبِيرٗا ﴾ او زېری ورکړه مؤمنانو ته په دې چي بېشکه شته دوی ته له (طرفه د) الله فضل ډېر لوی (په جنات النعيم کي) ﴿ وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ ﴾ او مه منه (حکم) د کافرانو او منافقانو (چي له تا څخه غوښتنه کوي چي د دين په چارو کي ورسره مساهله وکړې بلکه څه چي درته وحی کېږي په هغه باندي ثبات کوه ﴿ وَدَعۡ أَذَىٰهُمۡ ﴾ او پرېږده ضرر د دوی (ورباندي پروا مکوه چي دوی خلگ د الله له لاري بندوي ﴿ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ ﴾ او پر الله توکل وکړه (په ټولو احوالو او چارو کي) ﴿ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ﴾ او کافي دی الله وکيل کار جوړونکی په ټولو اُمورو د دنيا او آخرت کي صاوي وای چي په آيت شريف کي دې طرف ته اشاره شوي چي توکل ډېر ستر امر دی څوک چي په الله توکل وکړي نو د دنيا او آخرت چاري به يې الله سمي کړي (۴) څرنگه چي خبره د پيغمبر ﷺ د مېرمنو په هکله وه

(۱) ترمذي له حضرت عائشې نه روايت کوي.
(۲) ابن کثير ۳/ ۱۰۲
(۳) الکشاف ۳/ ۴۳۲
(۴) حاشية الصاوي على الجلالين ۳/ ۲۸۲

اودحضرت زينب رضی الله عنهادطلاق واقعه بيان شوه نواوس الله د مؤمنانو د مېرمنوپه هکله اود هغوی دطلاق په اړه سمه لاره داسي ښيي ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَكَحۡتُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَـٰتِ ﴾ ای هغوکسانو چي ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) کله چي په نکاح واخلئ مؤمني ښځي) ﴿ ثُمَّ طَلَّقۡتُمُوهُنَّ مِن قَبۡلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ ﴾ بياطلاق کړی تاسودوی پخواله دې نه چي (صحيحه خلوت وکړی) له دوی سره دلته يې مؤمناتي خانګړي کړې سره له دې چي کتابياتوهم دغه حکم دی لپاره ددې چي پدې تنبيه وفرمايې چي مؤمنانولره ښايې دخپلي نطفې لپاره غورچاڼ وکړي اوپرته له مؤمني عفيفي ښځه بل څوک په نکاح وانخلي(۱) ﴿ فَمَا لَكُمۡ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ عِدَّةٖ تَعۡتَدُّونَهَاۖ ﴾ نونشته تاسي ته پردغو مطلقاتوهيڅ شمېر (دورځو) چي شمېری به تاسوهغه ؛ ځکه تاسوورسره مجامعت ندی کړی اوهلته د حمل (اميدواري) احتمال نشته ترڅوچي ښځه دخپل نسب دساتلولپاره په عدت کي وساتی ﴿ فَمَتِّعُوهُنَّ ﴾ نوورکړئ دوی ته څه متعه (فائده) يعني پرتاسوباندي ددوی اکرام واجب دی ددوی د خاطرساتلواو خوښي لپاره څه متعه جوړه اومال ورکړئ چي دطلاق تلخي ورباندي آسانه اودزړه ماتوالی يې يوڅه کوشير اوروغ شي ﴿ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ﴾ اوخوشي کړئ دوی په خوشي کولوښوسره ؛ بې له اضرار او ياتلف دحقوقويې ابوحيان وايې چي د(سراح جميل) معناداچي په ښه کلمه اووينايې رخصت کړئ پرته له دې چي واجب حق ځني منع کړئ(۲) بياالله تعالی درسول الله دزوجاتومتعلق احوال داسي فرمايې ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحۡلَلۡنَا لَكَ أَزۡوَٰجَكَ ٱلَّـٰتِيٓ ءَاتَيۡتَ أُجُورَهُنَّ ﴾ (ای نبي موږ بېشکه حلالي کړي دي تاته ښځي ستاهغه ښځي چي ورکړي دي تادوی ته مهرونه د دوی) يعني ای پيغمبره موږ تاته قسماقسم ښځي حلالي ګرزولي چي پرتاپراخي اوآساني وي اوله دې څخه ستاهغه مېرمنې هم دي چي تاهغوی په مسمی مهرسره کړي اوستاپه عصمت کي دي(۳) ﴿ وَمَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ ﴾ اوهغه ښځي چي مالک شوي دي (دهغو) ښي لاس ستاله هغو (وينځو) چي را ګرزولي دي الله په تا(له کفارو) دغه وينځي يې ځکه ځانګړي يادي کړي چي په کفارو باندي دنصرت اوفتحي په وخت کي لاس ته راغلي اودوی ترهغووينځوچي دمال په بدل کي اخيستل شوي دي غوره دي ځکه ددوی په موندلوکي ډېري هلي ځلي شوي کړاوونه اوسختي ګالل شوي کومي چي دمال په بيه وينځوکي نه ليدل کېږي نودغه افضل اوغوره دی ﴿ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّـٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَـٰلَـٰتِكَ ٱلَّـٰتِي هَاجَرۡنَ مَعَكَ ﴾ اولوني دتره

---

(۱) الکشاف ۳/ ۴۳۳

(۲) البحرالمحيط.

(۳) دغه دمفسرينويوقول دی اوبل داچي مرادګردي ښځي دي الله پاک رسول الله ته رواکړي چي هره ښځه په نکاح واخلئ اومهريې ورکړئ اودغه ترلومړني قول پراخ دی اوقرطبي غوره کړی دحضرت عائشې رضی الله عنهاپه حديث يې استدلال کړی دی چي هغه فرمايې: (مامات رسول الله حتی احل الله له النسآء) وګوره القرطبي ۱۴/ ۲۰۷

ستاولوني دترورياتوستااو لوني دتورى، ګانوستا هغه ښځي چي له تا سره يې هجرت كړى وي ﴿ وَٱمْرَأَةً مُّؤْمِنَةً إِن وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ ﴾ (اوهغه ښځه مؤمنه چي وبښي ځان خپل ،نبي ته (بې له مهره) يعني اوهغه مؤمني صالحاني ښځي چي دالله اورسول الله دميني اومحبت له وجي تاته ځان وبښي هم مودرته رواكړي دي ﴿ إِنْ أَرَادَ ٱلنَّبِيُّ أَن يَسْتَنكِحَهَا ﴾ كه نبي اراده وكړي ددې چي په نكاح واخلي (بې له مهره) دغه ښځه ﴿ خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ خالصه (جائزه ده) تاته غيرله نورو مؤمنانو) يعني هغوى ته پرته له مهر اوولوره دغه نكاح جائزه نه ده اونه هم ښځه ځان وربښلى شي اوپدغه سورت كي بيا مهرمثل واجبېږي ﴿ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِىٓ أَزْوَٰجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ ﴾ (په تحقيق معلوم دى موږ ته هغه حكم چي موږ مقرر كړى دى پر دوى باندي په حق د ښځو ددوى اودهغو وينځو چي مالكان دي (دهغو) بني لاسونه ددوى) يعني موږ ته معلوم دي هغه څه چي په مؤمنانومو واجب كړي لكه نفقه، مهر ، په عقد كي شاهدان اوداچي له څلورو ښځو به زياتي په نكاح نه اخلي اوداچي رواكړي مودي وينځي سربېره پردغواصيلو ښځو باندي او اى محمده! هرڅې ته يې تاسوته موخاص ځانګړي آسانتياوي دركړي دي ﴿ لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ﴾ لپاره ددې چي نه وي پرتاباندي هيڅ حرج سختي ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ او دى الله ښه ښښونكى ښه رحم والا ﴿ تُرْجِى مَن تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُـْٔوِىٓ إِلَيْكَ مَن تَشَآءُ ﴾ بيرته كوې هرهغه ښځه چي ته غواړې اورا نژدې كوې هرهغه ښځه (خپله) چي غواړې ته (له دغو ښځو خپلو) يعني تاته اختيار دى چي كومه يوه ښځه طلاقوې) اوياكومه يوه ځانته راګرزوې له دوى نه (¹) ﴿ وَمَنِ ٱبْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ﴾ اوهغه چي بيايې غواړې له هغو(ښځو خپلو) چي ليري كړى دې پس نشته هيڅ ګناه پرتاباندي ﴿ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَآ ءَاتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ﴾ دغه (تفويض دكلي واک اختيار دښځو خپلو) تاته ډېرنژدې دى چي يخي اوروښانه شي سترګي ددوى اونه به غمجني كېږي او خوشحالېږي دوى په هغه شي چي وركوې ته دوى ته ټولي ددوى؛ ځكه دوى ته چي كله معلومات وشي چي دغه دالله اوامردي نوبه هيڅكله نه خواشيني كېږي اوزړونه به يې خوښ اوراضي وي ﴿ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِى قُلُوبِكُمْ ﴾ (اوالله ته معلوم دى هرهغه څه چي ستاسي په زړونو كي دى) خطاب رسول الله ته دتعظيم له كبله دى يعني الله ته هغه څه چي ستاپه زړه اودهر انسان په زړه كي دي ښه معلوم دي چي عدل اومساوات دى كه ظلم ، مينه ده اوكه نفرت اوتاته مواختيار ځكه دركړچي درباندي آسانتياوي ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمًا ﴾ اودى الله ډېرعالم ښه تحمل والا) يعني الله ته ستاسوپټ او ښكاره معلوم دي الله دحلم خاوند دى دعقوبت په راوستلو كي جلتي نه كوي بلكه مهلت وركوي او ځنډوي يې امام بخاري له حضرت عائشي رضى الله عنهاڅخه روايت كوي وايې چي مابه له

(¹) دغه دابن عباس وينا ده اومجاهد اوضحاک بياوايې معنادا چي تقسيم وركړئ هغې ته چي ستاخوښه شي اوهغې ته چي نه يې غواړې مه يې وركوه اوستااختيار دى چي چاته ډېر تقسيم وركوې اوچاته لږ په تاباندي مشقت نشته كذافي البحر ٧ / ٢٤٧

هغو مېرمنود پیغمبر څخه غیرت کاوو چاچي رسول الله ته خپل ځانونه ببښلي وواوويل به مې چي آيا ښځه هم خپل ځان چاته ببښي ؟ کله چي داآيت نازل شو ﴿ تُرْجِى مَن تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُـْٔوِىٓ إِلَيْكَ مَن تَشَآءُ ۖ وَمَنِ ٱبْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ﴾ نوماوويل چي ستاپروردګارستاله خوښي سره سم خپل حکمونه رااستوي بیاوروسته الله تعالی فرمايي ﴿ لَّا يَحِلُّ لَكَ ٱلنِّسَآءُ مِنۢ بَعْدُ ﴾ ندي حلالي تاته ښځي (ای پیغمبره) وروسته له دغو (نهوښځوچي ستاپه نکاح کي دي ﴿ وَلَآ أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَٰجٍ ﴾ اونه دا (درته روادي) چي بدل کړې په دوی له نوروښځو(چي کومه يوه طلاقه کړې اوپرځای يې بله په نکاح واخلې ﴿ وَلَوْ أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ ﴾ اګرکه تعجب درولي تاته ښايست دد ي نوروهم ﴿ إِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ ﴾ مګرخو(روادي درته) هغه وينځي چي مالک وي ښی لاس دتا(پرهغوی ځکه چي هغوی مېرمني نشي ګڼل کېدای) ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ رَّقِيبًا ﴾ اوای الله په هرڅيزباندي (داعمالو ستاسي) ښه ساتونکی.

پدې کي د هغه چالپاره وېرونه اوتحذيردی چي څوک دالله له حدودو تجاوز کوي اوحلال حرام نه مراعات کوي. مفسرين کرام وايي چي الله تعالی رسول الله ته څلور ډلي ښځي حلالي ګرزولي ، دمهر ولور والي ، مهاجراتي ، مملوکاتي ، ځانونه ببښونکي ښځي (واهباتي) دغه ټولي لپاره دپراخي اوآساني په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندي ترڅودرسالت په خپراوي او د تبليغ اودعوت رسولو لپاره مرستندويې ثابتي شي ، اوکله چي دتخيير آيت نازل شو ﴿ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴾ اورسول الله ﷺ دوی ته اختيار ورکړ اودوی هم الله ، رسول اوآخرت غوره کړنوالله ﷻ هم ددوی هسي اکرام وفرمايو چي رسول الله ته يې دنورو ښځودنکاح کولو اجازه ورنکړه اويوازي ددوی لپاره يې رسول الله غوره کړ.

بلاغت:

پدې آيتونو کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱-تنکيردعموم دافادې لپاره لکه ﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ ﴾ ځکه چي نکره دنفی په سياق کي راشي نوعموم پکي نغښتی وي يعني هيڅ يوه ته له دوی څخه نشته چي غيرله هغه چي الله اورسول يې اراده لري دوی وغواړي.

۲- طباق د ﴿ وَتُخْفِى ... مُبْدِيهِ ﴾ ترمينځ اود ﴿ ٱلظُّلُمَٰتِ ... ٱلنُّورِ ﴾ ترمينځ همداسي د ﴿ وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴾ ترمينځ اودغه له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

۳-اشتقاقي جناس لکه ﴿ قَدَرًا مَّقْدُورًا ﴾ چي راغلی دی.

۴-سلبي طباق چي فرمايي: ﴿ وَيَخْشَوْنَهُۥ ...وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا ﴾ .

٥- بليغه تشبيه پدې كلام كي ﴿ وَسِرَاجًا مُّنِيرًا ﴾ اصلي تشبيه داسي ده چي اى محمده ته لكه د هدايت اوارشاد بله ډېوه غوندي يې دتشبيه تورى اووجه دتشبيه حذف شوي نولكه چي وواېي (علي زمرى دى) دغه وينابليغه تشبيه بولي

٦- كنايه پدې قول دالله تعالى كي چي ﴿ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ ﴾ له جماع څخه يې په مس كولو كنايه راوړه اودغه له مشهورو كناياتوڅخه بلل كېږي اوله قرآني آدابوڅخه دى څكه چي قرآنكريم له ناسمواوبې خونده الفاظو څخه څنگ كوي.

٧- دطباق صنعت چي د ﴿ بُكْرَةً ... وَأَصِيلًا ﴾ ترمينځ اود ﴿ تُرْجِي ... وَتُئْوِي ﴾ ترمينځ اوهمداسي د ﴿ ٱبْتَغَيْتَ ... عَزَلْتَ ﴾ ترمينځ راغلى دى.

٨ - دفواصلوتوافق چي په جمال اوښايست اوهمداسي په اورېدلوكي اغيزاوايقاع راوړي لكه ﴿ وَمُبَشِّرًا ... وَنَذِيرًا ... وَسِرَاجًا مُّنِيرًا ... سَرَاحًا جَمِيلًا ... عَلِيمًا ... حَلِيمًا ... غَفُورًا ... رَّحِيمًا ﴾ اوهمداسي نوراودغه له قرآني خانگړتياووڅخه اوله بديعي محسناتو څخه شمېرل كېږي

الله تعالى فرمايې:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَدْخُلُوا۟ بُيُوتَ ٱلنَّبِىِّ إِلَّآ أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيْرَ نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ
فَٱدْخُلُوا۟ فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَٱنتَشِرُوا۟ وَلَا مُسْتَـْٔنِسِينَ لِحَدِيثٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِى ٱلنَّبِىَّ فَيَسْتَحْىِۦ مِنكُمْ ۖ وَٱللَّهُ لَا
يَسْتَحْىِۦ مِنَ ٱلْحَقِّ ۚ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَٰعًا فَسْـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٍ ۚ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ ۚ وَمَا كَانَ
لَكُمْ أَن تُؤْذُوا۟ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَآ أَن تَنكِحُوٓا۟ أَزْوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦٓ أَبَدًا ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا ﴿٥٣﴾ إِن
تُبْدُوا۟ شَيْـًٔا أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٥٤﴾ لَّا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِىٓ ءَابَآئِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخْوَٰنِهِنَّ وَلَا
أَبْنَآءِ إِخْوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ ۗ وَٱتَّقِينَ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ
شَهِيدًا ﴿٥٥﴾ إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِىِّ ۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ صَلُّوا۟ عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ﴿٥٦﴾ إِنَّ
ٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱلْمُؤْمِنِينَ
وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ بِغَيْرِ مَا ٱكْتَسَبُوا۟ فَقَدِ ٱحْتَمَلُوا۟ بُهْتَٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿٥٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ
ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٩﴾ ۞ لَّئِن لَّمْ
يَنتَهِ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْمُرْجِفُونَ فِى ٱلْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَآ إِلَّا
قَلِيلًا ﴿٦٠﴾ مَّلْعُونِينَ ۖ أَيْنَمَا ثُقِفُوٓا۟ أُخِذُوا۟ وَقُتِّلُوا۟ تَقْتِيلًا ﴿٦١﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۖ وَلَن تَجِدَ
لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ﴿٦٢﴾ يَسْـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِ ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴿٦٣﴾

إِنَّ اللَّهَ لَعَنَ الْكَافِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٦٥﴾ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا ﴿٦٦﴾ وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا ﴿٦٧﴾ رَبَّنَا آتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا ﴿٦٨﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ اللَّهُ مِمَّا قَالُوا وَكَانَ عِندَ اللَّهِ وَجِيهًا ﴿٦٩﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٧٠﴾ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾ إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾ لِّيُعَذِّبَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ وَيَتُوبَ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٣﴾ ﴾ الأحزاب: ٥٣ - ٧٣

مناسبت:

کله چي الله تعالی درسول الله اوده‌غه دازواج مطهراتواحوال بیان کړل نودلته یې هغه اداب راوړل چي بایدهرمسلمان چي دپیغمبرکورته ورځي په دغو آدابواواخلاقوسینګاروي چي دپیغمبر انګرته دي په استیذان (اجازه غوښتلو) ورننوزي اوهلته دي په هغوی باندي ځان نه باروي ورپسې درسول الله صلی الله علیه وسلم دشرافت بیان فرمایي چي پاک الله اوپرښتېورباندي درودوایې دسورت په پای کي دآخرت دورځي په بیان اوهلته دکفارو ګمراهانودسرنوشت اودنیکمرغه اوبدمرغه خلګو دبرخلیک په هکله بشپړېږي.

لغتونه:

(اناه) پخوالی تیارېدل په لسان العرب کي وایي چي (انی الشئ) دیوشیزپخېدل اورسېدل ، بشپړېدل بولي [1] (مستانسین) استئناس په خبروالفت نیول اوخونداخیستلوته ویل کېږي (ومابالدار من انیس) په کور کي څوک نشته چي پام ورسره غلط شي (متاع) دا ړتیاوړ څه شي لکه ، تبر ، تېشه ، لور، یوم اونور(هتانا) افتراء اودروغوته وایي اصل یې له (بهت) څخه اخیستل شوی او هغه د دروغو تور اوتهمت ته وایي [2] (جلابیهن) دجلباب جمع اوهغې جامې ته وایي چي ګردبدن نغاړي او پټوي یې لکه اوسنی چادري اوبرقع (المرجفون) آوازې خپرونکي دروغ اوباطل دخلګو د وېروني لپاره تیتونکي ته وایي (نغرینک) (اغراه) معناویې هڅاوو او ورباندي مسلط یې کړ(سعیرًا) سخت بلیدونکی.

دنزول سبب:

أ-انس ﷺ روایت کوي چي کله رسول الله ﷺ (زینب بنت جحش) په نکاح واخیستله نویې دولیمې بندوبست وکړ خلک یې راوغوښتل کله چي ډوډۍ وخوړل شوه ځیني ډلګۍ درسول الله ﷺ په کور کي کېناستل اوخبري یې کولې کله چي بنځي یې دېوال ته مخ اړولی وونودوی په رسول الله باندي درانه

[1] لسان العرب.
[2] القرطبي ۱۴/ ۲۲۴

شول أنس رضي الله عنه وايي چي هېرمي دى مارسول الله ته وويل چي خلك ووتل اوكه هغه راته وويل، انس رضي الله عنه وايي چي هغه كورته دننه شوزه ورپسې وم چي پرده ولوېده اوزمااوهغه ترمينځ حجاب ولګېدو اوبيارسول الله خلګوته وعظ وكړ اوالله داآيت نازل كړچي ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَدْخُلُوا۟ بُيُوتَ ٱلنَّبِىِّ إِلَّآ أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ ﴾ ([1])

ب - ابن عباس رضي الله عنه وايي چي ځينومؤمنانوبه درسول الله دډوډۍ انتظاركاوو اوترپخوادډوډۍ له تيارېدلوبه كورته ورتلل هلته به ترهغوناست ووخوچي به ډوډۍ چمتوشوه ډوډۍ به يې وخوړله او نه به وتل نودغه آيت نازل شو([2])

ج - عائشة رضي الله عنهاوايي چي حضرت عمررضى الله عنه رسول الله ﷺ ته وويل اى پيغبره ستاسي كورته نېک اوبدخلک راځي كاشكي دي أمهات المؤمنين ته دحجاب حكم كړى واى چي چانه ليدلاى نودحجاب آيت نازل شو﴿ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَـٰعًا فَسْـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٍ ۚ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ ۚ ﴾ (الاحزاب ٥٣)([3])

د - له سدي څخه روايت كېږي چي فساقوفجارو به ښځي تنګولې ، آزارولې كله چي به دشپې راووتلې اوچي كومي مېرمني به يې وليدلې چي هغه به په پرده كي وي نوبه يې نه ځورولې ويل به يې دغه اصيلي دي اوچي بې له حجابه به يې وليدلې نوبه يې ويل دغه وينځي دي اوهغه به يې ربړولې الله دغه آيت نازل كړ ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَـٰبِيبِهِنَّ ۚ ﴾ ([4])

تفسير:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَدْخُلُوا۟ بُيُوتَ ٱلنَّبِىِّ إِلَّآ أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ ﴾ اى هغو كسانوچي ايمان يې راوړى دى (يعني اى مؤمنانو) مه ننوزئ كورونودنبي ته مګر هغه وختي ننوزئ چي اذن وكړى شي تاسي ته) اضافت دكورونو نبي ته لپاره دتشريف اوتعظيم شوى دى اومؤمنانوته دغه ستراداب داسي ورښودل كېږي چي تاسي په هيڅ حال له احوالو دنبي كورونوته مه ننوزئ مګركله چي عليه السلام درته اجازه دركړي اودغه نه ننوتل دهغه دمېرمنود حقوقو دمراعات كولو لپاره دى چي په هغوى باندي ستاسو ورتګ دروندنشي ﴿ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيْرَ نَـٰظِرِينَ إِنَىٰهُ ﴾ (لپاره دخوړلود) طعام ته په دغه حال كي چي نه اوسي منتظرپخلي دهغه ته ﴿ وَلَـٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَٱدْخُلُوا۟ ﴾ وليكن كله چي تاسي وبللى شي پس ننوزئ ﴿ فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَٱنتَشِرُوا۟ ﴾ پس كله چي خواړه وخورى نوخواره شئ (نورهلته ځنډمه كوئ) خپلو كورونوته

([1]) تو له كيسه په صحيحينو كي وګوره اودغه درسول الله (ص) څرګنده معجزه ده .

([2]) التسهيل لعلوم التنزيل ٣ /١٤٢

([3]) ابن جزي وايي چي لومړى ويناد حضرت انس مشهوره ده اودابن عباس ويناد آيت په هغه برخه پوري اړه لري چي الله له دي څخه نهي كوي چي تراذن دمخه ورننوزي.

لار شئ) ﴿وَلَا مُسْتَـْٔنِسِينَ لِحَدِيثٍ﴾ اومه کېنئ لپاره د (ساعت تېري د) خبرو، ابو حيان وايي چي دوى له دي څخه منع شوي دي چي د ډېر خندو کړي او يو د بل خبرو ته سره غوږ ونيسئ او مجلس وکړئ (۱) ﴿إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِى ٱلنَّبِىَّ﴾ بېشکه (دغه کار ستاسي) داسي کار دى چي نبي ته تکليف رسوي) او ورباندي در نېږي د ډېر و چارو او امورو له اداکولو څخه يې جار باسئ) ﴿فَيَسْتَحْىِۦ مِنكُمْ﴾ پس حياء کوي (نبي) له تاسي (چي تاسي ته دوتلو امر وکړي ځکه هغه دستر و اخلاقو خاوند او د مهربان زړه څښتن دى ﴿وَٱللَّهُ لَا يَسْتَحْىِۦ مِنَ ٱلْحَقِّ﴾ او الله حيا نه کوي له (ويلو د خبري) حقي، قرطبي وايي چي دغه سترالهي ادب دى چي پند پدونکو، لټانو ته يې ورښودلى دى د ثعلبي په کتاب کي راغلي چي د لټانو د بدي لپاره بس دومره کافي دى چي شريعت يې تحمل نه دى کړى (۲) ﴿وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَـٰعًا فَسْـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٍ﴾ او کله چي تاسي له دغو (مطهراتو ازواجو) څخه کوم داړتيا و رڅېز غواړى د پردې له شايي وغواړئ ﴿ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ﴾ دغه (غوښتل له پردې د باندي) ډېر پاک (ساتونکى) دى د زړونو ستاسي او د دوى لپاره (چي له شک او بدګماني څخه موږ غوري) ﴿وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا۟ رَسُولَ ٱللَّهِ﴾ او تاسي ته نه دى رواچي تکليف ورسوئ رسول الله ته (هغه چي الله دهغه په سبب تاسي ته په ژوند کي هدايت در په برخه کړى دى.) ﴿وَلَآ أَن تَنكِحُوٓا۟ أَزْوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦٓ أَبَدًا﴾ او نه دى (رواتاسي ته) داچي په نکاح واخلئ ښځي دده پس له وفاته (يا طلاقه) ځکه هغوى ستاسي لکه ميندي دي او رسول الله مو د پلار په شان دي نو آيا داوړه چي هغه پخپل ځان دده او يا اهل دده باندي وکړوي او ربړوي؟! ﴿إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا﴾ بېشکه دغه (ايذاء د رسول او نکاح د ازواجو يې ډېره لويه (ګناه) ده د الله په نزد چي الله يې هيڅکله نه بښي ابو السعود وايي چي پدې کي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د شان لوړتيا او تعظيم شته او داچي د هغه در ښنت او احترام په ژوند او مرګ کښي لازم او واجب دى (۳) بيا الله تعالى فرمايي ﴿إِن تُبْدُوا۟ شَيْـًٔا أَوْ تُخْفُوهُ﴾ که چېري تاسي ښکاره کوى کوم څيز او يا يې پټوى هغه څېز (په سينو) کي ﴿فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا﴾ پس بېشکه الله په هرڅيز د اعمالو ستاسي ښه عالم دى (او په هغو به جزاء درکړي. بيضاوي وايي چي په دغه تعميم کي سره د مقصد له برهانه د تهديد زياته مبالغه او دهيبت زياته اندازه نغښتي ده (۴) وروسته بيا الله د محارمو استثناء داسي بيانوي چي: ﴿لَّا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِىٓ ءَابَآئِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخْوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ إِخْوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ وَلَا

---

(۱) البحر المحيط ۷/ ۲۴۷
(۲) القرطبي ۱۴/ ۲۲۴
(۳) ابوالسعود ۴/ ۲۱۸
(۴) البيضاوي ۲/ ۱۲۰

نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُهُنَّ ﴾ نشته گناه پردغوښځو (په ترک د حجاب په وړاندي د پلرونو ددوی اونه په ځامنو ددوی کي اونه په وروڼودوی کي اونه په زامنو د زامنوددوی کي اونه په ځامنود خوندو ددوی کي اونه په ښځوددوی (يعني په ښځو دنورو مؤمنانو) اونه په وينځوددوی کي چي مالکان وي ښي لاسونه ددغو(ښځولره) قرطبي وايې کله چي دحجاب آيت نازل شونو پلرونو اوزامنورسول الله ته وويل: چي آياموږبه هم له پردې هاخواورسره خبري کوو؟ نو بيادغه آيت نازل شو(١) اومرادله (نسائهن) څخه دمؤمنانوښځي دي ځکه چي ديهودانوښځي خپلو مېړونوته دمسلمانانوښځواوصاف بيانوي نو مسلماني ښځي ته ځکه روانه دي چي يهودانو ښځوته خپل زينت ، سينګار وښيي چي هغه يې بياخپل مېړه يهودي ته وستايې (٢) ﴿ وَٱتَّقِينَ ٱللَّهَ ﴾ او ووېرېږئ اى ښځوله الله تعالى څخه (په پټه اوښكاره سره)

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴾ ببشكه الله په هرشي باندي ښه عالم شاهددى (هغه ته دزړه رازونه داسي معلوم دي لكه چي داندامونو كړه وړه ويني. امام رازي رحمه الله وايې چي پدغه ځاى كي (شهيدا)راوړل خوراښكلي اوغوره دي ځكه چي ړومبى د خلوت دجوازلوري ته اشاره وشوه چي دحجاب دپرېښودلوپه هكله وه نودلته الله وفرمايل چي هغه ته جلوت اوخلوت يوډول دي په دواړو بشپړعلم اوپوهه لري نوله الله ﷻ څخه ووېرېږئ (٣) بياالله تعالى درسول الله درناوى داسي بيانوي

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَـٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ ﴾ ببشكه الله اوپرښتي دالله درودوايي پرنبي باندي دالله (رحمت لېږي) مقام يې اوچتوي اوشان يې لوړوي) اوملائكه الابرار ورته دُعاوي كوي استغفار غواړي اوله الله ﷻ څخه سوال كوي چي خپل نبي ته لوړي مراتبي عنايت كړي . قرطبي وايې چي دالله له لوري ددرودمعنادالله رحمت اورضادى اودملائكواوپرښتوله لوري بيا دعااواستغفار اودامت له پلوه دعااوتعظيم دى (٤) صاوي وايې چي پدې آيت شريف كي خورا ستر دليل دى چي رسول الله ﷺ درحمتونو مورددى هغه افضل الاولين والآخرين دى ځكه چي په نبي باندي درودالله له لوري رحمت دى چي له تعظيم سره نژدې اوغبرګ وي اوله نبي څخه پرته په بل چا يوازي درحمت معنالري لكه ﴿ هُوَ ٱلَّذِى يُصَلِّى عَلَيْكُمْ وَمَلَـٰٓئِكَتُهُۥ ﴾ (الاحزاب ۴۳) وګوره فرق د دواړو درودونو ترمينځ اودفضل ددواړومقامونو اومراتبو ترمينځ نوپدې سبب رسول الله درحمتونو مهبط اودتجلياتو مصدردى (٥)

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ صَلُّوا۟ عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ﴾ اى هغوكسانوچي ايمان يې راوړى دى (اى مؤمنانو) درود ووايئ پرهغه (نبي)اوسلام (پرې) ووايئ په سلام ويلوسره ؛ ځكه چي هغه پرتاسوحقداردى تاسوته يې له ګمراهي څخه هدايت ته لارښوونه كړي اوله تيارودكفر څخه يې داسلام رڼاته راايستلي

(١) القرطبي ١۴ / ٢٣١
(٢) الصاوي ٣ / ٢٨٧
(٣) التفسيرالكبير ٢۵ / ٢٢٧
(۴) القرطبي ١۴ / ٢٣٢
(۵) حاشية الصاوي ٣ / ٢٨٧

یاست نو کله چي یې مبارک نوم ذکرشي تاسي وایاست: اللهم صل علی محمد وآله وسلم تسلیمًا کثیرًا) له کعب بن عجرة څخه روایت شوی چي ای پیغمبره مونږ ته خوسلام معلوم دی درود څرنګه ووایو؟ رسول الله وفرمایل چي داسي وایاست (اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد کماصلیت علی ابراهیم ......)(۱) دحدیث شریف تر پایه صاوي وایې چي حکمت له درود د پرښتو او مؤمنانو پر رسول الله باندي دهغه تعظیم پرځای کول دي کوم چي دوی په الله پسي ددرود په لوستلو کي اقتداء کوي اودهغه ﷺ دځینو حقوقو اداکول دي کوم چي په مخلوقاتو یې لري ځکه هغه د هر نعمت لپاره چي تردوی پوري رارسېدلی واسطه وواوچاته چي څوک دکوم نعمت درسېدلو سبب وي پرهغه حق لري چي مکافات یې اداکړي همدغه ددوی په دې وړیناکي چي وایې (اللهم صل علی محمد...) نغښتی راز دی)(۲) ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾ بېشکه هغه کسان چي ایذاء رسوي (الله) ته (په ولد نسبت کولو اوشریک نیولو اویاداسي ستایلو چي له الله سره وړنه وي لکه چي یهودانو به ویل ﴿يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ﴾ (المائده ۲۴) اویابه نصاراوو ویل ﴿الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّهِ﴾ (التوبه ۳۰) اوایذاء رسوي رسول د هغه الله ته (په نسبت کولو ددروغو په رسالت دده اوپېغور دشریعت دده اواستهزآء په دعوت دهغه؛ ابن عباس رضي الله عنهما وایې: دغه آیت دهغو کسانو په هکله نازل شوی چاچي به پیغمبر ﷺ ته پېغور ورکاوو کله چي یې (صفیه بنت حُیَیّ) په نکاح کړه (۳) ﴿لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾ لیري کړي دي الله دوی (له خپله رحمته) په دنیا اوآخرت کي اوخپل غضب یې ورباندي کړی چي دوی یې سپک کړي دي اوپه آخرت کي به تل تر تله په اور کي وي ﴿وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُهِينًا﴾ اوتیارکړی یې دی دوی ته عذاب سپکونکی (داور د دوزخ چي نهایت له ذلته ډک اوسپکونکی دی) ﴿وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا﴾ اوهغه کسان چي ضرر رسوي مؤمنانو سړیو ته اومؤمناتو ښځوته په (تومت لګولو) په غیردهغه کارچي دوی کړی وي ﴿فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا﴾ پس په تحقیق دوی پخپل ځان باروي غټ دروغ اوښکاره ګناه، قرطبي وایې چي دالله اورسول الله ایذاء یې مطلقایاده کړه اودمؤمنانویې مقیده ذکرکړه ځکه چي دالله اورسول ایذا خواره ومرو، اکه پکه په ناحقه وي اوله مؤمنانو سړیو اوښځوڅخه خو کله کله څه (ګناه) صادرېږي هم (۴) اوکله چي الله رب‌ول اوایذاء د رسول حرام کړل نویې پیغمبرته وفرمایل چي ګرداُمت ته ناري کړه چي په اسلام منګولي ولګوئ اود هغه ښووني ومنئ په خاصه توګه دغه ټولنیزه چاره چي دحجاب په باب ده اودمېرمني عزت، کرامت اوعفت خوندي کوئ اوله ناولي کتلوڅخه یې ژغورئ دفاسقانو فاجرانو له چتي خبرو او ملنډو یې ساتئ اودهغو له بدو نیتونوڅخه یې په امان کوئ

---

(۱) المرجع المذکور.
(۲) الصاوي ۳ / ۲۸۷
(۳) زادالمسیر ۲/ ۴۲۰.
(۴) القرطبي /۲۳۸

نويي وفرمايل: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ ﴾ اى نبي ووايه ښځوته دي اولوڼوته دي اوښځودنورو مؤمنانوته چي خپاره دي كاندي پرڅپلوڅانونوڅپلو له ټكريو پړونو خپلو څخه (ترڅوچي محاسن او زينتونه يې پټ كاندي اودفاسقانوژبي څني بندي شي اودجاهليت دښځوله صفاتوڅخه ګوښي شي. طبري له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت راوړي چي هغه رضي الله عنه ددغه آيت په هكله داسي وفرمايل چي: الله دمؤمنانوښځوته كله چي دكومي اړتياله مخي له كوره څخه بهر راوزي فرمايي چي: خپل مخونه دي پټ كړي اوپړوني دي دسرله پاسه په ځان راخپاره كړي اويوه ستركه دي لوڅه وي (۱) ابن كثير له ابن سيرين څخه روايت كوي چي هغه وايي ماله عبيدة السلماني څخه دالله جل جلاله ددې كلام په هكله چي فرمايي: ﴿ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ ﴾ وپوښتل نوهغه سر اومخ پټ كړ اوچپه ستركه يې راڅرګنده كړه (۲) ﴿ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ﴾ دغه (پټول دبدن) نژدې دي دوى ته چي وبه پېژندل شي دوى (چي اصيلي دي) پس دوى ته به ايذاء نه رسول كېږي) يعني دغه تستراوپټوالى دې ته نژدې دى چي دوى په عفت ، صيانت اوحجاب وپېژندى شي اوناولى بدان مفسدين بياورته طمع نه كوي چابياويلي چي نژدې دى چي په اصيل والي وپېژندى شي اوله مينځوڅخه بېلي شي ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ اودى الله ښه ښونكى د(تېروخطيئاتو) ډېررحم والا(په بندګانوچي ددوى دمصلحتونويې پاملرنه كړي ده بياالله دټولو ډلو چي ضرر وررسوي داسي عذاب بيانوي اوهغوى تهديدوي فرمايي: ﴿ لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ ﴾ (قسم دى كه منع نشول منافقان اوهغه كسان چي په زړونو د دوى كي رنځ دى) يعني كه چېري دغه منافقان چي په خوله دايمان چيغي وهي خوپه زړه كي كافران دي له نفاقه منع نشول اويادغه زانيان چي په زړونو كي يې دفجور رنځ دى له زنااوبدكاري خپلي څخه منع نشول ﴿ وَٱلْمُرْجِفُونَ فِى ٱلْمَدِينَةِ ﴾ او (كه منع نشول بدي آوازې ګډونكي په (ښارد) مدينې كي (چي دخلګو افكار ګډوډوي اونفاق خپروي ﴿ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ﴾ نوخامخابه (اى محمده) تامسلط كړو پردوى باندي ﴿ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَآ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ بيابه همسايه توب ونكړي دوى له تاسره په دغه (مدينه) كي لږ وخت (چي دوتلوتيارى ونيسي. امام رازي وايي چي الله پاک خپل نبي ته داسي وعده وركړي چي دښمنان به يې له مدينې څخه دده په لاس وركوي اوشري دده شوكت به لوړېږي (۳) ﴿ مَّلْعُونِينَ ﴾ ترټلي شوي (له رحمته دالله) ﴿ أَيْنَمَا ثُقِفُوٓا

---

(۱) دغه دابن عباس ويناده مخ په پټولو كي صريح نص دى اوهمداسي ابن كثير له ابن سيرين څخه روايت راوړى چي صريح اوصحيح روايتونه دي هغوى دښځومخ پټول واجب ګڼي نو دتفسيردعلماوو اوسلف صالحواقوال چېرته؟ اودعلم دمدعيانوچي په اوسني عصر كي دښځي مخ لوڅول رواكوي چېرته دي؟ دمفسرينو ويناوي زموږ په كتاب (روائع البيان) كي وګوره ۲/ ۳۸۲

(۲) ابن كثير ۳/ ۱۱۴

(۳) التفسيرالكبير ۲۵/ ۲۳۱

أُخِذُوٓاْ وَقُتِّلُواْ تَقْتِيلًا ﴾ هرچېري چي وموندلى شي وبه نيول اووبه وژلى شي په وژلو د(خواري) سره (ځکه چي کافران دي) ﴿ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْاْ مِن قَبْلُ ﴾ دايوه لاره اينبي ده الله په حق دهغو(منافقانواومرجفانو) کي چي له دې نه پخواتېرشوي دي. قرطبي وايې معنا داچي دغه دالله سنت دى چي څوک نفاق کوي اوپه انبياوو پسي بدي آوازې خپروي هغه دي ونيولى شي اوودي وژلى شي (١)﴿ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ﴾ اوله سره به نه مومې ته لاري دالله ته هيڅ تبديل، تغيير؛ ځکه چي هغه په ډېر ټينګ تاداو بناشوى ده صاوي وايې چي په آيت شريف کي درسول الله لپاره تسلاده يعني ته دمنافقينوله شتون څخه مه غمګين کېږه ځکه دغه پخوانى سنت اوتېره لاره ده يوه زمانه له زمانوهم بې منافقانونه وه وروسته الله تعالى قيامت اودهغه کړاوونه داسي بيانوي چي ﴿ يَسْـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِ ﴾ پوښتنه کوي (مشرکان) خلګ له تاڅخه د قيامت (دراتلو) داستهزآء اوملنډوپه ډول چي کله به وي؟

﴿ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ ٱللَّهِ ﴾ ووايه (اى محمده! دوى ته) بېشکه همداخبره ده علم دقيامت (خاص) په نزددالله دى ماته يې وخت نه دى معلوم الله ديوحکمت له مخي هغه پټ کړى اونه کوم پيغمبرته دهغه علم شته اونه هم پرښتې ته ﴿ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴾ اوڅه شي پوه کړى يې ته (په قيام دقيامت يعني ته ترې بېخبره يې نوبيا ورته ووايه) ښايې چي قيام دقيامت دي نژدې وي. ابوالسعودوايې چي پدې کي دمستعجلينولپاره تهديداودمتعنتينولپاره تبکيت نغښتى دى اوداچي دضميرپرځاى بې ظاهر راوړى دهيبت اوزيات تاکيدلپاره دى (٢)﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴾ بېشکه الله کافران رټلي دي (اوله رحمته يې شړلي دي) ﴿ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ﴾ اوتياركړى يې دى دوى ته سختي لمبې وهونکى اور ﴿ خَـٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴾ حال دا چي همېشه به اوسي په دغه اوركي تل ترتله ﴿ لَّا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴾ نه به مومي دوى هيڅ دوست اونه کوم مددګار (چي له اوره يې وژغوري) ﴿ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِى ٱلنَّارِ ﴾ هغه ورځ چي چورلولى به شي مخونه ددوى په اورکي (لکه دکباب غوښه چي په يوه بله خوااړول کېږي ﴿ يَقُولُونَ يَـٰلَيْتَنَآ أَطَعْنَا ٱللَّهَ وَأَطَعْنَا ٱلرَّسُولَا ﴾ وايې به دوى اى کاشکي موږ دالله اطاعت کړى واي او اطاعت موکړى واى درسول (دالله) دغه به دافسوس په توګه وايې چي کاشکي مودالله اورسول اطاعت کړى واى نوبه په دغه سپک کونکي عذاب نه اخته کېدلو ﴿ وَقَالُواْ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا ﴾ اووايې دوى اى زموږربه بېشکه موږ اطاعت کړى وو زموږدمشرانوخپلواو زموږدغټانو خپلوپس ورکه کړه دوى له موږ څخه سمه لاره (اوايمان) ﴿ رَبَّنَآ ءَاتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ ٱلْعَذَابِ ﴾ اواى

(١) القرطبي ١٤/ ٢٤٧
(٢) تفسيرابوالسعود ٤/ ٢٢٠

زمونږ ربه ورکړه دوی ته دوچنده له عذابه (زمونږ ځکه دوی زمونږ د گمراهي سبب وو) ﴿ وَٱلْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا ﴾ اولیري کړه دوی له خپله رحمته په ترټلو لویو سره بیا الله ددې تحذیر فرمایې چې پیغمبر ته دې ضررونه رسول شي لکه چې یهودانو خپل نبي ته ځورورکاوونویې وفرمایل: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوْا۟ مُوسَىٰ ﴾ ای هغوکسانوچې ایمان یې راوړی دی (یعني ای مؤمنانو) مه کېږئ په شان د هغو کسانوچې ایذاء یې رسولي ده موسی ته (اوهغه یې دبرص په رنځ رنځورگڼلی وو اویایې نورتومتونه ورباندي ترلي وو ځکه چې هغه به زیاتره گوښه ځان لامبل چې حیآء یې لرله نوالله دهغه برائت څرگند اودوی یې ددوی په ویناکي کومه چې ورباندي موسی علیه السلام تورن کاوو دروغجنان کړل. امام بخاري له ابي هریرة رضی الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: چې موسی علیه السلام ډېر حیاناک اوځان پت ساتونکی وودخپل تن څخه به یې هیڅ غړی بربنډنه ښکارېدوچې زیات شرمناک وونوبني اسرائیلووویل چې دی یادبرص په رنځ اخته دی اویایې خصیه پړسېدلي ده ،یابل کوم آفت ورباندي شته اوالله وغوښتل چې دبني اسرائیلوله دغوچټي اوباطلوتورونوڅخه دموسی علیه السلام برائت ثابت کړي نویوه ورځ یې له خلگو بېل گوښه دغسل کولو اراده وکړه جامې یې په یوه ډبره کښېښودې اوغسل یې پیل کړچې غسل یې بشپړکړنودجامو اغوستلوپه تکل شو که گوري ډبره وځغسته اوجامې یې ورسره یوړې موسی علیه السلام لکړه پسي راواخیسته او ډبري ته یې نارې وهلې : هاډبري زماجامې ، آډبري زماجامې ! ترڅو چې دبني اسرائیلوپریوه ټولۍ تېرشواوهغوی دی بربنډولیدل چې ډېرښایسته وجودالله ورکړی او الله دده برائت له هغه څه چې دوی به ویل څرگند کړ حدیث ترپایه (¹) ﴿ فَبَرَّأَهُ ٱللَّهُ مِمَّا قَالُوا۟ ﴾ پس پاک کړدغه (موسي) لره الله له هغو دروغو چې دوی پرې ویل ﴿ وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهًا ﴾ اووو (موسی) دالله په نزدمخه ور (دعزت خاوند) ابن کثیر وایې معناداچې ده دالله په نزد جاه اووجاهت لرلو هرڅه چې یې له الله غوښتی هغه ورکړي دي(²) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَقُولُوا۟ قَوْلًا سَدِيدًا ﴾ ای هغوکسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو) ووېرېږئ له عذابه دالله او وایئ خبره سمه محکمه رښتیا (چې الله رضاکړي. طبري وایې معناداچې عادلانه خبره کوي چې ظلم پکي نه وي حق وایاست چې باطل نه وي (³) ﴿ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَٰلَكُمْ ﴾ چې نېک صالح کړي (الله) تاسي ته عملونه ستاسي (اوقبول یې کړي ابن عباس وایې معنا داچې ستاسي حسنات درڅخه قبول کړي ﴿ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ﴾ اووبښې (الله) تاسي ته گناهونه ستاسي ﴿ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴾ اوهرڅاچې اطاعت وکړدالله اودرسول ددغه (الله) پس په تحقیق بریالی شوپه بري ډېرلوی سره بیاوروسته چې الله دوی ته مکارم الاخلاق وروښودل نودشرعي تکالیفوپه قدرېې ورته تنبیه داسي وفرمایله: ﴿ إِنَّا عَرَضْنَا

(¹) رواه البخاري ۲/ ۳۱۲

(²) مختصرابن کثیر ۳/ ۱۱۲

(³) نفس المرجع

ٱلۡأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱلۡجِبَالِ فَأَبَيۡنَ أَن يَحۡمِلۡنَهَا وَأَشۡفَقۡنَ مِنۡهَا ﴾ بېشکه موږ وړاندي کړ امانت (شرعي تکاليف او فرائض) په (آسمانونو او پر ځمکه او غرونو پس منع راوړه دوی له دې چي پورته کړي هغه (د امانت بار) او وېرېدل دوی له هغه (امانت) نه ابو السعود وايي معنا داچي دغه امانات دومره دلوړشان خاوندان وو چي که دغه ستر اجرام وړاندي مکلف شوي وای چي په ستر توب او قوت او شدت کي مثالونه دي که يې شعور او ادراک لرلای نو دغه مکلفيت به يې منلی نه وو او وېرېدل به (۱) ابن جزي وايي چي امانت دغه شرعي تکاليف دي چي د طاعاتو وجائب او د معاصيو، نواهي دي چا بياويلي چي امانت د مالونو مراد دی او صحيح دادی چي دغه شرعي مکلفيتونه دي او وړاندي کول يې په دوه ډوله امکان لري يو داچي: الله تعالی دي (دغه ځمکو آسمانونو او غرونو ته حقيقتاً) فهم او ادراک ورکړی وي او دوی دي ترې وېرېدلي او ممانعت دي کړی وي. دوهم داچي مقصد تعظيم د امانت د شان دی چي دغه دومره درونددی که په آسمانونو ځمکه او غرونو وړاندي شي لکه چي ووايي دروند بار مي په مرکب بار کړ او هغه يې له بارولو اوږه سپکه کړه مقصد داچي د بارولو توان يې نه لاره (۲) ﴿ وَحَمَلَهَا ٱلۡإِنسَٰنُۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومٗا جَهُولٗا ﴾ او پورته کړ هغه (د امانت بار) انسان بېشکه چي دغه انسان ډېر ظالم (او په خپل عاقبت) نادان دی. ابن جوزي وايي چي پدې کلمه چي (أبين) دی مخالفت مراد نه دی بلکه له وېري څخه ممانعت دی ځکه چي دغه وړاندي کول الزامي نه بلکه اختياري وو (۳) ﴿ لِّيُعَذِّبَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ ﴾ دغه د امانت تحمل غرض ددې لپاره وو (چي عذاب ورکړي الله منافقانو سړيو او منافقانو ښځو ته او مشرکانو سړيو او مشرکانو ښځو ته ﴿ وَيَتُوبَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۗ ﴾ او رجوع په رحمت سره وکړي الله په مؤمنينو او مؤمناتو (او مغفرت ورته وکړي رضوان ورکړي ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمَۢا ﴾ او دی الله ښه ښونکی (په مؤمنانو چي تېر خطيئات يې وربښلي) ډېر رحم والا (چي ثواب يې ورکړي او په ډول ډول اکراماتو يې نازولي دي

بلاغت:

پدې آيتونو کي چي د بديع او بيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱- د تشريف لپاره اضافت لکه: ﴿ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتَ ٱلنَّبِيِّ ﴾ ځکه کله چي يې نبي ته نسبت وکړشو شرافت يې بيامونډ.

۲- د طباق صنعت د ﴿ فَٱدۡخُلُواْ.... فَٱنتَشِرُواْ ﴾ ترمينځ او د ﴿ إِن تُبۡدُواْ .... تُخۡفُوهُ ﴾ ترمينځ او د ﴿ ثُقِفُوٓاْ ....أُخِذُواْ ﴾ ترمينځ.

(۱) الطبري ۲۲/ ۳۸

(۲) التسهيل في علوم التنزيل ۳/ ۱۴۵

(۳) زاد المسير ۶/ ۲۲۸

۳- سلبي طباق چي فرمايي ﴿ فَيَسْتَحْيِۦ مِنكُمْ ..... وَٱللَّهُ لَا يَسْتَحْيِۦ مِنَ ٱلْحَقِّ ﴾ .

۴- دخاص ذكركول وروسته له عامه لكه: ﴿ لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلْمُرْجِفُونَ فِى ٱلْمَدِينَةِ ﴾ همدغه مرجفون دمنافقانوله ډلي دي لومړى يې تعميم وفرمايواوبيايې ځانګړي راوړل چي دتقبيح اوتشنيع زياتوالى يې وښيي.

۵- دمبالغې صيغې لكه فعول اوفعيل چي د ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ..... بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ..... عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدًا ﴾ په جملوكي راغلى دى.

۶- دمصدراوفعل يوځاى راوړل چي تاكيدافاده كړي لكه: ﴿ وَقُتِّلُوا۟ تَقْتِيلًا ..... وَسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ﴾ چي راغلى دى.

۷- دافسوس اوتكان خوړلو كلماتي چي دتمناپه بڼه راغلى لكه: ﴿ يَقُولُونَ يَٰلَيْتَنَآ أَطَعْنَا ٱللَّهَ وَأَطَعْنَا ٱلرَّسُولَا۠ ﴾ .

۸- تشبيه چي فرمايي: ﴿ لَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوْا۟ مُوسَىٰ ﴾ دغه ته مرسله مجمله تشبيه وايي.

۹- تمثيلي استعاره پدې كلام كي ﴿ إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلْجِبَالِ ﴾ امانت يې په لوى والي اوسترتوب كي دومره دروند وښودچي كه چېري په آسمانونوځمكه اوغرونوبارشي توان به يې ونه لري اوځني وبه وېرېږي دغه دامانت دشأ ن دلويوالي اودروندوالي خوراغوره تمثيل دى.

۱۰- لطيفه مقابله لكه په مينځ د ﴿ لِّيُعَذِّبَ ٱللَّهُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتِ ﴾ اود ﴿ وَيَتُوبَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ﴾ كي چي راغلي اودسورت پاى په دې آيت شريف سره هغه صنعت دى چي دبديع علما يې (ردالعجز على الصدر) بولي ځكه دسورت پيل دمنافقينو په قبائحو شوى وو اوپاى يې د منافقينوپه بدبرخه ليک اوعاقبت راغلى دى نوكلام په پل اوپاى كي ښكلى ښكاري.

۱۱- په رسول الله باندې دستايني اوثناكلماتي پداسي ډول چي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِىِّ ﴾ دډېروبياني باريكيودرلودونكي دي لكه:

أ- خبرپه (اِن) باندي مؤكدراوړل شوچي اهتمام افاده كړي.

ب- اسميه جمله ددوام موندلولپاره راغلي ده.

ج- دغه اسميه جمله چي په پيل كي يې (ان الله) په پاى كي يې فعليه جمله چي (يصلون) راغلي له دې كبله چي دې ته اشاره وكړي دغه دالله ثناپه خپل پيغمبرباندي نوى نوى وقتًا فوقتًا تل ترتله په دوام صادرېږي نودغوباريكورازونوته ښه فهم وكړه !.

۱۲- دفواصلو مراعات چي په اوږدلوباندي ښه خوندوره اغيزه لري لكه ﴿ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ..... لَّا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ..... وَٱلْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا ﴾ چي داهم له بديعي محسناتوڅخه ګڼل كېږي.

لطيفه:

دغه آيت شريف چي فرمايي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ دې ته اشاره کوي چي بلنه اودعوت ترهغو پوري ګټه ور اومثمر نشي کېداى ترڅوچي يې دعوتګراومبلغ له خپله ځانه او اهله پيل نکړي اوهمدغه دحجاب دعملي کولو پيل درسول الله په ښځواولونږودغه راز څرګندوى دى.

دهغه چاپه وړاندي چي مخ پټول روا بولي دمفسرينو کرامو ويناوي:

۱- ابن کثيروايي: الله پاک دمؤمنانو ښځوته کله چي له کوره دضرروت لپاره بهر وزي حکم کړى دى چي مخونه دي په پړونو پټ کاندي

۲- ابن جوزي وايي چي دالله تعالى ددېويناچي فرمايي: ﴿يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ﴾ معنادا چي دوى دي خپل سرونه اومخونه پټ کړي ترڅوداسي وښودلي شي چي دوى اصيلي دي.

۳- ابوالسعود وايي: دآيت معناداچي دوى دي په پړونوخپل مخونه اوبدنونه ټول پټ کړي کله چي دکومي اړتيالپاره بهروزي.

۴- طبري وايي: چي دوى دي له وينځوسره په لباس کي ځان نه مشابه کوي کله چي ديوکارلپاره دباندي وزي اوويښتان اومخونه يې لوڅ وي ترڅوفاسقان فاجران وړباندي ونه بلوسي.

۵- په البحرالمحيط کي وايي: مقصدله دې کلمې چي (عَلَيْهِنَّ) دى داچي مخونه دي ونغاړي ځکه چي په جاهليت کي به دميرمنو مخ څرګندوو.

۶- الجصاص وايي چي: په آيت کي ددې دلالت شته چي ځوانه ښځه دي مخ پټ کړي ترڅو دزړه رنځوران (منافقان) ورته طمع ونه کړي دغه دمفسرينو کرامو ويناوي وې چي دښځي دمخ پټولو په هکله راغلي والله يقول الحق وهويهدي السبيل (۱)

دالله ﷻ په مرسته دالاحزاب دسورت تفسيربشپړشو.

***

(۱) وګوره دشرعي حجاب شرطونه اودتشريعي حکمت څرنګوالى زموږپه کتاب (روائع البيان في تفسيرآيات الاحکام من القرآن) کي ۲/ ۳۸۷

دسباء سورت مکي او څلورپنځوس آيتونه لري:

دسورت په وړاندي:

دالسباء سورت مکي اوداسلامي عقيدې موضوع څېړي ددیني اساساتو لکه دوحدانیت اثبات، دنبوت اوبعث اونشور په هکله غږېږي.

په پيل کي سورت دالله لوړتياستايې هغه چي مخلوق يې پنځولی دعالم چاري يې مضبوطي کړي کائنات يې په تدبيراوحکمت جوړکړی اوهغه عليم اوخبيرذات دی چي ديوې ذرې په اندازه ووړ څيزپه په آسمانونواوځمکه کي له هغه څخه پټېدلای نشي. اودغه دهغه په وحدانيت باندي ستربرهان اودليل دی.

همداسي سورت له يوې خورامهمي قضيې څخه خبري کوي چي هغه له آخرت څخه دمشرکانو انکاردی اودبيرته راپاڅېدلو(بعث بعدالموت) تکذيب کوي نورسول الله ته حکم کوي چي په ستر رب باندي سوګندوکړي چي معادبرحق دی او اجساد به بيرته راژوندي کېږي: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَأۡتِينَا ٱلسَّاعَةُۖ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأۡتِيَنَّكُمۡ ﴾ دآيت ترپايه.

سورت دځينوپيغمبرانوکيسې راوړي نوداؤدعليه السلام اودهغه زوی سليمان عليه السلام اوهغه مخلوقات چي دوی دواړوته اېل اوتابع ګرزېدلي وو رااخلي لکه چي سليمان ته باد، هوااومرغان مسخر وواوله حضرت داؤدسره به غرونو تسبيح ويله دغه دالله پردوی باندي سره له ډيرونوررونعمتونواوعطاياوو يوفضل وو.

ورپسې سورت دځينومشرکانوهغه شکوک اوشبهات چي دخاتم الانبياء درسالت په هکله يې لرل له مينځه وړي اوهغوی ته کوټلي دلائل اوبراهين وړاندي کوي لکه چي دالله په وجوداو وحدانيت قاطع اوغوڅ دليلونه راوړي.

په پای کي سورت مشرکانوته په واحدقهارذات باندي دايمان راوړلوبلنه ورکوي هغه سپېڅلی ذات چي دټولو خلګوچاري په تدبيرسره ترسره کوي.

نومول اوتسميه:

ځکه يې سورت سبأ بولي چي پدې سورت کي الله تعالی دسبأ کيسه راوړي چي دوی ديمن پاچهان وو په نازاونعمتونو کي يې خلګ لوبېدل ددوی هستوګن ځايونه ګردباغونه اوجنتونه ووکله چي يې دنعمت کفران وکړ الله ورباندي يومخ ايزه سېلاب راووست چي دپنداخيستونکولپاره يې پند اوعبرت وګرزول.

الله تعالی فرمایي:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْآخِرَةِ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ﴿١﴾ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي
الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا وَهُوَ الرَّحِيمُ الْغَفُورُ ﴿٢﴾ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا
السَّاعَةُ قُلْ بَلَى وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَالِمِ الْغَيْبِ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَلَا أَصْغَرُ مِنْ
ذَلِكَ وَلَا أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ﴿٣﴾ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ
وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٤﴾ وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِنْ رِجْزٍ أَلِيمٌ ﴿٥﴾ وَيَرَى الَّذِينَ أُوتُوا
الْعِلْمَ الَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ هُوَ الْحَقَّ وَيَهْدِي إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴿٦﴾ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ
نَدُلُّكُمْ عَلَى رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿٧﴾ أَفْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَمْ بِهِ جِنَّةٌ بَلِ الَّذِينَ
لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ فِي الْعَذَابِ وَالضَّلَالِ الْبَعِيدِ ﴿٨﴾ أَفَلَمْ يَرَوْا إِلَى مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنْ
نَشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِنَ السَّمَاءِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِكُلِّ عَبْدٍ مُنِيبٍ ﴿٩﴾ ۞ وَلَقَدْ
آتَيْنَا دَاوُودَ مِنَّا فَضْلًا يَا جِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ ﴿١٠﴾ أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوا
صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١﴾ وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ وَأَسَلْنَا لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ وَمِنَ الْجِنِّ
مَنْ يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهِ وَمَنْ يَزِغْ مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ السَّعِيرِ ﴿١٢﴾ يَعْمَلُونَ لَهُ مَا يَشَاءُ مِنْ
مَحَارِيبَ وَتَمَاثِيلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُورٍ رَاسِيَاتٍ اعْمَلُوا آلَ دَاوُودَ شُكْرًا وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ ﴿١٣﴾ فَلَمَّا
قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَى مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنْسَأَتَهُ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَنْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ
الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ ﴿١٤﴾﴾ سبا: ١ - ١٤

لغتونه:

(يلج) له (ولوج) څخه اخیستل شوی او دخول ته وایي اوله دې څخه دا کلام هم دی چې فرمایي ﴿حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ﴾ (الاعراف ۴۰) (یعرج) خیژي (عروج) صعود او ختلو ته وایي اوله دې څخه معراج هم اخیستل شوی دی چې آسمانونو ختلو ته وایي (یعزب) پټیږي له اعزب څخه دی او پټېدلو ته وایي (مثقال) وزن او مقدار ته وایه شي (جنة) دجېم په کسره سره لېونتوب ته ویل کېږي او په ضمه سره یې بیا ډال او زغورنه معنا ده (کسفًا) ټوټې (اوّبی) تسبیح وواياست (سابغات) اوږدې بشپړې (سبغ الدرع والثوب) معنا دا چې ګرد بدن پټ کړي ابوحیان وایي چې سابغات زغرو ته وایي او په اصل کې دغه وصف دي چې تمام او کمال ته ویل کېږي او بیا په زغرو باندې دغلبې له کبله استعمال شو (السرد) او بدل او قرطبي وایي چې

اصل يې له ټينګولوڅخه دی (القطر) وېلي شوي مس (جفان) دجفنه جمع اولويې كاسې ته وايې (الجواب) د(جابية) جمع اوهغه لوی تالاب ته ويل کېږي چي اوبه پکي درېږي (منسانه) لكړه همساڅكه يې په دغه نامه بولي چي ورباندي شړل اوترټل كوي.

تفسير:

﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ ټوله ثناصفت خاص الله لره دي ، خاص هغه لره دي ټول هغه (څه) چي په آسمانونو اوپه ځمكه كي دي (خلقًا ، ملكًا اوعبيدًا) نوهغه لره حمددی په دنياكي ځكه چي بشپړقدرت لري اوهغه لره ثنادی په آخرت كي چي پراخ رحمت لري ﴿ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ ﴾ اوخاص هم دغه الله لره ټوله ثناپه آخرت كي (له ده پرته هيڅوک يې وړ اومستحق نه دی ځكه چي هغه په اهل دنيااوآخرت باندي مهرباني كونكي (متفضل) دی ﴿ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ﴾ اوهمدغه الله ښه حكمت والاښه خبردارد ی (پخپل صنعت اوخپل مخلوق باندي چي هرڅه كوي ورباندي اعتراض نشته) ﴿ يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا يَخۡرُجُ مِنۡهَا ﴾ (معلوم دی (الله ته) هرهغه شی چي ننوتونکی په ځمكه كي اوهرهغه شی چي بيرون راوزي له دغي (ځمكي) نه) دغه دالله دځيني معلوماتوتفصيل دی چي الله ته معلوم دي ټول هغه چي په ځمكه كي دننه كېږي لكه بارانونه ، خزانې اومړي اوهغه چي راوزي لكه كښتونه ، نباتات اودچينواوبه اوځاګاني ﴿ وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۚ ﴾ اوهرهغه څيزچي له آسمانه راښكته كېږي اوهرهغه چي پورته خېژي پدغه (آسمان) كي) لكه راښكته كېدونكي بارانونه، پرښتې اورحمتونه اوختونكي لكه نېک اعمال اوسپېڅلي دعاګاني ﴿ وَهُوَ ٱلرَّحِيمُ ٱلۡغَفُورُ ﴾ اوهمدغه الله ډېررحم والادی (په بندګانوخپلو) ښه ښونكی (دګناهونو دی څوک چي توبه ګارشي ځكه چي بسمدستي يې په عذاب نه اخته كوي وروسته الله پاک دقيامت اوبعث دمنكرانووېناوي داسي بيانوي ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَأۡتِينَا ٱلسَّاعَةُۖ ﴾ اووايې هغه كسان چي كافران شوي دي چي موږ ته به قيامت رانشي (اونه هم بعث بعدالموت شته بيضاوي وايې چي دغه خويادراتلوڅخه يې ښخي انكار دی اوياداچي هغه وځنډېدواودوی استهزآء كوي چي موږ ته دقيامت دراتلووعدې راكړی شوي وی په هغه ملنډي وهي (١) ﴿ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأۡتِيَنَّكُمۡ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته چي ولي به رانشي؟) بلكه قسم دی زماپه رب چي خامخابه تاسي ته راشي داقيامت . ابن كثيروايې چي دغه د هغودريوآيتونوڅخه يودی كوم چي الله پاک خپل پيغمبرته ددې خبري لپاره دقسم كولو حكم كوي دوهم يې په سورة يونس كي چي فرمايې : ﴿ قُلۡ إِي وَرَبِّيٓ إِنَّهُۥ لَحَقّٞ ﴾ (يونس ٥٣) اودريم يې په سورة التغابن كي دی چي ﴿ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبۡعَثُنَّ ﴾ (٢)

---

(١) البيضاوي ٢ / ١٢٢

(٢) ابن كثير ٣ / ١٢١

التغابن ۷) ﴿عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ﴾ (هسي رب) چي په غيبو عالم دی له ده نه پټېږي په اندازه ديوې ذرې په آسمانونوکي اونه په ځمکه کي ﴿وَلَآ أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرُ﴾ اونه وړوکی له هغې ذرې نه اونه لوی ترې ﴿إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ﴾ مګر(چي داټول ليکلي دي) په کتاب ښکاره (لوح محفوظ) کي ؛ غرض دا چي له الله څخه يوه ذره هم په کائناتوکي پټه نشي پاتي کېدلای نوبشر اودهغه احوال به څرنګه ځني پټ پاتي شي که هډوکي وراسته اوخاوري ايرې هم شي الله وربانډي خبردی چي څېرته تللي اوخپاره شوي دي نوبه يې بيرته دقيامت په ورځ راستانه کړي ﴿لِّيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ﴾ دپاره ددې چي جزاء ورکړی (الله) هغوکسانوته چي ايمان يې راوړی دی اوکړي يې دي (ښه) عملونه (په دنياکي) ﴿أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾ دغه (نيکوکاران مؤمنان چي دي) شته دوی ته مغفرت ښښنه اوروزي دعزت (په جنت کي) ﴿وَٱلَّذِينَ سَعَوْ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ﴾ اوهغه کسان چي سعی (کوښښ) کوي (په ابطال د) آيتونود(قرآن) زموږکي پداسي حال کي (چي ګمان کونکی وي چي) عاجزکونکي دي (درسول الله درسالت اوقرآن په هکله په خپلو شکوکواوشبهاتوخپرولوسره) ﴿أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ﴾ دغه کسان شته دوی ته عذاب له عذابه دردناکه څخه قتاده وايې (الرجز) بدترين عذاب ته وايه شي ﴿وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ﴾ او(بل ددې لپاره په لوح محفوظ کي ليکلي) چي و ويني هغه کسان چي دوی ته علم فهم ورکړی شوی دی (چي هغه دنبي اصحابان اوله دوی وروسته راتلونکي عاملين علماء دي ﴿ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ ٱلْحَقَّ﴾ هغه (قرآن) چي نازل شوی دی تاته له (جانبه د) رب ستاهمغه حق دی (باطل ورته لاره نلري) ﴿وَيَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ﴾ اوسمه لاره ښيي طرف دلارې (دهغه الله ته چي) ښه زبردست اوډېرثناويلي شوی دی(په ذات صفاتو او افعالو کي. ورپسې الله پاک دمشرکانو هغه اساليب اوددين په لارکي خنډونه اودهغوی ملنډې په رسول الله باندي بيانوي کوم چي يې دودعادت وي فرمايي: ﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ﴾ اووايې هغه کسان چي کافران شوي دي (دمکې مشرکان چي له بعثه منکردي) آيا(وښيو) دلالت وکړو تاسي ته په يوسړي چي خبردرکوي (عجيبه نادره خبره مقصديې له سړي څخه رسول الله دی) ﴿إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ﴾ کله چي تاسي ذرې ذرې شی په بشپړه ذره ذره کېدلوسره (خاوري ايرې شی) ﴿إِنَّكُمْ لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍ﴾ بېشکه چي تاسي به خامخاپه يونوي پيدايښت کي يی ؛ غرض به يې په دغه ويناکي استهزآء اوملنډې وي ابوحيان وايې چي ددغي ويناکونکي قريشي کفاروو اودغه به يې دتعجب او ملنډو په توګه ويل لکه چي يوځوک بل ته وايې آياله يوې نوي نادري کيسې څخه دي خبرکړم ؟ ! او څرنګه چي بعث بعد الموت دوی ته محال ښکارېدو

نوچاچي به دهغه خبر ورکاوو دوی به یې تعجب کاوو اوداچي نوم یې نه ورته اخیست ویل یې ﴿ هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ ﴾ سره له دې چي نوم یې په قریشو کي ښخي او ښاروودغه یې هم داستهزاء نښه ده (۱) ﴿ أَفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِۦ جِنَّةٌ ﴾ آیاله خپله ځانه ترلي دي (محمد) پرالله باندي دروغ اوکه لېونتوب لېونتوب ورپوري دی ؟ (اوداسي څه وایې چي چتیات دي الله تعالی ددوی په ردکي فرمایې ﴿ بَلِ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْآخِرَةِ ﴾ (بلکه هغه کسان چي ایمان نه راوړي په آخرت) بل داضراب لپاره دی یعني دغسي نه ده لکه چي دوی ګمان کوي چي دغه دروغ ،یالېونتوب دی ﴿ فِي ٱلْعَذَابِ وَٱلضَّلَٰلِ ٱلْبَعِيدِ ﴾ په عذاب کي به وي(په عقبی کي)اوپه ګمراهي لویې کي لوېدلی (خودوی نه پوهېږي اودغه دلېونتوب اوحماقت وروستی سرحد دی. وروسته بیاکله چي الله دقیامت په اثبات دلیل بیان کړ بل داسي دلیل چي په ترڅ کي یې توحیداوتهدیدنغښتی وي راووړ ﴿ أَفَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَىٰ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ آیانه ګوري دا(کافران) هغه څېزته چي ددوی په مخ کي دی اوهغه چي وروسته له دوی دی له آسمانه اوله ځمکي (اوله ټولو خواوو پردوی محیط دی) ځکه کله چي انسان هرلوري ته وګوري نوځمکه آسمان به مخ اوشاته ګوري اودغه دصانع ذات په وحدانیت یودلیل دی نوولي دوی سوچ نکوي چي همدغه ذات چي دغه آسمان یې پنځولی پدې توانادی چي دوی وروسته له مرګه راپاڅوي اوبیایې داسي تهدید وفرمایو ﴿ إِن نَّشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ ٱلْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ که چېري اراده وفرمایونوښېري به کړوپه دوی ځمکه (او غرق به یې کړو لکه قارون غوندي) اویابه وغورځوو پردوی یوه ټوټه له آسمانه (لکه چي دځنګل په خاوندانو مو وغورځوله نودوی چېري تښتېدلای شي؟ابن جوزي وایې معناداچي دوی که هرچېرته وي زموږ ځمکه اوآسمانورباندي راتاودي اوزه ورباندي قادریم که وغواړم په ځمکه به یې ننې باسم اوکه وغواړم له آسمانه به ورباندي تندر راوغورځوم(۲) ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَـَٔايَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ﴾ بېشکه په دغه (لیدلود آثارو دقدرت دالله اود وحدانیت کي یې) خامخادلائل دي لپاره دهربنده رجوع کونکي (الله ته او پندونه دي ، ابن کثیروایې مقصدیې دادی هغه الله چي ددې اوچتو آسمانونو په پیدا کولو قادر دی او هغه ذاتِ چي ددې پراخو پلنوځمکو په پیدا اینبت توانادی هغه داجسامو په بیرته راپاڅولو اوژوندي کولوهم قادردی چي خاوري ایرې هډوکي یوځای اوراژوندي کړي (۳) وروسته الله ﷺ دداؤد علیه السلام کیسه داسي کوي اوخپل سترفضل بیانوي ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ مِنَّا فَضْلًا ﴾ اوخامخاپه تحقیق موږ ورکړی وو داؤدته له جانبه خپله فضل (زیات بې اندازې) مفسرین کرام وایې چي دفضل معنا نبوت ، زبور اودغرونو اومرغانوتسخیر، داوسپني نرم والی اودزغرو

(۱) البحرالمحیط ۷/ ۲۵۹
(۲) زادالمسیر ۶/ ۴۳۵
(۳) ابن کثیر المختصر ۳/ ۱۲۲

جوړول دي ﴿ يَـٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُۥ وَٱلطَّيْرَ ﴾ (ومو فرمايل غرونو ته چي اى غرونو راوګرزوئ (ښه) غږونه خپل له ده سره (دتسبيح په وخت کي اوله ده سره به تسبيح ويله) مرغانوهم ؛ ابن عباس وايې چي کله به داؤدعليه السلام تسبيح ويله مرغانوبه هم ورسره زمزمه کوله اوچي کله به يې تلاوت کاوو ښا رويوبه ورته غوږ نيولى وو اوده ده تلاوت ته به يې اوښکي تويولې ځکه چي داؤد عليه السلام به ژړل (١) ﴿ وَأَلَنَّا لَهُ ٱلْحَدِيدَ ﴾ اوپسته کړي وه موږ ده ته اوسپنه (لکه خيشته اوړه قتاده وايې چي الله پاک داسي ورته اوسپنه پسته کړي وه چي اورته نيول يې نه غوښتل اونه يې په ټک سندان وهله هغه ته به لکه موم اولامده اوړه غوندي وه ﴿ أَنِ ٱعْمَلْ سَـٰبِغَـٰتٍ ﴾ چي جوړوه ارتي اوږدې ځغري (چي انسانان په جنګونو کي له مرګه ژغوري مفسرين کرام وايې چي اوسپنه به يې په لاس کي واخيستله اوهغه به ورته موم غوندي شوه هرډول چي به يې تاووله دهغه خوښه وه اوزغره به يې په يوڅه وخت برخه دورځي کي جوړوله چي يوزر درهمه بيه به يې لرله اوخپل لګښت به يې ترې کاوو اوصدقه به يې ځني ورکوله (٢) ﴿ سَـٰبِغَـٰتٍ ﴾ دمحذوف موصوف لپاره صفت دى چي تقديرېې داسي راځي (دروعًاسابغات) يعني اوږدې ارتي ځغري چي ګرد بدن پټوي اوڅه لازياتي هم په ځمکه ورسره کښېږي ﴿ وَقَدِّرْ فِي ٱلسَّرْدِ ﴾ اواندازه کوه په اوبدلو کي (چي کړۍ سره برابري وي) صاوي وايې معناداچي هره کړۍ بايد له بلي سره برابره وي داسي تنګه چي غشي ورځخه وتلاى نشي اوداسي سپکه چي په آغوستونکي باندي درنه نه وي (٣) ﴿ وَٱعْمَلُوا۟ صَـٰلِحًا ﴾ اوعمل کوئ تاسي دنېکيو (اى دداؤد ﷺ اهله دخپل پلار په عزت اوجاه باندي تکيه مکوئ ﴿ إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ بېشکه زه چي يم پرهغو کارونوچي تاسي يې کوى ښه ليدونکى يم (په هغو به جزآء درکړم. امام فخر رازي وايې چي: الله پاک داؤدعليه السلام ته اوسپنه داسي پسته کړه لکه موم اوشمع اودغه دالله قدرت ته آسانه ده اوسپنه په اورداسي ويلي کېږي لکه دليکلوسياهي نوڅوک عاقل به دالله له قدرته دغه مستبعداو ليري وګڼي ؟ (٤) هو داؤدعليه السلام لومړنى څوک وو چي ځغري يې کړۍ کړۍ جوړي اوبدلې اوتردې پخوابه داوسپني درنې تختې خلګواستعمالولې لکه چي الله فرمايې: ﴿ وَعَلَّمْنَـٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّنۢ بَأْسِكُمْ ﴾ (الانبيآء ٨٠) وروسته بيا الله هغه نعمتونه يادوي چي دهغه په زوى حضرت سليمان يې پېرزو کړي ووچي نبوت ، پاچهي او ستره مرتبه وه الله فرمايې: ﴿ وَلِسُلَيْمَـٰنَ ٱلرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ ﴾ (او(مسخرکړى مو وو) سليمان ته باد(سبائي دمنزل دهغه ديوې مياشتي اودبېګايي (منزل) دهغه ديوې مياشتي لاره وه) يعني سليمان ﷺ ته موبادهسي مسخرکړى ووچي دده په امربه چلېدوله سهاره ترماسپښينه مزل يې

---

(١) زادالمسير ٢ / ٤٣٦

(٢) القرطبي ١٤ / ٢٦٦

(٣) حاشية الصاوي على الجلالين ٣ / ٢٩٤

(٤) التفسيرالكبير ٢٥ / ٢٤٥

دیوې میاشتي دتګره مزل کونکي مسافه وه اوله ماسپښینه ترماښامه بیادیوې میاشتي وه. مفسرین کرام وایې الله بادورته تابع کړی ووچي اوږدې مسافې به یې په څوساعتونوکي وهلې حضرت سلیمان اولښکربه یې له یوه ښاره بل ته رسول دګردی ورځي منزل یې ددوو میاشتومسافه وه ﴿ وَأَسَلْنَا لَهُ عَيْنَ ٱلْقِطْرِ ﴾ اوبهولي مووه دده لپاره دمسوچینه ؛ مفسرین کرام وایې چي الله پاک حضرت سلیمان ته مس بهولي وولکه چي پلارته یې اوسپنه پسته کړي وه اودغه ددوی معجزې وې ﴿ وَمِنَ ٱلْجِنِّ مَن يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهِۦ ﴾ او(مسخرکړي مووده ته) له پېریانوهغه څوک چي کاربه یې کاوو په مخ دده کي په حکم درب دده (هغه کارچي بنیادمان به ځني عاجزوو) ﴿ وَمَن يَزِغْ مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا ﴾ اوهرڅاچي به سرکښي (څنګ) وکړله دوی له حکمه زموږ(اودسلیمان اطاعت به یې نه کاوو) ﴿ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴾ نووبه څکوو هغه ته (په آخرت کي) له عذابه داوره ، بیاالله دهغوی مکلفیتونه داسي بیانوي ﴿ يَعْمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ ﴾ جوړول دغو(پېریانو) دغه (سلیمان) ته هرهغه شی چي ده غوښت له هسکوکلاوو ﴿ وَتَمَٰثِيلَ ﴾ اوتمثالونه (عجیبه دښیښې اومسو، حسن رحمه الله وایې چي په هغه وخت کي تمثالونه ناروانه وواوزموږ په شریعت کي دسدذرائع لپاره ناروا اوحرام شول چي څوک یې پرته له الله عبادت ونکړي ﴿ وَجِفَانٍ كَٱلْجَوَابِ ﴾ اولوی لګنونه په شان دتالاب. ابن عباس وایې (کالجواب) معنالکه حوضونه ﴿ وَقُدُورٍ رَّاسِيَٰتٍ ﴾ اولوی دېګونه (ځای په ځای) په نغریوپراته. ابن کثیروایې چي (قدور راسیات)معناداچي غټ غټ دېګونه چي له ډېره لوی والي له ځایه خوځېدونکي نه وي [1].

﴿ ٱعْمَلُوٓا۟ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكْرًا ﴾ (عمل کوئ (دنېکي) ای دداؤد آله لپاره دشکر) یعني موږ ورته وفرمایل: چي دداؤدآله دالله په دغو نعمتونوشکروباسئ چي په داسي سترفضل یې ځانګړي کړي یاست اوداسي پراخه جاه اوجلال یې درکړی دی ﴿ وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِىَ ٱلشَّكُورُ ﴾ اولږدي له بندګانوزما شکرایستونکي. ابن عطیه وایې چي پدې کي دالله په شکرکولو باندي تنبیه اوتحریض دی [2] وروسته الله تعالی دحضرت سلیمان دمرګ پېښه داسي څېړي ﴿ فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَوْتَ ﴾ کله چي حکم وکړ موږ پرسلیمان دمرګ (اومرګ ورته راغی) ﴿ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ مَوْتِهِۦٓ إِلَّا دَآبَّةُ ٱلْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُۥ ﴾ نوهېڅاخبرکړی نه ووغه پېریان په مرګ ددغه (سلیمان) مګردځمکي چینجي (وینو) هغه چي لرګي خوري اودسلیمان ﷺ لکړه یې وخوړه) ﴿ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ ٱلْجِنُّ أَن لَّوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ٱلْغَيْبَ ﴾ پس کله چي ولوېدو(سلیمان ﷺ په ځمکه نومعلوم شوپېریانوته که چېري دوی پوهېدلای په (علم د) غیب (لکه چي

---

[1] مختصرابن کثیر ۳ / ۱۲۴
[2] القرطبی

گمان يې کاوو) ﴿ مَا لَبِثُواْ فِي ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ ﴾ نونه به يې تېروله (دغه اوږده موده په شاقه اعمالواو) عذاب دمشقت سپکونکي کي. مفسرين کرام وايې چي انسانانوبه ويل چي پېريان په علم دغيب پوهېږي هغه چي په راتلونکي کي پېښېږي نوسليمان عليه السلام پخپل محراب کي په لمانځه ولاړاوپه لکړه يې تکيه کړي وه اوپه دغه حالت کي يې ساپوکړه تريوه کاله پوري په دغه حالت پاتي شواوپېريانانو هغه ورسپارل شوي کارونه هغسي سرته رسول څوک يې په مړينه خبرنه وو آن تردې چي دځمکي چينجي (وينو) دده همساوخوړه اوسليمان عليه السلام راولوېدونودوی ته يې مرګ معلوم شو اوانسانانوچي پدې معتقدووپېريان په غيبوپوهېږي هم دغه عقيده بايلوده اوپدې پوه شول که چېري پېريانانوته غيب معلومېدی دادومره وخت به يې په دغوشاقه کارونوکي نه تېراوو چي دوی ګمان کاوو حضرت سليمان ژوندی دی اوهغه په واقعه کي مړوو.

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱- ددواړوخواووتعريف دحصردافادې لپاره لکه ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ﴾ اومعنايې داچي دکامل حمد مستحق له الله پرته بل څوک نشته.

۲- دطباق صنعت ﴿ يَلِجُ ﴾ ترمينځ اود ﴿ يَخْرُجُ ﴾ ترمينځ.

۳- دمبالغې صيغې ﴿ وَهُوَ ٱلرَّحِيمُ ٱلْغَفُورُ ... وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْخَبِيرُ ... وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِيَ ٱلشَّكُورُ ﴾.

۴- دمقابلې صنعت په مينځ ﴿ لِّيَجْزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ اود ﴿ وَٱلَّذِينَ سَعَوْ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ ﴾ ځکه چي مغفرت اورزق کريم يې دمحسنينولپاره جزاء اوعذاب اورجز أليم يې دمجرمينولپاره سزاوټاکله.

۵- استفهام داستهزآء اومسخرولپاره لکه ﴿ هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ ﴾ اومقصدپه رسول الله باندي استهزآء ده اونوم يې يادنکړلکه چي هغه مجهول انسان وي دغه ددوی له لوري په تجهيل کي امعان دی.

۶- دتضخيم لپاره تنکيرلکه ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ مِنَّا فَضْلًا ﴾ يعني سترفضل اوداؤديې په صريح مفعول باندي ځکه مقدم اوړومبی راوړ چي په ړومبي اهتمام اودمؤخر لپاره تشويق افاده کړي.

۷- ايجاز بالحذف لکه ﴿ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ ﴾ يعني سبايې تګ يې ديوې مياشتي واټن وو اودبېګاه تګ يې ديوې مياشتي مسافه وه.

۸- تشبيه چي فرمايې ﴿ وَجِفَانٍ كَٱلْجَوَابِ ﴾ چي دې ته مرسله مجمله تشبيه وايې ځکه دتشبيه ادات اوتوری راغلی خود شبه وجه حذف شوی ده.

الله تعالی فرمايي:

﴿لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ ءَايَةٌ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٍ وَشِمَالٍ كُلُوا مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوا لَهُ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُورٌ ﴿١٥﴾ فَأَعْرَضُوا فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنَاهُم بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ أُكُلٍ خَمْطٍ وَأَثْلٍ وَشَيْءٍ مِّن سِدْرٍ قَلِيلٍ ﴿١٦﴾ ذَٰلِكَ جَزَيْنَاهُم بِمَا كَفَرُوا وَهَلْ نُجَازِي إِلَّا الْكَفُورَ ﴿١٧﴾ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا قُرًى ظَاهِرَةً وَقَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ سِيرُوا فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا ءَامِنِينَ ﴿١٨﴾ فَقَالُوا رَبَّنَا بَاعِدْ بَيْنَ أَسْفَارِنَا وَظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ فَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيثَ وَمَزَّقْنَاهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿١٩﴾ وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَمَا كَانَ لَهُ عَلَيْهِم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يُؤْمِنُ بِالْآخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِي شَكٍّ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ ﴿٢١﴾ قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِن شِرْكٍ وَمَا لَهُ مِنْهُم مِّن ظَهِيرٍ ﴿٢٢﴾ وَلَا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ عِندَهُ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ حَتَّىٰ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوا الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ﴿٢٣﴾ ۞ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ قُلِ اللَّهُ وَإِنَّا أَوْ إِيَّاكُمْ لَعَلَىٰ هُدًى أَوْ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ قُل لَّا تُسْأَلُونَ عَمَّا أَجْرَمْنَا وَلَا نُسْأَلُ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٥﴾ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيمُ ﴿٢٦﴾ قُلْ أَرُونِيَ الَّذِينَ أَلْحَقْتُم بِهِ شُرَكَاءَ كَلَّا بَلْ هُوَ اللَّهُ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٩﴾ قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَأْخِرُونَ عَنْهُ سَاعَةً وَلَا تَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٠﴾ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن نُّؤْمِنَ بِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَلَا بِالَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الظَّالِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ الْقَوْلَ يَقُولُ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لَوْلَا أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا أَنَحْنُ صَدَدْنَاكُمْ عَنِ الْهُدَىٰ بَعْدَ إِذْ جَاءَكُم بَلْ كُنتُم مُّجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا بَلْ مَكْرُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ إِذْ تَأْمُرُونَنَا أَن نَّكْفُرَ بِاللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُ أَندَادًا وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ وَجَعَلْنَا الْأَغْلَالَ فِي أَعْنَاقِ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٣٣﴾﴾ سبا: ١٥ ـ ٣٣

مناسبت:

کله چې الله تعالی د شکر کونکو حال د حضرت داؤد او سلیمان علیهما السلام د یادولو په ترځ کې بیان کړ وروسته یې دهغه چایادونه راوړه چې ناشکره او د نعمت کفران کونکي وو او د سبأ د خلګو کیسه یې د قریشو لپاره د پند په توګه ذکر کړه تر څو د دوی لپاره تحذیر او تنبیه وي چې څوک د الله د نعمتونو شکرنه

اداکوي داسي به د مصيبتونو او کړاوونو ورته رامخه وي په پای کي بې د مکې کفاروته د الله نعمتونه ور یادکړل ترڅو د الله عبادت وکړي او شکر يې پرځای کړي.

لغتونه:

(سبأ) دعربویوه قبیله چي په یمن کي اوسېدله او دخپل نیکه په نامه چي (سبأ بن شیجب بن قحطان) نومېدو یادېږي (العرم) بند، نحاس وايي هغه باران چي ددوغرونو په مینځ کي یوځای غونډه او په وړاندي بې حاجز وي (عرم) بلل کېږي (١) (خمط) بې خونده، تریخ. زجاج وايي هروابنه چي له تریخوالي څخه نه خوړل کېږي (خمط) دی او مبرد وايي هره ګیاه چي بدخونده وي (خمط) دی او شیدې چي ترشي شي هم (خمط) بلل کېږي (أثل) هغه ونه چي مېوه نلري فراء وايي چي دغه له (طرفاء) وني سره ورته دی (خو طرفاء) غټه او لوړه ده او له هغې څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د محراب منبرجوړ شوی دی مفرد يې (أثلة) راځي (سدر) فراء وايي چي دغه (سرو) ده او أزهري وايي سدر دوه ډوله دی یو يې هغه چي دهیڅ ښمرنه وي نه يې له پاڼو څخه د مینځلو لپاره کار اخیستل کېږي او نه يې هم مېوه دخوړلو وي او بله هغه ده چي په اوبو راشنه کېږي مېوه يې دخوړلو وړ او پاڼي يې د پرې مینځلو لپاره په کار ېږي (٢) (ظهير) مرستندوی (الفتاح) قاضي او حاکم ته وايي.

تفسیر:

﴿لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ ءَايَةٌ﴾ (خامخا په تحقیق وو خلکو د سبا ته په ځای د هستوګني ددوی کي یوه نښه) لام د قسم لپاره توطئه دی یعني په الله قسم چي د سبأ قوم ته ددوی په هستوګنځي یمن کي د الله په قدرت یوه لویه نښه دلالت کونکي ورکول شوي وه چي الله به نیکو کارته دنېکي او بد کردارته د بدي سزا ورکوي ځکه کله چي د سبأ تېرد الله د نعمتونو کفران وکړ نو الله بې پاچهي ورانه او یووالی يې تار په تار کړ او دهغو لپاره چي پند اخلي د پند او عبرت نښه يې وګرزول الله دهغوی نعمت داسي ستايې:

﴿جَنَّتَانِ عَن يَمِينٍ وَشِمَالٍ﴾ دوه باغونه دي له ښي او کیڼ (طرف د مېنو ددوی چي په مېوو پُر او معمور دي، قتاده وايي چي ددوی باغونه په ونو او مېوو ډک ووچي خلګ به بې په مېوو کي خوښ او خوشحاله روښځه به چي تر ونو لاندي تېرېدله او په سر به يې ټوکرۍ، لګن، یاتال ایښی وو بې له دې چي مېوې راوشکوي تال به يې ډک شو ځکه چي هغه به پخې او ډېري وې (٣) بیضاوي وايي چي یوازي دوه باغونه نه بلکه دباغونو دوه سلسلي ټولګۍ وې یوه ټولګه دباغونو د ښار له ښي اړخه او بله له کیڼ اړخه او ځکه بې هري یوې ته باغ ووایو چي باغونه يې سره تت اونژدې وو داسي ایسېدل ته به واټرله ټولګۍ یو باغ دی (٤) ﴿كُلُوا۟ مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَٱشْكُرُوا۟ لَهُۥ﴾ (اوو موویل دوی ته دانبیاوو په ژبه) خورئ تاسي له رزق

(١) القرطبي ١۴/ ٢٨٢ - په معجم الوسیط کي زبردست سېلاب ته وايي.
(٢) البحر المحیط ٢۵٢
(٣) القرطبي ١۴/ ٢٨٢
(۴) حاشیه شیخ زاده علی البیضاوي ٣/ ٨۵ - الکشاف ٣/ ۴۵۴.

روزي درب ستاسي او شکروباسئ دغه (الله) ته (په دې نعمتونو باندې) ﴿ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُورٌ ﴾ (١٥)
ښاردی ډېرپاکیزه اودغه (رب دتاسي) رب دی ډېربښونکی) یعني دغه ستاسو ښارچي پکي اوسی ډېرپاکیزه ، حاصل خېزه ځمکه، ښکلي هوا ، زیاتي مېوې لرونکي باغونه اوهغه پروردګار چي تاسو ته يې دغه روزي درکړي اوډشکرامریې درته کړی دهغه چالپاره چي شاکروي ډېربښونکی دی ﴿ فَأَعْرَضُوا فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ ﴾ پس وګرزېدل (له شکره اوله دعوته دانبیاوو أهل د سبا) پس ومولېږو پردوی سېلاب دیوزورور خوړ (هغه چي مخه يې هیڅ نه نیول کېده اوددوی کورونه اوباغونه يې لاندي کړل طبري وايې کله چي دوی دانبیاوو له تصدیق څخه مخ واړاوو نودغه بندمات شو کوم چي له دوی څخه به يې دسېلابونو مخه نیوله اوبیايې اوبه ددوی په ځمکو اوباغونو ور وختلې اوهغه يې له مینځه یوړل (١) ﴿ وَبَدَّلْنَاهُم بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ أُكُلٍ خَمْطٍ ﴾ (اوبدل ورکړ موږ دوی ته په ځای ددوو باغونودوی کي دوه باغونه نور خاوندان دمېوو بې مزې ترخو) یعني ددوی دغودووښایسته باغونو په بدل کي مودوه وچ اودترخو مېوو دوه باغونه ورکړل ﴿ وَأَثْلٍ وَشَيْءٍ مِّن سِدْرٍ قَلِيلٍ ﴾ اوښوره ګز (هغه ونه چي له مېوې څخه يې ګټه نه اخيستل کېږي) اویوه اندازه له بېرو هم خوډېرلږ. امام رازي وايې : الله ﷻ سېلاب ورباندي راووست چي مالونه يې ډوب کړل اوودانۍ يې ور ورانۍ کړې هغه وايې (خمط) هغې ونې ته وايې چي اغزي لري اومېوه يې ترخه وي او(اثل) د (طرفآء) ونې له ډولونو څخه یوډول دی هغه له کله کله پرته هروخت مېوه نلري اومېوه يې بېخونده او بې مزې ده (سدر) بېروته وايې اوچي په (قلیل) يې وستايوځکه هغه يې ترګردوونو ښایسته او خوندوره ورته پاته وه اوالله تعالی دورانۍ ډول په آیت شریف کي انځور کړی هغه داچي کوم باغونه چي هلته خلګ ځنې ولېږدي نوبیا ځنګل ترې جوړشي خیني ونې په ځینوراتاوشي مېوه لرونکي ونې له مینځه لاړي شي اوبې ګټې ګیاوې پکي رازرغونې شي (٢) مفسرین کرام وايې چي دغه بدل ته يې هم باغونه وویل پدې کي دتهکم یولړشته ځکه هغه ځایونه چي پکي ښوره ګز اوبې خونده نبات یاڅه بېرې وي باغونه نشي بلل کېدای خودغه تعبیردمشاکلت په هکله راغلی دی ﴿ ذَٰلِكَ جَزَيْنَاهُم بِمَا كَفَرُوا ﴾ دغه سخت (عذاب) جزاء ورکړه موږ دوی ته په سبب دهغې چي کافر ن شوي وو ﴿ وَهَلْ نُجَازِي إِلَّا الْكَفُورَ ﴾ اوآیاموږجزاء ورکوو ؟ (بلکه نه يې ورکوو) مګرناشکره ته (چي په کفر کي وروستي پړاوته رسېدلي وي. مجاهدوايې چي الله مؤمن ته هسې سزانه ورکوي بلکه ګناهونه يې رژوی (محو) کوي اوکافرته په هره بدې سزاء ورکول کېږي (٣)
﴿ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا قُرًى ظَاهِرَةً ﴾ او ګرزولي موږ په مینځ ددوی (أهل دسبا) اوپه مینځ دهغو کلیوښارونوکي چي موږ پکي برکت اچولی وو کلي ښارونه ښکاره. دغه دنعمتونو

---

(١) نفس المرجع
(٢) القرطبي ١٤ / ٢٨٨
(٣) الكشاف ٣ / ٤٥٥

دبشپړتيا يوه بله بېلګه ده چې موږ د دوی د کليو او ښارونو او د شام د کليو هغه چې موږ پکې برکت اچولی وو ترمينځ پرله پسې کلي کلي ګرزولي وو چې ځيني به يې له ځينو نورو څخه ليدل کېدل ځکه چې سره نژدې وو او مسافروته به له ورايه ښکاريدل ﴿وَقَدَّرْنَا فِيهَا ٱلسَّيْرَ﴾ او په اندازه کړې وو موږ په هغو کې منازل (د تګ راتګ) له يوه کلي تر بله) ﴿سِيرُوا۟ فِيهَا لَيَالِىَ وَأَيَّامًا ءَامِنِينَ﴾ (ومو فرمايل چې) ځئ راځئ په دغه کليو (ښارونو) کې دشپې اوورځې بېغمه په آمان (له هره آفته) زمخشري وايې چې دسهار مسافربه دغرمې خوب په دابل کلي کې کاووا ود ماښام مسافربه شپه هغه بل کلي ته رسوله ترڅو به شام ته ورسېدل نه به له لوږې تندي او نه به له دښمنه وېرېدل نه به يې دلارې توښې اخيستلو ته اړتيا وه کرار بېغمه به تلل راتلل هيڅ اندېښنه به يې نه وه (١) ﴿فَقَالُوا۟ رَبَّنَا بَٰعِدْ بَيْنَ أَسْفَارِنَا﴾ (پس دوی وويل: ای زموږ ربه لېرې والی پيدا کړه زموږ د منازلو (سفرونو) په مينځ کې) يعني دوی دالله د نعمتونو مقابله په کفران سره وکړه اوله نعمت ، سوکالي او عافيته ماړه شول نو يې له الله څخه دستوماني غوښتنه وکړه چې کلي سره ليري کړې او بيا شو دوی په دښتو مېږوکې سفرونه کوي نو الله يې غوښتنه ومنله او کلي يې ګرد کنډوالې اوبېدياوي شوې ﴿وَظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ﴾ او ظلم يې وکړ په خانونو خپلو (چې دنعمتونو کفران يې وکړ اوراحت يې په زحمت بدل کړ) ﴿فَجَعَلْنَٰهُمْ أَحَادِيثَ﴾ پس وګرزول موږ دغه (أهل سبا) کېسې افسانې (چې له دوی وروسته به يې خلګ يوبل ته کوي) ﴿وَمَزَّقْنَٰهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ﴾ او تارپه تارموکړل دوی په پوره تارپه تارکېدلو (په ښارونو کې) ﴿إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ﴾ بېشکه په دغه (تارپه تارکېدلو ددوی کې) خامخالوی دلائل دي لپاره دهرښه صبرکونکي دهرشکرکونکي ، مقصدله کيسې دسبأ څخه دخلګوله ناشکري څخه وېرونه ده ترڅوپر دوی هسې عذاب رانشي کوم چې دسبأ په خلګو راغلی ووځکه متل ګرزېدلی چې وايې (هسې له ګوتووتل لکه دسبأ نعمتونه) او بيا الله تعالی دمشرکانو د ګمراهي سبب داسې يادوي ﴿وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُۥ﴾ او خامخا په تحقيق رښتيا وموند پردوی ابليس ګمان خپل (چې ويل يې زه کولای شم دوی دباطلو شيانو په ښايسته څرګندولو تېرباسم (وغولوم) او سوګند يې اخيستی وو چې: ﴿وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ (الحجر ٣٩) نو هغه ګمان يې رښتيا شو. مجاهد وايې معنادا چې ګمان يې وکړی او هغه همداسې شو لکه چې ده ګمان کړی وو نو ګمان يې رښتيا شو (٢) ﴿فَٱتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ پس متابعت وکړ دوی ټولو ددغه (ابليس) مګرنه يوې ډلې (چې هغه فرقه ده) دمؤمنانو. قرطبي وايې: معنادا چې څوک مؤمنان خوندي ترې پاتې نشول مګريوه ډله . اوله ابن عباس څخه روايت راځي چې دغه ټول مؤمنان دي نوبيا به (من) دتبيين لپاره راځي دتبعيض لپاره به نه وي ، داچې ابليس دخپل ګمان په رښتيا کېدلو باور درلود هغه خوپه غيبو عالم نه وو هو کله چې ده دآدم ﷺ په هکله خپل فرېب بريالی وموند نو يې ګمان وکړ چې

(١) الکشاف ٣/ ٤٥٥
(٢) الطبري ٢٢/ ٦٠

داولادي په هكله يې هم تدبيراو چل ول ببخي پر ځاى دى او همداسي يې گمان رښتونى شو(١) ﴿ وَمَا كَانَ لَهُۥ عَلَيْهِم مِّن سُلْطَٰنٍ ﴾ اونه وودغه (ابليس ته) پردوى تسلط (په وسوسه اوښويولو) ﴿ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يُؤْمِنُ بِٱلْءَاخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِى شَكٍّ ﴾ مگر خاص لپاره ددې چي معلوم كړو (په علم الشهود لپاره دبندگانو) همغه څوك چي ايمان په آخرت راوړي له هغه چا څخه چي هغه له دې آخرت څخه په شك كي وي (اوبياهريوه ته پخپل عمل جزا ور كړو). قرطبي وايې معناداچي ابليس په زوره كافران كړي نه دي بلكه يوازي بلنه اوتزئين يې ورته كړى (٢) حسن بصري رحمه الله وايې چي په الله سوگند دى كه به شيطان څوك په همساوهلى وي اويابه يې په زوره څه ور باندي تپلي وي خويوازي په تېرايستلو اوآرزوگانو يې څوك غولولى اوهغوى هم منلي دي (٣) ﴿ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ حَفِيظٌ ﴾ اورب ستا په هرڅېز باندي ښه ساتونكى دى ، هيڅ كړه وړه د بندگانوور څخه پټ نه دي دهغوى نيتونه اوحالات ورته معلوم دي صاوي وايې چي شيطان داغواء سبب دى اوخالق يې نه دى نويوڅوك چي الله غواړي له شيطانه يې وژغوري شيطان ځني منع كوي او چاته چي دالله خوښه شي چي له لاري ووزي شيطان ورباندي مسلط كړي اوټول دالله فعل دى (٤) اودغه دشيطان په مسلط كولو كي دالله ﷻ حكمت په انسانانوباندي ابتلاء اوازموينښت دى ترڅوناولي له پاكيزه څخه بېل كړي اومقصد په (لنعلم) سره داچي موږ خلگوته خپل علم وروښيو ځكه الله خوپه هغو گردوشيانوچي پخواشوي اوياكېږي عالم دى ﴿ قُلِ ٱدْعُوا۟ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ ووايه (اى محمده دوى ته) چي وبولئ تاسي هغه معبودان چي گمان به كاوو تاسي (پردوى دخدايانو) غيرله الله ، ويې بولئ چي گټه درته ورسوي اوتاوان درڅخه دفع كړي . ابوحيان وايې چي دخدايانوپه بلنه امر كول دتعجيزلپاره دى اوداچي پردوى دليل قائم شي(٥) ﴿ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ﴾ چي نلري دوى اختيار په اندازه ديوې ذرې (دخيررسولو ياتاوان دفع كولو) ﴿ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ (نه) په آسمانو كي اونه په ځمكه كي (بلكه په ټولو كائناتو كي) په يوڅېزهم قادرنه دي ﴿ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِن شِرْكٍ ﴾ اونشته (دغومعبودانوددوى ته) په دغو (علوياتو اوسفلياتو)كي څه شراكت(له الله سره په پيداينښت ، ملكيت اوتصرف كي) ﴿ وَمَا لَهُۥ مِنْهُم مِّن ظَهِيرٍ ﴾ اونشته دغه (الله) ته له دوى نه هيڅ مددگار(چي دځمكي آسمان په كارونو كي ورسره تدبيروكړي بلكه يوازي الله تعالى دى چي پيداينښت اونېستي يې گرده په واک كي ده . كله چي الله له دغوبتانو معبودانوڅخه دخلقيت او

(١) القرطبي ١۴/ ٢٩٢
(٢) القرطبي ١۴/ ٢٩٢
(٣) مختصرابن كثير ٣/ ١٢٨
(۴) حاشيه الصاوي ٣/ ٢٩٨
(٥) البحرالمحيط ٧/ ٢٧٥

ملکیت درلودل نفی کړل وروسته یې شفاعت هم نفی کړاوویې فرمایل: ﴿ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُۥ ﴾ او نه رسوي هيڅ نفع شفاعت سپارښت په نزدد الله کي (نه نبی او نه پاچا) مګر (شفاعت) دهغه چاچي اذن ورکړی (الله) هغه ته ، نودوی بیاځرنګه ګمان کوي چي ددوی خدایان به یې شفاعت وکړي؟ ابن کثیر وایې چي: دالله له جلال کبریااوعظمت سره هیڅوک ددې زړه ورتیانشي کولای چي دیوچا سپارښت وکړي مګرهلته یې کوي چي الله ﷻ ورته اجازه وکړي لکه چي الله تعالی فرمایې:

﴿مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ﴾ (البقره ۲۵۵) اوداقول دالله تعالی: ﴿ وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرْتَضَىٰ ﴾

(الانبیاء ۲۸) اوځرنګه به شفاعت درسول الله ﷺ دهغه دسترمقام دښووني لپاره ورکول کېږي هغه ترګردوسترشفاعت کونکي دی او دا به هغه څه وي چي کله مقام محمودورکول شي او ټولو خلکو په باب سپارښتنه اوشفاعت وکړي (۱) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ ﴾ ترهغه پوري کله چي پورته کړی شي وېره له زړونو ددوی (چي انبياء او پرښتې دي) ﴿ قَالُوا۟ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ ۖ قَالُوا۟ ٱلْحَقَّ ﴾ (وايې (ځيني ددوی ځينونوروته) چي څه حکم و فرمايل رب ستاسي ؟ نووايې دوی چي حق يې وفرمايل) يعني دوی پخپلو مينځونوکي وايې چي الله ﷻ دشفاعت په هکله څه وفرمايل نوهغوی ځواب ورکړي چي دمؤمنانو دشفاعت لپاره يې اجازت ورکړ. قرطبي وايې چي : الله به انبياوواوپرښتوته دشفاعت اجازه ورکړي اودوی به له الله څخه سخت په وېره اوترهه کي وي چي هسي نه له دوی څخه کومه کوتاهي وشي خوکله چي دغه رعب اودهشت ورڅخه ولاړشي نوبه له پورتنيوپرښتوڅخه وپوښتي چي ستاسي رب څه وفرمايل ؟ څه حکم يې صادر کړ هغوی به ووايې حق يې وفرمايل يعني دمؤمنانو لپاره د شفاعت اجازه يې ورکړه (۲) ﴿ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴾ اوهمدغه (الله) ډېرلوی اوډېرپورته دی. ابوالسعود وايې چي دغه دشفاعتګرودوينا بشپړبدل دي چي دوی دالله جل شانه په سترعظمت اعتراف کوي چي هيڅوک به هيڅ ويناهم دالله له اجازې پرته نشي کولای (۳) وروسته الله دمشرکانو توبيخ پدې چي غيرله خالق اورازق الله څخه دبل چاعبادت کوي داسي فرمايې ﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ ﴾ ووايه (دوی ته ای محمده) چي څوک روزي درکوي تاسي ته له (جانبه د)آسمانونو اوځمکي؛ په باران اورېدلو اوله ځمکي دمېوودانو په رازرغونولو ﴿ قُلِ ٱللَّهُ ۖ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته) الله (مو رازق دی نه ستاسي معبودان. ابن الجوزي وايې اوداچي رسول الله ﷺ ته يې امر وفرمايوچي له کفارو څخه دغه پوښتنه وکړه ترڅوپردوی باندي احتجاج وشي چي : هغه څوک دعبادت وړاومستحق دی چي روزی رسان وي اودی هم له الله بغير بل روزي رسان نه مني ځکه نوځواب هسي وشو چي (الله) ځکه هغوی پرته له دغي وينابل

(۱) مختصرابن کثير ۳ /۱۲۹
(۲) القرطبي ۱۴ /۲۹۵
(۳) ابوالسعود ۴ /۲۳۱

خواب هدونلري (١)﴿ وَإِنَّآ أَوْ إِيَّاكُمْ لَعَلَىٰ هُدًى أَوْ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ او بېشکه موږ (چي مؤمنان يو) او تاسي (چي منکران ياست) خامخا پر سمي صافي لاري کي يو؟ يا په ګمراهي ښکاره کي يو؟ (وروسته به معلومېږي) او دغه د انصاف هغه وروستی سرحد دی چي څوک يې له مقابل لوري سره کوي؛ ابو حيان وايې چي دغه کلام يې شکمن وو او يو سره له دې چي څوک الله مني هغه يقيناً په سمه لاره دی او څوک چي د ډبرو عبادت کوي هغه بې لاري او ګمراه دی ددې لپاره چي په دعوی کي تلطف او نرمښت وښيي او ددوی ګمراهي ته تعريض وکړي او دغه تر تصريح کولو لازيات دی او همداسي عرب وايې چي (أخزى الله الكاذب منى ومنک) يعني زما او ستا دروغجن دی الله وشرموي سره له دې چي هغه ښه پوهېږي مقابل لوری دروغجن دی ﴿ قُل لَّا تُسْـَٔلُونَ عَمَّآ أَجْرَمْنَا وَلَا نُسْـَٔلُ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ ووايه دوی ته ای محمده!) وبه نه پوښتېدلی شی تاسي له هغو بديو چي موږ کړي وي (همداسي) نه به پوښتېدلی کېږو موږ له هغو (بديو) چي تاسي يې کوی (بلکه هر څوک به پخپله ګناه سزا مومي او دغه په مجادله کي نور زيات پستوالی او تلطف دی. زمخشري وايې چي دغه تر هغه رومبني لازيات عدل او انصاف دی ځکه چي ګناه د (اجرام) يې ځانته ثابت کړه او (عمل) يې هغوی ته (٢)﴿ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِٱلْحَقِّ ﴾ ووايه (ای محمده!) چي جمع به وکړي په مينځ زموږ کي رب زموږ بيا فيصله به وکړي زموږ په مينځ کي پر حقه (په ورځ د قيامت کي) ﴿ وَهُوَ ٱلْفَتَّاحُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ او هم دی دی ښه فيصله کونکي ښه عالم (چي په هيڅ ظلم نکوي او د خلګو ټول حال احوال ورته معلوم دی د حق پلويان به جنت ته او د باطل به دوزخ ته واچوي) ﴿ قُلْ أَرُونِيَ ٱلَّذِينَ أَلْحَقْتُم بِهِۦ شُرَكَآءَ ﴾ ووايه (دوی ته ای محمده!) را وښيئ ماته هغه (معبودان) چي پيوسته کړي دي تاسي له دغه (الله) سره شريکان؟ (په عبادت کي چي زه وګورم په څه صفت تاسو د عبادت مستحق ګڼلي سره له دې چي هيڅ ورته والی نلري. ابو السعود وايې چي په دغه کي زيات تبکيت دی چي ورباندي حجت راوړل شي (٣)﴿ كَلَّا ۚ بَلْ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ (نه دی داسي (هيڅوک له الله سره (شريک ورته دی) بلکه هم دغه الله دی ښه زورور قوي (په انفاذ دامر) ښه حکمت والا (په تدبير د چارو د خلګو) يعني داسي نه دی لکه چي تاسو ګمان کوی له الله سره شريکان نيسی بلکه الله واحد الاحد دی هيڅوک ورسره په الوهيت کي شريک نشته ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ﴾ او نه يې لېږلی موږ ته مګر په دې حال کي چي جامع يې خلګو ته زېری ورکونکی (د جنت مؤمنانو ته) او وېرونکی (له دوزخ کافرانو ته) يې (يعني يوازي عربو ته مو استولی نه يې) ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ وليکن اکثر خلګ (له کفارو) نه پوهېږي پدې باندي او خپل

---

(١) تفسير ابن الجوزي
(٢) الكشاف ٣-٤٥٥
(٣) تفسير ابو السعود

جهل او ناپوهي يې دي ته اړباسي چې ګمراهي او ضلالت غوره کړي ﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ او وايي (کفار په ملنډو او په استهزآء) مؤمنانو او پيغمبر ته چې) کله به وي دغه وعده (دعذاب چې موږ پرې وېروی) که چېري تاسي رښتني ياست (نورايې ولئ) ﴿ قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَـْٔخِرُونَ عَنْهُ سَاعَةً وَلَا تَسْتَقْدِمُونَ ﴾ ووايه (اى محمده دوی ته) چې (مقرره) دی تاسي ته وعده ديوې ورځي (په نازلېدلو د عذاب) چې نه به وروستى کېږي له هغې ورځي دچاپه غوښتنه) او نه به تاسي ترې ړومبی کېږی (د چاپه وړاندېز باندي)نو دعذاب په راتلوکي تلواره مکوئ ، وروسته الله ددوی دعناد او تکذيب هغه وروستی پړاو داسي بيانوي ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَن نُّؤْمِنَ بِهَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ وَلَا بِٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ ﴾ او وايې هغه کسان چې کافران شوي دي له سره به ايمان رانه وړو په دغه قرآن او نه په هغو کتابونو چې تر دې پخوا راغلي (او په بعث او نشور باندي دلالت کوي) ﴿ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ او که وويني ته (اى محمده په آخرت کي) کله چې دغه ظالمان ودرول شي په نزد درب ددوی (دحساب لپاره) ﴿ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ ٱلْقَوْلَ ﴾ چې اړوي به ځيني ددوی له ځينو نورو سره خبري (او ملامتي به سره تبادله کوي د(لو) جواب محذوف دی او هغه دا چې خورا سترهيبت ناک حالت به وي ﴿ يَقُولُ ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ لَوْلَآ أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ ﴾ وبه وايې هغه (تابعان) چې ضعيف ګڼلی شوي وو هغو (متبوعانو) ته چې تکبر به يې کاوو چې که نه وای تاسي (منع کونکي موږ لره له ايمانه) نو خامخا موږ به مؤمنان وو ﴿ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوٓا۟ أَنَحْنُ صَدَدْنَٰكُمْ عَنِ ٱلْهُدَىٰ بَعْدَ إِذْ جَآءَكُم ﴾ وبه وايې هغه (متبوعان) چې تکبر به يې کاوو دپاره دهغو کسانو چې عاجزان شوي وو آيا موږ منع کړي وی تاسي له سمي لاري پس له هغه چې راغلی وو تاسي ته (هدايت؟) دغسې نه ده) ﴿ بَلْ كُنتُم مُّجْرِمِينَ ﴾ بلکه تاسي پخپله مجرمان (کافران) وی ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ بَلْ مَكْرُ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ﴾ او وبه وايې هغه کسان چې عاجزان ګڼلی شوي وو هغو (رئيسانو ته) چې تکبر به يې کاوو بلکه دا فرېب (ستاسي وو) دشپې او دورځي (چې موږ مو له ايمانه راګرزولو) ﴿ إِذْ تَأْمُرُونَنَآ أَن نَّكْفُرَ بِٱللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُۥٓ أَندَادًا ﴾ کله چې تاسي به موږ ته امر کاوو (هر وخت داسي) چې موږ په الله کافران شو او پيدا کړو دغه (الله) ته شريکان (که تاسو موږ ته دغه لاره ښايسته کړي نه وای موږ به هم کافران شوي نه وو) ﴿ وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ﴾ او پټه به کړي دغه (تابعان) او متبوعان يو له بله) خپله پښېماني کله چې عذاب ووينې (چې ولي يې ايمان نه راووړ ؟ او دغه پټول به يې له دې وېرې وي هسي نه چې څوک پېغور ورکړي) ﴿ وَجَعَلْنَا ٱلْأَغْلَٰلَ فِىٓ أَعْنَاقِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ او وبه ګرزوو ځنځيرونه (د اور) په غاړو دهغو کسانو کي چې کافران شوي دي (زيات دا ورپه

عذاب باندي) ﴿ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ آيا دوی ته به جزاء ورکوله شي؟ (بلکه نه ورکول کېږي) مګر خود همدغو (عملونو) چي دوی (په دنيا کي) کول (چي کفروو).

بلاغت:

پدې آيتونو کي چي د بديع او بيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱ – د طباق صنعت چي د ﴿ يَمِينٍ ...وَشِمَالٍ ﴾ ترمينځ او د ﴿ بَشِيرًا ...وَنَذِيرًا ﴾ ترمينځ او د ﴿ تَسْتَئْخِرُونَ ... تَسْتَقْدِمُونَ ﴾ ترمينځ او د ﴿ ٱسْتُضْعِفُوا ... ٱسْتَكْبَرُوا ﴾ ترمينځ راغلي دغه له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

۲ – اشتقاقي جناس ﴿ وَقَدَّرْنَا فِيهَا ٱلسَّيْرَ سِيرُوا ﴾ په کلام کي ځکه د ﴿ سِيرُوا ﴾ کلمه له سير څخه مشتق ده.

۳ – د تعجيز صنعت چي د جماداتو بلنه ده کله چي فرمايي ﴿ قُلِ ٱدْعُوا ٱلَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ دغه بتان معبودان خو بلنه نه اوري او دغه ته تعجيزوايي.

۴ – توبيخ او تبکيت پدې کلام کي چي ﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ راغلی دی.

۵ – د خبر حذف چي د کلام سياق ورباندي دلالت کوي لکه ﴿ قُلِ ٱللَّهُ ﴾ چي بشپړ تقديريې داسي دی (قل الله الخالق الرازق للعباد) او په دغه محذوف باندي د آيت شريف سياق دلالت کوي چي پخواتېر شوی دی.

۶ – د مبالغې په صيغو سره د مبالغې افاده لکه چي فرمايي: ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴾ ځکه چي فعال، فعيل، او فعول د مبالغې صيغې او همداسي پدې کلام کي چي ﴿ وَهُوَ ٱلْفَتَّاحُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ هم د مبالغې صيغې شتون لري.

۷ – د تفزيع او تهويل لپاره د ځواب حذف کېدل لکه ﴿ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ چي ځواب يې حذف شوي يعني زبردسته هيبتناکه منظربه ووينې.

۸ – عقلي مجاز د الله تعالی پدې کلام کي چي ﴿ بَلْ مَكْرُ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ﴾ د مکرېې شپې ته پخپله نسبت وکړ خو مقصد د مشرکانو مکر دی په شپه کي نو دغه ته عقلي مجازويل کېږي.

۹ – استعاره کله چي فرمايي: ﴿ لَن نُّؤْمِنَ بِهَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ وَلَا بِٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ ﴾ قرآنکريم خولاسونه نلري بلکه دغه يې د هغه وړاندي والي لپاره استعاره کړي کوم چي پخواني کتابونه پکي نازل شوي دي

۱۰ – د فواصلو رعايت کول چي په اوږدلو باندي ځانګړی اغيزلري لکه: ﴿ وَهَلْ نُجَٰزِىٓ إِلَّا ٱلْكَفُورَ .... إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴾ د آيتونو ترپايه پوري

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا فِى قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَـٰفِرُونَ ﴿٣٤﴾ وَقَالُوا۟ نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَٰلًا
وَأَوْلَـٰدًا وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٦﴾ وَمَآ
أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَـٰدُكُم بِٱلَّتِى تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَىٰٓ إِلَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَـٰلِحًا فَأُو۟لَـٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ ٱلضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا۟ وَهُمْ فِى
ٱلْغُرُفَـٰتِ ءَامِنُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱلَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِىٓ ءَايَـٰتِنَا مُعَـٰجِزِينَ أُو۟لَـٰٓئِكَ فِى ٱلْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴿٣٨﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ
ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥ ۚ وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن شَىْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُۥ ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٣٩﴾ وَيَوْمَ
يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَـٰٓئِكَةِ أَهَـٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾ قَالُوا۟ سُبْحَـٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِم ۖ بَلْ كَانُوا۟
يَعْبُدُونَ ٱلْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُم بِهِم مُّؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ فَٱلْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَلَا ضَرًّا وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ذُوقُوا۟
عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّتِى كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَـٰتُنَا بَيِّنَـٰتٍ قَالُوا۟ مَا هَـٰذَآ إِلَّا رَجُلٌ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ
يَعْبُدُ ءَابَآؤُكُمْ وَقَالُوا۟ مَا هَـٰذَآ إِلَّآ إِفْكٌ مُّفْتَرًى ۚ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ إِنْ هَـٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٣﴾ وَمَآ
ءَاتَيْنَـٰهُم مِّن كُتُبٍ يَدْرُسُونَهَا ۖ وَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِن نَّذِيرٍ ﴿٤٤﴾ وَكَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَمَا بَلَغُوا۟ مِعْشَارَ
مَآ ءَاتَيْنَـٰهُمْ فَكَذَّبُوا۟ رُسُلِى ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٥﴾ ۞ قُلْ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَٰحِدَةٍ ۖ أَن تَقُومُوا۟ لِلَّهِ مَثْنَىٰ وَفُرَٰدَىٰ ثُمَّ
تَتَفَكَّرُوا۟ ۚ مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَّكُم بَيْنَ يَدَىْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٤٦﴾ قُلْ مَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ فَهُوَ
لَكُمْ ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿٤٧﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّى يَقْذِفُ بِٱلْحَقِّ عَلَّـٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿٤٨﴾ قُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ
ٱلْبَـٰطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴿٤٩﴾ قُلْ إِن ضَلَلْتُ فَإِنَّمَآ أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِى ۖ وَإِنِ ٱهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوحِىٓ إِلَىَّ رَبِّىٓ ۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ قَرِيبٌ ﴿٥٠﴾
وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ فَزِعُوا۟ فَلَا فَوْتَ وَأُخِذُوا۟ مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٥١﴾ وَقَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِهِۦ وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ
﴿٥٢﴾ وَقَدْ كَفَرُوا۟ بِهِۦ مِن قَبْلُ ۖ وَيَقْذِفُونَ بِٱلْغَيْبِ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾ وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ كَمَا فُعِلَ
بِأَشْيَاعِهِم مِّن قَبْلُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ فِى شَكٍّ مُّرِيبٍۭ ﴿٥٤﴾ ﴾ سبا: ۳۴ - ۵۴

مناسبت:

كله چې الله تعالى د سبأ قوم كيسه بيان كړه چې د الله د نعمتونو یې ناشكري كوله نو نعمت په نقمت سوكالي په عذاب وربدل شوه دلته یې د مشركانو هغه وياړ او تكبر چې د دنيا په مال اولاد یې كاوو راوړ او دا چې دوى به د رسول الله ﷺ تكذيب كاوو د سورت پاى د ناروا خلكو برخه ليك او آخره خاتمه نبيي چې د رسول الله ﷺ لپاره ډاډينه او د مشركانو لپاره وېرونه او تحذير شي.

لغتونه:

(مترفوها) مترف ,سوکاله اسوده حاله په نعمتونو ,بډايي اوعزت اوجاه کي غوپه سړي ته وايي ، (يبسط) پراخوي (يقدر) کموي ، لړوي (زلفى) نژدېکت (افک) دروغ له ځانه جوړول (معشار) لسمه برخه. جوهري وايي ديوځيزمعشاردهغه لسمي ونډي ته وايي (۱) اوپدي کي دوه لغتونه دي (نکير) اصل يې نکيري دی (يا) يې دفواصلو دمراعات لپاره حذف شوي ده. زجاج وايي چي (نکير) دانکارپه معنا(جنة) دجيم په کسره سره جنون اولېونتوب ته وايي (فوت) نجات اوتېښتي ته ويل کېږي (التناوش) رسېدل زمخشري وايي چي تناوش اوتناول دوه ورونه دي مګرتناوش يو نژدې ځېزته آسانه رسېدلو ته ويل کېږي (۲) اوپه څنګ کي مناوشه هغه ته وايي چي لاس په لستوني دوه ډلي سره ښکر په ښکرشي. ابن سکيت وايي وېل کېږي (ناوشه الرجل) چي کله يوځوک بل تن ونيسي او له ځانه سره يې بوزي.

تفسير:

﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ ﴾ اونه وولېږلی موږ په هيڅ کلي (اوښار) کي هيڅ وېرونکی (له عذابه) ﴿إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴾ مګر ويل به ماړه اومشرانو خلګو دهغه (کلي) چي بېشکه موږپه هغه څه چي تاسي ورباندي رالېږل شوي يی کافران (منکران) يو(هغه نه منو. قتاده وايي چي (مترفين) هغه دشرد کارونو رئيسان سرداران اوجبابرة دي دوی هغه څوک دي چي ترګردو ړومبی دانبياوو عليهم السلام تکذيب ته رادانګي اوپه آيت شريف کي مقصد درسول الله ﷺ تسليت اوډاډينه ده چي دقريشو دسردارانوپه تکذيب دي نه خفه کېږي ﴿ وَقَالُواْ نَحۡنُ أَكۡثَرُ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا ﴾ اوويل به دوی چي موږ ډېر يوله جهته دمالونو اود اولاد(له تاسو بېوزلو مؤمنانوڅخه) ﴿ وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴾ (اونه يوموږ په عذاب کړی شوي) يعني الله موږته عذاب نه راکوي ځکه هغه له موږ څخه خوښ دی اوکه هغه راڅخه راضي نه وای نو به يې زموږ په روزي کي پراخي نه اچوله دوی دنيوي ژوند په اخروي پرتله کوي اوداسي انګېري چي الله څرنګه دوی ته په دنيا کي مال دولت اوزامن لوني ورکړي په آخرت کي به هم عذاب نه ورکوي. ابوحيان وايي چي الله پاک پدې تصريح فرمايلي چي (مترفين) هغه لومړني کسان دي چي دانبياوو عليهم السلام تکذيب يې کړی دی ځکه دوی ددنيا په زرق اوبرق غولېدلي اوپکي ډوب دي زړونه يې تل پکي غوپه وي نه داسي لکه دبېوزلانو فقيرانو ځکه دهغوی زړونه دژوندانه له لذتونو څخه بېخي تش وي نوخيرښېګني ورته لاره مومي ځکه نود انبياوو عليهم السلام پيروان اکثره بېوزله، مسکينان اوضعيفان وو(۳) ﴿ قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُ ﴾ ووايه ای محمده دوی ته) چي

(۱) القرطبي ۳۱۰/۱۴
(۲) الکشاف ۳ / ۴۲۸
(۳) البحرالمحيط ۲۸۵/۷

بېشکه رب زما پراخوي رزق روزي د پاره د هرهغه چا چي اراده وفرمايي اوتنګوي يې (په هرهغه چا چي اراده وفرمايي يعني دغه د روزي پراخوالی او تنګسيا دالله د رضا اونارضايي دليل نه دی کله کله الله په عاصي اوکافرباندي زيات نعمتونه ولوروي اوکله کله په مسلمان مؤمن مطيع باندي د روزي تنګي راولي چي دهغه ازموينښت يې اراده وي نو داسي ګمان مکوئ چي د مال اولاد زياتوالی دالله د محبت اوپانېکمرغي دليل دی بلکه دغه دالهي مشيت اوحکمت تابع دی ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ وليکن زياتره خلګ نه پوهېږي (په حقيقت باندي اوداسي انګېري چي د هرمال اودولت اواولادونه دشرافت ، کرامت نښه دي خوهغه داستدراج لپاره وي (١) لکه چي الله تعالی فرمايي ﴿ سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (الاعراف ۱۸۲) (القلم ۴۴) نوله دې کبله الله (جل شانه) دغه تاکيد فرمايي چي ﴿ وَمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُم بِٱلَّتِى تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَىٰٓ ﴾ اونه دي مالونه ستاسي اونه اولادونه ستاسي داسي څېز چي نژدې کوي تاسي زموږ په نزد نژدې کول ، بلکه ايمان اوصالح عمل الله ته سړی نژدې کوي طبري وايې چي د(زلفی) معنا(قربی) دی اود مال اولادزياتوالي ته اعتبارنشته چي الله وروسته فرمايي ﴿ إِلَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا ﴾ مګر(نژدې کوي له تاسي) هرهغه چي ايمان راوړي اوکړي يې وي ښه عملونه) يعني يوازي مؤمن نېک عمله چي خپل مالونه دالله په لار کي لګوي اولادته دنېکي اوخير ښوونه کوي په صلاح يې روزي نودغه سړي الله ته نژدې کېږي ﴿ فَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ ٱلضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا۟ ﴾ پس دغه (مؤمنان دي) شته دوی ته جزاء دو چنده په سبب دهغه (نېکيو) چي دوی کړي دي) يعني د دوی حسنات دوچنده کېږي الله يوه نېکي په لس چنډه بدله ورکوي آن تراوو سوو چندوپوري ﴿ وَهُمْ فِى ٱلْغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ ﴾ اودوی به په لوړو مانيود جنت کي ببغمه (مأمون) وي (چي هيڅ عذاب اوسختي به ونه ويني ، کله چي دمؤمنوجنتيانوحال بيان شوورپسې الله دکفارو حال احوال ښيي چي خلګوته د دواړو جزاګانو حال څرګند شي فرمايي : ﴿ وَٱلَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ ﴾ اوهغه کسان چي کوښښ کوي په (ابطال)دآيتونو زموږ کي پدې حال کي چي زموږ عاجز کونکي وي (په زعم خپل) يعنې هغه کسان چي کوښښ کوي خلګ دالله له لاري بند کړي اود پيغمبرانو اود الله له لارښوونو راوګرزوي دوی ګمان کوي له موږ څخه به وتښتي ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ٱلْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴾ دغه کسا ن (په عذاب (د دوزخ کي) حاضرکړی شوي به وي (په ورځ د قيامت کي) ﴿ قُلْ إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته !) بېشکه رب زما پراخوي رزق روزي د پاره د هرهغه چا چي اراده وفرمايي او تاسو پخپلو مالونو او روزي باندي غره کېږی مه ! په التسهيل کي وايې چي آيت يې ځکه مکرر راوړ چي مقصد مختلف دی لومړی ځل مقصد کافران وو اودلته بيامؤمنان دي چي انفاق فی سبيل الله ته يې وهڅوي (٢)

---

(١) البيضاوي ۲/ ۱۳۲
(٢) التسهيل ۳/ ۱۵۲

نوفرمايي ﴿ وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُۥ ﴾ اوهرهغه څه چي تاسي يې لګوی (په لاره دالله کي) کډاږ وي که ډېر پس هغه (الله) عوض درکوي دهغه (سمدستي ياوروسته) ﴿ وَهُوَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴾ اوهمدغه (الله) غوره دروزي ورکونکودی (۱) څکه چي ورکړه يې بې حسابه ده مفسرين کرام وايي کله چي يې ايمان اوعمل صالح بيان کړ چي دغه څيزونه بنده الله ته وړاندي اونژدې کوي اوڅوچنده بدله الله ور کوي نودايې پسي زياته کړه چي دآخرت نعمتونه ددنيادروزي له پراخ والي سره منافي نه دي بلکه کله کله الله صالحانوبندګانوته په دنياکي هم پراخه روزي ورکړي اوپه آخرت کي هم بشپړه برخه اونېک ثوابونه لري اودغه دالهي وعدې مقتضا اوغوښتنه ده (۲) ﴿ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ﴾ اويادکړه هغه ورځ چي الله به دوی ګرد ټول کړي (پخواني اوړومبني مشرکان دحساب اوجزاء لپاره) ﴿ ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُواْ يَعْبُدُونَ ﴾ بيابه (الله) ملائکوته فرمايي آيادا هغه ګمراهان دي چي خاص تاسي ته به يې (بې له الله) په دنياکي) عبادت کاوو؟ دغه استفهام دترټني اوتوبيخ لپاره دی چي آياتاسي ورته امرکړی وو؟ زمخشري وايي چي دغه خطاب ملائکوته اوتوبيخ مشرکانوته دی اولکه هغه مشهور متل غوندي راغلی چي وايي (تاته وايم اوهمسايه دي واوري) اويالکه دغه الهي ارشادچي ﴿ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ (المائده ۱۱۲) اوپه تحقيق سره الله ته خومعلوم دي ملائکي او عيسى عليه السلام خوله هغه نسبت څخه ښېخي پاک اومنزه دی اوغرض له سوال اوځواب څخه دا دی چي د مشرکانوټکول سخت اوشرمندګي يې په ډاګه شي ﴿ قَالُواْ سُبْحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِم ﴾ وبه وايي پرښتې (په ځواب کي) پاکي ده تاته ته بې له دوی زموږ مولٰى يې (معبوديې) موږتاته له دوی څخه پناه دروړو) ﴿ بَلْ كَانُواْ يَعْبُدُونَ ٱلْجِنَّ ﴾ بلکه وودوی چي عبادت به يې کاوود پېريانانو (شيطانانو) څکه هغوی ووچي دوی ته يې دغيرالله عبادت ښايسته کړی وواودوی يې هم پلوي کړي وه ﴿ أَكْثَرُهُم بِهِم مُّؤْمِنُونَ ﴾ زياتره ددوی په دغو (پېريانانوشيطانانوباورکونکي او) مؤمنان وو. طبري وايي معناداچي زياترو دغوخلګوبه دپېريانو منله اوداسي ګمان به يې کاوو چي پرښتې دالله لوڼي دي (العياذبالله) (۳) الله تعالى دمشرکانود ګمانونوپه ترديدکي هسې فرمايي ﴿ فَٱلْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَلَا ضَرًّا ﴾ پس نن ورځ نه لری اختيارځيني ستاسي (معبودان) دپاره د ځينونورو (عابدانو) نه دنفعي اونه د ضرر؛ نه دشفاعت اونه دعذاب دفع کولو (نجات). ابوالسعود وايي چي دغه خطاب به د ګردوخلګوپه وړاندي ورته وکړل شي ترڅوددوی عجز اوقصور دخپلو عابدانوپه مخ کي په ډاګه شي اوداچي ددوی طمع ښېخي خني وشکېږي اوداچي نسبت دګټه اوضررنه رسولوېې ځينو دځينو نوروته وکړچي د

---

(۱) زادالمسير ۶/ ۲۴۲

(۲) حاشيةشيخ زاده على البيضاوي ۳/ ۹۳

(۳) الطبري ۲۲/ ۶۹

مقصود په هکله مبالغه وشي لکه چي د عابدانو لپاره د پرښتو ګټه رسول او يا زيان دفع کول مستحيل دي همداسي د هغوی (عابدانو) له خوا پرښتو ته مستحيل دی (۱) ﴿وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟﴾ او وبه وايو موږ لپاره د هغو کافرانو (چي د غيرالله عبادت يې کاوو) ﴿ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّتِى كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ﴾ وڅکئ تاسي عذاب د هغه اور چي وی تاسي ددې (اور) تکذيب به مو کاوو (په دنيا کي همدا دی چي ورته راغلی ورپسې الله د دوی يو بل ډول کفر او ګمراهي لوڅوي فرمايې: ﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ﴾ او کله چي ولوستلی شي پر دوی آيتونه زموږ په دې حال کي چي واضح دي (معاني د هغو او څرګندی دی اعجاز يې کله چي يې دوی تر او تازه زموږ د پيغمبر محمد رسول الله له خولې اوري ﴿قَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّا رَجُلٌ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُكُمْ﴾ او وايې دغه (منکران) چي نه دی دغه (محمد) مګر يو داسي سړی دی چي اراده لري ددې چي منع کړي تاسي له هغه شي څخه چي وو ستاسي پلرونه عبادت به يې کاوو (د هغه شي چي بتان او شريکان دي) ﴿وَقَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّآ إِفْكٌ مُّفْتَرًى﴾ او وايې دغه (منکران) چي نه دی دغه (قرآن) مګر يو دروغ دی له خپله ځانه جوړ کړی (په الله پسې تړلی) ﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ﴾ او وايې دغه (منکران د مکې) چي کافران شوي دي حق (قرآن، اسلام، نبوت) ته چي کله دوی ته راغی نه دی دغه مګر خودی سحر کوډي ښکاره. زمخشري وايې چي پدې کي د دوی د حال د تعجب مبالغه ده د دوی يو ځل قاطعانه وويل چي دغه کوډي دي او بيا يې دا هم په غوڅه توګه فيصله وکړه چي دغه ښکاره هم دی هر هوښيار سړی چي يې و ويني د کوډو په نامه به يې يادوي او پدې کلام کي چي ﴿لَمَّا جَآءَهُمْ﴾ دی د دوی د سمدستي کفر پر ښکرې ته اشاره ده (۲) يعني دوی پر ته له دې چي کوم سوچ او فکر وکړي فوراً يې هغه کوډي وګڼلې بيا الله ﷻ دا ښيي چي دغه د دوی خبري او دغه د دوی له خوا د محمد عليه السلام تکذيب دا تکل او تخمين له مخي وو کومه يقيني بنه يې نلرله نو څکه فرمايې:

﴿وَمَآ ءَاتَيْنَٰهُم مِّن كُتُبٍ يَدْرُسُونَهَا﴾ حال دا دی چي موږ نه دی ورکړی دوی ته له کتابونو (منزله وو څخه چي دوی هغه (کتابونه) لولي) يعني موږ د مکې خلګو ته مخکي تر قرآن کوم بل کتاب نه وو نازل کړی چي دوی يې لولي ﴿وَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِن نَّذِيرٍ﴾ او نه وو لېږلی موږ دوی ته پخوا له تا نه کوم وېرونکی (له عذابه د الله نو بيا ولي ستا تکذيب کوي. طبري وايې معنا دا چي الله ﷻ په عربو باندي تر قرآن له مخه کوم بل کتاب نه وو نازل کړی او نه يې تر محمد رسول الله له مخه کوم بل نبي ورته رالستولی وو (۳) ﴿وَكَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَمَا بَلَغُوا۟ مِعْشَارَ مَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ﴾ او تکذيب کړی وو (د انبياوو همداسي) هغو کسانو چي پخوا له دوی وو حال دا چي نه دي رسېدلي (دغه د مکې کفار) لسمي

---

(۱) ابوالسعود ۴ / ۲۳۴
(۲) الکشاف ۳ / ۴۶۴
(۳) الطبري ۲۲ / ۷۰ او دغه د قتاده روايت دی.

برخي دهغوته چي موږ هغوی ته ورکړي وو (له قوت ، مال او د عمر اوږدوالي څخه ابن عباس رضی الله عنهما وايي چي د ﴿مِعْشَارَ مَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ﴾ معنا په دنيا کي قوت دی(۱) ﴿فَكَذَّبُوا۟ رُسُلِى فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ﴾ پس تکذيب وکړ (هغو پخوانيو) د رسولانو زما پس څرنګه وو انکار زما (په عذاب و لو ودوی) چي له بېخه مو وايستل او هلاک مو کړل د دوی زور او قوت په شمرنه ورغی نو د دغو قريشو به څه حال وي کله چي عذاب او هلاکت ورته راشي؟ دغه د دوی لپاره تهديد دی ﴿قُلْ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَٰحِدَةٍ﴾ ووايه (ای محمده منکرينو ته) بېشکه هم دا خبره ده چي پند درکوم تاسي ته په يوې خبري سره د(دهغې تفسير داسي وفرمايو ﴿أَن تَقُومُوا۟ لِلَّهِ مَثْنَىٰ وَفُرَٰدَىٰ﴾ چي ودرېږئ تاسي خاص الله ته دوه دوه او يويو (يا يوځای او يويو) قرطبي وايي چي دغه درېدل د حق د غوښتلو لپاره پورته کېدل دي هغه درېدل مقصد نه دي کوم چي د ناستي مقابل دي(۲) ﴿ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا۟ مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍ﴾ (بيا ښه فکر (او غور) وکړئ چي نشته په دغه ملګري ستاسي کي هيڅ لېونتوب) يعني بيا تاسو ښه سوچ وکړئ ترڅو درته څرګنده شي چي دغه ستاسي ملګری (محمد ﷺ) څوک چي د ده په لاس الله تعالی دغه معجز کتاب قرآنکريم رااستولی هيڅ لېونتوب نلري. ابو حيان وايي: دآيت شريف معنا دا چي زه تاسي ته دیوې خبري نصيحت کوم چي په هغې سره به حق ته ورسېږی هغه دا چي د الله لپاره جلا جلا دوه دوه او يويو ودرېږئ او بيا د محمد ﷺ په هکله او د هغه څه په باب چي ده راوړي فکر او غور وکړئ او چي وېي فرمايل ﴿مَثْنَىٰ وَفُرَٰدَىٰ﴾ ځکه چي ټولګی سره له خپلي اجتماع يو ډول د خاطر تشويش پيدا کوي او له فکره څخه سرې جارباسي لکه چي د ټولګي زده کونکي فکر نشي کولای او چي کله دوه دوه هله چي هريو له خپله ملګري سره فکر او غور تبادله کړئ هريو خپل فکر بل ملګري ته ووايئ نو خامخا حقيقت ته رسېږی او همدا رنګه چي يو د ښه فکر خاوند وي هم حق پېژندلای شي کله چي دوی ښه فکر او غور وکړي نو پدې پوهېږي چي د لېونتوب نسبت عليه السلام ته کول غير ممکن دی او هوښيار سړی هډو دا هيڅ منلی نشي(۳) ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَّكُم بَيْنَ يَدَىْ عَذَابٍ شَدِيدٍ﴾ نه دی دغه (محمد) مګر وېرونکی دی تاسي ته د سخت عذاب په مخ کي (چي د قيامت دوږخي عذاب دی که تاسو کافران شوی) ﴿قُلْ مَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته) هرهغه څه چي ما وغوښتل له تاسي له اجرته پس هغه دي هم ستاسي وي؛ يعني زه د رسالت په تبليغ باندي له تاسو مزدوري نه غواړم. طبري وايي: معنا دا چي ماله تاسو څخه په دغه تبليغ کومه مزدوري نه ده غوښتي چي تاسي ما پدې تورن کړی چي ګواکي زه تاسي ددې لپاره خپل اتباع جوړوم چي مال در څخه لاس ته راوړم(۴) ﴿إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ﴾ ندی اجر زما مګر په الله دی ، يعني

(۱) مختصر ابن کثير ۳/ ۱۳۵
(۲) القرطبي ۱۴/ ۳۱۱
(۳) البحر المحيط په لنډ ډول
(۴) الطبري ۲۲/ ۷۱

زه خپل اجر او ثواب له رب العالمینه غواړم ﴿ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴾ او هم دغه الله په هرشي باندي ښه شاهد دی) یعني الله پاک زما او ستاسي داعمالو کتونکی او څارونکی دی له هغه څخه هیڅ پټ نه دي او ټولو ته به جزاء ورکړي. ابو السعود وایي: معنادا چي: الله ته زما ریښتنولي او دنیت اخلاص معلوم دی (¹) ﴿ قُلْ إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ﴾ (وو ایه(دوی ته ای محمده !) بېشکه زما رب ویشتل کوي (رالېږي) په حق (دین) یعني دلیل روښانه او څرګندوي یې. ابن عباس وایي: معنادا چي باطل په حق باندي وولي لکه چي الله فرمایي ﴿ بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ ﴾ (الانبیآء۱۸) ﴿ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴾ ښه خبردار دی په ټولو پټو اشیاوو هم ﴿ قُلْ جَاءَ الْحَقُّ ﴾ وو ایه (ای محمده دوی ته) راغی حق(دین ,قرآن) یعني دحق ځلاخپره او رڼا یې وځلېده اسلام راغی ﴿ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴾ (او نشي پیدا کولای باطل (معبودان هیڅ شی) او نه یې بیاله سره ژوندي راپاځولای شي) یعني باطل یومخ ایزه ولاړ نه هغه پیل لري او نه بیرته راګرځېدل. زمخشري وایي: معنادالکه څنګه چي انسان ومري بیایې نو نه ابداء پاتي شوه او نه اعاده:(نه نوم او نه نښان نو عربو به دغه ویناچي: (وَمَا يُبْدِئُ وَمَا يُعِيدُ) هله ویل چې دهلاکت لپاره به یې مثال راوور په دې توګه معنادا سي کېږي چي حق راغی او باطل یومخ له مینځه لاړ لکه چي الله فرمایي: ﴿ وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ﴾ (الاسرآء۸۱) (²) ﴿ قُلْ إِن ضَلَلْتُ فَإِنَّمَا أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِي ﴾ پس وو ایه (ای محمده دوی ته) که وښوئېدم زه (له سمي لاري ستاسو په زعم) پس بېشکه هم دا خبره ده چي وبه ښوئېږم په (ضرر د) ځان خپل (بل چاته به تاوان ونه رسي) ﴿ وَإِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوحِي إِلَيَّ رَبِّي ﴾ او که سمه لاره مي وموندله نو دې په سبب به وي چې ماته وحی کوي رب زما(او دهغه توفیق به وي) ﴿ إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ ﴾ بېشکه هم هغه (الله) ښه اورېدونکی (دعاګونکو لره) دېرنژدې دی چي څوک ورته هیله لري) ابو السعود وایي چي معنادا چي دهرچا وینا اوري هغه که په سمه لارمهتدي او که ګمراه وي کړه وړه یې ویني که هر څومره یې پټ هم ترسره کړي وي (³) ﴿ وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ فَزِعُوا ﴾ او که چي ووینې ته کله چي دوی وو بېرېږي (په وخت د پاڅېدلو له قبرونو) ﴿ فَلَا فَوْتَ ﴾ پس نه به خلاصېږي په تېښته ﴿ وَأُخِذُوا مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴾ او وبه نیولی شي دوی له ځایه نژدې (له حشرګاه تم ځای نه ور ته ، ځواب د(لو) محذوف دی تقدیریې دا چي خوراهیبتناکه او وېرونکی منظربه وي چي له زیاته دهشته به اندامونه رېږدي ﴿ وَقَالُوا آمَنَّا بِهِ ﴾ او وایي به (دغه کفار) ایمان موراوړی دی په دغه (قرآن) او رسول یعني کله چي دوی

(¹) ابو السعود۴ /۲۳۵
(²) الکشاف ۳ /۴۲۷
(³) ابو السعود۴ /۲۳۵

عذاب ووینې داسي به وايي ﴿ وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴾ اوله کومه به وي دوی ته نیول (دایمان) له لیري ځایه (څکه چي) دوی په آخرت کي دي اودایمان محل خودنیاوه دنیاخوتېره شوه اودوی اوس ډېرله ایمانه لیري دي. ابوحیان وایي ددوی حال بې له هغه چاسره تمثیل کړچي هغه غواړي له لیري ځایه یوڅېزراواخلي داسي لکه چي نژدې سړی يې رااخلي (١) ﴿ وَقَدْ كَفَرُواْ بِهِۦ مِن قَبْلُ ﴾ اوپه تحقیق کافران شوي وودوی (په قرآن اوپیغمبر) له دې نه پخوا(په دنیا کي) نوڅرنګه به دوی ته ایمان په آخرت کي ورکول شي؟ ﴿ وَيَقْذِفُونَ بِٱلْغَيْبِ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴾ او ویشتل به يې کول دوی په غیب له لیري ځایه ، (ویل به يې چي نه بعث شته اونه حساب نه جنت شته او نه دوزخ. قرطبي وايي چي عرب هغه چاته چي بې له پوهي لیري هسي ګډې وډې خبري کوي وايي چي: (هويقذف ويرجم بالغيب) یعني هغه په غیب ویشتل کوي اودغه دهغه چالپاره متل وايي چي ویشتل کوي خو نښه نشي ویشتلای ﴿ وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ ﴾ اوپرده به واچولی شي په مینځ ددوی اوپه مینځ د هغه شي کي چي دوی يې آرمان کوي یعني ددوی اودایمان اودجنت ددخول ترمینځ به جدا یې وکړی شي ﴿ كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِم مِّن قَبْلُ ﴾ لکه چي کړی شوي وودا (کار) له سیالانو ددوی سره پخواله دې نه (چي پخواني کفري امتونه وو) ﴿ إِنَّهُمْ كَانُواْ فِى شَكٍّ مُّرِيبٍۭ ﴾ بېشکه هغوی وو پداسي شک کي چي ډېرتردد اچونکي وو(دحساب اوعذاب په هکله اوداکلمه چي ﴿ مُّرِيبٍۭ ﴾ ده دتاکید لپاره راوړل شوي لکه چي وايي (عجب عجيب).

بلاغت:

پدې آیتونو کي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١ – دطباق صنعت چي د ﴿ يَبْسُطُ ... وَيَقْدِرُ ﴾ او ﴿ نَّفْعًا ... ضَرًّا ﴾ او ﴿ مَثْنَىٰ ... وَفُرَٰدَىٰ ﴾ د کلماتو ترمینځ راغلی دی.

٢ – مقابله چي دابرارواوفجارودبرخه لیک په هکله راغلي لکه: ﴿ إِلَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا ... وَٱلَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ ﴾ .

٣ – دالتفات صنعت چي له غائب څخه مخاطب ته شوی فرمایي: ﴿ وَمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُم ﴾ اومقصدورڅخه دحق دتحقیق په هکله مبالغه ده.

---

(١) البحرالمحیط ٢٩٣/٧

۴- دتقريع اوتوبيخ اسلوب لکه ﴿ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ﴾ خطاب پرښتو (ملائکو) ته او تکول دمشرکانو مقصود دی.

۵- داسم ظاهر راوړل دضمير پرځای ترڅوچي دجرم تسجيل افاده کړي لکه: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلۡحَقِّ ﴾ چي اصل خو داووچي راغلي وای (وقالوا).

۶- دسياق ددلالت له کبله ايجاز بالحذف لکه چي فرمايي ﴿ وَمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُم بِٱلَّتِي تُقَرِّبُكُمۡ عِندَنَا زُلۡفَىٰٓ ﴾ دلومړۍ خبريې حذف کړچي دوهم ورباندي دلالت کوي هغه داسي چي (ماموالکم بالتي تقربکم ولاأولادکم بالذين يقربونکم عندنا) راځي.

۷- استعاره لکه چي پدې کلام کي ده ﴿ بَيۡنَ يَدَيۡ عَذَابٖ شَدِيدٖ ﴾ دلاسونولفظ يې دهغوکړاوونو اوسختيو لپاره استعاره کړکوم چي دانسان په مخ کي وي.

۸- لطيفه کنايه چي: ﴿ وَمَا يُبۡدِئُ ٱلۡبَٰطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴾ چي دغه دباطل دورکېدواوبېخي له مينځه تللو لپاره له لطافته ډکه کنايه ده.

۹- تصريحي استعاره پدې کلام کي چي فرمايي: ﴿ وَيَقۡذِفُونَ بِٱلۡغَيۡبِ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ﴾ دلته يې هغه دناپوهي وينا (چي په ګمانونوبناء وي اوحقيقت نلري له هغه انسان سره مشابه کړه چي ننبه ولي خوزياته مسافه اوواټن يې ترمينځ وي اوغېشي يې په ننبه نه لګېږي اودويشتلولفظ يې دوينالپاره استعاره راوړې دی.

۱۰- دفواصلوتوافق چي په اوربدلوکي اغيزلري اودکلام جمال زياتوي لکه: ﴿ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ.... أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ....وَهُمۡ فِي ٱلۡغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ ﴾.

دالله جل جلاله په مرسته دسبأ سورت تفسيربشپړشو.

***

دفاطر سورت مکي او پنځه څلوېښت آيتونه لري:

دسورت په وړاندي:

دفاطر سورت مکي او د رسول الله ﷺ تر هجرت له مخه نازل شوی او په هغه عامه تګلاره روان دی کوم چي نور مکي سورتونه هم دهغې لپاره رانازل شوي وو هغه چي دګردو رسولانو غالبًا لومړنی مقصد او موخه ده چي هغه عقيده او دالله توحيد ته بلنه او دالله په وجود باندي دلائل راوړل او دشرک تادوونه نړول دي بل داچي زړونه له ناولتيا څخه پاک او په ښو اخلاقو وپسولل شي.
دغه مبارک سورت په پيل کي له مبدع خالق څخه غږېږي هغه مقتدر ذات چي کائنات يې پنځولي، ملائکي، انسانان او پېريانان يې پيدا کړي دي او بيا په بعث او نشور باندي دلائل راوړي چي لکه څرنګه چي دغه ځمکه وروسته له مرګه دباران په اوربښت بيا رازرغونېږي او مېوې دانې راوړي همداسي به بعث او نشور راځي الله جل جلاله به شپه او ورځ پسي راغبرګوي يوه په بل کي دننه کوي او انسان په مختلفو اطوارو کي دپيدا ايښت مرحلې ته رسوي او نوره پر دقدرت او وحدانيت دليلونه راوړي.
همداسي دمؤمن او کافر ترمينځ دهغوی ستر فرق او توپير په ډاګه کوي او دړانده او بينا، روښنايې او تياري او دسيوري او ګرمي مثالونه ورته راوړي.
ورپسې دالله دقدرت دلائل دمېوو په قسمونو او دنورو ګردو مخلوقاتو په ډولونو چي انسانان څاروي او بوده ګان دي را اخلي لکه چي دغرونو او دبرو درنګونو او شکلونو چي سپين تور او تک سره دي او ټول دواحد قهار ذات په عظمت ګواهي ورکوي ستايې.
بيا په سورت کي دمحمدي امت ميراث هغه چي درسالاتو ترټولو اشرف رسالت او دغه دمجيد او دفضائلو جامع کتاب چي دټولو الهي کتابونو بهتري پکي خوندي شوي ده راوړي او دلته اُمت په دريو ټولګيو وېشي چي يو ټولګی مقصرين بل محسنين او وروستنی سابق بالخيرات دی.
په پای کي دغه مبارک سورت مشرکان ټکوي چي ولي دبتانو او دبرو عبادت کوي؟.

تسميه او نومول يې:

څکه ورته سورت فاطر وايې چي دغه ښايسته صفت او ښکلی نوم يې په پيل کي راغلی دی هغه چي په ابداع، اختراع او داسي ايجاد باندي دلالت کوي چي تردې دمخه يې نمونه موجوده نه وي او دا چي پدې کي دېر لطيف او دقيق انځور دی چي دذوالجلال ذات عظمت سترقدرت او عجيب صنعت ښيې هغه ذات چي ملائکي يې پيدا کړي او په داهي عجيب تکوين او جوړښت يې ددوی ابداع فرمايلی ده.

الله تعالى فرمايي:

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ جَاعِلِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُو۟لِىٓ أَجْنِحَةٍ مَّثْنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَ ۚ يَزِيدُ فِى ٱلْخَلْقِ مَا يَشَآءُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ
عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١﴾ مَّا يَفْتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۖ وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ
ٱلْحَكِيمُ ﴿٢﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ ۚ هَلْ مِنْ خَٰلِقٍ غَيْرُ ٱللَّهِ يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ
فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٣﴾ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٤﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ
حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿٥﴾ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ إِنَّمَا يَدْعُوا۟ حِزْبَهُۥ
لِيَكُونُوا۟ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿٦﴾ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ
﴿٧﴾ أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنًا ۖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۖ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَٰتٍ ۚ
إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٨﴾ وَٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَٰهُ إِلَىٰ بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ
كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ ﴿٩﴾ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ جَمِيعًا ۚ إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلْعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرْفَعُهُۥ ۚ وَٱلَّذِينَ
يَمْكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ وَمَكْرُ أُو۟لَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ﴿١٠﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ
أَزْوَٰجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ
يَسِيرٌ ﴿١١﴾ وَمَا يَسْتَوِى ٱلْبَحْرَانِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهُۥ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ ۖ وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا
وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ۖ وَتَرَى ٱلْفُلْكَ فِيهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢﴾ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى
ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ
ٱلْمُلْكُ ۚ وَٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ ﴿١٣﴾ إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا۟ دُعَآءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا۟
مَا ٱسْتَجَابُوا۟ لَكُمْ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ ۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ ﴿١٤﴾﴾ **فاطر: ١ ـ ١٤**

لغتونه:

(فاطر) پيداكونكى له (فطر) څخه اخيستل شوى اوهغه څيرلوته وايي لكه چي الله فرمايي (السمآء منفطربه) (المزمل ١٨) اوداچي ويل كيږي (فطر الله الخلق) معناداچي الله خلگ پيداكړي دي (تؤفكون) له افک څخه اخيستل شوى اوهغه ددروغوپه معنادى ځكه ورته افک وايي چي له حق او صواب څخه خلگ راگرزوي (حسرات) دحسرت جمع ده اوحسرت په كوم تاوان رسيدلوباندي غم اوخواشيني ته وايي په مختارالصحاح كي ليكي چي حسرت په كوم ورک شوي څيزباندي سخت خفگان([1]) اوتلهف افسوس

([1]) مختارالصحاح مادة (حسر).

ته ویل کېږي (النشور) (دنشر) مصدر اودمړي راژوندي کېدلوته وايي (يبور) هلاکېږي (بوار) هلاک ته وايي (فرات) خوندوري خوږې (أجاج) سخته تروې په قاموس کي ليکي (أج الماء أجوجًا) کله چي بې تريووالی خورازيات شي (١) (قطمير) هغه نرۍ سپين پټوکی چي د خرما اودزړي په مينځ کي وي

تفسير:

﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ ټوله ثناصفت خاص هغه الله ته دي چي بې له نمونې څخه پيداکونکی دی دآسمانونو اوځمکي. بيضاوي وايي چي د ﴿ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ معناداچي مبدع اوپيداکونکی دهغو بې له مثاله دی (٢) ﴿ جَاعِلِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا ﴾ ګرزونکی د پرښتودی رسولان په مينځ دالله اوانبياووکي چي دالله فرمانونه رسولانوته رارسوي . ابن جوزي وايي معناداچي انبياوو اونوروچاروته يې الله رااستوي (٣) ﴿ أُو۟لِىٓ أَجْنِحَةٍ مَّثْنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَ ﴾ (هسي (ملائکي) چي خاوندانې د وزرو دوو دوو اودريو دريو اوڅلور څلورودي) قتاده وايي چي دځينو دوه وزرونه دځينو درې وزرونه اود ځينو څلور وزرونه دي چي وربااندي ځمکي ته راکوزېږي اوبيابيرته آسمان ته خېژي (٤) ﴿ يَزِيدُ فِى ٱلْخَلْقِ مَا يَشَآءُ ﴾ زياتوي (الله) په پيداينښت کي (دپرښتو) هومره چي اراده وفرمايي دهغوله لويوالي د اجساماوتوپيرداشکالو شمېر دوزرو يې ، اورسول الله صلى الله عليه وسلم دمعراج په شپه حضرت جبريل وليد چي شپږسوه وزر يې درلودل چي دهري وزري اوبلي تر مينځ يې لکه دمشرق اومغرب غوندي مسافه وه (٥) قتاده وايي چي ﴿ يَزِيدُ فِى ٱلْخَلْقِ مَا يَشَآءُ ﴾ معناپه سترګوکي ملاحت په پوزه کي حسن اوپه خوله کي حلاوت اوخوږوالی دی (٦) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ بېشکه الله په هرشي باندي (چي اراده وفرمايي) ښه قادر دی دلته الله ﷻ خپل ځان په دووسترو صفتونو وستايوچي په دواړو کي دستر انعام اوبشپړقدرت نښي نښانې دي لومړی داچي هغه دآسمانونو اوځمکي بې له مثاله پيداکونکی دی چي نه يې پخوانی خاکه شته چي دهغې پيروي وکړي اونه کوم پخوانی قانون چي هغه عملي کړی شي اودغه دالله په بشپړقدرت دلالت کوي اوپه شامل نعمت يې شاهدي وايي الله هغه ذات دی چي آسمانونه يې بې ستني درولي اوپه ستوروېي ښايسته کړي دي الله هغه ذات دی چي ځمکه يې غوړولي اوروزي خواره يې پکي پيداکړي رودونه سيندونه يې پکي بهولي دي چينې او ځاګاني يې پکي پيداکړي اونورهرڅه چي دالله دسترواک اوځواک اوبديع صنعت آثارلري اوله دې څخه يې تعبيرپدې

---

(١) القاموس المحيط مادة (أجج).

(٢) حاشيه زاده على البيضاوي ٣/ ٩٨

(٣) زادالمسير ٢/ ٤٧٣

(٤) القرطبي ١٤/ ٣١٩

(٥) داحديث له ابن مسعود رضى الله عنه څخه روايت شوی دی .زمخشري وايي چي رسول الله حضرت جبريل وليدچي شپږسوه وزره يې وو.

(٦) القرطبي ١٤_ ٣٢٠.آيت عام دي دخلقت ټول زياتوالي ته شامليږي لکه اوچت قامت ښايسته صورت زيرکتوب ښه ژبه اونور........

کلام فرمایلی چي: ﴿ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ دوهم داچي پرښتې یې داستازي توب لپاره غوره کړې چي دالله اوانبیاوو علیهم السلام ترمینځ ځي راځي اودغه دالله دبشپړقدرت اوعظمت یوه بېلګه ښیي چي الله پرښتې په عجیبه اشکالو اوغریبه صورتونو پیداکړي اووزرونه یې ورښښلي ځیني دوه وزرونه (مثنی) لري ځیني درې ځیني څلور اوځیني هغه دي چي شپږسوه وزري لري چي دهر دوو وزرونو ترمینځ یې دختیځ اولویدیز غوندي واټن دی لکه دجبریل علیه السلام اوځیني لاهغې دي چي له الله ﷻ پرته بل چاته دهغه دتن لویوالی اودخلقت حقیت معلوم نه دی زهري وایې چي حضرت جبریل علیه السلام محمدرسول الله ﷺ ته وویل چي ای محمده ! که دي اسرافیل لیدلی وای چي دوولس زره وزر یې دی یو وزر یې په مشرق اوبل یې په مغرب اوعرش یې په اوږودی (۱)؟(!) هوکه چیری موږته حجاب پورته کړې کړې عجب العجاب به راڅرګند کړې (فسبحان الله مااعظم خلقه) وروسته بیاالله دخپلې ارادې اومشیت نفاذ پدغه عالم کي چي هغه پیداکړی اودخپلي ارادې لپاره یې اېل او تابع ګرزولی داسي بیانوي

فرمایې: ﴿ مَّا يَفۡتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحۡمَةٖ فَلَا مُمۡسِكَ لَهَاۖ ﴾ هرهغه شی چي پرانیزي الله لپاره دخلګوله رحمته خپله لکه نعمت، صحت، علم، حکمت، رزق ،برکت اودخلګود لارښووني لپاره دانبیاوو علیهم السلام رسالت اونور دالله له نعمتونوچي شمېرېې ممکن نه دی اوهیڅوک نشي کولای دالله مخلوق ځني محروم کړي ځکه الله هغه ملک وهاب ذات دی چي دده پېرزوینه څوک منع کولای نشي اودده منع څوک بیاورکولای نشي ﴿ وَمَا يُمۡسِكۡ فَلَا مُرۡسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ ﴾ اوهرهغه چي الله بند کړي (له خپلي عطآء څخه) ددنیااوآخرت ښېګڼي) پس نشته لېږدوونکی دهغه (هیڅوک) پس له بندولو دالله) نه ﴿ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴾ او الله هم دی.دی ښه غالب قوي (په هرڅه) ښه حکمت والا (پخپله صنع کي چي دحکمت اومصلحت سره یې سم کوي. مفسرین کرام وایې چي فتح اوامساک عبارت له ورکړي او منعي څخه دی الله هغه ذات دی چي ګټه اوتاوان رسوي ورکړه اومنع کوي اوپه حدیث شریف کي راځي: (أحق ماقال العبدوکلنا لک عبداللهم لامانع لماأعطیت ولامعطي لمامنعت ولاینفع ذاالجد منک الجد(۲) وروسته الله بیاخپل نعمتونه هسي یادوي چي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ ﴾ ای خلګو دالله نعمت احسان یادکړئ پرتاسو (شکرېې پرځای کړئ. زمخشري وایې چي مرادله یادولو د نعمت څخه یوازي په ژبه نه دی بلکه دنعمت ساتل دي په شکرسره چي وربَاندي اعتراف وکړي اوویې پېژني اودمولی اطاعت وکړي لکه یوڅوک چي بل چاته وایې کوم چي دېرنعمتونه یې ورکړي وي چي : (زمااحسانات درپه یادکړه !(۳) ﴿ هَلۡ مِنۡ خَٰلِقٍ غَيۡرُ ٱللَّهِ ﴾ آیاشته کوم بل پیداکونکی بې له الله ؟ (بلکه نشته استفهام انکاري اودنفی په معنا دی ﴿ يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ ﴾ هم دغه (الله) روزي در رسوي تاسي ته له (طرفه) دآسمانه (په اورښت دباران) اوله (نباتاتود) ځمکي نوځرنګه تاسي له هغه سره داسي څوک بتان

(۱) الکشاف ۳ /۴۷۰

(۲) دحدیث شریف یوه ټوټه ده چي مسلم روایت کړی دی

(۳) الکشاف ۳ /۴۷۱

شريکوی چي نه پیداکونکي اونه روزي رسان وي؟ څکه نو وروسته فرمايي: ﴿لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ نشته لائق دعبادت بل هيڅوک مګرهم دی دی ﴿فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ﴾ پس له کوم جهته ګرزولی کیږی؟(يعني وروسته له دغه څرګنده بيانه څرنګه دبتانو عبادت ته ګرزول کيږی ؟ غرض دلته خلګوته دالله دنعمتونو وربه يادول اوپه مشرکانوباندي دليل راوړل دي . ابن کثيروايي چي الله ﷻ خپل بندګان تنبيه کړل اوپخپل توحيدي استدلال راووړ چي يوازي دالله لپاره عبادت وکړئ لکه څرنګه چي يوازي هغه تاسي پيداکوي اوروزي درکوي همداسي يوازي دهغه عبادت وکړئ اوبتان مه ورسره شريکان کوئ ؟(١)

﴿وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ﴾ اوکه دروغجن وشمیري دغه (کفاراى محمده) تاپه تحقيق دروغجن شمېرلي شوي وودهر رسولان پخواله تانه (دغه دالله سنت لاره ده دوی دروغجن وګڼل شول اوکړاوونه يې وګالل ترڅوچي زموږ مرسته ورته راغله پدې کي درسول الله ﷺ لپاره ډاډينه اوتسلاده چي ته مه خوابدی کیږه اوپه ړومبنيو انبياووپسي اقتداء وکړه خامخابه دي الله مرسته وکړي اوپر (کفارو) به بری وموميې ﴿وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ﴾ اوخاص الله ته بيرته ګرزولی شي ټول کارونه په آخرت کي ستا اود دوی ګردوچاري الله ته ګرزولی کیږي هرچاته به پخپل عمل جزاء ورکړي، پدې کلام کي دمکذبينولپاره وعيداو تهديد نغښتی دی بيا الله ﷻ دغه ټاکلي واقعې موعدداسي ښيي ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ﴾ ای خلګو بېشکه دالله وعده حقه ده (بعث ، جزاء اوکتاب بېخي حق اوهيڅ خلاف پکي نشته)﴿فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا﴾ پس خبردار چي نه دي تېرباسي تاسي دغه ژوندون ددنيا(په زرق اوبرق اوښکلاخپلي له آخرت نه ابن کثيروايي: معناداچي دغه فاني دنيادي تاسودآخرت له تلپاتي دنياڅخه مشغوله نکړي (٢)﴿وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ﴾اونه دي غره کړي (تېرباسي تاسي په (کرم د) الله غره کونکی (شيطان) چي تاسي ته دالله د عفوي اوکرم طمع درکړي ترڅو تاسي په ګناه اصرار وکړی اوبيادعذاب مستحق وګرزی دشيطان دښمني الله ﷻ داسي بيانوي: ﴿إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا﴾ (بېشکه چي شيطان تاسي ته دښمن دی پس تاسي هم دی ونيسئ خپل (دښمن) يعني ای خلګوشيطان ستاسي پخوانی سرسخته دښمن دي تاسي هم له ده سره دښمني وکړئ لکه چي دی يې له تاسوسره کوي له هغه څخه تل په وېره کي اوسئ څيني عارفانو ويلي تعجب دی هغه چاته چي داحسان کونکي احسان هم پېژني خوبيايي له امره سرغړونه کوي اوهغه لعين چي دښمني يې ورته هم معلومه وي مګربيايي هم خبره مني ﴿إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَابِ السَّعِيرِ﴾ بېشکه همدا خبره ده چي شيطان بولي خپله ډله (ځای دهلاکت ته) دپاره ددې چي شي دوی له ملګروددوزخ (په آخرت کي) دده بل مقصدنشته مګر همدايې مقصد دی نوآياهوښيارسړی به دداسي لعين شيطان خبره ومني ؟! طبري

(١) مختصرابن کثير ٣/١٣٩

(٢) پورتني مرجع ٣/١٣٩

وايي معناداچي شيطان غواړي خپله ډله ټپله تل ترتله په دوزخ کي واچوي هغه‌چي اوربي همېشه وربانديبلېږي (۱) ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴾ هغه کسان چي کافران شوي دي شته دوی ته عذاب سخت (چي څوک يې توان نلري اونه يې اندازه لګول کېدای شي ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴾ او هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی اوکړي يې دي ښه عملونه شته دوی ته مغفرت اوښېښه اوستراجر چي جنت دی او داچي ايمان يې له صالح عمل سره جوخت راوړی دې ته اشاره ده چي دغه دواړه سره بېلېدونکي نه دي څکه ايمان عبارت له باور کولو ، اقرار او عمل څخه دی ﴿ أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنًا ﴾ (آيا پس هغه څوک چي ښايسته کړی شوی دی ده ته بدعمل دده پس دی يې ښايسته ويني) استفهام انکاري اوځواب يې محذوف دی تقديريې داسي کېږي چي آيا هغه څوک چي شيطان د ده بد او ناروا عمل ښايسته کړی وي آن تردې چي ده ته پخپله هم ښايسته بربښي اودغه کفراوضلالت چي دی ور باندي اخته دی ښه ګڼي لکه هغه څوک داسي دی؟ چي بد يې ګڼي اوځان څني ژغوري او دايمان لاره غوره کوي ؟؟ په دغه حذف باندي دالله تعالى دغه وينادلالت کوي چي فرمايي:

﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِي مَن يَشَآءُ ﴾ پس بېشکه چي الله ګمراه کوي هرهغه څوک چي اراده وفرمايي (د ګمراهي يې) اوسمه صافه لاره ښيي هرهغه چاته چي اراده وفرمايي (دهدايت يې په توفيق ورکولو د ايمان او ښوعملونو سره) ﴿ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَٰتٍ ﴾ پس نه دي ځي (نه دي هلاکېږي) نفس ستا(ای محمده) په (ګمراهي) ددوی له جهته دافسوسه ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴾ بېشکه چي الله ﷻ ښه عالم دانادی په هغوکارونو چي دوی يې کوي (نوجزابه ورکړي پدې کي ددوی دبدو کارونو کولوپه هکله دعذاب وعيدشته) ﴿ وَٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ ﴾ اوالله (هغه مطلق قادر) ذات دی چي لېږلي يې دي بادونه (زېری ورکونکي په اورښت) ﴿ فَتُثِيرُ سَحَابًا ﴾ پس راپورته کوي (بادونه وريځي اوخوځوي يې تعبيرله مضارع څخه په ماضي باندي چي وايي ﴿ فَتُثِيرُ ﴾ ددغه ښايسته انځور استحضار دی هغه چي دالله په بشپړقدرت اوحکمت باندي دلالت کوي (۲) ﴿ فَسُقْنَٰهُ إِلَىٰ بَلَدٍ مَّيِّتٍ ﴾ پس راکاږو موږ دغه وريځي هغه کلي (ځمکي) مړې ته (چي واښه پکي نه اووچه وي) ﴿ فَأَحْيَيْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ﴾ پس ژوندي کوو موږ په هغو (اوبو) ځمکه پس له مړوالي (وچوالي کلکوالي) ﴿ كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ ﴾ همداسي به وي حال دبيارا پاڅېدلوهم (له قبرونو څخه امام احمدله ابي رزين العقيلي څخه روايت کوي فرمايي مارسول الله ته وويل چي الله به مړي څنګه ژوندي کوي ؟ رسول الله راته وفرمايل چي آيا تادخپلو خپلوانوځمکه وچه نه ده ليدلي چي هيڅ پکي نه وي اوبيادي هغه تر اوتازه زرغونه نه ده موندلي ماويل

(۱) تفسيرالطبري ۲۲/ ۷۸

(۲) ابوالسعود ۴/ ۲۳۹

هو يا رسول الله نوي راته وفرمايل: چي ﴿ فكذلک يحيی الله الموتی ﴾ او دغه يې په پيدا ينبت ننښه ده (١) ابن کثير وايي چي الله د بېرځله دبعث اونشور لپاره دځمکي په شنه کولو دليل راوړي ځکه ځمکه وچه کلکه مړه اوبې وښووي کله چي الله وريځ له بارانه ډکه ورته راواستوي او اوربښت وشي ﴿ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنۢبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ﴾ (الحج: ٥) همدارنگه به الله اجساد هم کله چي يې د راپاخولو اراده وفرمايي راپاخوي وروسته الله ﷻ خپل بندګان هغه لوري ته چي پکي عزت موندل کېږي تنبيه کوي فرمايي: ﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ جَمِيعًا ﴾ (هرهغه څوک چي دعزت اراده لري پس خاص الله لره ټول عزت دی (له الله ﷻ څخه دي سعادت او عزت وغواړي ځينو عارفانو ويلي دي که څوک ددواړو دارينو عزت غواړي نو دعزيز اطاعت دي وکړي (٢) ﴿ إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ ﴾ خاص همدغه (الله)ته پورته خېژي خبري پاکي لکه ذکر دعاء دقرآنکريم تلاوت تسبيح، تمجيد اوداسي نور. طبري وايي چي الله ته ورخېژي چي بنده يې ذکر کوي يا يې ثنا وايي ﴿ وَٱلْعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرْفَعُهُۥ ﴾ او عمل صالح پورته کوي دغه (الله تعالی يعني قبلوي يې او خاوند ته يې ثواب ورکوي. قتاده وايي چي الله ﷻ يوازي وينا بې له عمله نه قبلوي څوک چي يې ووايي او ورباندي نېک عمل وکړي الله ﷻ يې ځني مني دغه خبره طبري ځني رانقل کړي ده ﴿ وَٱلَّذِينَ يَمْكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴾ (اوهغه کسان چي جوړوي مکرونه ناکاره شته دوی ته عذاب ډېرسخت) يعني هغه کسان چي داسلام اومسلمانانولپاره تدبيرونه جوړوي ترڅوچي دالله نورله مينځه يوسي دوی ته په آخرت کي دجهنم په اورکي سخت عذاب شته دی ﴿ وَمَكْرُ أُو۟لَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ﴾ اومکر فريب ددغوهم هغه فاسدباطل هلاک دی ؛ ځکه هرڅوک چي په پټه کوم تدبيراوپلمه دبدي جوړه کړي الله ﷻ يې لوڅوي اوبربنډوي يې ﴿ وَلَا يَحِيقُ ٱلْمَكْرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِۦ ﴾ (فاطر: ٥٣) مفسرين کرام وايي چي دلته دقريشو هغه مکر ته اشاره ده چي کله دوی په دارالندوة کي غونډه وکړه اوغوښتل يې چي رسول الله قتل، حبس اويانفی کړي او ويې شړی لکه چي قرآنکريم يې څرګندوي فرمايي: ﴿ وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ ﴾ (الانفال: ٣٠) (٣) دعزت او قدرت له دلائلو وروسته الله جلت عظمته دوی ته دتوحيد اوبعث دلائل وريادوي چي ﴿ وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ﴾ اوالله پيدا کړي يی تاسي (لومړی ځل نيکه ستاسي آدم عليه السلام) له خاوري نه ﴿ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ﴾ بيا تاسی (اولاده يې پيدا کړی) له نطفې څخه (چي خواري او سپکي اوبه دمني دي چي په رحم کي تويول کېږي ﴿ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَٰجًا ﴾ بيا يې وګرزولی تاسي جوړې جوړې (ښځه او مېړه) يعني نارينه

(١) أخرجه أحمد وابو داؤد وابن ماجة
(٢) القرطبي ١٤/ ٣٢٩
(٣) الکشاف ٣/ ٤٧٢

اوښځینه چي بیابې مېږه اوارتینه جوړکړي ترڅو ددې دنیاژوندوي دبقاء لپاره تداوم وکړي (۱) طبري وايي: معناداچي ښځه يې له نارینه سره جوړه کړه (۲) ﴿وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ﴾ اونه اخلي حمل هیڅ ښځه اونه زېږدي (حمل هیڅ ښځه) مگرداالله په علم سره ، چي الله پرې پوهېږي آیانارینه دی اوکه ښځینه همداسي ددغه ماشوم دتکامل مرحلې الله ته معلومي دي هیڅ څیز له احوالوېې له الله څخه پټ نه دی ﴿وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ﴾ اونه اوږدېږي عمرد هیڅ اوږد کړی شوي اونه هیڅ قدرکمولی شي له عمره ددغه (معمر) څخه (یاله عمره دبل معمر څخه)مگرپه کتاب (دلوح محفوظ کی لیکلی دی) یعني نه خودچاعمر اوږدېږي چي بوډاتوب ته ورسېږي اونه کمېږي چي په هلکتوب کي ومري مگردغه په لوح محفوظ کي لیکلی شوی داالله له لیک څخه زیات اوکم کېدای نشي ﴿إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ﴾ دغه (لنډول اواوږدول دعمر) پرالله ډېرآسانه دی ځکه داالله علم په هرڅه محیط دی وروسته بیاالله جل جلاله دمؤمن اوکافرلپاره داسي مثال راوړي فرمايي: ﴿وَمَا يَسْتَوِى ٱلْبَحْرَانِ﴾ (اونه برابرېږي سره هغه دواړه بحرونه سیندونه) یعني اوبه دبحر اونهرسره برابري نه دي (۳) نهرته يې دتغلیب له مخي بحر ووایو ﴿هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهُۥ﴾ دایوخوږې دي تنده ماتونکي خوندوري ښې هضمېدونکي ښې تېرېدونکي دي اوبه دده ﴿وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ﴾ اودابل تریودی تریخ دی (چي له تریخوالي ستونی سوځوي نولکه چي دغه دواړه سره برابرنه دي همداسي مؤمن اوکافرهم نه دي سره برابر اونه هم نیکوکاره اوفاجر سره یو ډول دي. ابوالسعودوايي چي دغه الله دمؤمن اوکافرلپاره مثال بیان کړی دی .د(فرات) معناتنده ماتونکی اود (سائغ)معناخوندوراوښه تېرېدونکی او(أجاج) هغه ښخي تریوته وايې چي له تریخوالي مری (حلق) سوځوي ﴿وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا﴾ اوله هریوه له دغو دواړوڅخه خورئ تاسي تازه غوښې (د ماهي مختلف ډوله او مختلف خونده او مختلف شکله ﴿وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا﴾ اوراوباسئ له دغه (دواړو) لؤلؤ اومرجان) گانه چي اغوندی يې (لپاره دزینت اوښکلا) ﴿وَتَرَى ٱلْفُلْكَ فِيهِ مَوَاخِرَ﴾ اوتل وینې ته بېړۍ (اوجهازونه) په دغه (بحر) کي تلونکي څېرونکی (داوبو) یعني ای مخاطبه ته ستري بېړۍ وینې چي د(دریاب اوبه په تلو راتلوکي څیري (۴) او درانه بارونه اوسورلی وړياندي وي داالله په تسخیر سره په بحرکي نه ډوبېږي ﴿لِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ﴾ لپاره ددې چي طلب کړئ تاسي داالله له فضله (په تجارت او سفرونوکي لیري هیوادونو ته په لږ موده کي) ﴿وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ اولپاره ددې چي تاسي (په دغه لوی نعمت) شکر وباسی ، وروسته داالله دقدرت

---

(۱) الطبري ۲۲/ ۸۱
(۲) القرطبي -۱٤-۳۲۹
(۳) القرطبي -۱٤-۳۳۹
(٤) وگوره الاعجاز العلمي للقرآن.

او سلطان بله نښه داسي راوړي چي ﴿ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ ﴾ ننني باسي (الله) شپه په ورځ کي او نني باسي (الله) ورځ په شپه کي (نو کله دا اوږده وي او کله هغه لنډه بانډي د شپې او ورځي زياتوالى او نقصان د ښارونو او فصلونو (موسمونو) سره سم ترسره کېږي آن تردې چي دوبى په ځيني هيوادونو کي ورځ شپاړس ساعتونو ته رسېږي او شپه اته ساعته وي دغه دالله ﷻ د قدرت له نښانو څخه يوه نښه چي انکار ور څخه نشي کېداى او مؤمن او کافر او ړوند او بينايي ټول مني دغه د کائناتو داسي مستحکم دستور دى چي هيڅکله هم تغيير او بدلون نه مومي ټينګ نظام دى چي د تصادف له مخي رادبره شوى نه دى بلکه د الله ﷻ هغه محکمه صنع ده چي په هرڅه يې لوروالى (پېرزو) کړى دى (فسبحان المدبر الحكيم العليم) ﴿ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ كُلٌّ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمًّىۚ ﴾ او مسخر کړي په کار کي يې لګولي دي لمر او سپوږمۍ چي هر يو روان دى تر يوې ټاکلي مودې پوري (چي د قيامت ورځ ده) ([1]) ﴿ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۚ ﴾ دغه (کونکى د دغو کارونو) الله دى رب ستاسو خاص همده ته ده پاچهي (سلطان او بشپړ تصرف په مخلوقاتو کي) ﴿ وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ ﴾ او هغه (بتان) چي تاسي يې بولى (او عبادت يې کوى) بې له دغه (الله) ندي مالکان دوى د نرۍ پردې (چي په زړي) د خرماوو (کي پرته وي). مفسرين کرام وايې چي دغه يو مثال دى چي الله يې په لږوالي، سپکوالي او حقارت باندي تېروي چي بتان دومره حقير ضعيف عاجز دي چي د خرما په زړي کي د نري پټو کي مالکان هم نه دي ورپسې الله پاک په دغه وينا تاکيد فرمايې چي: ﴿ إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ ﴾ که وبولى تاسي دغه بتان نه اوري دوى ستاسي بلنه (ځکه دوى جمادات دي نه اوري او نه پوهېږي) ﴿ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ ﴾ او که (بالفرض) واوري دوى نو نه به شي درکولى ځواب ستاسي (ځکه چي ژبه نلري خبري نشي کولاى) ﴿ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ ﴾ او په ورځ د قيامت به منکران شي دوى په شريک کولو ستاسي (باندي دوى لره سره له الله) يعني کله چي په آخرت کي الله دوى ناطقان کړي له تاسو او ستاسو له عبادت کولو به بېزاره شي ﴿ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ ﴾ (او خبر به نکړي تا (اى محمده په يقيني توګه) په شانِ د خبرولو د هغه (ښه عالم) ښه خبردار) يعني زه الله قتاده وايې: چي مقصد له خبيره دالله جل جلاله خپل ځان دى.

بلاغت:

([1]) په تفسير جوهري کي وايې: ګمان کېده چي لمر پخپل ځاى ولاړ دى مګر اوسني علم دا ښودلي ده چي لمر په دغه پراخه د کائناتو فضاء کي په يوه اتجاه (لوري) ګرندى روان دى چي د فلکياتو ماهرينو ته د هغه چټکوالى د وولس ميله په يوه ثانيه کي ښودلى دى او عليم الخبير ذات د هغه په روانېدلو او خوځښت خبرور کوي فرمايې ﴿ وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ﴾ او کله چي موږ تصور کوو چي د لمر حجم د ځمکي تر حجم يو مليون څنده زيات دى څوله دغه لويوالي سره سره په فضاء کي چي يوازي دالله قدرت يې ساتي حرکت کوي موږ ته يو څه برخه د هغه د قدرت د صفت معلومه ده کوم چي دغه ستره ګټله پخپل ځواک او پوهه له لوېدلو او راپرېوتلو ژغوري.

پدې آيتونو کې چې دبيان او بديع کومې ښکلاوې شته لنډيزيې دادی:

۱- تمثيلي استعاره لکه: ﴿ مَّا يَفْتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ﴾ دلته يې دنعمتونو را استول دخزانو له پرانستلو سره چې هرچاته ور وېشل کېږي مشابه کړل همداسي يې دنعمتونو بندول له نيولو (امساک) سره تشبيه کړل اود پرانستلو (فتح) لفظ يې لپاره دورکولو او (امساک) يې دمنع کولو لپاره استعاره راوړل.

۲- دطباق صنعت چې ﴿ يَفْتَحِ ... يُمْسِكْ ﴾ همداسي د ﴿ يُضِلُّ ... وَيَهْدِى ﴾ اود ﴿ تَحْمِلُ ... تَضَعُ ﴾ اود ﴿ يُعَمَّرُ ... يُنقَصُ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

۳- مقابله په مابين دجزاء دابرارو او فجارو کې چې فرمايي: ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ... وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴾ همداسي ددې کلام چې ﴿ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ ... وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ ﴾ اوهريوله طباق او مقابلې څخه له بديعي محسناتو ګڼل کېږي خولومړی ددوشيانو ترمينځ او دوهم دزياتو شيانو ترمينځ راځي.

۴- دځواب حذف کله چې لفظ وربانديې دلالت کوي لکه: ﴿ أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنًا ﴾ هغه مقابل يې ځني حذف کړی چې هغه دادی (کمن لم يزين له سوء عمله) او پردغه محذوف باندې دالله ﷻ داوينادلالت کوي چې: ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ﴾.

۵- اطناب دفعل په تکرار سره چې فرمايي ﴿ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ﴾ بياوايي ﴿ وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴾.

۶- کنايه چې په دې کلام کې ده ﴿ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَٰتٍ ﴾ دغه دنفس تلل له هلاکت څخه کنايه ده ځکه کله چې نفس ولاړشي نوانسان هلاکېږي.

۷- التفات له غيبت څخه تکلم ته چې په عظمت باندې آګاهي ورکړي لکه چې فرمايي: ﴿ وَٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَٰهُ ﴾.

۸- سجع کومه چې په اوږدلو باندې ښه اغيزپرې باسي لکه: ﴿ لِيَكُونُوا۟ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ... لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴾ او نور ډېر مثالونه چې داهم له بديعي محسناتو شمېرل کېږي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِ ۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿١٥﴾ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٦﴾
وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٍ ﴿١٧﴾ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۚ وَإِن تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَىٰ حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَىْءٌ وَلَوْ كَانَ ذَا

فُرَىٰٓ إِنَّمَا تُنذِرُ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ۚ وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفْسِهِۦ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ
﴿١٨﴾ وَمَا يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ ﴿١٩﴾ وَلَا ٱلظُّلُمَٰتُ وَلَا ٱلنُّورُ ﴿٢٠﴾ وَلَا ٱلظِّلُّ وَلَا ٱلْحَرُورُ ﴿٢١﴾ وَمَا يَسْتَوِى ٱلْأَحْيَآءُ
وَلَا ٱلْأَمْوَٰتُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَآءُ ۖ وَمَآ أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِى ٱلْقُبُورِ ﴿٢٢﴾ إِنْ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ بَشِيرًا
وَنَذِيرًا ۚ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ
وَبِٱلزُّبُرِ وَبِٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُنِيرِ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَخَذْتُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٢٦﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً
فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ۚ وَمِنَ ٱلْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ
ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَ ۗ إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿٢٨﴾
إِنَّ ٱلَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَٰرَةً لَّن
تَبُورَ ﴿٢٩﴾ لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٠﴾ وَٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ
مِنَ ٱلْكِتَٰبِ هُوَ ٱلْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِعِبَادِهِۦ لَخَبِيرٌۢ بَصِيرٌ ﴿٣١﴾ ﴾ فاطر: ١٥ - ٣١

مناسبت:

کله چې الله خپل نعمتونه بندګانو ته وریاد کړل او پخپل قدرت عزت او سلطان یې دلائل راوړل دلته یې دوی په دې وپوهول چې هغوی ټول دغه مقدس ذات ته محتاج او هغه جل جلاله له دوی څخه بې پروا مستغني دی بل یې دمؤمن او کافر صالح او فاجر لپاره دبېل والي مثال راووړ چې دغه لکه بینا او نابینا، یا روښنایې او تیاره غوندې مثالونه لري (وبضدها تتميز الاشيآء).

لغتونه:

(وزر) سترغره ته ویل کېږي چې څوک پناه وروړي او هم دغه معنا پدې کلام کې مقصد دی چې ﴿كَلَّا لَا وَزَرَ﴾ (القيامة ١١) او بیا وروسته درانه څېزته وویل شول چې له غره سره یې تشبیه راشي او بیا د ګناه لپاره استعاره شو چې هغه هم دانسان په اوږو درونډ پېټی دی (تنذر) انذار تخویف او وېرولو ته وایې (الغيب) پټ او الونیا شیانو ته وایې کوم چې په حواسو نه پېژندل کېږي لکه چې شاعر وایې:

وبالغيب آمنا وقد كان قومنا * يصلون للأوثان قبل محمد

او موږ په غیبو ایمان راوړی زموږ پلرونو د محمد تر راتلو پخوا بتانو ته لمنځونه کول (الحرور) سختې ګرمې ته وایې المصباح لیکي چې (حرّ) د یخنې خلاف او حرارت یې نوم دی او چې وایې (حرت النار) معنایې دا چې اور بل شو او (حرور) ګرم باد ته وایې (١)(جُدَدٌ) د جدة جمع او لارې لیکي ته وایې. جوهري وایې چې (جدة) مشدد هغې لیکې ته وایې چې د خره په شا اوله رنګه یې مخالفې وي او (جُدة) لارې ته

(١) المصباح المنير.

وايې چي جمع يې (جُدَدٌ) راځي اوهغولاروکرښوته وايې چي رنګونه يې سره بېل وي(۱) قرطبي وايې چي اخفش ويلي که چېري دغه د (جديد) جمع وای نوبه مضموم الجيم اودال وای لکه (سُرُرٌ) (غرابيب) دغربيب جمع اوسخته تک تورته وايې.

تفسير:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ ﴾ ای خلګوتاسي الله ته فقيران محتاجان يی (په ټولو احوالو ستاسي کي) ﴿ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴾ اوالله هم دی غني بې پروابنه حمداوثناويلي شوی (په زياتو نعمتونودده. ابوحيان وايې چي دغه آيت شريف دوعظ اوپنديادونه ده چي ټول خلګ دالله احسان او انعام ته په ټولو احوالوکي اړاومحتاج دی چي دسترګو په رپ کي هم ځني مستغني کېدلای نشي او الله پاک مطلقًا له ټول عالم څخه غني اوبې پروادی الله لره حمداوثنادی په هغوډېرو نعمتونو چي مخلوق ته يې ورکړي دي(۲) وروسته الله ﷻ خپله استغنا له خلګوپه دې ويناسره جوتوي ﴿ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ ﴾ که (الله) اراده وفرمايې دبېولوستاسي (په فنااوهلاکت سره) نوبه مو بوزي) اورابه ولي نور نوی مخلوق (ستاسي پرځای پردې کي وعيداوتهديد دی ﴿ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ ﴾ اونه دی دغه (بېول ستاسي اوراوستل دنورو) پرالله څه سخت اومشکل (بلکه خورا ورته آسانه دی ځکه هغه چي يوڅېزته ووايې: (کُنۡ) نو(فيکون)شي ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ ﴾ (اونه اخلي (هيڅ عاصي نفس) باردګناه دبل نفس) اونه دبل په ګناه چاته عذاب ورکولی شي لکه چي ددنياجابره اوسرکښان حاکمان يې ورکوي ګاونډی په ګاونډي اوقريب په قريب نيسي(۳) ﴿ وَإِن تَدۡعُ مُثۡقَلَةٌ إِلَىٰ حِمۡلِهَا لَا يُحۡمَلۡ مِنۡهُ شَيۡءٞ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰٓۗ ﴾ اوکه راوبولي درونډباری (بل څوک) باردګناهونوخپلو ته وابه نه خيستی شي له هغه څخه هيڅ څيز اواګرکه وي دغه (بللی شوی) خاوندد خپلوي هم لکه پلار او زوی پدغه ورځ يودبل فريادنه اوري دغه دپخواني حکم تائيددی چي يوانسان دبل انسان ګناه نه بار وي. زمخشري وايې که چاوپوښتل چي بيانوددواړو آيتونوفرق اوتوپيرڅه دی؟ ځواب داچي په لومړي آيت کي دالهي حکم په عدل دلالت راغلی اوداچي الله ﷻ هيڅوک پرته له ګناه نه آزاروي اوپه دوهم آيت کي داچي هيڅوک دبل چااستغاثه نه اوري ﴿ إِنَّمَا تُنذِرُ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ ﴾ (بېشکه هم داخبره ده چي وېروې ته هغه کسان چي وېرېږي له ربه خپله په غيبوسره) يعني ته پدې قرآن باندي هغه څوک وېروې چي دقيامت دورځي له الهي عذابه وېرېږي ﴿ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ ﴾ اوقائموي (سم اداکوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ، نودخپلو نفوسو پاکوالي سره يې دابدانو پاکوالی هم يوځای کړی وي چي لمنځونه پخپلووختونو کي

---

(۱) البحرالمحيط ۳۰۷/۷

(۲) البحرالمحيط ۳۰۸/۷.

(۳) نفس المرجع.

کوي ﴿ وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفْسِهِۦ ﴾ اوهرڅوک چي ځان (له شرکه اومعاصي) پاک کړي پس بېشکه هم داخبره ده چي ځان يې پاک کړلپاره دنفعي دځان خپل، صلحيت اوتقوی يې خپل ځان ته ګټه رسوي ﴿ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴾ اوخاص (طرف د) الله ته ورتله دي (دهرچا) اودوی ته به پخپلو اعمالو جزاء ورکړي دغه اخباردی خوپه ترڅ کي يې وعيد شته دی ﴿ وَمَا يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ ﴾ اونه برابرېږي سره ړوند(کافر) اوليدونکی (مؤمن) داهغه مثال دی چي الله دمؤمن اوکافرلپاره راوړي يعني لکه څرنګه چي نابينااوبيناسره برابرنه دي همداسي هغه څوک چي دقرآن په نورلاره ويني له هغه کافرسره برابرنه دی چي دجهل په تورو تيارو کي لالهاندوي ﴿ وَلَا ٱلظُّلُمَٰتُ وَلَا ٱلنُّورُ ﴾ اونه تياره (باطل) اونه رڼا(حق) يعني لکه چي داسره برابرنه دي همداسي کفر او ايمان سره برابرېدلای نشي ﴿ وَلَا ٱلظِّلُّ وَلَا ٱلْحَرُورُ ﴾ اونه سيوری (جنت) اونه تودباد(دوزخ) مفسرين کرام وايي چي الله تعالی دغه مثال دجنت لپاره راوړی هغه چي پراخ سيوري اوچتي ګڼي وني لري چي ترې لاندي ويالې بهېږي لکه چي ﴿ ٱلْحَرُورُ ﴾ داوراودوزخ لپاره مثال راوړي چي سخته ګرمي لري نو جنت دابرارو هستوګنځی اور دفجارولپاره داوسېدلو ځای دی لکه چي الله فرمايي: ﴿ لَا يَسْتَوِىٓ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ ﴾ (الحشر۲۰) وروسته يې داسي تاکيد راوړی چي ﴿ وَمَا يَسْتَوِى ٱلْأَحْيَآءُ وَلَا ٱلْأَمْوَٰتُ ﴾ اونه برابرېږي سره ژوندي (علماء هوښياران) اومړي (جاهلان) ابوحيان وايي چي ددغو څېزونو ترتيب په نه برابرېدلو کي په نهايت فصاحت سره شوی دی ځکه ړونداوبينا(ليدونکی) دمؤمن اوکافرلپاره مثال راوړشوی او بياهغه څه چي کافرورباندي دکفرپه تيارو کي وي اومؤمن دايمان په نورکي اوبيادوی وروستی پړاو چي مؤمن په جنت اوثواب کي اوکافرپه دوزخ اوعقاب کي او وروسته يې بل مثال چي هغه ډېر أبلغ دی په مړي اوژوندي باندي راووړ ځکه کله کله په ړندوکي څه منفعت وي خوپه مړي کي هيڅکله نه وي او ﴿ ٱلظُّلُمَٰتُ ﴾ يې جمع راووړ چي دکفرلاري ګوښي ګوښي وي او ﴿ ٱلنُّورُ ﴾ يې مفرد راووړ ځکه چي توحيداوحق يو دی او همداسي يې په وروستيودومثالونو کي اشرف ړومبی راووړ چي (ظل) او(حی) اوهغه ډېر څرګند (أوضح) يې په ددو لومړيو مثالونو کي په سر کي راووړچي هغه (أعمی) او(ظلمات) وو ترڅو چي فرق ښه څرګند شي اوداسي بايدونه ويل شي چي دغه يې دسجع لپاره همداسي راوړی ځکه قرآني معجزه خويوازي په لفظ کي نه ده بلکه په معناکي هم معجزه دی اوټول قرآنکريم اسرار اورازونه دي له دې نه وروسته بيالازيات څرګند تيااوبيان داسي فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَآءُ ۖ وَمَآ أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِى ٱلْقُبُورِ ﴾ (بېشکه چي الله اوروي هرهغه چاته چي يې اراده وشي (داورولو يې) اونه يې ته ای محمده! اورونکی هغوته چي په قبرونو کي دي (دنافع قول) يعني الله چي چاته دحق دبلني داورولو اراده وفرمايي نو ايمان ورته محبوب اوسينه يې داسلام لپاره پرانيزي خوته ای محمده ! دغه کفار اورولی نشې ځکه چي ددوی زړونه مړه دي نه حق پېژني او نه پرې پوهېږي . ابن جوزي وايي چي مقصدله مړوڅخه کفاردي اودوی يې ځکه له مړوسره مشابه وګڼل لکه چي مړي د قرآنکريم اورېدل نشي کولای اوله مواعظو څخه يې ګټه نشي

اخیستلای همدا رنګه هغه څوک هم دی چي زړونه یې مړه وي په هغه څه چي اوري یې ګټه نشي اخیستلای (۱)﴿ إِنۡ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴾ نه یې ته (ای محمده !) مګروېرونکی (د دغو کفارو له دوزخه یې) ﴿ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۚ ﴾ بېشکه چي موږلېږلی یې ته په حق رښتیا (دین او هدایت) زېری ورکونکی (مؤمنانو ته) او وېرونکی (کفارو ته) ﴿ وَإِن مِّنۡ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٞ ﴾ او نه وو هیڅ امت مګرچي تېرشوي په هغه کي کوم وېرونکی ، پدې کي د رسول الله ﷺ لپاره ډاډینه ده چي په تېرو انبیاوو علیهم السلام پسي دي اقتداء وکړي او د هغوی صبر او حلم او په کړاوونو باندي زغم دي خپل کړي. طبري وایې معناداچي ای محمده ! که دغه ستاد قوم مشرکانو ستا تکذیب وکړ همداسي په تېرو امتونو کي هم انبیاء علیهم السلام د خپلو قومونو او منکرانو له خوا تکذیب شوی دي(۲)﴿ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ ﴾ او که دروغجن بولی (کفار) تا (نو مه خفه کېږه څکه چي) پس په تحقیق دروغجن یې بللي وو (انبیاء خپل) هغو کسانو چي وو پخوا له دوی راغلي وو دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلائلو (معجزاتو او نښانیو خو دوی دروغجن وګڼل او له هغه څه څخه چي دالله له لوري یې راوړي وو منکر شول) ﴿ وَبِٱلزُّبُرِ وَبِٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُنِيرِ ﴾ او په صحیفو سره او په کتاب ښکاره کونکي (د حق او باطل) یعني دوی په هغو صحیفو چي په انبیاوو علیهم السلام نازلي شوي وې او په نورو آسماني مقدسو کتابونو چي څلور دي لکه تورات، زبور، انجیل او فرقان باندي کافران شوي وو نو ته هم لکه د نبیانو غوندي صبر وکړه ! ﴿ ثُمَّ أَخَذۡتُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۖ ﴾ بیا مي ونیول هغه کسان چي کافران شوي وو (په سخت عذاب او هلاکت) ﴿ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ﴾ پس نو څرنګه شوانکار زما (پر دوی او عذاب زما آیا و مي نه نیول په نیولو دعزیز مقتدر؟ آیا نعمت مي په نقمت وربدل نکړ؟ آیا نېکمرغي مي په بدمرغي او وداني مي په وراني ، ویجاړي نه وروااړوله ؟ همداسي زه له هغه چاسره چي زما د انبیاوو تکذیب وکړي چلند کوم ، بیا د الله په وحدانیت باندي آسماني او ځمکني دلائل داسي راوړي چي: ﴿ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ ﴾ آیا نه وینې ته (ای مخاطبه) چي بېشکه الله نازلي کړي دي له (جانبه) د آسمانه او به د باران په خپل قدرت) ﴿ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٖ مُّخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهَاۚ ﴾ پس راایستلي موږ په وسیله د دې اوبو مېوې پدې حال چي مختلفي دي رنګونه د دغو (مېوو) خوندونه او شکلونه یې . زمخشري وایې معناداچي جنسونه یې مختلف دي لکه انار، منې، انځر، انګور او نورچي شمېر یې نشي کېدای او یا شکلونه یې لکه ژېړ، سره ، زرغونه او نور(۳)﴿ وَمِنَ ٱلۡجِبَالِ جُدَدُۢ بِيضٞ وَحُمۡرٞ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهَا ﴾ او ځیني له غرونو (خاوندان د) لارو (توتې توتې) دي سپیني او سرې چي مخالف دي سره

(۱) الطبري ۲۲/۸۵.
(۲) الطبري نفس المرجع السابق
(۳) الكشاف ۳/۴۸۲

رنګونه د دغو (لارو) يعني الله ﷻ غرونه پيدا کړي چي د مختلفو رنګونو لاري پکي دي که څه هم ټول ډبري او يا خاوري وي ځيني له دغو غرونو د مختلفو رنګونو لاري لري مثلا سپيني چي په سپين والي کي مختلف رنګونه وي او سري لاري چي په سوروالي کي مختلف وي ﴿ وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴾ او ځيني د دوی تک تور دي. ابن جزي وايې چي أبلغ صفت يعني ښخي تک تور يې په ځای کي د تاکيد په مقصد راوړی که څه هم حق خو دا وو چي ړومبی يې یاد کړی وای او دغه محاوره په عربي کلام کي ډېره راځي (١)

مقصد له دې څخه د الله ﷻ د قدرت بيان دی يعني دغه د رنګونو او شکلونو اختلاف يوازي په مېوو کي نه دی حصر بلکه په ځمکني پوړيو او کلکو غرونو کي هم دغه ليدل کېږي (٢) آن تر دې چي په يوه يوه غره کي عجيبه عجيبه نادر رنګونه وي ته به وايې مرجان دي په تېره بيا د مرمرو په ډبرو کي. فسبحان الله القادر على كل شئ ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَ ﴾ (او همداسي) له خلګو څخه هم او همدا رنګه له نورو) ژوندي خوځېدونکو او څارويو څخه هم چي سره مخالف دي رنګونه د هغو همداسي) يعني لکه څرنګه چي د مېوو او غرونو مختلف رنګونه دي همدا ډول د انسانانو او څارويو رنګونه مختلف دي دغه سپين دی هغه سور دی، دا بل تک تور دی او ټول د الله مخلوقات دي کله چي الله د خپل قدرت او ځواک نښي نښاني و ښودلې او خپل د عجيب صنعت يې يوه بېلګه بيان کړه وروسته يې داسي وفرمايل: ﴿ إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟ ﴾ بېشکه همدا خبره ده چي له الله څخه وېرېږي له بندګانو د دغه (الله) عالمان ځکه دوی الله ﷻ لکه چي يې د معرفت او پېژندګلوي حق دی داسی پېژني. ابن کثير وايې چي بېشکه علماء عارفين له الله څخه داسي وېرېږي لکه چي يې حق دو ېري دی ځکه کله چي معرفت د عظيم قدير ذات بشپړ شي او علم کامل شي بيا نو وېره هم ستره او زياته شي (٣) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴾ بېشکه الله ښه غالب قوي دی (په عظمت خپل) ښه مغفرت کونکی دی (چي څوک ورته رجوع وکړي او توبه ګار شي، وروسته يې د هغو کسانو صفات راوړل چي له الله څخه وېرېږي او د ثواب طمع يې کوي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ بېشکه هغه کسان چي د الله کتاب (قرآن) لولي (تل تر تله د شپې او ورځي) او قائموي (تل سم اداکوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ (پخپلو وختونو کي له خشوع، ادابو، شرطونو او ارکانو سره)

(١) التسهيل ٣ /٥٨

(٢) د اسلام شهيد سيد قطب پخپل تفسير کي ليکي چي دغه د کائناتو په هکله پام راګرزول يو عجيبه شان ته بېلګه ده چي د باران په اورښت پيل کېږي او بيا د مختلفو رنګونو مېوو د راز رغونېدلو وايې له هغه وروسته بيا د غرونو مختلف رنګونه ښيي چي د تيږو په رنګونو کي همدغسي لکه چي په مېوو کي مختلف رنګونه دي شتون لري او دغه په ډبرو کي بيا ديوې ډبري په مينځ کي ديو رنګ په مينځ کي مختلف نور رنګونه زړه لړزوي او جمالي ذوق راپاروي کوم چي د ليدلو او کتلو وړ وي وروسته بيا د خلګو رنګونه بيانوي لکه چي د څارويو او حيواناتو رنګونه چي اوښان، غوايې، پسونه، وزې چي د مختلفو رنګونو درلودونکي وي دغه ګرد په دغه منظور (ليدل کيدونکي) کائناتي کتاب کي د ليدلو کتلو وړ دي چي الله (جل جلاله) په عجيبه رنګ آميزي باندي پنځولي دي.

(٣) مختصر ابن کثير ٣ /١٤٢

﴿وَأَنفَقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَـٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً﴾ اولګوي (په لاره دالله کي) ځيني له هغو شيانو څخه چي ورکړي مودي دوی ته (لګوي يې) په پټه او ښکاره ﴿يَرْجُونَ تِجَـٰرَةً لَّن تَبُورَ﴾ اميد لري دوی دداسي تجارت (سوداګري) چي له سره نه هلاکېږي (په تاوان سره بلکه ګټورتجارت وی) ﴿لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِۦٓ﴾ لپاره ددې چي الله پوره ورسوي دوی ته اجرونه (دعملونو) ددوی اوزيات ورکړي دوی ته له فضله خپله. په التسهيل کي وايې چي پوره ورکول دثوابونوهغه دي چي مطيع يې مستحق وي اودزيات معنادا چې څو واري دهغو اعمالوثوابونه مضاعف ورکول دي اوياهم الهي ديدارته وايې[1] ﴿إِنَّهُۥ غَفُورٌ شَكُورٌ﴾ ببشکه دغه الله ښه ښښونکی (داهل القرآن) ښه قدردان (دطاعتونوددوی) دی. ابن کثيروايې چي مطرف به کله دغه آيت ولوست نو ويل به يې چي دغه دقاريانوآيت دی[2] ﴿وَٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ مِنَ ٱلْكِتَـٰبِ هُوَ ٱلْحَقُّ﴾ اوهغه چي وحی کړي ده موږتاته له کتابه (قرآنه) هم هغه حق رښتياده (په رښتنولي کي يې هيڅ شک اوشبه نشته) ﴿مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ﴾ پداسي حال کي چي رښتونی کونکی دی هغو کتابونو ته چي پخواله دې څخه وو (لکه تورات، انجيل، اوزبور. ابوحيان وايې چي په آيت شريف کي دې لوري ته اشاره ده چي دغه وحی ده څکه رسول الله ﷺ خوليکونکی اولوستونکی نه ووخوله دې سره هغه څه يې بيانول چي دالله ﷻ په کتابونوکي راغلي وواوداپرته له الله څخه دبل چاله لوري نه وو[3] ﴿إِنَّ ٱللَّهَ بِعِبَادِهِۦ لَخَبِيرٌۢ بَصِيرٌ﴾ ببشکه الله پربندګانوخپلوخامخاښه خبرداردی (په باطن دامورو ددوی اوپه ظاهريې) ښه ليدونکی دی (چي ددوی هيڅ ورڅخه پټ نه دي).

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١- دطباق صنعت چي ددې کلماتوترمينځ شته لکه ﴿يُذْهِبْكُمْ ... وَيَأْتِ﴾ اود ﴿ٱلْأَعْمَىٰ ... وَٱلْبَصِيرُ﴾ اود ﴿ٱلظُّلُمَـٰتُ ... ٱلنُّورُ﴾ اود ﴿ٱلظِّلُّ ... ٱلْحَرُورُ﴾ اود ﴿ٱلْأَحْيَآءُ ... ٱلْأَمْوَٰتُ﴾ اود ﴿بَشِيرًا ... وَنَذِيرًا﴾ اود ﴿سِرًّا ... وَعَلَانِيَةً﴾ ترمينځ.

٢- اشتقاقي جناس پدې کلماتوکي ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾ اود ﴿حِمْلِهَا ... لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَىْءٌ﴾ راغلی دی.

---

[1] التسهيل ٣ / ١٥٨
[2] المختصر ٣ / ١٤٣
[3] البحر المحيط ٧ / ٣١٣

٣ – تصريحي استعاره چي فرمايي: ﴿ وَمَا يَسْتَوِي ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ ﴾ دآيت ترپايه دلته يې كافرله ړانده سره اومؤمن له ليدونكي سره پدې كي چي توره تياره اوكافرلاره نشي موندلای اورڼاورځ مؤمن سمه لاره مومي اوبيايې مشبه به چي ﴿ ٱلْأَعْمَىٰ ﴾ دی دكافرلپاره استعاره راوړ او ﴿ وَٱلْبَصِيرُ ﴾ ي لپار دتصريحي استعارې په توګه استعاره كړی دی.

۴ – التفات له غيبت څخه تكلم ته چي پدې كلام كي دی ﴿ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا ﴾ چي د (فاخرج) پرځای راوړل شوی څكه دلته ددغه فعل په سترتوب دلالت اوهغه ته بشپړه پاملرنه اوتوجه رااړول دی چي دغه فعل دالله دلوی قدرت څخه خبرور كوي

۵ - صفت په موصوف پوري قصراوګوښي كول چي دالله تعالی پدې كلام كي راغي: ﴿ إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُاْ ﴾ دلته يې وېره يوازي په علماووپسي خانګړي كړي ده.

٦ – تقريري استفهام چي دتعجب معناپكي وي لكه: ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ دآيت ترپايه پوري

٧ – استعاره چي پدې كلام كي شته لكه ﴿ يَرْجُونَ تِجَٰرَةً لَّن تَبُورَ ﴾ دلته يې له الله څخه د ثواب موندلود معاملې لپاره تجارت استعاره كړ اوله دنيوي سوداګري سره يې مشابه كړكوم چي د خلګوترمينځ په بيع اوشراء كي راځي ترځوګته وكړي اوبيايې له هغي څخه ﴿ لَّن تَبُورَ ﴾ كلمه ترشيح كړه.

٨ – دفواصلوهغه موافقت چي دكلام په جمال ،رونق اوپه اغيزكي خوراداهميت وړوي لكه ﴿ يَرْجُونَ تِجَٰرَةً لَّن تَبُورَ ﴾ ﴿ إِنَّهُۥ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴾ ﴿ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴾ اوداسي نور.

الله تعالی فرمايي:

﴿ ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِٱلْخَيْرَٰتِ
بِإِذْنِ ٱللَّهِ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ ﴿٣٢﴾ جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا
وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٣٣﴾ وَقَالُواْ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِىٓ أَذْهَبَ عَنَّا ٱلْحَزَنَ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٤﴾ ٱلَّذِىٓ أَحَلَّنَا دَارَ
ٱلْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِۦ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴿٣٥﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقْضَىٰ عَلَيْهِمْ
فَيَمُوتُواْ وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُم مِّنْ عَذَابِهَا كَذَٰلِكَ نَجْزِى كُلَّ كَفُورٍ ﴿٣٦﴾ وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا
نَعْمَلْ صَٰلِحًا غَيْرَ ٱلَّذِى كُنَّا نَعْمَلُ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُ فَذُوقُواْ فَمَا
لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٣٧﴾ إِنَّ ٱللَّهَ عَٰلِمُ غَيْبِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٣٨﴾ هُوَ ٱلَّذِى

جَعَلَكُمْ خَلَٰٓئِفَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ فَمَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ ۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلْكَٰفِرِينَ كُفْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا ۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلْكَٰفِرِينَ
كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ﴿۳۹﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِى مَاذَا خَلَقُوا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ
أَمْ ءَاتَيْنَٰهُمْ كِتَٰبًا فَهُمْ عَلَىٰ بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ إِن يَعِدُ ٱلظَّٰلِمُونَ بَعْضُهُم بَعْضًا إِلَّا غُرُورًا ﴿۴۰﴾ ۞ إِنَّ ٱللَّهَ يُمْسِكُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ أَن تَزُولَا ۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿۴۱﴾ وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ
أَيْمَٰنِهِمْ لَئِن جَآءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى ٱلْأُمَمِ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿۴۲﴾ ٱسْتِكْبَارًا فِى
ٱلْأَرْضِ وَمَكْرَ ٱلسَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ ٱلْمَكْرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِۦ ۚ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ ٱلْأَوَّلِينَ ۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ۖ
وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحْوِيلًا ﴿۴۳﴾ أَوَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَكَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۚ وَمَا
كَانَ ٱللَّهُ لِيُعْجِزَهُۥ مِن شَىْءٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿۴۴﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ
بِمَا كَسَبُوا۟ مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَآبَّةٍ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ
فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِۦ بَصِيرًۢا ﴿۴۵﴾ ﴾ فاطر: ۳۲ - ۴۵

مناسبت:

کله چي الله پخپلو تلاوت کونکو بندګانو ثنا ولوستله نو دلته يې د دغه قيمتي خزانې په وراندي د اسلامي امت پرګنې په دريو ډولو وويشلې هغه چي: پرخپل ځان ظلم کونکي، هغه چي: مينځلاري مقتصدين او هغه چي: د نيکيو کارونو ته په منډه ورتلونکي وي او بيا يې د نېکانو او بدانو وروستی هستوګنځی بيان کړ ترڅو چي بنده د رغبت او رهبت خوف او رجآء ترمينځ واوسي.

لغتونه:

(نصب) جسماني مشقت ته وايي (لغوب) روحي ستوماني او ستړيا وله دې څخه دی ﴿ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴾ (ق: ۳۸) (يصطرخون) له صراخ څخه او هغه په زوره چيغي وهل دي چي څوک يې مرستي ته ورشي، (النذير) د الله له عذابه د خلګو وېرونکي ته وايي (خلائف) د خليفه جمع او هغه چاته وايي چي د بل چا وروسته د هغه د چارو سمبالونکی وي (مقتا) بغض او غضب ته ويل کېږي (خسارًا) هلاکت او ګمراهي ته وايي (يحيق) په يو څېز را ګرز ېدل او تاوېدلو ته وايي.

تفسير:

﴿ ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ﴾ بيا مو وارث وګرزول (او ورمو کړ دا) کتاب هغو کسانو ته چي غوره کړي مو دي له بندګانو خپلو (چي افضل الامم محمدي امت دی، زمخشري وايي هغه

کسان چي الله غوره کړي هغوی محمدي اُمت چي عبارت له اصحابو کرامو، تابعينو او هغه نور کسان چي دقيامت تر ورځي پوري راتلونکي دي(۱) بيايې په دريوډولګيوو وېشل چي: ﴿فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِٱلْخَيْرَٰتِ بِإِذْنِ ٱللَّهِ﴾ (پس ځيني ددوی پرخپل ځان ظالم دي او ځيني ددوی په مينځ دلاري کي سم تلونکي دي اوځيني له دوی دالله په اذن نېکيوته رومبي کېدونکي دي) يعني ځينو ددغو کسانو وارثانو څخه هغه دي چي دخيرپه کارونوکي مقصردي قرآن لولي خو عمل وربانديې نه کوي همدغه پخپل ځان ظالم دی ځيني هغه دي چي دخيرپه کارونو کي متوسط الحال دي په ډېرو وختونوکي په قرآنکريم عمل کوي خوپه ځيني وختونوکي ځيني کوتاهي پېښېږي همدغه مقتصدين دي اوځيني هغه دي چي په ډېره تلواره دخيردکارونواهتمام کوی اوپه کتاب الله عمل کونکي دي اودوی هغه دي چي دالله ﷻ په توفيق يې دطاعاتوعباداتوپه ترسره کولو کي زيات پرمختګ کړی وي اودغه سابق بالخيرات دي. ابن جزي وايې چي اکثرمفسرين دغه درې سره ډلي دمحمدي اُمت ګڼي (ظالم) ګنهګار دی او(سابق) متقي پرهېزګاردی او(مقتصد) ددوی ترمينځ(۲) دی. حسن بصري رحمه الله وايې: سابق هغه څوک دی چي نېکي يې تربدي زياتي وي ظالم هغه چي بدي يې ترنېکي زياتي وي او مقتصدبياهغه چي دواړه يعني نېکي اوبدي يې سره برابري وي اوټول به جنت ته داخلېږي (۳)﴿ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ﴾ (دغه توريث اوغوره کول دمحمدي امت) يو فضل دی ډېرلوی) دغه ارث اواصطفاء دمحمدي امت لپاره دتحمل دأشرف الرسالات او دآسماني کتابونو څخه معظم کتاب هغه چي نورکتابونه يې فضل اوبهتري ته رسېدلای نشي اوتل تر تله به باقي وي د الله يولوی فضل دي وريسې دمؤمنانولپاره تيار شوي نعمتونه داسي بيانوي ﴿جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا﴾ جنتونه دهستوګني دي ننوزي به په (هغوکي؛ هلته چي متفاوتي درجې اومرتبې شته لکه څرنګه چي عملونه توپيرلري اوداچي(جنات) يې جمع راوړل ځکه چي جنتونه ډېردي يونه دی هلته جنت الفردوس دی جنت عدن دی جنة النعيم دی جنة المأوی، جنة الخلد اوجنة السلام اوجنة عليين دی او په هرجنت کي دعمل کونکوله مرتبوسره سمي مرتبې اوپوړی دي ﴿يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا﴾ ګاڼه دارکولی به شي په دغه (جنت) کي له باهوګانوله سروزرو(خالصو) اوله مرغلرو صافو (چي پکي به کارول شوي وي) ﴿وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ﴾ اوجامې د دوی په دغه (جنت) کي به د ورېښمووي، همداسي فرشونه او پر دې به يې هم دورېښمو وي. قرطبي وايې څرنګه چي پاچهانوبه په دنياکي تاجونه او(وېني) اغوستل الله جل جلاله دغه دجنتيانولپاره وټاکل اود ټولو جنتيانوبه په جنت کي په لاس کي درې لاسوندي (وېني)

---

(۱) الکشاف ۳/ ۴۸۴
(۲) زادالمسير۶/ ۴۹۰.
(۳)دغه چي درې سره ډلي دمحمدي امت څخه دي راجح قول اوابن جرير غوره کړي ابن کثيرپدې هکله نبوي احاديث هم راوړي دي.

وي يوبه دسروزروبل د سپينو زرو او بل د ملغلرووي(١) ﴿ وَقَالُوا۟ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِىٓ أَذْهَبَ عَنَّا ٱلْحَزَنَ ﴾ اووايي به جنتيان (په وخت د دخول د جنت کې) ټوله ثناصفت خاص الله ته دی هغه الله چې بوېې تله (ليري يې کړه) له موږ څخه خفګان ، مفسرين کرام وايي چې:په ماضي سره يې تعبيروفرمايل چې (وقالوا) ځکه چې پېښېدل يې ثابت دی او د(حزن) معناعام خفګان دی ټول هغه څه چې د انسان خوښي له مينځه وړي لکه دناروغي ، فقر، مرګ ، دقيامت کړاوونه اوداور عذاب وېره او نورڅه حزن دی(٢)

﴿ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ ﴾ بېشکه رب زموږ خامخا ښه ښونکی (د ګناهکارانو) ښه قدردان (دنېکانو مطيعانو) دی دغه دواړه لفظونه د مبالغې لپاره دي ﴿ ٱلَّذِىٓ أَحَلَّنَا دَارَ ٱلْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِۦ ﴾ هغه (رب) چې راېې وستوموږ کورد اقامت (جنت ته) له فضله خپله (چې هيڅکله به ځني نه ايستل کېږو) ﴿ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴾ نه رسېږي موږ ته په دغه (جنت) کې هيڅ مشقت اونه رسېږي موږ ته په دغه جنت کې هيڅ ستوماني خفګان. ابن جزي وايي جنت يې ﴿ دَارَ ٱلْمُقَامَةِ ﴾ ونوماووځکه دوی به هلته تلپاتې وي هيڅکله به ځني نه ايستل کېږي او ﴿ نَصَبٌ ﴾ بدني ستړياته وايي او ﴿ لُغُوبٌ ﴾ بياروحي ستوماني ته هغه چې له بدني ستړياڅخه سړي ته پېښېږي (٣) کله چې الله تعالی دنېکمرغانوحال ياد کړورپسې يې دفجارو بدکردارو بيان داسي وکړ ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ ﴾ اوهغه کسان چې کافران شوي دي شته دوی ته اوردوزخ (موافق د دوی له کفره سره) ﴿ لَا يُقْضَىٰ عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا۟ ﴾ حکم به ونکړی شي پردوی (د مړينې چې) پس مړه شئ (اوله عذاب څخه په کرارشئ) ﴿ وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُم مِّنْ عَذَابِهَا ﴾ اونه به سپکوالی کاوه شي له دوی نه له عذابه ددې (اوردوزخ)بلکه تل ترتله به پکې وي لکه چې الله فرمايي: ﴿ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَٰهُمْ سَعِيرًا ﴾ (الاسرآء ۹۷) ﴿ كَذَٰلِكَ نَجْزِى كُلَّ كَفُورٍ ﴾ همداسي جزاورکوو موږ هرناشکره (کافربې ايمانه) ته ﴿ وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَٰلِحًا غَيْرَ ٱلَّذِى كُنَّا نَعْمَلُ ﴾ اودوی به ناړې سورې وهي په دغه دوزخ کې (اووايي به) ای ربه زموږ راوباسه موږ (له اوره څخه بيرته دنياته څوهلته) صالح عمل وکړو (چې تاته مونږدې کړي) غيرله هغه چې موږ به پخواله دې کاوو. قرطبي وايي معنا دا چې موږ به دکفرپرځای ايمان راوړو ، دګناه پرځای به طاعت وکړو دپيغمبرانو حکمونه به ومنو اوپدې وپناکي چې وايي ﴿ غَيْرَ ٱلَّذِى كُنَّا نَعْمَلُ ﴾ دوی پخپله ګناه اوبدعمل اعتراف کوي اودايې د پښېماني اوحسرت ننبه ده (٤) الله تعالی ددوی په

---

(١)القرطبي ۱۲/ ۵۲

(٢)ابو السعود ۴ /۲۴۵

(٣) التسهيل فی علوم التنزيل ۳ /۱۰۹

(٤) التسهيل ۳ /۱۱۰

ردکي فرمايي: ﴿ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ ﴾ آيانه وو درکړی موږ تاسي ته عمردومره (موده) چي پند اخلي په هغه کي هرهغه څوک چي پند اخيستل غواړي (نوتاسي په هغه موده کي څه وکړل ؟ اوولي نورعمر غواړئ ؟ اوپه حديث شريف کي راځي چي الله تعالی يوچاته شپېته کاله عمر ورکړي نوعذريې وروستي پړاوته ورسېدو(١) ﴿ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُ ﴾ اوراغلی ووتاسي ته وېرونکی (محمدرسول الله هغه چي دقيامت په مخ کي الله را استولی وودهغه خبره موونه منله چابياويلي چي (نذير) بوډاتوب اوسپين وېښته ته وايي خو لومړی څرګند دی (٢) ﴿ فَذُوقُواْ فَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴾ پس وڅکئ (عذاب) پس نشته ظالمانو(کافرانو) ته هيڅوک مددګار(چي دالله عذاب ورڅخه دفع کړي.

امام فخررازي وايي چي دغه امر داهانت اوسپکاوي امردی اوپدې کلمه کي چي ﴿ فَذُوقُواْ ﴾ دی دوام شته اوداچي دضميرپرځای يې اسم ظاهر راووړ چي ﴿ لِلظَّٰلِمِينَ ﴾ ددې لپاره دی چي ظلم پردوی تسجيل شي ، ورپسې الله فرمايي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَٰلِمُ غَيْبِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ بېشکه چي الله عالم دی په پټو (اسرارو) دآسمانونو او ځمکي (هيڅ څېزپه کائناتوکي اوهيڅ شان له شئونوڅخه يې څني پټ نه دی) ﴿ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴾ بېشکه الله ښه عالم دی په هغوخبروچي پټي دي په سينوزړونو کي) يعني الله ته د زړونو پټ رازونه ، وسوسې چورتونه معلوم دي نوددوی ظاهري اعمال به څرنګه ورته معلوم نه وي؟ مفسرين کرام وايي چي دا جمله دپخوانی لپاره په کومه کي چي په اورکي دکفارو تل ترتله عذاب بيانېدو، تاکيددی ځکه الله ته معلومه ده چي دکفارو په زړونوکي کفربېخ دی که چېري هغوی تل ترتله په دنيا کي وي هم به په الله ايمان نه راوړي اونه به دالله عبادت وکړي نوتلپاتي عذاب ددوی له تلپاتي کفرسره برابر دی نه ظلم شته اونه زياتوالی ﴿ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا ﴾ (الکهف ۴۹) قرطبي وايي معناداچي الله ته معلومه ده که تا سودنياته بيرته ستانه کړی هم به صالح اعمال ونکړئ لکه چي الله فرمايي: ﴿ وَلَوْ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنْهُ ﴾ (الانعام: ٢٨) (٣) ﴿ هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَٰٓئِفَ فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ (دغه (الله) همغه ذات دی چي ګرزولي يې تاسي خليفه ګان(دتېروخلګو)په ځمکه کي)يعني الله تاسوله عاديانو، ثموديانو او نورو اُمتونوڅخه وروسته له ډېروپېړيو خليفه ګان کړي ياست ﴿ فَمَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ ﴾ پس هرڅوک چي کافرشوپس پرهغه دی کفردده (له ځانه پرته وربانديې بل چاته ضرر نه رسوي) ﴿ وَلَا يَزِيدُ ٱلْكَٰفِرِينَ كُفْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا ﴾ اونه زياتوي کافرانوته کفرددوی په نزد درب ددوی مګرغضب (شړل له رحمته دخدای) ﴿ وَلَا يَزِيدُ ٱلْكَٰفِرِينَ كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ﴾ اونه زياتوي کافرانوله کفرددوی مګرخساره

---

(١) أخرجه البخاري في باب (من بلغ ستين سنة فقد أعذر اليه في العمر) اوآيت يې راوړی.

(٢) امام بخاري (نذير) په سپين ږيرتوب معناکړي اودغه يې دابن عباس اوعكرمة روايت راوړی اوقتاده وايي چي نذيرمحمدرسول الله دی اودغه صحيح اوابن جريرغوره کړی اوترټولو څرګند دی.

(٣) القرطبي ٢٢/ ٣٥٥

(زيان، خسران اوهلاکت) ابوحيان وايې چې په آيت شريف کې پردې تنبيه شته چې الله دوی دهلاک شويو خليفه ګان کړي خودوی دهغوی له حاله څخه پند اوعبرت وانه خيست (مقت) سخت بد ايسېدل اوبغض ته وايې اومرادله خسران څخه دعمر خسران دی لکه چې عمردانسان سرمايه ده کله چې بغيرد الله له طاعته تېرشي نو دغه پانګه له لاسه ووتله او دګټې پرځای يې د الله غضب اوبېزاري ومونده چې تل ترتله به په اورکې وي بيا الله مشرکان په دې ترټي چې دهسې چاعبادت کوي کوم چې نه اوري اونه ګټه رسوي ويې فرمايل: ﴿ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ شُرَكَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ (ووايه (دوی ته ای محمده !) آياوينی تاسي شريکان ستاسي هغه چې بلل به مو(اوعبادت موکاووددوی) غيرله الله). زمخشري وايې ﴿ أَرَءَيۡتُمۡ ﴾ معناداچې خبر راکړئ يعني خبرراکړئ له دغوشريکانواوهغه څه نه چې دوی يې دشرکت اوعبادت مستحق اوور ګرزولي دي دوی په څه شي دعبادت ور اومستحق شول؟[1] ﴿ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ ﴾ (راوښيئ ماته چې کوم شېز پيداکړی دی (دغومعبودانو ستاسي) له ځمکې څخه)يعني دوی ددې دنيا له مخلوقاتوڅخه کوم يو مخلوق پيداکړی چې تاسي يې بغيرله الله عبادت کوی ؟ ﴿ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ اوکه شته دوی ته کوم (قسم) شريک والی (په پيداينبت د) آسمانوکې (له الله سره) ؟اوپدې مستحق شول) ﴿ أَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ كِتَٰبٗا فَهُمۡ عَلَىٰ بَيِّنَتٖ مِّنۡهُۚ ﴾ آياورکړی دی موږدوی ته کتاب پس دوی پرپاخه حجت ولاړدي له هغه کتابه (چې هغه کتاب ورته وايې دغه بتان دالله شريکان دي) ؟ خودايوهم نه دی ﴿ بَلۡ إِن يَعِدُ ٱلظَّٰلِمُونَ بَعۡضُهُم بَعۡضًا إِلَّا غُرُورًا ﴾ بلکه نه کوي وعده داظالمان (مشرکان) ځيني ددوی (چې مشران دي) ځيني نوروته چې(کشران دي) مګرغره کول (تېرايستل، دغه له پخواني څخه لېږدېدل او دحقيقي سبب بيان دی چې دوی په دغوشريک نيولوکې دمشرانوخبرو تېر ايستلی دی چې هغوی به ورته ويل بتان ستاسي شفاعت کوي اودغه باطله تېروتنه ده. ابوالسعودوايې کله چې يې ټول دلائل ورباندې ودرول نوله هغه وروسته يې داوفرمايله چې دوی په دغه ګمراهۍ کې مشرانوغورځولي دي اودغه داخلافوليپاره داسلافوله لوري خطاايستل اوتېروتل دی [2])وروسته بيا الله دخپل قدرت او وحدانيت دلائل داسې راوړي چې ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُمۡسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ أَن تَزُولَاۚ ﴾ (ببشکه الله ساتي (دغه) آسمانونه اوځمکه له دې نه چې زائل شي (اوله خپله ځايه ښځايه شي)يعني الله پخپل بشپړقدرت اوبديع حکمت سره آسمانونه اوځمکه له لوېدلواوزائل کېدلو ژغوري لکه چې الله فرمايي ﴿ وَيُمۡسِكُ ٱلسَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦٓۚ ﴾ (الحج ۶۵) قرطبي وايې کله چې الله داوښوده چې ددوی خدايان دځمکې اوآسمان له يوشېزپيداکولو څخه عاجز دی وروسته يې دابيان کړه چې الله يې پيداکونکی اوژغورونکی دی يوشېز نه پيداکېږي مګرد الله په ايجادپيدا کېږي اوبقاء يې هم دالله په

[1] الکشاف ۴۸۷/۳

[2] تفسيرابی السعود ۲۴۲/۴

ژغورنه وي (۱) ﴿ وَلَئِن زَالَتَآ إِنۡ أَمۡسَكَهُمَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ ﴾ اوكه (بالفرض) چېري زائل شي دادواړه نوو به دنه ساتي (له زواله) دغه دواړه بل هيڅوک ماسوا له دغه (الله) يعني هيڅوک به ونکړای شي هغه پخپل ځای ودروي دوی دواړه دواحد قهارذات په قدرت ولاړ دی ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ﴾ بېشکه دغه (الله) دی ښه تحمل والا (چې تعجيل نکوي په تعذيب دکفاروسره له وړتياوا واستحقاق (ددوی) ښه ښونکی (رحمت کونکی په هغه چاچي توبه ګارشي) ﴿ وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ ﴾ (اوقسمونه به خوړل (دمکې کفارو) پرالله په سختو قسمونوخپلوسره) يعني مشرکانو به زښته سخته لوړي کولي او قسمونه به يې خوړل صاوي وايې دوی به عادتًا په خپلو پلرونواوبتانو قسمونه کول خوچي کله به يې دقسم تاکيدکاوو نوبه يې په الله ﷻ قسم اولوړه وکړه (۲) ﴿ لَئِن جَآءَهُمۡ نَذِيرٞ ﴾ خامخاکه چېري راغی دوی ته کوم وېرونکی (پيغمبر) ﴿ لَّيَكُونُنَّ أَهۡدَىٰ مِنۡ إِحۡدَى ٱلۡأُمَمِۖ ﴾ خامخاوي به دوی هرومرو ښه لاره موندونکی له يوه (دتېرو) اُمتونو څخه. ابوالسعود وايې چي قريشوته درسول الله تربعثت مخکي داخبره ورسېده چي اهل کتابو د خپلو انبياووتکذيب کاوو نودوی به ويل: په يهودواونصاراوو دي لعنت وي چي انبياء ورته راواستول شول اودوی دروغجن وګڼل که موږته چېري الله نبي راواستاوو قسم په الله دی چي تر يهودانواونصاراوو به موږ ښه لاره ومومو (۳) ﴿ فَلَمَّا جَآءَهُمۡ نَذِيرٞ مَّا زَادَهُمۡ إِلَّا نُفُورًا ﴾ پس کله چي راغی دوی ته وېرونکی (محمد ﷺ اشرف المرسلين) نو زيات نکړ (دغه راتګ) دوی ته مګر تېښته (له حقه اوهدايته) ﴿ ٱسۡتِكۡبَارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَكۡرَ ٱلسَّيِّيِٕۚ ﴾ د پاره دلويې غوښتلو په ځمکه او(لپاره د) بدمکر (په پيغمبراو مؤمنانوباندي ترڅو دکمزوري ايمان خلګ له سمي لاري واړوي. ابوحيان وايې چي ددوی دتېښتي لامل (سبب) تکبر اوچل ول وودوی له حق څخه همدغودوڅېزونو ليري کړي وو د ﴿ ٱلۡمَكۡرَ ٱلسَّيِّئِ ﴾ معناهغه فرېب اوخداع دی چي دوی به رسول الله ته کاوو(۴) الله ددوی دغه فرېب داسي ترديدوي: ﴿ وَلَا يَحِيقُ ٱلۡمَكۡرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهۡلِهِۦۚ ﴾ اونه چاپېره کېږي مکر فرېب ناکاره مګرپخپل اهل (چي مکرکونکی دی) يعني د فرېب اوچل ول وبال و همدغه مکر کونکي ته راګرزېدونکی دی لکه چي وايې: کوهی مه کينه دبل سري په لارکي * ناګهانه به دتاپه کوهي لارشي. ﴿ فَهَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ ٱلۡأَوَّلِينَۚ ﴾ پس آيا انتظار کوي دوی (يعني نه کوي) مګر طريقې (عادت دالله ته په امتونو) پخوانيو کي (چي هغوی يې دخپلو انبياوو په تکذيب کولوباندي هلاک اوپه عذاب اخته کړل) ﴿ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗاۖ ﴾ پس له سره به نه مومې ته سنت عادت د الله ته هيڅ تبديل (اړول) ﴿ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحۡوِيلًا ﴾ اوبيابه

(۱) تفسير القرطبي ۱۴/ ۳۵۲
(۲) حاشية الصاوي على الجلالين ۳/ ۱۵
(۳) تفسير ابي السعود ۴/ ۲۴۲
(۴) البحر المحيط ۷/ ۳۱۹

له سره نه مومي ته سنت دالله ته هيڅ تحويل (ګرزول) يعني هيڅوک نشي کولای له دوی څخه بل چاته عذاب وروګرزوي . قرطبي وايې چي الله پاک په کافرانوعذاب ګمارلی هيڅوک نشي کولای هغه بدل اووا ړوي اويا داچي له دوی څخه يې بل چاته وګرزوي (سنت) طريقه اوعادت بولي [1] وروسته بيا الله تعالی دوی د پخوانيو تکذيب کونکو د نښانوليدلوته وهڅول چي ترې پندواخلي وېې فرمايل ﴿ أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ آيانه دي ګرزېدلي (دغه کفار د مکې) په ځمکه کي پس چي وويني (په دغو هيوادونو کي چي) څرنګه وو عاقبت آخره خاتمه دهغوکسانوچي له دوی نه پخواتېرشوي دي (الله له هغوی سره کله چي د پيغمبرتکذيب يې وکړ څه معامله وکړه؟) ﴿ وَكَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ﴾ او وو هغوی ډېر سخت له دغو (کفارو) څخه له جهت دقوت په بدنونو ، ډېرو مالونو او اولادونو کي) ﴿ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعْجِزَهُ مِن شَيْءٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ ﴾ او نه دی الله داسي چي عاجز يې کړي کوم شی نه په آسمانونو کي اونه په ځمکي کي ﴿ إِنَّهُ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴾ بېشکه چي الله ښه عالم (په چارودخلګو) څواکمن ښه قادر دی (په کسات اخيستلوله هغه چانه چي ترې غاړه غړوي ﴿ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوا مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَابَّةٍ ﴾ اوکه چېرې نيولي وای الله داخلګ په سبب دهغوي دبدو عملونو)چي کوي يې دوی نونه به يې وو پرې ايښي پرشاد ځمکي هيڅ ژوندي خوځېدونکی (انسان اوحيوان . ابن مسعود ﷺ وايې چي مقصد ټول تلونکي اوښوئېدونکي حيوانات اوژوندي ساکښان دي [2] ﴿ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾ وليکن الله وروستي کوي دوی ترنښتې په نامه کړی شوي پوري (چي هغه دقيامت ورځ ده په تعجيل عذاب نه ورکوي)﴿ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِ بَصِيرًا ﴾ پس کله چي راشي نښته (اجل) ددوی پس بېشکه چي الله دی پخپلوبندګانوښه ليدونکی (که يې نېک عملونه کړي وو نېکي به مومي اوکه يې بد کړي ووبدبرخه ليک به پيداکړي ځکه الله ددوی په ټولو احوالو خبردار ليدونکی دی ابن جرير وايې الله دهغه چاچي دعذاب مستحق وي ليدونکی دی اوهمدارنګه څوک چي دعزت اوکرامت وړوي الله ته ښه معلوم دی [3] په آيت شريف کي دمجرمينولپاره وعيد اود متقينولپاره بيازېری اووعد شته .

***

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيز يې دادی:

---

[1] تفسير القرطبي ۱۴/ ۳۶۰
[2] القرطبي ۱۴/ ۳۶۱
[3] تفسير الطبري ۲۲/ ۹۶

۱ - اطناب چي دفعل په تکرار ترسره شوی لکه ﴿ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴾ او فائده يې دهريوه په نفي کولو سره جلاجلا مبالغه ده اوهمدارنګه پدې کلام کې ﴿ وَلَا يَزِيدُ ٱلْكَٰفِرِينَ كُفْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا وَلَا يَزِيدُ ٱلْكَٰفِرِينَ كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ﴾ دلته هم لپاره دزياتي تقبيح اوکفردزياتي ناوړتيا څرګندوي کوي.

۲ - دامرپه صيغه سره تهکم اواستهزاء لکه ﴿ فَذُوقُوا۟ فَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴾ اوددې مثال لکه داچي فرمايي ﴿ ذُقْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْكَرِيمُ ﴾ (الدخان ۴۹) داسي دی.

۳ - مبالغه لکه ﴿ لَغَفُورٌ ، شَكُورٌ ، كَفُورٍ ﴾ اوياداچي په ﴿ حَلِيمًا ، عَلِيمًا ، قَدِيرًا ﴾ کلماتو کې راغلي دي چي دغه ټولي دمبالغې صيغې دي.

۴ - انکاري استفهام دتوبيخ لپاره لکه ﴿ أَرُونِى مَاذَا خَلَقُوا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ .

۵ - مکنيه استعاره چي فرمايي: ﴿ مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَآبَّةٍ ﴾ ځمکه يې له يوې سورلی سره مشابه کړه چي په شاباندي يې ډول ډول حيوانات بارکړي وي اوبيايې مشبه به حذف کړه له لوازمو څخه يې يولازم راووړ چي هغه شاده اودغه يې دمکنيې استعارې په توګه غوره کړه.

۶ - سجع چي بې تکلفة خورانبايسته اوپرځای ده لکه ﴿ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُ.... فَذُوقُوا۟ فَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴾ همدغه له بديعي محسناتو څخه دی .

دالله په مرسته دفاطردسورت تفسيربشپړشو.

***

(يس) سورت مكي اودرې اتيا آيتونه لري

دسورت په وړاندې:

سورت(يس) له دريو اساسي موضوع ګانو څخه غږېږي په بعث اونشورباندي ايمان) داهل قريې كيسه اوداالله ﷻ په وحدانيت باندي دلائل اوبرهانونه راوړي دسورت په پيل كي په قرآنكريم باندي لوړه شوي چي دغه كتاب داالله له لوري وحى اومحمدرسول الله رښتوني پيغمبردى ورپسې دقريشي كفارو په ګمراهي اوسرغړونه كي ډوبېدل بيانوي هغوى چي دمحمدبن عبدالله ﷺ تكذيب يې وكړنوداالله له لوري عذاب اوله دوى څخه كسات اخيستل ورته مقررشو.

بيادانطاكيې دښاردخلګوكيسه راوړي چاچي دپيغمبرانودروغجن ګڼل خپله دنده جوړه كړي وه اوداكيسه هم ددې لپاره بيانوي چي څوک دالهي وحى تكذيب كوي هغه ووېرېږي لكه څرنګه چي دقرآنكريم معمول دى چي دپنداوعبرت اخيستلولپاره كيسې په كارراوړي ورپسې يې دهغه مؤمن دعوتګربلونكي (حبيب النجار) دريز وښودكوم چي خپل ټبرته يې نصيحت وكړ اوهغوى ووا‌ژه الله جنت ته داخل كړ اومجرمانوته يې هم زيات مهلت ورنكړبلكه دهلاكت په چيغه يې ووژل

همداسي سورت په دغه كائناتوكي دالله دقدرت اووحدانيت دلائلوبهيرښيي اوله وچي ځمكي يې پيلوي چي بياوروسته ژوند پكي راپيداشي ورپسې دشپې نندارہ بيانوي كله چي ورځخه ورځ راوزي اوتكه توره تياره خپرېږي بيادلمرهغه ځلېدونكى مشهدرااخلي چي دلوى الله په قدرت په آسمان كي خوځېږي اونه رالوېږي ورپسې دسپوږمۍ حال وايې چي پخپلوبرجونوكي كوزېږي اوبيا د بېړۍ نندارہ ښيي چي دبشراولاده يې باركړي وي اودغه ګرددالله ﷻ په قدرت اوځواک باندي روښانه دلائل دي

سورت له دې هيسته دقيامت پېښې رااخلي اودبعث اونشور بيان كوي هغه چي خلګ به له قبرونو راپاځېږي څوک به جنت اوڅوک به دوزخ ته درومي په دغه ورځ به دواړه ډلي يوله بله بېلېږي اونېكمرغه كسان به دنعمتونوباغچواوبدمرغان به ددوزخونوكندو اوپوريوته لوېږي په پاى كي سورت هغه ښستيزه اواساسي موضوع چي دبعث اوجزآء موضوع ده راوړي اودهغې په پېښېدلو باندي كوټلي دلائل اوبراهين بيانوي.

تسميه اونومول يې:

ځكه يې سورت (يس) بولي چي الله ﷻ دغه سورت په همدغه دووتورو پيل كړى اوقرآني اعجاز ته پكي اشاره ده.

فضيلت اوبهتري يې:

رسول الله ﷺ فرمايې :هرڅېززړه لري دقرآن زړه (يس) دى زمادا خوښه ده چي دهرامتي په سينه كي دغه سورت وي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يسٓ ﴿١﴾ وَٱلْقُرْءَانِ ٱلْحَكِيمِ ﴿٢﴾ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٣﴾ عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٤﴾ تَنزِيلَ ٱلْعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٥﴾ لِتُنذِرَ
قَوْمًا مَّآ أُنذِرَ ءَابَآؤُهُمْ فَهُمْ غَٰفِلُونَ ﴿٦﴾ لَقَدْ حَقَّ ٱلْقَوْلُ عَلَىٰٓ أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٧﴾ إِنَّا جَعَلْنَا فِىٓ أَعْنَٰقِهِمْ أَغْلَٰلًا
فَهِىَ إِلَى ٱلْأَذْقَانِ فَهُم مُّقْمَحُونَ ﴿٨﴾ وَجَعَلْنَا مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَٰهُمْ فَهُمْ لَا
يُبْصِرُونَ ﴿٩﴾ وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠﴾ إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلذِّكْرَ وَخَشِىَ ٱلرَّحْمَٰنَ
بِٱلْغَيْبِ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ ﴿١١﴾ إِنَّا نَحْنُ نُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا۟ وَءَاثَٰرَهُمْ وَكُلَّ شَىْءٍ
أَحْصَيْنَٰهُ فِىٓ إِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿١٢﴾ وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا أَصْحَٰبَ ٱلْقَرْيَةِ إِذْ جَآءَهَا ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿١٣﴾ إِذْ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمُ ٱثْنَيْنِ
فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوٓا۟ إِنَّآ إِلَيْكُم مُّرْسَلُونَ ﴿١٤﴾ قَالُوا۟ مَآ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَمَآ أَنزَلَ ٱلرَّحْمَٰنُ مِن شَىْءٍ
إِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ ﴿١٥﴾ قَالُوا۟ رَبُّنَا يَعْلَمُ إِنَّآ إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ ﴿١٦﴾ وَمَا عَلَيْنَآ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٧﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّا
تَطَيَّرْنَا بِكُمْ لَئِن لَّمْ تَنتَهُوا۟ لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨﴾ قَالُوا۟ طَٰٓئِرُكُم مَّعَكُمْ أَئِن ذُكِّرْتُم بَلْ
أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿١٩﴾ وَجَآءَ مِنْ أَقْصَا ٱلْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَىٰ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱتَّبِعُوا۟ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢٠﴾ ٱتَّبِعُوا۟ مَن
لَّا يَسْـَٔلُكُمْ أَجْرًا وَهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا لِىَ لَآ أَعْبُدُ ٱلَّذِى فَطَرَنِى وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٢﴾ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً
إِن يُرِدْنِ ٱلرَّحْمَٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّى شَفَٰعَتُهُمْ شَيْـًٔا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ إِنِّىٓ إِذًا لَّفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ إِنِّىٓ
ءَامَنتُ بِرَبِّكُمْ فَٱسْمَعُونِ ﴿٢٥﴾ قِيلَ ٱدْخُلِ ٱلْجَنَّةَ قَالَ يَٰلَيْتَ قَوْمِى يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ بِمَا غَفَرَ لِى رَبِّى وَجَعَلَنِى مِنَ
ٱلْمُكْرَمِينَ ﴿٢٧﴾ ۞ وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَىٰ قَوْمِهِۦ مِنۢ بَعْدِهِۦ مِن جُندٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنزِلِينَ ﴿٢٨﴾ إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً
وَٰحِدَةً فَإِذَا هُمْ خَٰمِدُونَ ﴿٢٩﴾ يَٰحَسْرَةً عَلَى ٱلْعِبَادِ مَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٣٠﴾ أَلَمْ يَرَوْا۟ كَمْ
أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ ٱلْقُرُونِ أَنَّهُمْ إِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿٣١﴾ وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٣٢﴾ ﴾ يس: ١ - ٣٢

لغتونه:

(أغلالا) د(غل) جمع او هغوا تکړيو ته ويل کېږي چي په لاسونو کي لوېږي او کله کله لاسونه له غاړي سره وړباندي تړي (مقمحون) پټي سترګي اوچت کړي سرونه، ويل کېږي (اقمح البعير) کله چي له تالاب څخه سر راوچت کړي او نوري اوبه نه څښي (سدا) بند او مانع ته وايي (فعززنا) د(عزز) معنا قوي کېدل دی (تطيرنا) بدفالي ته ويل کېږي اصل يې له طير څخه اخيستل شوی چي الوتلو ته وايي کله چي به مارغه ديوچاله کيڼ لوري والوت نو هغه به يې په بدفالي نيول (خامدون) مړه هغه چي حرکت پکي نه وي.

تفسیر:

﴿يسٓ﴾ له مقطعاتوتوروڅخه دی کوم چي دمبارکوسورتونوپه پیل کي راځي اودقرآنکريم په اعجازباندي آګاهي ورکوي چي قرآنکريم هم له دغو تورو څخه جوړدی هغه چي دوی یې پېژني او ورباندي خبري اتري کوي مګرداچي قرآن معجزدی ددې دليل دا چي دغه الهي وحی اودالله له لوري نازل شوی دی. ابن عباس وايې چي د(يس) معنادطی دقوم په لغت کي (یاانسان) دی چاپیاويلي چي دغه دنبي صلی الله عليه وسلم له نومونوڅخه یونوم دی دلیل یې داچي وروسته الله فرمايي ﴿إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ بېشکه ته چي يې له پيغمبرانوڅخه یې !) چاپیاويلي چي د(يس) معنا(یاسیدالبشر) دی دغه ویناابوبکر وراق کړي ده(۱)﴿وَالْقُرْآنِ الْحَكِيمِ﴾ قسم دی په دغه قرآن محکم)(چي تغيير ، تبديل ، تناقض اوبطلان نلري) قرطبي وايې معناداچي محکم دی په نظم اومعانيوکي خلل پکي نه راځي.ابوالسعودوايې چي د(حكيم) معناداچي دحکمت خاوندوی ځکه چي نظم يې معجزاوپه نادرو حکمتونوډک دی(۲) لنډه دا چي الله ﷻ په دغه محکم اومعجزکتاب باندي لوړه کړي کوم چي ښايسته تشريع اواحکام پکي اوپه بلاغت کي وروستي پړاوته رسېدلی دی قسم په دې کوي چي محمد دالله پيغمبردی اوپدې کي درسول الله شان دلوړتيااوتعظيم دومره زيات څه شته چي بيان يې نشي کېدای فرمايي ﴿إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ بېشکه ته (ای محمده !) خامخاله رسولانوڅخه یې ؛ يعني ای محمده ته درب العالمين له پيغمبرانوڅخه دخلګو لارښووني لپاره یوپيغمبریې. ابن عباس ﷺ وايې چي دقريشوکفاروبه ويل چي ای محمده ته پيغمبرنه یې چي موږ ته دي رااستول شوی یې نوالله په عظيم الشان محکم قرآن باندي قسم وخوړ چي محمد ﷺ له پيغمبرانوڅخه دی (۳)﴿عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ (پرسمه لاره) چي پکي کږوالی نشته دهدايت لاره اسلام دی لکه چي قتاده ويلي (۴) او تنکير لپاره دتفخيم اوتعظيم دی (۵) يعني ته له هغورسولانوڅخه یې چي خلګوته په سمه لاره (چي ايمان اوتوحيددی) لېږلي شوي دي ﴿تَنزِيلَ الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ﴾ نازل شوی دی (تاته دغه قرآن په نازلېدلو) دزبردست مهربان رحم والا ﴿لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّا أُنذِرَ آبَاؤُهُمْ﴾ (دپاره ددې چي ووېروې ته ای محمده دغه عرب چي دوی ته پيغمبراوکتاب پخوانه وواغلی اومرادله وېري څخه دعذاب وېرول دي ﴿فَهُمْ غَافِلُونَ﴾ پس دوی (په دې سبب) غافلان دي (له هدايت اوايمانه دشرک په تاريکيوکي لالهانده دي دبتانوعبادت کوي ورپسې الله ددوی ورتيادعذاب لپاره ددوی په کفراصرارکول اودپيغمبر ﷺ

(۱) القرطبي ۱۵/۴
(۲) تفسيرابي السعود۴ /۲۴۷
(۳) القرطبي عن القشيري ۱۵/۵
(۴) الطبري ۲۲/ ۹۷
(۵) -الانتصاف على الكشاف ۴ /۲

دروغجن گڼل بنیېږ چي: ﴿ لَقَدْ حَقَّ ٱلْقَوْلُ عَلَىٰٓ أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ (خامخا په تحقيق حقه ثابته شوې خبره (دعذاب) په اکثرو ددوی (په ازل) کي پس دوی ایمان نه راوړي) لام دقسم لپاره توطئه ده یعني والله چي پردوی اکثروباندي داور عذاب لازم شوی ځکه چي دوی کفاراوپه وېرولواووعظ باندي پندنه اخلي ورپسې بې ددوی دغه ایمان نه راوړل ددې زېرنده وبلل چي ﴿ إِنَّا جَعَلْنَا فِىٓ أَعْنَـٰقِهِمْ أَغْلَـٰلًا فَهِىَ إِلَى ٱلْأَذْقَانِ فَهُم مُّقْمَحُونَ ﴾ (بېشکه موږ ګرځولي دي په غاړو ددوی کي طوقونه پس دغه (طوقونه رسېدلي دي) ترزنوددوی پوري پس دوی جګ سري کړی شوي دي(چي له سره ښکته کتلای نشي) دغه دمشرکانو د حال یوانځور (تصویر) دی چي دوی پخپله ګمراهي کي لکه هغه څوک داسي دی چي په لاسونو کي بې اتکړی اوپه غاړه پسې بې تړلي وي نوسربېږ هغسي اوچت پاتي وي ښکته کولای بې نشي په جلالین کي وايي چي دغه یوتمثیل دی اومقصداچي دوی ایمان ته سرونه نه ټیټوي[1] ابن کثیروايي معناداچي دغه په بدمرغي محکوم کسان به داسي وي لکه دچاچي په غاړه کي طوق وي اولاسونه بې له سره سره ترزني لاندي ورباندي تړل شوي وي ([2]) سربېږ لوړ، اوچت پاتي وی او (مقمح) هم دې ته وايي او طوق بې یوازي په غاړه کي وښودل له لاسونوڅخه بې ورباندي اکتفاء وکړه ځکه چي طوق اصلا د لاسونولپاره وي چي له غاړي سره بې وروتړي ([3]) ابوالسعودوايي چي د دوی حال بی له هغه چاسره مماثل وګڼل کوم چي لاسونه بې له غاړي سره تړل شوي وي ﴿ فَهِىَ إِلَى ٱلْأَذْقَانِ ﴾ همدغه طوقونه ترزني پوري رسېدلي وي نودوی نشي کولای حق ته وګوري اويامخ ورواړوي یاسرورته ټیټ کړي ددوی سترګي پټي وي چي حق نه ويني اونه بې لوري ته ورګوري ([4]) ﴿ وَجَعَلْنَا مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا ﴾(اوګرزولی مودی په مخ ددوی کي سددېوال اوله وروسته ددوی سد(دېوال) ابوالسعود وايي چي همدغه دتمثیل وروستی برخه ده چي تمثیل ورباندي بشپړېږي ﴿ فَأَغْشَيْنَـٰهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴾ پس پټي کړي مودي (سترګي ددوی) پس دوی هیڅ نه ويني ؛ ځکه دوی ددوو دېوالونوترمینځ بند پاتي شول اوهمدادوی دبدحالي بیان دی چي دوی دګمراهي اوسرغړوني په سمڅ کي داسي بند دی چي په آیتونواودلالاتوکي له نظرکولوبېخي محروم دی[5] مفسرین کرام وايي چي دغه ټول پردوی باندي دایمان ددروازودتړلو تمثیل دی دوی خپل مقصودته هېڅ ولاره نه مومي ([6]) ﴿ وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ ﴾ اوبرابردی پردوی باندي چي ووېروې ته دوی (له عذابه) یاونه وېروې ته

([1]) جلالین ۳ /۳۱۸

([2]) أذقان مفرد دذقن اوزني(زنخدان)ته وايي.

([3]) مختصرابن کثیر۳ /۱۵۵

([4]) ابی السعود۴ /۲۴۸

([5]) تفسیرابی السعود۴ /۲۴۹

([6]) حاشیة الصاوي علی الجلالین ۳ /۳۱۹

دوى ؛ ځکه دځاچي په عقل دضلالت دتيارو پردې غوړېدلي وي اوپه زړه کي يې شهوتونو اوطغيان خالي جوړي کړي وي بيا ورته تهديدونه ګټه نه رسوي ﴿ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ (خو) دوى ايمان نه راوړي) يعني ددې په سبب دوى ايمان نه راوړي ځکه مړ شوى زړه په وېرونه نه راوېښېږي اونه ژوندى کېږي انذار اووېرونه خوژوندي زړه ته هغه چي دايمان دمنلولپاره مستعدوي ګټه رسوي ، پدې کي رسول الله ﷺ ته تسليت دى اوهمداسي ورته دهغوى دزړونوله حقيقت څخه پرده پورته کول دي چي هغه يومخ ايزه دطغيان توته دى ﴿ إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلذِّكْرَ ﴾ (بېشکه همدا خبره ده چي وېروې ته هرهغه چي دپند متابعت کوي) يعني اى محمده ! ستاوېرونه هغه چاته نفع رسوي کوم چي په قرآنکريم بې ايمان راوړي اوورباندي عمل کوي ﴿ وَخَشِيَ ٱلرَّحْمَٰنَ بِٱلْغَيْبِ ﴾ اووېرېږي له رحمن څخه په غيب (بې له ليدلو)

ابوحيان وايي چي د﴿ وَخَشِيَ ٱلرَّحْمَٰنَ ﴾ معناداچي له هغه ذاته چي هغه په رحمت موصوف دى هم وېرېږي سره له دې چي له رحمان څخه خوهيله اواميد کېږي خودى سره له دې چي پدې پوهېږي هم چي الله رحمان دى ترې وېرېږي چي هغه څه نعمتونه چي ورکړي يې دي بيرته ځني وانخلي اودغيب معنابې ليدلودى [1] چي له سترګوپټ وي ﴿ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ ﴾ پس زېرى ورکړه (اى محمده) هغه ته په مغفرت ښښني سره او په اجر لوى (دجنت سره) يعني کله چي دوى په انذار اووېرونه نفع واخيسته نوله دوى سره ښايې چي د ستري ښښني زېرى ورکړي اوهمداسي دجنت د نعمتونو بشارت ورکړي. ابن کثير وايي چي د(اجرکريم) معناډېرپراخ اوښايسته جميل دى اوهمدغه په جنت کي شته [2] وروسته له دې چي الله جَلَّ جَلَالُهُ درسالت په هکله بيان وفرمايل دبعث اونشور يادونه کوي فرمايي: ﴿ إِنَّا نَحْنُ نُحْيِ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾ بېشکه موږ همدا موږ به مړي ژوندي کوو(په قيامت کي لپاره د حساب اوجزاء).

﴿ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا۟ وَءَاثَٰرَهُمْ ﴾ او ليکوموږهغه چي دوى مخکښي لېږلي وو(له خير اوشرنښکي اوبدي نه) اونښي (پلونه) ددوى يعني هغه ددوى قدمونه ليکوچي مسجدونو ته تلل [3] په حديث شريف کي له حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي دبني سلمه قبيلې وغوښتل مسجد نبوي ته نژدې چي ځمکه خالي وه هغه رانيسي اوکورونه پکي ودان کړي رسول الله ﷺ خبرشويې فرمايل اى دبني سلمه خلګوپخپلوځايونوکي اوسئ ستاسي (پلونه) قدمونه ليکل کېږي ! پخپلوځايونوکي اوسئ ستاسي قدمونه ليکل کېږي ! نوهغوى وويل: اوس نونه غواړو چي له خپله ځايه ولېږدو [4] ﴿ وَكُلَّ شَىْءٍ أَحْصَيْنَٰهُ فِىٓ إِمَامٍ مُّبِينٍ ﴾ او هرشى شمېرلى دى موږهغه په اصل ښکاره (لوح محفوظ) کي يعني هرشى له شيانواوهره چاره له چارو موږپه ليکلي کتاب چي اعمال نامه ده کښلي ده لکه چي الله فرمايي ﴿ يَوْمَ

---

[1] البحرالمحيط ۳۲۵/۷
[2] مختصرابن کثير ۱۵۲/۳
[3] تفسيرالطبري ۹۹/۲۲
[4] أخرجه مسلم في صحيحه.

نَدۡعُواْ كُلَّ أُنَاسِۭ بِإِمَـٰمِهِمۡۖ ﴾(الاسرآء۷۱) امام يعني دعملونوپه پانه د دوی چي پردوی د خير اوشرداعمالوگواهي وايي. مجاهد او قتاده وايي چي دامام معنالوح محفوظ دی. ابوحيان وايي چي ﴿وَنَكۡتُبُ مَا قَدَّمُواْ﴾ معنا داچي شمېرو موږ دعلم له احاطې څخه يې په کتابت باندي تعبير وفرمايو هغه چي شيان پرې خوندي کېږي (۱) بياالله ﷻ دهغه ښار دخلګو کيسه بيانوي کومو چي د انبياوو تکذيب وکړاوالله هغوی په آسماني چيغه هلاک کړل ﴿وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلًا أَصۡحَٰبَ ٱلۡقَرۡيَةِ﴾ او بيان کړه (ای محمده دغوکفاروته!) يومثل داوسېدونکودکلي (دانطاکيې) هغه چي په مثل باندي پېژندل شوي ﴿إِذۡ جَآءَهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ﴾ کله چي راغلل دوی ته مرسلان استازي (زموږددوی دهدايت لپاره). قرطبي وايي چي داقريه دګڼو مفسرينو په رايه (انطاکيه) ده چي هغوی ته الله درې استازي ور واستول (صادق) (مصدوق) او(شمعون) وو الله ﷻ رسول الله ﷺ ته امروکړ چي مشرکان له دغسي سرانجامه ووېروي کوم چي دهغه کلي په خلګو راغلی وواوچابياويلي چي دغه استازي دحضرت عيسی ﷺ وو (۲)﴿إِذۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱثۡنَيۡنِ فَكَذَّبُوهُمَا﴾ کله چي ومولېږل دوی ته دوه استازي پس دوی دهغوتکذيب وکړ ﴿فَعَزَّزۡنَا بِثَالِثٖ﴾ پس قوت موورکړ دوی ته په دريم سره ﴿فَقَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَيۡكُم مُّرۡسَلُونَ﴾ پس وويل دوی بېشکه موږ تاسي ته مرسلان يو(دالله له لوري چي درته لارښوونه وکړو) ﴿قَالُواْ مَآ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا﴾ وويل (دانطاکيې خلګوورته) نه يی تاسي مګرانسانان زموږ په شان (نوڅرنګه الله تاسي ته وحی کوي موږ ته يې نه کوي) ﴿وَمَآ أَنزَلَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مِن شَيۡءٍ﴾ اونه دی را لېږلی رحمان هيڅ شی (نه وحی اونه رسالت) ﴿إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَكۡذِبُونَ﴾ نه يی تاسي مګردروغ وايی (د رسالت په دعوی کي) ﴿قَالُواْ رَبُّنَا يَعۡلَمُ إِنَّآ إِلَيۡكُمۡ لَمُرۡسَلُونَ﴾ وويل: (استازو رب زموږ ته معلوم دی (دا چي) بېشکه موږتاسي ته خامخا درلېږلي شوي يو(اوکه چېري موږ دروغجنان يوالله به راڅخه سخت کسات اوانتقام واخلي. ابن جزي وايي چي دلته يې خبر په لام سره مؤکد کړچي ﴿لَمُرۡسَلُونَ﴾ يې ورته وويل ځکه دغه دمنکرانوپه ځواب کي ووپه خلاف دلمړي ځل چي هلته يوازي اخباروو(۳)﴿وَمَا عَلَيۡنَآ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ﴾ او نشته پرموږ مګرښکاره پيغام رسونه ده (که موايمان راووړ نېکمرغه شوی اوکه موتکذيب وکړبيانو بدمرغه شوی. ابوحيان وايي چي پدې کي ددوی لپاره وعيد دی اوداچي دبلاغ صفت يې مبين راووړ ددې لپاره چي

(۱) البحرالمحيط ۳۲۵/۷

(۲) القرطبي ۱۵/۱۴ اوکوم چي ويل شوي دغه استازي دحضرت عيسی عليه السلام له خواوو دغه مرجوح قول دی ځکه چي الله فرمايي (ماأنتم الابشرمثلنا) اودادهغه چاپه وړاندي ويل کېږي چي دنبوت اورسالت دعوی يې کړې وي کذافي التسهيل.

(۳) التسهيل في علوم التنزيل ۱۷۱/۳

دغه رسالت دمعجزاتوپه شاهدي تصديق شوی ووکوم چي داستازو په رښتنولي يې دلالت کاوولکه دمورزاده ړندوبيناکول دپيس ناروغانو رنځ ليري کېدل دمړو راژوندي کول لکه چي پدې کيسه کي يې روايت شوی دی(١)﴿ قَالُوٓاْ إِنَّا تَطَيَّرۡنَا بِكُمۡ ﴾ وويل(دانطاکيې خلګو) بېشکه موږ بدفالي نيولي ده په تاسي (ستاسي په بده بلنه چي ايمان ته موبولی اود بتانوله عبادت څخه مورا ګرزوی . مفسرين کراموويلي چي ددوی دبدفالي سبب داوو چي دوی يوداسي دين ته بلل کېږي چي د دوی دين نه دی نودوی هغه عجيب اوبدوګانه کرکه او نفرت يې ترې وکړاوپه هغه چايې چي دوی ته يې بلنه ورکوله بدفالي ونيوه لکه چي وايې: موږ ستاسي له بلني څخه په الله پناه غواړو (٢)اوبيايې استازوته اخطار ورکړچي﴿ لَئِن لَّمۡ تَنتَهُواْ ﴾ قسم دی که منع نه شوی (له دعوی درسالته) اوبللوزموږ توحيدته چي زموږ دين نه دی) ﴿ لَنَرۡجُمَنَّكُمۡ وَلَيَمَسَّنَّكُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴾ خامخاسنګسار به کړو موږ هرومرو تاسي اوخامخاوبه رسېږي هرومرو تاسي ته زموږ له لوري دردناک عذاب) (چي په سخته وژلوبه مو وو ژنو) ﴿ قَالُواْ طَٰٓئِرُكُم مَّعَكُمۡ ﴾ وويل(استازيو) چي بدفالي ستاسي له تاسوسره ده (په سبب دکفر، عصيان اوبدفعلي ستاسو) ﴿ أَئِن ذُكِّرۡتُمۚ ﴾ آيا نوکه پنددرکړی شي تاسي ته ؟(نودغه ته بدفالي واياست ؟) دغه شرط اوځواب يې محذوف دی څکه چي سياق ورباندي دلالت کوي يعني آياکه موږ تاسوته دتوحيد بلنه درکوو او درته وعظ کوو تاسوموږ په بدفالي نيسی؟ اوپه ډبرومو ولی تعذيب راکوی؟ ! ﴿ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ مُّسۡرِفُونَ ﴾ (خبره داسي نه ده)بلکه يی تاسي يوقوم دانصاف له حده تېرېدونکي ، دغه ددوی لپاره توبيخ او ترټنه اوزجردی ﴿ وَجَآءَ مِنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ رَجُلٞ يَسۡعَىٰ ﴾ اوراغی له ليري طرفه دهغه ښاره يوسړی (حبيب النجار) چي منډي يې وهلې؛ ابن کثير وايې چي دکلي خلګو داستازيودوژلوقصدوکړنويو سړی له ليري څنډي د ښاره په منډومنډو راغلی چي دغه استازي دخپل قوم له شرڅخه وژغوري هغه (حبيب النجار) نومېده اودورېښموجامې به يې اوبدلې زياته صدقه اوخيرات به يې کاووچي دخپلي ګټي وتي نيمايې به يې دالله په لارکي لګوله (٣) . قرطبي وايې چي حبيب نجار دجذام په رنځ اخته وو او کور يې دښارپه ليري دروازه کي وو اوياکاله يې دبتانو په وړاندي عبادت اودعاکوله چي ګوندي د ده ناروغي څنې ليري اوورباندي ورحمېږي خودعايې ونه منل شوه کله چي يې استازي وليدل او دی يې الله ته وباله ده ترې پوښتنه وکړه چي آياکومه معجزه هم شته؟ هغوی ورته وويل هو موږبه الله ته هغه چي قادر متعال ذات دی دعاوکړو ستاناروغي به ښه شي ده ورته وويل: داخو ارومرو دتعجب خبره ده زه اوياکاله کېږي دغوخدايانوته دعاوي کوم چي دغه ناجوړي راڅخه بوزي مګر په وس کي يې نشته ستاسورب به څرنګه په يوه شېبه کي داسي وکړای شي دوی ورته وويل هو: (ربناعلی مايشآء قدير) زموږ پروردګار په هغه څه چي اراده يې وفرمايې ښه قدرت لرونکی دی

---

(١) تفسيرالبحرالمحيط ٣٢٧/٧
(٢) شيخ زاده علی البيضاوي ٣/ ١٢٥
(٣) مختصرابن کثير ٣/ ١٥٩ اوداچي نوم يې حبيب النجاروو له ابن عباس څخه روايت شوی دی.

اودغه بتان چي دي دوی نه گټه رسوي اونه تاوان هغه ووچي حبيب نجار ايمان راوړ اودوی پروردگارته دعاوکړه هغه رنځ الله تري واخيست نوکله چي دانطاکيې خلگودډغو استازودوژلو هڅي کولې ده ورته رامنډي کړې اوهغه يې وويل کوم چي قرآنکريم يې کيسه لولي (١)﴿ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱتَّبِعُوا۟ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾وويل (حبيب نجار) ای زماقومه متابعت وکړئ تاسي دمرسلانو(هغوی چي دالله توحيدته موبولي اوداچي ويې ويل ﴿ يَٰقَوْمِ ﴾ ترڅوچي د دوی زړونه يې خپل کړي اونصيحت دمنلولپاره يې په نرمښت چمتو کړي وي او بيايې خپله وينا د تاکيداوبيان لپاره مکرره کړه ويې فرمايل ﴿ ٱتَّبِعُوا۟ مَن لَّا يَسْـَٔلُكُمْ أَجْرًا وَهُم مُّهْتَدُونَ ﴾ (متابعت وکړئ تاسي دهغه چاچي نه غواړي اجربدل حال داچي دوی پرسمه صافه لاره (دخير او صلاح رهي دي) يعني ددغو مخلصينوصادقينو چي له تاسي څخه په ايمان راوړلوکومه مزدوري نه غواړي متابعت وکړي. ﴿ وَمَا لِىَ لَآ أَعْبُدُ ٱلَّذِى فَطَرَنِى وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ اوڅه مانع دی ماته (بلکه نشته چي دزړه له صدقه) عبادت نه کوم دهغه الله چي زه يې پيداکړی يم اوخاص دغه الله ته تاسي بېولی کېږي) دغه په ارشادکي تلطف دی لکه چي خپل ځان ته نصحيت کوي اودوی ته هم هغه غوره کوي کوم چي ځان ته يې غوره بولي اويوډول ترټنه هم پکي نغښتي چي څرنگه دخپل خالق عبادت نه کوئ؟ ﴿ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً ﴾ آياونيسم (پيداکړم) بې له الله نورمعبودان؟ استفهام انکاري دی يعني څرنگه له الله پرته نور معبودان خپل کړم کوم چي نه گټه رسوي نه اوري نه له خپله عابده (پلوي) څخه يوتکليف دفع کوي ﴿ إِن يُرِدْنِ ٱلرَّحْمَٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّى شَفَٰعَتُهُمْ شَيْـًٔا ﴾ که ماته اراده وفرمايي رحمان د ضرررسولو نودفع به نکړي له ماڅخه سپارښت ددوی هيڅ شی (له هغه ضرره) يعني دوی (بتان) دومره بېوزله اوخواري حقېري دبرې دي چي نه اوري نه سپارښت کوي اونه چاته گټه رسوي ﴿ وَلَا يُنقِذُونِ ﴾ اونه به مي خلاص کړي (دالله له عذابه) ﴿ إِنِّىٓ إِذًا لَّفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ بېشکه زه (کله چي نور معبودان ونيسم) خامخاپه ښکاره گمراهي کي يم ، اووروسته له وعظ نصيحت څخه يې دخپل اسلام اوايمان داسي اعلان وکړ: ﴿ إِنِّىٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمْ فَٱسْمَعُونِ ﴾ بېشکه زه چي يم ايمان مي راوړی دی په رب ستاسي پس واورئ له مانه (ويناز ما اونصيحت مي ومنئ. مفسرين کرام وايي کله چي دوی ته يې دغه پند اونصيحت واوراوو اودخپل ايمان راوړلو يې په ډاگه اعلان وکړنودوی گردديوتن په شکل وربانديي را وغورځېدل اوهغه يې وواژه دده هيڅوک ملاتړی نه ووچي له دوی څخه يې ژغورلای وای (٢) طبري وايي چي دوی هغه په لغتووواهوترڅوچي مړشواوچابياويلي چي په ډبرويې وويشت ترڅوچي مړ شو (٣)﴿ قِيلَ ٱدْخُلِ ٱلْجَنَّةَ ﴾ (وويل شو(ورته

---

(١) القرطبي ١٨/١٥ اودغه روايت دوهب بن منبه دی چي قرطبي راوړی دی.
(٢) مختصرابن کثير ٣/ ١٥٩
(٣) القرطبي ٢٢/ ١٠۴

چي څه) ننوزه جنت ته) يعني کله چي وفات شوالله ورته وويل له ابرارو شهيدانو سره جنت ته ننوزه چي دغه ستادربشتوني ايمان اوبريمندشهادت جزاده ، ابن مسعودوايي ترهغويې په لغتو واهوترڅويې کولمې راووتلې او الله ورته وويل ﴿ ٱدْخُلِ ٱلْجَنَّةَ ﴾ نوداخل شواوهغه دجنت نعمتونه ورکول شول ددنياغمونه اوکړاوونه نورپای ته ورسېدل (۱) ﴿ قَالَ يَٰلَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلْمُكْرَمِينَ ﴾ وويل ده کاشکي چي داقوم زماپوه شوی وي پدې چي ماته زمارب مغفرت وکړ اوزه يې له عزت ورکول شوي څخه وګرزولم) دغه تمنايې پدې وکړه چي کاشکي دده قوم پدې سبب پوه شوی وای چي ده ته الله د ګناهونو مغفرت وکړ او جنت ته يې داخل کړځکه چي ده ايمان راووړ اوصبريې وکړ ابن عباس ﷺ وايې چي ده خپل قوم ته په ژونداومرګ دواړوکي نصيحت وکړ(۲) ابوالسعودوايې چي ده دغه تمنا ددې لپاره وکړه ترڅودوی له کفره توبه ګار په ايمان کي داخل اوداجر اوثواب وړ اومستحق وګرزي اودغه داوليااوو هغه تګلاره ده چي په دښمنانوهم مهرباني اوترحم کوي(۳) ﴿ وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَىٰ قَوْمِهِۦ مِنۢ بَعْدِهِۦ مِن جُندٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنزِلِينَ ﴾ اونه مو وو نازل کړی پرقوم ددغه (حبيب نجار) وروسته (له شهادته) دده هيڅ لښکر(له جانبه د) آسمانه اونه وو موږ نازلونکي (دلښکرودملائکو) دغه ددوی دشان سپکاوی اوتصغيردی ﴿ إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً فَإِذَا هُمْ خَٰمِدُونَ ﴾ نه وو(داعذاب ددې قوم) مګريوه چيغه وه (دحضرت جبريل) پس يوناڅاپه دوی يخ کرخ پراخه وو(مړي لکه مړې ايرې) داور. مفسرين کرام وايې چي: په آيت شريف کي ددوی دهلاکولوتحقيردی يعني دوی ددې نه دي چي الله ورته دهلاکولولپاره د پرښتولښکري ورواستوي ؛ روايت شوی کله چي (حبيب النجار) شهيدشو نو دوي ته دالله ﷻ غضب په جوش راغی اوسمدستي يې داسي سزاورکړه چي حضرت جبريل ﷺ ورباندي يوه چيغه وکړه اويومخ ايزه ګردهلاک شول بياالله فرمايي ﴿ يَٰحَسْرَةً عَلَى ٱلْعِبَادِ مَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ ای حسرت افسوس دی په بندګانو (کافرانو) نه دی راغلی دوی ته هيڅ رسول مګروو دوی چي په هغه پسي به يې توکي مسخرې کولې . اوهمداسي په هرځای اوهروخت کي دمجرمينودود اودستوروي .بيضاوي په حاشيه کي ليکي چي دوی ددې وړدي چي په ځانونو حسرت وخوري اويانورکسان ددوی په هکله حسرت اوافسوس ووايې ځکه ددوی کړه وړه په مسخرو ملنډو کي داسي پراوته رسېدلي وو چي پخپلو استازيوبه يې استهزاګاني کولې که هرڅاليدلي وای نوبه يې ويل چي ای حسرته افسوس ددغومحروموکسانوپه حال چي ايمان يې په کفر اونېکمرغي يې په بدمرغي بدله کړه (۴) اوهمدارازپه آيت شريف کي دقريشو کفاروته تعريض دی چي دسيدالمرسلين تکذيب يې

(۱) مختصرابن کثير ۳ /۱۷۰
(۲) دغه دابن عباس وينااده کشاف په مرفوع حديث شريف کي دغه خبره راوړي چي هغه په ژونداومرګ کي خپل قوم ته نصيحت وکړ مشهوره داچي دغه دابن عباس وينااده.
(۳) ابوالسعود ۴ /۲۵۲
(۴) حاشية زاده على البيضاوي ۳ /۱۲۸

کاوونو کله چي يې د دوی لپاره د اصحاب القريه مثال راوړ، مشرکان يې پدې وترټل چي د پخوانيو حاله څخه يې عبرت وانه خيستل ﴿ أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ الْقُرُونِ أَنَّهُمْ إِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴾ آيا نه ويني دغه (کفار) چي څومره ډېر موږ له دوی نه پخوا اهل د زمانې هلاک کړي دي ؟ چي بېشکه هغه (هلاک کړی شوي) دوی ته بيرته نه راګرزي (۱) ﴿ وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴾ او نه دي دا ټول (خلک پخواني) پخواني او بيرته راتلونکي مګر ټول زموږ په نزد حاضر کړی شوي دي لپاره د جزاء په ورځ د قيامت کې چي هريوه ته به پخپلو کړو وړو د دوی جزا ور کړو که يې خير کړی وو او که شر ؟ ابوحيان وايې چي: دغه جمله وروسته د هلاکت له يادوني راغلي چي د دې څرګندونه وکړي چي الله ﷻ دغه هلاک شوي کسان هم نه پرېږدي بلکه وروسته له هلاکته به يې د حساب لپاره راغونډوي او بيا ثواب او عقاب ورکول کېږي (۲).

بلاغت:

پدې آيتونوکې چي د بديع او بيان کومې ښکلاوي شته لنډ يې داد ی:

۱ – تاکيد له يوه نه په زيا تو مؤکدا تو باندي او دا هله چي مخاطب منکروي لکه ﴿ إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ إِنَّا إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ ﴾ ځکه چي دواړه ځايه په (ان) او (لام) باندي تاکيد راغلی او دغه ډول ته انکاري تاکيد وايې

۲ – تمثيلي استعاره چي فرمايي: ﴿ إِنَّا جَعَلْنَا فِي أَعْنَاقِهِمْ أَغْلَالًا ﴾ په آيت شريف کي د کفارو حال چي له هدايت او ايمان څخه ممانعت کوي له هغه چا سره تمثيل شوی چي لاسونه يې په طوقونو باندي له غاړي سره تړل شوي او سرېې جګ پاتي شوی وي نه يې ښکته کولای او نه يې يو بل لوري ته چي وګوري خوځولای شي او هغه چي مخ په وړاندي يې د ېوال وي خپل مقصود ته نشي رسېدلای او دغه د تمثيلي استعارې په توګه راغلی دي.

۳ – د طباق صنعت د ﴿ مِن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا ﴾ او ﴿ وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا ﴾ ترمينځ.

۴ – د سلب طباق لکه ﴿ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ ﴾ په کلام کي.

۵ – ناقص جناس لکه دا چي ﴿ نَحْنُ نُحْيِي ﴾ ځکه چي د ځينو تورو تغير پکي دی.

۶ – اطناب د فعل په تکرار سره لکه پدې کلام کي ﴿ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِينَ اتَّبِعُوا مَن لَّا يَسْأَلُكُمْ أَجْرًا ﴾.

۷ – استفهام د توبيخ لپاره لکه ﴿ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِ آلِهَةً ﴾ چي راغلی دی.

۸ – حذف کوم وخت چي سياق ورباندي دلالت کوي لکه ﴿ قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ﴾ يعني کله چي يې په اسلام د ايمان راوړلو اعلان وکړ او دوی وواژه نو ورته وويل شول چي جنت ته ننوزه !.

۹ – اشتقاقي جناس چي د ﴿ تَطَيَّرْنَا ... طَائِرُكُم ﴾ او ﴿ أَرْسَلْنَا ... مُرْسَلُونَ ﴾ ترمينځ دی.

---

(۱) مختصر ابن کثير.
(۲) البحر المحيط ۳۳۵/۷

۱۰ - دفواصلومراعات کول چي له قرآني ځانګړتياووڅخه دي اودبيان ښه ښکلااوپه اورېدلو ښه اغيزپرې باسي.

تنبيه:
دقرآنکريم له محاسنواوخارق العاده بلاغته څخه يودادی چي په کيسواومهموخبرونو کي خورا له ايجاز اولنډون څخه کاراخلي دکيسې مغز اوروح ته اشاره کوي ځکه له کيسوڅخه مقصدپنداو عبرت اخيستل وي له دې کبله يې دلته دهغه ښارنوم اودهغه چاچي دوی يې دالله لوري ته بلل يادنکړ نه يې داستازي کرامونومونه واخيستل ځکه دغه دکيسې موخه اوهدف نه دي اوهمدارنګه ټولي قرآني کيسې داډول موندلای شی چي په خورا ايجاز کي يې بشپړبيان فرمايلي وي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلۡأَرۡضُ ٱلۡمَيۡتَةُ أَحۡيَيۡنَٰهَا وَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهَا حَبّٗا فَمِنۡهُ يَأۡكُلُونَ ٣٣ وَجَعَلۡنَا فِيهَا جَنَّٰتٖ مِّن نَّخِيلٖ
وَأَعۡنَٰبٖ وَفَجَّرۡنَا فِيهَا مِنَ ٱلۡعُيُونِ ٣٤ لِيَأۡكُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتۡهُ أَيۡدِيهِمۡۚ أَفَلَا يَشۡكُرُونَ ٣٥ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي
خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلۡأَرۡضُ وَمِنۡ أَنفُسِهِمۡ وَمِمَّا لَا يَعۡلَمُونَ ٣٦ وَءَايَةٞ لَّهُمُ ٱلَّيۡلُ نَسۡلَخُ مِنۡهُ ٱلنَّهَارَ
فَإِذَا هُم مُّظۡلِمُونَ ٣٧ وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٣٨ وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ
حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ ٣٩ لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ
يَسۡبَحُونَ ٤٠ وَءَايَةٞ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ٤١ وَخَلَقۡنَا لَهُم مِّن مِّثۡلِهِۦ مَا يَرۡكَبُونَ ٤٢ وَإِن نَّشَأۡ
نُغۡرِقۡهُمۡ فَلَا صَرِيخَ لَهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنقَذُونَ ٤٣ إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ٤٤ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّقُواْ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيكُمۡ وَمَا
خَلۡفَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ٤٥ وَمَا تَأۡتِيهِم مِّنۡ ءَايَةٖ مِّنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِمۡ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ٤٦ وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ أَنفِقُواْ مِمَّا
رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنُطۡعِمُ مَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ أَطۡعَمَهُۥٓ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٤٧
وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٤٨ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ تَأۡخُذُهُمۡ وَهُمۡ يَخِصِّمُونَ ٤٩ فَلَا
يَسۡتَطِيعُونَ تَوۡصِيَةٗ وَلَآ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ يَرۡجِعُونَ ٥٠ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يَنسِلُونَ ٥١
قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرۡقَدِنَاۜۗ هَٰذَا مَا وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَصَدَقَ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ٥٢ إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ
وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ جَمِيعٞ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ٥٣ فَٱلۡيَوۡمَ لَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗا وَلَا تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ
٥٤ إِنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ ٱلۡيَوۡمَ فِي شُغُلٖ فَٰكِهُونَ ٥٥ هُمۡ وَأَزۡوَٰجُهُمۡ فِي ظِلَٰلٍ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔونَ ٥٦ لَهُمۡ فِيهَا
فَٰكِهَةٞ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ ٥٧ سَلَٰمٞ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ ٥٨ ﴾ يس: ۳۳ - ۵۸

مناسبت:

كله چي الله ﷻ داهل قريه كيسه راوړه اودهغوى هلاكت يې په چيغه باندي بيان كړنودلته الله پخپل قدرت اووحدانيت باندي دلائل اوبراهين ښيي هغه چي مړوې اوكښتونه شنه كوي شپه په ورځ رادبره كوي لمر اوسپوږمۍ دهغه په څواک اوقدرت څرخي وروسته يې دمشركانو هغه شكوک اوشبهات چي دبعث اونشور په هكله يې درلودل په ډاګه كړل اوكوټلي دلائل اوښكاره براهين يې ورته وړاندي كړل.

لغتونه:

(آية) نښي اوعلامې ته وايې څكه داهم دالله په وجود نښه اودليل دى ابوالعتاهية وايې:

وفي كل شئ له آية * تدل على انه واحد

په هرڅه كي داسي نښاني شته - چي پردې دلالت كوي چي الله واحد دى.

(الازواج) اقسام اوډولونه (نسلخ) (سلخ) كښلوته وايې الله فرمايي: ﴿ فَٱنسَلَخَ مِنۡهَا ﴾ (الاعراف ۱۷۵) ويل كېږي (سلخ الجزار جلد الشاة) قصاب دپسه پوستكى وكيښ غوښه يې بربنډه كړه (العرجون) له (انعراج) څخه اخيستل شوى اوكږوالي ته وايې اوعرجون هغه دخرماښاخ ته ويل كېږي چي دتازه خرماوو وښكي پسې وي جوهري وايې چي دغه هغه دوښكوښاخ ته چي كوږوي اوكله چي وښكى څني پرې كول شي دى په ونه پسي وچ كلک پاتي شي وبل كېږي (۱)(المشحون) ډک كړى شوى په درنوشيانو (صريخ) فريادرس (يخصمون) پخپلوچاروكي جګړه كونكى چي په خواوشاباندي آګاه نه وي (أجداث) دجدث جمع اوقبرته ويل كېږي (ينسلون) په منډه راوزي ويل كېږي (عسل الذئب ونسل) يعني چټک وځغلېدوغيره.

تفسير:

﴿ وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلۡأَرۡضُ ٱلۡمَيۡتَةُ أَحۡيَيۡنَٰهَا ﴾ اويودليل (دقدرت) دى دوى ته ځمكه مړه (وچه كلكه) چي موږ هغه ژوندۍ كوو (په اوبوسره دباران. مفسرين كرام وايې چي دځمكي مړينه وچوالى دى اوژوندى كول يې په باران باندي كېږي كله چي الله جل جلاله ورباندي باران وكړي نووخوځېږي اوراوپخسېږي اوله هره ډوله نباتاتورا وټوكوي (زرغون كړي) څكه الله له دې وروسته فرمايي ﴿ وَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهَا حَبّٗا فَمِنۡهُ يَأۡكُلُونَ ﴾ اوراوباسو موږ له هغې ځمكي څخه دانې نو له څېنوددغو (دانوڅخه) دوى خوري (اووباندي ژوندكوي قرطبي وايې چي الله جل جلاله دوى په دغه ويناباندي تنبيه كړل چي مړي هم داسي راژوندي كولى شي اودالله دتوحيد اودكمال دقدرت يادونه يې ورته وكړه چي الله ځمكه له مړيني وروسته په نباتاتو زرغونولوژوندۍ كړه اوبياله دغو څېنودانو څخه دوى خوري اوغذائي مواد ترې جوړوي (۲)﴿ وَجَعَلۡنَا فِيهَا جَنَّٰتٖ مِّن نَّخِيلٖ وَأَعۡنَٰبٖ ﴾ اوپيداكړي مودي په دغه ځمكه كي باغونه له (هره قسمه د) خرماوواوله (هرراز) انګورو يعني په دې ځمكه كي موښايسته باغونه پيدا كړي چي

---

(۱) القرطبي ۳۱/۱۵ -القاموس المحيط
(۲) القرطبي ۴۰/۱۵

خرماوي اوانگور پکې وي ﴿وَفَجَّرْنَا فِيهَا مِنَ الْعُيُونِ﴾ اوجاري کړي موږ په دغې (ځمکې) کې له چینو دخوړو (اوبو) څخه اونهرونو بهېدونکو په ډېروښارونو ملکونو کې ﴿لِيَأْكُلُوا مِن ثَمَرِهِ وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ﴾ لپاره ددې چې وخوري دوی له مېوودهغو(مذکوره شيانو) اونه دي پيداکړي (دغه مېوې) لاسونوددوی . ابن کثيروايې کله چې الله په خپلومخلوقاتودکښتونوزرغونولو احسان په ياد کړ ورپسې يې دمېوو اودهغوډولونويادونه وکړه او دغه يوازې دالله درحمت څرګندوی دی ددوی د خپل محنت اووس چارې خبره نه ده څکه الله ورپسې فرمايي ﴿أَفَلَا يَشْكُرُونَ﴾ آياپس دوی شکر نه کاږي (په دغه نعمتونو دالله) ؟ اوداابن جريررايه ده چې (ما) (د الذی) په معنادی يعني ترڅووخوري دوی له هغومېوو اوله هغوچې ددوی لاسونو کښېنولي او کرلي دي([1]) ﴿سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا﴾ پاکي ده هغه الله ته چې پيداکړي يې دي دغه (ټولي) جوړې ټول (چې مختلف شکلونه رنګونه اوخوندونه لري) ﴿مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ وَمِنْ أَنفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ﴾ (له هغوڅيزونوچې ځمکه يې زرغونوي اوله ځانونو ددوی او له هغو (مخلوقاتو) چې دوی يې نه پېژني) يعني هغه چې ځمکه يې شنه کوي لکه ونې، خرماوي ، کښتونه، مېوې، فصلونه اوله ځانونو ددوی نه نارينه او ښځينه اونورمخلوقات او عجيب او غريب شيان لکه چې الله فرمايي ﴿وَمِن كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾ (الذاريات ۳۹) ([2]) ﴿وَآيَةٌ لَّهُمُ اللَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظْلِمُونَ﴾ اويودليل (دالهي قدرت) دوی ته شپه ده چې راوباسو موږله هغې(شپې) څخه ورځ پس ناڅاپه دوی په تياروکې ننوتونکي وي) يعني دده(الله)په بشپړځواک اوقدرت يوه دانښاني ده چې له شپې څخه رڼاېېلوي نودوی په تياره شپه کې ننوزي ، په آيت شريف کې دې لوري ته اشاره شته چې اصل تياره اوروښنايي عارضي بڼه لري کله چې لمر ډوب شي نوله شپې څخه ورځ ووزي (زائل شي) نوهغه اصل چې تياره ده رادبره شي ﴿وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا﴾ (بل دليل دالله د قدرت) لمر(دی چې) ځي پخپلې ټاکلې لارې) باندې،پخپل فلک کې نه ځنې خطاکېږي اونه ځنې تجاوزکوي ترهغه وخته چې ځوښې ورووستی. نېته راځي چې دقيامت ورځ ده اودنړۍ ورانې به پېښېږي . ابن کثيروايي چې دالله ﷻ په دې وييناکې چې فرمايي ﴿لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا﴾ دوې خبرې دي يوه داچې مرادله دې څخه دلمر مکاني مستقردی کوم چې ترعرش دلاندې ځمکې ته نژدې دی لکه چې دبخاري په حديث کې راغلي ؛ ابوذر ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ

([1]) مختصرابن کثير ۳ /۱۲۲

([2]) سبحان العلى القديرپخواداسې مشهوره اټکل ووچې نراوښځه دانسانانواوحيواناتوترمينځ شته قرآنکريم راغی اودغه معجزه يې وښودله چې نراوښځه په ډېروشيانوکې وجودلري بياپه دې نژدې ورووستيوکې پوهانوداکشف کړه چې نراوښځه دانسان ، حيوان ،نبات اواتومې ذرې ترمينځ لاهم شته کومه چې ترټولوکوچنۍ ماده ده له دوو مختلفوبرېښنايې وړانګو جوړه شوې چې (سالبې ،موجبې) يې بولي کله چې سره يوځای شي نوموجوديت يې تثبيت شي همداسې دنباتاتو ترمينځ نارينه اوښځينه غړي شتون لري. ﴿سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ وَمِنْ أَنفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ﴾.

ماته وفرمايل: اى ابوذره ته پوهېږې چي لمرچېري لوېږي ؟ ماورته وويل: چي الله او رسول پرې ښه
خبردي ويې فرمايل: لمردرومي ترڅودعرش لاندي سجده وکړي، دوهمه خبره داده چي مقصدله
مستقرڅخه آني مستقردى چي دهغه دتګ وروستى منتهاء چي دقيامت ورځ ده اخيستل کېږي کله چي
يې حرکت په سکون بدلېږي اوتګ يې پاى ته رسېږي او ګرده نړۍ نړېږي اوداسي قرائت هم شوى دى چي
(لامستقرلها) يعني قرار اوآرام نه مومي بلکه شپه او ورځ په حرکت کي وي نه ستومانه کېږي اونه
دربږي (۱) ﴿ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴾ دغه (حرکت دلمر اودوران يې په دقت سره) اندازه ده دښه غالب
(پخپله پاچهي کي) ښه دانا (پخپل مخلوق باندي) (۲) ﴿ وَٱلْقَمَرَ قَدَّرْنَٰهُ مَنَازِلَ ﴾ اوسپوږمۍ ته اندازه
کړي دي موږ منزلونه چي په هغوکي درومي ترڅومياشتي ور باندي معلومي شي اودغه اته ويشت منزله
داته ويشتوشپولپاره دي هره شپه په يومنزل کي راکوزېږي نه ترې خطاکېږي اونه ځني وزي کله چي
وروستي منزل ته ورسي نونرۍ باريکه اوکږه شي ﴿ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلْعُرْجُونِ ٱلْقَدِيمِ ﴾ ترهغه پوري چي وګرزي
(په نظر کي) لکه وچه څانګه دخرما (چي کلکه کږه زېړه او نرۍ شي. ابن کثير وايې الله پاک سپوږمۍ د
مياشتو دمعلومولو لپاره هسي ګرزولي لکه چي يې لمر دشپواوورځو د پېژندني لپاره خوددوى دتګ
ترمينځ يې توپير کړى دى لمرهره ورځ را خېژي اوپرېوزي اود راختلو او پرېوتلو ځايونه په دوبي اوژمي
کي بدلوي چي له دې کبله ورځي اوږدېږي اوشپې لنډېږي بيا شپې لوئېږي او ورځي لنډېږي دغه ورځنى
کوکب (ستورى) دى او سپوږمۍ بيامنزلونه لري په لومړي منزل کي نرۍ چي خورالږ رڼالري راخېژي
اوبيايې دوهمه شپه رڼا زياته اومنزل يې لوړشي او ورپسې هر څومره چي لوړېږي رڼايې زياتېږي ترڅو
په څورلسمه شپه ښېخي بشپړه او رڼا (نور) يې کامل شي له دې په هيسي بياورو وروررڼايي لږېږي ترڅو د
مياشتي وروستي پړاوته ورسېږي اوهلته بيالکه د خرمادهغه پخواني وچي کلکي څانګي په شان لکه
کږه لښنده غوندي نرۍ شي. مجاهدوايې چي د (عرجون) معنا دلمدوخرماوو اوښکي ته کله چي وچ،
زوړ، اوکوږشي وايې او بيادبلي مياشتي په لومړيو کي نوي را دبره شي ﴿ لَا ٱلشَّمْسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدْرِكَ
ٱلْقَمَرَ ﴾ (نه دى وړ لمر لره (اوله وسه يې پوره نه ده) چي سپوږمۍ لاندي کړي) يعني لمرنشي کولاى
اونه ورسره ښايې چي له سپوږمۍ سره په شپه کي يوځاى اودهغې رڼاورکه کړي ځکه دغه

---

(۱) مختصرابن کثير ۳ /۱۲۲

(۲) شهيد سيدقطب پخپل تفسيرفى ظلال القرآن کي ليکي چي لمرپخپل ځان راتاوېږي ګمان داکېدوچي هغه پخپل ځاى ثابت دى چېري چي راڅرخي خوپه دې وروستيوکي دانتېجه ترلاسه شوي چي هغه پخپل ځاى کي مستقرنه بلکه فعلا په يولوري باندي په دغه پراخه فضاء کي روان دى چي په دومره سرعت سره درومي کوم چي دفلکياتوپوهانودهغه چټکتياوګرنديتوب په يوه ثانيه کي دوولس ميله مسافه ښودلي ده اوښه خبردار الله پرورګار دى دهغه په تګ اومصير خبردى کوم ذات چي فرمايې ﴿ وَٱلشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ﴾ دغه مستقرچي دى ور رسي هيڅوک پرې نه پوهېږي يوازي الله سبحانه وتعالى ته دهغه علم شته کله چي موږ تصوروکودغه لمريو مليون واري تردې ځمکه لوى دى اودادومره غټه کتله چي پدې فضاکي روانه وي اوهيڅ څېزيې تکيه اوټينګول نه کوي نودهغه ذات قدرت چي په دغه وجودکي تصرف کوي دهغه دځواک اوپوهي يوڅه درک موږ ته لګېدلى شي او الله رښتيافرمايې چي ﴿ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴾.

دنباتاتو(تلوين) ته تاوان رسوي اودبندګانو د مصلحتونو خلاف دی. طبري وايي چي: لمرلره دالائقه نه ده چي سپوږمۍ لاندي کړي ور ورسي نو به يې رڼاولاړه شي او ګرد وختونه به ورځ وي شپه په پکي هيڅ نه وي ﴿وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ﴾ اونه شپه رومبی کېدونکي ده له ورځي چي رڼايې يوسي اوټول وختونه شپه شي([1])﴿وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسۡبَحُونَ﴾ اودغه ټول (فلکي أجرام) په آسمان کي چورلېدونکي دي. حسن رحمه الله وايې لمر، سپوږمۍ او ستوري په فلک کي دي چي دآسمان او ځمکي ترمينځ دی له کوم ځېزسره نښتي نه دي که نښتلي وای بيابه يې جريان نه درلود([2]) دآيت شريف غرض دالله ﷻ دقدرت بيان دی چي په دې کائناتوکي يې په خورا دقيق اومنظم ډول دغه نظام پلی کړی چي لمرخپل مدارلري دسپوږمۍ خپل مداردی دستورو دهريوو جلاځانګړی مدار دی چي په خپل جريان اوچورلېدلوکي نه ترې خطاکېږي اونه هم ترې وزي اوتجاوز کوي نه خو يوله بله سره لګېږي لکه چي قتاده رحمه الله وايې هريوه ته ټاکلی حداونښه شته چي له هغه څخه نه وزي او نه هم کوتاهي کوي ترڅوچي وروستۍ نېټه يې راورسېږي چي دقيامت ورځ ده نوهلته به بياالله لمر او سپوږمۍ دواړه سره يوځای کوي لکه چي فرمايي ﴿وَجُمِعَ ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ﴾ (القيامة ۹) نوهله به د کائناتو نظام درهم برهم شي بشري ژوندبه له دغي ځمکني ستوري څخه پای ته ورسېږي ([3])﴿وَءَايَةٌ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ﴾ (اويوه نښه (دقدرت دالله) دوی ته داده چي بېشکه موږ سپاره کړي دوي اولاددوی په بېړۍ (دنوح) ډکه کړی شوي کي) يعني دالله په بشپړقدرت اوځواک يوه روښانه نښه داده چي موږ ددوی پلرونه دآدم اولاده دنوح ﷺ په بېړۍ کي سواره کړي ووچي الله ورته امرکړی ووسپاره کړه له هري جوړې دوه دوه په التسهيل کي وايې چي: دلته يې په ځانګړي توګه د اولادې يادونه وکړه څکه دغه په احسان ثرګندولواوامتنان کي مبالغه ده اودوې ته اشاره ده چي ترقيامته نور وروستي هم په بېړيوکي سپروي ﴿وَخَلَقۡنَا لَهُم مِّن مِّثۡلِهِۦ مَا يَرۡكَبُونَ﴾ اوپيداکړي دي موږدوی ته په شان ددې(بېړۍ) هرهغه چي دوی پرې سپرېږي (اوليري ځايونوته يې رسوي اوچي دغو (نواقلو) ته يې دالله دپيدايښت نسبت وکړڅکه چي الله جل وعلايې دجوړولو زده کړه انسان ته ورکړې ده. ابن عباس ﷺ وايې چي دغه اوښان اونورټول دسپرلي شيان دي څکه دغه په ځمکه کي داسي حيثيت لري لکه بېړۍ په سمندر کي ([4])﴿وَإِن نَّشَأۡ نُغۡرِقۡهُمۡ فَلَا صَرِيخَ لَهُمۡ﴾اوکه موږ اراده

([1]) الطبري ۲۳/۲

([2]) القرطبي ۱۵/۳۳

([3]) شهيد سيد قطب رحمه الله وايي چي (دستورواوسياروترمينځ خوراپراخه مسافه اوواټن شته الله دغه پراخ واټنونه پدې کون کي ددې لپاره پيداکړي چي دغه فلکي اجرام له ټکراولګېدلو څخه وژغوري ددغواجرامو خوځښت اوحرکت په دغه ويره اوپراخه فضاء کي هغي بېړۍ ته ورته دی چي په پراخ سمندرکي روانه وي بېړۍ له خوراپنډوالي اولويوالي سره سره په سمندرکي داسي ايسي ته به وايو ټکی (نقطه)لامبي همداسي دغه ستوري اوسيارې په دې وېرونکي فضاکي اوسي)!!

([4]) تفسيرالقرطبي ۱۵/ ۳۵ هلته دابن عباس ﷺ څخه يوبل قول هم روايت شوی دی چي وايې (من مثله) معناداچي الله نوري بېړۍ دنوح دبېړۍ په شان پيداکړي چي دوی پکي سپرېږي اوداڅرګندهم دی څکه وروسته فرمايي: (وَإِن نَّشَأۡ نُغۡرِقۡهُمۡ).

وفرمايونوغرق کړي به مو وو دغه (سورلی د بېړۍ) پس دوی لره به نه وي هيڅ فريادرس ﴿وَلَا هُمْ يُنقَذُونَ﴾ اونه به دوی خلاصولی کېږي (له ډوبېدلو) ﴿إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٍ﴾ مګر(نه يې غرقوو) په رحمت مهرباني خپلي سره او لپاره دنفعي اخيستلو ترنېټې (دمرګ ددوی) پوري. الله ﷻ دلته داسي بيان وفرمايو چي دغه په بحر کي ددوی سورلي په بېړيو کي له سترو نښانو څخه دي څکه بېړۍ چي کله په درنوبارونو بار او سورلۍ پکې وي داوبو په سرد پاسه يوه څرګنده معجزه ده چي يوازي دالله ﷻ دقدرت، حکم او تصرف چلېږي چي په بېړۍ کي خواص داوبو خاصيت اودباد اوهوا خواص داګرد دالله په حکم، پيدا ښت او تقدير پوري اړونددي څکه نوخوراستره بېړۍ په سمندرکي لکه ښه په هواکي داسي وي که دالله ﷻ رحمت او مهرباني يې ونه ژغوري نودشېې اوورځي په يوه شېبه کي به له ډوبېدلو سره مخامخ شي، هغه کسان چي دبحري جهازونو سفرونه يې کړي اودسمندرو وېرونکي خطرونه يې ليدلي پدې پوهېږي چي درياب اوسمندرڅومره وېرونکی دی دوی ته دالله رحمت ښه څرګندوي اوپدې پوهېږي چي يوازي دالله رحمت دی چي دوی له توندو بادونو ،اوچتوڅپو اوطوفانونو څخه ژغوري دوی ته ددې کلام چي ﴿إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا﴾ معناله ورايه څرګنده ده اوخورا ښه پرې پوهېږي (فسبحان الله القدير الرحيم) ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ (اوکله چي وويل شي دوی ته چي ځان وساتئ له هغه (دنيوي عذابه) چي ستاسي په مخ کي دی اوله هغه اُخروي عذابه) چي وروسته درپسي راځي ښايي چي پرتاسي رحم وکړی شي) نودوی مخ وګرزوي) کله چي الله تعالی د خپل قدرت دلائل او د رحمت آثاربيان کړل نودمشرکانوړندوالی اوله حق څخه څنګ کول يې داسي انځورکړل چي کله مشرکانوته وويل شي چي دالله له غضب اوقهرڅخه ووېرېږئ هغه قهرچي څرنګه يې ستاسي په مخکنيو اُمتونو عذابونه نازل کړي څکه چي دوی دخپلو انبياوو تکذيب کاوو او همداسي دآخرت له عذابونوڅخه ووېرېږئ ترڅو درباندي رحم وشي دشرط ځواب حذف شوی هغه دا چي دوی مخ وګرزوي اوتکبروکړي په دغه محذوف باندي دالله ﷻ داقول دلالت کوي چي ﴿إِلَّا كَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ﴾ قرطبي وايې چي دشرط ځواب حذف شوی اوتقديريې داسي کېږي چي کله دوی ته داسي وويل شي نواعراض وکړي او دليل يې داوروسته راتلونکی آيت دی چي فرمايې ﴿وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ آيَةٍ ..﴾ نوپه دې باندي يې له ځواب څخه بسنه (کفايت) وکړ[۱] ﴿وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ آيَةٍ مِّنْ آيَاتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ﴾ او نه راځي دوی ته هيڅ دليل له دلائلو(دقدرت) درب ددوی مګردي دوی له هغو(دلائلو) څخه مخ ګرزونکي. ابوالسعودوايې چي دآيتونو اضافت رب ددوی ته لپاره د تفخيم دشأن دهغوی دی چي دوی په دي مخ ګرزلو دستري ګناه مرتکب شوي دي مرادله آيتونوڅخه يا خوتنزيلي آيات دي چي دالله په بديع صنعت اوبشپړنعمت ګواهي ورکوي اوياهم تکويني آيات دي چي معجزاتواوعجائب مصنوعاتو ته شامل دي اودهغوی څخه هغه هم دي چي ذکرشول کوم چي دالله په وحدانيت يې شاهدي

---

(۱) القرطبي ۳۶/۱۵

ويله(۱) ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ ﴾ او كله چي وويل شي دوى (كفارو) ته په نصيحت) چي نفقه وركوئ (فقيرانو ته) ځيني له هغو مالونو څخه چي الله تاسي ته روزي دركړي ﴿ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ ءَامَنُوا أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ ﴾ نو وايي هغه كسان چي كافران شوي دي (په استهزآء او ملنډو) هغو كسانو ته چي ايمان يې راوړى دى آيا طعام وركړو موږ هغه چاته كه الله اراده فرمايلي واى نو طعام به يې وركړى وو؟! (دوى خو الله فقيران كړي دي) ﴿ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ نه يى تاسي (اى مؤمنانو) مګر په ښكاره ګمراهي كي ياست؛ چي موږ ته واياست هغو كسانو ته خواړه وركړئ كوم چي الله فقيران كړي او مسكينان يې پيدا كړي دي. ابن عباس وايي: په مكه مكرمه كي يوه ډله زنديقان وو كله چي به ورته وويل شول مسكينانو ته خيرات صدقه وركړئ نو دوى به ويل: نه والله كه يې وركړو يو څوك چي الله يې فقير كوي موږ به هغه ته خوراك وركوو؟! (۲) مقصد د دوى په مؤمنانو باندي رد كول دي لكه چي دوى وايي: كه څېري خبره داسي وي لكه چي تاسي (مؤمنان) ګمان كوى چي الله رازق دى نو دغو فقيرانو ته به يې روزي وركړي وه؟ نو تاسو ولي له موږ څخه د نفقې وركولو غوښتنه كوئ؟ هو دغه ناپوهان پدې نه پوهېږي چي د ارزاقو خزانې د خلاق څښتن په لاس كي دي او همدغه ذات (چي څوك بډاى او څوك نېستمن پيدا كړي دغه يې امتحان او ازموينښت دى چي بډاى په بېوزله څرنګه لوربينه كوي او مسكين فقير څرنګه صبر او زغم خپلوي له فقير څخه يې مال دولت دبخل له امله نه دى بند كړى او همداسي بډاى او دولت مند ته يې د نفقه كولو امر دا ړتيا او احتياج له مخي نه دى صادر كړى بلكه دا يو ازموينښت دى (والله يفعل مايشآء) دالله په مشيت او حكم باندي هيڅ ګوت نيونه (اعتراض) نشي كېداى ﴿ لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ ﴾ (الانبيآء ۲۳) وروسته بيا د مشركانو انكار چي له آخرته يې كوي او يايې استبعاد له قيامته داسي بيانوي: ﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ او وايي (كفار) چي كله به وي دغه وعده (د قيامت چي موږ پرې وېروى) كه څېري يې تاسي رښتوني صادقان (پخپله دعوى كي چي بعث او نشور حساب او عذاب شته) الله د دوى په ترديد كي داسي فرمايي: ﴿ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً تَأْخُذُهُمْ ﴾ انتظار نه كوي (كفار) مګر د يوې چيغي (چي يو ناڅاپه به دوى ونيسي او خبر به هم نه وي) ﴿ وَهُمْ يَخِصِّمُونَ ﴾ حالَ داچي دوى به جګړې سره كوي (په خپلو بازارونو او معاملاتو كي نابېره به يې چيغه ونيسي او پخپلو ځايونو كي به ومري. ابن كثير وايي چي دغه - والله اعلم - نفخة الفزع دى چي اسرافيل ﷺ به په شپېلۍ كي پو كړي او ګرد خلګ به پخپلو كاروبارونو لګياوي يو له بله به له دود عادت سره سم شخړې كوي چي الله ﷻ به اسرافيل ﷺ ته د پو كلو امر وكړي او هغه به يو پوكى اوږد اوزيات وكړي چي د ځمكي په مخ به هيڅوك پاتي نشي چي دغه شپېلۍ به له

(۱) ابو السعود ۴/ ۲۵۵

(۲) القرطبي ۱۵/ ۳۷ قرطبي وايي چي دغه ځواب يې په مسلمانانو پسي د ملنډو او استهزآء په ډول كړى دى.

آسمانه اوري اوغاړه به ورته کږوي (¹) دغه دالله ﷻ وينا ده چي فرمايي: ﴿ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ ﴾ پس توان به يې ونشي دوصيت اونه به خپل اهل ته بيرته ورشي ځکه نوروخت تېر شوی دی. په حديث شريف کي راځي چي: قيامت به په داسي حال کي راځي چي دووتنوبه جامه غوړولي وي يوله بله به يې بيه کوي نه به يې پلورلي پېړلي وي اونه به يې نغښتلي وي همدارنګه به قيامت پداسي حال کي راشي چي يوڅوک به تالاب په ختوپلسترکوي او جوړوي چي دهغه اوبه به يې لانه وي څښلي اوقيامت به داسي راشي چي يوچابه خولې ته ګوله پورته کړي وي خوړلي به يې نه وي (²) بيابه دوهمه نفخه وي چي هغې ته (نفخة الصعق) وايې هغه چي په هغې به ګرد ساکنبان پرته له الحی القيوم پروردګاره ومري او بيا دريمه نفخه ده چي هغه بيادبعث او نشور نفخه بولي هغه چي په هغې باندي خلګ له قبرونورا پاځېږي اوداهغه نفخه ده چي پدې آيت شريف کي ورته اشاره کېږي ﴿ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ الْأَجْدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يَنسِلُونَ ﴾ اوبيابه پوکی وکړشي په صور شپېلۍ کي پس ناڅاپه به دوی له قبرونوڅخه په طرف درب خپل منډي وهي ځغلي به. طبري وايې ﴿ يَنسِلُونَ ﴾ معناداچي منډي به وهي (نسلان) په تګ کي ګړندي توب ته وايې (³) ﴿ قَالُوا يَا وَيْلَنَا مَن بَعَثَنَا مِن مَّرْقَدِنَا ۜ ﴾ وايې به دوی ای هلاک خرابي ده موږته چاراپاڅولو له ځايونودخوبونو زموږ؟. ابن کثيروايې چي ددې دامعنانه ده چي ګواکي دوی په قبرونوکي آسوده وو عذاب نه ورکول کېدو بلکه هغه عذاب داوروستي ته داسي بلل کېږي لکه هغه چي آرام خوب وي کله چي دوی داووايې پرښتې اويامؤمنان به داسي ځواب ورکړي چي ﴿ هَٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُونَ ﴾ (دا هغه ددوهم ژوندون) دی چي وعده يې کړې ده رحمان رښتيا ويلي وو رسولانو) يعني دغه هغه څه دي چي الله درسره وعده فرمايلي ده دحساب اوجزاء چي په بعث بعدالموت کي به وي اورښتياويلي وو پيغمبرانو چي داسي اخباربه يې کاوو ﴿ إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴾ نه به وي دغه مګر يوه چيغه داسرافيل(چي وشي نورابه شي دوی ټول) پس ناڅاپه دوی ټول په نزددرب زموږ به حاضر کړی شوي وي، صاوي وايې چي دغه چيغه دحضرت اسرافيل هغه وينا ده چي: ای ورستو هډوکو شلېدلي بندونواوپرې شوي ټوټو اوتارېه تارو ښتانو بېشکه الله درته امرکوي چي راټول شئ دحساب لپاره بيابه په شپېلۍ کي پوکړل شي چي ناڅاپه به ټول دحساب په تم ځای کي حاضرشي (⁴) ﴿ فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ (پس نن ورځ به ظلم ونه کول شي په هيڅ نفس باندي دهيڅ شي اونه به جزادرکوله

(¹) أخرجه البخاري

(²) مختصرابن کثير- دغه دابن کثيروينااوطبري غوره کړې ده اوداچي دلته مراد نفخة الفزع ده اوقرطبي بياوايې چي دغه نفخة الصعق دی چي ګردژوندي ساري به ورباندي مره کېږي.

(³) الطبري ۲۳/ ۱۷

(⁴) حاشية الصاوي على الجلالين ۳/ ۳۲۸

کېږي تاسي ته مگر(جزآء) دهغو (اعمالو) چي تاسي به کول (له خيراوشره په دنياکي) يعني دغه دقيامت په ورځ به په هيڅ نفس دهيڅ ډېرظلم ونکړی شي که هغه نفس نېک اوکه فاجر وي اونه به يوڅوک دبل چادگناه پېټی په شاکړي بلکه هرچاته به پخپل عمل جزاء ورکول کېږي . ابوالسعودوايي چي دغه دهغه څه حکايت دی چي ژر دی هغوی ته به هغه وخت چي تيارشوی عذاب ويني وويل شي ترڅودحق تحقق اوددوی لپاره تکونه (تقريع)شي([1]) اوکله چي د مجرمانوحال بيان شو اوس دنېمکرغه متقيانوحال داسي بيانوي: ﴿إِنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ ٱلْيَوْمَ فِى شُغُلٍ فَٰكِهُونَ﴾ بېشکه خاوندان ياران دجنت به نن ورځ په مشغوليتاکي (لذت اخيستونکي وي) دوی به د دوزخيانوپه حال کي چورت نه وهي له حوروسره به خوښ خوشحاله وي خوندور خواږه څښاک او خوندوره سماع به ورته رسېدلي وي .

ابوحيان وايي چي ظاهر خودادی چي دغه مشغولتيابه دوی له هر هغه څه څخه چي په زړه تېرېږي مشغوله کړي وي ابن عباس ﷺ وايي چي دوی به له جنتي پېغلوسره دکوروالي په کولو اوجنتي خوږو آوازونواورېدلو له خپلو خپلوانوڅخه چي په دوزخ کي دي مشغوله کړي وي دوی ته به هغه نه ورپه يادکېږي چي خوندونه اولذتونه يې ترخه نشي ([2]) ﴿هُمْ وَأَزْوَٰجُهُمْ فِى ظِلَٰلٍ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔونَ﴾ (دغه جنتيان اوښځي ددوی به په سيوروکي (ناست) وي پرتختونو باندي به تکيه وهونکی وي) يعني دوی به اوددوی مېرمني به هلته په جنتونو کي چي ګڼ سيوري به لري نه به لمراونه به زمهريريخ وي په تختونو به چي په ښکلوجامواوپردوبه ښايسته شوي وي ناست وي ﴿لَهُمْ فِيهَا فَٰكِهَةٌ﴾ وي به دوی ته په دغه جنت کي (انواع) دمېوو ﴿وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ﴾ اووي به دوی ته هرهغه شی چي دوی يې غواړي ، لکه چي الله ﷻ فرمايي ﴿وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ ٱلْأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلْأَعْيُنُ﴾ (الزخرف ۷۱) ﴿سَلَٰمٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ﴾ وي به دوی ته سلام (چي ورته وبه ويلی شي) په ويلوسره له(طرفه د) رب رحم والا ، په حديث شريف کي راغي: کله چي جنتيان په نعمتونوکي وي له پاسه به يونور وويني اوچي سرونه راپورته کړي الله ﷻ به لوروي اوورته به ووايي السلام عليکم ای جنتيانوهمدغه دالله ويناده چي ﴿سَلَٰمٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ﴾ نوالله به دوی ته وګوري اودوی به الله ته ، نودجنت هيڅ نعمت ته به نه ملتفت کېږي ترڅوچي الله ته ګوري اوچي هغه ترې په حجاب شي نونوراوبرکت يې ددوی سره ددوی داوسېدلوپه ځای کي پاتي وي.

بلاغت:

پدې کلام کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

([1]) ابوالسعود ۴ /۲۵۷

([2]) البحرالمحيط ۷ /۳۴۲

١ - تنكير، تفخيم اوتعظيم پدې كلام كې: ﴿ وَءَايَةٌ لَّهُمُ ﴾ يعني دالله په قدرت ستر اوروښانه آيت او نښاني.

٢ - طباق دمرگ اوژوند ترمينځ لكه: ﴿ ٱلْأَرْضُ ٱلْمَيْتَةُ أَحْيَيْنَٰهَا ﴾ اودشپې اوورځې ترمينځ لكه ﴿ وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ ٱلنَّهَارَ ﴾.

٣ - تصريحي استعاره چې فرمايي: ﴿ وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ ٱلنَّهَارَ ﴾ دلته يې دورځې درڼا تلل اودشپې تياره لوځېدل دپسه له پوستكي ايستلوسره مشابه كړل اودغه پوستكى ايستل يې لپاره دزائل كولواورااېستلو استعاره راوړو اوله دې څخه يې ﴿ نَسْلَخُ ﴾ مشتق كړه چې د(نخرج) يعني موږ راباسوپه معنادى چې دغه يې دتصريحي استعارې په توگه راوړه چې بليغه استعاره ده اودشپې اوورځې ترمينځ دطباق صنعت هم شتون لري.

٤ - مرسله مجمله تشبيه چې ﴿ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلْعُرْجُونِ ٱلْقَدِيمِ ﴾ راغلي دشبه وجه مركب دى له دريو شيانوڅخه نري والى، كوږوالى اوژېړوالى اوچې دغه يې يادنكړل ځكه يې مجمله بولو.

٥ - تقديم دخبرپه مبتداء باندي لپاره ددې چې نفي شوي حكم تقويه كړي لكه ﴿ لَا ٱلشَّمْسُ يَنۢبَغِى لَهَآ أَن تُدْرِكَ ٱلْقَمَرَ ﴾ ځكه داترهغه أبلغ دى چې ويل شوي واى (لاينبغي للشمس ان تدرک القمر) او داېې هم افاده كړه چې هغه تابع دى پرته له هغه چې ورته امروشي نورڅه نشي كولاى نوستاداخبره چې يوچاته وايې (أنت لاتكذب) چې خبرړومبى راوړې تردې وېناچې ورته ووايې (لاتكذب) لومړى عبارت تردوهم عبارت په نفى دكذب كې أبلغ دى دقرآن رازونو اواسراروته فكروكړه !.

٦ - غيرعاقل دعاقل پرځاى راوړل لكه ﴿ وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴾ چې د(يسبح) پرځاى راوړل شوى دلته يې له لمر، سپوږمۍ اوستورو څخه دجمع مذكرپه ضميرسره يادونه كړي هغه څه چې دلامبلووصف ورته رواكوي كوم چې هغه دعاقلانوله صفتونوڅخه يووصف دى(١).

٧ - لطيفه استعاره پدې كلام كې چې: ﴿ مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرْقَدِنَا ﴾ دلته مرادله مرقدڅخه ممات (مړينه) ده ددوى دمرگ حال يې ددوى له خوب سره مشابه كړځكه له هره لوري ورسره خوراأشبه دى اوتردې وېناچې ويلي يې واى (من بعثنامن مماتنا) ډېرأبلغ دى.

---

(١) حاشية الصاوي على الجلالين: ٣/ ٣٣٢

٨- ايجازبالحذف لکه ﴿ هَٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ ﴾ يعني پرښتې به دوی ته وايي چي دا همغه څه دي چي رحمان درسره وعده فرمايلي ده.

٩- دطباق صنعت لکه: ﴿ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا ﴾ اوهغه استفهام چي تهکم افاده کوي لکه: ﴿.. أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ ﴾.

١٠- غيرمتکلفه سجع دآيتونو په پای کي شته لکه: ﴿ وَأَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَأْكُلُونَ ... وَفَجَّرْنَا فِيهَا مِنَ الْعُيُونِ ... وَمِنْ أَنفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ ... فَإِذَا هُم مُّظْلِمُونَ ﴾ اوددې په مثل دا هم دی چي: ﴿ حَتَّىٰ عَادَ كَالْعُرْجُونِ الْقَدِيمِ ... ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴾ اودغه له بديعي محسناتوڅخه ګڼل کيږي.(١)

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٥٩﴾ ۞ أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ ۖ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ
﴿٦٠﴾ وَأَنِ اعْبُدُونِي ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنكُمْ جِبِلًّا كَثِيرًا ۖ أَفَلَمْ تَكُونُوا تَعْقِلُونَ ﴿٦٢﴾ هَٰذِهِ
جَهَنَّمُ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٦٣﴾ اصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٦٤﴾ الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰ أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا
أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ نَشَاءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰ أَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ فَأَنَّىٰ
يُبْصِرُونَ ﴿٦٦﴾ وَلَوْ نَشَاءُ لَمَسَخْنَاهُمْ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَاعُوا مُضِيًّا وَلَا يَرْجِعُونَ ﴿٦٧﴾ وَمَن
نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ ۖ أَفَلَا يَعْقِلُونَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنبَغِي لَهُ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ وَقُرْآنٌ مُّبِينٌ ﴿٦٩﴾
لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيًّا وَيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٧٠﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا
مَالِكُونَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلْنَاهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ۖ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾ وَاتَّخَذُوا
مِن دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنصَرُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ ﴿٧٥﴾ فَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّا
نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٦﴾ أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٧٧﴾ وَضَرَبَ لَنَا
مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ مَن يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾ قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ
﴿٧٩﴾ الَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَا أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ ﴿٨٠﴾ أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ

---

(١) موږ ځيني دبلاغت مثالونه يادکړل ترڅوچي انسان دقرآنکريم يوڅه بياني خوندوڅکي که نه قرآنکريم خومعجزالهي کتاب دی چي له ګردوبياني اوبلاغي ښکلاووا وصفاتوبيانولوڅخه دانسان ژبه عاجزه ده اونه هم په شمېرکي راځي (فسبحان الله منزل القرآن).

بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۚ بَلَىٰ وَهُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٨١﴾ إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ
﴿٨٢﴾ فَسُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٨٣﴾ ﴾ یس: ۵۹ – ۸۳

مناسبت:

کله چي الله تبارک وتعالی دنېکمرغه نېکانوحال په جنت کي دتلپاتي نعمتونوپه هکله ووایو ورپسې دلته دبدمرغه فجاروحال راوړي څرنګه به په رسوايي اوهلاکت کي اوسې اوهمدغه د قرآنکريم اسلوب دی چي ترغيب اوترهيب يوځای راوړي په پای کي دبعث بعدالموت اوحساب جزاء ددلائلوبيان دی اوسورت ورباندي بشپړېږي.

لغتونه:

(امتازوا) له تميزاوانفصال څخه دی اوددووڅېزونوترمينځ جلاوالي ته وايې (جبلا) دجيم په کسره سره مخلوق ته وايې (دجبلة) جمع ده لکه چي الله فرمايې: ﴿ وَٱلۡجِبِلَّةَ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴾ (الشعرآ.۱۸۴) له (جبل الله الخلق) څخه چي د(خلق الله) په معنادی راځي (طمسا) طمس ديوڅېزله مينځ تللوته لکه چي ببخي نه وي پيداشوی وايې (اصلوها) دننه شي اوداورلمبې وڅکئ(مسخناهم) مسخ يوڅيزپه بل باندي اوښتلوته وايې (نعمره) له تعمېرڅخه اخيستل شوی دعمراوږدوالي ته ويل کېږي کوم چي تربوډا والي ورسېږي (ننکسه) تنکيس يوشی سرپه څېړه اړولونسکوراواپوته ته وايې کله چي وويل شي (نکست الشئ نکسا) معنی داچي په سرنسکورمي واړاووله دې څخه دي ﴿ ثُمَّ نُكِسُواْ عَلَىٰ رُءُوسِهِمۡ ﴾ (الانبيآ.۶۵) (رميم) وراسته اوايرې شوي ته وايې.

دنزول سبب:

روايت کېږي چي دقريشي کفارويوسردار (أبی بن خلف) يوپخوانی وروست هډوکی دپيغمبرﷺ په وړاندي رېزمرېز کړاوبيايې وويل: ای محمده ﷺ ته ګمان کوې چي داهډوکی به الله وروسته له ورستوالي راژوندی کوی؟ رسول الله ﷺ ورته وويل: هوبيابه دي راپاځوي اواورته به دي دننه کړي نوالله ﷻ داآيت شريف نازل کړ ﴿ أَوَلَمۡ يَرَ ٱلۡإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقۡنَٰهُ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٞ مُّبِينٞ ﴿٧٧﴾ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلٗا وَنَسِيَ خَلۡقَهُۥۖ قَالَ مَن يُحۡيِ ٱلۡعِظَٰمَ وَهِيَ رَمِيمٞ ﴾ ([1]).

([1]) تفسير القرطبي ۱۵/۵۸ والبحر المحيط ۷/۳۴۸

تفسير:

﴿ وَٱمْتَٰزُواْ ٱلْيَوْمَ أَيُّهَا ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ او(ورته وبه ويل شي) راجداشي نن ورځ اې مجرمانو! كافرانوله مؤمنانوڅخه ، يوطرف ته شي قرطبي وايې دابه هغه وخت ورته وويل شي چي كله دسوال پوښتني په تم ځاى كي ودرېږي اوهلته چي جنتيانوته جنت ته اودوزخيانوته دوزخ ته دتللو امرصادرشي[1] ﴿ أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ ﴾ آياتاسي ته مي حكم نه ووكړى (درسولانو په ژبه سره) اې دآدم زامنو؛ استفهام دتوبيخ اوتكولولپاره دي اوپدي كي دكفارو مجرمينو لپاره توبيخ دى ﴿ أَن لَّا تَعْبُدُواْ ٱلشَّيْطَٰنَ ﴾ پدې سره چي دشيطان عبادت مه كوئ تاسي (چي كله موزما معصيت ته بولي) ﴿ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴾ بېشكه دغه شيطان تاسي ته ښكاره دښمن دى ، دغه دمنعي اونهى لپاره علت دى يعني دذې امله چي هغه ښكاره دښمن دى نوڅرنګه به انسان دخپل دښمن خبره مني؟ ﴿ وَأَنِ ٱعْبُدُونِى ۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴾ او(داسي حكم مي نه ووكړى بلكه كړى مي ووچي) يوازي زماعبادت كوي (اوامر مي مني) دغه (عبادت زما) سمه لاره دصحيح دين دى اودحق سيخه لاره ده) ﴿ وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنكُمْ جِبِلًّا كَثِيرًا ﴾ .اوخامخاپه تحقيق شيطان ګمراه كړي ووله تاسي ډېرخلګ ؛ دغه د تعليل لپاره تأكيددى يعني شيطان ستاسي ډېرخلګ ګمراه كړي اوله سمي لاري يې بې لاري ته اړولي دي. طبري وايې معناداچي دغه شيطان ډېرخلګ زما له عبادت څخه بند كړي ترڅوچي دده شيطان عبادت يې غوره كړى دى[2] ﴿ أَفَلَمْ تَكُونُواْ تَعْقِلُونَ ﴾ آيا پس نه يى تاسي چي عقل چلوى !؟(اودشيطان له طاعته اودالله دامرله مخالفته موراوګرزوي، دغه د مشركانوكفارو فجارو لپاره بل توبيخ دى او ورپسې دهغه څه زېرى وركوي چي هغه سترعذاب او دوى ته سترګي په لاره دي فرمايې: ﴿ هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِى كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴾ دادوزخ دى هغه چي وى تاسي چي (په دنياكي) بې درسره وعده شوي وه (درسولانو په ژبه اوتاسويې تكذيب كاوو. صاوي وايې چي دادهغي ګړى خطاب دى چي دوى ددوزخ په غاړه ولاړوي اومقصدورڅخه زياته ترټنه او خورونه ده[3] ﴿ ٱصْلَوْهَا ٱلْيَوْمَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴾ (ځئ ننوزئ په دې كي نن ورځ په سبب دهغي چي وى تاسي (په دنياكي) چي كافران كېدلاى) يعني ددغه اورتودوخه وڅكئ اودقسماقسم عذابونو اندازه يې ولګوئ په سبب دهغه كفرستاسوچي په دنياكي موكاوو دغه امر داهانت اوتحقيرلپاره دى لكه چي فرمايې: ﴿ ذُقْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْكَرِيمُ ﴾ (الدخان: ٤٩) وروسته له دې الله ﷻ ددوى هغه دګردو خلګوپه وړاندي دقيامت په ورځ كي ددوى رسوايې داسي بيانوي: ﴿ ٱلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰٓ أَفْوَٰهِهِمْ ﴾

[1]) القرطبي ١٥/ ٤٦
[2]) الطبري ٢٣/ ١٢
[3]) حاشية الصاوي ٣/ ٣٢٩

نن ورځ به مهر ووهو په خولو ددوی (کفاروچي خبري به نشي کولای) ﴿ وَتُكَلِّمُنَآ أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴾ او خبري به وکړي له موږ سره لاسونه ددوی اوشاهدي به ورکړي پښې ددوی په هغو کارونو چي وو دوی چي کول به یې (په دنیاکي) ابن جریر طبري له ابي موسی الاشعري څخه روایت کوي چي هغه وویل: چي کافراومنافق به دقیامت په ورځ دحساب لپاره راوبلل شي اوالله ﷻ به ددوی عملونه ورته وړاندي کړي هغه به منکرشي اووبه وایې ای پروردګاره زمادي ستاپه عزت سوګندوي که به مادغه عملونه کړي وي دغه پرښتې ناحقه راپسي لیکلي دي نوملائک به ووایې چي آیاپه فلانی ورځ او فلاني ځای کي دي دغه کارنه وو کړی نوبه هغوی ووایې نه قسم ستاپه عزت دی ای پروردګاره چي نه مي دی کړی نوبه یې په خوله مهر ولګول شي او اندامونه به یې خبري شروع کړي اوبیایې داآیت تلاوت کړچي: ﴿ ٱلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰٓ أَفْوَٰهِهِمْ ﴾ (۱) اوپه حدیث شریف کي راغلي چي: بنده به ووایې ای پروردګاره آیاتاماته له ظلم څخه پناه نه وه راکړي الله ﷻ به ورته وایې هودرکړي مي وه نوبنده به وایې چي زه پخپل ځان پرته له ځانه بل شاهد تېرول نه غواړم الله ﷻ به وفرمایي (کفی بنفسک الیوم علیک شهیدا) نن ستالپاره پرتادخپل ځان ګواهي اودپرښتو شاهدي چي کرام الکاتبین دي کافي ده بیابه یې په خوله مهرووهل شي اواندامونو غړوته به یې وویل شي چي خبري وکړئ نوبه هغوی خبري پیل کړي اوددء عملونه به په ډاګه کړي وروسته به بیادی د خبرو کولوتوان ومومي خپلوغړو اندامونوته به وایې هلاکت دي وي تاسوته مابه (په دنیاکي) ستاسي څومره پاملرنه کوله ستاسي لپاره مي هلي ځلي کولې اوله تاسي څخه مي دفاع کوله !. ﴿ وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰٓ أَعْيُنِهِمْ فَٱسْتَبَقُواْ ٱلصِّرَٰطَ فَأَنَّىٰ يُبْصِرُونَ ﴾ اوکه اراده فرمایلي وای موږ نو خامخا هوار والی به راوستی وو موږ پر سترګو ددوی (ړانده کړي به موږای) پس وړاندي شوي به وو دوی هغي لاري ته (چي پخپل عادت تل پرې تلل)پس څرنګه به دوی لیدله هغه لاره ؟ . ابن عباس وایې معناداچي که موږ اراده وفرمایو دوی به دهدایت څخه ړانده کړو بیابه هیڅکله هم دحق لوري ته لاره نه مومي(۲) دغه دقریشو لپاره تهدیددی ﴿ وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنَٰهُمْ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمْ ﴾اوکه اراده فرمایلي وای موږ خامخامسخ کړي به وموږ دوی په ځایونو خپلوکي ﴿ فَمَا ٱسْتَطَٰعُواْ مُضِيًّا وَلَا يَرْجِعُونَ ﴾ پس طاقت به یې نه وو دوړاندي تللو اونه به بیرته (شاته) ګرځېدلی شوو ، دغه دکفارومجرمانولپاره یوبل تهدیددی وروسته الله دکفارو په مسخ کولو دخپل قدرت دلیل دعمر په اوږدولو فرمایې ﴿ وَمَن نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِى ٱلْخَلْقِ ﴾ (اوهر چاته چي اوږدعمر ورکړو موږ نونسکور به کړو هغه په پیدابښت کي) یعني هرچاته چي اوږدعمر ورکړو نوهغه به په پیدابښت کي اپوته کړو لکه وړوکی ماشوم غوندي به یې وګرزوو په څه به نه پوهېږي قتاده رحمه الله وایې چي هغه به دبوډاتوب هغي مرحلې ته ورسېږي چي (هرم) یې بولي اوله وړکتوب سره مشابه

---

(۱) الطبري ۲۳/ ۱۷
(۲) القرطبي ۱۵/ ۴۹

ده دعمراوږدوالي ځواني په زوړوالي قوت په کمزوري او زيادت په نقصان اړوي ﴿ أَفَلَا يَعْقِلُونَ ﴾ (آیاپس دوی عقل نه چلوي (چې الله ددوی په مسخ کولو او ړندولو قادر دی؟) ابن جزي وايې چې له دې دنياڅخه مقصددالله ﷻ په قدرت استدلال کول دی چې همدغه ذات د کفاروپه مسخ کولوداسې توانادی لکه څرنګه چې په بوډاتوب کې دانسان د حواسوپه نسکورولو قادردی (۱) ﴿ وَمَا عَلَّمْنَـٰهُ ٱلشِّعْرَ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُۥٓ ﴾ اونه دی ښوولی موږ دغه (محمد ﷺ) ته شعراونه ښائېږي ورسره (شعرويل چې شاعروي) قرطبي وايې چې دغه په کفارو باندې ردکول دي چې هغوی به ويل محمد ﷺ شاعردی اوڅه چې يې راوړي هم دشعرله ډوله دي هو ! رسول الله شاعرنه دی اونه هم قرآنکريم شعردی ځکه چې شعريومزخرف موزون کلام دی چې په چتې اوهاماو خوشي خيالونو ولاړ وي آن ترديې چې خلګ وايې هغه شعرچې ترټولوزيات درواغ پکې وي ترټولو زيات خوندوروی يعني (أعذبه أكذبه) نوچېرې قرآن مجيدهغه چې دبشرله کلام سره له مماثلت څخه منزه دی اوچېرې دغه شعر؟ خلګودشعرپه صفت اوبدي کې زښته ډېرڅه ويلي دي خودانصاف خبره هغه ده چې حضرت شافعي رحمه الله کړي اووايې چې شعرکلام دی په کلام کې ښه اوبد دواړه شته ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ وَقُرْءَانٌ مُّبِينٌ ﴾ نه دی دغه (قرآن) مګر خالص ذکرپند دی اوقرآن دی ښکاره کونکی د احکامو چې په هيڅ حال له شعرسره نه ګډېږي ﴿ لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيًّا ﴾ لپاره ددی چې ووېروي (په دې قرآن)هرهغه چې ژوندی وي(زړه دده اوبصيرت يې پرځای وي اودغه واقعي مؤمنان دي چې ورباندې ګټه اخلي) ﴿ وَيَحِقَّ ٱلْقَوْلُ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴾ اوثابته شي(خبره دعذاب) پرکافرانو(۲) ځکه دوی لکه مړي دغسې دي څه چې ورته ويل کېږي په هغونه پوهېږي بيضاوي وايې چې دوی يې دهغه چاپه مقابله کې ودرول چې هغوی ژوندي دي ترڅوداوښيي چې دوی دخپل کفرپه سبب اوداچې دليل نلري اوفکراوسوچ نه کوي په حقيقت کې مړي دي (۳) ورپسې الله خپل نعمتونه وربښيي اودخپل وحدانيت دلائل بيانوي ترڅوله آثاروڅخه يې په وجود دليل ونيسي فرمايي: ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ أَنْعَـٰمًا ﴾ (آیانه ويني دوی (بلکه ويني يې) چې بېشکه موږ پيداکړي دوی ته له هغه چې جوړکړي دي لاسونو (دقدرت) زموږ چارپايان) همزه لپاره د انکاراو تعجب دی يعني آيادوی دعبرت په ليدلونه ويني چې موږپرته له کومي واسطې اوبې شريکه اومرستياله ددوی لپاره چارپايان پيداکړي لکه اوښان ، غوايې اوپسونه ترڅودوی ته دغه زموږ په وحدانيت اوبشپړقدرت استدلال وکړي ﴿ فَهُمْ لَهَا مَـٰلِكُونَ ﴾ پس دوی دهغوی مالکان (واکداران) دي (څرنګه چې يې خوښه شي هغسې تصرف پکې کوي ﴿ وَذَلَّلْنَـٰهَا لَهُمْ ﴾ اوذليل ، عاجزاېل کړي مودي دغه (چارپايان) دوی ته . ابن کثيروايې معناداچې دوی موداسې درته اېل کړي چې تاسويې وهی ترتی خوبياهم هغوی ممانعت

(۱) التسهيل في علوم التنزيل ۳/ ۱۶۲
(۲) تفسيرابو السعود ۴/ ۲۶۱
(۳) البيضاوي ۲/ ۱۳۶

نکوي بلکه که یوماشوم د اوبښ مهار نیسي نوهغه به چوکړي اوکه وغواړي هغه به ولاړکړي اوروان به یې کړي پداسي حال کې چې دغه اوښ به ددغه ماشوم داوامرومتابعت کوي اوهمداسې که دسلواوښانو یو کتار دیوه واړه ماشوم په لاس روان کړي ورسره ځي به، پاکي ده هغه الله لره چې بندګانوته یې دغه ټول اهل او مسخرکړي دي (١) ﴿فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ﴾ پس ځیني له دوی سورلی ددوی دي (لکه اوښان چې درانه بارونه وړي) اوله ځیني ددوی خوري (غوښې لکه غوایان اوپسونه).

﴿وَلَهُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ﴾ اوشته دوی لره په دغو (چارپایانو) کې نفعې ډېري (پرته له خوراک اوسپرلی لکه څرمني، وړۍ وزغني) او دڅښلوښاراب (چې دوی یې شیدې څښي لکه چې الله فرمایي ﴿مِنۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشَّـٰرِبِينَ﴾ (النحل ٦٦) ﴿أَفَلَا يَشْكُرُونَ﴾ آیاپس دوی شکرنه وباسي؟!

﴿وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنصَرُونَ﴾ (او نیولي دي دغو (مشرکانو) بې له الله (نور) معبودان چې ښایې دوی سره به مدد وکړي) یعني دوی مشرکانوهغه ګونګي کنې ډېري په خدایي نیولي هغه چې نه غږ اوري او نه هم چاته ځواب ورکولای شي ﴿لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ﴾ نه لري طاقت دغه (معبودان) دنصرت له دوی سره (په هیڅ حال داحوالوکې اونه مرسته ورسره کوي نه یې سپارښتنه (شفاعت) کوي ﴿وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ﴾ حال داچې دغه (مشرکان) به دوی ته لښکري حاضري کړی شوي وي (چې له دوی څخه به یې دفاع کوله اوپه ځان اومال به ددوی لپاره قرباني ته حاضرووسره له دې چې دغه معبودان دوی ته هیڅ ګټه نه رسوي. قتاده وایې چې مشرکان به په دنیاکې پخپلو خدایانو خفه کېدل چې چابه یې سپکاوی وکړ خو معبودان یې یوازې بتان دي چې نه دوی ته ګټه رسولای شي اونه شر ورځخه دفع کولای شي مشرکان لکه چې ددغوبتانو خدمتګاران (چوپړیان) وي(٢) قرطبي وایې معناداچې دوی خوزموږ دقدرت نښې نښانې ولیدلې خوله هغه سره سره یې بیاهم بتان په خدایې سره ونیول هغوی چې اصلاً دهیڅ شي توان نلري اوکفارو به په دنیاکې له دوی څخه هر راز دفاع کوله اولکه ملاتړلي لښکر غوندې به یې چوپړته ولاړ وو اوس دغه بتان ددغوعابدانو هیڅ ډول مرسته نشي کولای (٣) ﴿فَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ﴾ پس نه دې غمجن کوي تاخبرې ددوی (چې تاته ددروغجن نسبت کوي یادې شاعر بولې اویادرته کوډګروایې دغه درسول الله ﷺ لپاره ډاډینه اوتسلاده اودلته کلام بشپړشو بیاالله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ﴾ بېشکه موږ ته معلوم دی هغه (حسداو بغض چې پټوي یې دوی (په سینوکې) اوهغه (اقوال افعال) چې ښکاره کوي یې دوی نو موږ به دوی ته وربانديې جزاء ورکړو (وکفی بربک شهیدا) وروسته الله تعالی په بعث اونشور باندې کوټلی برهان اوغوڅ دلیل داسې

(١) مختصرابن کثیر
(٢) داهغه وینا ده چې طبري غوره کړې اوښه یې بللې ده الطبري ٢٣ / ٢٠
(٣) القرطبي ١٥ / ٥٠

وړاندي کوي: ﴿ أَوَلَمْ يَرَ ٱلْإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقْنَٰهُ مِن نُّطْفَةٍ ﴾ آيانهويني انسان نه پوهېږي چي ښځکه موږ پيداکړی دی له نطفې (يوه څاڅکي اوبو دغه استفهام انکاري اودتوبيخ اوتقريع لپاره راغلی دی يعني ولې انسان د عبرت په کتلونه ګوري اودالله ﷻ په قدرت کي سوچ نه کوي چي هغه موله يو څاڅکي خوارواوبو چي دنجاست له ځايه راوزي پيدا کړی دی؟ ﴿ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴾ پس ناڅاپه دی سخت ښکاره جګړه کونکی دی ،چي د خپل رب له قدرت څخه منکرېږي اوبعث اونشور دروغ ګڼي آياهغه پيداکونکی ذات چي انسان يې له نطفې څخه پيدا کړی پدې قادر نه دی چي بل ځل يې له مرګه وروسته راپاڅوي ؟ مفسرين کرام وايې چي دغه دأبی بن خلف په باب نازل شوی چي يو وروست هډوکی يې درسول الله ﷺ په مخ کي رېزمرېز توته توته کړاوبيايې درېشخند په توګه وويل ای محمده ته ګمان کوې چي الله به موږ چي داسي ايرې شو راپاڅوي ؟ نورسول الله ﷺ ورته وويل هوالله به دي راپاڅوي اورته به دي واچوي (١) ﴿ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُۥ ﴾ (اوتړي پرموږ پوري مثل (دوراسته هډوکي) اوخپل پيدايښت يې هېرکړی دی) يعني دغه کافردوراسته هډوکي مثال زموږ دپاره وړاندي کړی چي دانسان پيدايښت وروسته له مرګه مستبعدګڼي اودايې هېره کړي چي موږ هغه له مړې نطفې څخه پنځولی اوژوندمو ورکړی دی دغه هغه خپل غريب او عجيب خلقت له ياده ايستلی او داسي وايې چي ﴿ قَالَ مَن يُحْيِ ٱلْعِظَٰمَ وَهِيَ رَمِيمٌ ﴾ وايې چي څوک به ژوندي کړي دغه هډوکي حال داچي دغه وراسته دي صاوي وايې چي داسي يوه عجيبه وينايې وکړه چي په غرابت کي لکه متل داسي دی چي زموږ قدرت يې دمخلوق له قدرت سره پرتله کړ(٢) ﴿ قُلْ يُحْيِيهَا ٱلَّذِىٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٍ ﴾ ووايه (ای محمده ده ته) بيابه ژوندي کړي دغه وراسته هډوکي) هغه (مطلق قادر) چي اول ځلي يې پيداکړي دي (دغه خبره دده د چُپ کولواوتبکيت لپاره ده) ﴿ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴾ حال داچي دغه (الله) په هرقسم پيدايښت ښه عالم دی(چي د اجسادو بيارا ژوندي کول ورته سخت نه دي ﴿ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلشَّجَرِ ٱلْأَخْضَرِ نَارًا ﴾ هغه مطلق قادرچي پيداکړي يې دي تاسي ته له شنې ونې څخه اور (چي هغه ونه سوزوي نوهغه چي څه وغواړي څوک يې مانع نشي کېدای اونه هم وراسته هډوکي بيرته راپاڅول اوژوندي کول ورته مشکل دي(٣) ابوحيان وايې الله ﷻ دلته هغه څه يادکړل چي دانسان ترپيدايښت لاعجيب اونادردي هغه چي يوځېزله ضد دهغه څخه راايستل دي اودغه تر ټولو عجيب اوغريب دي چي له شنې زرغونې ونې څخه اوربل شي آياته نه ګورې چي اورپه اوبومري اوله دې سره سره اورله هغه څه راوزي چي هلته اوبه هم وي کوچيانوبه (هغه وخت) اور دونو له دووخانګو چي (مرح) او(عُفار) نومېدو بلاوو اوپه متلونوکي به راغلي وو (وفي کل شئ نار واستمجد المرح والعُفار) اوشاعر خومره ښه ويلي دي چي:

---

(١) په البحرکي وايې اوچابياويلي دي چي دغه د(عاص بن وائل)په هکله نازل شوی خوصحيح داده چي په شان نزول کي هم ليکلي شوي دي

(٢) حاشية الصاوي على الجلالين ٣/ ٣٣١

(٣) الطبري ٢٣ /٢٦

جمع النقيضين من إسرار قدرته * هذا السحاب به ماء به نار.

دالله دقدرت له رازونوڅخه يودادي چي نقيضين يې سره يوځاى كړي دي دغه وريځ ګورى چي هم پكې اوبه اوهم پكې اور (تندر)شته ﴿ فَإِذَآ أَنتُم مِّنۡهُ تُوقِدُونَ ﴾ پس ناځاپه تاسي له هغي وني څخه اوربلوى ﴿ أَوَلَيۡسَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۚ ﴾ آيانه دى هغه (مطلق قادر) چي آسمانونه اوځمكه يې پيداكړي قادرپه دي چي پيداكړي ددوى په شان ؟ يعني آيا دغه ذات چي لوى لوى آسمانونه اوځمكي يې پيداكړي دي په دې قادرنه دى چي دبنيادمانو اجساد وروسته له فنا را ژوندي كړي ؟ ﴿ بَلَىٰ وَهُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ ﴾ هو !(قادردى په دې باندي هغه په خلق اوتكوين كي مبدع، خالق او پيداكونكى دى په هرڅه عالم دى) ﴿ إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴾ بېشكه هم داخبره ده چي امر حكم دالله هركله چي اراده وفرمايې (دپيداكولو) ديوشي دادى چي هغه ته وفرمايې چي (جوړ)شه نو(جوړ)شي يعني دهغه امر د كاف اونون ترمينځ دى هركله چي يوشى پيدا كول غواړي سمدستي پيداكېږي هيڅ زيار محنت او كړاو نه غواړي ﴿ فَسُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ ﴾ پس پاكي ده هغه الله ته چي په لاس (دقدرت) دده كي پاچهي دهرشېزده) يعني له ګردو نقصونوڅخه پاكي هغه ذات لره ده چي دده په لاس كي پراخه پاچهي اوبشپړقدرت ځواک په ټولو شيانوشته ﴿ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴾ اوخاص هم ده ته بيابېولى كېږي (په آخرت كي دجزاء لپاره ، سورت يې په دغه خوندوره خاتمه چي دالله په بشپړقدرتِ اوسترعظمت اوسلطان دلالت كوي پاى ته ورساوو.

بلاغت:

پدې آيتونوكي چي دبديع اوبيان كومي ښكلاوي شته لنډ يزيې دادى:

۱ – سلبي طباق لكه: ﴿ أَن لَّا تَعۡبُدُواْ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ وَأَنِ ٱعۡبُدُونِيۚ ﴾ لومړى سلب اودوهم ايجاب دى.

۲ – انكاري استفهام چي دتوبيخ اوتقريع لپاره راغلى لكه: ﴿ أَفَلَا يَشۡكُرُونَ أَفَلَمۡ تَكُونُواْ تَعۡقِلُونَ ﴾؟

۳ – طباق چي د ﴿ يُسِرُّونَ ..يُعۡلِنُونَ .. مُضِيّٗا ..يَرۡجِعُونَ ﴾ اودغه له بديعي محسناتوڅخه ګڼل كېږي

۴ – بليغه تشبيه پدې كلام كي چي: ﴿ وَهُمۡ لَهُمۡ جُندٞ مُّحۡضَرُونَ ﴾ يعني لكه لښكرپه خدمت اودفاع كي دتشبيه ادات اوتشبيه وجه يې حذف كړي نوبليغه تشبيه ګرزېدلي ده.

۵-دعام یادونه وروسته له خاص څخه لکه داچي: ﴿ وَلَهُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ وَمَشَارِبُ ﴾ وروسته له دې قوله چي ﴿ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ ﴾ راغلی دی اوفائده یې دنعمت تعظیم اوداحسان تفخیم دی.

۶-دمقابلې صنعت لکه داچي ﴿ لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيًّا ﴾ چي انذاراواعذاریې دمؤمنانواوکفارو لپاره راوړ﴿ وَيَحِقَّ ٱلْقَوْلُ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ یې وفرمایواودغه خورالطیف اونرم تعبیردی.

۷-تمثیلي استعاره چي فرمايي: ﴿ مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ أَنْعَٰمًا ﴾ چارپایان پیداکول کیږي اوجوړیږي نه خوددوی پیدایښت یې دالله په تکوین اوخلقت کي داسي مشابه کړلکه چي یوڅوک په لاس کوم څیزپخپله جوړوي اودپیداکولولپاره یې دجوړولولفظ استعاره راووړچي دغه تمثیلي استعاره ده(۱).

۸-دمبالغې صيغې لکه ﴿ خَصِيمٌ مُّبِينٌ..ٱلْخَلَّٰقُ ٱلْعَلِيمُ ﴾.

۹-بله تمثیلي استعاره لکه داچي ﴿ أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴾ دالله دقدرت چټک اغیزیې له هغه منل شوي امرسره چي هیڅ ډیل پکي نه راځي مشابه کړکله چي څه وغواړي سمدستي هغه موجودیږي هیڅ ځنډاوتاخیر پکي نه راځي (۲) دغه له لطیفه استعاراتوڅخه یوه ده.

فائده:
علامه ابن کثیروايي هغه چي له رسول الله ﷺ څخه ثابت شوي چي دخندق په ورځ یې دعبدالله بن رواحه هغه بیتونه ویل چي: (اللهم لولاانت مااهتدینا) اویاچي دحنین په ورځ کله چي په خپله اوبنه سپور وو داسي یې ویل: (انا النبي لاکذب * انا ابن عبدالمطلب) اوداچي ویلي یې وو: (هل انت الا اصبع دمیت * وفي سبيل الله مالقيت) دغه هرڅه په ناڅاپي توګه اوپه غیرقصدي ډول په شعري بڼه راغلی اودرسول الله صلی الله علیه وسلم په ژبه جاري شوی دی چي داټول دالله ﷻ له دې ويناڅخه معلومیږي چي ﴿ وَمَا عَلَّمْنَٰهُ ٱلشِّعْرَ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُۥٓ ﴾ سوچ پرې وکړه دغه د اهمیت وړده.(۳)

دالله تعالی په مرسته د(یس) سورت تفسیربشپړشو.

***

(۱) حاشیة شیخ زاده علی البیضاوي ۳/ ۱۴۰
(۲) تلخیص البیان في مجازات القرآن للرضي ۱/ ۱۹۲
(۳) مختصرابن کثیر ۳/ ۱۷۲

د (الصافات) سورت مکي اويوسل اودوه اتيا آيتونه لري

د سورت په وړاندي:

دالصافات سورت مکي اوداسلامي عقيدې دبنسټونو په هکله موضوعات راوړي چي هغه توحيد، وحی اوبعث اوجزاء دي داهم دنورومکي سورتونوپه شان دايمان ستني ټينګوي.

سورت په پيل کي دهغوپرښتوخبرراوړي چي په لمانځه کي صف صف ولاړ اوياد الهي اوامرو دتر سره کولو لپاره وزرونه صف صف په انتظاردرېږي هغه چي وريځي کوم لوري ته چي دالله خوښه وی بيايي، بيادپېريانو خبرراخلي هغوی چي په ستورو ويشتل کېږي اودغه دجاهليت دهغوافسانوترديدکوي کوم چي دوی به ويل دالله ﷻ اوپېريانوترمينځ خپلوي شته، ورپسې دبعث اوجزاء په هکله غږېږي اودمشرکانوانکاربيانوي چي دوی بيرته راپاڅېدل کله چي هډوکي وراسته اوايرې شي مستبعد ګڼي.

ددې خبري دتاکيدلپاره چي په بعث باندي دايمان عقيده رښتوني ده دمؤمن اوکافرکيسه اوخبري أتري راوړي هغه چي ددوی ترمينځ په دنياکي کېدلې اوبيادهريوه وروستی برخه ليک چي مؤمن به په جنت کي تل ترتله اوکافربه په دوزخ کي تلپاتي وي ښيي.

په سورت کي دځيني انبياء عليهم السلام کيسې وړاندي کېږي چي دنوح ﷺ له کيسې څخه پيلېږي بياابراهيم بيااسماعيل وروسته موسی اوهارون بياوروسته الياس اولوط عليهم الصلوات والتسليمات بيانوي اوپه تفصيل سره دايمان اوازموينې کيسه دحضرت ذبيح اسماعيل ﷺ په پېښه کي راوړي کوم چي حضرت ابراهيم ﷺ خوب وليدوچي خپل زوی دي حلال اوذبح کړي اوهغه په پوره باور اوبشپړاخلاص دي کارته اقدام وکړ چي وروسته دقرباني پسه الله ﷻ ورته راواستاوو اوپدې کي دمسلمانانولپاره سبق دی چي دأحکم الحاکمين ذات دامر لپاره بايدهمداسې غاړه ايښودونکي اومنقادوي.

په پای کي سورت دې ټکي ته کتنه کوي چي الله تبارک وتعالی خپلوانبياوو اوليااووته په دنيا او آخرت کي مرسته ورکوي او وروستی بری دنېکانودی.

تسميه اونومول يې:

څکه دغه سورت ته (الصافات) وايې چي بندګانوته دهغوپرښتوابرارو اوملائکواطهارو يادونه وکړي کوم چي په ملأ الاعلی کي دالله له عبادته يوه شېبه هم نه وزګارېږي ﴿ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ ﴾ (الانبياء ۲۰) اودوی ددندوچي وربانديې ګمارل شوي ستاينه وشي.

الله تعالى فرمايي:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَالصَّافَّاتِ صَفًّا ﴿١﴾ فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا ﴿٢﴾ فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا ﴿٣﴾ إِنَّ إِلَٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ﴿٤﴾ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا
بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ﴿٥﴾ إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ ﴿٦﴾ وَحِفْظًا مِّن كُلِّ شَيْطَانٍ مَّارِدٍ ﴿٧﴾ لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى
الْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ وَيُقْذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٍ ﴿٨﴾ دُحُورًا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ وَاصِبٌ ﴿٩﴾ إِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ ثَاقِبٌ
﴿١٠﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَم مَّنْ خَلَقْنَا ۚ إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍ ﴿١١﴾ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ ﴿١٢﴾ وَإِذَا
ذُكِّرُوا لَا يَذْكُرُونَ ﴿١٣﴾ وَإِذَا رَأَوْا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ ﴿١٤﴾ وَقَالُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا
لَمَبْعُوثُونَ ﴿١٦﴾ أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿١٧﴾ قُلْ نَعَمْ وَأَنتُمْ دَاخِرُونَ ﴿١٨﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ يَنظُرُونَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوا يَا وَيْلَنَا
هَٰذَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿٢٠﴾ هَٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢١﴾ ۞ احْشُرُوا الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ
﴿٢٢﴾ مِن دُونِ اللَّهِ فَاهْدُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطِ الْجَحِيمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوهُمْ ۖ إِنَّهُم مَّسْئُولُونَ ﴿٢٤﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُونَ ﴿٢٥﴾ بَلْ هُمُ الْيَوْمَ
مُسْتَسْلِمُونَ ﴿٢٦﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٧﴾ قَالُوا إِنَّكُمْ كُنتُمْ تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ ﴿٢٨﴾ قَالُوا بَل لَّمْ تَكُونُوا مُؤْمِنِينَ
﴿٢٩﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ ۖ بَلْ كُنتُمْ قَوْمًا طَاغِينَ ﴿٣٠﴾ فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَا ۖ إِنَّا لَذَائِقُونَ ﴿٣١﴾ فَأَغْوَيْنَاكُمْ إِنَّا كُنَّا
غَاوِينَ ﴿٣٢﴾ فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا
اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُو آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍ ﴿٣٦﴾ بَلْ جَاءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٣٧﴾ إِنَّكُمْ لَذَائِقُو
الْعَذَابِ الْأَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَمَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٩﴾ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾ أُولَٰئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ﴿٤١﴾ فَوَاكِهُ ۖ
وَهُم مُّكْرَمُونَ ﴿٤٢﴾ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٤٣﴾ عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴿٤٤﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿٤٥﴾ بَيْضَاءَ لَذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ
﴿٤٦﴾ لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ ﴿٤٧﴾ وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ عِينٌ ﴿٤٨﴾ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ﴿٤٩﴾ فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ
عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٥٠﴾ قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ ﴿٥١﴾ يَقُولُ أَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِينَ ﴿٥٢﴾ أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا
وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَدِينُونَ ﴿٥٣﴾ قَالَ هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ﴿٥٤﴾ فَاطَّلَعَ فَرَآهُ فِي سَوَاءِ الْجَحِيمِ ﴿٥٥﴾ قَالَ تَاللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرْدِينِ ﴿٥٦﴾
وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ الْمُحْضَرِينَ ﴿٥٧﴾ أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ ﴿٥٨﴾ إِلَّا مَوْتَتَنَا الْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٥٩﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ
الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هَٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ ﴿٦١﴾﴾ الصافات: ١ — ٦١

لغتونه:

(الزاجرات) له زجرڅخه اخیستل شوی اودیوشي شړلوته ویل کېږي هغه که په لاس وي اوکه په ژبه مثلاشپون رمه په غږ شړي اوراګرزوي (مارد) سرغړونکی (ثاقب) سخت سوزونکی(واصب) همېشه تلپاتې (لازب) سریښناکه یوله بله نښتی (معین) بهېدونکي چینې (غول) هغه څه چي عقل له کاره باسي ابوعبیده وویل چي د(غول) معناعقل له مینځه وړونکی دی (کأس) دلغت پوهان هغه جام ته چي پکي شراب ځنبل کېږي (کأس) وایې خوترڅوچي شراب پکي وي اوکله چي له شرابو تش شي بیایې (اناء) لوښی (پیاله) بولي (ینزفون) مسته ول اونشه کولوته وایې کله چي څوک مست شي نو ورته (منزوف) وایې.

تفسیر:

﴿ وَالصَّٰٓفَّٰتِ صَفًّا ﴾ (قسم دی پرهغوپرښتوچي صف تړونکي دي په صف تړلوسره) الله ﷻ دغه سورت پخپلو ځینو مخلوقاتو باندي په سوګند کولوپیل کړترڅودهغوی لوړشان اوستري ګټي وښیي اوبندګان دهغوپه اوچت قدر وپوهوي نوبیې ددغو پرښتوپه ډلوقسم وخوړکوم چي صف تړونکي په لمنځونو او یاوزرونو دالله دامر دځارني لپاره تیارسئ منتظرې دي. ابن مسعود ﷺ وایې چي داهغه پرښتې دي چي په آسمان کي په عبادت اوذکرکولو کي صفونه ولاړدي اوپه حدیث شریف کي راځي: ولي داسي صفونه نه تړی لکه پرښتې چې یې دالله په وړاندي تړي؟ موږ ورته وویل چي ای رسول الله څرنګه؟ پیغمبر ﷺ وفرمایل چي لومړني صفونه بشپړوئ اوسم سیخ دریږئ (۱) الله پاک په پرښتوڅکه سوګند اخلي چي دهغولوړ قدر اوزیات عبادت وښیي دوی سره له دې چي دسترخلقت اولوی شان او شوکت لرونکي دي بیاهم دالله عبادت نه پرېږدي اوداسي صف صف دریږي لکه چي مؤمنان په لمنځونو کي ولاړوي هغوی دعزیزجبارذات په وړاندي په خشوع اوعاجزي دریږي هغه ذات چي دهغه دجلال له هیبته خلګ ورته غاړي ایږدي همداسي حملة العرش اونوري پاکیزه پرښتې دریږي ﴿ فَالزَّٰجِرَٰتِ زَجْرًا ﴾ (بیاپه هغوشړونکوپه شړلوسره) یعني هغه پرښتې چي وریځي هغه لوري ته شړي او بیایې کوم ته چي دالله ﷻ خوښه وي ﴿ فَالتَّٰلِيَٰتِ ذِكْرًا ﴾ (بیاپه هغولوستونکیوپه ذکرکولوسره) دغه دملائکولپاره دریم صفت دی، ترڅوددوی دمناقبواومحاسنوستاینه وشي یعني هغه پرښتې چي دالله په أنبیاوو اولیاوودالله ﷻ آیتونه سره له دې چي تسبیح ، تمجید ، تقدیس اوتحمید کوي لولي ﴿ إِنَّ إِلَٰهَكُمْ لَوَٰحِدٌ ﴾ (چي بېشکه معبودستاسي خامخایودی) دغه مقسم علیه دی. مقاتل وایې چي د مکې کفاروبه ویل:(أجعل الآلهة الهًاواحدا) یعني د ټولو معبودانو یې یو جوړ کړي؟آیادې ګرد مخلوق لپاره یو معبودبس دی ؟نو الله ﷻ په دغو ملائکوسره تشریفاتي قسم وکړ(۲) اوبیایې دالوهیت او وحدانیت معناداسي څرګنده کړه چي:

﴿ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ﴾چي رب دآسمانونواو ځمکي دی او د هغو(شیانو)چي په مینځ ددوی کي دی (له مخلوقاتواو موجوداتو څخه. ځکه وجود د دې دواړو او پدغه ښکلي ډول انتظام یې دالله په

(۱) مختصرابن کثیر ۳ /۱۷۴ -أخرجه مسلم
(۲) القرطبي ۱۵/ ۶۲

وجود باندي له ځرګندو دلائلو څخه يو دليل دی ﴿ وَرَبُّ ٱلْمَشَٰرِقِ ﴾ او رب د مشرقونو (او مغربونو) يعني الله رب د لمر د ختيزونو او لويديزونو دی چي په ځمكي او دوبي كي وي. طبري وايي چي يوازي يې په مشرقونو اكتفاء وكړه ځكه چي په مغربونو باندي كلام دلالت كوي (۱) او بيا وروسته له وحدانيته د الله ﷻ له قدرت څخه د آسمانونو په ستورو د ښايسته كولو اخبار داسي فرمايي: ﴿ إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِزِينَةٍ ٱلْكَوَاكِبِ ﴾ بېشكه موږ ښايسته كړی دی دغه آسمان نژدې په ښايست سره چي ستوري دي (داسي ځلېږي ته به وا ملغلري دي) ﴿ وَحِفْظًا مِّن كُلِّ شَيْطَٰنٍ مَّارِدٍ ﴾ او ساتلی دی موږ دا (آسمان) په ساتني سره له هره شيطانه سركښه (نافرمانه) قتاده وايي چي ستوري د دريو څېزونو لپاره پيداشوي يو دا چي شيطانان ورباندي ويشتلی شي بل دا چي روښانه او لاره ورباندي موندل كېږي او دريم د نژدې آسمان لپاره ښكلا پكې ده (۲) ابوحيان وايي چي نژدې آسمان يې ځكه ځانګړی ونوماوو چي هغه په سترګو ليدل كېږي او هغه يوازي د شيطانانو څخه د ژغورلو ځای دی (۳) ﴿ لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى ٱلْمَلَإِ ٱلْأَعْلَىٰ ﴾ (غوږ نه نيسي دغه (شيطانان) طرف (د خبرو) د هغه ټولي لويي پورته ته) يعني دوی نشي كولای چي د هغو ملكو خبرو ته غوږ ونيسي كومي چي په عالم علوي كي دي ، چا بيا ويلي معنا دا چي د دې لپاره چي غوږ ونه نيسي ﴿ وَيُقْذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٍ دُحُورًا ﴾ او ويشتلی شي له هره لوري (د آسمانه چي دوی يې د ختلو اراده وكړي) لپاره د شړلو له او رېدلو د آسماني خبرونو. طبري وايي چي (دحر) شړلو او ليري كولو ته وايي (۴) ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ وَاصِبٌ ﴾ او شته دوی ته عذاب (په آخرت كي) تل ترتله پر له پسې ﴿ إِلَّا مَنْ خَطِفَ ٱلْخَطْفَةَ ﴾ مګر غوږ نيسي هغه (شيطان) چي غوټه اخلي په يو كرت غوټه اخلو ﴿ فَأَتْبَعَهُۥ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ﴾ پس ژر ورپسې راخطاشي لمبه (رڼا) كونكې سوځونكې. مفسرين كرام وايي چي سر غړونكې شيطان په يو ړپ د سترګو كي هغه حالات چي په ملأ الاعلى كي ورباندي خبري كېږي اختطاف كوي بيا رڼا كونكې لمبه ورپسې راخطاشي او ور باندي ولګېږي نوبې وسوځوي . قرطبي وايي چي شهاب ستوری له ثوابتو ستورو څخه نه دی ځكه هغوی چي كله روان وي حركت يې نه ليدل كېږي او د دغو شهاب ستورو حركت له ورايه ليدل كېږي (۵) ﴿ فَٱسْتَفْتِهِمْ ﴾ پس وپوښته ته دغه مشركان (ای محمده !چي دوی له بعثه منكر دي) ﴿ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَم مَّنْ خَلَقْنَآ ﴾ (چي آيا دوی سخت دي له جهته د پيدا ينښته كه هغه څوک چي موږ پيدا كړي دي) يعني آيا دوی غټ زورور او قوي دی كه دغه آسمانونه ،ځمكي

---

(۱) القرطبي ۱۵/۶۴
(۲) القرطبي ۱۵/۶۴
(۳) البحر المحيط ۷/۳۵۲
(۴) الطبري ۲۳/۲۷
(۵) القرطبي ۱۵/۶۷

او ترمينځ ددوي له پرښتو او عجيبه غريبه مخلوقاتو څخه ﴿ إِنَّا خَلَقْنَٰهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍ ﴾ بېشکه موږ دوی پيداکړي دي له سريښناکي ختې څخه) يعني نرمه سريښناکه چي قوت او ټينګښت پکي نه وي. طبري وايې چي سريښناکه يې ځکه وبلله چي دغه په اوبولړلي خټه ده کوم چي بني آدم له خاورو او له اوبو پيداشوی دوه نور عنصرونه يې اور او هوادي هوکله چي خاوره له اوبو سره ګډه شي سريښناکه وګرزي (۱) مقصد له دې آيت شريف څخه دانسان په اعاده او بعث باندي برهان راوړل دي) هغه ذات چي انسان يې له عدم څخه پيداکړی پدي هم قادر دی چي اجسام وروسته له فنا بيرته راژوندي او وپنځوي

﴿ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ ﴾ بلکه ته تعجب کوي(ددوی په تکذيب او انکار)حال داچي دوی (په تاپوري)مسخرې کوي ابوالسعود وايې معنا داچي ته دالله په قدرت چي داسي سترمخلوقات يې پيداکړي تعجب کوې چي دوی څرنګه له دې سره سره له بعث څخه انکار کوي خودوی بياستاپرتعجب او دبعث په هکله ټينګار باندي مسخرې کوي (۲) ﴿ وَإِذَا ذُكِّرُوا لَا يَذْكُرُونَ ﴾ او هر کله چي وپوهول شي دوی نه پوهېږي (پند نه اخلي سوچ پکي نه وهي) ﴿ وَإِذَا رَأَوْا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ ﴾ او هر کله چي ووينې دوی کومه نښه دليل (د قدرت معجزه) نوپرې مسخرې کوي) يعني کله چي دوی کومه څرګنده معجزه اونښه ووينې چي ستا په رښتنولي دلالت کوي لکه دسپوږمۍ توټه کېدل اويادونو اوډېرو خبري کول نو دوی پرې مسخرې کوي يانور هم داستهزاء اوملنډولپاره رابولي ﴿ وَقَالُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴾ او وايې (منکران) چي نه دي دا(چي موږ وليد) مګرښکاره کوډي دي، په البحرالمحيط کي وايې چي په (هذا) سره اشاره هغو معجزاتو ته ده کوم چي درسول الله ﷺ په لاس ښکاره شوي دي(۳) ﴿ أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴾ او وايې (منکران) آياهرکله چي مړه شو او خاوري (اووراسته) هډوکي آيا موږ به خامخابيا ژوندي راپاڅول کېږو ؟استفهام دانکار او استهزاء لپاره دی ﴿ أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴾ که پلرونه روميني زموږ(هم راژوندي کېږي ؟) زمخشري وايې معنا دا چي زموږ پلرونه به هم راژوندي کېږي؟دغه په استبعادکي نور زياتوالی دی يعني هغوی خوډېر روميني وو دهغوی راپاڅېدل ډېرمستبعد او خوراباطل دی ﴿ قُلْ نَعَمْ وَأَنتُمْ دَاخِرُونَ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته) هو (ټول راژوندي کېږي) حال داچي تاسي به ذليل هم يی ! ﴿ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ ﴾ پس بېشکه همدا خبره ده چي دغه قيامت يوه چيغه ده کله چي اسرافيل ﷺ په شپېلۍ کي پو کړي ترڅو خلګ له قبرونو راپاڅېږي ﴿ فَإِذَا هُمْ يَنظُرُونَ ﴾ پس ناڅاپه دوی به ګوري (يوبل ته) چي څه را کېږي؟) قرطبي وايې چي(زجرة)معنا (صيحة) اوهغه دوهمه شپېلۍ ده ځکه يې (زجرة) بولي چي مقصود پکي زجردی لکه چي داوښانو او

---

(۱) الطبري ۲۳/ ۲۷
(۲) ابوالسعود ۴/ ۳۲۲
(۳) البحرالمحيط ۳۵۵/۷

آسانو دشرلو په وخت کي کومه کلمه (۱) په کاربړي وروسته له دي الله تبارک وتعالی ددوی حسرت او ندامت کله چي د قیامت کړاوونه ويني داسي بيانوي ﴿ وَقَالُوا۟ يَـٰوَيْلَنَا هَـٰذَا يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴾ او وايي به (منکران) ای خرابي ده موږ ته (نو وايي به ملائکي دوی ته) دا خو هغه د جزاء ورځ ده، ملائکي به دغه د دوی د توبيخ او تقريع لپاره وايي ﴿ هَـٰذَا يَوْمُ ٱلْفَصْلِ ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴾ دا همغه ورځ د فيصلې ده هغه ورځ چي وی تاسي چي پدې باندي به مو نسبت د دروغو کاوو ، بيضاوي وايي چي مراد له فصل څخه قضاده اوداچي په دې ورځ کي به نېکان او بدان سره بېلېږي (۲) ﴿ ٱحْشُرُوا۟ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ وَأَزْوَٰجَهُمْ ﴾ (الله به ملائکو ته وفرمايي چي) راټول کړئ تاسي هغه کسان چي ظلم يې کړی وو (په ځانونو او کافران شوي وو) او (کافراني) ښځي ددوی يعني ظالمان او ددوی هم مثله راټول کړئ لکه هرانسان له خپله ساري سره. قرطبي وايي: معنا داچي زاني له زاني سره ،شرابي له شرابي او غل له غله سره (۳) او همداسي په بل روايت کي ابن عباس رضي الله عنهما وايي معنا داچي : ظالمان او دهغوی کافراني ښځي راټولي کړئ او همداسي بيا په بل روايت کي ابن عباس هم له ازواجو څخه امثال او سيالان اخلي (۴) ﴿ وَمَا كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ او هغه چي وو دوی چي عبادت به يې کاوو بې له الله ، لکه بتان او نور معبودان تر څو ددوی حسرت او خجالت يو په دوه شي ﴿ فَٱهْدُوهُمْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْجَحِيمِ ﴾ پس برابر کړي دوی د دوزخ لاري ته او دوزخ ته يې ورسوي ، په دې لفظ کي چي : (أهدوهم) تهکم او ملنډي دي کله چي دوی په دنيا کي سمه لاره ونه موندله نو په آخرت کي دي د دوزخ لاره ومومي ﴿ وَقِفُوهُمْ ۖ إِنَّهُم مَّسْـُٔولُونَ ﴾ او ودروئ دوی (په دغه لاره کي) بېشکه دوی پوښتېدلی شي يعني ترې ددوی د اقوالو او افعالو پوښتنه کېږي او بيا اورته د توبيخ او ټکوني په توګه ويل کېږي ﴿ مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُونَ ﴾ څه مانع دی تاسي ته چي يو له بله سره مرسته نه کوی ؟ چي هريو ستاسي مرستي ته محتاج ياست. مفسرين کرام وايي چي دغه دابوجهل هغي وينا ته اشاره ده چي د بدر په ورځ يې ويل: ﴿ ..... نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴾ (القمر: ۴۴) (۵) او د (تناصرون) اصل تتناصرون وو له دوو تورو څخه يې يو د تخفيف لپاره حذف کړی دی ﴿ بَلْ هُمُ ٱلْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُونَ ﴾ بلکه دوی نن ورځ پخپله خپل ځانونه تسليموي (که عابدان دي که معبودان دي و بل له مرستي رسولو څخه ټول عاجز دي) ﴿ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴾ او مخ به وګرزوي ځيني ددوی پر ځينو نورو (کشرانو او مشرانو) پوښتنه به کوي (په ملامتي او شخړه سره). ابو السعود وايي چي د دوی پوښتنه به د شخړي ، توبيخ او مجادلې

---

(۱) القرطبي ۱۵/ ۷۲
(۲) البيضاوي ۲/ ۱۳۸
(۳) تفسير القرطبي چي له عمر بن الخطاب څخه يې راوړی.
(۴) دا دواړه روايتونه البحر المحيط راوړي ۷/ ۳۵۲
(۵) القرطبي ۱۵/ ۷۴

وي(١) ﴿ قَالُوٓاْ إِنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَأۡتُونَنَا عَنِ ٱلۡيَمِينِ ﴾ وبه وايي (كشران مشرانوته) چي بېشكه تاسي وى تاسي (په دنيا كي) چي راتلى به موږته له جانبه دقسم (يازور او قوت)يعني تابعان به متبوعانوته ووايي چي تاسو وى موږته به موباطل ښايسته كاوواوهدايت دلاري له پلوي كولوبه موراګرزولو(٢). طبري وايي چي معناداتاسي به وى چي ددين اوحق له بابه به راتلى اوموږبه موغولولوتېرايستلوبياوايي چي(يمين)دعربوپه كلام كي څواک اوقوت ته وايې چا بيا ويلي چي ددې معناداچي تاسوبه دوسوسي له لاري موږته راتلى هغه چي غالبًاپه پټه ترسره كېږي(٣) ﴿ قَالُواْ بَل لَّمۡ تَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴾ وبه وايي (تابعان متبوعانوته نه ده داسي) بلكه نه وى تاسي پخپله ايمان راوړونكي. ابن كثير وايي: معنا دا چي داسي نه ده لكه تاسي ګمان كوى بلكه ستاسي زړونوايمان نه مانو او كفر، عصيان يې خوښ وو (٤) ﴿ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنِۭۖ ﴾ اونه وو موږ ته پر تاسي باندي هيڅ زورتسلط چي تاسي دځان پلويان كړو ﴿ بَلۡ كُنتُمۡ قَوۡمًا طَٰغِينَ ﴾ بلكه وى تاسي يوقوم سركښه (له حده وتونكي، په تاسي كي طغيان اوفجور اودعصيان لپاره استعداد وو څكه تاسي زموږ پلوي وكړه ﴿ فَحَقَّ عَلَيۡنَا قَوۡلُ رَبِّنَآۖ ﴾ پس ثابته شوه پرموږ(ټولو) خبره درب زموږ (چي دعذاب وعيدوو) ﴿ إِنَّا لَذَآئِقُونَ ﴾ بېشكه موږ خامخا څكونكي يو(دعذاب) ﴿ فَأَغۡوَيۡنَٰكُمۡ إِنَّا كُنَّا غَٰوِينَ ﴾ (پس موږ ګمراه كړى تاسي بېشكه (لكه) چي موږ ګمراهان وو) يعني موږ تاسوته باطل ښايسته كړاوسرغړوني ته موراوبللى څكه موږ په ګمراهي او سرغړونه كي ووبيا الله ددوى دحال اخبارداسي فرمايي: ﴿ فَإِنَّهُمۡ يَوۡمَئِذٖ فِي ٱلۡعَذَابِ مُشۡتَرِكُونَ ﴾ پس بېشكه چي دوى نن ورځ په عذاب كي سره شريكان دي (لكه چي په سركښي اوطغيان كي هم په دنيا كي سره شريكان وولكه چي الله فرمايي: ﴿ وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ إِذ ظَّلَمۡتُمۡ أَنَّكُمۡ فِي ٱلۡعَذَابِ مُشۡتَرِكُونَ ﴾ (الزخرف ٣٩) ﴿ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفۡعَلُ بِٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴾ بېشكه موږ هم داسي (لكه چي له دوى سره موو كړل) كوو له ټولو مجرمانوسره اوالله يې سبب داسي څرګندوي چي: ﴿ إِنَّهُمۡ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسۡتَكۡبِرُونَ ﴾ بېشكه دوى ووكله چي وبه ويل شو دوى ته چي نشته بل برحق معبود هيڅوک مګر يوازي الله دى نوتكبربه يې كاوو ﴿ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٖ مَّجۡنُونِۭ ﴾ اووايي (دغه منكران) چي آيا بېشكه موږ خامخا پرېښودونكي يو دخپلو خدايانولپاره ديولېوني شاعر(چي پردې كلمه باندي به يې رسول الله ﷺ قصدكاوو ، الله ددوى په ترديد كي فرمايي ﴿ بَلۡ جَآءَ بِٱلۡحَقِّ وَصَدَّقَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴾ (نه ده داسي) بلكه راغلى دى (محمد) په حق (دين)

---

(١) ابو السعود ٤ /٢٢٨
(٢) داويناابن كثيرله سدي څخه رانقل كړي او څرګنده ده.
(٣) دغه معنافي الظلال راوړي ښه باريكه معناده خودلغت له پلوه مرستندوى نلري.
(٤) مختصرابن كثير ٣ /١٧٧

سره اوربنتونی بولی (محمد) ټول پخواني رسولان) یعني محمد ﷺ خو توحید او اسلام راوړی چي هغه بېخي ښکاره برحق دی اولکه چي نورو پیغمبرانو څه راوړي وو داهم دغسي دی. ابوحیان وایې چي مشرکانو دوحدانیت اورسالت انکار یوځای وکړ او بیایې دغه وینا هم پخپل کلام کي ګډه کړه چي لېونی شاعر دی ځکه شاعرخودومره فهم اوخبراکت لري چي ښایسته معناګاني وپېیي اودغوره کلماتو او جملو په قالب کي یې توی کړي اوکوم چي لېونی وي هغه بیا پخپل کلام کی ګډي وډي اوچټیات وایې (۱) ﴿ إِنَّكُمْ لَذَآئِقُواْ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَلِيمِ ﴾ بېشکه چي تاسي خامخاڅکونکي یاست دعذاب دردناک ﴿ وَمَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ اوجزا به نه درکوله کېږي مګر په قدرد (هغه) عمل چي تاسي به کاوو (په دنیاکي صاوي وایې داله دې امله چي د شرجزاء فقط دهغه په اندازه وي او دخیرجزا څوچنده ورکول کېږي (۲) کله چي یې دکفارو یوڅه حال او عذاب یاد کړ ورپسې دمؤمنانو څه احوال او نعمتونه رااخلي او همدغه دقرآنکریم تګلاره ده چي ددواړو ډلو ترمینځ موازنه وساتي او ترغیب له ترهیب سره یوځای راوړي فرمایې: ﴿ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴾ مګرهغه بندګان دالله چي مخلصین (موحدین) دي دغه استثناء منقطع ده دغه کسان به عذاب ونه ویني اونه به په حساب کي ورسره مناقشه وکړی شي بلکه الله به یې له ګناهونو څخه ورتېرشي او نېکي به یو په لسه آن تر اووو سوو پوري جزا ورکړي او بیایې جزا داسي بیانوي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ﴾ دغه (مخلصین چي دي) شته دوی ته روزي معلومه، په جنت کي سبا بېګاه لکه چي الله فرمایې: ﴿ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴾ (مریم ۲۲) ابوالسعود وایې چي دمعلوم معناداچي خصائص او ځانګړتیاوي به یې معلوم وي منظربه یې حسین خوند به یې لذیذ، بوی به یې ښکلی وي (۳) او بیاد روزي تفسیر هسي فرمایې ﴿ فَوَٰكِهُ وَهُم مُّكْرَمُونَ ﴾ رنګارنګ مېوې او دوی ته به عزت ورکړی شوی وی؛ فواکه یې ځکه ځانګړي یادکړل چي په جنت کي چي هرڅه خوړل کېږي هغوی به دفاکهې او تلذذ لپاره وي ﴿ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴾ په جنتونو ودانوله نعمتونو کي ﴿ عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴾ (ناست به وي) په تختونوسره مخامخ) یعني دوی به په ښایسته تختونو ناست وي چي له ملغلرو، یاقوتو څخه به جوړوي بل مزیت یې دادی چي دغه تختونه به هرڅنګه چي دوی غواړي هغسي څرخي اوراګرزي. مجاهدوایې د (متقابلین) معنا داچي یو به دبل شاته نه ګوري اوله محبت څخه به ټول سره مخامخ یو دبل له لیدلو خوشحالېږي (۴) ﴿ يُطَافُ عَلَيْهِم بِكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴾ ګرزولی به شي پردوی (له طرفه دجنتي ساقیانو) له جامونو دصافو شرابو دچینو (بهېدونکي) دجنت، کله چي یې دخوراک ذکروفرمایو ور پسې یې دشرابو یادونه وکړه چي دجنت خدمتګاران به دجنتي شرابوله ویالو څخه ډک جامونه جنتیانو ته وړاندي کوي. صاوي وایې چي دجنت شراب یې په (معین) ځکه وستایل چي هغه لکه او به

(۱) البحرالمحیط ۳۵۷/۷
(۲) حاشیة الصاوي علی الجلالین ۳۳۷/۳
(۳) تفسیرأبی السعود ۳۲۸/۴
(۴) القرطبي ۷۷/۱۵

بهېدونکي دي(١) اوابن عباس رضي الله عنهما وايي هرځای چي په قرآنکريم کي د(کأس) يادونه راغلي معنا يې
شراب اومعين بهېدونکي (٢)﴿ بَيۡضَآءَ لَذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ ﴾ تک سپين خوند ورکونکي لپاره دڅښونکو
حسن رحمه الله وايي چي دجنت شراب ترشيدولازيات سپين دي ﴿ لَا فِيهَا غَوۡلٞ وَلَا هُمۡ عَنۡهَا يُنزَفُونَ ﴾ نه به
وي په دغو (شرابو) کي څه علت آفت اونه به وي دوی له هغو(شرابو) څخه مست بېخوده (لکه چي
ددنياشراب په دې مفاسدوډک دي. ابن کثيروايي: الله تعالی دجنت شراب له هغو څېزونوڅخه پاکيزه
کړي دي کوم آفتونه چي ددنياپه شرابوکي وي لکه (دسردروندوالی، دګېډي درد اودعقل بېول دجنت
شراب خونديې لکه رنګ ښکلی اوپاکيزه دی له (غَول) څخه مراد ابن عباس دسردرد اخيستی دی
اوقتاده وايي چي دسراوګېډي درد ته (غَول) وايي دغه دجنت دشرابو خوراښايسته ښکلي اوصاف دي
چي خونديې دشرابواوآفتونو فسادونه پکي نه وي نه مستي پکي شته چي دسردروندوالی پېښوي، نه
بېخودي اوبېهوښي لري چي سړی له خوندونوڅخه محرومو ي لکه چي په دنيوي شرابو کي موندل کېږي

﴿ وَعِندَهُمۡ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ ﴾ (اووي به په نزدددوی کي حوري ټيټي لرونکي دسترګو) يعني دوی ته به
هغه عفيفي حياناکي حوري وي چي يوازي خپلو مېړونوته به ګوري بل چاته به له حياوعفته نه ګوري
ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي ﴿ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ ﴾معناداچي داسي عفيفي چي له خپلو مېړونو بغيربل چاته نه
ګوري(٣)﴿ عِينٞ ﴾ (غټي سترګي) يعني دوی له عفت سره سره دښکلوسترګو خاونداني هم وي. طبري
وايي: معناداچي دغټو سترګوخاونداني به وي چي حسن اوجمال به هم لري اوداهغوته وايي چي
خوراښايسته غټي سترګي لري (٤) ﴿ كَأَنَّهُنَّ بَيۡضٞ مَّكۡنُونٞ ﴾ (ګواکي دوی هګۍ دي پټي ساتلي شوي)
يعني لکه چي دوی په صدف کي پټي ملغلري دي دغه ويناابن عباس کړي اوداالله جل جلاله په دې قول يې
استشهادکړی دی چي: ﴿ وَحُورٌ عِينٞ كَأَمۡثَٰلِ ٱللُّؤۡلُوِٕ ٱلۡمَكۡنُونِ ﴾ (الواقعة ٢٢ - ٢٣) (٥) اوحسن رحمه الله وايي چي
د(مکنون) معناداچي لاس به نه وي وروړل شوی اوغرض داچي دی به له دغه وتلي جمال سره سره داسي
خوندي ساتلي شوي وي لکه چي ملغلري په صدف کي سره له نرموالي، لطف اوښکلا ﴿ كَأَنَّهُنَّ بَيۡضٞ
مَّكۡنُونٞ ﴾ يعني چي نه لاس ورغځېدلی اونه هم سترګو ليدلي دي اوعرب ښځه له هګۍ سره تشبيه کوي
اوشبه وجه يې صفايي اوسپين والی بولي. ابوحيان وايي الله تعالی پدغه آيتونوکي لومړی دروزي
يادونه وکړه او دا هغه څه دي چي انسان ورباندي تلذذ اخلي دوهم يې اکرام وفرمايل هغه چي نفوس
ورباندي خونداخلي بيايې دمحل يادونه وکړه چي جنات النعيم دي بيايې داجتماع اوميني دلذت

(١) حاشية الصاوي ٣ /٣٣٧
(٢) تفسيرالطبرى ٢٣ /٣٤
(٣) مختصرابن کثير ٣ /١٧٩
(٤) تفسيرالطبري ٢٣ /٣٦
(٥) القرطبي ١٥ /٨١

ذکروکړ چي ﴿ عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴾ يې يادکړچي د خوښي اوالفت د بشپړاوي لپاره وي ورپسې يې
دمشروب چي ښايسته سپين خوندور شراب پداسي حال کي چي د جنت ساقيان به يې ورته وړاندي
کوي پخپله به يې نه رااخلي اوله دې نه وروسته يې په جسدي لذت ختم کړهغه چي ترګردولذتونو اوچت
اوهغه په مېرمنوباندي خوند اخيستل دی (۱) ور پسې الله ﷻ د هغه څه اخبارفرمايې کوم چي جنتيان
د خوښي مجالس په شرابي دسترخوانونو جوړوي اويوله بله سره به خبري اتري کوي الله وايي: ﴿ فَأَقْبَلَ
بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴾ پس مخ به وګرزوي ځيني ددې جنتيانوپرځينونورو جنتيانوچي پوښتنه به
سره کوي يوله بله (له احوالوددنياچي دغه نعمتونه ګوره دغه دايمان ثمره ده) ﴿ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ إِنِّى كَانَ لِى
قَرِينٌ ﴾ نوويه وايې يوويونکی له دوی نه چي ببشکه زه چي وم وو ماله يو انډيوال (منکرله بعثه)
﴿ يَقُولُ أَءِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُصَدِّقِينَ ﴾ چي ويل يې (ماته) آيابېشکه ته چي يې له باورکونکويې (په بعث بعد الموت)
﴿ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَدِينُونَ ﴾ آياهرکله چي موږ مړه شو اوموږ خاوري شو اوهډوکي آيابېشکه
موږ ته به خامخا جزا راکړی شي؟ (دغه به يې دتعجب، تکذيب اواستبعادپه توګه ويل) ﴿ قَالَ هَلْ أَنتُم
مُّطَّلِعُونَ ﴾ (بياوايې آيا تاسي کتونکي يی؟) يعني دغه مؤمن نوروجنتي ورونوته وايې آيا تاسي په
دوزخ کي ددغه ملګري حال ګوری؟ الله تعالی فرمايې: ﴿ فَٱطَّلَعَ فَرَءَاهُ فِى سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴾ پس وبه ګوري
دغه (قائل) پس وبه ويني هغه (منکرملګری) په مينځ ددوزخ کي) هلته چي داورلمبې به پورته کېږي)
﴿ قَالَ تَٱللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرْدِينِ ﴾ وبه وايې (قائل منکرته دملامتياپاره) په الله قسم دی چي نژدې وې ته چي
ددوزخ په کنده کي مي وغورځوې ﴿ وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّى لَكُنتُ مِنَ ٱلْمُحْضَرِينَ ﴾ که داالله انعام (فضل) درب
زمانه وای خامخاوم به زه له حاضرکړی شويو (دوزخ ته سره له تا) يعني که الله ﷻ ماته په ايمان ثبات نه
وای رابښلی نوله تاسره به په دي دوزخ کي حاضرکړی شوی وم ورپسې به دغسي استهزآء ورباندي کوي
لکه چي هغه پرده باندي په دنياکي کوله ﴿ أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ إِلَّا مَوْتَتَنَا ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴾ آياپس نه
يوموږ مړه کېدونکي؟ (ته اوس هم په هغه عقيدې يی چي نه به مرو) مګرهغه مرګ زموږ رومبنی (په
دنياکي) اونه يوموږ په عذاب کړی شوی؟) دغه ته اسلوب ساخروايې چي له ده کافرملګري څخه به
دتشفي په ډول پوښتئ اوبياتحديث په نعمت داسي څرګندوي چي ﴿ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴾ ببشکه
چي دغه (ابدي خوندورحيات) خامخاپه مرادرسېدل بری دېرلوی دی ﴿ لِمِثْلِ هَٰذَا فَلْيَعْمَلِ ٱلْعَٰمِلُونَ ﴾
خاص لپاره ددې (نعمتونو) پس ښايې چي عمل وکړي عمل کونکي. مفسرين کرام وايې چي په دغو
آيتونوکي دهغو دوو شريکانوکيسې ته اشاره شوي کوم چي اته زره درهمه يې درلودل يوه ددنياپه کار
وباراوتجارت کي چندان چورت نه واهواودنيوي چاروته يې زياته پاملرنه نه کوله اوهغه بل دمال په

(۱) البحر المحيط ۷/۳۵۹

ډېرولوکي يومخ ډوب وو نوله خپله شريکه څخه بېل شو ځکه هغه دنيايي کاروبار ته ډېره ملانه تړلې وه کله چي به دغه ګټندوی شريک يوڅېز رانيول لکه سرای، مينځه او باغ نوبه يې دوهم ملګري ته وړاندي وړاندي کاوواوفخربه يې کاووچي زما خومره مال زيات دی اوچي مؤمن به دغه واوريدل هغومره به يې دالله ﷻ په لاره کي صدقه اوخيرات ورکاوو ترڅو په جنت کي ماڼۍ رانيسي اوچي ملګري به يې ورسره وليدل ورته ويل به يې په مال دولت دي څه وکړل ؟ هغه به ورته ويل: هغه مي دالله په لارکي خيرات کړنو هغه به په پسي خندل او ملنډي به يې ورباندي وهلې چي آيا ته له صدقه ورکونکي څخه يې؟ انو ددوی دغه حال الله په خپل سپېڅلي کتاب کي بيان کړ (١)

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١ – دطباق صنعت چي ﴿ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ ﴾ ځکه سخريه دتعجب په مقابل کي راغلي ده.

٢ تاکيد په (ان) او (لام) سره چي پدې کلام کي دی ﴿ إِنَّ إِلَٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ﴾ دغه دکلام هلته تقاضا او غوښتنه ده چي مخاطب منکروي.

٣ – تهکمي اسلوب چي فرمايې: ﴿ فَاهْدُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطِ الْجَحِيمِ ﴾ دلته هدايت دتهکم او استهزآء لپاره راوړل شوی ځکه هدايت خوجنت ته وي دوزخ ته نه وي

٤ – ايجاز بالحذف چي پدې کلام کي دی ﴿ إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ ﴾ يعني تاسوووايا ست (لااله الا الله) خودغه حذف شوی دی ځکه چي دکلام سياق ورباندي دلالت کوي

٥ – دالتفات صنعت چي له غيبت څخه خطاب ته راغلی لکه: ﴿ إِنَّكُمْ لَذَائِقُو الْعَذَابِ الْأَلِيمِ ﴾ اصل خوداسي ووچي (انهم) خودغه التفات يې دزياتي تقبيح او شناعت لپاره راووړ.

٦ – کنايه چي پدې کلام کي شته ﴿ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ عِينٌ ﴾ پدې باندي يې له حورالعين څخه کنايه راوړه ځکه هغوی عفيفي دي له خپلو مېړونو پرته بل هيچاته نه ګوري

٧ – مرسله تشبيه او مجمله لکه ﴿ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَكْنُونٌ ﴾ چي راغلي دي دلته يې دشبه وجه حذف کړې نومجمله ګرزېدلي ده.

٨ – دفواصلو مراعات کول چي له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي لکه ﴿ طِينٍ لَازِبٍ ، شِهَابٌ ثَاقِبٌ ، عَذَابٌ وَاصِبٌ ﴾ ترآخره پوري چي ټول يوډول راغلی دی

---

(١) الطبري ٢٣ /٣٨ مختصر ابن کثير ٣ /١٨١ هلته دکيسي تفصيل شته.

الله تعالى فرمايي:

﴿ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلْنَاهَا فِتْنَةً لِّلظَّالِمِينَ ﴿٦٣﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾
طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ ﴿٦٥﴾ فَإِنَّهُمْ لَآكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِئُونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٦٧﴾
ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ ﴿٦٨﴾ إِنَّهُمْ أَلْفَوْا آبَاءَهُمْ ضَالِّينَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلَىٰ آثَارِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴿٧٠﴾ وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ
أَكْثَرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ﴿٧٢﴾ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ
الْمُخْلَصِينَ ﴿٧٤﴾ وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ
هُمُ الْبَاقِينَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿٧٨﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ ﴿٧٩﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا
الْمُؤْمِنِينَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ ﴿٨٢﴾ ۞ وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِ لَإِبْرَاهِيمَ ﴿٨٣﴾ إِذْ جَاءَ رَبَّهُ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾ إِذْ قَالَ
لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَاذَا تَعْبُدُونَ ﴿٨٥﴾ أَئِفْكًا آلِهَةً دُونَ اللَّهِ تُرِيدُونَ ﴿٨٦﴾ فَمَا ظَنُّكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٨٧﴾ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ
﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴿٩٠﴾ فَرَاغَ إِلَىٰ آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٩١﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنطِقُونَ ﴿٩٢﴾ فَرَاغَ
عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ ﴿٩٣﴾ فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾ قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾ قَالُوا ابْنُوا
لَهُ بُنْيَانًا فَأَلْقُوهُ فِي الْجَحِيمِ ﴿٩٧﴾ فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ ﴿٩٨﴾ وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾
رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿١٠٠﴾ فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَىٰ فِي الْمَنَامِ أَنِّي
أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ ﴿١٠٢﴾ فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ
﴿١٠٣﴾ وَنَادَيْنَاهُ أَن يَا إِبْرَاهِيمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا ۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ ﴿١٠٦﴾
وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴿١٠٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿١٠٨﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ﴿١٠٩﴾ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١١٠﴾ إِنَّهُ مِنْ
عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١١﴾ وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ ﴿١١٢﴾ وَبَارَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَىٰ إِسْحَاقَ ۚ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ
وَظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ مُبِينٌ ﴿١١٣﴾ ﴾ الصافات: ٦٢ - ١١٣

مناسبت:

كله چې الله تعالى هغه څه چې دابرارولپاره يې په دارالنعيم كي تياركړي ووبيان كړل ورپسې دهغه څه يادونه كوي كوم چې داشرارولپاره يې په جحيم كي چمتوكړي دي ترڅوددواړو ډلو ترمينځ فرق اوبېلتون وشي ورپسې دنوح عليه السلام كيسه اوبيادابراهيم عليه السلام كيسه راوړي اوهغه څه چې پدې كيسوكي پندونه اوعبرتونه دي لپاره دهغه چاچې ورباندي پند اخلي بيانوي

لغتونه:

(نزلا)مېلمستياهغه چې دمېلمنوپه وياړله خوراک څښاک اونوراكرام څخه تيارېږي (طلعها) مېوه دهغوځكه يې طلع بولي چې رادبره كېږي (لشوبا) له شاب څخه اخيستل شوى اوګډمخلوط ته وايي

(يهرعون) منډي وهي فرآء وايې چي (اهراع) هغه منډي ته وايې چي لړزېدل ورسره وي اومبردوايې چي (مهرع) هغه څوک دی چي چاپسي رااخيستی اومنډي وهي لکه چي وايې: (فلان يهرع الى النار) معناداچي فلانی ديخني له لاسه اورته منډي وروهي (١) (شيعة) ملګري اومرستندويان دهغه اوهغه کسان چي دده په پله روان وي (افكا) دروغ اوباطل (سقيم) ناروغ اورنځور (راغ) په يوڅېزياندي ميلان کول دي.

تفسير:

﴿ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ ﴾ آيادغه (جنتي نعمتونه) غوره دي له جهته دمېلمستيا (جنتيانوته) که ونه دزقوم (غوره ده دوزخيانوته؟ کوم يوبهتردی؟مېوې، خوراکونه اوفواکه د جنتيانو لپاره دي زقوم ددوزخيانو خواړه دي مقصدله دې څخه دکفاروتوبيخ دی ﴿ إِنَّا جَعَلْنَاهَا فِتْنَةً لِّلظَّالِمِينَ ﴾ بېشکه موږ ګرزولي ده دغه ونه فتنه (عذاب) لپاره د ظالمانو(ګمراهانو مفسرين کرام وايې کله چي کفارو دزقوم دوني واورېدل نويې وويل چي څرنګه ونه په اورکي کېدای شي ؟ اورخو ونه سوځوي او ابوجهل به خپلوملګروته ويل چي آياتاسوپوهېږئ چي زقوم څه شی دی ؟ هغه کوچ (مسکه) او خرما دي اوبيابه يې هغه راوغوښتل اوملګروته به يې ويل: (راځئ چي زقوم سره وخوړو !) داهغه څه دي چي محمد ﷺ موږ ورباندي وېروي (٢) ﴿ إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ ﴾ بېشکه چي داونه ده چي راووزي په بېخ ددوزخ کي (اوبياښاخونه کوي) ﴿ طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ ﴾ وږي دهغې ګواکي دشيطانانو سرونه دي (په زيات قباحت اوکراهيت کي. ابن کثيروايې چي دشيطانانوله سرونوسره يې مشابه کړل که څه هم مخاطبينوته هغه معلوم نه دی څکه چي په زړونوکي دې باوراستقرارموندلی چي شيطانان خوراقبيح منظردرلودونکي دی (٣) ﴿ فَإِنَّهُمْ لَآكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِئُونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ﴾ پس بېشکه دوی خامخاخوړونکي دي له هغه (زقوم) څخه پس ډک کونکي به وي له هغه (زقوم) څخه دنسونو خپلو(له جهته دډېري لوږې) دغه ددوی پرځای دجنتيانو دخوړوفاکهو خواړه اوفاکهه ده په حديث شريف کي راځي که چېري يوڅاڅکی دزقوم ددنيا په سيندونوکي ولوېږي دځمکني اوسېدونکو ژوند به تريخ کړي نودهغه به څه حال وي چي همدايې خواړه وي ؟(٤) ﴿ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ ﴾ (بيا بېشکه دوی ته پرهغه (ونه دزقوم) خامخاګډول به وي له اوبو ايشول شوي څخه) يعني کله چي دوی ماړه شي اوتنده ورباندي غلبه وکړي نوبه يې خواړه په ايشېدلواوبو ورولړل شي ترڅوچي دزقوم تريخوالی اوايشېدلی اوبه سره يوځای وروښنبول شي اودغه ددوی دعذاب سخت والی دی ﴿ ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ ﴾ بيابېشکه ورتله ددوی به خامخاډېری داورته وي. مقاتل وايې چي حميم له جحيم څخه وتلی دی دوی به حميم ته بېول

(١) القرطبي ١٥/٨٨
(٢) تفسير الطبري ٢٣/٤٧
(٣) مختصر ابن کثير ٣/١٨٢.
(٤) أخرجه الترمذي وقال حديث حسن صحيح.

کېږي چي هلته ځناك وکړي بیا به بیرته جحیم ته راوستل کېږي او ابوالسعودوایي زقوم اوحمیم دوزخیانو ملمستیاده چي تر ورننوتلوله مخه به ورته وړاندي کېږي (۱) ﴿ إِنَّهُمْ أَلْفَوْا۟ ءَابَآءَهُمْ ضَآلِّينَ ﴾ بېشکه چي دوی موندلي دي پلرونه خپل ګمراهان ﴿ فَهُمْ عَلَىٰٓ ءَاثَـٰرِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴾ نودوی په قدمونو (پلو) دهغوی پسي منډي وهي ځغلي (دهغوی تقلیدکوي دلیل اوبرهان ته نه ګوري). مجاهدوایې چي دغه نګ یې له منډوسره تشبیه کړلکه چي یو څوک یوځېزته په ځغاسته ورځي ﴿ وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ اوخامخاپه تحقیق ګمراه شوي وو پخواله دوی نه اکثره دړومبنیو (امتونوڅخه په تقلیداوترک ددلیل سره) ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ﴾ اوخامخاپه تحقیق لېږلي موږ وو په دوی کي وېرونکي (انبیاء) چي دوی یې دالله له عذابه وېرول خودوی بیاهم په کفراوګمراهي کي غوپه وو ﴿ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴾ وګوره چي څرنګه ووعاقبت آخره خاتمه دوېرول شویو؟(آیاموږهلاك نکړل اودنورو لپاره موعبرت ونه ګرزول ؟) ﴿ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴾ مګرهغه بندګان دالله چي پاك کړی شوي دي (په طاعت سره نودوی له عذابه ژغورل شوي دي اوله دې په هیسته دنوح ﷺ کیسه بیلوي فرمایي چي: ﴿ وَلَقَدْ نَادَىٰنَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ ٱلْمُجِيبُونَ ﴾ (اوقسم دی) په تحقیق موږ ته غږکړی وونوح پس خامخانبه ځواب ورکونکي یو موږ) لام دقسم لپاره توطئه کېدونکی اودجمع په صیغه سره ﴿ٱلْمُجِيبُونَ﴾ دتعظیم او کبریاء لپاره راوړل شوی دی. صاوي وایي چي الله تعالی په دې سورت کي اوه کیسي یادي کړي دي: دحضرت نوح، ابراهیم ، ذبیح اسماعیل ،موسی او هارون، الیاس ، لوط اویونس علیهم السلام کیسې چي په دې ګردوکي درسول الله ﷺ لپاره تسلیت اوډاډینه ده اودهغه چالپاره چي دده له امت څخه کافرشوی تحذیر دی(۲) ﴿ وَنَجَّيْنَـٰهُ وَأَهْلَهُۥ مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ اونجات ورکړموږدغه (نوح) ته اواهل ددغه (نوح) ته له غمه دېرلوی (چي غرقېدل وو) مفسرین کرام وایي چي دوی (نجات موندلی) اتیاتنه نارینه اوښځینه وو ﴿ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلْبَاقِينَ ﴾ اووګرزوله موږ اولاده ددغه (نوح) هم دوی باقي پاتي کېدونکي (په ځمکه کي وروسته له هلاکته دقوم څخه یې ابن عباس ﷺ وایي چي دځمکي دسرخلک ګرددحضرت نوح ﷺ له اولادې څخه دي(۳) په التسهیل کي وایي چي داله دې سببه چي کله الله تعالی په طوفان کي ټول خلک غرق کړل اونوح ﷺ یې له خپلوملګروسره په بېړۍ کي وژغورل نودده له دریو زامنوهریوه سام، حام، اویافث څخه اولاده وزېږېدله چي اوسني خلک دهغوی له

(۱) تفسیرأبي السعود۴ /۲۷۱
(۲) الصاوي علی الجلالین ۳ /۳۴۰
(۳) البحرالمحیط ۷ /۳۲۴

ذوذاته دي(۱) ﴿ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴾ او پرې موښودل پر دغه (نوح مدح اوثنا) په وروستيوخلكوكي (ترقيامته پوري ﴿ سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٖ فِي ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ (پاكيزه) سلام دى (له الله) پرنوح په عالميانوكي (تل ترتله) ﴿ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴾ موږ همداسي (لكه نېكه جزادنوح نيكه) جزا وركوو محسنانونيكوكارانوته (چي تر قيامت يې ذكر جميل ژوندى ساتو) ﴿ إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ بېشكه چي دغه (نوح) زموږ له (خاصو) مؤمنانو بندګانوڅخه دى يعني هغه په عبادت كي مخلص اوپه ايمان اويقين كي كامل دى دبيضاوي په حاشيه كي وايې چي دغه عزت يې دهغه په هكله ددې لپاره ولورول چي هغه داحسان وړ كسانو څخه وو اوبيايې دهغه نيكوكاري پدې وستايله چي دى مؤمن ووترڅودايمان سترقدر په ډاګه كړي او داچي دنيايې دده په اولاده ډكه كړه ترڅوچي دده نېكه ستاينه اوثنادټول عالم په ژبه جاري وي (۲) ﴿ ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ﴾ بياغرق كړل موږ(قوم دده) هغه نور(كفار دنوح په غوښتنه كوم چي په نوح عليه السلام يې ايمان نه راووړ، نوهيڅ يوژوندى سارى موترې پرې نه ښودل اونوم اونښان يې ولاړ ورك شوپسې د ابراهيم عليه السلام كيسه داسي بيانوي ﴿ وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِۦ لَإِبۡرَٰهِيمَ ﴾ بېشكه يوله تابعانو ددغه (نوح) خامخاابراهيم دى (چي دده مرستندوى اودده په لاره لاروى دى. بيضاوي وايې چي دنوح عليه السلام او ابراهيم عليه السلام ترمينځ دوه زره شپږسوه څلوېښت كاله موده وه ددوى ترمينځ دوه انبياء هود او صالح عليهما السلام تېرشوي دي (۳) ﴿ إِذۡ جَآءَ رَبَّهُۥ بِقَلۡبٖ سَلِيمٍ ﴾ كله چي راغى (ابراهيم) خپل رب ته سره له زړه ښه سالم، پاك له شكه اوشركه ﴿ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَاذَا تَعۡبُدُونَ ﴾ كله چي وويل (ابراهيم) پلاړ خپل اوقوم خپل ته څه شى دى چي تاسي يې عبادت كوئ ؟ (له بتانوڅخه دغه يې د انكار اوتوبيخ په ډول ورته وويل) ﴿ أَئِفۡكًا ءَالِهَةٗ دُونَ ٱللَّهِ تُرِيدُونَ ﴾ آياتاسي په دروغوسره معبودان غواړى نورغيرله الله څخه؟ يعني آياتاسوغيرله الله نه دنورومعبودانو عبادت كوى ددروغو لپاره ,دلته يې مفعول لأجله چي ﴿ أَئِفۡكًا ﴾ دى په مفعول به باندي له مخه راووړ ترڅوددوى تقبيح وكړي اودشرك بطلان يې په ډاګه كړى اوپه اصل كي خوداووچي (أتريدون الآلهة من دون الله افكا) يعني آياتاسوپرته له الله نورخدايان په دروغونيسى. قرطبي وايې چي د(افك) معنابد ترين دروغ دي هغه چي ښېخي نشي ثابت كېداى (۴) ﴿ فَمَا ظَنُّكُم بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ پس څه ګمان مودى په رب دعالميانو، استفهام لپاره دتوبيخ اوتحذير دى يعني آياتاسوګمان كوى چي الله به موبې له عذابه پرېږدي اوتاسودغيرالله عبادت كوى ؟ طبري وايې معناداچي اى قومه تاسوڅه ګمان كوى چي كله له الله سره مخامخ شى هغه به څه درسره كوي

(۱) التسهيل في علوم التنزيل ۳/ ۱۷۲
(۲) حاشية شيخ زاده ۳/ ۱۷۵
(۳) البيضاوي ۲/ ۱۴۱
(۴) القرطبي ۱۵/ ۱۹۲

؟ حال داچي تاسو غيرله الله دبل چاعبادت کاوو(۱) ﴿ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي ٱلنُّجُومِ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ (پس نظريې واچاوو يونظر په ستوريو کي پس وويل (ابراهيم) چي بېشکه زه ناجوړه يم) يعني کله چي يې دوی دغيرالله په عبادت وترټل نويې ددې اراده وکړه چي دوی ته وروښيي چي دغه بتان نه ضرر رسوي اونه ګټه اودايې وغوښتل چي يوازي شي اوهغوی زېر اوزبرمات کړي نويې دغه پلمه وسنجوله ترڅوله دوی سره د اخترمېلې ته ولاړنشي اوددوی له عادت اودودسره سم (چي هغوی نجوميان ستوري پېژندونکي وو) آسمان ته يې وکتل اودوی ته يې داسي په پام کي وروستله چي ګواکي ستوري پدې دلالت کوي چي زه به سبا رنځور شم نويې وويل: زه ناروغ يم يعني که له تاسو سره بهروتلم ناجوړېه شم اودغه دروغ نه دي بلکه يوډول (تورية) وړاندوينه ده چي شرعي مقصد په کي پټ دی لکه چي وايي: (ان فى المعاريض لمندوحة عن الكذب) يعني په توريو کي له دروغوڅخه خلاصون دی چي دروغ نه ګڼل کېږي مباح دی. اويا داچي مقصد يې داووچي زه دبتانوله عبادت څخه دزړه رنځوريم (۲) ﴿ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴾ (پس وګرزېدل هغوی له ابراهيم څخه پداسي حال کي چي دوی شاکونکي وو) يعني هغه يې پرېښود اودوی خپل جشن ته لاړل ﴿ فَرَاغَ إِلَىٰٓ ءَالِهَتِهِمْ ﴾ پس پټ راغی (ابراهيم) معبودانو ددوی ته. ابن کثيروايي معناداچي ددوی له تګ نه وروسته هغه په منډه پټ بتانو ته ورغی ﴿ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴾ پس وويل: (ابراهيم دغومعبودانو ته) چي آيانه خوری (تاسي له دغودرته ايښودل شويو خوراکونوڅخه؟ ابن کثيروايي داپدې چي دبتانوپه مخ کي دثواب ترلاسه کولولپاره خوراکونه ايښي ووچي بت پرستانو پردې تبرک نيول (۳) ﴿ مَا لَكُمْ لَا تَنطِقُونَ ﴾ څه شوي دي پرتاسي چي خبري نه کوی ؟ يعني ولې زما پوښتني ته ځواب نه راکوی ؟. ابوحيان وايي: داچي دخوړلوپه هکله يې ورته وويل اويايې دخبرو کولوپه هکله ترې وپوښتل دغه داستهزاء اوسخريې په توګه وو څکه دوی ترخپلو عابدانولاهم په ټيټه مرتبه کي دي چي نه څه خوړلای شي اونه ځواب ورکولای شي(۴) ﴿ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًۢا بِٱلْيَمِينِ ﴾ پس پټ ورننوت پردوی په وهلوسره په قوت) يعني پټ ورغی اوپه هغه تبرچي ورسره ووپخپل زور سره يې ورباندي واروکړ. بيضاوي وايي چي: دغه په (يمين) ښی لاس سره مقيدکول په قوت باندي ددلالت کولولپاره راوړي شوي داسبابوقوت دفعل په قوت پسي اړه لري (۵) قرطبي وايي چي دغه وهل ټکول يې په (يمين) ښی لاس پسي څکه ځانګړي کړل چي هغه ترټولو سخت اوقوي دی(۶) ﴿ فَأَقْبَلُوٓا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴾ پس مخامخ شول متوجه شول (نمروديان) دغه (ابراهيم) ته چي ورپسي منډي يې وهلې دنيولولپاره

---

(۱) الطبري ۲۳/ ۴۵
(۲) دمفسرينو اقوال په الطبري کي وګوره ۱۵/ ۲۳
(۳) مختصرابن کثير ۳/ ۱۸۵
(۴) البحر المحيط ۷/ ۳۶۶
(۵) البيضاوي ۲/ ۱۴۲
(۶) القرطبي ۱۵/ ۹۴

اوكله چي يې ومونډنوېې ورته وويل: افسوس پرتا موږ به عبادت كووا وتامات كړل؟ هغه په خواب كي ورته د توبيخ په توګه هسي وويل: ﴿ قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ﴾ وويل: (ابراهيم) دوى ته په خواب كي آيا عبادت كوى تاسي دهغه چي تاسي يې تراشى (او پخپلو لاسونو يې جوړوى) ﴿ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴾

حال دا چي الله پيداكړي يى تاسي اوهغه عمل چي تاسي يې كوى(او ټول شيان د هغه مخلوق دي نو تاسي ولي دمخلوق عبادت كوى اوخالق موږ اېښى دى اى خلګو آيا تاسو عقل نلرى؟! ابن جزي وايې چي ځيني مفسرينو د(ما) تورى مصدريه ګڼلى معنادا چي الله تاسو پيداكړي ياست او ستاسي اعمال يې پيداكړي اوهمدغه آيت شريف ددوى لپاره قاعده دى چي د بندګانو افعال هم دالله مخلوق دي او ځينو مفسرينو بيا(ما) موصوله بللي ده چي معنايې داسي كېږي چي الله تاسي پيداكړي ياست او هغه بتان يې پيداكړي چي تاسي يې جوړوى همدغه دكلام له سياق سره ښه ورو او لائق دي ځكه چي په هغو كسانو احتجاج دى كوم چي دبتانو عبادت يې كاوو([1]) ﴿ قَالُوا ٱبْنُوا لَهُۥ بُنْيَٰنًا فَأَلْقُوهُ فِى ٱلْجَحِيمِ ﴾ وويل (كفارو) چي جوړه كړي (دغه ابراهيم) ته يوه بنا اوله خس خاشاكو يې ډكه كړئ اور ورواچوئ) پس وغورځوئ دغه (ابراهيم) داورپه(دغه) ډېرى كي. مفسرين كرام وايې كله چي ابراهيم ﷺ په دليل ويلو كي وربانډي بريالى شونودوى دزور اوقوت له منطق ځخه كار واخيست او پخپل مينځ كي يې وروسته له مشورې داسي پرېكړه وكړه چي هغه دخپلو بتانو لپاره په اور كي وغورځوي ﴿ فَأَرَادُوا بِهِۦ كَيْدًا فَجَعَلْنَٰهُمُ ٱلْأَسْفَلِينَ ﴾ پس اراده وكړه دوى له ابراهيم سره د فريب (لپاره دهلاكولو سوځولو) پس وموګرزول دوى لاندي(سپكه سپانده چي په حضرت خليل مو اورګلزاركړ او دوى موخوار او ذليل كړل ځكه چي چل فريب يې ونه چلېدو ﴿ وَقَالَ إِنِّى ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّى سَيَهْدِينِ ﴾ (وويل (ابراهيم) بېشكه زه تلونكى يم (ماموربه د)خپل رب ته ژر به ماته لاره راوښيي (رب زما كله چي الله له اوره وژغورل او د فجارو له فريبه يې ورته نجات وركړنو يې دهجرت اراده وكړه اوقوم يې پرېښود. مقاتل وايې چي حضرت ابراهيم لومړنى ځوک وو چي له خلګو ځخه يې دشام لورته هجرت وكړ([2]) ﴿ رَبِّ هَبْ لِى مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ اى زماربه راوبښه ماته زوى له صالحانو(چي له ماسره په پردېسي كي پام غلطونكي (مؤنس) وي ابن كثير وايې له الله يې وغوښتل چي مطيع اولادونه وركړي ترڅوچي دقوم او ټبرپرځاى يې همدا اولادونه ودرېږي ([3]) ﴿ فَبَشَّرْنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٍ ﴾ پس زيرى وركړموږ دغه (ابراهيم)ته په داسي هلک چي ډېرتحمل والاوي (دلوى توب په وخت كي). ابو السعود وايې چي: الله درې زيري ورته يو ځاى وركړل يو دا چي نارينه به وي بل دا چي لوى توب ته به رسېږي بل به تحمل والاوي ځكه چي ماشوم پدغه صفت نه موصوف كېږي او تردي به كوم حلم او تحمل پورته وي چي كله يې پلار ورته وويل زه دي حلالوم هغه ﷺ په خواب كي

([1]) التسهيل فى علوم التنزيل ۳/ ۱۷۳

([2]) القرطبي ۱۵/ ۹۷

([3]) مختصر ابن كثير ۳/ ۱۸۲

ورنه وويل: ﴿ يَٰٓأَبَتِ ٱفۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُۖ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ او جمهور د مفسرينو پردې دي چي دغه زېرى د حضرت اسماعيل عليه السلام په باب وركول شوى وو ځکه چي الله د ذبحي د کيسې بيان په پاى کي فرمايي: ﴿ وَبَشَّرۡنَٰهُ بِإِسۡحَٰقَ نَبِيّٗا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ نو دا پردې دلالت کوي چي ذبيح حضرت اسماعيل عليه السلام دى (١) ﴿ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعۡيَ ﴾ (پس کله چي ورسېدو اسماعيل سره له ده (خپله پلاره) حد د سعى ته) يعني کله چي حضرت اسماعيل زنى (زلمى) شو او هغه ځاى ته ورسېدو چي نورنو له خپله پلاره سره دژوندانه په چارو او کارونو کي زيار او کوښښ وکړي. مفسرين کرام وايې چي دغه دېرلس کلن عمر دى ﴿ قَالَ يَٰبُنَيَّ إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي ٱلۡمَنَامِ أَنِّيٓ أَذۡبَحُكَ ﴾ وويل (ابراهيم) اى زما زويکيه ښېشکه زه (پرله پسې) وينم په خوب کي داسي چي ښېشکه زه تا ذبح کوم. ابن عباس وايې چي د انبياوو خوبونه وحى دي او دغه آيت يې ولوست او محمد بن کعب بيا وايې چي: انبياوو ته به په خوب او بيدارى کي وحى راتله ځکه د انبياوو عليهم السلام سترګي ويدې مګر زړونه يې نه ويدېږي (٢) ﴿ فَٱنظُرۡ مَاذَا تَرَىٰۚ ﴾ پس ته هم نظر وکړه چي څرنګه مصلحت ګڼې ؟ ابن کثير وايې او دا چي زوى يې پدې خبر کړ تر څو چي ورته آسانه شي او د ده زغم، صبر او عزم يې وازمويې چي هغه د الله په طاعت او د پلار په فرمان وړلو کي څومره پابندي لري ؟ که څوک وايې چي ولي يې ورسره په يو حتمي کېدونکي امر کي مشوره کوله؟ ځواب دا چي مشوره يې ددې لپاره ورسره نه کوله چي ګواکي دده رايې ته به وګرزي بلکه ددې لپاره چي هغه وپوهوي خبره داسي ده ترڅو هغه پخپل ځان باندي په صبر کولو چمتو کړي هماغسي ذبيح هم ترټولو ښه ځواب ورکړچي: ﴿ قَالَ يَٰٓأَبَتِ ٱفۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُۖ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ وويل (اسماعيل) اى زما پلاره هغه وکړه کوم چي درباندي حکم شوى دى ژر دى چي ما به ومومې انشاء الله له صبر کونکيو؛ دا د هغه چا ځواب دى چي حلم، صبر او د الله دا امر وامتثال ورکول شوى دى او د الله په قضا باندي يې رضا ده ﴿ فَلَمَّآ أَسۡلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلۡجَبِينِ ﴾ پس کله چي غاړه کښېښوده دواړو (د الله حکم ته) او وايې چاوو اسماعيل (پړمخي) ابن عباس وايې چي ﴿ وَتَلَّهُۥ لِلۡجَبِينِ ﴾ معنا دا چي پرتندي يې واچاوو ﴿ وَنَٰدَيۡنَٰهُ أَن يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ ﴾ او غږ وکړ موږ ده ته چي اى ابراهيم ﴿ قَدۡ صَدَّقۡتَ ٱلرُّءۡيَآۚ ﴾ په تحقيق رښتيا کړ تا خوب (خپل او مقصد ترسره شو. روايت کېږي چي هغه څوځلي په خپل توان سره چاړه د حضرت ذبيح په غاړه راکښله خو غاړه نه غوڅېدله. صاوي وايې چي په دغي کيسې کي حکمت دا دى چي الله جل جلاله حضرت خليل غوره کړى وو او کله چي هغه د زوى غوښتنه وکړه او الله ورته زوى عنايت کړ د زړه يوه برخه يې د زوى په مينه کي مشغوله شوه نو الله ورته د زوى د حلالولو امر وفرمايو چي د خلت صفايې څرګنده شي هغه هم د الله جل جلاله دا امر امتثال ته غاړه کښېښوده او د الله مينه يې د زوى پر مينه غوره کړه. ابن عباس وايې کله چي يې زوى د ذبح کولو لپاره په

(١) دغه تفصيل زموږ په کتاب النبوة والانبياء کي وګوره او ابن کثير ۳ /۱۸۲ هم ولو له چي خوندوره خبرنه پکي شته.
(٢) القرطبي ۱۵ /۱۰۲

اړخ وا چاوو هغه ورته وويل: اى پلاره زما پرې اورسى. تېنګي وتړه چي زه ونه خوځېږم او خپلي جامې دي ښې ونغاړه چي زما په وينو ونه لړل شې چي بيا به يې زما مور ووينې او غمجنه به شي او چاړه ښه تېره کړه او ژر ژر يې زما په مرۍ راکاږه چي مرګ راته آسان شي او چي کله مي مورته ورشې زما سلام ورته ووايه او که دي خوښه شوه زما قميص هم ورو سپاره چي هغه به ددې لپاره زما په بېلتون کي تسلى اوداډوي. حضرت ابراهيم عليه السلام ورته وويل چي: اى زويکيه ته دالله دحکم په ترسره کولو کي زما ښه مرستندوى يې (١) ﴿ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ (بېشکه موږ همداسي (لکه نېکه جزاء دابراهيم نېکه) جزاورکوو محسنانو نيکوکارانو ته) دغه د مشکلاتو دحل لپاره علت دى يعني لکه چي ستا مشکل مو حل کړ همداسي موږ نورنيکو کاران هم دهغوى په کړاوونو کي بريالي کوو اوله سختي څخه وروسته ورته آسانتيا راولو ﴿ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْبَلَٰٓؤُاْ ٱلْمُبِينُ ﴾ بېشکه چي همدا (ذبحه) خامخا هم دا ابتلاء او ښکاره ازموينه وه (چي مخلص له منافق څخه پکي بېلېږي) ﴿ وَفَدَيْنَٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴾ اوفديه مو ورکړه دغه (اسماعيل) ته په ذبحي لويي (جنتي پسه سره) ابن عباس رضي الله عنهما وايې چي دغه سترپسه ووچي څلوېښت کاله په جنت کي څرېدلى وو (٢) ﴿ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي ٱلْءَاخِرِينَ ﴾ اوباقي پرېښودموږ پرده په وروستنيو خلګو کي (ښايسته ثنا ترقيامته پوري) ﴿ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ سلام دي وي (زموږ له لوري عاطر سلام) پر ابراهيم ﴿ كَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْمُحْسِنِينَ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ همداسي (په مثل دنېکي جزا دابراهيم نېکه) جزا ورکوو محسنانو نېکانو ته بېشکه چي دى له هغو (خالصو) بندګانو زموږدى چي (خاص) مؤمنان دي) جزايې مکرره ياده کړه ترڅويې په ثناکي مبالغه کړې وي او بيايې ددې علت هسي څرګند کړچي هغه له راسخو مؤمنانو څخه وو په ايمان، يقين او اطمينان کي يې هيڅ شک اوشبه نه وه ﴿ وَبَشَّرْنَٰهُ بِإِسْحَٰقَ نَبِيًّا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ (اوزېرى ورکړموږ دغه (ابراهيم) ته (پس له اسماعيله) په اسحاق چي نبي وو له صالحانو) يعني موږ له دغي پېښي وروسته دبل زوى زېرى هم ورکړ چي هغه اسحاق دى اوژردى چي نبي به غوره کېږي. ابن عباس وايې چي داسحاق په نبوت يې ترزېږېدو لاله وړاندي بشارت ورکړ (٣) او نژدې داسي بربښي چي آيت شريف په صراحت سره دا ښودلي دي چي ذبيح حضرت اسماعيل دى اسحاق نه دى ﴿ وَبَٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَىٰٓ إِسْحَٰقَ ﴾ اوبرکت اچولى وو موږ پر دغه (ابراهيم) او پر اسحاق (برکتونه ددنيا او دين) ﴿ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ مُبِينٌ ﴾ اوله اولادې ددوى دواړو څخه څوک نيکو کار دى (په ايمان او طاعت سره) او څوک ظالم دى په ځان خپل ښکاره. طبري وايې چي محسن مؤمن او ظالم بيا کافر دى (٤) ابو حيان وايې چي په آيت شريف کي ديهودانو لپاره وعيد شته او همداسي د دوى

---

(١) حاشية الصاوي على الجلالين ٣ /٣٤٣

(٢) مختصر ابن كثير ٣ /١٨٧

(٣) مختصر ابن كثير ٣ /١٨٧

(٤) الطبري ٢٣ /٥٧

دوا ړوله اولادې څخه دهغه چالپاره وعيدی چاچې په رسول الله محمد عليه افضل الصلوة وأزکی التسليم باندې ايمان نه دی راوړی اوپه آيت شريف کې ددې دليل هم شته چې کله کله له نيکوکاره څخه بدکاره زېږي اوداکوم عيب اونقص نه دی(١).

بلاغت:

پدې آيتونوکې چې دبيان اوبديع کومې ښکلاوې شته لنډيزيې دادی:

١-تهکمي اسلوب لکه چې فرمايي: ﴿ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا أَمْ شَجَرَةُ ٱلزَّقُّومِ ﴾ دلته دزقوم په هکله په خيرسره تعبيرپردوی باندې استهزآء دی.

٢-ناقص جناس پدې کلماتوکې چې: ﴿ مُّنذِرِينَ ..ٱلْمُنذَرِينَ ﴾ څکه مقصدله لومړي څخه پيغمبران اوله دوهم څخه أمتونه دي.

٣-تشبيه لکه پدې کلام کې چې ﴿ طَلْعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴾ يعني په کراهيت اونفرت کې دغه ته مرسله مجمله تشبيه وايي.

۴-تبعيه استعاره چې فرمايي: ﴿ إِذْ جَآءَ رَبَّهُۥ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴾ دمسلمان مخلص په پاک زړه الله ته راتلل يې له هغه چاسره مشابه کړل چې پاچاته يې ډېره قيمتي ډالۍ (سوغات) راوړي وي اودباچاخوښي اومننه يې ترلاسه کړي وي دې ته تبعيه استعاره وايي.

۵-دطباق صنعت چې د ﴿ مُحْسِنٌ ..وَظَالِمٌ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

۶-اشتقاقي جناس چې د ﴿ ٱبْنُواْ ..بُنْيَٰنًا ﴾ ترمينځ شتون لري.

٧-لطيفه کنايه لکه داچې ﴿ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى ٱلْءَاخِرِينَ ﴾ چې له ښايسته مدح اوښکلي ثناڅخه يې وړباندې کنايه راوړي ده.

٨-دفواصلومراعات لکه چې فرمايي: ﴿ وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِۦ لَإِبْرَٰهِيمَ ، إِذْ جَآءَ رَبَّهُۥ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴾ ترپايه اوداهم دبديعي محسناتواودقرآنکريم له خصائصواوځانګړتياوو څخه دی چې خوند، جمال اوپه اوريدونکي باندې اغيزتاثيرپکې شته

(١) البحرالمحيط ٣٧٢/٧

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَـٰرُونَ ﴿١١٤﴾ وَنَجَّيْنَـٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ ﴿١١٥﴾ وَنَصَرْنَـٰهُمْ فَكَانُوا۟ هُمُ
ٱلْغَـٰلِبِينَ ﴿١١٦﴾ وَءَاتَيْنَـٰهُمَا ٱلْكِتَـٰبَ ٱلْمُسْتَبِينَ ﴿١١٧﴾ وَهَدَيْنَـٰهُمَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴿١١٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِى ٱلْـَٔاخِرِينَ
﴿١١٩﴾ سَلَـٰمٌ عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَـٰرُونَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢١﴾ إِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ
﴿١٢٢﴾ وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ ٱلْخَـٰلِقِينَ ﴿١٢٥﴾
ٱللَّهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٢٦﴾ فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٢٧﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٢٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى
ٱلْـَٔاخِرِينَ ﴿١٢٩﴾ سَلَـٰمٌ عَلَىٰٓ إِلْ يَاسِينَ ﴿١٣٠﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣١﴾ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾ وَإِنَّ لُوطًا لَّمِنَ
ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٣﴾ إِذْ نَجَّيْنَـٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿١٣٤﴾ إِلَّا عَجُوزًا فِى ٱلْغَـٰبِرِينَ ﴿١٣٥﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا ٱلْـَٔاخَرِينَ ﴿١٣٦﴾ وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم
مُّصْبِحِينَ ﴿١٣٧﴾ وَبِٱلَّيْلِ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٣٨﴾ وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٩﴾ إِذْ أَبَقَ إِلَى ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴿١٤٠﴾ فَسَاهَمَ
فَكَانَ مِنَ ٱلْمُدْحَضِينَ ﴿١٤١﴾ فَٱلْتَقَمَهُ ٱلْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴿١٤٢﴾ فَلَوْلَآ أَنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُسَبِّحِينَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ فِى بَطْنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوْمِ
يُبْعَثُونَ ﴿١٤٤﴾ ۞ فَنَبَذْنَـٰهُ بِٱلْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيمٌ ﴿١٤٥﴾ وَأَنۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّن يَقْطِينٍ ﴿١٤٦﴾ وَأَرْسَلْنَـٰهُ إِلَىٰ مِا۟ئَةِ أَلْفٍ أَوْ
يَزِيدُونَ ﴿١٤٧﴾ فَـَٔامَنُوا۟ فَمَتَّعْنَـٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١٤٨﴾ فَٱسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ ٱلْبَنَاتُ وَلَهُمُ ٱلْبَنُونَ ﴿١٤٩﴾ أَمْ خَلَقْنَا
ٱلْمَلَـٰٓئِكَةَ إِنَـٰثًا وَهُمْ شَـٰهِدُونَ ﴿١٥٠﴾ أَلَآ إِنَّهُم مِّنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَدَ ٱللَّهُ وَإِنَّهُمْ لَكَـٰذِبُونَ ﴿١٥٢﴾
أَصْطَفَى ٱلْبَنَاتِ عَلَى ٱلْبَنِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿١٥٤﴾ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٥﴾ أَمْ لَكُمْ سُلْطَـٰنٌ مُّبِينٌ ﴿١٥٦﴾ فَأْتُوا۟ بِكِتَـٰبِكُمْ إِن
كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ ﴿١٥٧﴾ وَجَعَلُوا۟ بَيْنَهُۥ وَبَيْنَ ٱلْجِنَّةِ نَسَبًا ۚ وَلَقَدْ عَلِمَتِ ٱلْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٥٨﴾ سُبْحَـٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٥٩﴾
إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٠﴾ فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴿١٦١﴾ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ بِفَـٰتِنِينَ ﴿١٦٢﴾ إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٦٣﴾ وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ
مَقَامٌ مَّعْلُومٌ ﴿١٦٤﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ ٱلصَّآفُّونَ ﴿١٦٥﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ ٱلْمُسَبِّحُونَ ﴿١٦٦﴾ وَإِن كَانُوا۟ لَيَقُولُونَ ﴿١٦٧﴾ لَوْ أَنَّ عِندَنَا ذِكْرًا مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٦٨﴾
لَكُنَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٩﴾ فَكَفَرُوا۟ بِهِۦ ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿١٧٠﴾ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٧١﴾ إِنَّهُمْ لَهُمُ ٱلْمَنصُورُونَ
﴿١٧٢﴾ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَـٰلِبُونَ ﴿١٧٣﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٤﴾ وَأَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٥﴾ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٧٦﴾ فَإِذَا نَزَلَ
بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿١٧٧﴾ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٨﴾ وَأَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٩﴾ سُبْحَـٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا
يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلَـٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٨١﴾ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾ ﴾ الصافات: ١١٤ – ١٨٢

مناسبت

کله چي الله تعالی دابرهیم خلیل الله کیسه بیان کړه اوپه ترځ کي یې دحضرت ذبیح اسماعیل د قرباني کیسه هم راوړه ورپسې یې دځینوانبیاووعلیهم السلام لکه دحضرت موسی اوهارون ، یونس اولوط علیهم السلام کیسې یادي کړې څکه چي پکي عبرتونه اوپندونه خوندي دي اوپه پای کي یې دغه مبارک سورت پدې ختم کړ چي وروستنی بری اوغلبه دپیغمبرانو علیهم السلام اودهغوی دپیروانو مؤمنانو ده.

لغتونه:

(أبق) وتښتېدو (المشحون) ډک (ساهم) قرعه یې واچوله او اصل یې له (سهام) څخه اخیستل شوی چي دوی به دغه غښي راایستل اوقرعه به یې ورباندي اچوله (المدحضین) مغلوبین اصل یې له (دحض) څخه اخیستل شوی ویل کېږي (أدحضها الله) یعني الله مغلوبه کړه شاعروایي:

قتلنا المدحضين بكل فج * فقد قرت بقتلهم العيون.

مغلوب دښمن موپه هره لاره کوڅه کي وواژو ددوی په وژلوموسترګي یخي شوې (ملیم) ملامت کړی شوی (العرآء) دښته بېدیاچي پکي ونه اوخلي نه وي. فراء وایي چي د (عرآء) معناډاګ اوتشه پراخه ځمکه ده (البقطين) کدو. جوهري وایې چي یقطین هغه ته وایې چي ونه یې تنه نلري لکه کدو اونور شیان (ساحتهم) غولي ددوي ته .

تفسیر:

﴿ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴾ اوخامخا احسان موکړی ووپه موسی اوهارون)لام دقسم لپاره توطئه کونکی دی یعني زموږ دي په خپل عزت اوجلال قسم وي چي موږپه موسی اوهارون باندي قسماقسم نعمتونه اومنافع دیني اودنیوي لورولي دي اویوله هغوڅخه نبوت اورسالت وو﴿ وَنَجَّيْنَٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ اونجات موورکړدغودواړو ته اوقوم ددوی ته له لویه غمه (چي هغه دفرعون استعبادوو اوددوی ښځي به یې په چوپړګمارلي زامن به یې ور وژل اودوی ته یې ورباندي تعذیب ورکاوو﴿ وَنَصَرْنَٰهُمْ فَكَانُوا۟ هُمُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴾ اونصرت موورکړ دغو(موسی ، هارون او بني اسرائیلو) ته پس وو دوی (پردښمنانو قبطیانوباندي) بریالیان (وروسته له هغه چي دهغوی تر لاس لاندي وو﴿ وَءَاتَيْنَٰهُمَا ٱلْكِتَٰبَ ٱلْمُسْتَبِينَ ﴾ اوورکړی مودی دغو(دواړو ورونوته) کتاب (تورات) ډېرښه بیانونکی (شرائعو احکامولره) ﴿ وَهَدَيْنَٰهُمَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴾ اوښودلي موده دغو دواړو (ورونو)

ته سمه لاره (چي كږوالى پكي نشته) طبري وايې چي مقصد له دې څخه اسلام دى هغه سپېڅلى دين چي الله تعالى خپل پيغمبران ورباندي را استولي دي ﴿ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِى ٱلْآخِرِينَ ﴾ اوپرې ښودمونږ پردوى دواړو ورونو(ښه ثناواوښكلى ياد) په وروستنيوخلكو كي ﴿ سَلَٰمٌ عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴾ سلام دوي (زمونږله طرفه) په موسى اوهارون ﴿ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ إِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ بېشكه مونږ همداسي (په مثل دنېكي جزاء دموسى اوهارون نيكه) جزا وركوو نيكوكارانو ته بېشكه دوي دواړه له هغو بندګانو مؤمنانو څخه دي) ﴿ وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ او بېشكه الياس خامخا(يو) له مرسلانو څخه دى هغوى چي بني اسرائيلوته رااستول شوي وو ترڅوېې سمي لاري ته رهبري كړي ابوالسعودوايې چي دغه الياس بن ياسين دهارون عليه السلام چي د موسى ورور دى له لمسيانو څخه دى (١)﴿ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَلَا تَتَّقُونَ ﴾ كله چي خپل قوم ته يې وويل: آيانه وېرېږى (له عذابه دالله چي دغيرالله عبادت كوى؟) ﴿ أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ ٱلْخَٰلِقِينَ ﴾ آياتاسي عبادت كوى دهغه (بت چي نوم يې) بعل (دى) اوپرېږدى تاسي(عبادت د) ښه پيداكونكي ﴿ ٱللَّهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ چي الله دى رب ستاسي اورب دهغوړومبنيو پلرونو ستاسي ، قرطبي وايې چي بعل دهغه بت نوم ووچي دوى به يې عبادت كاوو اوپه همدغه نامه ددوى ښار چي (بعلبک) دى ونومول شومعناداچي تاسي دهغه رب عبادت كوى كوم چي تاسوپخپله جوړكړى اوهغه پيداكونكى ذات چي ستاسواوستاسو دپخوانيوپلرونوپيداكونكى ذات (الله) دى پرېږدى؟ (٢)﴿ فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴾ پس تكذيب وكړدوى دهغه پس بېشكه دوى به خامخاحاضركړى شوي دي (دوزخ ته) ﴿ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴾ مګرتكذيب ونكړ(ددوى هغو) دالله بندګانوچي مخلصان دي (نو دوى له عذابه وژغورل شول ﴿ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى ٱلْآخِرِينَ ﴾ اوپرې ښوده مونږ(پردغه الياس ښايسته مدح او ښكلي ثنا) په وروستنيوخلكو كي (تر قيامته) پوري ﴿ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِلْ يَاسِينَ ﴾ (سلام دى (زمونږله لوري پرده او)پرآل ياسين باندي. مفسرين كرام وايې چي مراد اومقصدله (آل ياسين) څخه الياس اودهغه قوم مؤمنان دي تغليباًيې سره يوځاى جمع كړل لكه چي (مهلب) اوقوم ته يې (مهلبون) وايې (٣)او طبري بياداغوره كړي چي دغه دالياس لپاره نوم دى لكه الياس اوالياسين په مثل د(مېكال او (مېكائيل) اوداچي دده دوه نومونه دي يوالياس اوبل الياسين (٤)﴿ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ بېشكه مونږ

---

(١) تفسيرابي السعود ۴/ ٣٧٦

(٢) تفسيرالقرطبي ١۵/ ١١٦

(٣) جلالين ٢/ ٣۴٦

(۴) الطبري ٢٣/ ٢٧

همداسي (په مثل دنېکه جزادالیاس نیکه)جزا ورکوونېکوبندګانوته بېشکه چي دی زموږله
هغوبندګانوڅخه دی چي (خاص) مؤمنان دي .داچي دهرپیغمبرله یادوني وروسته یې دغه دوه مبارک
آیتونه راوړي اوسلام یې وړباندي استولی دغه داحسان اوایمان دبهتري اوفضل بیان دی اوداچي دغه
ګردپیغمبران په دغوصفتونوموصوف دي نودوی دسلام تحیې اونېکي مدحي او ښکلي
ثناوړاومستحق دي فسلام الله وصلواته علیهم أجمعین ﴿ وَإِنَّ لُوطًا لَّمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ اوبېشکه چي لوط
رو خامخا له مرسلانوڅخه (چي خپل قوم ته لارښوونه وکړي) ﴿ إِذْ نَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴾ کله چي
نجات ورکړموږ ده ته او اهل دده ته ټولوته ﴿ إِلَّا عَجُوزًا فِى ٱلْغَٰبِرِينَ ﴾ مګریوې زړې ښځې ته (مونجات
ورنکړ) چي وه داپه باقي پاتي کېدونکو (د عذاب) کي ﴿ ثُمَّ دَمَّرْنَا ٱلْءَاخَرِينَ ﴾ بیاموږګردسره هلاک کړل
نور(کفار) یعني بیامودده دقوم ټول مکذبین په سخت عذاب باندي هلاک کړو چي کلی یې مونسکور له
پاسه راوویشتل اوډبري مو وړباندي واورولې ځکه یې په (دَمّرنا) سره ورڅخه تعبیروو فرمایو ﴿ وَإِنَّكُمْ
لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ وَبِٱلَّيْلِ ﴾ اوبېشکه چي تاسي خامخاتېرېږی (ای دمکې خلګو) پردوی په دې حال
کي چي صباکونکي یی (دورځي) اودشپې ؛ یعني ای دمکې خلګو تاسوپه خپلوسفرونوکي ددوی په
کنډوالوسهاراوبېګاتېرېږی ﴿ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ آیاپس عقل نه چلوی ! ؟آیاله دې نه وېرېږی چي تاسوته
هم هغه عذاب ورسېږي کوم چي دوی ته رسېدلی وو؟ ﴿ وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ اوبېشکه چي یونس
خامخا له مرسلانوڅخه دی ﴿ إِذْ أَبَقَ إِلَى ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴾ کله چي وتښتېد(له خپل قوم څخه) طرف
دهغي ډکي بېړۍ ته ﴿ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ ٱلْمُدْحَضِينَ ﴾ پس قرعه واچوله (له دغوخلګودبېړۍ سره) پس
شوله مغلوب کړی شویو نه (په پچه ختلوکي چي هرواربه یې پچه ختله بیایې سیندته واچاوو) مفسرین
کرام وایې چي یونس ﷺ له خپل ټبرڅخه زړه تنګی شو ځکه چي هغوی تکذیب کاووایمان یې نه
راووړنوده هغوی د نژدې عذاب په راتلوتهدیدکړل اوپخپل خواشینی ځني روان شو چي پدې غصه
اوقهرکي دسیند غاړي ته راغی اوهلته یوه په سپرلیوډکه بېړۍ وه په هغې کي چي سپورشوبېړۍ په
طوفان اوڅپو کي په چورلېدوشوه اوماڼوګانوویل چي په بېړۍ کي داسي یوڅوک سپوردی چي له
خپله باداره تښتېدلی دی نواروموبه دبېړۍ دنجات لپاره نوموړی مریی سیندته غورځول کېږي چي
ګرده بېړۍ له غرقېدلوڅخه وژغورو دګردوپه نامه څو ځله پچي واچولی شوې اوهرځل دحضرت یونس
ﷺ په نامه راختله نوبیې هغه سیندته وغورځاوو ﴿ فَٱلْتَقَمَهُ ٱلْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴾ پس ماهي یوه مرۍ (ګوله)
کړدغه (یونس) لره حال داچي دی پخپله ځان ملامت کونکی ووځکه چي ده هغه کارکړی ووچي
دملامتي وړووچي درسالت دنده یې خوشي کړي اوپه خفګان له خپله قومه راروان شوی دالله ﷻ اجازه
یې نه وه ترلاسه کړې ﴿ فَلَوْلَآ أَنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُسَبِّحِينَ ﴾ پس که نه وی دغه (خبره) چي دغه (یونس) وو له
تسبیح کونکوڅخه (په ژوندکي) ﴿ لَلَبِثَ فِى بَطْنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴾ (نوخامخاپاتي به ووپه نس ددې

ماهي کي ترهغې ورځي پوري چي بيا ژوندی راپاڅولی شي) يعني دماهي ګېډه به دده قبرجوړشوی وواوهيڅکله به يې نجات نه وو موندلی خوهغه دماهي په ګېډه کي دالله تسبيح کوله الله ته يې چيغې وهلې اواستغفاريې کاوو چي :

﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبْحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ (الانبياء۸۷) نوالله يې دعاومنله ﴿ فَنَبَذْنَٰهُ بِٱلْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيمٌ ﴾ پس وموغورځاووده (يونس په ډاګ ميدان کي حال داچي دی رنځور وو(څکه چي تکليف ورته رسېدلی وو. عطاء وايې الله ﷻ ماهي ته داسي ښوونه وکړه چي سغاګېډه مي دده لپاره ځېلخانه ګرزولي نه داچي ستالپاره مي طعام درکړی وي څکه نوروغ رمټ پاتي شواو هيڅ تغييرهم ورته رسېدلی نه وو(۱) ﴿ وَأَنۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّن يَقْطِينٍ ﴾ اوزرغونه کړه موږپرې ونه له کدو څخه هغه چي پلني پلني پاڼي لري (ترڅويې دلمرله وړانګوڅخه په سيوري کي وساتي . ابن جزي وايې : دا چي الله په ځانګړي توګه کدوورته وټاکل څکه هغه ځوخوبياني لري داچي پاڼه يې غټه اوپلنه ده سيوری يې سوړدی اومچان نه ورنږدې کېږي له دې امله چي ديونس ﷺ پوستوکي کله چي دماهي له ګېډې راووت دمچ دکښېناستلوتحمل نشوکولای (۲) اوهمدغه دالله لطف اوتدبيروو کله چي يې بيرته روغ رمټ پيداکړ قوت يې بياموندنويې قوم ته واستاوو. ﴿ وَأَرْسَلْنَٰهُ إِلَىٰ مِاْئَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ ﴾ (اوبياموږولېږو دغه (يونس) سلو زرو (خلګو) ته يازيات له دې نه) يعني بياموږهغه تېرپه لوري چي دی ترې تښتېدلی وو واستاوو مفسرين کرام وايې چي دوی يولک اوشل زره کسان وواوچابياويلي يولک اوياززه کسان وودوی دموصل خواته دنينوی د ولس خلګ وو چابياويلي چي د(أو) معنا(بل) دی يعني يولک بلکه لازيات ﴿ فَـَٔامَنُواْ فَمَتَّعْنَٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴾ پس ايمان راووړ(هغوی پرې) پس نفع مو ورکړه دوی ته تريوې نېټې پوري) يعني کله چي دوی دموعود عذاب نښي نښانې ولېدې نويې ايمان راووړ اوموږهم دوی ترمرګه پوري پرې ښودل چي له دنيوي لذائذواوژوندون څخه مستفيدشي په التسهيل کي ليکي چي دوی کله دعذاب موعود نښي نښانې وليدلې نوبهرراووتل ماشومان اوڅاروي اودهغوی اولادونه يې هم راوايستل اود اولادونواوميندو ترمينځ يې بېلتون وکړپه چيغواوکوکارويې الله ته زاري جګې پيل کړې نوالله ﷻ ورڅخه عذاب پورته کړ(۳) کله چي دانبياوو عليهم السلام کيسې اوخبرونه بشپړشول نويې بيرته دمکې دکفاروامکذبينود حالاتو بيانِ هسي پيل کړ:

﴿ فَٱسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ ٱلْبَنَاتُ وَلَهُمُ ٱلْبَنُونَ ﴾ پس وپوښته (ای محمده) دغه (کفار) آيا ستارب لره لوڼي دي ؟ اودوی لره ځامن دي؟ دغه پوښتنه دتقريع اوتوبيخ په ډول دی يعني دوی څرنګه ګمان کړی چي پرښتې دالله لوڼي دي الله ته يې ښځينه اوخپلوځانونوته يې نارينه غوره کړی دوی لوڼي نه خوښوي نوالله ته يې څرنګه خوښوي؟ ﴿ أَمْ خَلَقْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ إِنَٰثًا وَهُمْ شَٰهِدُونَ ﴾ (اوکه مو پيداکړي دي

---

(۱) تفسيرابي السعود۴ /۳۷۷
(۲) التسهيل۳ /۱۷۵
(۳) التسهيل في علوم التنزيل ۳ /۱۷۶

پرښتې ښځې حال دا چې دوی حاضروو) دغه ددوی په بهتان باندي بل توبیخ دی او د دوی دآند (فکر) تجهیل اوپرې استهزآء ده ﴿ أَلَآ إِنَّهُم مِّنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ وَلَدَ ٱللَّهُ ﴾ خبردار پوه شئ (ای خلکو) چې بېشکه دوی (مشرکان) له خپلو دروغو وایې (داسې) چې الله ولدراوړی دی. ﴿ وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴾ حال داچې بېشکه دوی خامخادروغجنان دي (پدې وېناووکې) (۱) ابوالسعود وایې چې په آیت شریف کې ددوی داصلي فاسدمذهب ابطال دی چې ددوی دمذهب تادو پرته له دې چې کوم دلیل ولري په افتراء اودروغو اینبودل شوی دی ﴿ أَصْطَفَى ٱلْبَنَاتِ عَلَى ٱلْبَنِينَ ﴾ آیاغوره کړي دي (الله) لوڼې پرزامنو (دغه توبیخ اوترټنه ده) ﴿ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴾ (څه وشو پرتاسې دغه څرنګه حکم کوی تاسې؟) دغه ددوی تسفیه اوتجهیل دی چې تاسوته څه درپېښه ده چې داسې ظالمانه حکم کوی څرنګه الله ستاسو په ګمان هغه ناچیزجنس دځان لپاره غوره کړ؟ ﴿ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ (آیاپس پند نه اخلی تاسې) یعني آیاتاسو کوم تمیز اوادراک نلرې چې ددغه کلام په خطایې وپوهېږی. ابوالسعودوایې معناداچې تاسوته په بدیهي توګه ددې خبرې بطلان نه معلومېږي ؟ په دې خوهرغبي اوذکي پوهېږي چې دغه باطله وېناده ﴿ أَمْ لَكُمْ سُلْطَٰنٌ مُّبِينٌ ﴾ آیاشته تاسې ته کوم برهان سند ښکاره؟ ﴿ فَأْتُوا۟ بِكِتَٰبِكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ (پس راوړئ تاسې هغه کتاب خپل که چېرې یی تاسې رښتوني صادقان) یعني تاسو هغه کتاب راوړئ چې ستاسې ددعوی سوالی ښیي مقصدد دوی تعجیزاوددې بیان دی چې دوی کوم سندنلري نه شرعي دلیل لري اونه هم عقلي منطق، بیا وروسته دیوبل دروغجن داستان بیان کوي کوم چې مشرکانوله خپله ځانه جوړکړی چې وایې دالله ﷻ اودپېریانوترمینځ دتزاوج تړون شوی اوپه نتېجه کې یې پرښتې زېږېدلي دي ﴿ وَجَعَلُوا۟ بَيْنَهُۥ وَبَيْنَ ٱلْجِنَّةِ نَسَبًا ﴾ اوګرزولی دی دغه مشرکانوپه مینځ ددغه (الله) اوپه مینځ دپېریانوکې نسب قرابت (خپلوي) یعني دوی وایې چې الله پاک له پېریانوسره نکاح کړې اوبیاپرښتې زېږېدلي دي (سبحانه وتعالی عمایقولون علواًکبیرا) بیاوایې چې پرښتې اناث (ښځینه) اودالله تعالی لوڼې دي (معاذالله) ﴿ وَلَقَدْ عَلِمَتِ ٱلْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴾ اوخامخاپه تحقیق پوهېږي پېریان چې بېشکه دوی خامخاحاضر کړی شوي دي (دوزخ ته) صاوي وایې چې دغه ددوی په تبکیت اوتکذیب کې زیاتوب دی لکه چې ورته ویل شوي وي دغه پرښتې چې تاسویې تعظیم کاوواودالله لوڼې موبللې ستاسوپه حال ښه خبردی چې ستاسو عاقبت به څنګه کېږي (۲) ﴿ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴾ پاکي ده الله لره له هغو(خبرو) څخه چې دوی یې وایې ﴿ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴾ مګرهغه بندګان دالله چې پاک کړی شوي دي منزه دي (له دغه نسبت کولوڅخه دغه استثناء منقطع ده) ﴿ فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ بِفَٰتِنِينَ إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ

(۱) تفسیرابوالسعود ۴ / ۲۷۸
(۲) حاشیة الصاوي علی الجلالین ۳ /۳۴۸

﴿ٱلْجَحِيمِ﴾ (پس بېشكه تاسو چي يې اوهغه چي تاسي يې عبادت كوى نه ياست تاسي (اى عابدانو او معبودانو په دغه بت پرستي سره په فتنه كي اچونكي دچا) يعني تاسو څوك گمراه كولاى نشى) مګر دهغه چا چي دوزخ ته ننوتونكي دي (په علم د الله كي) اودايې ورته ليكلي دي چي اورته به غورځول كېږي، له دې وروسته الله تعالى دملائكو اعتراف په عبوديت سره داسي بيانوي فرمايي: ﴿وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٌ مَّعْلُومٌ﴾ (اونشته له موږ څني هيڅوك مګرچي ورته مقرردى يوځاى معلوم) يعني زموږهريوې پرښتې ته مرتبه اومنزلت اوعُهده (دنده) معلومه ده چي له هغې څخه تجاوزنه كوي څوک په ارزاقو او روزي گمارل شوي څوک په اجلونو مقرردي څوک بيادوحى لېږدول كوي اودهريودعبادت، تشريف او تقرب منزلت معلوم دى ﴿وَإِنَّا لَنَحْنُ ٱلصَّآفُّونَ﴾ اوبېشكه موږخامخاصف تړونكي يو(په وخت دطاعت كي) ﴿وَإِنَّا لَنَحْنُ ٱلْمُسَبِّحُونَ﴾ اوبېشكه موږ خامخاتسبيح ويونكي يو(دالله) په هروخت اوحال كي په التسهيل كي وايي چي د ملائكوپه دې ويناكي په هغو كسانو باندي رددى چي ويل به يې ملائک دالله لوڼي دي له الله سره شريكاني دي ځكه چي دلته پخپله پرښتې پخپل ځان باندي دعبوديت اوطاعت كولواقراركوي اود الله ﷻ تسبيح اوپاكي بيانوي(١) ﴿وَإِن كَانُوا۟ لَيَقُولُونَ لَوْ أَنَّ عِندَنَا ذِكْرًا مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ لَكُنَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ﴾ (او بېشكه چي وودغه (كفار) خامخاداسي به يې ويل كه چېري بېشكه واى له موږسره ذكر(كوم كتاب) له پخوانيو(كتابونو) څخه نوخامخاموږ به دالله مخلصان بندګان وو) (ان) خفيفه له (انّ) ثقيله څخه اخيستل شوي يعني دوى دقرآن كريم ترنزول له مخي داسي ويل كه چېري په موږباندي د پخوانيوكتابونو څخه لكه تورات اوانجيل كوم كتاب نازل شوى واى نوموږ به تردوى ښه ايمانورباندي راوړى وواوزيات عبادت اواخلاص به مو دالله په وړاندي ښكاره كړى واى خوكله چي قرآن كريم راغى نودوى ورباندي كافران شول ځكه فرمايي ﴿فَكَفَرُوا۟ بِهِۦ﴾ پس كافران شول په دغه (كتاب چي ترټولواسماني كتابونواشرف كتاب دى) ﴿فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ﴾ پس ژردى چي دوى به پوه شي (په عاقبت ددې خپل كفرباندي دغه وعيداوتهديددى) ﴿وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلْمُرْسَلِينَ﴾ اوخامخا پخوالاصادرشوى دى حكم زموږ دپاره دبندګانو زموږمرسلينو ﴿إِنَّهُمْ لَهُمُ ٱلْمَنصُورُونَ﴾ (چي بېشكه دوى هم له دوى سره مددكړى شوى دى) يعني دوى پردښمنانو بريالى كېدونكي دي پدې كي دالله ﷻ هغي ويناته اشاره ده چي ﴿كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِىٓ﴾ (المجادله ٢١) ﴿وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ﴾ اوبېشكه لښكري زموږ خامخاهم دوى بريالياني دي (په كفارو) په دنيااوآخرت كي، په دنياكي په دليل او برهان سره اوپه آخرت كي دجنت په دخول سره مفسرين كرام وايي چي دالله ﷻ مرسته له مؤمنانوسره اكه پكه (حتمي) ده اودغه ددوى ماتي كله كله په ځينو جګړوكي ددوى خپلي كوتاهي پايله

---

(١) التسهيل في علوم التنزيل ٣/ ١٧٧

اوياهم ازموينيت اوابتلاء وي اصلابرى ددوى دى ﴿ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴾ (پس مخ وگرزوه (اى محمده!) له دوى نه تريوه وخته پوري) يعني ترلږ مودې پوري ځني مخ واړوه ترڅوچي د جهاد حکم درته کاووشي ﴿ وَأَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴾ (اوگوره دوى ته پس ژردى چي وبه ويني دوى (خپل انجام) يعني وگوره دوى ته کله چي ورباندي عذاب نازلېږي نودوى به ژردى چي دخپل کفر عاقبت ووينى ﴿ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴾ (استفهام انکاري دى) آياپس په راتلودعذاب زمونږدوى تلوار کوي ؟؛ روايت کاوه شي کله چي داآيت نازل شوچي :﴿ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴾ نودوى ملنډي وبللې اوويل يې کله به وي ؟ نوبيادا پورتنى آيت نازل شوبياالله فرمايي: ﴿ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنذَرِينَ ﴾ پس کله چي نازل شي(عذاب) په ميدان (غولي) ددوى پس بدبه وي صبادوېرول شويو. ددوى عذاب يې له هغه چاسره تشبيه کړېه کوم چاچي دسبا په وخت کي ورباندي لښکري وخېژي اويومخ ايزه يې له مينځه يوسي ﴿ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ وَأَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴾ اومخ وگرزوه (اى محمده) له دوى نه تريوې نېټې پوري او گوره دوى ته پس ژردى چي دوى به ووينى (خپل احوال) دغه تهديديې مکرر راووړ ترڅودرسول الله ﷺ لپاره دادينه اوتسليت وى ﴿ سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴾ پاکي ده رب ستالره (له هرعيبه اونقصانه) چي رب دعزت (قوت غلبې دى) اوپاک دى له هرهغه څېزه چي (مشرکان ورته) نسبت کوي ﴿ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ (اوسلام دى پر(ټولو) مرسلينواستازواوټوله ثناصفت خاص الله لره دى چي رب پالونکى دټولوعالميانودى) يعني اوزمونږله لوري سلام دى په گردوپيغمبرانو او په پيل اوپاى کي حمد اوثنادى رب دگردومخلوقاتوته الله پاک دخپل ځان تنزيه و فرمايله له هغه څه نه کوم چي له ده سره نه ښايي اوکفارو يې ورته نسبت کاووکوم چي پدې سورت کي ددوى ډېري ناکاره ويناوي اونسبتونه بيان شول اوپه پاى کي يې په انبياووباندي سلام اوداالله سبحانه حمدراووړ ترڅوچي بندگانو ته ښوونه اوتعليم وشي......

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادى:

۱-طباق چي ﴿ وَتَذَرُونَ ..... أَتَدْعُونَ ﴾ او ﴿ الْبَنَاتُ.....الْبَنُونَ ﴾ ترمينځ دى.

۲-پرله پسې توبيخ اوتکراريې لکه ﴿ أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ ..... أَمْ خَلَقْنَا الْمَلَائِكَةَ إِنَاثًا ..... مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ..... أَفَلَا تَذَكَّرُونَ..... أَمْ لَكُمْ سُلْطَانٌ مُّبِينٌ ﴾ اودغه گردتوبيخ اوتبکيت دى.

۳ - په څو مؤکداتو سره تاکید ترڅو چي د معنا تحقیق او تثبیت وښيي لکه ﴿ إِنَّهُمْ لَهُمُ ٱلْمَنصُورُونَ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴾ دواړه جملې يې په (ان) او (لام) تاکيد کړی دی.

۴ - تصریحي استعاره چي فرمايي: ﴿ إِذْ أَبَقَ إِلَى ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴾ دهغه وتل چي د پروردګار له اجازې پرته ترسره شوي وو د مريې له تېښتي سره مشابه شول کوم چي د خپل بادار له اذن څخه بغير تښتېدلی وي.

۵ - التفات له خطاب څخه غيبت ته لکه چي په دې آيت کي دی: ﴿ وَجَعَلُواْ بَيْنَهُۥ وَبَيْنَ ٱلْجِنَّةِ نَسَبًا ﴾ اصل خو داووچي ويلي وای چي (وتجعلون) مګر التفات يې دد دې لپاره راوور چي دوی د خطاب وړنه دي دوی د الله له رحمته شړل شوي دي په مخاطب کولو نه ارزي.

۶ - تمثيلي استعاره چي فرمايي: ﴿ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ ﴾ د عذاب نزول يې له هغه لښکر سره مشابه کړکوم چي ناڅاپه د چاپه غولي وروخېژي او پخوايي ورته نصيحتونه کړي وي خودوی منلي نه وي او نه يې جګړې ته ځان چمتو کړی وي ناڅاپه لښکري ورباندي راتاو او بېخ اوبکريې وباسي زمخشري وايي که دغه جمله په داسي تمثيلي توګه نه وای راغلي دغه خوند ، فصاحت او اهميت به يې نه درلود.(۱)

فائده:

ابن ابي حاتم له شعبي څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که څوک په دې خوشحالېږي چي د آخرت په ورځ (داجر) پيمانه بشپړه ورکول شي نو د خپل مجلس په پای کي کله چي ولاړېږي دا آيتونه دي ولولي: ﴿ سُبْحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝ وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ۝ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ (۲).

د الله ﷻ په مرسته د الصافات سورت تفسير بشپړ شو

***

---

(۱) الکشاف ۴/۵۲

(۲) أخرجه ابن ابي حاتم مرسلا وروی موقوفا عن علی رضی الله عنه.

د(ص) سورت مکي او اته اتيا آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

د(ص) سورت مکي او دنورو مکي سورتونو په شان هدف او موخه لري چي د اسلامي عقيدې تادو ايږدي ، په پيل کي په قرآنکريم باندي قسم راغلی هغه قرآن چي په أمي نبي نازل شوی او عجيبه اخبار او نادرپندونه لري قسم افاده کوي چي دغه قرآن برحق او دغه استازی محمد ﷺ رښتونی پيغمبردی ، بياله وحدانيت څخه غږېږي او دمشرکانو انکارراوړي هغوی چي د پيغمبردعوت او بلني په هکله به يې په تعجب کي مبالغه کوله ويل به يې: ﴿ أَجَعَلَ ٱلْـَٔالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ ﴾ .

بيا سورت هغه لوري ته لېږدي چي هلته دمکي کفارو لپاره دنورو مجرمينو او سرکښانو مثالونه راوړي چي هغوی دخپلو نبيانو تکذيب کاوو گمراهي يې غوره کړي وه او بيا وورباندي عذابونه نازل شول سبب يې پخپله ددوی فسادونه او جنايتونه وو.

وروسته دځيني انبياءِ کرامو کيسې درسول الله محمد ﷺ د دلاسايني او ډاډ لپاره راوړي څکه چي هغه ته دمکي کفارو له خوا څخه استهزاء گاني او تکذيب کېدونو د هغه دغمونو او خفگان دليري کولو لپاره يې دداؤد او دهغه دزوی سليمان عليهما السلام کيسه بيان کړه هغوی چي الله پاک ورته نبوت او پاچهي دواړه ورکړي او په ترخ کي يې هغه ازموينتونه چي پردوی دواړو تېرشوي وو بيان کړل وروسته يې دحضرت ايوب عليه السلام دابتلاء ذکروفرمايو او بيا د اسحاق او يعقوب او اسماعيل او ذالکفل عليهم السلام په باب څغلنده يادونه وکړه ترڅو چي دالله ﷻ له خوا پخپلو انبياوو او نېکانو اصفياوو دابتلاء سنت وښيي.

سورت دقدرت او وحدانيت دلائلو ته اشاره کوي چي پدې کائناتو کي دالله ﷻ دبديع صنعت څومره بېلگي شته دغه کائنات چټي او بې مقصده نه دي پيداشوي او خامخا يو بل جهان شته چي هلته به نيکوکار او بدکار ته جزا ورکول کېږي.

دسورت په پای کي داستازي (رسول) اساسي دنده او عُهده بيانېږي کومه چي دگردو رسولانو او پيغمبرانو عليهم السلام يوازني وظيفه ده.

تسميه او نومول:

دغه سورت ته د(ص) سورت وويل شو هغه چي دهجاء له تورو څخه يو توری دی ترڅو داوښيي چي دغه کتاب معجزدی او له دغو تورو څخه منظوم دی کوم چي اولين او آخرين ورباندي گرېږي مگر ددغه معجز کتاب په څېر هيڅوک هيڅ څه راوړلای نشي.

الله تعالى فرمايي: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ صٓۚ وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِي ٱلذِّكۡرِ (١) بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي عِزَّةٖ وَشِقَاقٖ (٢) كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَبۡلِهِم مِّن قَرۡنٖ فَنَادَواْ وَّلَاتَ حِينَ مَنَاصٖ
(٣) وَعَجِبُوٓاْ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡۖ وَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا سَٰحِرٞ كَذَّابٌ (٤) أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ إِلَٰهٗا وَٰحِدًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عُجَابٞ
(٥) وَٱنطَلَقَ ٱلۡمَلَأُ مِنۡهُمۡ أَنِ ٱمۡشُواْ وَٱصۡبِرُواْ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٞ يُرَادُ (٦) مَا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِي ٱلۡمِلَّةِ ٱلۡأٓخِرَةِ إِنۡ هَٰذَآ
إِلَّا ٱخۡتِلَٰقٌ (٧) أَءُنزِلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ مِنۢ بَيۡنِنَاۚ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ مِّن ذِكۡرِيۖ بَل لَّمَّا يَذُوقُواْ عَذَابِ (٨) أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَحۡمَةِ رَبِّكَ
ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡوَهَّابِ (٩) أَمۡ لَهُم مُّلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۖ فَلۡيَرۡتَقُواْ فِي ٱلۡأَسۡبَٰبِ (١٠) جُندٞ مَّا هُنَالِكَ مَهۡزُومٞ مِّنَ
ٱلۡأَحۡزَابِ (١١) كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَعَادٞ وَفِرۡعَوۡنُ ذُو ٱلۡأَوۡتَادِ (١٢) وَثَمُودُ وَقَوۡمُ لُوطٖ وَأَصۡحَٰبُ لۡـَٔيۡكَةِۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَحۡزَابُ
(١٣) إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ (١٤) وَمَا يَنظُرُ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ مَّا لَهَا مِن فَوَاقٖ (١٥) وَقَالُواْ
رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبۡلَ يَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ (١٦) ٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَا دَاوُۥدَ ذَا ٱلۡأَيۡدِۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ (١٧) إِنَّا سَخَّرۡنَا ٱلۡجِبَالَ
مَعَهُۥ يُسَبِّحۡنَ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِشۡرَاقِ (١٨) وَٱلطَّيۡرَ مَحۡشُورَةٗۖ كُلّٞ لَّهُۥٓ أَوَّابٞ (١٩) وَشَدَدۡنَا مُلۡكَهُۥ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحِكۡمَةَ وَفَصۡلَ ٱلۡخِطَابِ
(٢٠) ۞ وَهَلۡ أَتَىٰكَ نَبَؤُاْ ٱلۡخَصۡمِ إِذۡ تَسَوَّرُواْ ٱلۡمِحۡرَابَ (٢١) إِذۡ دَخَلُواْ عَلَىٰ دَاوُۥدَ فَفَزِعَ مِنۡهُمۡۖ قَالُواْ لَا تَخَفۡۖ خَصۡمَانِ بَغَىٰ
بَعۡضُنَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فَٱحۡكُم بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَلَا تُشۡطِطۡ وَٱهۡدِنَآ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلصِّرَٰطِ (٢٢) إِنَّ هَٰذَآ أَخِي لَهُۥ تِسۡعٞ وَتِسۡعُونَ نَعۡجَةٗ وَلِيَ نَعۡجَةٞ
وَٰحِدَةٞ فَقَالَ أَكۡفِلۡنِيهَا وَعَزَّنِي فِي ٱلۡخِطَابِ (٢٣) قَالَ لَقَدۡ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعۡجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِۦۖ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡخُلَطَآءِ لَيَبۡغِي بَعۡضُهُمۡ
عَلَىٰ بَعۡضٍ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَقَلِيلٞ مَّا هُمۡۗ وَظَنَّ دَاوُۥدُ أَنَّمَا فَتَنَّٰهُ فَٱسۡتَغۡفَرَ رَبَّهُۥ وَخَرَّۤ رَاكِعٗاۤ وَأَنَابَ ۩
(٢٤) فَغَفَرۡنَا لَهُۥ ذَٰلِكَۖ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ (٢٥) يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱحۡكُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ
بِٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلۡهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا نَسُواْ يَوۡمَ ٱلۡحِسَابِ
(٢٦) ﴾ ص: ١ ـ ٢٦

لغتونه:

(عزة) تکبراو لويې ته وايې چې دحق له منلو غاړه غړوي او اصل يې له غلبې او قهرڅخه دى چې وايې: (من عزّ بزّ) يعني چې زور آورشو نوبريالى شو (شقاق) مخالفت ته وايې (مناص) دپناه ځاى اوفرياد اورېدلو ته ويل کېږي (عجاب) وروستي پړاو دتعجب ځاى ته رسېدل خليل وايې چې دعجيب معناتعجب کول اوعجاب بياهغه چې دتعجب له حدڅخه يې تجاوزکړى وي (١) (اختلاق) کذب اوافتراء ته وايې (فواق) استراحت ته وايي اوپه اصل کي هغي وقفې ته وايه شي چې دشيدو لوشلوترمينځ يې کوي ترڅوېې خوسى شيدې وروي اوبياشيدې وزېږي اولکه چي الله فرمايې ﴿مَا لَهَا مِن فَوَاقٖ﴾ يعني نشته ورلره

(١) القرطبي ١٥/ ١٥٠

مهلت ، راحت (١)(قطنا) برخه زمونږ (قط) برخي اوونډي ته وايي (الايد) په عبادت اوطاعت کي قوت ته ويل کيږي (سورا) په دېوال وروختل څکه (سور) دېوال ته وايه شي (تشطط) دلغت علماء وايي چي شطط له حدڅخه تجاوزکولوته وايې اواصل يې له بعد(ليري والي) څخه اخيستل شوی چي وايې: (شطت الدار) يعني سرای ليري شو.

تفسير:

﴿ صٓ ﴾ دغه توري له هجائي توروڅخه يو توري دی اوپدې هکله بيان څوځله پخواتېرشوی چي پدې تورو کي دقرآنکريم اعجازته اشاره ده ﴿ وَٱلْقُرْءَانِ ذِى ٱلذِّكْرِ ﴾ (قسم دی په قرآن چي خاوند دپند ، ستر شرف اوعظمت دی) دغه لوړه ده چي الله ﷻ قسم کوي په دغه مجيد قرآن اوځواب دقسم محذوف دی هغه دا چي دغه قرآن معجز اومحمد ﷺ صادق اورښتونی دی. ابن عباس وايي چي د ﴿ ذِى ٱلذِّكْرِ ﴾ معناد شرافت خاوند دی(٢) ﴿ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى عِزَّةٍ وَشِقَاقٍ ﴾ بلکه هغه کسان چي کافران شوي دي په کبر سر کښي کي دي (دحق له منلو) اوپه مخالفت کي دي (له مسلماني سره) بيضاوي وايې معناداچي هغه کسان چي په قرآنکريم کافران شوي په قرآنکريم کي د کوم خلل له کبله نه دي کافران شوي چي دوی په قرآن کي موندلی دی بلکه له حق څخه په استکبار او سرکشي يې کفرغوره کړی اوهمداسي دالله او رسول سره يې دمخالفت کولو په سبب کفرپه ځان منلی دی (٣) ﴿ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّن قَرْنٍ ﴾ (نه ګوري منکران چي) څومره ډېر هلاک کړي دي موږ پخواله دې له اهل دزمانې څخه (چي له حق څخه يې تکبر کاوواوله پيغمبرانوسره يې دښمني لرله . ابوالسعود وايې چي دغه آيت دمکي کفارولپاره ګوت ځنډنه اووعيددی چي که دوی هم دنوروأمتونو په شان کفر اواستکبارکوي هغه څه به ورته ورسېږي چي پخوانيوته رسېدلي وو(٤) ﴿ فَنَادَوا۟ وَّلَاتَ حِينَ مَنَاصٍ ﴾ پس ناري به يې وهلې (په وخت دنزول د عذاب کي) حال داچي نه به ووهغه وخت دخلاصېدلو(اوتښتېدلو) ابن جزي وايې معناداچي دغه اهل دزمانې چي هلاک شوی دی دوی به هغه وخت استغاثه کوله اوناري به يې وهلې کله چي به يې ورته ګټه نه رسوله هغه وخت به دتېښتي نه وو (ناص ينوص) د(فرّ يفرّ) په معنادی (لات) د(ليس) په معنا دی اصل يې لانافيه اوتادتانيث ورباندي زياته شوي ده (٥) ﴿ وَعَجِبُوٓا۟ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ ﴾ (اوتعجب کوي) (کفار) له دې نه چي راغلی دی دوی ته (نبي) وېرونکی له دوی نه) يعني مشرکان له دې څخه تعجب کوي چي محمد ﷺ ورته مبعوث شوی دی دوی استبعادکوي چي بشرڅرنګه پيغمبر کېدای شي؟ ﴿ وَقَالَ ٱلْكَـٰفِرُونَ

---

(١) الصحاح للجوهري

(٢) مختصرابن کثير ٣ /١٩٢

(٣) البيضاوي ٢ /١٤٢

(٤) أبي السعود ٤ /٢٨١

(٥) التسهيل في علوم التنزيل ٣ /١٧٩

﴿هَٰذَا سَٰحِرٌ كَذَّابٌ﴾ او وایې داکافران (دمکي) چي دغه (وړونکی نبي چي معجزې راوړي) کوډګردروغجن دی ﴿كَذَّابٌ﴾ زیات دروغجن دی چي داسي دعوی کوي هغه دالله استازی دی، دلته یې اسم ظاهر چي ﴿ٱلْكَٰفِرُونَ﴾ دی دضمیرپرځای راوړی ترڅوددوی کفر پردوی ولیکل شي اوددوی ذم څرګنداودالله غضب پردوی واورول شي څکه دغسي تور اوتهمت پرته له داسي کسانوچي په کفراوفسق کي له نوکانوترککری غرق وي بل څوک نه کوي ﴿أَجَعَلَ ٱلْءَالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا﴾ آیاده ګرزولي دي دغه (۳۶۰) معبودان یو(الله) یعني آیادی ګمان کوي چي معبودپروردګار یودی لااله الاهو؟ ﴿إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ﴾ (بېشکه دغه (ګرزول دډېرومعبودانویوه ته) خامخایو څېزډېر عجیب دی)یعني داچي محمد ﷺ وایې چي پرته له یوه الله بل معبودنشته دغه یوډېرعجیب څېزدی. ابن کثیر وایې چي مشرکانوله دې څخه انکارکاوو چي الله دي یووي اوله دې څخه یې تعجب کاووکه څوک له الله سره شریک نه نیسي څکه دوی ته دغه شریک نیول له آباوو، اجدادوڅخه په میراث رسېدلی اوپه زړونو کي یې ځای نیولی ووکله چي رسول الله ﷺ توحیدته راوبلل نودوی ته دغه ډېره لویه بدي او تعجب وبرېښېدو اوداسي یې وویل: ﴿أَجَعَلَ ٱلْءَالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ﴾ (١). مفسرین کرام وایې چي قریشوغونډه وکړه اوابوطالب یې راوغوښت ورته یې وویل چي وراره ته دي ووایه چي له موږڅخه لاس واخلي هغه زموږ ددین عیبونه وایې معبودان موبدګڼي زموږافکاراو سوچونه پوچ بولي نوابوطالب هغه ﷺ راوباله اوپدې هلکه یې ورسره خبري وکړې رسول الله ﷺ ورته وویل: (ای تره زه له دوی څخه یوه کلمه غواړم چي پدې سره به عجم هم ددوی شي اوعرب به هم ورته تابع شي) نو ابوجهل اومشرکانوووویل (موږ به له دغي یوې کلمې سره لس نوري لاهم ومنو) نورسول الله ورته وفرمایل: (قولوالااله الاالله) دلته دوی توربدلي (ترهېدلي) پاڅېدلواوجامې یې وڅنډلې اوداسي یې وویل: ﴿أَجَعَلَ ٱلْءَالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا﴾ نوداآیت شریف نازل شو (٢) چي ﴿وَٱنطَلَقَ ٱلْمَلَأُ مِنْهُمْ أَنِ ٱمْشُوا۟ وَٱصْبِرُوا۟ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمْ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ يُرَادُ﴾ اولاړل په تلوارسره مشران ددوی نه (له غونډي چي یوبل ته یې سره ویل) چي ځئ (پاځئ له دې ځایه) او صبروکړئ (محکم اوسئ) پر(عبادت د) معبودانو خپلو بېشکه دغه شی (توحید) خامخایوشی دی چي اراده یې کړی شوي ده (له موږ څخه) یعني ددې خبري دمنلوپه صورت کي محمد غواړي له دین څخه مو واړوي اوخپله سرداري او مشرتوب درباندي وتپي ګورئ چي پیروي یې ونکړی (٣) ﴿مَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِى ٱلْمِلَّةِ ٱلْءَاخِرَةِ﴾ (ندی اورېدلی موږدغه (توحید) په وروستني دین) کي یعني موږ په نصرانیت کي هم وحدانیت ندی اورېدلی کوم چي تر ګردو وروستنی دین دي هغوی

---

(١) مختصرابن کثیر ۳/ ۱۹۷

(٢) الطبري ۲۳/ ۷۹ - البحرالمحیط ۷/ ۳۸۲

(٣) داهغه معناده چي ابن جریر کړي اوڅرګنده ده اونوري معناګاني هم شته چي کولای شي دابوالسعودپه تفسیرکي یې ولولئ ۴/ ۳۸۳.

د(تثلیث) عقیده لري او توحید نه مني نو بیا محمد ﷺ څرنګه ګمان کوي چي الله یو دی ؟ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي ددوی مقصد له وروستني دین څخه نصرانیت دی او مجاهداو قتاده بیا وايي چي له دې څخه ددوی مراد د قریشو دین دی هغه چي د دوی د پلرونو دین وو ﴿ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا ٱخْتِلَٰقٌ ﴾ نه دی دغه (توحید) مګر له ځپله ځانه جوړکړي شوي دروغ دي (چي محمدیې دعوی کوي ، او بیا ددوی) له مینځه دعلیه السلام په اختصاص او ځانګړتیا د وحی لپاره داسي انکارکوي چي ﴿ أَءُنزِلَ عَلَيْهِ ٱلذِّكْرُ مِنۢ بَيْنِنَا ﴾ (آیا نازل شوی دی پر دغه (محمد) دغه ذکر قرآن زموږ(غټانو) له مینځ نه ؟ استفهام دانکار لپاره یعني آیا دغه قرآن په محمد نازل شو سره له دې چي په موږکي ترده په مال دولت او مشرتابه کي زیات نورکسان شته ؟ زمخشري وايي چي دوی دځپلو مشرانو له مینځه داختصاص په توګه د محمد ﷺ له شرافته منکرشول او دغه انکار ددوی دهغي کینې او حسد څخه ګواهي ورکوي کوم چي ددوی له مینځه څخه محمد رسول الله ته دنبوت منصب ورکول شوی وو(١) ﴿ بَلْ هُمْ فِى شَكٍّ مِّن ذِكْرِى ﴾ بلکه دوی په شک کي دي له ذکره قرآنه پنده زما(بل څه سبب نلري) دغه اضراب له مقدرڅخه دی تقدیریې داچي ددوی انکارد کومي پوهي او علم له مخي نه دی بلکه دوی شکمن دي ځکه کافران شول ﴿ بَل لَّمَّا يَذُوقُوا۟ عَذَابِ ﴾ بلکه ندی څکلی دوی عذاب زما) دغه انتقالي اضراب دی یعني دوی ځکه شکمن دي چي زما عذاب یې تراوسه ندی څکلی او که یې څکلی وای نو خامخا به یې په قرآن باورکړی وو ایمان به یې راوړی وو ﴿ أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ ٱلْعَزِيزِ ٱلْوَهَّابِ ﴾ (آیا ددوی په نزد دي خزانې د رحمت درب رښتیا چي د هرغالب قوي ، ښه بښونکی دی؟) دغه په مشرکانو باندي رد دی ځکه چي دوی درسول الله ﷺ په نبوت باندي له اختصاص څخه انکارکوي یعني دالله درحمت دخزانو واکداران خو دوی نه دي چي چاته یې خوښه شي نبوت به ورکوي او چاته چي یې خوښه شي له هغه څخه به یې منع کوي بیضاوي وايي معناداچي نبوت یو الهي عطیه ده چي په هر چا یې الله پېرزو کړي هغه ته یې ورکوي ځکه هغه ﴿ ٱلْعَزِيزِ ﴾ زورور الله دی ﴿ ٱلْوَهَّابِ ﴾ ښه بښونکی دی هرڅه چي هرچاته وغواړي ورکوي یې (٢) ﴿ أَمْ لَهُم مُّلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ﴾ آیا دوی لره دی سلطنت دآسمانونو او ځمکي او دهغو ګردو شیانو چي په مینځ ددغو کي دي؛ (دغه استفهام لپاره دانکار او توبیخ دی) ﴿ فَلْيَرْتَقُوا۟ فِى ٱلْأَسْبَٰبِ ﴾ پس ودی خېژي دوی (آسمان ته) په اسبابو(رسونکیو) سره (اودکائناتو چاري دي پرمخ بوزي دغه پردوی باندي تهکم او استهزاء ده: زمخشري وايي چي په خورا ښه ډول ورباندي تهکم شوی دی معناداچي که دوی دخلګو دچارو دسمبالښت وړوي او د الله درحمت وېش ددوی په اختیارکي وي او دوی دهغه حکمت خاوندان وي چي څوک له نبوت سره ښه وړدی نودي په هغوزینو آسمان ته وخېژي چي دوی عرش ته ورسوي ترڅو له هغه ځایه دخلګو کړن چاري پرمخ بوزي او هغه چاته وحی راواستوي چي ددوی غوره وي دغه په استهزآء کي

(١) تفسیر الکشاف ۴ / ۵۲
(٢) البیضاوي ۲ /۴۲

وروستني پړاودى (۱) ﴿ جُندٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِّنَ ٱلْأَحْزَابِ ﴾ دوى خويو لښكر گوټى دى په دغه ځاى كي چي ماتي وركړي شوي ده له هغو ډېرو لښكروڅخه؛ په (جند) كي تنكير لپاره د تقليل او تحقيردى او (ما) د لړوالي دتاكيد لپاره راغلى يعني دوى دهغو ډېرو كفاروچي دالله په پيغمبرانو يې چپاو راوړى يو ډېر كوچنى ټولگى دى چي ژردى ماتي به خوري او تښتنه به كړي په دوى پروامكوه چي هرڅه وايي اومه د دوى اپلتي اوچتيات داهميت وړ گڼه، وروپسې الله تعالى ددوى د مخكښانو هلاكت اوعذاب داسي بيانوي ﴿ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ ذُو ٱلْأَوْتَادِ ﴾ تكذيب كړى وو پخواله دوى نه قوم دنوح او (قوم د) عاد او (قوم) دفرعون چي خاوند د مېخونو وو (يادزياتو لښكرو وو. ځيني مفسرين كرامو ويلي چي (ذوالاوتاد) يې ځكه بولي چي دسړي به يې لاس او پښې په مېخونوټک وهل او بيابه يې ووا ژو او ځيني بياوايي چي معناداچي هغه داهرامونو اوسترو ماڼيو خاوندووهغه چي په ځمكه كي به لكه مېخونه ټينگ اوثابت وو(۲) ﴿ وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ وَأَصْحَابُ لْـَٔيْكَةِ ﴾ اوقوم دثمود او (قوم د) لوط او خاوندان دځنگله (چي شعيب ﷺ ورته را استول شوى وو (الأيكة) گڼو اوتيتو ونوته وايي ﴿ أُولَٰٓئِكَ ٱلْأَحْزَابُ ﴾ دغه كسان (همغه) لويي لويي ډلي (اولښكري) دي (چي په خپلوانبياوو يې چپاو راوړى وو الله ﷻ هلاک كړل نودغه اوسني د محمدرسول الله مكذبين دي وو ډېر ېږي چي دوى ته به هم هغه څه ورسېږي كوم چي ددوى اسلافوته رسېدني وو ﴿ إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ ﴾ نه ده (هره يوه ددغو ډلو) مگرنسبت د دروغويې كړى وورسولانو (دالله) ته (كوم چي دوى ته استول شوي وو ﴿ فَحَقَّ عِقَابِ ﴾ پس ثابت شو (دوى ته) عذاب زما؛ ﴿ عِقَابِ ﴾ په اصل كي (عقابي) وو اويايې دآيتونو د سجع د مراعات لپاره حذف كړه شوي ده ﴿ وَمَا يَنظُرُ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً ﴾ اوانتظارنه كوي دغه كسان (د مكې كفار) مگريوې چيغي ته (چي اسرافيل ﷺ په شپېلۍ كي پوكړي) ﴿ مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ ﴾ (چي نشته هغې ته هيڅ ډيل بيرته گرزېدل) يعني هغې لره توقف اوتكرارنشته. ابن عباس ﷺ وايې چي بيرته گرزېدل ورلره نشته (۳) مفسرين كرام وايې چي دغه چيغه كله پېښه شي بيا نو يوه شېبه هم نه وروسته كېږي كه څه هم هغه داوښي دلوشلو ترمينځ وقفه غوندي وي ځكه دابه پخپل ټاكلي وخت كي راځي زمخشري وايي معنا داچي دابه يوپو كى وي نه به دوه كېږي اونه به تكرار ېږي (۴) ﴿ وَقَالُوا۟ رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ ٱلْحِسَابِ ﴾ اووايې (كفارد (تمسخرپه توگه) اى زموږ ربه ژر راكړه موږ ته برخه (د عذاب) زموږ

---

(۱) الكشاف ۴/ ۵۷

(۲) له ضحاک څخه نقل شوي چي اوتاد سترو ماڼيو ته ويل كېږي اودغه خبره ابن عطيه هم منلي اوزمخشري وايې چي دغه دپاچهي دثبات اوټينگښت څخه استعاره ده لكه چي أسود وايې (في ظل ملک ثابت الاوتاد).

(۳) الطبري ۲۳/ ۸۴

(۴) الكشاف ۴/ ۵۹

پخواله ورځي د حساب (هغه چي تاپې له موږ سره وعده کړي لکه چي محمد وايي مفسرين کرام وايي چي دغه به دوی داستهزاء په ډول ويل لکه چي الله تعالی فرمايي ﴿ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالسَّيِّئَةِ ﴾ (الرعد:٦) ﴿ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ ﴾ (العنکبوت ۵۳) ﴿ اصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ ﴾ (الله فرمايي) صبر تحمل كوه (اى محمده!) پرهغې خبري چي دوی وايي (تاته) يعني ددوی په تکذيب باندي صبر کوه الله ستا مرستندوی دی صاوي وايي چي پدې کي درسول الله ﷺ لپاره تسليت او دکفارو لپاره تهديد نغښتی دی (١) ﴿ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُودَ ذَا الْأَيْدِ ﴾ اوياد كړه (كيسه) دبنده زموږ داؤد خاوند دقوت (په دين او تن کي ځکه هغه به يوه ورځ روژه نيوله بله به يې افطار کاوو نيمه شپه به يې تيروله په عبادت تېروله ﴿ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴾ چي بېشکه دی ډېر رجوع کونکی وو. ابوحيان وايي څرنګه چي دمشرکانو وينا د دين دسپکاوي او استخفاف لپاره وه نو الله ﷻ رسول الله ته دزغم او صبر حکم وکړ او دانبياوو عليهم السلام کيسې يې ورته بيان کړې چي هغوی داؤد، سليمان او ايوب او نور وو چي هغوی ته څومره تکليفونه رسېدلي او هغوی صبراو زغم خپل کړی وو بيا يې ښه او محمود عاقبت وموندو همداسي ته هم صبر کوه چي ښه پايله ومومې (٢) ﴿ إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ ﴾ (بېشکه چي موږ تابع مسخر کړي وو غرونه له دغه (داؤد) سره چي تسبيح به يې ورسره ويلې په آخره او لومړۍ برخه دورځي کي) يعني په ماښام او سهار کي به يې ورسره حقيقتا تسبيح ويله لکه چي الله تعالی فرمايلي دي ﴿ يَا جِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ ﴾ (سبا ١٠) ﴿ وَالطَّيْرَ مَحْشُورَةً كُلٌّ لَهُ أَوَّابٌ ﴾ او (بل تابع او مسخر کړي وو موږ) مرغان حال دا چي ټول کړی شوي به وو (صفونه صفونه هريو (له دوی) به ده ته رجوع کونکي وو (په طاعت سره) يعني دغه غرونه او مرغان به له ده سره تسبيح زمزمه کول او دالله طاعت ته به رجوع کونکي وو ابن کثير وايي چي مرغانو به دده له تسبيح سره سمه تسبيح لوستله او چي کله به يې داؤد ﷺ وليد چي دزبور تلاوت کوي (او دوی به په هوا الوتي وو) نو به ودرېدل او هغه به يې ورسره وايو او همداسي به غرونه ورسره په تسبيح کي مشغولېدو قتاده وايي چي ﴿ أَوَّابٌ ﴾ يعني فرمانبردار (منونکی) (٣) ﴿ وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ ﴾ او قوي کړی موږ ملک سلطنت ددغه (داؤد په هيبت، نصرت او زيا تو لښکرو سره) ﴿ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴾ او ورمو کړ ده ته حکمت (نبوت، تدبير د ټولو امورو) او فصل الخطاب) يعني روښانه وينا چي هر څوک پرې پوهېږي (٤) مجاهد وايي چي ﴿ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴾ په حق سره ښه فيصله کول او پرې پوهېدلو ته وايي. قرطبي وايي

---

(١) حاشية الصاوي ٣/٣٥٣

(٢) البحرالمحيط ٧/٣٩٠

(٣) مختصرابن کثير ٣/

(٤) دغه دزمخشري وينا ده او ابن عطيه غوره کړي دالله جل جلاله پدې قول يې استناد کړی چي (انه لقول فصل) او طبري بيا وايي چي دغه روښانه کلام په حکم محاوره او خطابت کي دی.

معنایې دحق اوباطل ترمینځ فیصله کونکې کلام دی (١) مفسرین کرام وایې چې حضرت داؤدغښتلی اوعزتمن سړی وواودهغه سیاست په متانت اوحکمت ولاړوو هغه چې به کومه پریکړه کوله په هغه کې یې هیڅکله بیاترددنه کاووتل به یې له حکمت او قوت سره سمه پریکړه کوله اودغه په پاچهۍ اوسلطنت کې بریمند کمال اوبشپړتیاده ﴿ وَهَلْ أَتَىٰكَ نَبَؤُا۟ ٱلْخَصْمِ إِذْ تَسَوَّرُوا۟ ٱلْمِحْرَابَ ﴾ اوآیاراغلی دی تاته (ای محمده!) خبردجګړه کونکو کله چې راوختل (پس له دېواله د) عبادت خانې) دغه استفهام دتشویق اوتعجیب لپاره دی لکه چې څوک یوچاته وایې آیا ته پوهېږې نن څه پېښه شوي ده؟ اوستا مقصد دهغه تشویقول وي چې ستاخبرې واوري یعني ته خبر یې چې کله داؤد پخپل مسجدکې په طاعت اوعبادت بوخت وو اوهغه ته په دېوال متخاصمین ور واوښتل؟ ﴿ إِذْ دَخَلُوا۟ عَلَىٰ دَاوُۥدَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ ﴾ کله چې ننوتل (ټول) پرداؤدباندې (اوده ولیدل) پس ووېرېدو له دوی نه مفسرین کرام وایې چې داؤد علیه السلام ځکه څنې ووېرېدوچې بې اجازې وردننه شول پردروازه هم نه راغلل بلکه په دېوال ورواوښتل اوداهغه مهال ووچې ده دعبادت لپاره ځانته ټاکلی وو ﴿ قَالُوا۟ لَا تَخَفْ ۖ خَصْمَانِ بَغَىٰ بَعْضُنَا عَلَىٰ بَعْضٍ ﴾ وویل دوی مه وېرېږه (موږدوه ډلې) جګړه کونکي یوچې ظلم کړی دی ځینوزموږ پرځینو نورو ﴿ فَٱحْكُم بَيْنَنَا بِٱلْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ ﴾ پس حکم وکړه په مینځ زموږکې په حق سره اوظلم مه کوه (پرموږ باندې) ﴿ وَٱهْدِنَآ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلصِّرَٰطِ ﴾ اوبرابرکړه موږ سمې لارې (دحق څرګندې ته) ﴿ إِنَّ هَٰذَآ أَخِى لَهُۥ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِىَ نَعْجَةٌ وَٰحِدَةٌ ﴾ بېشکه چې دا(سړی) وروزمادی ده لره نه نوي مېږې دي اومالره یوه مېږه ده پس مفسرین کرام وایې کېدای شي پدې سره به له مېرمنې څخه کنایه راوړل شوي وي یعني زمایوه مېرمن اودده نه نوي مېرمنې اوښځې دي (٢) ﴿ فَقَالَ أَكْفِلْنِيهَا وَعَزَّنِى فِى ٱلْخِطَابِ ﴾ پس دی ماته وایې چې ماکفیل

(١) القرطبي ١٥/١٢٢

(٢) ځینې مفسرین پدې ځای کې ښځې زیات تېروتلي دي چې پخپلوتفسیرونوکې یې داهل کتابوویناوي پرته له پلټنې اوڅېړنې رانقل کړې دي چې ورباندې باورنشي کېدای اوسندیې سم ندی ځکه دغه اسرائیلي روایات دي اوله اسلامي عقیدې سره کوم چې دانبیاوو علیهم السلام په عصمت باندې ولاړه ده منافي دی له دغوباطلو تپل شوي کیسوڅخه یوهم هغه روایت دی چې وایې داؤد ﷺ دخپل یوجنګي سالارله ښځې سره مینه پیداشوه اولنډه کیسه یې داچې هغه په بام ختلی ووکه ګوري چې یوه ښایسته ښځه لامبې نوورباندې مین شو اودغه دده دیوه قوماندان چې (اوریا) نومېده ښځه وه نویې وغوښتل له اوریاڅخه ځان خلاص کړي ترڅویې ښځه په نکاح واخلي بیایې هغه جنګ ته واستاوو اوحکم یې ورکړ چې پرمختګ دي کوي هغه برې ترلاسه کړ اوبیابیایې خوځله جنګ ته ولېږو ترڅو هغه ووژل شو نویې دهغه مېرمن ځانته په نکاح کړه چې نورهم دروغ اوبهتان پکې لازیات دي، ابن کثیروایې چې مفسرینو دلته داسې کیسې اوداستانونه راوړي چې اکثریې اسرائیلیات دي اوهغه چې اورومرودرواغ دي موږ یې قصداً اله راوړلوڅخه ډډه وکړه اوپه قرآني کیسه تلاوت کولو موکفایت وباله .والله یهدي من یشآء الی صراط مستقیم. بیضاوي وایې کوم چې ویل شوي (اوریا) یې څوځو واره جنګ ته واستاوو اودپرمخ تګ حکم یې ورکړ ترڅوچې مړشواوښځه یې ده په نکاح واخیسته دغه یودروغ اوافتراء ده اوله دې کبله حضرت علی کرم الله وجهه ویل: څوک چې د(داؤد) ﷺ کیسه داسې کوي لکه چې قصه خوانان یې وایې یوسل اوشپېته دُرې به یې ووهم دغه په انبیاوو باندې ددروغوویلو حددی اوصحیح کیسه لکه چې محققینومفسرین کرامو لیکلي داده چې داؤد علیه السلام خپل وختونه دیومهال وېش له مخې جلاکړي وو ځینې وختونه یې دواکمنې چارې پر مخ بېولې ځینې وخت یې دخلکوفیصلې

کړه ددې يوې (مېږي) ماته يې راکړه) اوغلبه يې کړې ده پرمايه خطاب کې (سختې سختې خبرې يې راته کړي دي) ﴿قَالَ لَقَدۡ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعۡجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِۦ﴾ وويل(داؤد) خامخا په تحقيق چې ظلم کړی دی ده پرتاپه غوښتلو د مېږې ستاچې يو ځای يې کړي) له مېږوخپلو سره (چې پوره سل مېږې يې شي) ﴿وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلۡخُلَطَآءِ لَيَبۡغِي بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٍ﴾ اوبېشکه چې ډېرله شريکانو خامخا ظلم تېری کوي ځينې ددوی په ځينو نورو ﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَقَلِيلٞ مَّا هُمۡۗ﴾ مګر(تېری) نه کوي هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی اوکړي يې (ښه) عملونه اود ډېرزيات لږ دي دغه کسان په مينځ د شريکانو کې ﴿وَظَنَّ دَاوُۥدُ أَنَّمَا فَتَنَّٰهُ﴾ اومتيقن شوداؤد پدې چې بېشکه همداخبره ده چې موږ دي وازمويو(پدې پېښه اودغې فيصلې کې) ﴿فَٱسۡتَغۡفَرَ رَبَّهُۥ وَخَرَّۤ رَاكِعٗاۤ وَأَنَابَ﴾ نوبښنه يې وغوښته له خپله ربه اوپرمخې پرېوت په دغه حال کې چې رکوع ، سجده کونکی وو الله ته اوبيرته الله ته راجع شو(په توبه اوپښېماني سره ابوحيان وايې چې مفسرينوپدې کيسه کې داسې شيان ذکرکړي چې دانبياوو عليهم السلام له منصب سره نه ښايي ځکه موهغه اړخ ته وغورځول اوهغه څه چې آيت شريف ظاهرًا وربانديې دلالت کوي دادی چې دغه کسان چې په دېوال ورواوښتل انسانان وواودوی پداسې مهال ورغلل چې هغه وخت دحکم اوقضا وخت نه بلکه دده دعبادت اوطاعت وخت وواوهغه پدې ځنې ووېرېدوچې ښايي هغوی يې دوژلوتکل کړی وي ځکه هغه يوازې پخپل محراب کې دخپل رب طاعت کاوو اوکله چې ورته څرګنده شوهغوی ددعوی د(دفيصلې لپاره راغلې دي اودوه تنه يې دقضيې دوړاندې کولولپاره راڅرګندشول لکه چې الله تعالى يې کيسه کړې نويې له همدغه ګومان څخه بښنه وغوښته اوالله ته پرمخې په سجده شو ، موږ په يقيني توګه پوهېږو چې انبياء عليهم السلام له ګناهونو څخه معصوم دي که چېرې يوه ګناه دهغوی لپاره ومنوبيانوشريعتونه له مينځه ځي اوموږ به په هيڅ څېزباندې چې دوی يې وايې باورنشوکولای هغه چې الله ﷻ پخپل کتاب کې يې يادونه کړې په هغې چې څرنګه الله غوښتې هغسې ويناکول ښايي اوهغه چې کيسه کونکو قصه خوانانو راوړې اود نبوت له سترمنصب اوشان سره نه ښايي موږ هغه نه

کولې اوځينې وختونه يې دعبادت اوخلوت لپاره ځانګړې کړي ووچې دزبور تلاوت اوپخپل مسجدکې تسبيحات به يې ويل اوکله چې به خپل محراب ته دننه شونوبيابه ترهغوهيڅوک دننه نه ورتلل ځوبه هغه پخپله راوتلی نه وويوه ورځ چې پخپل عبادت لګيادی ګوري چې دوه تنه دده دمسجدپه دېوال وروختل اودی ځني ووېرېدوپه زړه کې يې وروګرزول چې ورباندې حمله وکړي نودوی ژرترژره ځان وروښودچې دوی مدعيان دي ترمينځ يې يوه شخړه ده نويوه يې پيل وکړه اوخپل دعوه يې داسې وړاندې کړه لکه چې قرآنکريم يې بيان کړې دی اودغه قضيه لکه چې دغه يوه بيان کړه ښکاره ظلم اوتجاوز دی چې تأويل نه منې ځکه نوداؤدعليه السلام ددغې دعوی له اورېدلو سره سم فيصله صادروې اوددوهم مدعې خبره يې لااورېدلې نه ده اونه يې ترې غوښتنه کړې ده چې داسې حکم کوي ﴿قَالَ لَقَدۡ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعۡجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِۦ﴾ نو الله ﷻ پدې باندې عتاب ورته وکړاوپدې يې تنبيه کړچې قاضي ته ښايي ترهغوحکم صادرنکړي ترڅوچې ددواړو طرفونو خبرې وانه وري....دغه دقرآن کيسه اوهغه چې اسرائيلي روايات دي چې موږ يې لنډه يادونه وکړه له هغه څخه ويره په کار ده ځکه دغسې کارخوله عوامومسلمانانو سره لانه ښايي څه خوله انبياوو سره اوهغه چې دانبياوو خواص دي.

(څوک چې سالم عقل اوقوي ديانت لري فکردې وکړي).

راوړو (۱) ﴿ فَغَفَرۡنَا لَهُۥ ذَٰلِكَ ﴾ پس وموبښله موږ ده ته هغه (خطادده چي په دغودوو کسانويې بدګماني کړې وه . ابن کثيروايې يعني داچي هغه څه چي له ده څخه صادرشوي وو په هغه مو ورته معافي وکړه کوم چي دهغوپه باب ويل کېږي: (حسنات الابرار سيئات المقربين) يعني لويان په يوه وړوکي ګناه هم پوښتل کېږي ﴿ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴾ اوبېشکه ده ته په نزد زموږ ښته مرتبه (قرابت کرامت وروسته له مغفرته) اوښه ځای دورتلو دی (په آخرت کي) ﴿ يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ ای داؤده بېشکه ګرزولی موېې خليفه په ځمکه کي (چي لوی سلطنت مودرکړی دی ترڅو دخلګودچارواو مصالحو سمبالښت وکړي ﴿ فَٱحۡكُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّ ﴾ پس حکم وکړه په مينځ د خلګوکي په حق سره (په عدل اوالهي شريعت سره چي پرتايې نازل کړې دي) ﴿ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلۡهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ . متابعت مه کوه دهوااونفس (په احکاموکي) پس ګمراه به دي کړي(دغه هوا) دالله له لاري څخه (چي سم دين او سيخه لاره ده) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدُۢ ﴾ بېشکه هغه کسان چي ګمراه کېږي دالله له لاري (چي ايمان نه راوړي) شته دوی ته سخت عذاب (دقيامت دوزخي) ﴿ بِمَا نَسُواْ يَوۡمَ ٱلۡحِسَابِ ﴾ په سبب دهېرولودوی ورځي دحساب لره ځکه که يې نه هېرولای اودالله په لاره تللای نوددغي ورځي لپاره به يې توښه برابره کړي وای ابوحيان وايي داچي الله تعالی داؤد ﷺ په ځمکه کي خليفه ګرزولی دغه دهغه دسترمقام اومنزلت څرګندويې کوي اودهغه چاپه سينه سوک ورکول دي څوک چي په هغه باندي دنبوت له منصب سره سره نامناسب تورونه لګوي

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبيان اوبديع کومي ښکلاوي شته لنديزيې په لاندي ډول دي:

۱ – مرسل مجازلکه چي فرمايي: ﴿ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَبۡلِهِم مِّن قَرۡنٖ ﴾ قرن پېړی ته اوهغه سلوکالوته ويل کېږي خومقصدله پېړی څخه اهل دهغي دی کوم چي هلاکت ورکول شوی دی نودغه مجازبولي.

۲ – دظاهراسم دضميرپرځای راوړل لکه ﴿ وَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴾ چي اصل خوداووچي د(قالوا) راغلي وای مګر(کافرون)يې ظاهر راوړل چي کفرورباندي تثبيت شي.

۳ – دمبالغې صيغې لکه چي په ﴿ كَذَّابٌ .... ٱلۡعَزِيزِ.... ٱلۡوَهَّابِ ....أَوَّابٌ ﴾ کي راغلي دي

۴ – تنوين دتحقيراوتقليل لپاره لکه چي ﴿ مَّا ﴾ دلږوالي دتاکيدلپاره راغلی اوفرمايي:

﴿ جُندٞ مَّا ﴾.

۵ – جمله خبريه په إنّ اولام باندي تاکيدکول چي دتعجب زياتوالي اوانکاروښيي لکه پدې کلام کي

﴿ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عُجَابٞ ﴾ چي راغلی دی.

---

(۱) تفسيرالبحرالمحيط ۳۹۳/۷

۶-بلیغه استعاره چي فرمايي: ﴿وَفِرْعَوْنُ ذُو ٱلْأَوْتَادِ﴾ دلته يې پاچهي له پراخي لويې خېمې سره مشابه کړې چې تناوونه اومراندي په مېږو (مېخونو) چې په ځمکه کې ژور تک وهل شوي تړلي وي اوبادونه يې راکښلای نشي نوپدې کې مکنيه استعاره اود ﴿ٱلْأَوْتَادِ﴾ يادول يې تخييل دی

۷-دطباق صنعت لکه چې فرمايي: ﴿يُسَبِّحْنَ بِٱلْعَشِيِّ وَٱلْإِشْرَاقِ﴾ ځکه مرادورځخه ماښام اوسهار دی

۸-دتشويق أسلوب لکه چې وايي: ﴿وَهَلْ أَتَىٰكَ نَبَؤُاْ ٱلْخَصْمِ﴾ دغه دتشويق اوهڅوني لپاره راغلی دی

۹ -داطناب صنعت پدې کلام کې چې: ﴿وَلَا تَتَّبِعِ ٱلْهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ..﴾ ترپايه پورې

۱۰-دآيتونو دپيل دفواصلو توافق لکه: ﴿إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ.. فَلْيَرْتَقُواْ فِى ٱلْأَسْبَٰبِ.. جُندٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِّنَ ٱلْأَحْزَابِ﴾ هغه چې په کلام کې ښکلا اولذت زياتوي

لطيفه:

ابن کثير رحمه الله روايت کوي چې ابو زرعة يوه ورځ دعبدالملک زوی اميرالمؤمنين وليد ته ورغی ، وليد ورته وويل: چې تاخوقرآن لوستلی اوورباندې پوهېدلي يې آيا له خليفه سره به الله حساب کوي ؟ نوهغه ورته وويل: ای اميرالمؤمنينه زه ووايم؟ هغه ورته وويل هوتاته امان درکول شوی دی نوهغه ورته وويل ای اميرالمؤمنينه ته به په (الله) ګران يې اوکه داؤدعليه السلام ؟ هغه ته الله خلافت اونبوت دواړه ورکړي وواوبيايې په خپل کلام کې دهغه په هکله داسي تهديدبيان کړی چې ﴿يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلْنَٰكَ خَلِيفَةً فِى ٱلْأَرْضِ فَٱحْكُم بَيْنَ ٱلنَّاسِ بِٱلْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلْهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ دآيت ترپايه اوهمدغه يوخورا ښکلی نصيحت اوپندوچې وليدبن عبدالملک واورېدو.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَٰطِلًا ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنَ ٱلنَّارِ ﴿٢٧﴾ أَمْ نَجْعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلْمُفْسِدِينَ فِى ٱلْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ ٱلْمُتَّقِينَ كَٱلْفُجَّارِ ﴿٢٨﴾ كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ
وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢٩﴾ وَوَهَبْنَا لِدَاوُۥدَ سُلَيْمَٰنَ نِعْمَ ٱلْعَبْدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿٣٠﴾ إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِٱلْعَشِىِّ ٱلصَّٰفِنَٰتُ
ٱلْجِيَادُ ﴿٣١﴾ فَقَالَ إِنِّىٓ أَحْبَبْتُ حُبَّ ٱلْخَيْرِ عَن ذِكْرِ رَبِّى حَتَّىٰ تَوَارَتْ بِٱلْحِجَابِ ﴿٣٢﴾ رُدُّوهَا عَلَىَّ فَطَفِقَ مَسْحًۢا بِٱلسُّوقِ
وَٱلْأَعْنَاقِ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَٰنَ وَأَلْقَيْنَا عَلَىٰ كُرْسِيِّهِۦ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ ﴿٣٤﴾ قَالَ رَبِّ ٱغْفِرْ لِى وَهَبْ لِى مُلْكًا لَّا يَنۢبَغِى
لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِىٓ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْوَهَّابُ ﴿٣٥﴾ فَسَخَّرْنَا لَهُ ٱلرِّيحَ تَجْرِى بِأَمْرِهِۦ رُخَآءً حَيْثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَٱلشَّيَٰطِينَ كُلَّ بَنَّآءٍ وَغَوَّاصٍ

﴿ ۞ وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي ٱلْأَصْفَادِ ۞ هَٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۞ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَـَٔابٍ
۞ وَٱذْكُرْ عَبْدَنَآ أَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيْطَٰنُ بِنُصْبٍ وَعَذَابٍ ۞ ٱرْكُضْ بِرِجْلِكَ هَٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَشَرَابٌ ۞
وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرَىٰ لِأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ۞ وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَٱضْرِب بِّهِۦ وَلَا تَحْنَثْ إِنَّا وَجَدْنَٰهُ
صَابِرًا نِّعْمَ ٱلْعَبْدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ۞ وَٱذْكُرْ عِبَٰدَنَآ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ أُوْلِي ٱلْأَيْدِي وَٱلْأَبْصَٰرِ ۞ إِنَّآ أَخْلَصْنَٰهُم بِخَالِصَةٍ
ذِكْرَى ٱلدَّارِ ۞ وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ ٱلْمُصْطَفَيْنَ ٱلْأَخْيَارِ ۞ وَٱذْكُرْ إِسْمَٰعِيلَ وَٱلْيَسَعَ وَذَا ٱلْكِفْلِ وَكُلٌّ مِّنَ ٱلْأَخْيَارِ
۞ هَٰذَا ذِكْرٌ وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَـَٔابٍ ۞ جَنَّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ ٱلْأَبْوَٰبُ ۞ مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٍ
كَثِيرَةٍ وَشَرَابٍ ۞ ۞ وَعِندَهُمْ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ أَتْرَابٌ ۞ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوْمِ ٱلْحِسَابِ ۞ إِنَّ هَٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُۥ
مِن نَّفَادٍ ۞ ﴾ ص: ۲۷ ـ ٥٤

مناسبت:

كله چي الله تعالى دمشركانو انكار له قرآنه ، رسالته ، حشراونشراوقيامته بيان كړ وريسې يې داوۇدعليه السلام كيسه واوروله ترخوچي درسول الله ﷺ لپاره تسليت اوډاډينه وي دلته يې په بعث اونشور باندې دلائل اوبراهين راوړل اوبيايې دقرآنكريم دنزول حكمت په ډاګه كړ وريسې يې دسليمان بن داوۇد كيسه دلوړهدف دبشپړاوي اوتكميل لپاره بيان كړه كوم چي دقرآنكريم دكيسو بيانولوموخه اوهدف دى.

لغتونه

(الباب) دلب جمع اولب ديوشيز مغزته وايې مقصدځني عقلونه دي (الصافنات) هغه آسان چي په دريو پښوولاړ اوڅلورمه يې څه اوچته نيولې وي بولې د(صافن) جمع ده فرآء وايې چي(صافن) دعربو په كلام كي ولاړ آس ته ويل كيږي (الجياد) په منډه اوتګ كي ګرنديوته ويل كيږي مبرد وايې چي(جياد) دجواد جمع دى اوګرندي ځغلېدونكي ته ويل كيږي لكه چي په خلګوكي سخي اوكريم ته جوادوايې[1] (توارت) پټ شو(رخآء) نرم اومنونكى (الاصفاد) داوسپني كړۍ اوطوقونوته يې (صفد) وايې لكه چي په حديث شريف كي راغلي (صُفدت الشياطين) يعني په طوقونووتړل شول (ضغثا) يوموټى خس اوخاشاك چي وچ اولامده سره ګډوي اواصل يې له مختلط شيزڅخه اخيستل شوى لكه چي الله فرمايې: ﴿ قَالُوٓاْ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍ ﴾ (يوسف ۴۴ و الانبيآء۵) ګډوډ خوبونه.

[1] التفسيرالكبيرللرازي ۲۲ /۲۰۴

تفسير:

﴿ وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَٰطِلًا ﴾ اوندي پيدا كړي په باطله سره موږ دغه آسمان او ځمكه او هغه ګردمخلوقات چي په مينځ ددغو دواړو كي دي ﴿ ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ (دغه پيداكول ددغو(په باطله سره) ګمان دهغوكسانودی چي كافران شوي دي) يعني داچي دغه پيدا اينبت دي دكوم حكمت له مخي نه بلكه چټي اوباطل وي دهغوكفاروفجارو ګمان دی چي په بعث اونشور ايمان نلري ﴿ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنَ ٱلنَّارِ ﴾ پس عذاب هلاک خرابي ده لپاره دهغوكسانوچي كافران شوي دي له اوره (چي پكي سوځي به بيا په دغه ګمان باندي داسي توبيخ وركوي چي: ﴿ أَمْ نَجْعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلْمُفْسِدِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ آيا وبه ګرزوو هغه كسان چي ايمان يې راوړی دی اوكړي يې دي ښه (عملونه) په شان دفسادكونكوپه ځمكه كي؟ ﴿ أَمْ نَجْعَلُ ٱلْمُتَّقِينَ كَٱلْفُجَّارِ ﴾ آيا وبه ګرزوومتقيان په شان د بدكارانو؟ (بلكه نه يې ګرزوو) غرض داچي دالله په حكمت كي نېكوكاراوبدكردار برابر نه دی اوپه آيت شريف كي په حشراوجزاء باندي استدلال موجوددی اوهمداسي وعد او وعيد پكي نغښتی دی، الله ﷻ په دې آيت شريف كي دابيان ؤفرمايو چي دالله له عدل اوحكمت سره دانه ښايې چي مؤمنان اوكافران دي برابروګڼي اوچي دغسي ده بيانوارومروجزاء شته چي مؤمن ته دخپل عمل ثواب وركول شي اوكافرته سزاوركړل شي اوسالم عقول هم داغوښتنه اوپردې دلالت كوي چي خامخا جزااومعادشته كله چي موږ وينوظالم ،باغي مالونه زياتېږي اولادونه اونعمتونه وركول كېږي اوچي ومري بياعذاب هم نه وركول كېږي او ياداچي فرمانبردار مظلوم چي له ډېري بېوزلي اوخفګانه ومري نودحكيم عليم ذات حكمت به خامخادهغه اودغه انصاف كوي اوكله چي دلته په دې دنياكي دغه انصاف ورنكړی شي نومعلومه خبره ده چي هلته به هرچاته له خپله عمله سره سمه جزاء اوسزاء وركول شي([1]) وروسته الله ﷻ ددې بيان فرمايې چي مقصد دقرآنكريم له نزول څخه په هغه باندي عمل كول اوتفكردی فرمايې: ﴿ كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ ﴾ (دغه قرآن) يو كتاب بركتناک دی چي نازل كړی مودی هغه تاته (ای محمده!) يعني ای محمده دغه كتاب چي موږ پرتانازل كړی يوعظيم اوجليل كتاب دی ډېري ګټي اودينې دنيوي ښېګڼي لري ﴿ لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ ﴾ لپاره ددې چي فكروكړي په آيتونودده (چي عجيب اسرار اوسترحكمتونه لري)﴿ وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ اولپاره ددې چي پند پرې واخلي خاوندان دصافوعقلونو. حسن بصري رحمه الله وايې: قسم په الله دی هغه چادقرآن تدبر ندی كړی چي په لفظونويې لوستی اواحكام يې تر پښولاندي كړي وي يوڅوک وايې چي قسم په الله ما قرآن ټول لوستلی يوتوری مي هم پرې اينبی نه دی خوپه الله سوګند چي ټول قرآن يې پرې اينبی ځكه چي په اخلاقو اوعمل كي يې دقرآنكريم هيڅ ننبه

([1]) تفسيرابن كثير ۳/ ۲۰۲

نه ښکاريږي(۱) اللهم اجعلنا ممن قرأه وتدبره وعمل بمافيه آمين) ﴿وَوَهَبْنَا لِدَاوُودَ سُلَيْمَانَ﴾ اوومو بانښه داؤدته سليمان، دغه دداؤد عليه السلام دزوی سليمان ﷺ دکيسې پيل دی يعني هغه ته مو صالح زوی چي سليمان نوميده وروبانښه اونبوت مو ورکړ. مفسرين کرام وايې چي مقصد په ښښلوسره دنبوت ښښل دي لکه چي الله فرمايي: ﴿وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُودَ﴾ (النمل ۱۲) يعني له داود ﷺ څخه سليمان ﷺ ته دنبوت ميراث پاتي شواوکه دغسي نه وي نود داؤد ﷺ خونوروړ اولادونه هم وو ﴿نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ﴾ ښه بنده ووبېشکه چي دی ډېر رجوع کونکی دی (الله ته په توبه او انابت سره) ﴿إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصَّافِنَاتُ الْجِيَادُ﴾ کله چي وړاندي شوپرده باندي په آخردورخي چي هغه ګرندي خاص آسونه (په دريوپښو ولاړاوديوې سوې نوک يې په ځمکه لګولی) امام رازي وايې چي دغه آيان يې په دووصفتونو وښتايل يوداچي (صافن) هغه چي دآسونو په فضيلت اوبهتري دلالت کوي بل (جياد) هغه چي ګرندي وي مقصد له دې څخه دهغوی فضيلت او کمال ځرګندول دي چي هغه که ولاړوي اوکه روان خوراغوره دی په درېدلوکي مطمئن او آرام ولاړ وي په تللوکي خوراګرندي وي(۲) ﴿فَقَالَ إِنِّي أَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَن ذِكْرِ رَبِّي﴾ نو وويل (سليمان) بېشکه زه چي يم غوره مي کړه مينه دآسونو په ذکردرب خپل ﴿حَتَّىٰ تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ﴾ ترڅوچي پټ شولمرپه پرده کي. مفسرين کرام وايې چي: په زرونو آسان کوم چي له خپله پلاره ورته پاتي وو دده په مخکښي وځغلول شول دغه دمازيګروخت ووچي دی دهغوآسونوپه کتلواودهغوی په ځغاسته باندي دمازيګردوخت له خاص ذکرڅخه مشغوله کړترڅوچي لمرډوب شو ﴿رُدُّوهَا عَلَيَّ﴾ (بياوويل سليمان) بيرته راولئ دغه آسونه ماته ﴿فَطَفِقَ مَسْحًا بِالسُّوقِ وَالْأَعْنَاقِ﴾ (پس شروع وکړه سليمان په وهلوددې آسونو(په توره) پنډيواوغاړو) يعني دثواب لپاره يي دهغوی په حلالولو اوپښو پرېکولو شروع وکړه ترڅوټول خيرات کړي اوپه مسکينانويې ووېشي، دغه وينا سدي ده اوهغه څوک چي وايي له ده څخه دمازيګرلمونځ قضاشولمرځني پرېوت دغه وينا ضعيفه ده ځکه دنبي له حاله څخه ددې تصور نه کېږي چي په دنيوي کارونوکي دي ورڅخه لمونځ پاتي شي اوآيت شريف هم په ذکر تصريح کوي چي فرمايي ﴿عَن ذِكْرِ رَبِّي﴾(۳) ﴿وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَانَ وَأَلْقَيْنَا عَلَىٰ كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ﴾ (اوخامخاپه تحقيق ازمويلی دی موږ سليمان اوغورځولی موږ پرتخت دده يوجسد(بې روحه) بياده (الله ته) رجوع وکړه) دغه ديوبل ازموينت لورته اشاره ده ښايي چي دغه

(۱) الکشاف ۴/۷۰

(۲) تفسيرالکبيرللرازي ۲۶/۲۰۴

(۳) له ابن عباس رضی الله عنهماڅخه روايت شوی چي (طفق مسحابالسوق....) معنادهغوله ډېري ميني اومحبته دهغوآسانودورمېږونو اوپنډيوپه صافولومصروف شودغه قول ابن جرير غوره کړی خوښه ښکاره دحسن بصري رحمه الله قول دی اودسدي ويناموږ بره ذکرکړه چي هغه يې حلال اوپښې يې ورپرې کړي ځکه چي دالله له ذکره يې مشغول کړی وو اوبياالله ترد غوښه عوض اوبدل ورکړ چي هغه باد،او ترآسونو خوراګرندی وو.

ابتلآء هغه وي چې په صحيح حديث کې هغه چې ابوهريرة ﷺ يې له رسول الله ﷺ څخه روايت کړی راځي چې رسول الله وفرمايل: چې سليمان ﷺ وويل: قسم دی زه به نن شپه دخپلو اويانبځوکره ځم اوزماهريوه ښځه به يويوهلک وزېږوي اوهغه به بيادالله په لار کې مېړنی مجاهدوي خو(انشآء الله) يې ونه ويل اوله هغوی سره يې مباشرت وکړ له ګردوڅخه يوه هم اميندواره نشوه (اوماشوم يې پيدانشو) مګريوناقص مولودچې له يوې مېرمنې څخه موجودشو زما دې په هغه ذات سوګندوي چې زماروح دده په واک کې دی که يې انشاء الله ويلي وای نوګردبه دالله په لارکې (غښتلي) سپاره مجاهدين وای ، ابن کثيروايي چې ځينې مفسرينوډېرآثار له سلفوڅخه رانقل کړي چې زياتره برخه اوياګرديې اسرائيلي روايات دي اوپه ډېروکې يې نامنلي اومنکرروايات شته اوامام فخر رازي بياله ابتلاء څخه چې پدې آيت کې يې يادونه شوي دهغه جسدي فتنه اخلي چې سليمان ﷺ سخت رنځور شوچې له ناروغي اوکمزوري څخه ګواکي په کرسۍ وغورځېدواوبيابيرته يې دصحت روغتياحالت ته رجوع وکړه (۱) ﴿ قَالَ رَبِّ ٱغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِيٓ ﴾ وويل:(سليمان) ای زماربه ماته مغفرت بښنه وکړه اوراکړه داسې لوی سلطنت چې نه ښائېږي (اونه وي) له بل هيچاسره وروسته له ما(ترڅوزماپه نبوت دلالت وکړي) ﴿ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْوَهَّابُ ﴾ ببشکه همداته يې (ای زماربه) ته ډېربښونکی ورکونکی يې ﴿ فَسَخَّرْنَا لَهُ ٱلرِّيحَ تَجْرِي بِأَمْرِهِۦ رُخَآءً حَيْثُ أَصَابَ ﴾ پس تابع کړموږدغه (سليمان) ته بادچې چلېدوپه حکم دده سره نرم نرم هرچېرته به چې دده اراده شوه (يعني دده دعامومنله) ﴿ وَٱلشَّيَـٰطِينَ كُلَّ بَنَّآءٍ وَغَوَّاصٍ ﴾ (او مسخرکړل موږده ته پېريان) شيطان هر بناکونکی (دښولوړو عمارتونو) او غوټه وهونکي (په لويو سيندونو کې چې ملغلرې راوباسي) ﴿ وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي ٱلْأَصْفَادِ ﴾ اونور(سرکښ شيطانان) تړلي شوي په ځنځيرانو کې (له جهته د کفره ددوی اوداچې دسليمان حکم يې نه مانو) ﴿ هَـٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ دغه (سلطنت او تسخير) ببښنه زموږ دی پس احسان کوه (له هرچاسره) يايې وساته (له خپل ځان سره) بې له حسابه (يعني که يې چاته ورکوې که يې نه ورکوې په تاپسې حساب نشته ته دخپل واک خاوندیې ﴿ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَـَٔابٍ ﴾ او ببشکه چې ده ته په نزد زموږخامخاقرب دی (په دنياکې) اوښه ځای دورتلو دی(په عقباکې) ﴿ وَٱذْكُرْ عَبْدَنَآ أَيُّوبَ ﴾ او يادکړه (ای محمده !) بنده

---

(۱) هغه ضعيف روايات اواسرائيلي حکايات چې دسليمان عليه السلام دابتلآء په هکله راغلي ابن کثيروايي چې ترټولو نادر اودانکار وړيې هغه دی چې وايي يوه ورځ سليمان (عليه السلام) غوښتل چې بيت الخلآء ته لاړشي نويې خپله ګوتمۍ مېرمنې(جرادة) ته ورکړه هغه ښځه چې ترګردو ورباندې ګرانه وه نوشيطان دسليمان په شکل هغې ته راغی او ورته يې وويل چې زماګوتمۍ راکړه هغې دسليمان ګمان پرې وکړ اوګوتمۍ يې ورکړه کله چې شيطان په ګوته کړه نوګردانسانان پېريانان اوشيطانان يې تابع اواېل شول چې دغه روايت دابن ابي حاتم څخه شوی اودغه ټول باطل اوخرافات دي محققينوعلماوو لکه ابن کثير، فخررازي ، بيضاوي ، نسفي اونورو ردکړی دی. تفسيرکبيروګوره ۲۶ /۲۰۸ همداسې زموږ کتاب (النبوة والانبيآء) ولوله.

زموږ ایوب دغه دریمه کیسه ده چې ددې سورت په اوږدو کې بیانېږي اضافت د(عبد) الله ته د تشریف او تعظیم لپاره شوی دی یعني درپه یاد کړه زموږ صالح بنده ایوب علیه السلام کوم چې په قسماقسم ابتلاګانو اخته شو او صبر یې وکړ ﴿إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِىَ ٱلشَّيْطَٰنُ بِنُصْبٍ وَعَذَابٍ﴾ کله چې غږ یې وکړ رب خپل ته چې بېشکه زه چې یم مس کړی یم شیطان په ایذاء او تکلیف سره. مفسرین کرام وایي چې دغه دکړاونو نسبت یې شیطان ته په دې وکړ چې له الله ﷻ سره یې ادب وکړ که څه هم چې ګردشیان که خیروي او که شر د الله له لوري دی دایوب ﷺ مال او دولت له مینځه تللی وو، اولادونه او اهل یې ګرد مړه شوي او په بدن هم سخت رنځور شوي وو او اتلس کاله په دغه کړاوونو کې اوسېدو او کیسه یې د انبیاء په سورت کې تېره شوي ده(۱) ﴿ٱرْكُضْ بِرِجْلِكَ﴾ ووهه (ځمکه) په پښه خپله (هغه یې ووهله او د صافو اوبو چینه راوخوټېده) ﴿هَٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَشَرَابٌ﴾ دغه ده ځای دغسل یخ او اوبه دڅښلو (نو یې غسل وکړ او د بدن ظاهري رنځوري یې ورکه شوه او څښاک یې وکړ چې په تن کې د ننه باطني رنځور ي یې له مینځه لاړه. ابوحیان وایې چې د ﴿مُغْتَسَلٌ﴾ معنا دغه دغسل ځای او به دي ﴿وَشَرَابٌ﴾ معنا دا چې دڅښلو دي په غسل سره به دې ظاهري تن او بدن روغ شي او په څښلو سره به دې باطني رنځونه دفع شي خو جمهور مفسرین بیا وایې چې دوه چینې ورته راوبهېدلې چې له یوې څخه یې وڅښل او په بله کې ولمبېدو او روغ رمټ شو(۲) ﴿وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ﴾ او وموبښل دغه ایوب ته اهل دده (په بیرته ژوندي کولو) او په مثل ددوی له هغوی سره. امام رازي وایې چې نژدې دادی چې الله هغه ته روغتیا وبښله او مال او دولت یې ورکړ اولادونه یې پیدا او نسل یې زیات شو چې ترپخوایې څو چنده ډېرشو او حسن بصري ؒ وایې چې هغه مړه شوي اولادونه یې الله تعالی بیرته ورته را ژوندي کړل (۳) ابوحیان وایې چې جمهور علماء پدې دي چې الله تعالی هغه دده مړه خپلوان، اولادونه بیرته ورته راژوندي کړل له ناروغي څخه جوړ شو هغه تیت پرک نعمتونه الله بیرته ورته راټول کړل (۴) ﴿رَحْمَةً مِّنَّا﴾ له جهته دمهرباني له خپله لوري (په سبب دصبر او اخلاص دده) ﴿وَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ﴾ او لپاره دپند اخیستلو خاوندانو دصافو عقلونو ته ابن کثیر وایې معنادا چې پندی دهوښیارانو لپاره ترڅو وپوهېږي چې دصبر وروستی عاقبت ښکمرغي او خلاصون دی(۵) ﴿وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَٱضْرِب بِّهِۦ وَلَا تَحْنَثْ﴾ (او ورته وموویل چې) ونیسه په لاس خپل جارو (دډکو) پس ووهه په هغه جارو (دډکو سره (ښځه خپله) او مه حانث کوه ځان خپل. مفسرین کرام وایې چې ایوب ﷺ سوګند اخیستی وو چې که زه روغ شوم خپله ښځه به سل دُرې ووهم او ددې وهلو سبب دا وو چې دغې ښځې به دایوب ﷺ په ناروغي کې خدمت

---

(۱) البحرالمحیط ۴۰۱/۷
(۲) پورتني مرجع.
(۳) التفسیرالکبیر ۲۶ ۲۱۵
(۴) البحرالمحیط ۴۰۱/۷
(۵) مختصرابن کثیر ۳/ ۲۰۵

کاوواوکله چي ناروغي يې اوږده شوه نوهغې ته شيطان وسوسه ورواچوله چي ترڅوپوري به ته صبرکوې؟ هغه ايوب ﷺ ته راغله اوله ډېري خواشيني يې ورته وويل: ترڅوبه همداسي ناروغ يې؟ نوده ته دهغې په ويناقهر اوکاوړ ورغی اوقسم يې وخوړ چي که روغ شوپه هغې به سل ګوذارونه کوي نوالله ﷻ ورته وويل: چي هغه لوړه دي پرځای کړه يوجارو چي سل ډکي اوخاشې ولري هغه درواخله اوښځه دي يوځل ورباندي ووهه چي لوړه دي پرځای شي دغه دالله له لوري پرده اووده پرښځي رحمت ووځکه هغې په اخلاص اوصميميت دده د ناروغي په وخت کي چوپړواهواودده په ابتلاء يې صبرکاووداهم دهغه چالپاره چي له الله وېرېږي اوطاعت يې کوي دخلاصون لياره اودوتلوګودردی ځکه نوالله فرمايي: ﴿إِنَّا وَجَدْنَٰهُ صَابِرًا﴾ بېشکه موږ وموند دغه (ايوب) صبرناک (په سختيو) ﴿نِّعْمَ ٱلْعَبْدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ﴾. ښه بنده وودی بېشکه چي دی الله ته ډېر رجوع کونکی وو (په توبه ، انابت اوعبادت سره)

﴿وَٱذْكُرْ عِبَٰدَنَآ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ أُو۟لِى ٱلْأَيْدِى وَٱلْأَبْصَٰرِ﴾ (اويادکړه (ای محمده!) بندګان زما ابراهيم اواسحاق اويعقوب خاوندان دلاسونو او د سترګو) يعني ای محمده! دغه ستايلي انبياء په ياد اوپه هغوی پسي اقتداء وکړه کوم چي هغوی په عبادت کي غښتلي اوپه دين کي سترګور وو. طبري وايې معناداچي هغوی دالله په عبادت کي تکړه اودروښانه عقلونوخاوندان وو[1] ﴿إِنَّآ أَخْلَصْنَٰهُم بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى ٱلدَّارِ﴾ (بېشکه موږ خالص کړي دي دوی په خالص خوی سره په ذکريادولودکور (دآخرت) يعني موږ دوی پرځانګړي خوی باندي نازولي چي هغه ددوی دنياته التفات نه کول اودتلپاتي ژوندپام اويادساتل دي مجاهد وايې: معناداچي دوی دآخرت لپاره عمل کوي له هغه پرته ورسره دهيڅ شي غم نشته[2] ﴿وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ ٱلْمُصْطَفَيْنَ ٱلْأَخْيَارِ﴾ او بېشکه دوی زموږ په نزدخامخاله غوره کړی شوو بهتروخلګو(دخپلي زماني) وو ﴿وَٱذْكُرْ إِسْمَٰعِيلَ وَٱلْيَسَعَ وَذَا ٱلْكِفْلِ ۖ وَكُلٌّ مِّنَ ٱلْأَخْيَارِ﴾ اويادکړه (ای محمده!) اسماعيل او اليسع او ذوالکفل اودغه ټول (مذکورين) وو له خاوندانودخيرڅخه (په خلګوکي) نوپردوی پسي په صبراوتحمل زغم کي اقتداء وکړه ﴿هَٰذَا ذِكْرٌ﴾ دغه (بيان دانبياآوواوسېرت د رسولانو) ښه ذکرددوی دی (په دنياکي اوشرف دی په آخرت کي چي تل ورباندي پند اخيستل کېږي ﴿وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَـَٔابٍ﴾ او بېشکه لپاره د متقيانوخامخاښه ځای دورتلودی (په آخرت کي) بيايې دهغوتفسيرداسي وفرمايو ﴿جَنَّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ ٱلْأَبْوَٰبُ﴾جنتونه دي دهمېشه هستوګني پداسي حال کي چي تل پرانستلي وي دوی ته دروازې (دجنتونو) ددوی راتلوته انتظارباسي امام رازي ﷫ وايې چي دجنتونومؤکل پرښتې چي کله مؤمنان ووينې دروازې به ورته پرانيزي اوسلام تحيه به ورته کوي اودوی به د پرښتوپه تشريفاتي ملګرتياجنتونوته په خوراښکلي هيئت ننوزي

---

(1) تفسيرالطبري ۲۳/ ۱۰۹
(2) مختصرابن کثير ۳/ ۲۰۲

(۱)﴿ مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا ﴾ (تکیه وهلي (به ناست وي) په دغو (جنتونو) کې) یعني دوی به په خوراغوره اوښایسته (صوفو)پستو څوکیو باندي تکیه لګولي وي ﴿ يَدْعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَشَرَابٍ ﴾ چې غواړي به (دغه جنتیان) په هغوکې مېوې ډېري او څښونه دڅښلو. (لکه چې د پاچهانو دوديوي. ابن کثیروایي هرځومره چې وغواړي وبه یې مومي اوله هره څښه چې یې غواړي د جنت خدمتګاران به یې ورته راوړي .صاوي وایې چې دایوازي دفاکهې یادونه یې وکړه له دې کبله چې ګرد جنتي خوراکونه به دتلذذ اوفاکهې لپاره خوړل کېږي مقصد به مړښت اوتغذي نه وي ځکه چې په جنت کې هډولوږه (تنده) نشته (۲)﴿ وَعِندَهُمْ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ أَتْرَابٌ ﴾اووي به په نزددوی ښځي بندونکي دسترګو(مېړوخپلوته) همځولي به وي (پخپل مینځ اویاله خاوندانوسره) ﴿ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوْمِ ٱلْحِسَابِ ﴾ (داهغه څه دي چې وعده یې کول کېده (له تاسره په دنیاکي لپاره د(خوښي) د ورځي د حساب ﴿ إِنَّ هَٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُۥ مِن نَّفَادٍ ﴾

ببشکه چې دغه خامخازموږ داسي رزق دی چې نشته ده لره خلاصېدل. په الظلال کې لیکي چې دغه په دوومتقابلومنظرونوسره تنداره ده چې له هره پلوه سره متقابل وي که یې مجموعي جوړښت واخلي اوکه یې داجزاوو, دمتقینویومنظردی چې﴿ لَحُسْنَ مَـَٔابٍ ﴾ اوبل دګمراهانوسر غړونکو دی چې﴿ لَشَرَّ مَـَٔابٍ ﴾ لومړني خلګ به په جنتونوکي وي هغه چې ﴿ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ ٱلْأَبْوَٰبُ ﴾ وي اوهلته به تکیه وهلي دهرډول خوړو اوفاکهې څکونکي اوله حورو سره چې ﴿ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ أَتْرَابٌ ﴾ دي مجلسونه کوي اوداهسي نعمتونه دي چې تلپاتي اوخلاصېدل نلري (۳)

الله تعالی فرمایې:

﴿ هَٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطَّٰغِينَ لَشَرَّ مَـَٔابٍ ﴿٥٥﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴿٥٦﴾ هَٰذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ ﴿٥٧﴾ وَءَاخَرُ مِن شَكْلِهِۦٓ أَزْوَٰجٌ ﴿٥٨﴾ هَٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۖ لَا مَرْحَبًۢا بِهِمْ ۚ إِنَّهُمْ صَالُوا۟ ٱلنَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُوا۟ بَلْ أَنتُمْ لَا مَرْحَبًۢا بِكُمْ ۖ أَنتُمْ قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا ۖ فَبِئْسَ ٱلْقَرَارُ ﴿٦٠﴾ قَالُوا۟ رَبَّنَا مَن قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِى ٱلنَّارِ ﴿٦١﴾ وَقَالُوا۟ مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ ٱلْأَشْرَارِ ﴿٦٢﴾ أَتَّخَذْنَٰهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ ٱلْأَبْصَٰرُ ﴿٦٣﴾ إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ ٱلنَّارِ ﴿٦٤﴾ قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفَّٰرُ ﴿٦٦﴾ قُلْ هُوَ نَبَؤٌا۟ عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾ أَنتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُونَ ﴿٦٨﴾ مَا كَانَ لِىَ مِنْ عِلْمٍۭ بِٱلْمَلَإِ ٱلْأَعْلَىٰٓ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾ إِن يُوحَىٰٓ إِلَىَّ إِلَّآ أَنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٧٠﴾ إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ

(۱) التفسیرالکبیر ۲۲ /۲۲۱
(۲) حاشیة الصاوي ۳ /۳۲۷
(۳) فی ظلال القرآن

إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرًا مِّن طِينٍ ﴿٧١﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٧٢﴾ فَسَجَدَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ
أَجْمَعُونَ ﴿٧٣﴾ إِلَّآ إِبْلِيسَ ٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ يَٰٓإِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ
كُنتَ مِنَ ٱلْعَالِينَ ﴿٧٥﴾ قَالَ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُۥ مِن طِينٍ ﴿٧٦﴾ قَالَ فَٱخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٧٧﴾ وَإِنَّ عَلَيْكَ
لَعْنَتِيٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٧٨﴾ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِيٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٧٩﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ ﴿٨٠﴾ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ
﴿٨١﴾ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٢﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٨٣﴾ قَالَ فَٱلْحَقُّ وَٱلْحَقَّ أَقُولُ ﴿٨٤﴾ لَأَمْلَأَنَّ
جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُتَكَلِّفِينَ ﴿٨٦﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾
وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعْدَ حِينٍۭ ﴿٨٨﴾ ص: ٥٥ - ٨٨

مناسبت:

كله چي الله تعالى دنېكمرغه متقيانو برخه ليک بيان كړ وروسته يې دبدمرغه مجرمانو سرنوشت راووړ اوبيايې درسول اللهﷺ په ربښتوني رسالت باندي ځيني دلائل ذكر كړل اودسورت پاى يې دآدم عليه السلام اوابليس لعين په كيسه وتاكل چي څرنگه ابليس آدم ته له سجدې څخه ممانعت وكړ ترڅوانسانانو ته ورپه ياد كړي چي ددغه ملعون له وسوسو، چلونو اودسيسو څخه ځانونه وژغوري

لغتونه:

(غساق) هغه نونه چي ذكفارو له غوښو څخه راوزي اوبدبويې لري (زاغت) ميلان وكړله (زيغ) يعني ميلان څخه اخيستل شوى (سخريا) دسين په زېرسره استهزاء اوملنډوته وايې (مقتحم) په زور سره په كړاوونو گډېدل (سوّيته) په بشپړه توگه دخلقت تكميل مي كړى (العالين) متكبرينو اومتجبرينو ته وايې (رجيم) په ستورو ويشتل شوى اورټلى.

تفسير:

﴿ هَٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطَّٰغِينَ لَشَرَّ مَـَٔابٍ ﴾ (دغه دحال دمطيعانو و) اوبېشكه خامخاپاره دسركښانو خامخابده مرجع ده (هذا) د محذوف مبتداء لپاره خبردى چي تقديريې داسي كېږي (الأمرهذا) او دغه لكه چي وايي (امابعد) د غسي دي نو فرمايې چي دسركښانو لپاره بده مرجع دى او تفسيرېې بيا داسي فرمايې:

﴿ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴾ (چي هغه) دوزخ دى چي ننوزي دوى په هغه كي، پس بده بستره ده (دادوزخ دوى لره ابن جزي وايې كله چي الله دجنتيانو ذكر پاى ته ورسوو وروسته يې وفرمايل(هذا) اوبيايې له سره ددوزخيانو يادونه پيل كړه مقصد له سركښانو څخه كافران دي[1]) ﴿ هَٰذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ ﴾ دغه

---

[1]) التسهيل في علوم التنزيل ٣ /١٨٧

(دردناک عذاب دی دکفارو) پس ودي څکي دااېشېدلي اوبه اود دوزخيانوبدبويه) ژوي (ويني اونوونه) طبري وايي په آيت شريف کي تقديم اوتاخيرشته يعني دغه اېشېدلي اوبه اوددوزخيانودجراحاتوژوي اونوونه دي نودوی دي وڅکي ﴿ حَمِيمٌ ﴾ اېشېدلي اوبه ﴿ وَغَسَّاقٌ ﴾ ددوزخيانودپرهارژوي اووريني ته وايي (۱)﴿ وَءَاخَرُ مِن شَكْلِهِۦٓ أَزْوَٰجٌ ﴾ اوڅه بل (قسم عذاب) له قسمه دهغه تېرعذاب رازرازقسمونه (لکه زمهرير، سموم اودزقوم خوړل اونوربياوروسته دهغه څه حکايت کوي کله چي دوزخ ته له ورتلووروسته دکفارومشرانوته ويل کېږي ﴿ هَٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ لَا مَرْحَبًۢا بِهِمْ ﴾ دغه يوه ټولی ده دتابعانوپه سختي سره ننوتونکي ده له تاسي سره ,نه دي وي خوشالي ځای دآرامي دوی ته (لکه څنګه چي يې له تاسي سره په جهل اوګمراهي کي ملګرتياکوله همداسي درسره په دوزخ کي ملګري شول ﴿ إِنَّهُمْ صَالُوا۟ ٱلنَّارِ ﴾ بېشکه چي دوی ننوتونکي دي اورته (لکه چي تاسي ننوتلي . امام رازي رحمه الله وايي چي په جهنم ګمارل شوي پرښتې به دکفارو مشرانوته دغه ويناکوي اوداچي ورته وايي ﴿ لَا مَرْحَبًۢا ﴾ دغه ښېراده څکه عربان مېلمنوته دراتلوپه وخت ښه راغلاست په مرحباسره وايي يعني پراخ اوارت ځای ته راغلاست اوکله چي(لا) ورباندي داخله شي نوداسي معناورکوي (چي مخ مو پرته شه !) الله دي کوم ارت ځای در نکړي) (۲)﴿ قَالُوا۟ بَلْ أَنتُمْ لَا مَرْحَبًۢا بِكُمْ ﴾ وايي (دغه تابعان متبوعانوته) بلکه تاسي چي يی ! نه دي وي خوشحالي پرتاسي . مفسرين کرام وايي چي کله تابعان دوزخ ته ورسي نوغتيان متبوعان به ورته وايي ﴿ لَا مَرْحَبًۢا بِكُمْ ﴾ دغه د دوزخيانو تحيه ده لکه چي الله ﷻ فرمايي ﴿ كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَّعَنَتْ أُخْتَهَا ﴾(الاعراف ۳۸)اوپدي وخت هغه ورننوتونکی بيا دوی ته وايي ﴿ بَلْ أَنتُمْ لَا مَرْحَبًۢا بِكُمْ ﴾ اودغه لکه هغه شاعرچي وايي : (تحية بينهم ضرب وجيع) د دوی سلام عليک دردناک ټکول وهل دي) همداسي به دوزخيان دتحيې اوسلام پرځای يو په بل باندي لعنت وايي او ورته ښکنځل به کوي اوبيابه تابعان خپلوسردارانوته وايي ﴿ أَنتُمْ قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا ۖ فَبِئْسَ ٱلْقَرَارُ ﴾ تاسي را وړاندي کړی دی دغه (عذاب) پس بدقرار ګاه دی) يعني تاسوزموږ د ګمراهي سبب وی نوبدځای دی دغه اوراو هستوګنځی زموږ اوتاسولپاره ﴿ قَالُوا۟ رَبَّنَا مَن قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِى ٱلنَّارِ ﴾ وبه وايي (تابعان) ای زموږ ربه هرچاچي ړومبی تياره کړي ده دغه لاره (د کفر) پس ورته په اورکي دوچنده عذاب زيات کړه (۳) دغه وينالکه هغه داسي ده چي ﴿ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ أَضَلُّونَا فَـَٔاتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ ٱلنَّارِ ۖ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ

---

(۱) تفسيرالطبري ۲۳/۱۱۳
(۲) تفسيرکبير ۲۶/۲۲۲
(۳) البيضاوي ۲/۱۵۱

﴿وَلَٰكِن لَّا تَعْلَمُونَ﴾ (الاعراف ۳۸) (ضعف) یعني دوچنده (۱) ﴿وَقَالُوا مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ الْأَشْرَارِ﴾ وبه وایې دکفارومشرکانوغټان اود ګمراهي پېشوایان) څه مانع دی موږ ته چې هغه سړي نه وینو چې وموږ شمېرلي موو له اشرارو څخه (په دنیاکي مقصد به یې مسلمانان وي. ابن عباس ﷺ وایې چې مقصدبه درسول الله دملګرو اصحابانو وي ابوجهل به وایې: چېرته دی بلال، چېرته دی صهیب، چېرته دی عمار؟ هغوی به په فردوس جنت کي وي! افسوس د ابوجهل بېوزله په حال دهغه زوی عکرمه ﷺ مسلمان شو لورېې (جویریة ﷺ) مسلمانه شوه مور یې مسلمانه شوه ورور یې مسلمان شوخوهغه کافرپاتې شو(!) (۲)ابن کثیر وایې چې دغه دکفاروله حال څخه په دوزخ کي اخبار دی دوی هغه کسان هلته په اورکي نهویني کوم چې په دنیاکي به یې په ضلالت اوګمراهي کي ګڼل (چې مسلمانان وو) ابوجهل به وایې: ولي بلال، عمار او صهیب نه وینم اوفلانی فلانی چېرته دي؟ دغه یوازي یومثال دی دټولو کفاروبه همدغه حال وي دوی باور درلودچې مؤمنان به اورته لوېږي اوکله چې پخپله کفار اورته ولوېږي نوبه مسلمانان هلته نه مومي (۳) اوبیابه وایې ﴿أَتَّخَذْنَاهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْأَبْصَارُ﴾ آیانیولي مووودوی په مسخروسره یاکه کږې شوي دي له دوی څخه سترګي زموږ (چې په دوزخ کي شته خونه یې وینو. بیضاوي وایې چې دغه دوی پخپلو ځانونو ملامتي وایې چې ولي موږ په هغوی مسخرې کولې؟ هغوی خودادي اوس دلته په دوزخ کي نشته اویازموږ سترګي ترې چپې شوي دي اونه یې وینو(۴) الله ﷻ فرمایې: ﴿إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ﴾ (بېشکه دغه (مذکوره کیسه ددوزخیانو) خامخاربښتیاده جګړه کول ددوزخیانوپه خپل مینځ کي) یعني ای محمده دغه د دوزخیانوویناوي اوجګړې خامخا کېدونکي دي موږ تاته اوس لاخبر درکوو چې دابه کېږي امام رازي ﷫ وایې داچې الله ددوی دغه خبري اتري جګړه کول وبلل سبب یې دادی چې: مشران به اتباعو ته وایې ﴿لَا مَرْحَبًا بِكُمْ﴾ او اتباع به بیا خپلو غټانو ته وایې ﴿بَلْ أَنتُمْ لَا مَرْحَبًا بِكُمْ﴾ اودغه ویناوي دجګړې اوشخړو له جملې څخه دي (۵) ﴿قُلْ إِنَّمَا أَنَا مُنذِرٌ﴾ ووایه (ای محمده دوی ته) بېشکه هم داخبره ده چې زه وېرونکی یم (له عذابه دغه درسالت په اهمیت څرګندولو شروع اودوحدانیت، معاداوجزاء اثبات دی یعني ای محمده ! دغومشرکانوته و وایه چې زه درب العالمین له لوري تاسي ته له عذابه وېرونکی رااستول شوی یم نه ساحر نه کاهن او نه شاعریم ﴿وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ﴾ اونشته هیڅ بل حق معبودبې له الله چې یو دی هرقهرکونکی (ذات) دی ﴿رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا﴾ رب د آسمانونواودځمکي اودهغو ټولو شیانودی چې په مینځ ددوی کي دی (له خلائقواوعجائبو رب

---

(۱) التسهیل في علوم التنزیل.
(۲) القرطبي ۱۵/ ۲۲۴
(۳) مختصرابن کثیر ۳/ ۲۰۷
(۴) البیضاوي ۲/ ۱۵۱
(۵) التفسیرالکبیر ۲۶/ ۲۲۳

دي په ايجادولو او اعدام کولو) ﴿ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ﴾ ښه غالب قوي دی (چي څوک ورباندي برلاسی نلري) ښه ښښونکی دی (دګناهونو دبندګانو چاته چي يې اراده وشي. امام رازي وايې کله چي يې ﴿ ٱلۡقَهَّارُ ﴾ ذکرکړنو دغه په ترهيب اوتخويف خبرداری ورکاوو ورپسې يې هغه صفت وفرمايل چي دهيلي، اميد اوترغيب څرګندونه کوي اودرې صفتونه يې چي هغه ﴿ رَبُّ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ﴾ دی راوړل چي رب دروزني اواحسان خبرداری ورکوي عزيزداچي په هرڅه قادر اوتوانادی اوغفاربياد ترغيب ورکولو احساس پيداکوي که چېري انسان اوياکاله په کفر کي تېرکړي اوبياالله ﷻ ته توبه ګارشي نوالله ﷻ به دهغه ګردګناهونه وروبښي او دګناهګارانوله نوم ليک څخه به يې نوم وتوړي او دابرارونېکانوپه کتارکي به يې ودروي (١) ﴿ قُلۡ هُوَ نَبَؤٌاْ عَظِيمٌ أَنتُمۡ عَنۡهُ مُعۡرِضُونَ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته) دغه (قرآن) ډېره لويه خبره ده چي تاسي له دې نه مخ ګرزونکي يی (چي په قدريې نه پوهېږی او پکي سوچ نه کوی) ﴿ مَا كَانَ لِيَ مِنۡ عِلۡمِۭ بِٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰٓ إِذۡ يَخۡتَصِمُونَ ﴾ نشته ماله هيڅ قدرعلم پوهه په هغه ټولي ډېرپورته لوی (دملائکو) کله چي سره جګړې يې کولې (په شان دآدمؑ کي يې له وحی څخه). ابن جزي وايې چي مقصدلته (٢) درسول الله په رسالت باندي دليل راوړل دي چي هغه دداسي چاروا خبارفرمايې کوم چي پخوايې ورباندي علم نه وواود ملائکوپه جګړه کولو کي هغه دآدمؑ د خلقت په کيسه کي دپرښتوويناته اشاره ده کله چي الله ورته وفرمايل: ﴿إِنِّي جَاعِلٌ فِي ٱلۡأَرۡضِ خَلِيفَةً ﴾(البقرة ٣٠) لکه چي په څوځايونو دقرآنکريم کي يې کيسه راغلي ده(٣) ﴿ إِن يُوحَىٰٓ إِلَيَّ إِلَّآ أَنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴾ وحی نه کوله کېږي ماته مګرددې چي بېشکه همدا خبره ده چي زه ښکاره وېرونکی يم (له عذابه ورپسي الله ﷻ دآدم عليه السلام کيسه داسي بيانوي ﴿ إِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرًا مِّن طِينٍ ﴾ (يادکړه) کله چي وفرمايل ستارب پرښتوته چي بېشکه زه پيداکونکی يم ديوبشر (آدم) له ختې څخه ﴿ فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴾ پس کله چي برابرکړماهغه اوپوکړ ماپه هغه (قالب) کي له روح خپله پس پرېوزئ (تاسي ټول ای پرښتوتعظيمًا اواکرامًا) ده ته سجده کونکي؛ قرطبي وايې دغه سجده دتحيې اوتعظيم لپاره دعبادت سجده نه ده (٤) ﴿ فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ ﴾ پس سجده وکړه ملائکو ټولو دوی ګردو (کلهم لپاره دتعظيم دهغه او امتثال دامردالله) ﴿ إِلَّآ إِبۡلِيسَ ٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ مګرابليس (چي سجده يې ونکړه) اولويې يې وکړه او وودوی له کافرانو، ابن کثيروايې چي پرښتو دالله حکم ومنلوابليس ونه

(١) التفسير الكبير ٢٦/ ٢٢٤
(٢) التسهيل في علوم التنزيل ٣ /١٨٩
(٣) القرطبي ١٥/ ٢٢٧
(٤) القرطبي ١٥/ ٢٢٧

منلوابلیس دپرښتوله جنس څخه نه وو بلکه دشیطانانو پېریانانوله جنس څخه وو(۱) نو دهغه فطرت اوطبیعت له سجده کولو څخه ډډه اوکړکه کوله اوله الله سره یې پدې هکله شخړه وکړه اوداسې دعوه یې وکړه چې هغه ترآدم غوره دی نوکافرشواوالله هغه دخپل رحمت له دربارہ وشاړو ﴿ قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ ﴾ وفرمایل الله ای ابلیسه څه شي منع کړی یې ته له دې نه چې سجده وکړې (ته هغه څېزته چې ماپیداکړی دی په دواړو یدو (بلاکیفه) خپلو یعني ولې دې هغه ته سجده ونکړه کوم چې ما پخپله هغه بې له مور او پلاره پیداکړ؟ قرطبي وایې چې دآدم علیه السلام دپیداېښت نسبت یې ځان ته دهغه دتکریم له سببه وکړ هسې خو دګردو شیانو پیداکونکی الله تعالی دی دغه نسبت لکه هغه نور نسبتونه دغسې دي چې دتعظیم لپاره پاک الله ته شوي دي لکه بیت الله ، ناقة الله اودغسې یې دروح نسبت هم ځان ته وفرمایو چې دآدم علیه السلام تشریف وښیي ﴿ أَسۡتَكۡبَرۡتَ أَمۡ كُنتَ مِنَ ٱلۡعَالِينَ ﴾ آیا تکبردې وکړ(اوس) یاکه ته یې له لویانو(متکبرینو څخه له پخوا چې سجده دې ونکړه ؟ دغه یې د توبیخ په توګه ورته وویل ﴿ قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ ﴾ وویل ابلیس په ځواب کې) زه غوره یم له دغه (آدم) څخه ﴿ خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ وَخَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٖ ﴾ زه دې له اوره پیداکړی اودغه (آدم) دې له خټو پیداکړی دی. اورتر خټه افضل دې نو څرنګه هغه چې افضل او غوره دی هغه ته چې غوره نه دی سجده وکړي ؟ ﴿ قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ ﴾ وفرمایل (الله) پس ووزه له جنته پس بېشکه ته رټلی شوی یې (له هرخیر او کرامته) ﴿ وَإِنَّ عَلَيۡكَ لَعۡنَتِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴾ او بېشکه پرتادی لعنت زما تر ورځې دجزا پورې (او بیا به درته ورسېږي هغه عذاب چې تر دغه لعنت خوراسخت او بد دی) ﴿ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴾ وویل: ابلیس ای زماربه پس مهلت راکړه ماته ترهغې ورځې پورې چې مړي پورته کولی شي (له قبرونو. ابوالسعود وایې چې دغه یې ددې لپاره غوښتنه وکړه چې دبنیادم دغولولو اوتېر ایستلو لپاره وخت ومومي او خپل کسات تې واخلي اویو مخ ایزه له مرګه ځان خلاص کړي ځکه له بعث څخه وروسته خو بیا هډو مرګ نشته الله ﷻ ورته ځواب داسې ورکړل چې ترلومړۍ صور شپېلۍ پورې وخت لرې نه دومره چې ته یې دبعث تر ورځې پورې غوښتنه کوې (۲) ﴿ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ﴾ (الله) وفرمایل پس بېشکه ته یې (ای ابلیسه !) له مهلت ورکړشویو څخه تر ورځې دوخت معلوم پورې (چې لومړۍ نفخه ده کله چې خلګ مره کېږي ستاکارونه به هم پای ته رسېږي ﴿ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ۝ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴾ وویل(ابلیس پس قسم دی په عزت ستاچې خامخاګمراهان به کړم هرومرو دوی ټول ﴿ إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴾

---

(۱)دغه سمه خبره ده چې ابلیس له ملائکو څخه نه دی اوپدې هکله دحسن بصري وینا هم پخوا تېره شوي ده چې وایې ابلیس دسترګو په رپ کې هم له پرښتو څخه نه دی شوی داهغه وینا ده چې زړه ورباندې آرام مومي اوخوښېږي اوپدې باندې آیتونه هم دلالت کوي چې الله فرمایې (كان من الجن ففسق عن أمر ربه) وګوره النبوة والانبیآء ۱۰ /۱۲۸
(۲) تفسیرابی السعود ۴ /۲۹۸

مګرهغه بندګان ستاچي خلاص کړی شوي دي (تادخپل عبادت لپاره خالص کړي اوله ماڅخه دي ژغورلي دي) ﴿ قَالَ فَٱلۡحَقُّ وَٱلۡحَقَّ أَقُولُ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴾ (نووفرمايل الله چي پس حقه خبره همداده اوحقه خبره زه وايم خامخادک به کړم هرومرودوزخ له تانه او هغه چانه چي ستامتابعت يې کړی دی له دغو(انسانانو) نه له ټولو څخه) يعني الله ﷻ په حق قسم کوي او وايي چي زه له حقه پرته بله خبره نه وايم پرتااوپلويانوبه دي دوزخ ډک کړم سدي وايي چي دغه قسم دی چي الله ﷻ يې اخلي(۱) اوداچي ﴿ وَٱلۡحَقَّ أَقُولُ ﴾ دقسم دتاکيد لپاره اعتراضيه جمله ده ﴿ قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُتَكَلِّفِينَ ﴾ ووايه (اى محمده ! دوی ته) نه غواړم زه له تاسي پدې (قرآن ، تبليغ د رسالت) څان ته هيڅ اجراونه يم زه له تکليف کونکو نه (په جوړولودقرآن کي له ځانه او يادنبوت په دعوی کولوسره) ﴿ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴾ نه دی دغه (قرآن) مګرپند دی دعالميانو لپاره (چي انسانان پېريانان اوهوښياران دي ﴿ وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعۡدَ حِينِۢ ﴾ او خامخاعالمان به شي هرومرو په خبر (دصدق) ددې (قرآن) لږڅه وروسته (پس له يوې مودې چي د قيامت ورځ ده دغه وعيداوتهديد دی حسن بصري رحمه الله وايي ای بنيآدمه دمرګ په وخت کي به يقيناً خبرشي !

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱ – دمقابلې صنعت دمؤمنانواومفسدانواومتقينواوفاجرانوترمينځ لکه چي فرمايي ﴿ أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلۡمُفۡسِدِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلۡمُتَّقِينَ كَٱلۡفُجَّارِ ﴾ اودغه دبديع له خورا ښکليوباريکوډولونوڅخه دی.

۲ –کنايه چي فرمايي ﴿ فَطَفِقَ مَسۡحَۢا بِٱلسُّوقِ وَٱلۡأَعۡنَاقِ ﴾ دلته يې له ذبح کولو اوحلالولوڅخه په مسح تعبيروفرمايواوبليغه کنايه ګڼل کېږي.

۳ – دطباق صنعت چي د ﴿ فَٱمۡنُنۡ أَوۡ أَمۡسِكۡ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴾ ترمينځ راغلی ځکه ددې معناداچي درسره حساب نشته وربې کړه هرچاته چي دي خوښه شي اومه يې ورکوه هرچاته چي دي خوښه شي.

۴ – دادب مراعات کول لکه چي پدې کلام کي راځي ﴿ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيۡطَٰنُ ﴾ دلته يې دضررنسبت شيطان ته وکړ که څه هم خيراوشر دواړه دالله له لوري دی مقصديې دادب مراعات کول دي.

---

(۱) مختصرابن کثير ۳ /۲۰۹

۵ - تصريحي استعاره چي فرمايي: ﴿ أُوْلِي ٱلْأَيْدِي وَٱلْأَبْصَٰرِ ﴾ دلته يې لاسونه دقوت لپاره استعاره او سترګي يې ددېني بصيرت لپاره استعاره کړي دي.

۶ - ښايسته او ښکلي مقابله پدې کلام کي ﴿ هَٰذَا ذِكْرٌ ۚ وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَـَٔابٍ جَنَّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ ٱلْأَبْوَٰبُ ﴾ او بيا يې مقابله په دې ويناکوي چي ﴿ هَٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطَّٰغِينَ لَشَرَّ مَـَٔابٍ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴾ دا څومره خوندوره او زړه راښکونکی انځوراو تصويردی ؟.

۷ - په دوو مؤکداتو سره تاکيدراوړل چي فرمايي: ﴿ فَسَجَدَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴾ لومړی يې د(کل) په لفظ سره او بيا په (اجمعون) تاکيد.

۸ - دفواصلو مراعات کول چي دغه د قرآنکريم له خصوصيتونو څخه يو خصوصيت دی لکه ﴿ وَقَالُواْ مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ ٱلْأَشْرَارِ أَتَّخَذْنَٰهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ ٱلْأَبْصَٰرُ إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ ٱلنَّارِ ﴾ نو دغه غوندي ښايسته بيان او خوندورخوږ آهنګ چي په زړه کي داسي اغېزپرېباسي لکه روح په تن کي او زمادي په الله قسم وي کله چي زه د قرآنکريم تلاوت کوم په سينه کي دخپل زړه اهتزاز احساسوم کله چي دغه خوږ معنالرونکی کلام په غوږونو اورم او کله کله خولاداسي هم وي چي ناخبره يوه بله خواله خوښي څخه څنګېږم لکه چي دنغمو مينان او مينه لرونکي خلګ دهغو په اورېدلو څنګېږي او دغه بل څه نه دي بلکه دهغه دبيان جمال او ښکلا ده او رسول الله ﷺ په ځای فرمايلي دي چي: (ان من البيان لسحراً)

دالله جل جلاله په مرسته د(ص) سورت تفسيربشپړشو.

(ولله الحمد والمنة)

دالزمر سورت مکي او پنځه اویا آیتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالزمر سورت مکي اولکه دنورومکي سورتونو په شان دتوحيد له عقيدې څخه غږېږي دغه موضوع پدې سورت کي دومره په تفصيل بيان شوي چي نژدې ته به وادغه يې محوردی ځکه چي عقيده دايمان بنسټ دی اوهرنېک عمل په همدغه توحيد بنا کېږي.

دسورت پيل دقرآنکريم له ستري معجزې څخه کېږي هغه چي رسول الله ته ورکول شوی اوتل ترتله به باقي وي سورت رسول الله ﷺ ته په دين کي داخلاص اودالله دتنزيه مارېينه اوحکم کوي چي له نورومخلوقاتوسره له مشابهت څخه الله منزه اوپاک دی بيادمشرکانوهغه اشتباه چي دبتانوعبادت کوي اوهغوی دځان شفاعت کونکي ګڼي رااخلي اوپه ځرګنداوقاطع دليل سره يې ردوي ، ورپسې درب العلمين په وحدانيت سره دليلونه راوړي چي څرنګه يې آسمانونه اوځمکي پيداکړي ؟ اوشپه ، ورځ رادېره کوي لمراوسپوږمۍ راخېژوي اوانسان دمېندوپه ارحامو، پيلاراوګېډوپه تاريکيوکي پيداکوي اودغه ټول دالله په قدرت اووحدانيت باندي ځرګنددليلونه دي.

سورت دعقيدې په موضوع ښه زياته رڼاچوي اوبيادخسران اوتاوان منظربيانوي کوم چي کفار اومجرمين به دقيامت په ورځ ورسره لاس اوګرېوان وي هلته چي قسماقسم عذابونه به ځکي اوداور په سيوري کي به لاندي باندي نغښتي وي.

بياسورت يومثال راوړي چي هغه څوک چي يوازي ديوه الله عبادت کوي اوهغه چي زيات معبودان لري هسي معبودان چي نه اوري نهويني دمشرک مثال دهغه مريي دی چي ګڼ بدخويه باداران لري اوتل يوله بله سره په جګړه وي اوهغه بنده چي يوبادار لري ددوی ترمينځ څومره زيات توپيرشته ؟ ورپسې دمشرکانو روحي ستونزي ښيي چي کله دالله ﷻ توحيدواوري نوسره تريوشي اوزړونه يې په تنګ شي خوکله چي دطاغوتانواوبتانويادونه کېږي سره وغوړېږي اوخندني شي همداسي آيتونه پرله پسې بندګان دالله لوري ته درجوع کولولپاره رابولي ترپخواله دې چي نابېره دمرګ قاصد ورته راشي اويانا ګمانه کوم عذاب ورباندي راپرېوزي اوهلته بيادوی توبه کاږي اويا پښېماني ځرګندوي کله چي توبه اوپښېماني ګټه نه رسوي.

دسورت پای دصورشپېلۍ دنفختا لصعق په يادونه کېږي چي ورپسې به بيادبعث اونشور لپاره نفخة البعث وي اوبيابه دقيامت سختي اوکړاوونه ، دغه دحشراکبرورځ ده هلته چي ابرارمتقيان به ډلي ډلي جنت ته درومي اواشرارمجرمين به بياپه ډلوډلودوزخ ته بېول کېږي يوډېردروند او هيبتناک منظربه وي چي انبيآء ، صديقين، ابرار، شهدآء اوګردموجودات به الله تبارک وتعالى ته په حمداوثنا په ډېره عاجزي اوخشوع درېږي.

تسميه اونومول يې:

دغه سورت ته ځکه سورت الزمروايې چي الله دجنتيانونېکمرغه کسانو (زُمَره) اوهمداسي ددوزخيانوبدمرغانوټولۍ چي لومړۍ ډله به په خوراعزت اجلال اواکرام کي اودوهمه به په سپکاوي ، ذلت اوبدانجام کي وي پکي يادکړي دي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿تَنزِيلُ الْكِتَابِ مِنَ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿١﴾ إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ ﴿٢﴾
أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ۚ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ
بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ ﴿٣﴾ لَّوْ أَرَادَ اللَّهُ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا
لَّاصْطَفَىٰ مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ سُبْحَانَهُ ۖ هُوَ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٤﴾ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۖ يُكَوِّرُ
اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى اللَّيْلِ ۖ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ أَلَا هُوَ
الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ ﴿٥﴾ خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ الْأَنْعَامِ ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ ۚ يَخْلُقُكُمْ فِي
بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ خَلْقًا مِّن بَعْدِ خَلْقٍ فِي ظُلُمَاتٍ ثَلَاثٍ ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ
﴿٦﴾ إِن تَكْفُرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمْ ۖ وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۖ وَإِن تَشْكُرُوا يَرْضَهُ لَكُمْ ۗ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۗ ثُمَّ
إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٧﴾ ۞ وَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ ضُرٌّ دَعَا
رَبَّهُ مُنِيبًا إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُ نِعْمَةً مِّنْهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُو إِلَيْهِ مِن قَبْلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِ ۚ قُلْ تَمَتَّعْ
بِكُفْرِكَ قَلِيلًا ۖ إِنَّكَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ ﴿٨﴾ أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو رَحْمَةَ رَبِّهِ ۗ قُلْ
هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٩﴾ قُلْ يَا عِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ لِلَّذِينَ
أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۗ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ ۗ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿١٠﴾ قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ
مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ ﴿١١﴾ وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٢﴾ قُلْ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣﴾ قُلِ اللَّهَ أَعْبُدُ
مُخْلِصًا لَّهُ دِينِي ﴿١٤﴾ فَاعْبُدُوا مَا شِئْتُم مِّن دُونِهِ ۗ قُلْ إِنَّ الْخَاسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ
الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ ﴿١٥﴾ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ۚ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ اللَّهُ بِهِ عِبَادَهُ ۚ يَا عِبَادِ فَاتَّقُونِ ﴿١٦﴾ وَالَّذِينَ
اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوا إِلَى اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْرَىٰ ۚ فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿١٧﴾ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ ۚ أُولَٰئِكَ
الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمْ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿١٨﴾ أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِي النَّارِ ﴿١٩﴾ لَٰكِنِ
الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِّن فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ وَعْدَ اللَّهِ ۖ لَا يُخْلِفُ اللَّهُ الْمِيعَادَ ﴿٢٠﴾﴾ الزمر: ١ - ٢٠

لغتونه:

(زلفی) نژدېکت ته ويل کېږي او له دې څخه داهم دی چي الله فرمايي (وأزلفت الجنة للمتقين) (الشعراء۹۰،۳۰)
يعني نژدې کړل شو (يکوّر) تکوېر پېچلو ته وايي لکه د پټکي او دستار ترل (خوّله) هغه ته يې وروبښل او
ورېي کړل (قانت) منونکي او خاضع (أنداد) بتان شريکان سيالان (ظلل) جمع د ظلة جمع او سيوروته وايي

(الطاغوت) له طغيان څخه اخيستل شوی اوله حدڅخه تجاوزکولوته وايې اومقصدله طاغوت څخه ګردهغه شيان دي چې پرته له الله يې عبادت کول کېږي هغه که بشروي که دېره وي اوکه بل څه (أنابوا) رجوع بې وکړه (غرف) جنتي لوړي ماڼۍ، غرفة اوچت مکان اوخوني ته وايې لکه چې الله فرمايې ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ يُجۡزَوۡنَ ٱلۡغُرۡفَةَ بِمَا صَبَرُواْ ﴾ (الفرقان ۷۵).

تفسير:

﴿ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴾ رالېږل ددې کتاب (قرآن پرمحمد) له (جانبه دهغه) الله (دی) چې ډېر زبردست، قوي، غالب اودحکمتونوڅښتن دی (چې هرڅه په حکمت، تقدير او تدبير باندې کوي) ﴿ إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ ﴾ بېشکه موږ نازل کړی دی تاته (ای محمده!) کتاب (قرآن) په حقه سره (چې هيڅ شک پکې نشته رښتونی کتاب دی چې باطل ورته لاره نلري ﴿ فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴾ پس عبادت کوه دالله حال داچې خالص کونکی يې دغه الله ته ددين اوعبادت خپل يعني داچې له الله پرته بل څوک دې پکې مقصدنه وي ﴿ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُ ﴾ (واورئ خبرداراوسئ خاص الله لره دی دين (اوطاعت) خالص) يعني ای خلکوپوه شئ چې الله نه قبلوي هيڅ عمل مګرهغه چې يوازې دده لپاره پرځای شوی وي څکه الله واحداولاشريک ذات دی په پټواسرارو اورازونوخبردی د (خالص) معنادشرک اوريا له شبهاتوڅخه پاک دی ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ ﴾ (اوهغه کسان چې نيولي يې دي غيرله دغه (الله) څخه نوردوستان) يعني دغه مشرکان چې له الله پرته د بتانوعبادت کوي وايې ﴿ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ ﴾ نه کوو موږ عبادت ددوی مګردددې لپاره چې دوی موږ نژدې کړي لوري (طرف) دالله ته نژدې کول (اوشفاعت مو وکړي. صاوي وايې کله چې له مشرکانوڅخه وپوښتي چې تاسي اوداآسمانونه اوځمکي چاپيداکړي دي؟ نودوی وايې: الله پيداکړي اوبياچې ترې وپوښتل شي چې نوتاسي دڅه دپاره دبتانوعبادت کوی؟ دوی وايې ددې لپاره چې الله ته مونژدې اوسپارښتنه (شفاعت) مووکړي[1] ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ ﴾ بېشکه الله به فيصله کوي په مينځ ددوی کې په هغه څيزکې چې دوی په هغه کې سره اختلاف کوي (له ديني چاروڅخه نومؤمنان به جنت ته اوکفاربه دوزخ ته واچوي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ ﴾ بېشکه الله نه ښيي سمه لاره دهدايت هغه چاته چې دروغجن ناشکره وي، په آيت شريف کې ددوی دعوې ته اشاره راغلې ده ﴿ لَّوۡ أَرَادَ ٱللَّهُ أَن يَتَّخِذَ وَلَدٗا ﴾ که چېرې الله اراده فرمايلې وای (بالفرض والتقدير) ددې چې ولدونيسي ﴿ لَّٱصۡطَفَىٰ مِمَّا يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ ﴾ نو خامخا غوره کړی به يې وو له هغه

[1] حاشية الصاوي على الجلالين ۳/ ۳۶۲

مخلوقه چي پیداکوي یې (په تبنی سره به یې غوره کړی ووځکه د توالد او تناسل په معروف ډول خودالله زوی مستحیل دی خوالله متبنی هم نه دی نیولی لکه چي فرمایي: ﴿ وَمَا يَنۢبَغِي لِلرَّحۡمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴾ (مریم۹۲) اوداچي الله فرمایي ﴿ مِمَّا يَخۡلُقُ ﴾ معناله هغومخلوقاتوچي پیداکړي اختراع کړي یې دي ﴿ سُبۡحَٰنَهُۥۖ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ﴾ پاکي ده الله لره (له ګردو عیوبو شریک او ولد څخه ځکه الله) همدی دی یوازي (بې شریکه لاولده) ډېرغالب (په هرشي باندي په خپل عظمت او جلال سره په التسهیل کي وايي چي الله دخپل ځان تنزیه له ولدڅخه پخپله وفرمایله اوبیایې دځان وصف په واحدسره وستایوځکه وحدانیت له ولدسره منافي دی که چېري هغه ولد درلودای نودده له جنسه به ووخوهغه جنس نلري ځکه چي واحددی اوهمداسي ځان یې په قهار سره وستایلوچي د شریکانواوسیالانوڅخه نفی وښیي ځکه هرڅه دالله په ځواک اوترغلبې لاندي دی نو څرنګه به ورسره شریک اوسیال پیداشي (١)

وروسته الله تعالی دخپل قدرت ، وحدانیت اوعظمت دلائل داسي یادوي فرمایي: ﴿ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۖ ﴾ پیداکړي دي الله آسمانونه اوځمکه په حقه سره (په بشپړه توګه اوعجیبه صفاتوچي دصانع مطلق په وجوددلیل اوڅرګندبرهان دی) ﴿ يُكَوِّرُ ٱلَّيۡلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيۡلِۖ ﴾ تاووي (نغاړي الله) شپه په ورځي اوتاووي (نغاړي الله ورځ په شپه کي. قرطبي وايي دشپې پېچل په ورځي باندي معناداچي دورځي رڼا نغاړي اوپټوي یې اودورځي تاوول په شپې باندي معناداچي دهغې تیاره له مینځه وړي دغه تفسیرله قتاده رحمه الله څخه منقول دی اودالله ﷻ ددې قول معنادی چي فرمایي ﴿ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا ﴾ (الاعراف۵۴)(٢)﴿ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ ﴾ اومسخرکړي په کاریې لګولي دي لمراوسپوږمۍ دبندګانود مصلحتونولپاره) ﴿ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمًّىۗ ﴾ چي هریوروان دی ترنېټې په نامه کړی شوي پوري (په نزددالله تعالی اوبیابه دقیامت په ورځ له مینځه ځي چي ﴿ إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ ﴾ (التکویر۱) ﴿ أَلَا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ﴾ واورئ خبردارشئ چي الله ښه زبردست قوي غالب ، ښه ښنونکی (داحسان خاوند) دی صاوي وایې دجملې په پیل کي یې ځکه د تنبیه توری (الا) راووړچي مضمون ته یې پوره پوره پاملرنه وشي لکه چي ویلي یې وي خبردار ای زما بندګانوزه پخپلوچارو غالب اود بندګانو دګناهونو پټوونکی ښنونکی یم زمالپاره یوازي عبادت کوئ راسره شریک مه نیسئ (٣)﴿ خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ ﴾ الله پیداکړي یی تاسي له یوه نفس د(آدم) څخه (دغه د الله دوحدانیت ددلائلولو جملې څخه دي چي الله دعزت اوقهرخاونددی اودغه دألوهیت صفات دي ﴿ ثُمَّ جَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا ﴾ بیایې پیداکړه له دغه (نفس واحدآدم څخه) جوړه دده (حوآء چي له یوې

(١) التسهیل لعلوم التنزیل ٣/ ١٩١
(٢) القرطبي ١٥/ ٢٣٥
(٣) حاشیة الصاوي ٣/ ٣٦٦

پښتنې څخه يې پيدا کړه (۱) ﴿وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْأَنْعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ﴾ او پيدا (نازل) يې کړل لپاره د (ګټې) (نفعې) ستاسې له چارپايانو څخه (لکه اوښان، غوايان، پسونه اووزې) اته جوړې (نراوښځه) قتاده وايي چې له اوښانودوه له غوايانودوه له پسونو دوه اوله وزودوه له هريوڅخه جوړه جوړه (۲) اوڅکه يې ﴿أَزْوَٰجٍ﴾ ونومول څکه چې ښځينه دنارينه جوړه اونارينه دښځينه لپاره جوړه ده. مفسرين کرام وايي چې مراد له (انزال) څخه دهغوي دپيدا ښت الهي حکم اوفيصله ده ﴿يَخْلُقُكُمْ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنۢ بَعْدِ خَلْقٍ﴾ پيداکوي (الله) تاسې ته په ګېډه دميندو ستاسې کې يوقسم پيدا ښت وروسته له يوبل قسم پيدا ښت نه (څکه چې انسان لومړی نطفه بيا علقه اووروسته مضغه شي ترڅو يې خلقت بشپړېږي او روح پکې پو کل کېږي او بيا يې پيدا ښت کېږي ﴿فِي ظُلُمَٰتٍ ثَلَٰثٍ﴾ په دريو تياروکې (چې دمشيمې، رحم اوګېډې تيارې دي) (۳) ﴿ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ﴾ دغه (پيداکونکی، مبدع مصور) الله رب ستاسو (اوستاسو دپخوانيو پلرونو دي) ﴿لَهُ ٱلْمُلْكُ﴾ ده ته دي ملک دسلطنت (په ايجاداو اعدام کې بشپړ تصرف) ﴿لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ﴾ نشته بل هيڅوک لائق دعبادت مګر يوازې هم دی دی پس کوم طرف ته تاسې ګرزولی شی؟ (دده له عبادت څخه دنوروعبادت ته؟ کله چې الله د خپلونعمتونو او احساناتويادونه ورته وکړه وروسته يې له کفره اوانکارکولوڅخه ووېرول چې: ﴿إِن تَكْفُرُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ عَنكُمْ﴾ که چېرې تاسې کفرغوره کړی پس بېشکه الله له تاسې څخه (او ستاسې له ايمان، شکراوعبادت څخه بې پروادی ﴿وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلْكُفْرَ﴾ او (الله) نه خوښوي کفر دخپلو بندګانو لپاره. امام رازي وايي چې پدې کې داسې اشاره شته يعنې که څه هم چې الله ته نه دخلکو ايمان ګټه رسوي اونه يې کفرورته تاوان رسوي خوبيا هم الله دبندګانو لپاره کفرنه خوښوي او نه کافرستايي اونه هم ورته ثواب ورکوي که څه هم کفريې دالله په مشيت اوقضاء واقع شوی وي (۴) ﴿وَإِن تَشْكُرُوا۟ يَرْضَهُ لَكُمْ﴾ اوکه (داسلام په نعمت) شکروباسی نوخوښوی دغه (شکران) (الله) تاسې ته (ستاسې لپاره اوستاسې دګټې لپاره نه داچې ستاسې شکران اوطاعت الله ته ګټه رسوي ابوالسعود وايي دا چې الله

---

(۱) الطبري ۲۳/ ۱۲۴

(۲) القرطبي ۱۵/ ۲۳۵

(۳) شهيد سيد قطب د (في ظلمات ثلاث) په هکله ليکي چې دغه يوه تياره ده دهغې کڅوړې (پيلار) کومه چې جنين پکې نغښتې دی بله تياره پخپله درحم تياره ده اوپردې سربېره بيا دګېډې تياره ده کوم چې رحم پکې دننه دی همداسې الله جل جلاله دغه ورو کې (خليه) پنځوي اودالله جل جلاله پاملرنه يې وخت په وخت ګوري اودلوړتيااوارتقاء خيال يې کوي وده او دپيدا ښت څرنګوالی يې وروسته له بله پيدا ښته کوي څرنګه چې الله ورته مقدر کړی ليکلی دی اوهغه يې پيداکونکی خالق اوبادار دی. في ظلال القرآن ۹/ ۳۰۳

(۴) التفسير الکبير امام رازي.

دبندګانوپه کفرباندي ناخوښه دی دغه ددوی دګټي لپاره دی اودالله له لوري پردوی رحمت دی نه داچي ددوی کفرالله ته تاوان پېښوي اوداچي الله ددوی په شکران خوښېږي دغه ددوی لپاره او ددوی دمنفعت لپاره دی ځکه پدې سبب دوی ددارینونېکمرغي اوسعادت ترلاسه کوي ځکه يې نو ددوارو لفظونوترمينځ توپيرفرمايلی چي هلته وايې ﴿ وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلْكُفْرَ ﴾ اودلته يې فرمايلي ﴿ يَرْضَهُ لَكُمْ ﴾ ځکه په لومړنۍ کي مقصدد حکم تعميم دی اوبيايې تعليل پدې فرمايلی چي دوی د الله بندګان دي (۱) ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴾ اووابه نخلي بارهيڅ بار اخيستونکی باردګناهونود بل چابلکه هرڅوک به خپل باراوبېټی پورته کوي اودخپلي ګناه سزابه ويني ﴿ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ ﴾ بياخاص رب ستاسي ته بيرته ورتله ستاسي دي ﴿ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ پس خبربه کړي تاسي پرهغو(عملونو) چي وی تاسي چي کول به مو(جزابه درکړي اوحساب به درسره وکړي) ﴿ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴾ بېشکه دغه (الله) ښه عالم دی په خبرو دسينو درازونواو نيتونو چي په زړونوکي وي پدې کي تهديد نغښتی اودمؤمنانولپاره زېری پکي شته ﴿ وَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ضُرٌّ ﴾ او کله چي ورسېږي (کافر) انسان ته کوم قسم سختي (فقر، ناروغي او کړاو) ﴿ دَعَا رَبَّهُۥ مُنِيبًا إِلَيْهِ ﴾ نو بولي رب خپل پدې حال کي چي خاص همده ته رجوع کونکی وي (ترڅودغه سختي ترې واخلي ﴿ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُۥ نِعْمَةً مِّنْهُ ﴾ بياکله چي الله ورکړي ده ته نعمت له خپله جانبه (اوسختي کړاوونه ځني ليري کړي) ﴿ نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُوٓاْ إِلَيْهِ مِن قَبْلُ ﴾ نوهېرکړي هغه (الله) چي وودی چي باله به يې هغه (الله) پخوا له دې نعمته (ترڅودغه فقر، ناروغي اوکړاوونه ځني واخلي نو بياسرغړونه کوي ﴿ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِۦ ﴾ اوګرزوي الله ته شريکان په عبادت کي دپاره ددې چي ګمراه کړي (خلګ) له لاري د الله (چي داسلام دين اودالله اطاعت دی) ﴿ قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيلًا ۖ إِنَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلنَّارِ ﴾ ووايه (ای محمده ! دغه کافرته) چي نفع واخله پخپل کفرلږ(موده په دنياکي) بېشکه ته له يارانوداور(ددوزخ څخه يې (امر د تهديد لپاره دی)

﴿ أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ سَاجِدًا وَقَآئِمًا ﴾ آياهغه څوک چي دی طاعت کونکی دی په ساعتونودشپې کي سجده کونکی اوولاړ په لمانځه باندي ؟ دغه استفهام دی چي ځواب يې حذف شوی ځکه چي کلام ورباندي دلالت کوي هغه دا چي آيادغه څوک له هغه چاسره برابر دی کوم چي له الله سره شريکان نيسي اوسيالان يې مني ؟. قرطبي وايې معنادا چي مسلمان مؤمن او کافرسره برابرنه دي لکه چي پخوايې هم يادونه شوي ده (۲) ﴿ يَحْذَرُ ٱلْءَاخِرَةَ وَيَرْجُواْ رَحْمَةَ رَبِّهِۦ ﴾ وېرېږي له (عذاب) دآخرت اواميد لري د رحمت

---

(۱) دابوالسعود تفسير/ ۳۲/ ۲۴۲
(۲) القرطبي ۱۵/ ۲۳۸

درب خپل (چي جنت دی آیا دغه مؤمن له هغه کافرفاجرسره برابردي؟ نه هیڅکله ندي برابربیاالله مثال بیانوي چي: ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾ ووایه (ای محمده!) آیابرابردي هغه کسان چي پوهېږي (دعلم خاوندان دي) اوهغه کسان چي نه پوهېږي (جاهلان دي بلکه برابرنه دي همداسي مطیع اوعاصي هم سره برابرنه دي) [۱] ﴿إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ﴾ بېشکه هم داخبره ده چي پنداخلي خاوندان خاوندان دخالصو عقلونو، امام فخررازي وايي: چي پدې وپوهېږه! دغه آیت شریف په عجیبه رازونو دلالت کوي هغه دا چي پیل یې په عمل فرمایلی او پای یې په علم عمل یې هغه قنوت، سجود او قیام دی اوعلم یې دا وروستی برخه چي: ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾ دی داددې څرګندونه کوي چي دانسان کمال پدې دوو مقصدونوکي نغښتی دی عمل چي هغه پیلامه اوعلم اومکاشفه چي هغه پایله او وروستنی پړاودی اوپه کلام کي حذف راغلی تقدیریې داچي آیادغه طاعت کونکي اوهغه څوک چي نافرمانه وي سره برابردي؟ اودغه حذف ځکه ښایسته دی چي کلام ورباندي دلالت کوي اوالله تردې له مخه د کافر یادونه کړي اوبیایې په خاوندانودعلم اوپوهي مثال راوړی چي پدې کي دعلم په فضیلت باندي تنبیه اوخبرداری دی [۲] ﴿قُلْ يَا عِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ﴾ (ووایه (ای محمده دوی ته دالله له جانبه) ای زمابندګانوچي ایمان یې راوړی دی (یعني ای مؤمنانو!) ووېرېږئ له (عذابه د) رب ستاسو) یعني ایمان اوتقواسره یوځای کړئ تقوی دالله له محرماتوڅخه ځان ژغورلوته وايي. مفسرین کرام وايي دغه آیت دحضرت جعفربن ابي طالب اودهغه دملګروپه هکله نازل شوي چي حبشې ته یې دهجرت تکل وکړ او مقصد ځنی ددوی دلاساینه اوهڅونه ده [۳] دتقوی معنادالله داوامرو امتثال اوله نواهیو څخه ځان ژغورنه ده اوکله چي بنده پدې باندي د ځان او اورتر مینځ وقایه اوبېلتون کوي [۴]

﴿لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ﴾ هغو کسانو چي نېکي یې کړي ده په دغه دنیاکي (په طاعت سره) نېکي شته ده ډېره لویه په آخرت کي چي جنت دار الابراردی) ﴿وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ﴾ اودالله ځمکه ارته ده (نوله دارالکفرڅخه دارالایمان ته هجرت وکړئ هلته مه اوسئ چېري چي دالله شعائرپه آزادانه توګه نشی ترسره کولای) ﴿إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ بېشکه همداخبره ده پوره ورکاوه شي صابرانو ته اجرثواب ددوی بې حسابه (ډېرزیات چي تول او شمېرېې نشي کېدای) اوزاعی وايي چي دوی ته ثواب په تول اوپېمانه باندي نه بلکه بې شمېره ورکا وو شي [۵] ﴿قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ﴾ ووایه (ای محمده! دوی ته) بېشکه زه چي یم امرحکم راته کړل شوی دی چي عبادت وکړم یوازي دالله چي خالص کونکی یم ده ته ددین (بندګي خپلي) مفسرین کرام وايي چي الله خپل استازی پدې

---

[۱] حاشیة شیخ زاده علی البیضاوي ۳/ ۱۹۳

[۲] التفسیر الکبیر للامام الرازي

[۳] التسهیل لعلوم التنزیل ۳/ ۱۹۲

[۴] الصاوي ۳/ ۳۶۸

[۵] مختصرابن کثیر ۳/ ۲۱۵

مامورکړنودغه پدې تنبیه ورکوي چي نورخلک خوبه اورمروپه دغه امرباندي مأموروي دغه لکه دنوروليپاره چي ترغيب وي ﴿ وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِينَ ﴾ اوحکم امرشوی دی ماته چي شم زه اول دمسلمانانو(ددې امت). قرطبي وايې اوهمداسي ووهغه لومړنی څوک وو چي د خپلوپلرونو دين ته يې شاکړه اوبتان يې رېزمرېز کړل الله ﷻ ته يې غاړه کښېښوده ايمان يې راووړ او دهغه جل جلاله لوري ته يې بلنه پيل کړه (۱) ﴿ قُلْ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴾ ووايه (ای محمده !) ببشکه زه وېرېږم له عذابه دورځي لويې(د قيامت) که دخپل رب نافرماني وکړم. صاوي وايې چي پدې کلام کي دنوروخلکوليپاره له ګناهونو څخه زجراوترټنه ده ځکه چي رسول الله ﷺ سره له پاکي اوعصمته وېرېږي نورخلک خوبايدپه اولی طريقه سره ووېرېږي اوهمدغه دانبياوو عليهم السلام اوصالحينوسنت اوتګلاره ده چي نور خلک په هغه څه خبروي چي دوی (انبياء) پخپله ورباندي متصف وي ترڅوهغوی ورپسي اقتدآء وکړي (۲) ﴿ قُلِ اللَّهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَهُ دِينِي ﴾ ووايه (ای محمده !) الله ته عبادت کوم پداسي حال کي چي خالص کونکی يم ده ته (د) دين خپل (له هري شائبې اوشک شبهې نه دغه کلام تکرارنه دی ځکه چي لومړی ددې اخباردی چي رسول الله ﷺ په عبادت کولومأموردی اودوهم يې بياله الله څخه دعصيان په صورت کي دوېرېدني اخباردی اودريم ځل بيادامرپرځای کولو(امتثال) څخه اخباردی چي حصر هم افاده کوي لکه چي ووايې زه دالله عبادت کوم دبل هيچاعبادت نه کوم ﴿ فَاعْبُدُوا مَا شِئْتُمْ مِنْ دُونِهِ ﴾ پس عبادت کوئ تاسي دهرهغه شيزچي اراده وکړئ تاسي غيرله الله. دلته دامرصيغه دوعيد اوتهديدليپاره په کارول شويده يعني له الله پرته د نوروبتانومعبودانو عبادت وکړئ چي بيابيې عاقبت اوانجام وګورئ لکه چي الله فرمايي: ﴿ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ ﴾ (فصلت۴۰) ﴿ قُلْ إِنَّ الْخَاسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ ووايه (ای محمده !) ببشکه زيانکاران هغه کسان دي چي زيان يې رسولی وي ځانونو خپلو ته اواهل خپل ته په ورځ د قيامت کي (چي تل ترتله اورته لوېدلي دي. ابن عباس رضي الله عنه وايې چي هرچا ته په جنت کي هستوګنځي ، اهل اوخدمتګاران شته که چېري يې دالله تعالی عبادت اواطاعت وکړ الله به ګرد شيان ورکړي اوکه داورله خاوندانوونوبه يې خپل دجنت هستوګنځی اهل اوخدمتګاران بايللي وي اوپه خسران کي به واقع شوی وي(۳) ﴿ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ ﴾ واورئ (خبردارشئ چي دغه (خسران) همدغه دی ښکاره زيان (چي ترې پورته بل زيان نشته ، ابوحيان وايې چي دخسران په هکله يې مبالغه وفرمايله چي يويې دتنبيه توری(ألا) راووړ ورپسې يې په (ذلک) سره ورته اشاره وکړه او بيايې په (هو) سره چي دحصر توری دی تاکيدوکړاوپه (الا) سره يې تعريف وکړ اوپه ښکاره والي سره يې وستايو چي ﴿ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ ﴾ يې يادکړنودغه چي يوڅوک لږڅه أدنی سوچ هم کوي د هغه لپاره ښکاره اوڅار خسران دی وروسته له دې چي ددوی خسران يې په دنياکي بيان کړ نوددوی عاقبت انجام

(۱) دقرطبي تفسير ۱۵/ ۲۴۲
(۲) حاشية الصاوي ۳/ ۳۶۹
(۳) تفسير کبير ۳۲/ ۲۵۲

اوأخروي برخه ليک يې داسي يادکړ ﴿ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ ٱلنَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ﴾ وي به دوی ته پاس ددوی طبقات (پوړی) له اوره اولاندي له دوی طبقات (داورچي له هرلوري به يې داور طبقات وي اوداچي دغه يې په سيوري ونومول تهکم دی څکه اورخوسوځونکی وي اوسيوری له تودوخي څخه ژغورونکی ﴿ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ ٱللَّهُ بِهِۦ عِبَادَهُۥ ﴾ دغه (مذکورعذاب) وېروي الله په هغه سره بندګان (مؤمنان) خپل (چي له محرماتو او ګناهونو څخه ځان وساتي) ﴿ يَٰعِبَادِ فَٱتَّقُونِ ﴾ ای زمابندګانو پس وو ېرېږئ له ما (په اجتناب کولو له معاصيو څخه) زمخشري وايي دغه دالله له لوري خپلو بندګانو ته وعظ اونصيحت دی (١) اوحکمت له يادولو داورڅخه دمؤمنانوتخويف دی چي دخپل رب طاعت وکړي ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱجْتَنَبُوا۟ ٱلطَّٰغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا ﴾ (اوهغه کسان چي ځان يې ساتلی دی له بتانو چي دهغوعبادت وکړي).کله چي يې دبت پرستانو وعيد بيان کړورپسي يې دفضلاووا و اهل احسان يادونه وکړه ترڅوچي وعد اووعيد سره يو ځای او په بشپړه توګه ترغيب اوترهيب افاده کړي ابوالسعودوايي چي ﴿ ٱلطَّٰغُوتَ ﴾ دطغيان مبالغه ده لکه چي رحموت اوعظموت وي مرادله طاغوت څخه شيطان دی اوهغه دمبالغې لپاره په دغه وصف ستايل شوی دی (٢) ﴿ وَأَنَابُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ اورجوع يې کړي وي دالله لوري ته (په طاعت او عبادت سره) ﴿ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ ﴾ شته دوی ته زېری (بشارت) دالله له لوري چي دوی به جنات النعيم مومي ﴿ فَبَشِّرْ عِبَادِ ٱلَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُۥٓ ﴾ پس زېری ورکړه (ای محمده !) پر بندګانو زما هغوی چي خبري اوري پس متابعت کوي دوی (دېرښه دهغو) ابن عباس ﷺ وايي چي داهغه څوک دي چي ښې اوبدي خبري اوري اوبيانښې خبري کوي له بدوڅخه تېرېږي اونه يې کوي (٣) دغه دالله له طرفه ددوی ثنابيانول دي چي دوی داسي خيراکت لري چي أحسن الکلام بېلولای شي اوکله چي کومه ويناواوري هغه وګوري او وربانديې عمل کوي اوأحسن الکلام دالله کلام اوخيرالهدی د محمد رسول الله هدايت دی داچي دضميرپرځای يې اسم ظاهر راوړی چي ﴿ فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴾ يې د (فبشرهم) پرځای راوړی دغه يې دبندګانوتشريف اوتکريم فرمايلي چي خپل ځان ته يې ددوی نسبت کړی دی ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ ٱللَّهُ ﴾ داهغه کسان دي چي الله دوی ته سمه لاره ښودلي ده اوخپله رضايې وربانديلوروليده ﴿ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمْ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ اوهمدغه کسان هم دوی دي خاوندان دخالصو عقلونو (اوسالم فطرت) ﴿ أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ ﴾ آياپس هغه څوک چي واجب شوی دی په ده حکم دعذاب (بدمرغي) اوشقاوت دالله له طرفه ؟ ځواب يې حذف شوی چي مابعدوربانديدلالت کوي هغه داچي آياته دداسي

---

(١) الكشاف
(٢) دابو السعود تفسير ٣٠٥/٤
(٣) القرطبي ٢٤٤/١٥

چاهدايت کولو توان لري؟ بلکه نه يې لري بيافرمايي: ﴿أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِي ٱلنَّارِ﴾ آياپس ته ژغورلی شې هغه څوک چي په اورکي دي؟(بلکه نه يې شې خلاصولوی) قرطبي وايي چي رسول الله ﷺ دخپل قوم په ايمان راوړلوکي ډېرحريص ووهغوی چي لا پخوا الله ورته شقاوت اوبدمرغي ليکلي وه نودغه آيت شريف نازل شوابن عباس رضي الله عنهما وايي چي مقصد له دغو کسانوڅخه ابولهب اودهغه زوی اونورهغه کسان دي چي درسول الله ﷺ له قوم اوټبر څخه اوله ايمان څخه محروم وودغه استفهام چي مکرر (أَفَأَنتَ) په کلمه سره راوړل شوددې لپاره چي دکلام په اوږدوکي تاکيدافاده کړي معنادا چي آياهغه څوک چي الله ورته عذاب ليکلی دی ته يې ژغورلای شې ؟[1] ﴿لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ رَبَّهُمْ﴾ ليکن هغه کسان چي له خپله ربه وېرېږي (اوداالله په شريعت او طاعاتويې منګولي لګولي وي) ﴿لَهُمْ غُرَفٌ مِّن فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ﴾ شته دوی ته مانۍ (په جنت کي) چي له پاسه دهغې نوري مانۍ بناکړی شوي دي (له زبرجدواو ياقوتوڅخه)[2] ﴿تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ﴾ چي بهېږي لاندي دمانيو(اوونودهغه) ويالې يې له لښتاوپولو ﴿وَعْدَ ٱللَّهِ لَا يُخْلِفُ ٱللَّهُ ٱلْمِيعَادَ﴾ (وعده کړي ده) وعده کول دالله ، الله مخالفت نه کوي له وعدې خپلي(ځکه چي دغه دعزيزمقتدرالله وعده ده).

تنبيه:

زمخشري وايي چي دالله ﷻ داويناچي فرمايي ﴿يَسْتَمِعُونَ ٱلْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُۥٓ﴾ داافاده کوي چي مؤمنان بايدددين په چارو کي کره کتونکي (نقادان) وي حسن اوأحسن سره بېل کړي فاضل اوأفضل سره وپېژني اوپدې کي مذاهب هم دننه راتلای شي چي بايدهغه مذهب غوره کړای شي کوم چي دليل يې ښه ثابت اونښانې يې خوراڅرګندي وي داسي دي نه وي لکه چي شاعروايي : (ولاتکن مثل عيرقيدفانقادا) يعني داسي مه کېږه لکه خرچي ورته وايي (اُوش)اوهغه ودرېږي[3] .

الله تعالی فرمايي:

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِى ٱلْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِۦ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ حُطَٰمًا ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢١﴾ أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدْرَهُۥ لِلْإِسْلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِۦ ۚ فَوَيْلٌ لِّلْقَٰسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾ ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ ٱلْحَدِيثِ كِتَٰبًا مُّتَشَٰبِهًا مَّثَانِىَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِى بِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ ﴿٢٣﴾ أَفَمَن يَتَّقِى بِوَجْهِهِۦ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ وَقِيلَ

[1] القرطبي ۱۵/ ۲۴۴ او همدادوهم قول دتسهيل مؤلف غوره کړی دی.
[2] دغه دابن عباس رضي الله عنهما وينادہ.
[3] کشاف تفسير ۴ /۹۳

لِلظَّٰلِمِينَ ذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٢٤﴾ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٥﴾ فَأَذَاقَهُمُ
ٱللَّهُ ٱلْخِزْىَ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ
مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِى عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ
وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٩﴾ إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ
ٱلْقِيَٰمَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴿٣١﴾ الزمر: ٢١ ـ ٣١

مناسبت:

كله چي الله تعالى دمشركانو گمراهي اودغيرالله عبادت كول بيان كړل وروسته بيې دوحدانيت دلائل راوړل اوبيايې دآسماني كتابونوترټولوغوره كتاب قرآن كريم يادونه وكړه اوسره له دې چې مشركانو دهمدې كتاب په اعجازاوفصاحت باندي اقرارهم كاوومگربيايې هم تكذيب وكړاو وروسته الله دمشرك اوموحدلپاره خورايوڅرگند مثال بيان كړى دى.

لغتونه:

(سلكه) دننه كړى يې دى (ينابيع) دينبع جمع اوهغه له ځمكي څخه رابهېدونكي چيني ته وايې (يهيج) وچېږي أصمعي وايې: (هاجت الارض تهيج)يعني ځمكه وچه اونباتات يې له مينځه لاړل[1] جوهري وايې چې هاج النبت معناداچي نباتات ژېړ اووچ شول[2] (حطاما) رژېدلي وروسته له وچوالي مات شوي (شرح) خلاص اوپراخ شول (قاسية) سخت، ويل كېږي چې (قلب قاسى) يعني زړه سخت كله چې نرم والى اورقت يې له مينځه لاړشي (مثاني) هغه چې مواعظ، امثال اوحكمتونه پكي مكرروي (تقشعر) ځيگ كېږي اوله وېرې رېږدېدلو ته وايې (الخزي) ذلت اوهوان (متشاكسون) اختلاف اوشخړي كونكي.

تفسير:

﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ آيانه وينې ته (اى هوښيارانسانه چې) بېشكه الله نازلي كړي دي له طرفه دآسمانه اوبه دباران) له وريځي) ﴿ فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ پس ننې ايستلي يې دي دا (اوبه) په چينوپه ځمكه كي. مفسرين كرام وايې چې پدې كې دادليل شته چې دچينواوبه دباران څخه دي چې په ځمكه كي زېرمه كېږي اوبياوروسته كراكراز رابهېږي. ابن عباس وايې په ځمكه كي اوبه نشته مگرهغه چې له آسمانه راا وري اودځمكي په رگونوكي زېرمه كېږي ﴿ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِۦ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥ ﴾ بياراوباسي پدغو(اوبوسره) كښت حال داچې مختلف وي رنگونه دهغه (سور، سپين، ژېړ اوهمداسي قسمونه يې مختلف وي لكه غنم، وريځې، لوبيااونور. بيضاوي وايې (مختلفا الوانه) معناداچي دولونه يې مختلف وي لكه غنم اوزبشي اونوراويايې څرنگوالى مختلف وي چې شين والى، سوروالى

---

[1] القرطبي ١٥/٢۴٢
[2] الصحاح والقاموس المحيط

او نور رنگونه لري (١) ﴿ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصْفَرًّا ﴾ بیاوچ شي پس وینې ته هغه شین رنګ تک ژیړ ﴿ ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ حُطَٰمًا ﴾ پس ګرزوي دغه کښت رژېدلی مات شوی ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ بېشکه په دغو (ذکرشویو کي) خامخا دېرلوی پنددی خاوندانو دخالصو عقلونو ته، په آیت کي دانسان دژوندانه تمثیل دی ددنیاله ژوندسره هرڅومره چي دانسان عمر اوږدشي بیاهم پای ته رسېدونکی دی لکه چي دوښو مثال الله وښود همداسي به انسان دعمرپه پای کي تک ژیړ رژېدونکی وي ترڅوچي ومري . ابن کثیروایي چي دغسي دنیاښکلي ښایسته اوتازه بریښي خوځه موده وروسته بیابوډۍ شاډوله شي لکه چي ځواني په بوډاتوب بدلېږي اوبیاوروسته په مړیني ختمېږي بختور او نېکمرغه هغه څوک دی چي حال یې دخیراونېکمرغي لورته درومي (٢) ﴿ أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدْرَهُۥ لِلْإِسْلَٰمِ ﴾ آیاپس هرهغه څوک چي پرانستلي اوارته کړي وي الله سینه دده لپاره د(قبول د) اسلام (او روښانه کړی یې وي زړه دده چي ایمان پکي رسوخ وکړي) ﴿ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾ پس وي به دی په رڼا (د هدایت) له طرفه درب خپل) یعني هغه به په دیني چاروکي په یقین اوبصیرت بسیاوي دالله ښوونه اوهدایت به یې حق په زړه کي ځلولی وي. په آیت شریف کي محذوف شته چي دکلام سیاق وربادي دلالت کوي اوتقدیریې دادی چي آیادغه کس لکه هغه څوک داسي دی چي زړه یې ړونداوله اسلامه مخ اړونکی وي؟ طبري وایې خواب یې ددې لپاره پرې ایښی چي اورېدونکوته معلوم دی ورروسته کلام وربادي دلالت کوي اوتقدیریې داسي راځي چي آیادغه سړی لکه هغه داسي دی چي الله یې زړه سخت کړی اوداالله له یاده تش اوخالي کړی وي ؟آن تردې چي دحق له اورېدلوڅخه کرکه کوي زړه یې تنګېږي اودحق پلوي اواتباع نه کوي(٣) ﴿ فَوَيْلٌ لِّلْقَٰسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ ٱللَّهِ ﴾ پس افسوس هلاک خرابي ده هغو کسانوته چي سخت وي زړونه ددوی له ذکره دالله (اوخشوع پکي نه وي کله چي دالله ذکرقرآن هغه چي دبندګانو لپاره پندنازل شوی ورته لوستل کېږي زړونه یې نرم والی نه مومي) ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ (دغه کسان په ښکاره ګمراهي کي دي) یعني دغه کسان چي زړونه یې سخت دي له حق څخه لیري دي ,له دې وروسته الله تبارک وتعالی دانبیي چي قرآنکریم دروښنایې اونور لپاره سبب اوپدې کي هدایت اوشفانغښتل شوي ده ویې فرمایل ﴿ ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ ٱلْحَدِيثِ كِتَٰبًا ﴾ (الله تېوته تېوته نازل کړی دی ډېرښایسته خوږ کلام کتاب) یعني الله قرآن عظیم ښایسته کلام نازل کړی دی. ابوحیان وایې چي دالله په نامه پیل اود(نزل) ضمیرورته راجع کول دکتاب دتعظیم اوستري مرتبې څرګندوی دی لکه چي وایې باچافلاني ته عزت ورکړاوداویناتردې چي ووایې فلاني ته باچاعزت ورکړ درنښت لري او حکمت یې دادی چي په لومړی ویناکي پیل په اشرف باندي شوی دی (٤) ﴿ مُّتَشَٰبِهًا ﴾ (مشابه یوله بل سره) یعني ځیني له ځیني

---

(١) البیضاوي ٢/ ١٥٤
(٢) مختصرابن کثیر ٣/ ٢١٧
(٣) تفسیرالطبري ٢٣/ ١٣٤
(٤) البحرالمحیط ٧/ ٤٢٢

نوروسره په فصاحت بلاغت اوتناسب کي مشابه دي چي هیڅ ډول تعارض او تناقض پکي نشته ﴿مَّثَانِيَ﴾ (مکررغبرګ دی) یعني مواعظ، احکام، حلال، حرام، کیسې اواخبار پکي مکرراخي چي سړی یې په لوستلونه مړېږي. طبري وایې د(مثانی) معناداچي پېښې اومهم خبرونه، فیصلې، حکمونه اودلائل پکي دوه ځلي اوپه تکرار راځي (۱)﴿تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ﴾ (چي لړزېږي رپېږي خیګ کېږي له ده نه وروسته پوستوکی دهغوکسانوچي وېرېږي له رب خپل) یعني ددغومؤمنانود قرآنکریم دتلاوت په وخت کي دالله له هیبت اواجلاله زړونه رپېږي ﴿ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ﴾ بیاپاسته شي (آرام ونیسي) پوستوکي ددوی اوزړونه ددوی طرف دیادولودالله ته. مفسرین کرام وایې چي درحمت اواحسان دآیتونو داورېدلو په وخت کي یې زړونه اوپوستوکي نرم شي عارفان وایې کله چي دالله دجمال عالم وګوري په ژوندپوه شي اوچي دالله دجلال نظاره وکړي نوورپېږي (۲) ابن کثیروایې چي دغه دابرارواونېکانو صفت دی کله چي دجبارذات کلام واوري اوکله چي وعداو وعید تلاوت کړي تخویف اوتهدید ولولي نویې له وېري څخه وبښتان دپوستوکي خیږه شي اوکله چي بیادرحمت آیتونه تلاوت کړي نرم اوپاسته شي زړونه اوپوستوکي ددوی ځکه چي دالله درحمت اولطف په هیله کي ډوب شي(۳)﴿ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَن يَشَاءُ﴾ دغه (قرآن) دالله هدایت دی سمه لاره ښیي په دغه (قرآن سره) هرهغه چاته چي اراده وفرمایې له مخلوقه څخه) ﴿وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ﴾ (اوهرڅوک چي الله یې وښویوي پس پیدابه نشي هغه ته هیڅوک لاره ښودونکی) یعني دهرچاچي الله یې زړه سخت اوتیاره کړي بیادهغه لپاره کوم لارښوونکی له الله پرته بل څوک نشته ﴿أَفَمَن يَتَّقِي بِوَجْهِهِ سُوءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ آیاپس هغه څوک چي ځان ساتي په مخ خپل سره له سختي دعذاب دورځي دقیامت؟ خبرېې حذف شوی هغه داچي آیادغه سړي لکه هغه څوک داسي دي چي له عذابه په امن وي؟ مفسرین کرام وایې چي مخ دانسان دبدن دغړو ترګردو اشرف دی اوکله چي انسان ته کوم کړاو ورسېږي نوخپل لاسونه مخ ته نیسي اومخ ژغوري خودکافرانو به دقیامت په ورځ لاسونه تړلي وي کله چي په اورکي وغورځول شي نوبه هیڅ شی ورسره نه وي چي له اوره ځان وربانديٍ وژغوري یوازي مخونه به یې وي چي ځان به ورباندي ساتي ﴿وَقِيلَ لِلظَّالِمِينَ ذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ﴾ اوظالمانوته به وویلی شي چي وڅکئ (خوند) دهغه عمل چي وی تاسي چي کاووبه مو(په دنیاکي) له کفر اوګناهونوڅخه) ﴿كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ﴾ دروغجن شمېرلي وو(خپل پیغمبران) هغوکسانوچي پخواله دوی نه ووپس راغی دوی ته عذاب له

(۱) طبري ۲۳/ ۱۳۵
(۲) التفسیرالکبیر ۲۶/ ۲۷۲
(۳) مختصرابن کثیر ۳/ ۲۱۷

داسي لوري چي نه به پوهېدل ﴿ فَأَذَاقَهُمُ ٱللَّهُ ٱلْخِزْىَ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ پس وبه څکوله الله پردوی خواري اورسوايي په دغه ژوندون ددنياكي ﴿ وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَكْبَرُ ﴾ او خامخا عذاب دآخرت ډېرلوی دی (کوم چي دوی ته تيارشوی) ﴿ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴾ كه چېري وی دوی پدي عالمان (نوتكذيب به يې نه كاوو ايمان به يې راوړی وو) ﴿ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ﴾ (او خامخا په تحقيق بيان كړی دی موږ خلگوته پدغه قرآن كي له هره مثاله (مفيده اوڅرگندوخبرونو چي دوی ورته اړتيالري اوپه ديني چاروكي يې په كاربېږي ﴿ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴾ لپاره ددې چي دوی پرې پندواخلي (اوله دغه زواجرو امثالوڅخه عبرت ترلاسه كړي ﴿ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِى عِوَجٍ ﴾ پداسي حال كي چي داقرآن دی لوستلی شوی په عربي ژبه سره چي نه دی خاوند دكوږوالي (يعني نه پكي څه اختلاف شته اونه هم تعارض اوتناقض ورته لاره مومي ﴿ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴾ لپاره ددې چي دوی وژغورل شي (له محارمو دالله) ورپسې دهغه چامثال راوړي څوک چي له الله سره شريک نيسي اوهغه څوک چي دالله ﷻ دوحدانيت دمنلوعقيده اوباورلري فرمايي ﴿ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ ﴾ بيانوي الله مثل چي يوسړی (مريی) وي چي په ده كي بدخويه (ډېر) شريكان وي (چي تل سره يوله بله په شخړولگياوي هريويې دځان په شخصي كارونوگماري يو ورته ديوكاردترسره كولو امركوي اوبل شريک يې بياله هغه څخه منع كوي اودغه مريی ددوی ترمينځ متحير اومتردد وي نه پوهېږي چي دكوم يوه بادار رضايت اوخوښي ترلاسه كړي ؟ ﴿ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ ﴾ اويوبل سړی وي (هغه هم مريی خو) سلامت ټول ديوه سړي وي (هغسي سړی بادار چي دښواخلاقوخاوندوي اودغه مريی يې هم په اخلاص اوربښتونولي خدمت كوي له باداره هم له احسانه پرته بل څه نه ويني ﴿ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ﴾ آيابرابردي سره دغه دواړه مثلونه ؟ دمريو) يعني آيا دغودواړومريونو حال چي دغه وروستی يې په خاطرجمعي اوسوكالي كي اولومړی يې په خوراغم اوبدحالي كي وي سره برابردي؟! همدغسي دموحدمؤمن حال له مشرك كافرسره نشي پرتله كېدای اوسره برابرنه دي . ابن عباس رضي الله عنه وايي چي دغه مثال دموحدمؤمن اومشرک لپاره بيان شوی دی[1] امام رازي رحمه الله وايي چي دغه مثال دكفردتقبيح اوتوحيددتحسين لپاره خوراپه زړه پوري دی[2] ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ ټوله ثناصفت خاص الله ته دي بلكه زياتره زياتره دخلگونه پوهېږي (پرحق باندي اوله ډېري ناپوهي له الله سره شريک نيسي) څرنگه چي مثال خوراڅرگنداوښكاره وو چي پردوی يې دليل راووړنوبې دآيت پای دالله په صفت سره ښكلی كړ.

---

[1] مختصرابن كثير ۳ / ۲۱۹
[2] التفسيرالكبير ۲۲ / ۲۷۷

﴿ إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴾ بېشکه چې ته هم مړکېدونکی یې او بېشکه دوی هم مړه کېدونکي دي (اوله الله پرته هیڅوک هم پدې دنیاپاتي کېدونکي نه دي) ﴿ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴾ بیابېشکه تاسي دقیامت په ورځ په نزد درب خپل جګړه به کوي (پخپل مینځ کي په دیني امورو، مظالمواودنیوي چاروکي چي أحکم الحاکمین به ستاسو ترمینځ فیصله کوي

***

الله تعالی فرمایي:

﴿ ۞ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَبَ عَلَى ٱللَّهِ وَكَذَّبَ بِٱلصِّدْقِ إِذْ جَآءَهُۥٓ ۚ أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَٰفِرِينَ (۳۲)
وَٱلَّذِى جَآءَ بِٱلصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِۦٓ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ (۳۳) لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ۚ ذَٰلِكَ جَزَآءُ
ٱلْمُحْسِنِينَ (۳۴) لِيُكَفِّرَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ أَسْوَأَ ٱلَّذِى عَمِلُوا۟ وَيَجْزِيَهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ (۳۵)
أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُۥ ۖ وَيُخَوِّفُونَكَ بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ (۳۶) وَمَن يَهْدِ
ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّضِلٍّ ۗ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِعَزِيزٍ ذِى ٱنتِقَامٍ (۳۷) وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ
قُلْ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ إِنْ أَرَادَنِىَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَٰشِفَٰتُ ضُرِّهِۦٓ أَوْ أَرَادَنِى بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ
مُمْسِكَٰتُ رَحْمَتِهِۦ ۚ قُلْ حَسْبِىَ ٱللَّهُ ۖ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ (۳۸) قُلْ يَٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّى عَٰمِلٌ ۖ
فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ (۳۹) مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ (۴۰) إِنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ
لِلنَّاسِ بِٱلْحَقِّ ۖ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ (۴۱) ٱللَّهُ
يَتَوَفَّى ٱلْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَٱلَّتِى لَمْ تَمُتْ فِى مَنَامِهَا ۖ فَيُمْسِكُ ٱلَّتِى قَضَىٰ عَلَيْهَا ٱلْمَوْتَ وَيُرْسِلُ ٱلْأُخْرَىٰٓ إِلَىٰٓ
أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (۴۲) أَمِ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُفَعَآءَ ۚ قُلْ أَوَلَوْ كَانُوا۟ لَا
يَمْلِكُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَعْقِلُونَ (۴۳) قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعًا ۖ لَّهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (۴۴)
وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحْدَهُ ٱشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ ۖ وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ إِذَا هُمْ
يَسْتَبْشِرُونَ (۴۵) قُلِ ٱللَّهُمَّ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ عَٰلِمَ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ أَنتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِى مَا كَانُوا۟ فِيهِ
يَخْتَلِفُونَ (۴۶) وَلَوْ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفْتَدَوْا۟ بِهِۦ مِن سُوٓءِ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ
وَبَدَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا۟ يَحْتَسِبُونَ (۴۷) وَبَدَا لَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ
(۴۸) فَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ضُرٌّ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلْنَٰهُ نِعْمَةً مِّنَّا قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍۭ ۚ بَلْ هِىَ فِتْنَةٌ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا
يَعْلَمُونَ (۴۹) قَدْ قَالَهَا ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ (۵۰) فَأَصَابَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ ۚ وَٱلَّذِينَ

ظَلَمُوا مِنْ هَٰؤُلَاءِ سَيُصِيبُهُمْ سَيِّئَاتُ مَا كَسَبُوا ۚ وَمَا هُم بِمُعْجِزِينَ ﴿۵۱﴾ أَوَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿۵۲﴾ ﴾ الزمر: ۳۲ - ۵۲

مناسبت:

کله چي الله جل جلاله ددې یادونه وکړه چي ګرد خلګ به مري او بیا به دقیامت په ورځ دالله په وړاندي خپلي دشرک او توحید شخړي فیصله کوي او الله به ددوی ترمینځ حکم صادروي نو دلته یې دوه ډلي بیان کړې وروسته یې دمشرکانو قباحت چي هغوی دبتانو په سپارښتنه او شفاعت باورلارو راوسپړل.

لغتونه:

(مثوی) داوسېدلو ځای (یخزیه) رسوا کوي او سپکوي یې (فاطر) مبدع خالق (یحتسبون) ګمان کوي او هیله لري ویل کېږي چي (یرزق من حیث لایحتسب) روزي مومي د(اسي) چي ګمان یې نه وي له هغه لوري روزي ور رسېږي (حاق) وربا ندي راتاوو شو (خوّله) چي مونږ دفضل او کرم له مخي وربښلی (معجزین) له عذابه خلاصېدونکي (یقدر) چي تنګ کړي.

تفسير:

﴿ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَبَ عَلَى اللَّهِ ﴾ پس څوک دی ډېر ظالم؟ (بلکه نشته) له هغه چا چي پر الله دروغ تړي (په نسبت کولو د شریک او نسبت دزوی ده لره) ﴿ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ إِذْ جَاءَهُ ۚ ﴾ او دروغ شمېري رښتیا خبره (قرآن) کله چي راشي ده ته (نو بې له سوچ او فکره هغه دروغ وبولي استفهام انکاري او دنفی په معنا دی یعني تردې سړي بل پورته ظالم نشته دی تر ګردو ظالمانو ستر ظالم دی ﴿ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَافِرِينَ ﴾ آیا نشته په دوزخ کي ځای لپاره دکافرانو استفهام دلته تقریري دی معنا دا چي (بلکه شته) ﴿ وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ ۙ ﴾ او هغه چي راغي په (خبري) رښتیا سره (چي انبیاء دی) او هغه (مؤمنان) چي رښتیا یې وشمېرله دغه (خبره) ﴿ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴾ دغه کسان هم دوی دي پرهېزګاران (له معاصیو) دوی دصلحیت اهل او د ټول احسان او اکرام مستحق دي ﴿ لَهُم مَّا يَشَاءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ۚ ﴾ شته دوی ته (په جنت کي) هر هغه (نعمت) چي دوی یې غواړي په نزد د رب ددوی (له حورو، مانیو، ملذاتو او نعمتونو څخه) ﴿ ذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ ﴾ دغه (مذکور کرامت) د محسنانو نیکو کارانو جزا ده، ځیني مفسرینو لیکلي چي ﴿ وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ ﴾ څخه مراد محمد رسول الله دی او مراد له ﴿ وَصَدَّقَ بِهِ ﴾ څخه ابوبکر ﷺ دی [1] خو غوره دادی چي په دغه صفت کي ګرد انبیاء علیهم السلام شریکان شي او ټول هغه کسان چي د دغه رښتیا خبري لپاره په عقیده او ایمان باندي دعوت کوي ګډ شي

[1] ددې روایت له مجاهد او قتاده څخه شوی او غوره داده چي آیت په عامو پیغمبرانو او مؤمنانو کي وي

چي پرې باندي داكلام هم دلالت كوي چي: ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ ﴾ چی دجمعي صيغه راغلي ده اودغه دابن عطيه رايه هم ده ﴿ لِيُكَفِّرَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ أَسۡوَأَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ ﴾ لپاره ددې چي ورژوي (توى كړي) الله له دوى نه بدتر دهغو گناهونو چي كړي يې وي (او ورته بخښنه وكړي) ﴿ وَيَجۡزِيَهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴾ اوچي جزاء وركړي (الله) دوى ته اجرددوى په سبب دهغه ډېرښه عمل چي وو دوى چي كاووبه يې (په دنياكي) فضلامنه وكرمًا مفسرين كرام وايې عدل خوداوي چي حسنات اوسيئات وشمېرل شي اوبيا جزاء وركول شي خوفضل داوي چي الله پخپلو متقيانو بندگانو باندي تجلي وفرمايې اوبدعملونه يې ورژوي دبديوپه تله كي يې هيڅ هم پاتي نشي اويوازي دنېكي ثواب وركول شي اوهغه ورزيات شي نودنېكي پله يې شپوه شي اودغه دزيات كرم اواحسان نښه ده ﴿ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبۡدَهُۥ ﴾ آيا كافي نه دى الله بس كېدونكى دبنده خپل (بلكه كافي دى) همزه دتقريري استفهام لپاره دى يعني آياالله دخپل پيغمبراوبنده محمد ﷺ لپاره د كافرانود شردفع كولولپاره كافي نه دى؟ ابوالسعودوايې چي دغه دقريشودهغې ويناپه هكله دى چي رسول الله ته يې ويل يابه زموږدخدايانو(بتانو) له ښكنځلولاس اخلې اوكه نه دهغوى آزاربه درپسې شي اوتابه لېونى كړي نودغه آيت درسول الله ﷺ لپاره دډاډينه اوتسليت نازل شويعني الله دخپل بنده لپاره كافي دى اواضافت دبنده الله ته درسول الله لپاره سترتشريف اوتعظيم دى (۱) ﴿ وَيُخَوِّفُونَكَ بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ﴾ اووېروي (كفاراى محمده) تاپه هغوبتانو(چي عبادت يې كوي كفار) بې له الله (كوم چي نه گټه رسوي اونه تاوان دفع كوي) ﴿ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ ﴾ اوهرڅوك چي الله يې گمراه كړي پس پيدابه نشي دي (گمراه) ته هيڅ څوك سمه لاره ښوونكى ﴿ وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّضِلٍّۗ ﴾ اوهرچاته چي الله سمه لاره وښيي پس نشته ده ته هيڅوك گمراه كونكى ﴿ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِعَزِيزٖ ذِي ٱنتِقَامٖ ﴾ (آياندى الله ډېرزبردست غالب اوقوي څښتن دبدل اخيستلو؟ (بلكه دى) يعني دالله ﷻ دربارته چي څوك پناه وروړي نوالله ﷻ دهغه له دښمنانوڅخه ډېرښه كسات اخيستونكى دى هيڅوك الله ﷻ مغلوبولاى نشي په آيت شريف كي دمشركانولپاره وعيد اود مؤمنانولپاره زېرى شته ﴿ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ ﴾ اوخامخاكه وپوښتې ته (اى محمده) له دغو(مشركانو) چي چاپيداكړي دي داآسمانونه اوځمكي؟ نوخامخاوبه وايې چي الله (پيداكړي دي) دغه آيت شريف دبت پرستانودعقيدې په بطلان باندي دليل اوبرهان دى چي يوازي الله ﷻ دځمكي اوآسمانونو پيداكونكى ذات دى. امام رازي وايې چي دقادرحكيم ذات په وجودباندي علم دجمهورو خلگوپه وړاندي دشك اوشبهې ځاى نه دى دعقل فطرت ددغه علم په سموالي شاهدي وركوي ځكه يوڅوك چي دځمكي اوآسمانونوپه عجيبه احوالوكي فكروكړي يادنباتاتواوحيواناتوعجائبات وڅېړي ، ياد انسان دبدن دغړواونادرو حكمتونوپه باب

---

(۱) البحرالمحيط ۷/ ۴۲۹

سوچ وکړي اومصلحتونه يې وپېژني نوخامخابه دحکيم، قادراورحيم ذات په وجودباندي اعتراف کوي ځکه نومشرکانوهم دالله په وجوداقرارکاوو(۱) ﴿ قُلْ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ (ووايه (اى محمده) دوى ته آياپس وينى تاسي هغه بتان چي بولى (عبادت يې کوى) تاسي بې له الله) دغه وينادتوبيخ اوتبکيت لپاره ده يعني وروسته له دې چي تاسوته داثابته شوه چي دګردعالم پيداکونکى ذات الله دى نوبيااوښيئ دغه ستاسوبتان چي پرته له الله يې عبادت کوى ﴿ إِنْ أَرَادَنِىَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَٰشِفَٰتُ ضُرِّهِۦٓ ﴾ که چېري ماته الله دضرر رسولواراده وفرمايې آيادابتان دي ليري کونکي دضرردهغه (الله له ماڅخه؟بلکه نه دى ﴿ أَوْ أَرَادَنِى بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَٰتُ رَحْمَتِهِۦ ﴾ ياکه چېري (الله) اراده وفرمايې له ماسره درحمت (دنفعي رسولو) آيادى دغه (بتان) منع کونکي درحمت دالله؟ (له مانه بلکه نه دي) ځواب پدي کي محذوف دى يعني ژردى چي دوى به ووايې نه،دغه بتان نه ضررليري کولاى شي اونه نفع رسول دالله منع کولاى شي(۲) ﴿ قُلْ حَسْبِىَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴾ ووايه (اى محمده دوى ته) زماالله بس دى خاص په همدغه الله توکل کوي توکل کونکي ، مقصدله دې څخه پردوى باندي احتجاج کول دي چي دغه بتان نه ضرررسوي اونه ګټه اوهمداسي دالله ﷻ په وحدانيت باندي برهان قائمول دي ﴿ قُلْ يَٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ ﴾ ووايه(اى محمده !) اى زماقومه عمل کوئ تاسي پخپل ځاى(دمکر فرېب اوتېرايستلو) ﴿ إِنِّى عَٰمِلٌ ﴾ زه هم عمل کونکى يم (پخپله طريقه ددعوت اوبلني) ﴿ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ ﴾ پس ژردى معلوم به کړي تاسي (زمااوتاسونه) هرهغه چي رابه شي هغه ته داسي عذاب چي وبه يې شرموي (رسوابه يې کړي) ﴿ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴾ اونازل به شي پرده عذاب تلپاتي (چي داورعذاب دى آيادغه عذاب به ماته او که تاسوته رسېږي؟ غرض له دې نه ددوى تهديددى. ابوالسعودوايې چي په آيت شريف کي دوعيدمبالغه ده اوددې خبرتياده چي دعليه السلام حال ورځ په ورځ دالله په تائيداونصرت قوت مومي اوداچي الله بې ګړى په ګړى دښمنان رسواکوي ددې دليل دى چي الله به خپل نازولي استازي ته برى ورکوي اوهمداسي الله ﷻ مشرکان دبدرپه ورځ معذب اوشرمول(۳) ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ لِلنَّاسِ بِٱلْحَقِّ ﴾ بېشکه موږ نازل کړى کتاب پرتا(قرآن) دپاره دانتفاع دټولو) خلګوپه حقه سره (چي ځرګنددى له باطل سره ګډېدونکى نه دى) ﴿ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَلِنَفْسِهِۦ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ﴾ پس هرچاچي سمه لاره وموندله پس نفع يې ده لره ده اوهرڅوک چي ګمراه شوپس بېشکه همداخبره ده چي ګمراه کېږي پخپل ځان (چي دګمراهي ضررګالي) ﴿ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴾ اونه يې ته پردوى ساتونکى (چي په

---

(۱) تفسيرکبير۲۶/ ۲۸۲

(۲) القرطبي ۱۵/ ۲۵۹

(۳) ابوالسعود۴/ ۳۱۰

زوره يې دايمان راوړلو ته مجبور کړي. صاوي وايي چې پدې کې د رسول الله لپاره توصيه ده چې ددوی لاربنوونه ستا په لاس کې نه ده چې په زوره ايمان ورباندې وتپې بلکه دغه زموږ په لاس کې ده که وغواړو هدايت به ورکوو او که مو اراده وشوه همداسې به يې په ګمراهۍ کې پرېږدو(۱)﴿ اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا ﴾ الله راکاږي (قبضوي) نفسونه په وخت د مرګ ددوی (کله چې يې اجل راورسي او وفات يې وي)﴿ وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا ﴾ او هغه نفس چې نه وي مړ (هغه راکاږي) په خوب د هغه کې (چې دغه ته وفات صغری وايي په التسهيل کې وايي چې دغه آيت شريف د عبرت لپاره دی معنايې داده چې الله په دوه ډوله خلګ مړه کوي يو دا چې کامل مرګ او وفات وي چې حقيقتاً مرګ دی او دوهم خوب دی چې په خوب کې هم سړی لکه مړی داسې وي نهويني او نه اوري او پدې باندې د الله جل جلاله دا قول هم شاهد دی چې:﴿ وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُم بِاللَّيْلِ ﴾ (الانعام:۶۰) او په آيت شريف کې عطف دی چې تقديري داسې کېږي چې هغه نفسونه چې په خوب کې نه وي مړه هغه قبضوي او راکاږي يې(۲) ابن کثير وايي چې الله دلته دا اخبار فرمايي چې هغه په وجود کې څرنګه چې يې خوښه شي هغسې تصرف کوي او هغه په وفات کبریٰ سره نفس قبضوي چې پرښتې را استوي او د بدنونو ساوې کاږي بل ډول وفات صغریٰ دی کوم چې د خوب په وخت کې وي(۳)﴿ فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَىٰ عَلَيْهَا الْمَوْتَ ﴾ پس وساتي هغه (نفس) چې حکم کړي پرهغه د مرګ (نو بيرته يې بدن ته نه راستنوي)﴿ وَيُرْسِلُ الْأُخْرَىٰ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾ (او بيرته رالېږي (بدن ته) هغه بل (نفس) ترنيټې په نامه کړی شوي پورې) يعني هغه دوه ډوکسانو ساګانې دويښېدلو په وخت کې بيرته د هغوی بدنونو ته راپرېږدي ترڅو چې يې اجل رارسي هغه چې د حقيقي مرګ معلومه نېټه ده؛ ابن عباس ﷺ وايي چې د مړو او ژوندو ساګانې او ارواح په خوب کې سره يوځای کېږي او کومې چې د الله خوښه شي يو له بله تعارف کوي او کله چې بيرته د راستنېدلو لپاره تکل وکړي نو الله د حقيقي امواتو ساګانې له ځانه سره وساتي او د ژوندي و کسانو بيرته د هغوی بدنونو ته ولېږي(۴) قرطبي وايي په آيت شريف کې د الله په ستر قدرت باندې تنبيه ده چې دغه الله چې إحياء او اماتت يې په واک کې دی په الوهيت کې منفرد دی دغه ذات هرڅه چې يې خوښه شي ترسره کوي يې پداسې کارونو له هغه ﷻ پرته بل څوک قدرت نلري(۵) څکه فرمايي:﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ بېشکه په دغه (عجيب قبض، امساک او ارسال) کې خامخا ډېر دلائل د قدرت دي د پاره د هغه قوم چې فکر کوي (او عبرت ترې اخلي)﴿ أَمِ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ شُفَعَاءَ ﴾ آيا نيولي دي دغو (مشرکانو) شفاعتګران؟ (أم) د اضراب لپاره دی معنادا چې د الله په قدرت کې خوېي فکرونکړ بلکه بتان يې لا، الله ته سپارښت

(۱) د صاوي حاشيه پر جلالين باندې ۳/ ۳۷۴
(۲) التسهيل ۳/ ۱۹۲
(۳) مختصر ابن کثير ۳/ ۲۲۲
(۴) القرطبي ۱۵/ ۲۶۰
(۵) القرطبي ۱۵/ ۲۶۰

کونکي نيولي ددوى جهالت اوحماقت ته وګورئ چي داسي څېزچي هيڅ څواک نلري دوى يې شفاعتګران مني. ابن کثير وايې چي دغه دمشرکانوبدي بيانوي چي دوى له الله پرته بتان هغه چي دوى له ځانه بې له کوم دليل اوبرهانه څخه غوره کړي نه عقل لري اونه اوري نه ويني بلکه داسي جمادات دي چي تر ډېروحيواناتو بدتردي (۱) په شفاعت کولو مني ﴿ قُلْ أَوَلَوْ كَانُوا۟ لَا يَمْلِكُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَعْقِلُونَ ﴾ (ووايه (اى محمده دوى ته) آيااګرکه وي دوى پداسي حال کي چي مالکان نه وي دهيڅ شي اونه عقل لري ؟) يعني اګرکه دوى جمادات اوعقل نلري چي ستاسي عبادت ورته معلوم شي بيابې هم تاسوشفاعتګران نيسى؟) ﴿ قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَـٰعَةُ جَمِيعًا ﴾ ووايه (اى محمده دوى ته !) خاص الله ته (اختيارد) شفاعت دى ټول (اوبل هيچالره دخل نشته چي بې دالله له اذنه شفاعت وکړي) ﴿ لَّهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ خاص الله لره دى سلطنت دآسمانونواوځمکي ، بيضاوي وايې چي الله مالک الملک دى کله چي دالله اذن اوخوښه نه وي هيڅوک دالله په حکم کي دخبروکولوځواک نلري (۲) ﴿ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ بياخاص همده ته بيرته بېول کېږى (دقيامت په ورځ چي هلته به الله پخپل عدل ستاسوترمينځ حکم کوي اوهرچاته به له خپلو کړو سره سمه جزاورکړي وريسې الله ددوى يوبل ناولى کارداسي بيانوي ﴿ وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحْدَهُ ٱشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ ﴾ اوپه هغه وخت کي چي يوازي الله يادکړى شي (ددوى ترمخ وويل شي چي: (لااله الاالله) نومنقبض شي وترهېږي زړونه دهغوکسانوچي ايمان په آخرت نه راوړي ﴿ وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴾ اوپه هغه وخت کي چي يادکړى شي هغه (بتان) بې له دغه (الله) ناڅاپه دوى خوشحالېږي (مخونه يې رڼانه اوتندى يې له خوښي پرانستل شي ، امام فخررازي وايې چي دغه دمشرکانويوبل ناوړه فعل دى کله چي ته يوازي الله يادکړې اووايې چي: لااله الاالله وحده لاشريک له) نوددوى په مخونواوزړونوکي کرکه اونفرت ښکاره شي اوچي کله بتان يادکړې نوددوى له سينواومخونوڅخه دخوښي نښي نښانې څرګندي شي اودغه ددوى په جهل او حماقت باندي دلالت کوي ځکه چي دالله ذکردنېکمرغيوپيل اودنېکيوسردى اودبتانويادونه بيادناپوهي اوبدمرغي پيلامه ده نودوى چي دالله په ياداوذکرخفه کېږي اودبتانوپه هغي خوښېږي دغه ددوى دسترجهل اوپلن حماقت نښه او دليل دى (۳) ﴿ قُلِ ٱللَّهُمَّ فَاطِرَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ ووايه (اى محمده !) اى الله پيداکونکي دآسمانونو اوځمکي ﴿ عَـٰلِمَ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ ﴾ اى عالمه خبرداره په پټواوښکاره وو ﴿ أَنتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِى مَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴾ ته حکم (فيصله کوې (په قيامت کي) په مينځ دبندګانوخپلوکي په هغو(چارو) کي چي وو دوى پکي اختلاف به يې

(۱) مختصرابن کثير ۳ / ۲۲۴
(۲) دبيضاوي تفسير ۲ / ۱۵۴
(۳) کبيرتفسير ۲۶ / ۲۸۲

کاوو (نوفیصله وکړه زما او ددغو مشرکانو ترمینځ ۱، په البحر المحیط کي راوړي چي کله الله ددوی دکم عقلي څخه اخبار وفرمایو چي دغه مشرکان دالله دیادولو په وخت کي کرکه کوي او دبتانو دیادولو سره تندی ورین کړي نو بیې خپل پیغمبر ته حکم وکړ چي الله پخپلولوړو نومونوسره چي قدرت او علم دی وبولي ترڅو دده اودښمنانو ترمینځ بیې فیصله صادره کړي په آیت شریف کي دمشرکانو لپاره وعید اودرسول الله لپاره تسلیت اوډاډینه ده (۱) صاوي وایې معنادا چي الله ته په زاري او خشوع التجاء وکړه چي هغه په هرڅه باندي قادر دی (۲) ﴿ وَلَوْ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ﴾ که چیري بېشکه مملوک شي دهغو کسانو چي (پخپل ځان بیې په کفر سره) ظلم کړی دی ﴿ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ ﴾ هغه (مالونه) چي په ځمکه کي دي ټول او په مثل دهغه نورو سره ﴿ لَافْتَدَوْا بِهِ مِن سُوءِ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ نو خامخا فدیه به ورکړي دوی په هغه سره له بدرنګه عذابه دقیامت په ورځي کي ﴿ وَبَدَا لَهُم مِّنَ اللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا يَحْتَسِبُونَ ﴾ اوښکاره به شي دوی ته له جانبه دالله هغه (عذاب) چي نه وودوی چي (دهغه) ګمان به یې کاوو، ابوالسعود وایې چي دغه داسي ستروعید دی چي ترې پورته بل نشته اودهغه په مثل وعدا وزیری دادی چي (۳) ﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ ﴾ (السجدة ۱۷) ﴿ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا كَسَبُوا ﴾ اوښکاره به شي دوی ته (جزاء د) بدي دهغو اعمالو چي دوی کړي وو ﴿ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴾ اوچاپېره نازل به شي په دوی (جزاد) هغه ځیزچي وودوی چي په هغه پوري به یې مسخرې کولې ، ابن کثیروایې معنادا چي چاپېره به شي پردوی هغه عذاب او سزا چي دوی به په دنیاکي ورباندي مسخرې کولې (۴) ﴿ فَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ﴾ پس کله چي ورسېږي (کافر) انسان ته څه قسم ضرر (کړاو سختي) نو بولي موږ (دفع دهغه ته) ﴿ ثُمَّ إِذَا خَوَّلْنَاهُ نِعْمَةً مِّنَّا ﴾ بیاکله چي ورکړو موږده ته کوم نعمت له (جانبه) خپله (په فضل او کرم سره) ﴿ قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ ﴾ وایې بېشکه همدا خبره ده چي را کړی شوی دی ماته دغه (نعمت) په سبب دپوه (زماچي زه په کسب او سوداګري کي پیاوړی او غښتلی یم) ﴿ بَلْ هِيَ فِتْنَةٌ ﴾ (نه ده داسي) بلکه دغه (ورکړه دنعمت) فتنه امتحان ازموینه ده (چي آیادی زموږ اطاعت کوي اوکه عصیان غوره کوي) ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ ولیکن اکثر ددوی نه پوهېږي (چي دغه اعطاء دنعمت یوه ابتلاء ده نو ځکه دوی تکبر کوي) ﴿ قَدْ قَالَهَا الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ په تحقیق ویلې ده دغه خبره هغو کسانو (چي تېرشوي دي) پخواله دوی نه (لکه قارون او نورچي ویل به یې

---

(۱) البحر المحیط ۷ / ۴۳۲
(۲) دصاوي حاشیه ۳ / ۳۵۷
(۳) دابوالسعود تفسیر ۴ /۳۱۱
(۴) مختصر ابن کثیر ۳ / ۲۲۴

﴿ قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِىٓ ﴾ (القصص:۷۸) ﴿ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴾ پس هيڅ قدر دفع
دعذاب ونكړه له دوى څني هغه (دنيوي مال اومتاع) كوم چي وودوى دهغه (دګټي) كسب به يې كاوو
﴿ فَأَصَابَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ ﴾ پس ورسېدوهغو(پخوانيو) ته (جزاء دهغوبدو) اعمالوچي دوى به كول
﴿ وَٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْ هَـٰٓؤُلَآءِ ﴾ اوهغه كسان چي ظلم يې كړى دى (په اختيارولود شرك) له دغه (قومه
ستاقريشوڅخه) ﴿ سَيُصِيبُهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ ﴾ ژردى چي وبه رسېږي دوى ته (جزآء د) بديو دهغو
اعمالو چي دوى كړي دي (لكه چي هغه نوروته رسېدلي وه بيضاوي وايي چي همدغه جزا ورته هم
ورسېدله چي اوه كاله پرله پسې كاختي اولوږه ورباندي راغله دمرګوغوبني يې وخوړلې اومشران يې
په بدر كي ووژل شول (۱) ﴿ وَمَا هُم بِمُعْجِزِينَ ﴾ اونه دي دوى (زموږ) عاجز كونكي (چي له عذابه
موخلاص شي ياوتښتي بيا ورباندي پدې هكله ردكوي چي دوى ګمان كوي دغه پراخي دنعمت ددوى
دسوكالي لپاره دى فرمايي ﴿ أَوَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ﴾ آيانه پوهېږي دوى په
دې چي بېشكه الله پراخوي روزي هرهغه چاته چي اراده وفرمايي (او تنګوي يې) په نوروڅكه چي
ددنيادوركړي اومنعي چاري ديوچاترذكاوت اوغباوت پوري اړه نلري بلكه دغه دحكمت دوېش خبره ده
﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ ببشكه په دغه (بسط اوقبض) كي خامخاډېردلائل (دقدرت) دي
دپاره د (هغه) قوم چي ايمان راوړي (دالله په آيتونو) قرطبي وايي چي مؤمن يې څكه ځانګړى يادكړچي
هغه په آيتونوكي تدبركوي او ورباندي نفع اخلي اوپدې پوهېږي چي كله كله دروزي پراختياداستدراج
لپاره وي اوكله كله مسكنت اوبې وزلي ديوچادااعظام اودرناوي لپاره هم وي (۲)

***

الله تعالى فرمايي:

﴿ ۞ قُلْ يَـٰعِبَادِىَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا۟ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿۵۳﴾ وَأَنِيبُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا۟ لَهُۥ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿۵۴﴾ وَٱتَّبِعُوٓا۟ أَحْسَنَ
مَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلْعَذَابُ بَغْتَةً وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴿۵۵﴾ أَن تَقُولَ نَفْسٌ
يَـٰحَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِى جَنۢبِ ٱللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّـٰخِرِينَ ﴿۵۶﴾ أَوْ تَقُولَ لَوْ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِى لَكُنتُ مِنَ
ٱلْمُتَّقِينَ ﴿۵۷﴾ أَوْ تَقُولَ حِينَ تَرَى ٱلْعَذَابَ لَوْ أَنَّ لِى كَرَّةً فَأَكُونَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿۵۸﴾ بَلَىٰ قَدْ جَآءَتْكَ
ءَايَـٰتِى فَكَذَّبْتَ بِهَا وَٱسْتَكْبَرْتَ وَكُنتَ مِنَ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿۵۹﴾ وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ
وُجُوهُهُم مُّسْوَدَّةٌ ۚ أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿۶۰﴾ وَيُنَجِّى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ بِمَفَازَتِهِمْ لَا يَمَسُّهُمُ

(۱) دبيضاوي تفسير ۲/ ۱۵۶
(۲) دقرطبي تفسير ۱۵/ ۲۲۷

ٱلسُّوٓءُ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٦١﴾ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ﴿٦٢﴾ لَّهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ
وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٦٣﴾ قُلۡ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَأۡمُرُوٓنِّيٓ أَعۡبُدُ أَيُّهَا ٱلۡجَٰهِلُونَ ﴿٦٤﴾
وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٦٥﴾ بَلِ ٱللَّهَ فَٱعۡبُدۡ وَكُن
مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٦٦﴾ وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ
بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٦٧﴾ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن
شَآءَ ٱللَّهُۖ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخۡرَىٰ فَإِذَا هُمۡ قِيَامٞ يَنظُرُونَ ﴿٦٨﴾ وَأَشۡرَقَتِ ٱلۡأَرۡضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ وَجِاْيٓءَ
بِٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٦٩﴾ وَوُفِّيَتۡ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِمَا يَفۡعَلُونَ
﴿٧٠﴾ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتۡ أَبۡوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَآ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ رُسُلٞ
مِّنكُمۡ يَتۡلُونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِ رَبِّكُمۡ وَيُنذِرُونَكُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنۡ حَقَّتۡ كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ عَلَى
ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٧١﴾ قِيلَ ٱدۡخُلُوٓاْ أَبۡوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٢﴾ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ
رَبَّهُمۡ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا وَفُتِحَتۡ أَبۡوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَا سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ طِبۡتُمۡ فَٱدۡخُلُوهَا
خَٰلِدِينَ ﴿٧٣﴾ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي صَدَقَنَا وَعۡدَهُۥ وَأَوۡرَثَنَا ٱلۡأَرۡضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ ٱلۡجَنَّةِ حَيۡثُ نَشَآءُۖ فَنِعۡمَ أَجۡرُ
ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿٧٤﴾ وَتَرَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنۡ حَوۡلِ ٱلۡعَرۡشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡۖ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّ وَقِيلَ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٥﴾ ﴾ الزمر: ٥٣ – ٧٥

مناسبت:

کله چي الله دفجارومشرکانو احوال یادکړل اوهغه څه یې څرګند کړل کوم چي هغوی به په آخرت کي په سپکاوي اوذلت کي اوسي نو بیا یې مؤمنانو ته دتوبې اورجوع کولو بلنه ورکړه چي پخواتردي چي فرصت یې له لاسه ووزي الله ته دي انابت وکړي اودسورت پای یې دقیامت په ورځ دالله په جلال اوعظمت باندي هلته چي الهي عدل اوانصاف حکم فرما وي اومؤمنان ډلي ډلي جنت ته اوبدمرغه کسان اورته درومي وستایو چي ﴿ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ زُمَرًاۖ ﴾ دآیت ترپایه.

لغتونه:

(بغتة) ناببره ناڅاپه (مثوی) هستوګنځی (مقالید) خزانې اوکلیګاني (زمرا) تولی تولی (خزنتها) څارونکي مؤکلین (نتبوأ) مېشت کېږو موږ ځای نیسو (حافین) ګردچاپېر راتاووشوي

تفسیر:

﴿ قُلْ يَـٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ ﴾ ووايه (اى محمده چي الله فرمايي) اى زما(مؤمنانو) بندګانو هغو کسانو چي اسراف يې کړى په نفسونو خپلو(په ګناهونو سره) ﴿ لَا تَقْنَطُوا۟ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِ ﴾ مه نااميده کېږئ له رحمته دالله (او مغفرت څخه يې) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا ﴾ بېشکه چي الله مغفرت کوي ټولو ګناهونو (له شرکه پرته که څه هم لکه د سيند ځګونه وي) ﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ بېشکه چي الله هم دى دى ښه ښښونکى (دخطيئاتو) دېر رحم والادى (ظاهردآيت داسي معلومېږي چي دغه مؤمنانوته دناأميدي نه کولولپاره بلنه ورکول دي ځکه چي الله فرمايي : ﴿ قُلْ يَـٰعِبَادِيَ ﴾ اوابن کثيروايي چي دغه دګردوګناهکارانولپاره که څه هم کفاروي دتوبې اوانابت لپاره بلنه ورکول دي اوددې اخباردى چي الله ګردګناهونه که هرڅومره زيات هم وي هرکله چي څوک توبه ګارشي اورجوع وکړي ښښي (۱)) ﴿ وَأَنِيبُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا۟ لَهُۥ ﴾ اوبيرته وګرزئ تاسي رب خپل ته (له شرک اوعصيانه) او ده ته غاړه کېږدئ) ﴿ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلْعَذَابُ ﴾ ترپخوا له هغه چي راشي تاسي ته عذاب (دالله) ﴿ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴾ بيابه درسره مددنشي کولاى (په دفع دعذاب کي يعني څوک به پيدانکړئ چي دالله عذاب درڅخه منع کړي (۲)) ﴿ وَٱتَّبِعُوٓا۟ أَحْسَنَ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُم ﴾ (اومتابعت وکړئ دډېرغوره حکم دهغه (قرآن) چي نازل کړى شوى دى تاسي ته له (جانبه د رب ستاسي)يعني دقرآن عظيم داوامروپه امتثال اوله نواهيوڅخه په اجتناب کولوباندي متابعت وکړئ چي دغه ترټولو غوره کتاب دى چي تاسوته دالله له لوري نازل شوى دى اوستاسي فلاح اوسعادت پکې دى ﴿ مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلْعَذَابُ بَغْتَةً وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴾ پخواله هغه چي راشي تاسي ته عذاب يوناڅاپه حال داچي تاسي به نه پوهېږئ (چي له کومه لوري راغى چي مخنيوى يې وکړئ) ﴿ أَن تَقُولَ نَفْسٌ ﴾ ترڅوونه وايي (ځينى) نفسونه (چي ګناهونه يې کړي وى) ﴿ يَـٰحَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِى جَنۢبِ ٱللَّهِ ﴾ اى افسوس اوندامت مي دى په هغه تقصيرچي کړي مي دي په طرف (دحق دطاعت) دالله مجاهد وايي معناداچې افسوس مي دى په هغه چي دالله امرمي نه دى په ځاى کړى (۳)) ﴿ وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّـٰخِرِينَ ﴾ او بېشکه چي وم زه خامخاله مسخره کونکيو(په شريعت اودين دالله کي . قتاده وايي معناداچي يوازي يې طاعت ضائع کړى نه وو بلکه په اهل باندي يې ملنډي هم وهلې ﴿ أَوْ تَقُولَ لَوْ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِى لَكُنتُ مِنَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ ياداچي ووايي (کافر،فاجر) که داسي واى چي بېشکه الله سمه لارښوولي واى ماته

---

(۱) دصاوي حاشيه ۳ / ۳۷۲

(۲) دابن کثيرمختصر ۳ /۲۲۷ ـ کشاف ۴ / ۱۰۵

(۳) القرطبي ۱۵ /۲۷۱

نوخامخاوم به زه له متقیانوپرهېزګارانو، ابن کثیروایي چي مجرم به داسي آرمان کوي اووايي به کاشکي چي له مخلصينو، مطیعينواومحسنينوڅخه واى (۱) ﴿أَوْ تَقُولَ حِينَ تَرَى ٱلْعَذَابَ لَوْ أَنَّ لِي كَرَّةً فَأَكُونَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ﴾ یاچي ووايي (نفس) په هغه وخت کي چي ووینې عذاب کاشکي واى ماته بیرته ورتګ (دنیاته) چي وم به زه هلته له نیکوکارانو ﴿بَلَىٰ قَدْ جَآءَتْكَ ءَايَٰتِى﴾ (هو! داسي ده چي په تحقیق راغلي ووتاته دلائل (نبیان او کتابونه)زما) دغه دهغي ویناځواب دی کوم چي ﴿لَوْ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِى﴾ ده معناداچي تاته خوپیغمبران اوکتابونه راغلي وو ﴿فَكَذَّبْتَ بِهَا وَٱسْتَكْبَرْتَ وَكُنتَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ پس تکذیب کړی ووتاپه هغوسره اوتکبردي کړی وو(له ایمانه) اووې ته له کافرانو(نه منونکو) صاوي وايي چي کافربه لومړی ځل افسوس کوي بیابه سست اوناکاره دلائل بیانويْ وروسته به دنیاته دبیرته تللوآرمان اوهیله کوي(۲) اوکه چیري دنیاته راوګرزي هم به خپله ګمراهي غوره کړي لکه چي الله فرمايي ﴿وَلَوْ رُدُّوا۟ لَعَادُوا۟ لِمَا نُهُوا۟ عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ﴾ (الأنعام: ۲۸) ﴿وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ وُجُوهُهُم مُّسْوَدَّةٌ﴾ اوپه ورځي دقیامت کي به ووینې ته هغه کسان چي په الله پوري يې دروغ تړلي دي چي مخونه ددوی به تور کړی شوي وي(ځکه چي الله ته يې نسبت دشریک اوولد کړی وو) ﴿أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِينَ﴾ آیانشته په دوزخ کي ځای لپاره دمنکرانو(کافرانو؟ بلکه شته! دوی لره هستوګنځی په دوزخ کي کله چي الله پاک دمجرمینوحال بیان کړ وروسته دمتقیانوحال داسي بیانوي چي ﴿وَيُنَجِّى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ بِمَفَازَتِهِمْ﴾ اووبه ساتي الله (له دوزخه) هغه کسان چي ځان يې ساتلی وي (له شرکه) په سبب دخلاصي موندلو(اوبري) ددوی (په جنت سره) ﴿لَا يَمَسُّهُمُ ٱلسُّوٓءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ نه به رسېږي دوی ته سختي اونه به دوی غمجن کېږي بلکه دوی به په امن وي﴿فِى مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ﴾(القمر: ۵۵)وروسته له دې چي په پراخه پیمانه وعداووعیدذکر شوالله دألوهیت او توحید دلائلوته راګرزي فرمايي ﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ وَكِيلٌ﴾ الله پیداکونکی دهرڅېزدی اودغه الله په هرڅېزوکیل (ساتونکی متصرف) دی ﴿لَّهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ خاص هم دغه (الله) لره دي کلیګاني (دخزانو) د آسمانونو اوځمکي (له الله پرته دبل هیڅ‌اتصرف او ملکیت پکي نشته) ابن عباس وايي چي:مقالید یعني کلیګاني اوسدي وايې معناداچي دالله په ید د قدرت کي خزانې دآسمانونواوځمکي دي (۳) ﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ﴾ اوهغه

---

(۱) دابن کثیرمختصر
(۲) حاشیةالصاوی ۳۷۷-۳
(۳) القرطبي ۲۷۴/۱۵

چي كافران شوي دي په آيتونو (د قرآن اوڅرګندومعجزاتو) د الله دغه كسان همدوى زيانكاران دي ﴿ قُلْ أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ تَأْمُرُوٓنِّىٓ أَعْبُدُ أَيُّهَا ٱلْجَٰهِلُونَ ﴾ (ووايه (اى محمده !) آيابې له الله امركوى تاسي ماته چي عبادت بې وكړم؟ اى ناپوهانو) يعني اى محمده دوى ته ووايه چي اى جاهلانو آياوروسته له دلائلودوحدانيت دالله تاسوماته امركوى چي له الله پرته دبل چاعبادت وكړم . ابن كثيروايې چي مشركانوله ډېره جهله پيغمبرعليه السلام ته بلنه وركوله چي ددوى دبتانوعبادت له دوى سره وكړي نودغه آيت شريف نازل شو(۱) ﴿ وَلَقَدْ أُوحِىَ إِلَيْكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكَ ﴾ (اوخامخاپه تحقيق وحى كړى شوي ده تاته او(وحى كړى شوي ده) هغو كسانوته چي له تانه ړومبى وو) لام دقسم لپاره توطئه اومعناداچي والله خامخاپه تحقيق تاته او ترتا ړومبى انبياووته وحى كړى شوي ده ﴿ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ ﴾ (داسي چي قسم دى) كه شرك پيدا كړتا(فرضًا) نوخامخاخراب به شي هرومرو(صالح) عمل ستا ﴿ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴾ اوخامخاشې به ته هرومرو له زيانكارانوپه آخرت كي ، دغه دفرض اوتقديرپه توګه ، كه نه رسول الله ﷺ خوالله معصوم كړى دى هغه هيڅكله هم شرك نه مني بلكه هغه دايمان اوتوحيددمانۍ ودانولولپاره مبعوث شوى دى. ابوالسعودوايې چي دغه دفرض اوتقديرپه توګه وېناده ترڅوچي پيغمبران وپاروي اوكافران ناهيلي كړي اودشرك نهايته زياته بدي اوقباحت وښيي (۲) ﴿ بَلِ ٱللَّهَ فَٱعْبُدْ ﴾ بلكه يوازي دالله ﷻ پس عبادت كوه (دبل چامكوه) ﴿ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴾ اواوسه له شكركونكوڅخه (په نعمت د پروردګارستا) ﴿ وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦ ﴾ اوتعظيم نه دى كړى دغو(مشركانو) دالله حق تعظيم دده(نه يې پېژندلى دى لكه چي حق دمعرفت يې دى . ابوحيان وايې معناداچي دالله ورتعظيم يې ندى تر سره كړى اونه يې دهغه قدرپرځاى كړى ځكه چي له هغه سره يې شريک نيولى اودالله اودبري لرګي تر مينځ يې په عبادت كولوكي هيڅ توپيرنه دى كړى وروسته الله ﷻ دوى ته پخپل عظمت اوجلال باندي تنبيه وركوي فرمايي: ﴿ وَٱلْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ (اوځمكه ټوله په قبضه تصرف دده كي ده په ورځ دقيامت كي) دغه حاليه جمله اومعناداچي دوى دالله دتعظيم ورحق نه دى اداكړى او حال داچي الله په داسي قدرت اوځواک متصف دى چي هغه دعظمت اوجلال لوړه څوكه ده (۳) ځمكه سره له پراخوالي اوويړتوبه دقيامت په ورځ دالله په قدرت كي اودده په واک كي به وي ﴿ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطْوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦ ﴾ اوآسمانونه نغښتلى شوي وي په يمين دده كي . زمخشري وايې غرض له دې ويناڅخه پرته له دې چي دالله ﷻ دعظمت انځور (تصوير) دى اوداچي دالله دجلال په حقيقت اوكُنه باندي توقيف دى بل څه نه دى (۴) نه داچي له دې

---

(۱) مختصرابن كثير ۳/ ۲۲۸
(۲) دابوالسعودتفسير ۴/ ۳۱۴
(۳) الكشاف ۴/ ۱۱۰
(۴) پورتني مرجع

قبضې څخه اوله يمين څخه دي جهت واخيستل شي ، په حديث شريف کي راځي چي: (يقبض الله تعالى الارض ، ويطوى السمآء بيمينه ثم يقول أنا الملک أين ملوک الأرض ؟) يعني الله ځمکه رااخلي اوآسمان په يمين خپل رانغاړي اوبياوايې زه پاچايم دځمکي پاچهان چېرته دي ؟(١) ﴿ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ (پاکي ده ده ته اولوړلوی دی له هغوشيانوچي دوی يې شريکوي) (له الله سره بتان اونورشيان) يعني پاکي ده الله لره لهغودعجزاو نقص صفاتوڅخه چي مشرکان الله ﷻ وربا ندي موصوف کوي وروسې دآخرت کړاوونه هسي فرمايې ﴿ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ ﴾ اوپوکل به وکړل شي په صورشپېلۍ کي (هغه چي دالله په حکم به اسرافيل ﷺ پکي پوکوي اومراد له دغي نفخې څخه نفخة الصعق دی کومه چي له نفخة الفزع څخه وروسته راځي. ابن کثير وايې چي دغه دوهمه نفخة ده هغه چي آسماني اوځمکني ساکنبان به پکي مري ﴿ فَصَعِقَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ پس بېخوده مړه به شي هرهغه چي په آسمانونوکي دي اوهرهغه چي په ځمکه کي دي ﴿ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ مګرهغه څوک چي اراده وفرمايې الله (دنه وژلو دهغه لکه حملة العرش ، حورالعين اوجنتي (غلمان)زلموټي خدمتګاران) ﴿ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ ﴾ بيابه وپوکل شي په هغه صور شپېلۍ کي بل ځل (چي هغه نفخة الاحيآء ده) ﴿ فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنظُرُونَ ﴾ پس ناڅاپه دغه خلق به چي (مړه ووټول) ولاړوي (منتظرچي څه راباندي کېږي؟) ﴿ وَأَشْرَقَتِ ٱلْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا ﴾ اوروښانه به شي ځمکه په نوردرب دهغي کله چي الله دبندګانوترمينځ دفيصلې لپاره تجلي وفرمايې ﴿ وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ ﴾ اوکتاب به کېښودل شي (عملنامې د حساب لپاره) ﴿ وَجِاْيٓءَ بِٱلنَّبِيِّۦنَ وَٱلشُّهَدَآءِ ﴾ (اوراتله به وکړل شي په انبياوو(محشرته) اوپه شهداووسره) يعني انبيابه را وستل شي چي پروردګار ورڅخه پوښتنه وکړي چي أمتيانوبې څنګه اجابت کړی وو؟ اوهغه ساتونکي پرښتې به راوستل شي چي دخلګوپه اعمالوګواهي اداکړي(٢) اوسدي وايې چي مرادله شهيدانوڅخه هغه کسان دي چي دالله په لارکي يې خپل سرونه ځارکړي اوشهادت ته رسېدلي وي ﴿ وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِٱلْحَقِّ ﴾ اوحکم به وکړی شي په مينځ ددوی کي په حق (عدالت) سره ﴿ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ اوپردوی به ظلم ونکړی شي (هيڅ قدرنه په تنقيص دثواب اونه هم په تزئيد دعقاب) ابن جبيروايې نه به يې له حسناتوڅه کمېږي اونه به يې په ګناهونوڅه زياتېږي ﴿ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ ﴾ اوپوره به ورکړل شي هرنفس لره (جزادهغه) عمل چي (ده) کړی وو(له خيراو شرڅخه) ﴿ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴾ حال داچي الله ښه عالم دی پرهغواعمالوچي دوی يې کوي (نه حاجت

---

(١) أخرجه الشيخان واللفظ للبخاري

(٢) دغه دابن زيدوينااوڅرګنده ده لکه چي الله فرمايې ﴿ وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَشَهِيدٌ ﴾ سائق هغه څوک چي حساب ته يې بيايې اوشاهد بياهغه پرښتې دي چي په انسان باندي مؤکل دي.

کتاب اوعملنامې ته شته اونه شاهدته خوله دې سره سره وربانديي دحجت الزام کوي بيا الله ﷻ دنېکمرغه اوبدمرغه کسانوسرنوشت هسې بيانوي چې ﴿ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا ﴾ اوشړل ؛کشول کېږي (په شدت سره) هغه کسان چې کافران شوي دي ددوزخ لورته ډلي ډلي (لکه چې ناروا ظالم کسان په دنياکي بنديخانوته بېول کېږي ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا ﴾ ترهغه پورې چې راشي دوی دوزخ ته حال داچې وبه پرانستلې شي دروازې ددغه دوزخ (سمدستي چې ددوی هرکلی وکړي) ﴿ وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ رَبِّكُمْ ﴾ اووبه وايې دوی ته متصرفان ددغه (دوزخ) آيا نه ووراغلي تاسي ته رسولان له تاسي نه چې لوستل به دغو (رسولانو دتاسي) پرتاسي آيتونه (دآسماني کتابونو) درب ستاسي ﴿ وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ﴾ اووېرول به دوی تاسي لره له ملاقات دهغې (سختي) ورځي ستاسي چې دغه ده ﴿ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ وبه وايې (کفارچې ولې نه ووراغلي)بلکه راغلي ووليکن ثابته شوې ده کلمه (حکم) دعذاب پر کافرانو(هغوی خوراغلي وواومونږ بېې وېرولي هم ووخومونږ بې تکذيب کاووا ومخالفت موترې کاوو ځکه چې مونږ ازلي بدمرغان يو. قرطبي وايې چې دغه ددوی هغه اعتراف دی چې پردوی دليل دی او مرادله کلمة العذاب څخه دالله ﷻ داوينا ده چې ﴿ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴾ (السجدة ۱۳)(۱) ﴿ قِيلَ ٱدْخُلُوٓاْ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ وبه ويل شي دوی ته ننوزئ دروازودوزخ ته پدې حال کې چې همېشه اوسېدونکي اوسئ په ده کې (نه به زوال اونه به لېږدېدل وي)﴿ فَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴾پس بدځای دهستوګنې دی دمتکبرانو(له ايمانه په الله اوپيغمبردادوزخ)﴿ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْاْ رَبَّهُمْ إِلَى ٱلْجَنَّةِ زُمَرًا ﴾ (اوبېول کېږي (بلل کېږي) به هغه کسان چې وېرېدل به دوی له ربه خپله (جنت ته ډلي ډلي) يعني متقيان نېکان به دجنت په لورپه غوره اوښانوسپاره په اکرام اواعزاز درومي. قرطبي وايې چې دوزخيان به په رسوائي اوسپکاي شړل کېږي لکه چې باغيان اوسرغړونکي مجرمين ځېلخانوته بېول کېږي اوجنتيان به په ډېراعزاز اونهايت اکرام سره سپاره دکرامت اورضوان ځای ته رسول کېږي لکه چې څوک شاهانه مېلمستياته بلل شوی وي نودداړو ډلودبېولو ترمينځ دځمکې اوآسمان فرق دی ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا ﴾ ترهغه پورې چې راشي دوی جنت ته حال داچې پرانستلي شوي به وي دروازې ددغه جنت. صاوي وايې چې د(واو) زياتوالی دلته دجنت په باب چې ﴿ وَفُتِحَتْ ﴾ فرمايې: ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا ﴾ ددې لپاره مناسب دی چې ددوزخ خولکه دمحبس دروازې تړلي وي اوکله چې مجرمين ورته راوستل شي نو ورته پرانيستل شي اوبيابېرته وتړل شي مګردخوښي اوشحالي دځای دروازې دانتظارلپاره په تعظيم

---

(۱)قرطبي ۱۵/ ۲۸۴

پرانیستلي وي ښکه نودلته دواو راوړل مناسب دي اودجنت په باب بل ځای الله فرمايي ﴿ جَنَّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ ٱلْأَبْوَٰبُ ﴾ (ص ۵۰) ﴿ وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَٱدْخُلُوهَا خَٰلِدِينَ ﴾ اووبه وايي دوی ته متصرفان دجنت سلام دي وي پرتاسي پاک يی تاسي (له گناهونو) پس ننوزئ جنت ته پدې حال کې چي همېش اوسېدونکي اوسئ په ده کي. بيضاوي وايي چي د(اذا) ځواب حذف شوی ځوچي پدې دلالت وکړي چي ددوی دومره وصف اودرناوی تعظيم دی چي بيان يې نشي کېدای[1] ابن کثيروايي چي تقديريې دادی کله چي دوی راشي نوبه يې سعادت په برخه شي اوخوشحالي به يې هومره وي لکه چي نعمتونه يې موندلي دي[2] ﴿ وَقَالُوا۟ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى صَدَقَنَا وَعْدَهُۥ ﴾ اووايي به دغه (جنتيان) تولـه ثناصفت خاص الله ته دي هغه الله چي رښتني يې کړه له موږسره وعده خپله چي جنت ته يې بوتلو. مفسرين کرام وايي چي دالله دوعدې لپاره هغه الهي کلام دی چي فرمايي: ﴿ تِلْكَ ٱلْجَنَّةُ ٱلَّتِى نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَن كَانَ تَقِيًّا ﴾ (مريم ۲۲) ﴿ وَأَوْرَثَنَا ٱلْأَرْضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ ٱلْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَآءُ ﴾ اوميراث يې راکړه موږته ځمکه (دجنت) چي ځای نيسوله جنته هرځای چي زموږ خوښ شي (لکه چي مالک پخپل ملک کي تصرف کوي هيڅوک زموږمخه نه نيسي) ﴿ فَنِعْمَ أَجْرُ ٱلْعَٰمِلِينَ ﴾ پس ښه دی اجرد(نېک) عمل کونکيوددغه جنت) ﴿ وَتَرَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنْ حَوْلِ ٱلْعَرْشِ ﴾ او وينې به ته (ای محمده!) پرښتي (طواف کونکي) چارچاپېر نيونکي چاپېرله عرشه ﴿ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ﴾ تسبيح به وايي دوی (پيوسته) له حمده اوثنادرب ددوی سره (تلذذاً وتعبداً) ﴿ وَقُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْحَقِّ ﴾ اوفيصله به وشي په مينځ دخلگوکي په حق سره ﴿ وَقِيلَ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ اووبه ويلی شي چي تولـه ثناده خاص الله ته چي رب پالونکی دعالميانودی مفسرين کرام وايي چي ويونکي به مؤمنان اوکافران وي مؤمنان به دالله په فضل حمدوايي اوکافران به دالله په عدل. ابن کثيروايي چي گردکائنات به په حمد خوله پوري کړي که گرېدونکي وي اوکه نه ښکه نوقائل نه ونومول شواومطلقاًيادونه وشوه نودا پدې دلالت کوي چي گردمخلوقات به دالله په حمدويلوگوياشي.[3]

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

([1]) البيضاوي ۲/ ۱۴۷

([2]) دابن کثيرمختصر ۳/ ۲۳۲

([3]) دابن کثيرمختصر ۳/ ۲۳۳

۱-د طباق صنعت چي ﴿ إِن تَكْفُرُوا ﴾ او ﴿ تَشْكُرُوا ﴾ او ﴿ يَحْذَرُ ﴾ او ﴿ وَيَرْجُوا ﴾ او ﴿ فَوْقِهِمْ ﴾ او ﴿ تَحْتِهِمْ ﴾ او ﴿ بِضُرٍّ ﴾ او ﴿ بِرَحْمَةٍ ﴾ او ﴿ ٱلْغَيْبِ ﴾ او ﴿ وَٱلشَّهَـٰدَةِ ﴾ او ﴿ يَبْسُطُ ﴾ او ﴿ وَيَقْدِرُ ﴾ او ﴿ ٱهْتَدَىٰ ﴾ او ﴿ ضَلَّ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

۲-اشتقاقي جناس لکه چي ﴿ يَتَوَكَّلُ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴾ او همداسي پدې قول کي چي ﴿ أَحْسَنُوا فِى هَـٰذِهِ ٱلدُّنْيَا حَسَنَةٌ ﴾ کي واقع شوی دی.

۳-تهکمي اسلوب چي فرمايي: ﴿ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ ٱلنَّارِ ﴾ دلته د سيوري نسبت اورته کول تهکم او استهزاء دی ځکه چي سيوری له تودوخي او ګرمي څخه د ژغورلو لپاره وي او رپخپله سوځونکی دی

۴-شکلي مقابله چي پدې کلام کي ده: ﴿ وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحْدَهُ ٱشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ ﴾ دلته د الله او بتانو ترمينځ مقابله او دخوښي او کرکي (نفرت) ترمينځ دمقابلې صنعت دی او همداسي د سعداوو او اشقياوو ترمينځ په دوو آيتونو کي مقابله ده چي ﴿ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا ﴾ مقابل يې دا چي ﴿ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا رَبَّهُمْ إِلَى ٱلْجَنَّةِ زُمَرًا ﴾ مقابله هغه څه ته وايي چي دوه مقصده او يا زيات راوړل شي او بيا يې په ترتيب نور مقابل راوړی شي چي دغه له بديعي محسناتو ګڼل کيږي

۵-ايجاز بالحذف چي سياق وربانديې دلالت کوي لکه ﴿ أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدْرَهُۥ لِلْإِسْلَـٰمِ ﴾ خبريې حذف شوي هغه دا چي (کمن طبع الله على قلبه؟) يعني آيا هغه چي سينه يې د اسلام لپاره پرانيستل شوي لکه هغه داسي دی چي په زړه يې مهرلګول شوی وي؟! همداډول دايجاز بالحذف بل مثال دی چي الله فرمايي ﴿ أَمَّنْ هُوَ قَـٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ ﴾ چي محذوف يې دا دی (کمن هو کافر جاحد لربه) يعني هغه چي مؤمن او تول شپه الله ته په زاري ولاړوي لکه هغه کافر دغسي دی چي له الله څخه منکروي؟!.

۶-هغه أمرچي مقصدور څخه تهديدوي لکه ﴿ قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ ﴾ او يا دا چي ﴿ ٱعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ ﴾ چي په وعيد کي دمبالغې لپاره راغلی دی.

۷-مرسل مجاز چي فرمايي: ﴿ أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِى ٱلنَّارِ ﴾ مسبب يې راوړی او د سبب اراده يې کړي ده ځکه چي ګمراهي د اورته لوېدلو سبب دی.

۸-استعاره چي پدې کلام کي ده ﴿ لَّهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ يعني د نعمتونو کليګاني د آسمانونو او ځمکي او د آيت معنا دا چي د الله د رحمت او فضل خزانې د الله په يد کي دي.

۹-تمثيلي استعاره پدې آيت کي: ﴿ وَٱلْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ وَٱلسَّمَـٰوَٰتُ مَطْوِيَّـٰتٌۢ بِيَمِينِهِۦ ﴾ دغه د الله د عظمت او بشپړ قدرت لپاره يو مثال دی او هغه لوی لوی اجرام چي عقلونه ورته

حيرانېږي دالله ﷻ قدرت ته داسي دي لکه چي يوڅوک خوراسترځېزېه ورغوي کي موټ کړي اودآسمانونو نغښتل په يمين سره دتمثيلي استعارې ډول دی په تلخيص البيان کي ليکي چي په آيت کي استعاره ده اومعناداچي ځمکه دالله په قدرت کي داسي ده لکه چي يوڅوک يو موټی خاوره رااخلي اوهيڅوک ورسره شرکت نلري اوآسمانونه دالله په ملک کي راغونډشوي اوپه قدرت يې رانغښتل شوي . زمخشري وايې چي آيت دالله دعظمت دانځورولولپاره دی اوداچي دالله دجلال حقيقت کنه توقيفي دی بې له دې چي په قبضه باندی موټی اويمين سره لوري ته ولاړشي اوپه علم بيان کي تردغه باريک، نرم، خوږ اولطيف باب بل نشته.

۱۰ – کنايه چي فرمايې: ﴿ أَن تَقُولَ نَفْسٌ يَٰحَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِى جَنۢبِ ٱللَّهِ ﴾ دجنب الله معنادالله طاعت اوحق دی اودغه هم باريکه کنايه ده.

۱۱ – دالتفات صنعت چي له تکلم څخه غيبت ته راغلی دی اوالله فرمايې: ﴿ لَا تَقْنَطُوا۟ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِ ﴾ چي اصل يې داوو چي (لاتقنطوا من رحمتي) دبيان علماء فرمايې چي پدې آيت شريف کي چي فرمايې: ﴿ قُلْ يَٰعِبَادِىَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ ﴾ پدې کي دمعاني اوبيان څوډوله محسنات صنعتونه دي يو داچي دالله ناره خپلو بندګانو ته داقبال اومخامخ په بڼه بل ددوی نسبت هغه ته دتشريف لپاره اودريم ځل التفات له تکلم څخه غيبت ته چي فرمايې ﴿ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِ ﴾ ورپسې داچي درحمت اضافت هغه لفظ ته چي هغه مستجمع دټولوصفاتواوآسماوو(الله) دی اوپنځم داچي دلته داسي جمله راوړل شوي چي دواړه لوري يې معرفه اوپه (اِنّ) اوضميرفصل سره يې تاکيدشوی دی چي ﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ دی.

۱۲ – دفواصلوتوافق په آخروتوروکي چي زښته خوندور اوښايسته دی مثلادالله داقول ولوله ﴿ وَنُفِخَ فِى ٱلصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ ۖ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنظُرُونَ .... وَأَشْرَقَتِ ٱلْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ وَجِا۟ىٓءَ بِٱلنَّبِيِّۦنَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَقُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ .... وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴾ آيادغه حسين بيان اودهغه جمال دي دې ته نه هڅوي چي ژبه دي درحمان ذات په ذکروګرزي؟!.

دالله جل جلاله په مرسته د(الزمر)سورت تفسيربشپړشو.

***

دغافرسورت مکي اوپنځه اتیاآیتونه لري:

دسورت په وړاندي:
دغافرسورت مکي اودنوروسورتونوپه شان دعقیدې چاري سمبالوي داسي برېښي چي دسورت محوردي دحق اوباطل ترمینځ دجګړې په باب وي هلته چي ضلالت اوهدایت سره ډغري وهي نودالامل دی چي دسورت فضادجګړې اوشخړي په دوړوکي پټه ده ته به وایې دغه خونړۍ جګړه ده چي په تورو اوغښوپکي وارونه کېږي اوپه پای کي دطاغوتانواوسرغړونکوپه ماتي باندي بشپړېږي هلته چي هغوی تارپه تارخاوري ایرې دجګړې په ډګرکي له پښنولوېږي

دسورت په سرکي دالله ﷻ حسنی صفات اوعظمی آیات راځي بیادالله دآیتونوپه هکله دکافرانومجادله پیلېږي سره له دې چي حق روښانه اوځرګندوي خوبیاهم تکبرکونکي اومجادلین جګړه ماران پکي شخړي کوي

سورت دپخوانیوامتونوهلاکتونه راوړي چي الله جل جلاله پخپل زبردست ځواک سره هغوی ونیول ایکي یوهم څني خلاص نشواودې هیبت ناک انځور سره دعرش دپورته کونکوپرښتومنظر راځي چي الله ته په عاجزي اوخشوع دعاګاني کوي

بیاسورت دقیامت ځیني کړاوونواوبېلګي راوړي هلته چي خلګ دالله (جل جلاله) سترپاچاپه وړاند ولاړوي نژدې وي چي زړونه له ډېري خواشینئ ترخولې راووزي په دغه نیمه خوا اوله سختیوډک تم ځا کي به انسان ته دخپل عمل جزاورکوله شي که يې نېک عمل کړی وونبه جزابه ومومي اوکه يې بدع کړی وونبده به ووینی.

وروسته دایمان اوطغیان کیسه راځي هغه چي دموسی ﵇ په بلنه کي کومه چي دطغیان اوجبروت فرعون ته يې ورکوله برېښي ، فرعون پخپله سرکښي اوزبرځواکي هڅه کوي چي موسی ﵇ اوتبه مینځه یوسي هغه وېرېږي چي ایمان دخلګوترمینځ خپورنشي ددې کیسې په ترخ کي یوه دا کړۍ ده چي پخواوړاندي شوي نه ده راځي هغه داچي یومؤمن دفرعون له ټبره په داسي حال کي ایمان يې پټ ساتلی راپاځېږي اوپه احتیاط په کرار اوتلطف سره دحق کلمه اووینا اوروي زوره برآلاپه سپین میدان بیانوي اوکیسه دفرعون اودهغه دپلویانواوملګروپه غرقېدلو پای ته رسېږي هلته چي مؤمن بلونکی اوپلوي مؤمنان يې ټول نجات مومي.

په وروسته کي آیتونه دکائناتوځیني نښانې دالله په عظمت باندي ګواه اوپه وحدانیت لال باندي ګویاراوړي اودهغه چابیان کوي چي دالله په آیتونومنکراوپه وحدانیت يې مشرک اوبیادمؤمن اوکافرلپاره دبینااوړانده مثال راوړي مؤمن په رڼااولیدلواوکافرپه تیاروکي ښیي ودسورت پای دمکذبینواوطاغوتانوپه وروستي برخه لیک بشپړوي اودعذاب هغه ننداره ښکاره کوي چي دوی پداسي وخت کي نیسي هلته چي دوی په خپل غفلت اوګمراهي کي غوپه وي

تسميه او نومول يې:

دغه سورت ته ځکه (غافر) وايي چي الله دغه ستر وصف چي د الله له حسنى صفاتو څخه يو دى د سورت په پيل کي ياد کړى چي ﴿ غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ ﴾ او بيا يې مغفرت د مؤمن دعوتگر په بلنه کي تکرار کړى ﴿ وَأَنَا۠ أَدۡعُوكُمۡ إِلَى ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡغَفَّٰرِ ﴾ او سورت مؤمن يې هم بولي ځکه چي د فرعون د تبر د يو مؤمن کيسه پکي راغلې ده.

الله تعالى فرمايي:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ حمٓ (١) تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ (٢) غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ شَدِيدِ ٱلۡعِقَابِ ذِي ٱلطَّوۡلِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا
هُوَۖ إِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ (٣) مَا يُجَٰدِلُ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَا يَغۡرُرۡكَ تَقَلُّبُهُمۡ فِي ٱلۡبِلَٰدِ (٤) كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ
قَوۡمُ نُوحٖ وَٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۖ وَهَمَّتۡ كُلُّ أُمَّةِۭ بِرَسُولِهِمۡ لِيَأۡخُذُوهُۖ وَجَٰدَلُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ لِيُدۡحِضُواْ بِهِ ٱلۡحَقَّ
فَأَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ (٥) وَكَذَٰلِكَ حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ (٦) ٱلَّذِينَ
يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ
رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ (٧) رَبَّنَا وَأَدۡخِلۡهُمۡ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي
وَعَدتَّهُمۡ وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ (٨) وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ
وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمۡتَهُۥۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ (٩) إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنَادَوۡنَ لَمَقۡتُ
ٱللَّهِ أَكۡبَرُ مِن مَّقۡتِكُمۡ أَنفُسَكُمۡ إِذۡ تُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلۡإِيمَٰنِ فَتَكۡفُرُونَ (١٠) قَالُواْ رَبَّنَآ أَمَتَّنَا ٱثۡنَتَيۡنِ وَأَحۡيَيۡتَنَا
ٱثۡنَتَيۡنِ فَٱعۡتَرَفۡنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلۡ إِلَىٰ خُرُوجٖ مِّن سَبِيلٖ (١١) ذَٰلِكُم بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِيَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُۥ كَفَرۡتُمۡ وَإِن
يُشۡرَكۡ بِهِۦ تُؤۡمِنُواْۚ فَٱلۡحُكۡمُ لِلَّهِ ٱلۡعَلِيِّ ٱلۡكَبِيرِ (١٢) هُوَ ٱلَّذِي يُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزۡقٗاۚ وَمَا
يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَن يُنِيبُ (١٣) فَٱدۡعُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ (١٤) رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو
ٱلۡعَرۡشِ يُلۡقِي ٱلرُّوحَ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوۡمَ ٱلتَّلَاقِ (١٥) يَوۡمَ هُم بَٰرِزُونَۖ لَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنۡهُمۡ شَيۡءٞۚ
لِّمَنِ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَۖ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ (١٦) ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡۚ لَا ظُلۡمَ ٱلۡيَوۡمَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ
ٱلۡحِسَابِ (١٧) وَأَنذِرۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡأٓزِفَةِ إِذِ ٱلۡقُلُوبُ لَدَى ٱلۡحَنَاجِرِ كَٰظِمِينَۚ مَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ حَمِيمٖ وَلَا شَفِيعٖ يُطَاعُ (١٨)
يَعۡلَمُ خَآئِنَةَ ٱلۡأَعۡيُنِ وَمَا تُخۡفِي ٱلصُّدُورُ (١٩) وَٱللَّهُ يَقۡضِي بِٱلۡحَقِّۖ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَقۡضُونَ بِشَيۡءٍۗ إِنَّ

اللَّهَ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴿۲۰﴾ ﴿ أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ كَانُوا مِن قَبْلِهِمْ كَانُوا
هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنَ اللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿۲۱﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ
كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَكَفَرُوا فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ إِنَّهُ قَوِيٌّ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿۲۲﴾ ﴾ غافر: ۱ ـ ۲۲

لغتونه:

(غافر) له غفرڅخه اخيستل شوی او هغه پټولوورک کولواوتورلوته وايي (طول) دانعام او تفضل نوم دی (يدحضوا) دحض، باطلولواوزائلولوته ويل کيږي (حقت) واجب شوي ده (مقت) سخت بغض اونفرت ته وايي (الروح) وحی ته ويل کيږي اونبوت ته ځکه روح وايي چي زړونه ورباندي ژوندي کيږي لکه چي په ارواحوباندي بدنونه ژوندمومي (التلاق) دمحشردورځي اجتماع (بارزون) څرګندچي هيڅ شی به يې نه پټوي (الآزفة) دقيامت دورځي نوم دی ځکه يې (آزفة) بولي چي رانژدې دی (واق) دفع کونکی چي عذاب دفع کړي.

تفسير:

﴿حمٓ﴾ (حم) له مقطعاتو، تورو څخه دی چي دقرآنکريم په اعجازتنبيه ورکوي اودابنييي چي معجز قرآنکريم دداسي تورو له امثالو څخه منظوم دی (۱) ﴿ تَنزِيلُ الْكِتَابِ مِنَ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴾ نازلېدل ددې کتاب (قرآن) له جانبه دالله دي چي دی ښه غالب قوي (پخپله پاچهي کي) ښه عالم دی (پخپل مخلوق باندي) ﴿ غَافِرِ الذَّنبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ ﴾ ښښونکی دګناهونو (د بندګانو) اوقبلونکی دتوبې دی. (د عاصيانو) ﴿ شَدِيدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ ﴾ سخت دی عذاب دده (کفارولره، هغه څوک چي تکبر وکړي اوله طاعته يې مخ واړوي) ښښتن دفضل دی (په مؤمنانو) ﴿ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ نشته لائق دعبادت بل هيڅوک مګر يوازي هم دی دی ﴿ إِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴾ خاص هم ده ته بيرته تلل دي (بيابه دوی ته پخپلو عملونو جزاورکوي داچي مغفرت اوتوبه يې په عذاب له مخه وړاندي وړاندي راوړه ترڅودالله پراخ رحمت او فضل ته اشاره وکړي اوونښيي چي رحمت يې ترعذاب له مخه دی، کله چي يې دابيان وفرمايوچي قرآن دعالم لپاره هدايت دی ورپسي يې دمعاندينوجګړه مارانويادونه پيل کړه چي: ﴿ مَا يُجَادِلُ فِي آيَاتِ اللَّهِ إِلَّا الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ (جګړې نه کوي (طعنې نه وايي) په آيتونو دالله مګرهغه کسان چي کافران شوي دي) يعني ددې قرآن په هکله وروسته دآيتونو له اعجاز اوڅرګندوالي څخه پرته له منکرانو او د پيغمبرانو له معاندينو بل څوک جګړه نه کوي ﴿ فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ ﴾ پس نه دي تېرباسي تاسي ګرزېدل ددوی

---

(۱) دموضوع تفصيل دسورت البقرة په پيل کي وګوره اودغه سورت له اووحواميمو څخه دی دغه ګرد سورتونه په دې دوو حرونو (حاميم) پيلېږي

(په هوسائي سره) په ښارونوکي) يعني اى عاقله ددوى په دې سوكاليو، ښايسته هستوګنځير، كښتونو، فصلونو، دولتونو، تجارتونو مه تېروزه څكه دوى به له دې هوسايي څخه ښه‌لېږي او الله به يې نيسي عاقبت ددوى دوزخ دى دوى ترګرد وخلګو بدمرغه دي ددوى دغه نعمتونه به ارومروزوال مومي په التسهيل كي وايې چي په آيت شريف كي درسول الله ﷺ لپاره تسليت دى اود كفارولپاره سخت وعيد پكي شته (۱) ﴿ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَالْأَحْزَابُ مِنْ بَعْدِهِمْ ﴾ دروغجن شمېرلي وو (رسولان خپل) پخواله دوى نه قوم دنوح اونورو اقوامووروسته له دوى نه (لكه قوم دعاديانو، ثموديانو، فرعونيانواونورو) ﴿ وَهَمَّتْ كُلُّ أُمَّةٍ بِرَسُولِهِمْ لِيَأْخُذُوهُ ﴾ اوقصدوكړ هرامت (له دوى نه پررسول خپل چي ونيسي دوى (هغه رسول اوضرر وررسوي او ويې وژني) ابن كثيروايې چي دوى دزړه له كومي غوښتل چي په هرقيمت وي خپل پيغمبروژني څينوخو وهم وژل (۲) ﴿ وَجَادَلُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ ﴾ اوجګړې به كولې دوى (له پيغمبرانوسره) په باطله لپاره ددې چي پټ كړي په دغه باطل سره حق ﴿ فَأَخَذْتُهُمْ ﴾ پس ومونيول دوى (په عذاب سره او هلاک موكړل) ﴿ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴾ پس څرنګه وه سزادعقوبت زما (دوى لره؟ آيا سخته نه وه؟) ﴿ وَكَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ هم داسي (لكه داوجوب دعذاب پردغومكذبينو) واجبه شوي ده خبره (دعذاب) درب ستا پرهغوكسانوچي كافران شوي دي (له قومه ستا) ﴿ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴾ (همغه كلمه داده چي) بېشكه دوى ملګري داور (ددوزخ) دى طبري وايې معنادالكه څرنګه چي واجب شوى ووعذاب پرمكذبينود پخوانيو امتونو اوهلاک شوي ووهمداسي واجبه شوي ده خبره دعذاب په هغوكسانوچي په الله پاک كافران شوي دي ستاله قومه څكه چي دوى دوزخيان دي (۳) بيا الله ﷻ دپاكيزه پرښتواوابرارومؤمنانوحال وروسته له فجاروكفارو داسي بيانوي ﴿ الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ﴾ هغه كسان (له ملائكو) چي پورته اخلي عرش اوهم هغه (پرښتې) چي چارچاپېرد عرش دي (چي شمېربې له الله پرته چاته نه دى معلوم) تسبيح وايې سره له حمداوثنادرب ددوى (تل) ﴿ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ ﴾ اوايمان بې راوړى دى په دغه (الله چي واحداولاشريک دى اودالله له عبادته تكبرنه كوي، زمخشري وايې كه څوک وپوښتي چي ددې كلام چي فرمايې: ﴿ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ ﴾ څه ګټه ده؟ څكه چي حملة العرش اومن حوله خوګردي ايمان درلودونكي ملائكي دي څواب دادى چي پدې كلمه سره دايمان دفضيلت اوشرف څرګندوالى دى اودايمان راوړلوپه هكله ترغيب پكي شته دى ﴿ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ

---

(۱) التسهيل في علوم التنزيل ۴/ ۲
(۲) دابن كثير مختصر ۳/ ۲۳۵
(۳) الطبري ۲۴/ ۴۳

ءَامَنُوا ﴾ (اوله الله څخه مغفرت غواړي هغو کسانو ته چي ايمان يې راوړی دی) يعني دوی سره ددوی له عبادته اوداچي په تسبيح اوتحميداوتمجيد کي مستغرق هم وي دمؤمنانولپاره استغفارکوي وايي: ﴿ رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَعِلْمًا ﴾ (نووايي چي) ای زموږ ربه رسېدلی يې ته هرڅېزته له جهته درحمته بخشش اوعلمه . مفسرين کرام وايي داچي الله ﷻ يې په رحمت اوعلم وستايو دغه ددعااوسوال لپاره ادب دی چي بندګانوته ښوونه کوي چي دوی دي خپله دعاپه ادب سره پيل کړي اوبيادي دالله ﷻ داحسان فضل اوانعام داوربنت انتظاروباسي[1] ﴿ فَٱغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا وَٱتَّبَعُوا سَبِيلَكَ ﴾ پس مغفرت وکړه هغو کسانوته چي توبه يې ايستلي وي (له شرکه اوګناهونو) اومتابعت يې کړی دی دلاري ستا(کومه چي انبياء اوپيغمبران ورباندي راغلي دي ﴿ وَقِهِمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴾ اووساته دوی له عذابه ددوزخ نه ﴿ رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنَّٰتِ عَدْنٍ ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمْ ﴾ (اوهم وايي به) ای زموږ ربه ! اوننه باسه دوی په جنتونوکي دهمېشه هستوګني هغه چي تاله دوی سره وعده کړي ده ﴿ وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَٰجِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ ﴾ اوڅوک چي نېک شوی وي له پلرونوددوی او(له) ښځوددوی او(له) اولادونوددوی نه (ترڅو چي خوشحالي يې بشپړه شي) ابن کثيروايي معناداچي دغه خپلوان ورسره يوځای کړه ترڅوچي سترګي يې دهغوی په اجتماع يخي او خوږې شي اوپه جنت کي يې يوله بله ګاونډي هستوګنځايونه وي[2] ﴿ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ ببشکه چي ته هم ته يې ښه غالب قوي يي (چي هيڅوک دی مغلوبولای نشي) ښه حکمت والايي (چي هيڅ کاربې تدبيراومصلحته نه کوي) ﴿ وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ﴾ اووساته دوی له بديوڅخه (دغه دپرښتود کلام بشپړاوی دی چي وايي الله دوی دمنکرانواوفواحشوڅخه وژغوره) ﴿ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهُۥ ﴾ اوهرڅوک چي ته وساتې له د. بديوڅخه په دغه ورځ دقيامت کي نوپه تحقيق رحمت دي پرې وکړ(اوله عقوبت څخه دي وژغورو) ﴿ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴾ اودغه (ساتل ستاله عذابه) همدغه بری دی لوی دی (چي ترې پورته بل بری نشته کله چي الله تبارک وتعالی دمؤمنانواحوال يادکړ ورپسې دکافرانوڅه بيان ، فرمايي نوبيايې داسې يادونه وکړه: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ مِن مَّقْتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ﴾ ببشکه هغه کسان چي کافران شوي دي (کله چي دوزخ ته داخل کړی شي نو) غږبه ورته وکړی شي (په زبودپرښتوچي) خامخادښمني (اوغضب) دالله پرتاسي باندي ډېرلوی دی له دښمني (اوقهر) دتاسو پرخپلوځانونو باندي دغه به دتوبيخ اوتقريع په توګه ورته وويل شي) ﴿ إِذْ تُدْعَوْنَ إِلَى ٱلْإِيمَٰنِ

---

(1) البحرالمحيط ۷/۴۵۷

(2) دابن کثيرمختصر ۳/ ۲۳۶

﴿ فَتَكْفُرُونَ ﴾ کله چي وبللی شوی تاسي (په دنیاکي) دایمان راوړلو لور ته پس تاسي به کافران کېدی (له تکبراوسرغړوني عناد څخه قتاده رحمه الله وایې چي دالله بغض له گمراهانوسره کله چي په دنیاکي به ایمان ورته وړاندي شواودوی نه منل ډېرزیات دی له هغه بغض او نفرت څخه کوم چي دوی بې پخپلوسترگودعذاب دلیدلوپه وخت کي له ځانه سره لري (۱) ﴿ قَالُوا۟ رَبَّنَآ أَمَتَّنَا ٱثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا ٱثْنَتَيْنِ ﴾ وبه وایې (داکفارچي کله سختي اوکړاوونه ویني) ای زموږ ربه مړه دي کړو موږدوه ځلي اوژوندي دي کړو موږدوه ځلي ﴿ فَٱعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا ﴾ پس اقرار وکړ موږ په گناهونو خپلو (کوم چي په دنیاکي موږکړي دي) ﴿ فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ ﴾ پس آیا شته دوتلو (زموږله دغه دوزخه) کومه لاره ؟ (چي دنیاته لاړشواو هلته نېک عملونه ترسره کړو مفسرین کرام وایې چي لومړی مړینه هغه ده چي دوی پیداشوي نه وواو دوهمه مړینه هغه چي په دنیاکي مړه شول لومړنی ژونددنیاژونداودوهم بیادبعث بعدالموت ژوند چي په آخرت کي وي همدغه دوه ځلي مړینه اودوه ځلي ژوندون دی (۲) دغه وینایې دالله دتعطف اورضایت ترلاسه کولولپاره کړي کله چي دوی عذاب ویني دزاری جگي لپاره به داسي وایې دوی خوپخوامنکران اوکافران ووځکه نوځواب هسي راغی چي: ﴿ ذَٰلِكُم بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِىَ ٱللَّهُ وَحْدَهُۥ كَفَرْتُمْ ﴾ دغه (ابدي عذاب) تاسي ته په سبب ددې دی کله چي به الله یوازي وباله شو (بې له خدایانوستاسي) نوتاسي به کفراختیارکړ ﴿ وَإِن يُشْرَكْ بِهِۦ تُؤْمِنُوا۟ ﴾ (اوکه شریکان به هم وبلل شول له الله سره نوتاسي به ایمان راووړ) یعني کله چي به لات، عزی اودهغوی امثالوته وبلل شوی نودهغوی په الوهیت بې موایمان راووړ ﴿ فَٱلْحُكْمُ لِلَّهِ ٱلْعَلِىِّ ٱلْكَبِيرِ ﴾ (پس حکم خاص الله لره دی (چي هرڅه کوي دغه الله) ډېرپورته دی (له شرکه) ډېرلوی دی) یعني فیصله یوازي دالله ده دبتانونه ده تاسونجات نشی موندلای الله هغه ذات دی چي څه غواړي هغه کوي کله چي الله دمشرکانولپاره هغه څه چي دتهدید موجب وویادکړل ورپسې بې هغه څه چي دده په بشپړقدرت اوحکمت دلالت کوي ددې لپاره راوړل چي دبتانودنه عبادت کولولپاره دلیل شي نوفرمایې چي ﴿ هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ ﴾ الله هغه ذات دی چي ښیي تاسي ته دلائل نښي دقدرت خپل (پخپلومخلوقاتوکي که علوي دی اوکه سفلي چي دلالت کوي په بشپړقدرت دالله ابداع ، انشاء اوخلقت باندي) ﴿ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزْقًا ﴾ اونازلوي تاسي ته له طرفه دآسمانه روزي (باران اوروي چي درزق سبب دی اومېوې دانې را زرغونوي) ﴿ وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَن يُنِيبُ ﴾ اوپندنه اخلي (په دغودلائلودقدرت) مگرهغه چي راگرزېدلی وي (له شرک اومعصیته په توبه اوانابت سره ﴿ فَٱدْعُوا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ پس وبولئ تاسي الله په داسي

---

(۱) دابن کثیرمختصرتفسیر ۳ / ۲۳۶

(۲) دغه دابن مسعود ، ابن عباس اوقتاده وینا ده دوی وایې چي دالکه هغه قول دالله جل جلاله داسي دی چي فرمایې: ﴿ كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَٰتًا فَأَحْيَٰكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ﴾..

حال چي خالص كونكي دعبادت يې دغه (الله ته) ددين (له شركه) دبل چاعبادت نه كوي ﴿ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ اواګركه بدګني دغه (كار) كافران ، دغه دمبالغې لپاره راوړل شوى يعني يوازي دالله عبادت كوي اوپه زړونوكي ورسره اخلاص كوي كه څه هم كفاردغه ستاسواخلاص نه خوښوي اوله تاسوسره ورباندي جنګېږي ﴿ رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ﴾ همدغه الله پورته كونكى د درجاتودى) يعني الله عظيم الشان والسلطان دى ﴿ ذُو ٱلْعَرْشِ ﴾ څښتن دعرش دى (هغه چي ترګردومخلوقاتو ستر اوپه ټولومخلوقاتو كي له هيڅ مخلوق سره هم مشابه نه دى ابن كثيروايي الله تعالى له خپل عظمت اوكبرياڅخه اخبارفرمايلى اوبل داچي عرش دالله ستراوپه ټولومخلوقاتواوچت اولوړ دى لكه چي دټولوبام ياچت وي داسي راغلي چي دالله ﷻ عرش له سره ياقوته څخه دى اوپراخوالى يې له الله پرته بل چاته نه دى معلوم (١) ابوالسعودوايې دا چي دالله هغه عرش چي دټولوكائناتوكه علوي دى اوكه سفلي په څنډوڅوكو راچاپېردى هغه دالله دواک په قبضه اوترملكوت لاندي دى ددې غوښتنه داده چي دالله دشان علو اودسلطان عظمت دومره لوړ سرحدته رسېدلى چي ترې پورته بل سرحدنشته (٢) ﴿ يُلْقِى ٱلرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ﴾ رالېږي وحى په امرخپل پرهغه چاچي اراده وفرمايي له بندګانوخپلو(اوپه نبوت اورسالت يې نازوي، داچي وحى ته يې روح وويله ځكه دغه په زړونوكي داسي جريان مومي لكه چي روح په بدن كي. قرطبي وايې وحى ته يې روح ځكه وويل چي خلګ ددې په سبب دكفرله مريني څخه راژوندي كېږي لكه چي په روح باندي بدنونه ژوندي كېږي (٣) ﴿ لِيُنذِرَ يَوْمَ ٱلتَّلَاقِ ﴾ ددې دپاره چي ووېروي (خلګ) له ورځي دملاقاته (چي دقيامت ورځ ده اومخلوق به ګردسره يوځاى كېږي ترڅوبې داعمالومحاسبه وشي اومخلوق له خالق سره يوځاى شي ﴿ يَوْمَ هُم بَٰرِزُونَ ﴾ په هغه ورځ كي چي دوى به ښكاره وي (له قبرونوڅخه رابهرشوي ولاړوي چي هيڅ شى به يې نه پټوي نه به هلته سيورى وي نه غرونه نه وداني اونورڅه د محشرپه رونې ډګربه ولاړوي ﴿ لَا يَخْفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنْهُمْ شَىْءٌ ﴾ پټ به نه وي پرالله له دوى نه هيڅ څيز(داعمالواواحوالوبې اونه هم له پټورازونوڅخه يې ، صاوي وايې حكمت ددغي ورځي په ځانګړتياكي سره له دې چي له الله څخه خپوه ورځ هم څه شى پټ نه دى دادى چي دوى به په دنياكي داسي ګمان كاووچي دوى له دېوالونوهاخواوي الله يې نهويني نوپه دې ورځ كي به دغه ګمان هم نكوي (٤) ځكه دېوال به نه وي ﴿ لِّمَنِ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ ﴾ چالره دى سلطنت نن ورځ ؟، الله ﷻ به په همدې ورځ دمحشرګرد مخلوقات په ښكاره ميدان دمحشركي راغونډوي دغه ندابه وكړي ټول خلګ به له هيبت اووېري څخه چُپه خوله شي نوبه الله ﷻ پخپله ځواب وفرمايې چي: ﴿ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴾ خاص

---

(١) مختصرابن كثير ٣ /٢٢٢

(٢) ابوالسعود ٥/٥

(٣) القرطبي ١٥/ ٢٩٩

(٤) الصاوي ٤/ ٥

الله لره دی سلطنت چي يو دی بنه غالب په هرڅه. حسن رحمه الله وايي چي پوښتونکی او ځواب ورکونکی دواړه الله دی ځکه هغه داپوښتنه کوي کله چي هيڅوک ځواب ورغبرګولی نشي نوبياپخپله ځواب فرمايي(۱)﴿ ٱلْيَوْمَ تُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ﴾ نن ورځ به جزا ورکړه شي هرنفس ته په اندازه دهغه عمل چي کړی يې دی (له خيراو شرڅخه) ﴿ لَا ظُلْمَ ٱلْيَوْمَ ﴾ نشته هيڅ قدرظلم نن ورځ (چي ثواب لږشي ياعذاب زيات شي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴾ ببشکه چي الله ډېرژرحساب کونکی دی؛ دټولو خلکو سره به په يوه وخت محاسبه وکړي. قرطبي وايي لکه چي ټولو خلکوته په يوه ګړۍ کي روزي ورکوي همداسي به په يوه ساعت اوګړۍ کي ورسره حساب وکړي. په حديث شريف کي راغلي چي ورځ به لانيمه تېره شوي نه وي چي جنتيان به دغرمې استراحت په جنت کي کوي اودوزخيان به يې په دوزخ کي ګالي (۲)﴿ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ ٱلْـَٔازِفَةِ ﴾ اووويروه (ای محمده دغه کفارله عذابه) دورځي نژدې (چي دقيامت ورځ ده. ابن کثيروايي چي (آزفة) دقيامت دورځي له نومونوڅخه يونوم دی ځکه يې پدې نامه بولي چي نژدې ده لکه دالله ﷻ داقول چي فرمايي: ﴿ أَزِفَتِ ٱلْـَٔازِفَةُ ﴾ (النجم ۵۷)(۳) ﴿ إِذِ ٱلْقُلُوبُ لَدَى ٱلْحَنَاجِرِ ﴾ کله چي زړونه په نزدد چنغړکو(ستونو) وي(له ډېري وېري څخه) ﴿ كَـٰظِمِينَ ﴾ پدې حال کي چي ډک به وي له غمه (خاوندان دزړونو) په التسهيل کي وايي: معناداچي زړونه به له ډېره شدته له سينوڅخه راختلي اوستوني ته به رارسېدلي وي دلته دحقيقت اومجازدواړو احتمال شته (۴)﴿ مَا لِلظَّـٰلِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ﴾ نه به وي ظالمانوته په قيامت کي هيڅ دوست (چي ورته ګټه ورسوي) اونه کوم شفاعتګرچي خبره يې ومنله شي(اوله سختنه عذابه څخه يې وژغوري) ﴿ يَعْلَمُ خَآئِنَةَ ٱلْأَعْيُنِ ﴾ معلوم دی (الله ته) خيانت دسترګو(کله چي محرم ښځوته په غلاګوري. ابن عباس رضي الله عنه وايي چي داهغه سړی دی چي له نورو خلکوسره ناست دی اوښځه تېرېږي دغه سړی له نورو څخه په غلاهغې ته وګوري ﴿ وَمَا تُخْفِى ٱلصُّدُورُ ﴾ اوهغه نيتونه چي سينې يې پټوي ﴿ وَٱللَّهُ يَقْضِى بِٱلْحَقِّ ﴾ اوالله حکم(فيصله کوي په حق (عدل) سره ﴿ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ ﴾ اوهغه کسان چي دوی يې بولي غيرله دغه (الله) نه (له بتانواوعبادت يې کوي) ﴿ لَا يَقْضُونَ بِشَىْءٍ ﴾ حکم نشي کولای دوی په هيڅ څيز(نوڅرنګه به دالله شريکان شي؟ ابوالسعودوايي چي دغه پردوی باندي تهکم دی ځکه چي دجمادپه هکله دانشي ويل کېدای چي فيصله کوي ياېي نه کوي (۵)﴿ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴾ ببشکه الله

---

(۱) دقرطبي تفسير ۱۵/ ۳۰۰
(۲) پخواني اخخای.
(۳) دابن کثيرمختصر ۳ / ۲۳۹
(۴) التسهيل لعلوم التنزيل ۴/ ۴
(۵) دابو السعود تفسير ۵/ ۷

همدي دي ښه اوربدونکی (داقوالود بندګانو) ښه ليدونكى (په احوالوددوی) ﴿ أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ ﴾ آيانه ګرزي دغه مشرکان په ځمکه کي ؟ (چي د مكذبينوله سرنوشت څخه عبرت واخلي) ﴿ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ كَانُوا مِن قَبْلِهِمْ ﴾ چي وګوري دوی چي څرنګه ووعاقبت آخرت خاتمه دهغوکسانوچي تردوی پخواوو (ځکه هوښيارهغه دی چي له نورو څخه عبرت واخلي) ﴿ كَانُوا هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ﴾ چي ووهغوی (پخواني مكذبين) هم دوی ډېرسخت له دغو (کفارو) څخه له جهته دقوت ﴿ وَءَاثَارًا فِي الْأَرْضِ ﴾ اوآثارو (چي پرې ايښي يې دي له مانيو، برجونواولښکرو) په ځمکه کي (خوله دي ګردوسره سره چي د پيغمبرانوتكذيب يې وكړ الله تعالى دوی هلاک کړل ﴿ فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ ﴾ پس ونيول هلاک کړل دوی لره الله په سبب د ګناهونوددوی (اوتكذيب دالله درسولانو) ﴿ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنَ اللَّهِ مِن وَاقٍ ﴾ اونه وو دوی ته (له عذابه د) الله هيڅوک ساتونکی ، ورپسې الله سبب دعذاب هسي بيانوي ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ ﴾ غه (نيول اوهلاكول ددوی)په سبب ددې ووچي بېشکه هغوی ته به راتلل رسولان ددوی په ښکاره دلائلود (قدرت اومعجزاتو) باندي) ﴿ فَكَفَرُوا فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ ﴾ پس کافران شول پس الله ﷻ دوی ونيول (هلاک يې کړل) ﴿ إِنَّهُ قَوِيٌّ ﴾ بېشکه چي دغه (الله) قوي ښه زورور (دسختو نيولوذات) ﴿ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴾ سختونكي دعذاب دی (هغه چاله چي ورڅخه سرغړونه يې کړي وي دالله عذاب دردناک دی (اعاذنا الله من عقابه واجارنامن عذابه).

آمين يارب العالمين

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَقَارُونَ فَقَالُوا سَاحِرٌ
كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾ فَلَمَّا جَاءَهُم بِالْحَقِّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا اقْتُلُوا أَبْنَاءَ الَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ وَاسْتَحْيُوا نِسَاءَهُمْ ۚ وَمَا
كَيْدُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ ﴿٢٥﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِي أَقْتُلْ مُوسَىٰ وَلْيَدْعُ رَبَّهُ ۖ إِنِّي أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ
دِينَكُمْ أَوْ أَن يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ ﴿٢٦﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ إِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ
بِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿٢٧﴾ وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ
جَاءَكُم بِالْبَيِّنَاتِ مِن رَّبِّكُمْ ۖ وَإِن يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ ۖ وَإِن يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُم بَعْضُ الَّذِي يَعِدُكُمْ ۖ إِنَّ

ٱللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ (٢٨) يَٰقَوْمِ لَكُمُ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ ظَٰهِرِينَ فِي ٱلْأَرْضِ فَمَن يَنصُرُنَا مِنۢ بَأْسِ ٱللَّهِ
إِن جَآءَنَا ۚ قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ أُرِيكُمْ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ (٢٩) وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ إِنِّيٓ أَخَافُ
عَلَيْكُم مِّثْلَ يَوْمِ ٱلْأَحْزَابِ (٣٠) مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۚ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ (٣١)
وَيَٰقَوْمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ ٱلتَّنَادِ (٣٢) يَوْمَ تُوَلُّونَ مُدْبِرِينَ مَا لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ ۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ
(٣٣) وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِن قَبْلُ بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِي شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُم بِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن
يَبْعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِهِۦ رَسُولًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ (٣٤) ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ
ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْ ۖ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ
(٣٥) وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰهَٰمَٰنُ ٱبْنِ لِي صَرْحًا لَّعَلِّيٓ أَبْلُغُ ٱلْأَسْبَٰبَ (٣٦) أَسْبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّي
لَأَظُنُّهُۥ كَٰذِبًا ۚ وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَصُدَّ عَنِ ٱلسَّبِيلِ ۚ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِي تَبَابٍ
(٣٧) وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ ٱتَّبِعُونِ أَهْدِكُمْ سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ (٣٨) يَٰقَوْمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا مَتَٰعٌ
وَإِنَّ ٱلْءَاخِرَةَ هِيَ دَارُ ٱلْقَرَارِ (٣٩) مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ
أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُو۟لَٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ يُرْزَقُونَ فِيهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ (٤٠) ۞ وَيَٰقَوْمِ مَا لِيٓ أَدْعُوكُمْ إِلَى
ٱلنَّجَوٰةِ وَتَدْعُونَنِيٓ إِلَى ٱلنَّارِ (٤١) تَدْعُونَنِي لِأَكْفُرَ بِٱللَّهِ وَأُشْرِكَ بِهِۦ مَا لَيْسَ لِي بِهِۦ عِلْمٌ وَأَنَا۠ أَدْعُوكُمْ إِلَى
ٱلْعَزِيزِ ٱلْغَفَّٰرِ (٤٢) لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِيٓ إِلَيْهِ لَيْسَ لَهُۥ دَعْوَةٌ فِي ٱلدُّنْيَا وَلَا فِي ٱلْءَاخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَآ إِلَى ٱللَّهِ وَأَنَّ
ٱلْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ (٤٣) فَسَتَذْكُرُونَ مَآ أَقُولُ لَكُمْ ۚ وَأُفَوِّضُ أَمْرِيٓ إِلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَصِيرٌۢ
بِٱلْعِبَادِ (٤٤) فَوَقَىٰهُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُوا۟ ۖ وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرْعَوْنَ سُوٓءُ ٱلْعَذَابِ (٤٥) ٱلنَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا
غُدُوًّا وَعَشِيًّا ۖ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدْخِلُوٓا۟ ءَالَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ ٱلْعَذَابِ (٤٦) ﴾ غافر: ٢٣ ـ ٤٦

مناسبت:

کله چي الله ﷻ دهغه هلاکت یادونه وکړه چي په کفارونازل شوی وو وروسته یې دحضرت موسی علیه السلام کیسه راوړه چي دخپل وخت فرعون ته رااستول شوی وو او پدې کي درسول الله ﷺ لپاره تسلیت اوډاډینه ده چي له خپله قوم اوتېره یې ډېرتکلیفونه اوربړونه ولیدل نوالله اطمینان ورکوي چي دغه دالله ﷻ سنت اوتېره لاره ده چي ظالمان هلاکوي دکیسې په ترڅ کي دهغه مېړني مسلمان کیسه هم راځي چي دطغیان په وړاندي په ډاګه دحق دوینا پیل کوي اودغه داتلولي اومېړاني ښکاره ثبوت دی.

لغتونه:

(استحيوا) ژوندي پرېږدئ (ضلال) بطلان اوهلاکت (عذت) پناه مي اخيستي (ظاهرين) لوړ اوبريالی (بأس الله) عذاب اوانتقام دالله (دأب) عادت اوشان (التناد) دقيامت ورځ چي اهل محشرته پکي غږ اونداکېږي ياخيني دخلکوخينونوروته نارې وهي (عاصم) منع کونکی دفع کونکی (صرحًا) سترقصر اوماڼۍ (تباب) خسران اوهلاک ته وايې (لاجرم) خامخا(حاق) نازل اوچاپېرشو.

تفسير:

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴾ اوخامخاپه تحقيق لېږلی ووموږموسی په آيتونو دلائلو(دقدرت) خپل اوپه برهان (ښکاره سند) سره (چي يدبيضااوعصا,وه) لام دقسم لپاره توطئه دی يعني قسم دی چي موږ موسی په ښکاره معجزاتواودلائلورااستولی وو ﴿ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَقَٰرُونَ ﴾ طرف د(باچادمصر) فرعون اوهامان ته (چي وزيريې وو) قارون ته (چي دخزانواو مالونوخښتن وو. په البحرکي وايې چي دلته يې قارون اوهامان ځانگړي ورسره ذکرکړل ځکه چي دوی په کفرکي سترمقام لارواودفرعون له مشهوروپلويانواتباعوڅخه وو(۱)﴿ فَقَالُواْ سَٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴾ (پس وويل(دوی چي دارسول) ساحرکوډگردی دروغجن دی) يعني دوی موسی عليه السلام کوډگر اودروغجن وباله کوډگردمعجزاتوپه هکله دروغجن په دعوی دنبوت کي اودکذاب صيغه دمبالغې لپاره استعمال شوي ده ﴿ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْحَقِّ مِنْ عِندِنَا ﴾ پس کله چي راغی (موسی) دغو (قبطيانو) ته په حقه سره له نزده زموږ(يعني له ځرگندومعجزاتوسره چي دده په رښتنولي يې دلالت کاوو) ﴿ قَالُواْ ٱقْتُلُوٓاْ أَبْنَآءَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ وَٱسْتَحْيُواْ نِسَآءَهُمْ ﴾ وويل(قبطيانو) چي ووژنئ تاسي زامن دهغو (سبطيانو)چي ايمان يې راوړی دی له موسی سره (چي نسل يې قطع شي) اوژوندي پرېږدئ تاسي ښځي (لوڼي) ددوی (دخدمت لپاره) صاوي وايې دغه قتل پرته له لومړي قتل څخه دی ځکه چي فرعون وروسته له ولادته دموسی عليه السلام دماشومانوله وژلولاس واخيست اوکله چي موسی ﷺ پيغمبرشواوفرعون يې له مقابلې کولوڅخه ماتي وخوړه نوبيايې هغه پخوانی دوژلوفرمان صادر کړترڅوچي خلک له ايمان راوړلوڅخه دده وکړي اوددوی تولنه زياته نشي نودغه دوکه يې ورته وسنجوله بياالله وربادي قسماقسم عذابونه پرې ايستل لکه چنگوښي ، ويني, طوفان، سپږي اونور ترڅوچي له مصرڅخه دموسی ﷺ اومؤمنانوپه لټه کي راووتل اوالله غرق کړل ددوی فرېب اودوکه يې پردوی راوگرزوله (۲)﴿ وَمَا كَيْدُ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ ﴾ اونه دی کيدمکرد کافرانومگرپه

(۱) البحر المحيط ۷-۴۵۹

(۲) حاشية الصاوى ۴-۶ .

ګمراهي کي (ځکه چي الله ددوی زیاربري ته نه بیایي) ﴿ وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ذَرُونِيٓ أَقۡتُلۡ مُوسَىٰ ﴾ او وویل فرعون (جابر) پرېږدئ ما(ای مشرانو) چي موسی (درته) ووژنم ! ﴿ وَلۡيَدۡعُ رَبَّهُۥٓ ﴾ اوراودي بولي (موسی) خپل رب (چي له مایې خلاص کړي دغه یې داستهزاء په ډول وویل لکه چي وایې تاسي پدې مه وېرېږئ چي موسی دخپل رب دانتقام بیان کوي دغه هیڅ حقیقت نلري زه ستاسواعلی رب یم غرض یې پدي کي داووچي هغوی ته په پام کي داسي وروليي چي هغه دموسی دوژلوپه هکله دخپلي ډلي اومشرانوله زړه څخه نه وزي اونوربل څه مانع اورادع نشته. ابوحیان وایې چي ظاهره دادی چي فرعون ملعون په دې باوردرلودچي موسی نبي دی اوڅه چي یې راوړي هغه کوډي نه بلکي معجزې دي لکن سړی زیات پلیت اودوکه بازوو دانتهائي درجې شقاوت اوبېحیایي درلودونکی ، ویني تویونکی (سفاک) ووترهرڅه ورته ویني بهول آسانه وو نو ولي به یي هغه څوک چي دده دعرش دړنګېدوپه تکل کي اودده دپاچهي دورانېدوعزم یې درلودنه وژل؟ خوپدې وېرېدوکه چېري یې دوژلوقصدوکړي هلاکت به یې ژرپه برخه شي دده دغه خبري ددوی دتېرایستلو لپاره وې چي ګواکي دوی یې دموسی له وژلوڅخه راګرزوي مګرپه حقیقت کي هغه پخپله سخت وېرېدلی او مرعوب شوی ووچي دغه کاريې نه ترسره کاوو(۱) ﴿ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمۡ ﴾ بېشکه چي زه وېرېږم چي بدل به کړي (موسی) دین ستاسي (چي زماله عبادته څخه به مودخپل رب عبادت ته واړوي) ﴿ أَوۡ أَن يُظۡهِرَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡفَسَادَ ﴾ یابه ظاهرکړي (موسی) په ځمکه (دمصر) کي فساد(اختلافونه هرج اومرج اوناورین به خپورکړي دغه لکه هغه متل داسي دی چي (صار فرعون واعظا)یعني فرعون ناصح اووعظ کونکی شو (۲) ﴿ وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم ﴾ او وویل موسی(خپل قوم ته) چي بېشکه زه پناه غوارم په رب خپل اورب ستاسو(چي ومو ژغوري) ﴿ مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٖ لَّا يُؤۡمِنُ بِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ﴾ له(شره د) هرمتکبره (سرکښه چي له ایمان په الله اوباورپه آخرت څخه تکبرکوي په التسهیل کي راوړي داچي ﴿ مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٖ ﴾ یې وویل اوپه نامه یې یادنکړ ترڅوچي فرعون اونوروته شامل شي اوڅوچي له فرعونه پرته دبل چالپاره هم وصف شي (۳) ﴿ وَقَالَ رَجُلٞ مُّؤۡمِنٞ مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَكۡتُمُ إِيمَٰنَهُۥٓ ﴾ او وویل یوسړي مؤمن له خپلوانودفرعون څخه چي پټاوه یې ایمان خپل (له نورو (فرعوني اتباعوڅخه) مفسرین کرام وایې دغه

( ) الصاوي ۴/ ۲

(۱) البحرالمحیط ۷/ ۴۵۹

(۲) په الظلال تفسیرکي لیکي: آیادغه عجیبه خبره نه ده چي ګمراه فرعون دموسی علیه السلام په هکله داسي ویناکوي؟ آیاداهغه وینانه ده چي هرطاغوت اومفسدیې دبلونکي اومصلح دعوتګرپه وړاندي کوي آیادغه دحق په وړاندي دباطل ناروا تور اوتهمت نه دی؟آیادغه دتېروتلوناولي کلمه نه ده ؟چي دایمان په وړاندي شکوک اوشبهات پیداکوي؟دغه یوډول منطق دی چي هروخت تکرارېږي کله چي حق اوباطل ، ایمان اوکفر، صلاح اوطغیان هروخت اوهرځای سره ډغري وهي همدابه تکرارېږي دغه پخوانی کیسه ده چي وخت په وخت به وړاندي کېږي.

(۳) التسهیل لعلوم التنزیل ۴/ ۵

سړی دفرعون دتره زوی قبطي ووکله چي چي يې دجابر اوظالم فرعون هغه تهديد واورېدوچي موسی ﷺ ته يې دوژلو ګوت څندنه وکړه نويې داسي نصيحت ورته وکړچي: ﴿أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ﴾ (آياوژنئ تاسي داسي يوسړی چي وايې رب زماالله دی) دغه استفهام انکاري اوددوی دتبکيت لپاره راغلی دی يعني تاسوهغه سړی وژنئ چي هغه هيڅ ګناه نلري مګرداچي وايې زمارب الله دی تاسوپدې هکله هيڅ سوچ اوفکرنه کوئ؟ ﴿وَقَدْ جَاءَكُم بِالْبَيِّنَاتِ مِن رَّبِّكُمْ﴾ حال داچي په تحقيق راغلی دی تاسي ته په ښکاره دلائلو(معجزو) له طرفه درب ستاسي (هغه معجزاتي چي تاسوليدلې) ﴿وَإِن يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ﴾ اوکه چېري وي (موسی) دروغجن نوپس په همده ده (جزاد) دروغودده (بل چاته نه رسېږي) قرطبي وايې دغه وينايې پدې نه کوله چي ګواکي دی دهغه درسالت په هکله شکمن ووبلکه ددې لپاره چي دوی ته نرمښت وښيي اوهغه ته له ضرر رسولويې راوګرزوي[1] ﴿وَإِن يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُم بَعْضُ الَّذِي يَعِدُكُمْ﴾ اوکه چېري وي (موسی) رښتونی (په خپله دعوی کي) نووبه رسېږي تاسي ته ځيني دهغه عذاب چي وعده کوي (موسی دهغه) له تاسي سره ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ﴾ (بېشکه الله سمه لاره نه ښيي هرهغه چاته چي هغه مسرف له حده تېرېدونکی وي دېر دروغجن وي) يعني الله ﷻ دايمان اوهدايت لوري ته توفيق نه ورښيي. امام فخررازي رحمه الله وايې چي پدې کي (دحضرت موسی) دشان لوړوالي ته اشاره ده څکه چي الله ورته هدايت کړی اوپه معجزاتوېې نازولی دی اودفرعون لوري ته ددې تعريض دی چي هغه له حده تېرېدونکی پدې عزم کي چي دموسی دوژلواراده يې کړي اودېردروغجن دی چي دالوهيت دعوی يې کړي اوداچي دغه شان اوصفت وي الله ورته سمه لاره نه ښيي بلکه هغه ورانوي اوله مينځه يې وړي[2] په البحرالمحيط کي ليکي چي دغه دعلم البيان له انواعوڅخه يونوع دی چي زموږعلماء ورته (دمخاطب استدراج) نوم ورکوي هغه داچي دي سړي کله چي وليدل فرعون دموسی ﷺ دوژلوتکل کړی نوده دهغه د مرستندويې لپاره له داسي تګلاري کارواخيست چي فرعون ونه پوهېږي چي دغه سړی يې پلوي او مرستندوی دی نودوی ته يې دنصيحت اوتلطف په ډول وويل ﴿أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا﴾ نوم يې وانه خيست بلکه سړی يې وباله ترڅودوی ته وښيي چي دی يې نه پېژني بيايې وويل: ﴿أَن يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ﴾ داسي يې ونه ويل چي دی ايمان درلودونکی په الله اويا داچي دالله پيغمبرڅکه که يې داسي ويلي وای نوبه دوی پدې غوړېدلي وو چي دی يې له پلويانو(اتباعو) څخه دی نوبيايې خبره نه منله ورپسې يې داسي وويل: ﴿وَإِن يَكُ كَاذِبًا﴾ دروغ يې تر رښتياله مخه راوړل چي ددوی درايې موافقت څرګند کړي ورپسې يې وويل ﴿وَإِن يَكُ صَادِقًا﴾ اوداسي يې ونه ويل چي هغه رښتونی دی همداسي

---

[1] تفسيرالقرطبي ۳۰۷/۱۵
[2] التفسيرالکبير ۵۹/۲۷

يې زياته کړه چي: ﴿يُصِبۡكُم بَعۡضُ ٱلَّذِي يَعِدُكُمۡۖ﴾ چي ځيني دعذاب به درته ورسېږي داسي يې ونه ويل چي ټول هغه عذاب چي درسره يې وعده کوي ځکه پدغه ډول ويناکي به بيادوی داسي انګېرله چي ګواکي سړی يې له پلويانو څخه او دهغه په نبوت باندي باورلري بيايې داسي کلام ورته واورول چي له هغه داسي معلومېږي لکه چي دی وربانديي باوراوتصديق نلري چي ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ مُسۡرِفٞ كَذَّابٞ﴾ اوپدې کي فرعون ته اشاره شوي ځکه هغه خورا له حده تېرېدونکی اوپه الله ﷻ باندي دروغ تړونکی وو چي دربوبيت اوالوهيت دعوی يې کړې وه[1] ﴿يَٰقَوۡمِ لَكُمُ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَ ظَٰهِرِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ (ای زماقومه تاسي لره دی ملک پاچهي نن ورځ په دغه حال کي چي غالب يې په ځمکه (دمصر) کي) بيايې نصيحت له تلطف سره مل تکرارکړچي تاسي په بني اسرائيلوباندي برلاسي اودمصرپه ځمکه کي مودوی پخپل خدمت (چوپړ) ګمارلي اومريان کړي دي ﴿فَمَن يَنصُرُنَا مِنۢ بَأۡسِ ٱللَّهِ إِن جَآءَنَاۚ﴾ پس څوک به نصرت وکړي له موږسره له عذابه دالله که راشي (دعذاب) موږلره؟ (په سبب د وژلو دموسی بلکه مرستندوی نشته نومه يې وژنئ. امام رازي رحمه الله وايي داچي ويې ويل ﴿يَنصُرُنَا﴾ او ﴿جَآءَنَا﴾ ددې لپاره چي دوی ته وښيي هغه هم ددوی له ډلي څخه دی اوڅوک چي دوی ته نصيحت کوي هغه هم له دوی سره پکي شريک دی[2] پدې وخت کي فرعون خپل تکبرګناه ته اړباسي اوجبروت اوطغيان يې په جوش راځي نو ﴿قَالَ فِرۡعَوۡنُ مَآ أُرِيكُمۡ إِلَّا مَآ أَرَىٰ﴾ وويل فرعون چي زه نه ښيم تاسي ته مګرهغه (مصلحت) چي زه يې وينم (په وژلودموسی کي چي دفتنې ريښې غوځي شي) ﴿وَمَآ أَهۡدِيكُمۡ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ﴾ اونه ښيم زه تاسي ته (ای قبطيانو) مګرلاره دنېکي (اودمصلحت) ﴿وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوۡمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُم مِّثۡلَ يَوۡمِ ٱلۡأَحۡزَابِ﴾ نو وويل هغه (سړي) چي ايمان يې راوړی وو ای زماقومه بېشکه زه وېرېږم پرتاسي (په تکذيب دموسی کي) په مثل د(عذاب) دورځي دډلو(د پخوانيوپه سبب دتکذيب دانبياوو) ﴿مِثۡلَ دَأۡبِ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ﴾ په مثل دحال دقوم دنوح اوپه (شان) دعاديانواوپه (شان) دثموديانو(چي ګردهلاک شول ځکه چي دانبياووتکذيب يې کاوو ﴿وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۚ﴾ اوهغه کفارچي وروسته له دوی نه وو(لکه قوم دلوط) ﴿وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلۡمٗا لِّلۡعِبَادِ﴾ (اونه دی الله چي اراده لري دظلم پرخپلوبندګانو) يعني الله يې بغيرله ګناه څخه نه هلاکوي. زمخشري وايي چي ددوی هلاکت دعدل اوانصاف له مخي شوی وو ځکه چي دوی پخپلواعمالو د هلاک مستحق ګرزېدلي وو اوپدې کي مبالغه نغښتې ده ځکه چي دظلم اراده يې نفی کړي اوڅوک چي دظلم له ارادې څخه ليري وي هغه خوپخپله له

---

(1) البحرالمحيط ۴۲۱/۷

(2) تفسير کبير ۵۹/۲۷

ظلم کولو څخه ځورالیري اوګوښه دی ([1]) ﴿ وَيَٰقَوْمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ ٱلتَّنَادِ ﴾ (او ای قومه زما بېشکه زه وېرېږم پر تاسي له (عذابه د) ورځي درابللو(په چیغوسره) دوی یې وروسته له دنیوي عذابه په اخروي عذاب وو وېرول چي هغه دحشراکبرورځ ده کله چي مجرمینوته دهلاک او افسوس چیغي وروهل کېږي لکه ﴿ دَعَوْا۟ هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴾ (الفرقان۱۳) ﴿ يَوْمَ تُوَلُّونَ مُدْبِرِينَ ﴾ هغه ورځ چي وګرزی تاسي شاا ړونکي (له هیبته دعذاب دجهنم) مفسرین کرام وايې چي کله کفاردوزخ چیغي زفیر واوري نوبه موقف ته شاکړي اوپه تېښته به درومي هرلوري ته چي ځي هلته به پرښتې وي اودوی به په مخونو وهي بیرته به یې خپل ځای ته راستانه کړي اودوزخ به یې ترستوني تېر کړي ﴿ مَا لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ ﴾ نه به وي تاسوته له (عذابه) دالله هیڅوک ساتونکی ﴿ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ ﴾ اوهرهغه څوک چي الله ګمراه کړي نونه به وي ده ته هیڅوک لارښوونکی سمي لاري لاري ته ﴿ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِن قَبْلُ بِٱلْبَيِّنَٰتِ ﴾ او(قسم دی چي)خامخاپه تحقیق راغلی وو تاسي ته یوسف پخوا(له موسی څخه) په ښکاره وودلائلو (ظاهرو معجزاتوسره) ﴿ فَمَا زِلْتُمْ فِى شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُم بِهِۦ ﴾ پس همېشه به وی تاسي په شک (ګمان) کي له هغه (حکمه) چي راغلی وودی تاسي ته په هغه سره (له جانبه دالله) مفسرین وايې چي مرادله دوی څخه ددوی پلرونه اونیکونه دي ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِهِۦ رَسُولًا ﴾ (ترهغه پوري چي کله وفات شو(یوسف) نوو ویل تاسي چي له سره به الله راونه لېږي وروسته له دغه (یوسف) څخه هیڅ رسول) یعني تاسوبه د تمنااو آرزوپه ډول ویل چي له یوسف څخه وروسته به بیاڅوک رانشي چي درسالت دعوی وکړي ابوحیان وايې ددې معنادانه ده چي دوی دیوسف رسالت مانوڅکه دوی تل ترتله دهغه په هکله شکمن وونو معناداچي هیڅ پیغمبربه دالله له لوري رانشي دلته درسول اوبعثت دوا ړونفی شتون لري ([2]) ﴿ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ﴾ همداسي (لکه دغه اضلال) ګمراه کوي الله هرهغه چي مسرف له حده تېرېدونکی (په ګناه کي) اوشک راوړونکی وي(په دین کي وروسته له هغه چي ښکاره دلائل اوبراهین ورته راغلي وي) ﴿ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْ ﴾ هغه (مسرفین اومرتابین) چي جګړه کوي (له انبیاووسره) په (ابطال)(دشریعت) دالله کي بې له کوم برهان علمي سنده چي دوی ته راغلی وي (له جانبه دالله) ﴿ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ ډېر لوی دی دغه (جدال) له جهته دبغض په نزددالله اوپه نزد دهغوکسانوچي ایمان یې راوړی دی په البحرالمحیط کي وايې واعظ له خطاب څخه اسم غائب ته عدول وکړترڅودوی زړونه په لاس راوړي اودمحاورې ښکلاوساتي څکه یې دوی ته مخامخ دخطاب په صیغه ونه ویل اوپدې ویناکي چي

([1]) الکشاف۴ /۱۲۸
([2]) البحرالمحیط ۷/۴۶۴

﴿ كَبُرَ مَقْتًا ﴾ يوډول تعجب اوددوی دمجادلې استعظام نغښتی دی لکه چې دغه ددوی جدال د سيالو کبائرو له حدودو څخه وتلي دي (۱) ﴿ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴾ همداسي لکه (مهرلګول په زړونودمجادلينو) مهروهي الله دضلالت اوشقاوت) په زړه دهرمتکبر(له ايمانه) او دهرجبرکونکی (په بندګانوچي عقل يې له کاره لوېږي اوحق ته غاړه نه ايږدي زړه ته يې پدې دتکبراو جبروت صفات ثابت کړل چي هغه يې منبع اومرکزدی زړه دګردواندامونوباچادی کله چي زړه فاسد شي نورټول فساد مومي) ﴿ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰهَٰمَٰنُ ابْنِ لِي صَرْحًا ﴾ او وويل فرعون ای هامانه (زماوزيره) جوړه کړه ماته يوه ماڼۍ ډېره لوړه (آسمان څکه ښينګه . قرطبي وايي کله چي دفرعون دتبرمؤمن خپله مقاله وړاندي کړه اوفرعون پدې وويرېدوچي دده خبرې دخلګوزړونوته لاره ونه مومي نويې ددوی په خيال کي ورووستل چي موسی کوم توحيدراوړي دي هغه يي ازمويي چې ايا رښتيا ده ؟ نويې خپل وزيرهامان ته دستري ماڼۍ دودانولوامرصادر کړ. ﴿ لَّعَلِّي أَبْلُغُ الْأَسْبَابَ أَسْبَابَ السَّمَاوَاتِ ﴾ ښايي ورسېږم لاروته (په دغو ختلوسره) لارودآسمانونوته ؛ تکرار دلارويې دتفخيم اوبيان لپاره کړي دي (۲) ﴿ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰ إِلَٰهِ مُوسَىٰ ﴾ پس چي زه وګورم الله دموسی ته(په ښکاره کتلوچي آياشته دی؟) ﴿ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ كَاذِبًا ﴾ او بېشکه زه ګمان کوم پردغه موسی ددروغجن (په دعوی کي چي هغه له ماپرته بل الله لري) ابوحيان وايي چي دآسمان لاروته ورختل غيرممکن دي خوفرعون دخپلو اورېدنکو لپاره ممکن غوندي ښکاره کړي ترڅودوی تېرباسي اوداچي يې وويل: ﴿ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰ إِلَٰهِ مُوسَىٰ ﴾ دغه خودده له لوري په الله باندي اقرار وونو څکه يې سيدستي ددغي خبري دپټولولپاره ورپسې زياته کړه چي ﴿ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ كَاذِبًا ﴾ (۳) ﴿ وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوءُ عَمَلِهِ ﴾ اوهمداسي (لکه ښائست ددغي دنيا) ښايسته کړی شوی وو فرعون ته بدي دعمل دده (چي ښکلی ورته ايسېدو) ﴿ وَصُدَّ عَنِ السَّبِيلِ ﴾ اودی منع کړی شوی وو له سمي لاري(دهدايت څخه په ګمراهي خپله سره) ﴿ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِي تَبَابٍ ﴾ اونه وودغه مکردفرعون (په جوړولودماڼۍ کي) مګرپه زيانکاري هلاک والي کي وو(په دنيااوآخرت کي په دنياکي په غرقېدلو اوپه آخرت کي په همېشه اوسېدلوپه اورکي ﴿ وَقَالَ الَّذِي آمَنَ يَٰقَوْمِ اتَّبِعُونِ أَهْدِكُمْ سَبِيلَ الرَّشَادِ ﴾ (اووويل هغه (سړي) چي ايمان يې راوړی وو ای زماقومه زما متابعت وکړئ چي وښيم تاسي ته لاره دهدايت) کله چي مؤمن له فرعون څخه دغه چم اوفرېب واورېدونويې قوم په واحداحدذات باندي ايمان راوړلوته وباله اودوی ته يې دفاني دنيابېه اوټول ورونښودآخرت تلپاتي ژوندانه

(۱) البحرالمحيط ۴۶۴/۷
(۲) البحرالمحيط ۴۶۵/۷
(۳) القرطبي ۳۱۷/۱۵

اونعمتونو ته بې وهخول اوداالله له عذابه بې ووېرول (او ورته ویل یې) ﴿ يَٰقَوْمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا مَتَٰعٌ ﴾ ای زما قومه بېشکه همدا خبره ده چې دغه ژوندون ددنیایوه (لږ) متاع (گټه) ده (چې دوام نلري) ﴿ وَإِنَّ ٱلْءَاخِرَةَ هِىَ دَارُ ٱلْقَرَارِ ﴾ اوبېشکه آخرت همغه کور د قرار دی (چې زوال نلري اونه ترې لېږدېدل شته یابه تلپاتي نعمتونه اویابه هم تلپاتي اوردوزخ وي. قرطبي وایې مقصدیې له آخرت څخه جنت او اوردی څکه چې هغه ابدي دی فنانلري (۱) ﴿ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا ﴾ هرڅوک چې بدکاروکړي پس جزانه ورکوله کېږي (هغه ته) مگرپه قدردهم هغې بدي بې له زیاتوالي اودغه داالله له لوري پخپلوبندگانوباندي رحمت او مهرباني ده) ﴿ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ﴾ اوهرڅوک چې وکړي نېک کارله نارینه وو وي یاله ښځووي حال داچې مؤمن وي ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ يُرْزَقُونَ فِيهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ پس دغه (صالحان مؤمنان) ننه به ووزي په جنت کي روزي به ورکوله کېږي (دوی ته) په دغه جنت کي بې حسابه (څوچنده زیاته اودغه به داالله له لوري فضل اوکرم وي داالله دفضل همداغوښتنه ده چې حسابّ بې له سیئاتوڅوچنده اضافه کوي) ابن کثیروایې چې د ﴿ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ معناداچې د جزاپه اندازه به نه وي بلکه ستر اولوی ثواب به الله ورکوي چې نه به خلاصېږي اونه به زائلېږي (۲) ﴿ وَيَٰقَوْمِ مَا لِىٓ أَدْعُوكُمْ إِلَى ٱلنَّجَوٰةِ وَتَدْعُونَنِىٓ إِلَى ٱلنَّارِ ﴾ اوای زما قومه څه دی ماله چې بولم تاسي په طرف دنجات (ایمان) اوبولی تاسي ماپه طرف داور (ددوزخ چې کفردی؟) استفهام دتعجب لپاره دی لکه چې وایې زه تعجب کوم ستاسوله دې حاله زه مو دخیرښېگڼې لوري ته بولم اوتاسومي دشراواور طرف ته بیایی اوبیایې توضیح داسي کوي چې: ﴿ تَدْعُونَنِى لِأَكْفُرَ بِٱللَّهِ وَأُشْرِكَ بِهِۦ مَا لَيْسَ لِى بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ بولی تاسي ماددې لپاره چې کفرغوره کړم په الله پوري اوچې شریک ونیسم له دغه (الله) سره هغه (څیز) چې نشته ماته (په ربوبیت د) هغه هیڅ علم (اواله نه دی لکه فرعون) ﴿ وَأَنَا۠ أَدْعُوكُمْ إِلَى ٱلْعَزِيزِ ٱلْغَفَّٰرِ ﴾ حال داچې بولم زه تاسي هغه (الله) ته چې ښه غالب قوي دی ښه ښنونکی دی (دگناهونو دبندگانو) ﴿ لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِىٓ إِلَيْهِ ﴾ حقه اورښتیاداخبره بېشکه هغه (معبود) چې تاسي مابولی (عبادت د) هغه ته ﴿ لَيْسَ لَهُۥ دَعْوَةٌ فِى ٱلدُّنْيَا وَلَا فِى ٱلْءَاخِرَةِ ﴾ (نشته هغه ته (قوت د) بلني (نه) په دنیاکي اونه په آخرت کي ,نه له چاکوم تکلیف دفع کولای شي نوهغه دعبادت لپاره نه ښایې ﴿ وَأَنَّ مَرَدَّنَآ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ اوبېشکه چې ورتله زموږ دټولوخاص الله لره دي (هرچاته به په خپل عمل اوکړو جزا ورکړي) ﴿ وَأَنَّ ٱلْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ﴾ اوبېشکه چې مسرفان (له

(۱) مختصرابن کثیر ۳ /۲۴۵

(۲) نفس المرجع.

حده تېرېدونكي په ضلالت او طغيان كي هم دوى ملگري داور (ددوزخ) دي (چي تل به پكي اوسي
﴿ فَسَتَذْكُرُونَ مَآ أَقُولُ لَكُمْ ﴾ پس ژردى چي يادبه كړى تاسو (په وخت دليدلو دعذاب كي) هغه چي
زه يې تاسي ته وايم (دغه وعيداوتهديددى) ﴿ وَأُفَوِّضُ أَمْرِيٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ اوسپارم زه هركار خپل الله ته (په
الله مي توكل دى) قرطبي وايې چي دغه پدې دلالت كوي چي دوى به ورته دوژلو اخطار وركړى وي[1]
﴿ إِنَّ ٱللَّهَ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴾ ببشكه چي الله بنه ليدونكى دى (دټولو اقوالو افعالو) دبندگانو (هيڅ
ورڅخه پټ او الونيا نه دى) ﴿ فَوَقَىٰهُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُوا۟ ﴾ پس وساته الله دي (سړي) لره له
سختو (عذابونو) دهغو چي دوى مكر كړى وو ﴿ وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرْعَوْنَ سُوٓءُ ٱلْعَذَابِ ﴾ اوچاپېرشو په آل
دفرعون (سره له فرعونه)بدعذاب (چي په دنياكي غرق اوپه آخرت كي وسوځېدو بيايې تفسيرهسي
فرمايي: ﴿ ٱلنَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا ﴾ اور ددوزخ وړاندي كاووشي (داكفار) پردې اور هر
صباواوبېگاه. مفسرين كرام وايې چي مرادله اوره څخه اور د قبر دى دليل يې داچي وروسته پسي
فرمايي: ﴿ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدْخِلُوٓا۟ ءَالَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ ٱلْعَذَابِ ﴾ اوپه هغه ورځ كي چي قيامت قائم شي
(نوويه ويلى شي له جانبه دالله ملائكوته) ننې باسئ تاسي آل دفرعون (سره له ده) په ډېرسخت عذاب كي
(له عذابه ددنيا).

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَإِذْ يَتَحَآجُّونَ فِى ٱلنَّارِ فَيَقُولُ ٱلضُّعَفَـٰٓؤُا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓا۟ إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم
مُّغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا مِّنَ ٱلنَّارِ ﴿٤٧﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓا۟ إِنَّا كُلٌّ فِيهَآ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ
ٱلْعِبَادِ ﴿٤٨﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ فِى ٱلنَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ ٱلْعَذَابِ ﴿٤٩﴾ قَالُوٓا۟ أَوَلَمْ تَكُ
تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ ۖ قَالُوا۟ بَلَىٰ ۚ قَالُوا۟ فَٱدْعُوا۟ ۗ وَمَا دُعَـٰٓؤُا۟ ٱلْكَـٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَـٰلٍ ﴿٥٠﴾ إِنَّا لَنَنصُرُ
رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ ٱلْأَشْهَـٰدُ ﴿٥١﴾ يَوْمَ لَا يَنفَعُ ٱلظَّـٰلِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ ۖ وَلَهُمُ ٱللَّعْنَةُ
وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٥٢﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْهُدَىٰ وَأَوْرَثْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْكِتَـٰبَ ﴿٥٣﴾ هُدًى وَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى
ٱلْأَلْبَـٰبِ ﴿٥٤﴾ فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِٱلْعَشِىِّ وَٱلْإِبْكَـٰرِ ﴿٥٥﴾
إِنَّ ٱلَّذِينَ يُجَـٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَـٰنٍ أَتَىٰهُمْ ۙ إِن فِى صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ مَّا هُم بِبَـٰلِغِيهِ ۚ
فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿٥٦﴾ لَخَلْقُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ وَلَـٰكِنَّ

---

(1) القرطبي ۱۵/۳۱۸

أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾ وَمَا يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَلَا
ٱلْمُسِيٓءُ ۚ قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَآتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٥٩﴾
وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدْعُونِىٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِى سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾ ٱللَّهُ
ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِتَسْكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ
لَا يَشْكُرُونَ ﴿٦١﴾ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾ كَذَٰلِكَ يُؤْفَكُ
ٱلَّذِينَ كَانُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً وَصَوَّرَكُمْ
فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ ۖ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٤﴾ هُوَ
ٱلْحَىُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ۗ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٥﴾ ۞ قُلْ إِنِّى نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ
ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَمَّا جَآءَنِىَ ٱلْبَيِّنَٰتُ مِن رَّبِّى وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٦﴾ ﴾ غافر: ٤٧ ـ ٦٦

مناسبت:

کله چي الله دفرعون اودهغه دتبردهلاکولوبيان وکړ وروسته دهغوشخړوبيان فرمايي چي ددوزخيانوترمينځ به پيښيږي اومجرمين به دفريادرسي چيغي وهي خوڅوک به يې نه اوري اوبيادالله جل جلاله په قدرت اووحدانيت دلائل راوړي ترڅوچي په مشرکانوباندي حجت شي.

لغتونه: (يتحاجون) جګړه کوي(خزنة) دخازن جمع اوساتونکي متکفل اوڅارونکي ته ويل کيږي (الاشهاد) دشاهدجمع اوهغه چاته ويل کيږي چي په دليل سره په بل چاګواهي وايي (داخرين) ذليل(تؤفكون) له ايمان څخه کفرته ګرزول کاووشي (قرارا) مستقر(أسلم) اېل اوتابع شو.

تفسير:

﴿ وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ فِى ٱلنَّارِ ﴾ (او(يادکړه) هغه چي جګړه به کوي(دوزخيان) په اورکي) يعني کله چي مشران اواتباع بې يوله بله دعوې دانګلي کوي ﴿ فَيَقُولُ ٱلضُّعَفَٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا ﴾ پس وبه وايي ضعيفان (تابعان) هغوکسانوته چي سرکښان (اومشران متبوعان وو) بېشکه موږ ستاسي تابعان وو(تاسي ته دخدمتګارانوپه شان غاړه ايښودونکي ووستاسي له خوادکفراوضلالت ګرداوامربه موږ منل) ﴿ فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا مِّنَ ٱلنَّارِ ﴾ پس آيااوس ياست تاسي (اى متبوعانو) دفع کونکي له موږ څخه کومه برخه له اوره ددوزخ ؟ (کوم چي موږپکي يو) امام رازي وايي دوی پدې پوهيږي چي دغه مشران دعذاب په سپکولوقدرت نلري بلکه ددوی دغه خبره دهغوی دخجالت اوشرمولودپاره ده اوداچي دوی ملامت کړي څکه چي هغوی دوی په قسما قسم ګمراهيوکي

اخته کړي وو(۱) ﴿ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا كُلٌّ فِيهَآ ﴾ وايي هغه کسان چي تکبرېي کړی وو(متبوعان چي څرنګه يې دفع کړو) بېشکه موږ ټول په دوزخ کي يو؛ که موږ د عذاب په دفع کولو توان لرلای نو له خپله ځانه به موليري کړی وای ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ ٱلْعِبَادِ ﴾ بېشکه الله په تحقيق حکم کړی دی په مېنځ د بندګانو کي (داسي قطعي حکم چي مؤمنان يې جنت ته او کافران يې دوزخ ته ولېږل نو موږ ستاسي لپاره هيڅ هم نشو کولای ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ فِى ٱلنَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ﴾ او وبه وايي هغه

19/19 کسان (چي پراته دي) په اور کي متصرفانو د دوزخ ته (لپاره د تخفيف د عذاب. بيضاوي وايي دا چي جهنم يې د ضمير پر ځای ظاهر راووړ چي ﴿ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ﴾ يې وفرمايل پر ځای د دې چي ويلي يې وای (لخزنتها) د ا د دې لپاره چي هيبت او فظاعت افاده کړي ﴿ ٱدْعُواْ رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ ٱلْعَذَابِ ﴾ دعا وکړئ زموږ د پاره رب خپل ته چي سپک کړي له موږ څخه يو ورځ له عذابه ﴿ قَالُوٓاْ أَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ ﴾ وبه وايي (ورته متصرفان) آيا تاسي ته رسولان نه وو راغلي په ښکاره دلائلو سره (چي تاسو ورباندي کافران شوی او د هغو تکذيب مو وکړ) ﴿ قَالُواْ بَلَىٰ ﴾ وايي (ولي نه وو راغلي) بلکه راغلي وو ﴿ قَالُواْ فَٱدْعُواْ ﴾ وبه وايي (متصرفان) پس وبولئ تاسي (پخپله الله موږ خو د غه جرأت نلرو. امام رازي وايي چي دا ويناچي ورته وايي ﴿ فَٱدْعُواْ ﴾ د دې لپاره نه ده چي ګنه دوی ته به ګټه ورسوي بلکه د دې لپاره ده چي په ناهيلي او نا اُميدي دلالت وکړي ځکه کله چي د مقربينو ملائکو دعا نه اورېدل کېږي د کفارو به څنګه ولو رېدل شي(۲) بيا ورته پدې خبره تصريح کوي چي د دوی دعا اغيزه نلري ﴿ وَمَا دُعَٰٓؤُاْ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ ﴾ او نه دی دعا د کافرانو مګر په ګمراهي کي (ګټه ورته نلري) ﴿ إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ بېشکه چي موږ خامخا مدد کوو له خپلو رسولانو سره او له هغو کسانو سره چي ايمان يې راوړی دی په دې دنيا کي (چي له کفارو څخه د دوی غچ اخلو او انبياوو او مؤمنانو ته پرهغوی بری ورکوو) ﴿ وَيَوْمَ يَقُومُ ٱلْأَشْهَٰدُ ﴾ او په هغه ورځ چي شاهدان به ودرېږي (کوم چي د بندګانو په عملونو به شاهدي وايي لکه پرښتې، نبيان او مؤمنان. امام رازي وايي چي په آيت شريف کي له مؤمنانو سره د دې وعده شوي چي په دنيا او آخرت کي به الله تعالی دوی ته د دوی پر دښمنانو باندي بری ورکوي(۳) ﴿ يَوْمَ لَا يَنفَعُ ٱلظَّٰلِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ ﴾ په هغې ورځي چي به هيڅ ګټه نه رسوي ظالمانو ته عذرونه د دوی. ابن جرير وايي چي مشرکانو ته به د دوی عذرونه وړاندي کول څه ګټه نه لري ځکه دوی به

---

(۱) التفسير الكبير ۲۷/ ۷۴

(۲) التفسير الكبير ۲۷/ ۷۴

(۳) كبير تفسير ۲۷/ ۷۵

5-ب

په باطل ډول باندي عذرونه کوي ﴿ وَلَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ ﴾ اوشته دوی ته لعنت (بُعد له رحمته دالله) ﴿ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴾ اوشته دوی ته ناکاره کور (ددوزخ) ابن عباس وایي چي د ﴿ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴾ معناسوء العاقبة دی ﴿ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡهُدَىٰ ﴾ اوخامخاپه تحقیق ورکړي وموږ موسی ته (امورد) هدایت (لکه معجزې، صحائف او شرائع) [1] ﴿ وَأَوۡرَثۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَـٰٓءِيلَ ٱلۡكِتَـٰبَ ﴾ اوپه میراث مو ورکړبني اسرائیلوته کتاب (دتورات) ﴿ هُدٗى وَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَـٰبِ ﴾ پدې حال کي چي هدایت سمه لاره ښوونکی وواوپند ولپاره د خاوندانود خالصوعقلونو ﴿ فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ ﴾ پس صبروکړه (ای محمده! دکفاروپه ضرر) بېشکه چي وعده دالله حقه ده (په نصرت دانبیاوو چي ددوی دښمنان به هلاکوي) په دې وعده کي د خلاف امکان نشته ځکه چي الله لایخلف المیعاددی. امام فخررازي وایي چي الله وفرمایل چي الله خپل پیغمبران بریالي کوي نوبې دموسی علیه السلام په حال باندي مثال تېرکړاوبیایې خپل پیغمبر ته خطاب وکړچي: ﴿ فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ ﴾ مقصد داچي الله ستاهمدغسي مرستندوی دی لکه چي ددوی وو او همداسي به الله خپله وعده له تاسره هم ترسره کړي لکه چي له دوی سره یې ترسره کړې وه [2] ﴿ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ ﴾ اومغفرت وغواړه لپاره دګناه خپلي دکوم چي له تاڅخه ترک داولی اوأفضل شوی وي) صاوي وایې چي پدې کي مقصدامت ته ددې تعلیم اوښوونه ورکول دي چي دخپلوګناهونومعافي دي وغواړي ځکه چي رسول الله ﷺ خوله صغائرواوکبائروګناهونوڅخه مخکي ترنبوت او وروسته معصوم دی [3] ابن کثیروایې چي پدې کي امت ته داستغفارکولوهڅونه ده [4] ﴿ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِبۡكَـٰرِ ﴾ او(په دوام سره) تسبیح وایه سره له ثنادرب خپل هم په آخره برخه دورځي کي اوهم په اوله دورځي کي امام رازي وایې چي دامرمقصدله دوام څخه دی چي هیڅ وخت دي ژبه له ذکرڅخه خالي نه وي ترڅوداېرارروملائکوله ډلي شې هغه چي ﴿ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ ﴾ (الانبیاء۲۰) اومرادله تسبیح څخه دالله (جلت عظمته) له ټولوهغوشیانوڅخه تنزیه اوپاکي ده چي ورسره نه ښایي، ورپسې الله تبارک وتعالی په هغه څه باندي تنبیه فرمایې کوم چي کفاریې په باطله سره جګړه کولوته اړایستل ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ﴾ بېشکه هغه کسان چي مجادله جګړه کوي په (بطلان) دآیتونودالله ﴿ بِغَيۡرِ سُلۡطَٰنٍ أَتَىٰهُمۡ ﴾ بې له کوم علمي سنده چي دوی ته راغلی وي ﴿ إِن فِي صُدُورِهِمۡ إِلَّا كِبۡرٞ مَّا هُم بِبَٰلِغِيهِ ﴾ بېشکه چي نه دی په سینو(زړونو) ددوی کي مګرکبراو سرکښي ده چي نه دي دوی رسېدونکي هغه (مقصدته) (چي

[1] تفسیردابوالسعود ۱۲/۵
[2] التفسیرالکبیر ۷۷/۲۷
[3] دصاوي حاشیه ۱۷/۴
[4] دابن کثیرمختصر ۲۴۸/۳

دوی غوارِي دالله دنور شغله ووژني اوپرتابری وومي) ﴿ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴾ پس پناه ونیسه په الله پوري (له شره ددوی بېشکه دغه الله هم دی دی ښه اورېدونکی (داقوالو) ښه لیدونکی (داحوالوددوی) یعني الله ته ددوی له مکره څخه پناه یوسه بېشکه الله ددوی شرله تاڅخه دفع کوي ورپسې الله ﷻ دخپل قدرت او وحدانیت دلائل داسي یادوي چي ﴿ لَخَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ ﴾ خامخاپیداکول دآسمانونواودځمکي ډېرلوی دی له پیداینښته دخلګو (څوک چي دداسي سترو شیانوپه پیداکولوقادروي هغه به څرنګه دداسي وړوشیانو لکه خلګ دپیداکولوڅخه عاجزوي ؟) په التسهیل کي لیکي چي له دې څخه مقصدپه بعث باندي استدلال راوړل دي څکه هغه پروردګارچي د آسمانونواوځمکي په پیداینښت قادردی هغه دشیانوله فاني کېدلو وروسته په راپورته کولواو ژوندي کولوهم قادردی (۱) ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ ولیکن اکثرد خلګو نه پوهېږي (په آساني ددوهم ځل پیداینښت تراول)څکه چي دوی خوراپه غفلت کي اودخپلو خواهشاتو پیروي کونکي او درباندي ناپوهي اوجهل غلبه کړي ده ﴿ وَمَا يَسْتَوِي ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ ﴾ اونه سره برابرېږي کافراومؤمن ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَلَا ٱلْمُسِيٓءُ ﴾ او(هم داسي نه سره برابرېږي) هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی اوکړي یې دي ښه (عملونه) اونه هغه چي بدکاردی (یعني براوفاجرسره برابرنه دي)﴿ قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ ﴾ (ډېرلږ پنداخلی تاسي (ای خلګو) یعني تاسو په دې مثالونوپند نه اخلی مګرلږکسان . ابن کثیروایي چي مقصددادی لکه څرنګه چي ړوند هغه چي هیڅ نه ویني اوبیناهغه چي څویې دسترګوديدرسېږي لیدل کوي سره برابرنه دي همدغه رنګه ابرار مؤمنان اوفجارکافران سره نه دي برابرخوډېرلږخلګ له دې څخه پنداخلي (۲) ﴿ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَءَاتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا ﴾ بېشکه چي قیامت خامخا راتلونکی دی نشته هیڅ شک په (راتللو د) دغه (قیامت) کي ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ ولیکن زیاتره دخلګوایمان نه راوړي (په راتلودقیامت څکه نوله بعث اوجزاءڅخه منکرېږي. امام رازي وایي چي مرادله ﴿ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ ﴾ څخه کفاردي هغوی چي له بعث اوقیامت څخه منکردي (۳) ﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدْعُونِيٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ﴾ او فرمایې رب ستاسي (ای زمابندګانو) تاسي ماوبولئ چي قبلوم تاسي ته (دعاستاسي) ابن کثیر وایې الله تعالی بندګانوته دعاکول مستحب ګڼلي اوداجابت یې په پخپل فضل اوکرم سره ضمانت

---

(۱) التسهیل ۴/ ۸

(۲) ابن کثیر ۳/ ۲۴۹

(۳) کبیرتفسیر ۲۷/ ۸۰

کړی دی (۱)﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴾ ببشکه هغه کسان چي تکبرکوي زماله عبادت څخه ژردی چي ننوزي به دوزخ ته پداسي حال کي چي خوار اوسپک به وي، بیاالله تعالی دخپل قدرت اووحدانیت آثاربنیي هغه چي دالله لپاره دشکراوعبادت افراد ورڅخه لازمېږي فرمایي ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِتَسْكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ﴾ الله هغه ذات دی چي گرزولي یې ده تاسي ته شپه لپاره ددې چي آرامي وکړی تاسي په هغې کي او(گرزولي یې ده) ورځ لیدلوته (چي پکي درزق او معاش لټون وکړی) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ ﴾ ببشکه الله خامخا څښتن دفضل دی پر انسانانو ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴾ لکن زیاتره دانسانانوشکرنه باسي (پدې نعمتونوباندي، اوانکار،کفران یې کوي) ﴿ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ خَٰلِقُ كُلِّ شَيْءٍ ﴾ دغه (ذات) تاسي ته رب ستاسي دی چي خالق پیداکونکی دهرڅېزدی ﴿ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ نشته هیڅوک لائق د عبادت مگرهم دی یوازي (نه بل څوک) ﴿ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴾ پس کوم طرف ته گرزولي شوي یاست تاسي؟ (له عبادت دخالق مالک څخه عبادت دبتانوته ؟!) ﴿ كَذَٰلِكَ يُؤْفَكُ ٱلَّذِينَ كَانُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴾ همداسي گرزولي کېږي (له حقه)هغه کسان چي وو له آیتونودالله به یې انکارکاوو. صاوي وايې چي پدې کي درسول الله ﷺ لپاره تسلیت اودادینه ده معناداچي ای محمده دخپل قوم په انکارمه خوابدی کېږه څکه پخواني خلگوهم دغسي له خپله پیغمبره انکارکړی وو(۲)اوبیاییې دقدرت ددلائلوزیات بیان هسي فرمایلی چي﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا ﴾ الله هغه (ذات) دی چي گرزولي یي ده تاسي ته ځمکه ځای دقرار (په ژونداومرگ کي) ابن عباس وايې معناداچي ځمکه ستاسودمرگ اوژوندهستوگنځی دی (۳)﴿ وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً ﴾ او(گرزولی یې دی تاسي ته) آسمان چت (دبام په شان چي لکه قبه غوندي یې ستاسي په سردرولی دی ﴿ وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ﴾ او صورتونه یې درکړي تاسي ته پس ډېرښایسته یې جوړکړه صورتونه ستاسي (په ښایسته انځور، تشکیل اومتناسب اندامونه، داسي یې جوړنکړی لکه څلوربول ښاروی چي سر یې کوز او روان وي. زمخشري وايې چي الله تعالی هیڅ سالرونکی حیوان ترانسان په ښه شکل ندی پیداکړی (۴) اودغه لکه دالله هغه ویناغوندي ده چي فرمایي ﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِيٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴾ (التین۴) ﴿ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ﴾ اوروزي

(۱) زیاتره مفسرینوکراموویلي چي مرادله دعاڅخه عبادت دی قرطبي وايې معناداچي زماوحدانیت ومنئ اوزماعبادت وکړئ ستاسي عبادت به قبول کړم اودرته به مغفرت وکړم......هغه چي موږ ولیکل هغه دابن کثیرغوره اوشهاب هم دغسي ویلي اوامام رازي هم ترجیح ورکړي ده.

(۲) حاشیة الصاوي۴-۱۳

(۳) کبیرتفسیر۲۸/۸۴

(۴) کشاف۴_۱۳۷

يې درکړي ده تاسي ته له پاکيزه وو (طيباتو خوندورو شيانو) ﴿ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ ﴾ دغه ذات (خالق، مصور ، رازق چي کونکی ددې کارونو او منعم ددې نعمتونودی) الله دی رب پالونکی ستاسي (چي له هغه پرته بل اله نشته ﴿ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ پس ډېربرکتي (ډېرپورته دی شان) دالله چي رب پالونکی دټولو عالميانودی (عبوديت پرته له ده له بل چاسره نه ښايي) ﴿ هُوَ ٱلْحَىُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ هم دی ژوندی دی تل په يوحال باقي قائم کامل تدبيروالا، نشته بل هيڅوک لائق دعبادت مگرهم دی يوازي ﴿ فَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ پس وبولئ هم دی په دې حال چي خالص کونکي ياست تاسي خاص دغه (الله) لره (دين) له شرکه په ظاهر او باطن کي پداسي حال کي چي وايياست ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ ټوله ثناده خاص الله لره چي پالونکی دټولو عالميانوده ،نه دبتانو لپاره هغوی چي - هيڅ واک او څواک نلري کله چي الله دخپل جلال او عظمت صفات بيان کړل ورپسي يې دغيرالله له عبادت څخه داسي منع وفرمايله چي ﴿ قُلْ إِنِّى نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته!) بېشکه چي زه منع کړی شوی يم له دې نه چي عبادت وکړم دهغو (بتانو) چي بولی يې تاسي غيرله الله . صاوي وايې الله تعالی خپل نبي ته امروکړچي خپل قوم ته هغوی چي سره له څرگندو عقلي او نقلي دلائلو بياهم دغيرالله عبادت کوي دزجرپه توگه داسي اعلان وکړه (۱) ﴿ لَمَّا جَآءَنِىَ ٱلْبَيِّنَٰتُ مِن رَّبِّى ﴾ کله چي راغلل ماته ښکاره دليلونه (دتوحيد) له جانبه د) رب پالونکي زما. امام رازي وايې چي مراد له ښکاره دليلونو څخه دادی چي دالله دعظمت او جلال صفتونه ثابت او صريح عقل په دې شاهدي ورکوي-چي عبادت له دغه الله پرته له بل چاسره نه ښائېږي او داچي څوک اوثان ،ډېري او انځور کړي لرگي له الله سره په عبادت کي شريک گڼي (دغه په ښکاره پوچ او بې معنا عمل دی چي عقل يې نه مني (۲) ﴿ وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ او حکم کړی شوی دی پرماچي غاړه کېږدم (تابع شم) رب پالونکي دتمامو عالميانو ته (خالص کونکی ددين ده لره او ځان پاکيزه کړم له عبادت کولو دنوروڅخه).

الله تعالی فرمايي:

﴿ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا۟ أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُوا۟ شُيُوخًا ۚ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبْلُ ۖ وَلِتَبْلُغُوٓا۟ أَجَلًا مُّسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٦٨﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ﴿٦٩﴾ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِٱلْكِتَٰبِ وَبِمَآ أَرْسَلْنَا بِهِۦ رُسُلَنَا ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٧٠﴾ إِذِ ٱلْأَغْلَٰلُ فِىٓ أَعْنَٰقِهِمْ وَٱلسَّلَٰسِلُ

---

(۱) صاوي على الجلالين ۴/ ۱۳

(۲) کبيرتفسير ۲۷/ ۸۵

يُسْحَبُونَ ﴿٧١﴾ فِي الْحَمِيمِ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ ﴿٧٢﴾ ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٧٣﴾ مِن دُونِ اللَّهِ
قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا بَل لَّمْ نَكُن نَّدْعُوا مِن قَبْلُ شَيْئًا كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ الْكَافِرِينَ ﴿٧٤﴾ ذَٰلِكُم بِمَا كُنتُمْ تَفْرَحُونَ فِي
الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ تَمْرَحُونَ ﴿٧٥﴾ ادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٦﴾
فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿٧٧﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن
قَبْلِكَ مِنْهُم مَّن قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ فَإِذَا
جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُونَ ﴿٧٨﴾ اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَنْعَامَ لِتَرْكَبُوا مِنْهَا
وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوا عَلَيْهَا حَاجَةً فِي صُدُورِكُمْ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ
تُحْمَلُونَ ﴿٨٠﴾ وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ فَأَيَّ آيَاتِ اللَّهِ تُنكِرُونَ ﴿٨١﴾ أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ
عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْهُمْ وَأَشَدَّ قُوَّةً وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ فَمَا أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ
﴿٨٢﴾ فَلَمَّا جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَرِحُوا بِمَا عِندَهُم مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٨٣﴾ فَلَمَّا
رَأَوْا بَأْسَنَا قَالُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَحْدَهُ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهِ مُشْرِكِينَ ﴿٨٤﴾ فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَانُهُمْ لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا
سُنَّتَ اللَّهِ الَّتِي قَدْ خَلَتْ فِي عِبَادِهِ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكَافِرُونَ ﴿٨٥﴾ ﴾ غافر: ٦٧ ــ ٨٥

مناسبت: لاتراوسه پوري آيتونه دالله دقدرت اووحدانيت دلائل بيانوي کله چي يې په افاقوکي دقدرت دلائل وښودل ورپسې يې دأنفسي دلائلوبيان راوړ اوبيادقيامت په ورځ دمشرکانوله احواله غرېږي اودسورت پاى دکفارواوګمراهانوپه تهديداووعيدسره بشپړېږي.

لغتونه: (الأغلال) دغل جمع اوهغه قيدته ويل کېږي چي لاسونه له غاړي سره ورباندي تړي اواتکړه يې بولي (الحميم) ايشېدلي اوبه چي نهايت تودوخي ته رسېدلي وي (يسجرون) ورباندي اوربلولی شي (تمرحون) په نازاومکيز(تکبر) تلونکي ياست (مثوى) داوسېدلوځاى (خلت) تېرشوي دي.

تفسير: ﴿ هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ﴾ الله هغه (ذات) دى چي (اول) يې پيداکړى دى (تيکه) ستاسي له خاوروبيايې (پيداکړه اولاده دده) له نطفې (مني څخه) بياله کلکي توتې دوينو(ترپايه پوري چي نورحالت ورباندي راځي) ﴿ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ﴾ بيااوباسي تاسي (له ارحامودميندو) واړه اطفال ﴿ ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ ﴾ بيا(تربيت کوي ستاسي) لپاره ددې چي ورسېږى منتهادقوت خپل ته (په عقل اوکمال کي چي دځلوېښت کالوعمردى) ﴿ ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا ﴾ بيا(ژوندي ساتي تاسي) لپاره ددې چي زاړه شى(بې قوته امام رازي وايې الله تعالى د انسان عمرپه درې مرتبوووېشل چي يوه يې طفوليت بل منتهادقوت اوبل بيابوډاوالى اوزړېښت دى اودغه دعقل مطابق دى ځکه انسان دعمرپه پيل کي د ودي اونشو نماپه دورکي وي او ورته طفوليت وايې

ترځوچي بشپړځواک اوعقل ته ورسېږي اوضعف اوناتواني ونلري بیاوروسته بوډاتوب پیل کېږي اودغه دشیخوخت مرتبه ده (۱) ﴿ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبْلُ ﴾ اوځیني له تاسي هغه دي چي مړه کولی شي مخکي ترشیخوخته (دغه دمجاهدوپناده) اوځوک یې بیاداسي تفسیرکوي چي: ځیني له تاسي هغه دي چي مړه کېږي ترپخوا (له زېږېدلوېې یعني نقصانېږي (سقط وي) ﴿ وَلِتَبْلُغُوٓا۟ أَجَلًا مُّسَمًّى ﴾ او (ساتي مو) لپاره ددې چي ورسېږی تاسي ترهغې نېټې په نامه کړی شوي پوري (چي دمرگ وخت دی) ﴿ وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴾ اولپاره ددې چي تاسي عقل وچلوی (په دلائلودوحدانیت اوقدرت د الله اوبعث بعدالموت کي) ﴿ هُوَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ﴾ الله هم (هغه) ذات دی چي ژوندي کول اومړه کول کوي ﴿ فَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴾ پس هرکله چي اراده حکم وکړي دیوکارپس بېشکه همدا خبره ده چي وایي ورته (موجود) شه نوهغه (موجود) شي (بې له مهلته ، بې له ستړیا او کړاوه) ابوالسعودوایي دغه دالله دبشپړځواک تمثیل دی اوهمدادچټک پیدا اینبت لپاره انځور او تصویردی پرته له دې چي هلته آمر اومأمورشتون ولري ترسره کېږي..(۲) وروسته بیاالله دآیتونو په باب د شخړه کونکوذم ته راگرزي فرمایې ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ﴾ آیانه وینې ته (تعجب نه کوې) هغه کسان چي مجادله کوي په آیتونودالله (کي چي څرگنددي) چي کوم لوري ته دوی گرزولی شي ؟(له هدایت څخه گمراهي اوضلالت ته بیایې بیان پدې وینافرمایې چي ﴿ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِٱلْكِتَٰبِ وَبِمَآ أَرْسَلْنَا بِهِۦ رُسُلَنَا ﴾ هغه کسان چي تکذیب یې کړی دی په (قرآن) کتاب او په هغو(آسماني کتابونواوشریعتونو) چي رالېږلي مودي په هغوسره رسولان(پخوا) ﴿ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴾ پس ژردی چي دوی به پوه شي (په عاقبت دتکذیب خپل دغه وعیداوتهدیددی) ﴿ إِذِ ٱلْأَغْلَٰلُ فِىٓ أَعْنَٰقِهِمْ وَٱلسَّلَٰسِلُ ﴾ کله چي وي به داورغاړه کي په غاړوددوی کي اوځنځیرونه ﴿ يُسْحَبُونَ فِى ٱلْحَمِيمِ ثُمَّ فِى ٱلنَّارِ يُسْجَرُونَ ﴾ چي رابنکل کېږي به دوی په ایشېدونکو اوبوکي بیا به په اور(ددوزخ) کي دوی ورېتولی سوځولی شي. ابن کثیروایي معناداچي طوقونه به په دغو ځنځیرانوپسي ترلي اوځنځیرونه به ددوزخ دمتصرفینوپرښتوپه لاس کي وي کله به یې په خوراگرمو ایشېدلواوبوکي راکاږي اوکله به یې دوزخ ته کشوي لکه چي الله فرمایې ﴿ يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ ءَانٍ ﴾ (الرحمن: ۴۴)(۳) ﴿ ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ بیابه دوی ته وویل شي چي چېرته دي هغه (بتان) چي وی تاسي چي شریکول به مو(له الله سره په عبادت کي) بغیرله الله؟(دغه به دتبکیت په ډول ورته ورته ویل کېږي نو ﴿ قَالُوا۟ ضَلُّوا۟

---

(۱) کبیرتفسیر۲۷ /۸۵
(۲) ابو السعود ۵-۱۴
(۳) مختصرابن کثیر۲۵۱/۳

عَنَّا ﴾ وبه وايې (كفار) چي له موږ څخه ورک شول (هغه زموږ معبودان چي نه يې وينو او نه يې شفاعت غوښتلى شو ﴿ بَل لَّمۡ نَكُن نَّدۡعُواْ مِن قَبۡلُ شَيۡـٔٗاۚ ﴾ بلكه گويانه وو موږ چي بلل به مو (په عبادت سره دغه بتان) پخواله دې نه هيڅ شى. مفسرين كرام وايې چي دوى به يو مخ ايزه د بتانو له عبادت څخه منكرشي اودغه به د دوى د حيرت او اضطراب له سببه وي ﴿ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ همداسي (لكه اضلال د دې مكذبينو) گمراه كوي الله كافران ﴿ ذَٰلِكُم بِمَا كُنتُمۡ تَفۡرَحُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ ﴾ دغه (عذاب) تاسي ته په سبب دهغه دى چي وى تاسي چي خوشحالي به موكوله په ځمكه كي په ناحقه سره (په گناه دېروالي د مال دولت او په حراموكي په لگولو باندي) ﴿ وَبِمَا كُنتُمۡ تَمۡرَحُونَ ﴾ او په سبب د هغه چي لويې به موكوله په ناحقه سره. صاوي وايې كه څه هم دغه د كفارو په هكله ده مگرهرڅوك چي داسي كوي له دغه وعيد څخه ورته ونه شته) ﴿ ٱدۡخُلُوٓاْ أَبۡوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ ﴾ ننوزئ تاسي په (اوو) دروازو د دوزخ كي په داسي حال كي چي همېشه پاتي كېدونكي ياست په دغه (دوزخ) كي ﴿ فَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ ﴾ پس ناكاره ځاى د متكبرانو دى (دا دوزخ) هغوى چي د الله له آيتونو او د ايمان او توحيد له دلائلو اعراض كونكي وي) او دا چي ويې ويل ﴿ مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ ﴾ او هسي يې ونه ويل چي (مدخل المتكبرين) سره له دې چي د نظم غوښتنه وروستى كلمه وه د دې لپاره چي مدخل تلپاتي او همېشه نه وي او مثوى د دوام لپاره وي څكه يې د ذم لپاره ځانگړي كړه ﴿ فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۚ ﴾ پس صبروكړه (اى محمده ! په ضرر د كفارو چي ستا تكذيب كوي) بېشكه چي وعده د الله (په تعذيب او اهلاک د دوى) حقه ده. صاوي وايې چي دغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره تسليت او ډاډ دى چي الله به يې په دښمنانو بريالى كوي(١) ﴿ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ ﴾ پس كه وښيو تا ته موږ ځيني دهغه عذاب چي موږ يې وعده كوو له هغوى سره ، د شرط ځواب محذوف دى او تقدير يې دا چي: (نو ډېرښه دى) يا دا چي (نوستا به سترگي ورباندي يخي شي) ﴿ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ﴾ يا قبض كړو موږ تا پس (په هر حال كي) خاص موږ ته بيا بيرته راوستل شي دوى (د قيامت په ورځ او موږ به ورڅخه سخت انتقام واخلو بيا الله جل جلاله رسول الله ته د نورو انبياوو كيسي ورپه يادوي څو چي زړه يې تسلاشي نو فرمايي: ﴿ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ ﴾ او خامخا په تحقيق لېږلي وو موږ رسولان پخوا له تا څخه (ډېرچي معجزاتي مو وركړي وې خو قومونو يې تكذيب وكړنو په هغوى پسي اقتداء وكړه ترڅو چي د صبرجزاء ومومي. قرطبي وايې الله تعالى ده ته د پخوانيو انبياوو سرگذشت د دې لپاره واورا وو چي د ده لپاره تعزيه شي ﴿ مِّنۡهُم مَّن قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّن لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَ ﴾ چي ځيني له (يو لک څلېرويشت زره كم

(١) حاشية الصاوى ٤-١٤-١٥

اوزياتوانبياوو) هغه (نه ويشت) انبياء دي چي دهغوی کيسي اود حالاتو بيان (له خپلو قومونو سره) موږ تاته کړی اوځيني له دغو انبياوو هغه دي چي موږ يې تاته کيسې ندي کړي ﴿ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ اونه وو هيڅ رسول ته (ښائېدونکي اونه يې په قدرت کې وو) داچي راوړي کوم يو دليل (معجزه) مگر په اذن حکم دالله سره ، دغه په قريشو باندي ردد ی چي دوی به رسول الله ﷺ ته ويل چي دصفاغر راته دسروزرو کړه اويابه يې نوروړانديزونه کول ﴿ فَإِذَا جَآءَ أَمْرُ ٱللَّهِ قُضِىَ بِٱلْحَقِّ ﴾ پس هرکله چي راغی امر حکم دالله حکم فيصله به وکړه شي په حقه سره(په عذاب ددوی) ﴿ وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴾ او زيان به وکړي هلته باطلونکی (دحق)دروغجنان دالله په آيتونو کي مجادله کونکي معاندين اود سرغړوني په توگه وړانديزکونکي خلک. بياالله خپل نعمتونه هسي شمېري فرمايي ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَنْعَٰمَ ﴾ الله هغه ذات دی چي پيدا کړي يې دي تاسي ته چارپايان (لکه اوښان، غوايان اوپسونه ستاسي دخيراو مصلحت لپاره يې درته تابع کړي دي ﴿ لِتَرْكَبُوا۟ مِنْهَا وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴾ دپاره د دې چي سپرېږي په ځينو ددوی اوله ځينو دوی څخه تاسي خوري (غوښي اوشېدې ددوی) ﴿ وَلَكُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ ﴾ اودی تاسي ته په دغو چارپايانو کي گټې (ډېري لکه وړی ، وزغني ،شيدې ، مسکه ، اوغوړي) ﴿ وَلِتَبْلُغُوا۟ عَلَيْهَا حَاجَةً فِى صُدُورِكُمْ ﴾ اولپاره ددې چي ورسېږی تاسي په دوی سره هغه حاجت ته چي په سينو(زړونو) ستاسي کي وي (له ليرې مسافرتونو اودرنو بارونو څخه ﴿ وَعَلَيْهَا وَعَلَى ٱلْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴾ اوپه دغو اوښانو(په برکي)اوپه بېړی (په بحر کي) سپرول کېږی تاسي ، دلته چي يې داوښ اوبېړی يوځای راوړل وفرمايل ځکه چي داوښ اوبېړی ترمينځ ډېر کلک مناسبت شته آن تردې چي عرب خلک اوښ ته (سفينة البرياسفينة الصحراء) وايي ﴿ وَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ ﴾ اوښيي تاسي ته دلائل (دقدرت وحدانيت) خپل په آفاقو اوانفسو کي) ﴿ فَأَىَّ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُنكِرُونَ ﴾ پس له کوم يوه له دلائلو(دقدرت دالله څخه تاسي انکارکوی)؟داخودانکار وړنه دي ﴿ أَفَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ آيا پس نه دي گرزېدلي دوی په ځمکه (ملکونو) کي پس چي وگوري دوی چي څرنگه شوآخره خاتمه دهغوکسانو چي پخواله دوی نه (تېرشوي) وو(چي څرنگه دخپل کفراوتکذيب په سبب هلاک شول؟ دغه استفهام انکاري دی ﴿ كَانُوٓا۟ أَكْثَرَ مِنْهُمْ وَأَشَدَّ قُوَّةً وَءَاثَارًا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ چي ووهغوی ډېرزيات له دغو(کفارو) څخه اوډېر سخت وو(په بدني)قوت) او (مدني) آثاروپه ځمکه کي چي لاتراوسه يې دغټواودنگو اوچتو مانيو آثاراو نښني په ځمکه کي پاتي دي ﴿ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴾ پس هيڅ دفع ونکړه له دوی نه هغه څه چي هغوی وو کسب به يې

کاوو (پیدا کول یې له مالونو هستو کنخیوا ونورو څخه له دوی څخه یې عذاب دفع نکړاوپه کار ورنغلل ﴿ فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ ﴾ پس هرکله چي رابه غلل دوی ته رسولان ددوی په ښکاره دلائلو (څرګندو معجزو) ﴿ فَرِحُواْ بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ ﴾ نوخوشحاله به شول (دغه کفار استهزاءً) په هغه چي له دوی څخه به وو له علمه (ددنیاچي دوحی اوهدایت له رڼاڅخه به بې برخي وو دوی به په دغه پوهنه خوښ اومغروره شول ﴿ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴾ (اوچاپېر شو پر دوی هغه عذاب چي په هغه پوري به یې مسخرې کولې) یعني چاپېرشوپردوی عذاب په سبب دکفر اواستهزآء ددوی چي په انبیاوبه یې مسخرې کولې ﴿ فَلَمَّا رَأَوۡاْ بَأۡسَنَا قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥ ﴾ پس هرکله چي دوی به ولید (په دنیاکي) ستر عذاب زموږ نووبه یې ویل ایمان موراوړی دی په الله یوازي اواحدالاحدباندي ﴿ وَكَفَرۡنَا بِمَا كُنَّا بِهِۦ مُشۡرِكِينَ ﴾ اوکافران شوموږ پرهغو څېزونو چي وومونږ په سبب دهغه څیز مشرکان (له الله سره په عبادت کي چي بتان وو) ﴿ فَلَمۡ يَكُ يَنفَعُهُمۡ إِيمَٰنُهُمۡ لَمَّا رَأَوۡاْ بَأۡسَنَاۖ ﴾ (پس نه وو (دا کار) چي نفع ورسوي دوی ته ایمان ددوی هرکله چي دوی به ولید سخت عذاب زموږ) یعني د عذاب دلیدلو په وخت کي ددوی ایمان راوړل ورته ګټه نه رسوله ځکه دغه اضطراري ایمان وو ﴿ سُنَّتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدۡ خَلَتۡ فِي عِبَادِهِۦۖ ﴾ (طریقه ایښې ده الله) هغه دالله طریقه چي په تحقیق تېره شوي ده په بندګانو ددغه (الله پخواچي دعذاب دلیدلو په وخت کي بیاایمان راوړل ګټه نه لري) ﴿ وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴾ او زیانکاره شول په دغه ځای کي کافران (هغوی چي دالله توحید یې نه مانو).

بلاغت: پدې مبارک سورت کي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لندون یې دادی:

۱- دطباق صنعت چي د ﴿ ٱلذَّنۢبِ... ٱلتَّوۡبِ ﴾ ترمینځ اود ﴿ أَمَتَّنَا ... وَأَحۡيَيۡتَنَا ﴾ ترمینځ اود ﴿ كَٰذِبٗا ...صَٰدِقٗا ﴾ ترمینځ او ﴿ غُدُوّٗا ...وَعَشِيّٗاۖ ﴾ ترمینځ اود ﴿ يُحۡيِۦ... وَيُمِيتُۖ ﴾ ترمینځ اود ﴿ ٱلۡأَعۡمَىٰ... وَٱلۡبَصِيرُ ﴾ ترمینځ راغلی دی.

۲- مقابله چي فرمایې: ﴿ ذَٰلِكُم بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِيَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُۥ كَفَرۡتُمۡ وَإِن يُشۡرَكۡ بِهِۦ تُؤۡمِنُواْ ﴾ دلته یې دتوحیداواشراک ترمینځ اودکفراوایمان ترمینځ مقابله راوړي اوهمدارازپه دې آیت کي چي ﴿ يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا مَتَٰعٞ وَإِنَّ ٱلۡأٓخِرَةَ هِيَ دَارُ ٱلۡقَرَارِ ﴾ اودغه له بدیعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

۳- مرسل مجازکله چي فرمایې: ﴿ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزۡقٗاۚ ﴾ دلته یې رزق راوړی او مقصد یې باران دی ځکه چي باران دګردو ارزاقواوروزي سبب دی نومسبب یې یادکړی مرادځني سبب دی.

۴ - لطیفه استعاره چي راوړي ﴿ وَمَا يَسْتَوِي ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ ﴾ ړوندېږ دکافرلپاره او بیناېږ دمؤمن لپاره استعاره کړې دی.

۵ - عقلي مجازلکه ﴿ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ﴾ دلته نسبت دیو ځېزشوی دهغه وخت ته ځکه چي ورځ دلیدلولپاره زمانه اووخت دي.

۶- کنایه چي فرمایي: ﴿ يُلْقِى ٱلرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِۦ ﴾ دغه روح له وحی ځخه کنایه ده ځکه وحی داسي ده لکه چي دبدن لپاره روح وي.

۷- دمبالغې صیغې لکه: ﴿ كَذَّابٌ ، جَبَّارٍ ، ٱلسَّمِيعُ ، ٱلْبَصِيرُ ، ٱلْعَلِيمِ ﴾ اونور.

۸ - ناقص جناس چي پدې کلماتوکي شته لکه ﴿ تَفْرَحُونَ ... تَمْرَحُونَ ﴾ او ﴿ وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ﴾.

۹ - تاکید په اِنّ اولام سره لکه ﴿ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَءَاتِيَةٌ ﴾ چي راغلي ده.

۱۰ - دحصرصیغه لکه: ﴿ مَا يُجَـٰدِلُ فِىٓ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾.

۱۱ - اشتقاقي جناس لکه چي فرمایي: ﴿ أَرْسَلْنَا ... رُسُلَنَا ﴾.

۱۲ - دسلبي طباق صنعت چي پدې آیت کي دی ﴿ مِنْهُم مَّن قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ﴾.

۱۳- دآیتونودپیل توافق سره له خوندوري سجعي چي په زړه راښکونکي بڼه دفرعون دتبرد مؤمن شخصیت بیان الهي معجزکلام هسي رااخلي اوفرمایي چي: ﴿ وَيَـٰقَوْمِ مَا لِىٓ أَدْعُوكُمْ إِلَى ٱلنَّجَوٰةِ وَتَدْعُونَنِىٓ إِلَى ٱلنَّارِ تَدْعُونَنِى لِأَكْفُرَ بِٱللَّهِ وَأُشْرِكَ بِهِۦ مَا لَيْسَ لِى بِهِۦ عِلْمٌ وَأَنَا۠ أَدْعُوكُمْ إِلَى ٱلْعَزِيزِ ٱلْغَفَّـٰرِ ﴾ چي ترملغلرین هارلازیات ځلاند دی.

دالله جل جلاله په مرسته دغافرسورت تفسیربشپړشو

دفصلت سورت مكي څلورپنځوس آيتونه لري اوله غافرسورت څخه وروسته نازل شوي دى.

دسورت په وړاندي:

دغه مبارک سورت مكي دى اوداسلامي عقيدې جوانب څېړي هغه چي وحدانيت ،رسالت ،بعث اوجزاء دي دغه ګواكي دګردومكي سورتونوبنسټيزاواساسي اهداف دي چي دايمان داركانواهتمام پكې دى.

په پيل كي سورت له قرآنكريم څخه غږېږي كوم چي درحمن ذات له لوري له څرګندودلائلوسره رانازل شوي دي هغه دلائل چي درسول الله محمدصلى الله عليه وسلم په رښتنولي دلالت كوي اودغه مبارک كتاب دهغه تلپاتي معجزه ده.

سورت له وحى اورسالته څخه بيان كوي اودپيغمبرحقيقت په ګوته كوي چي هغه بشراوالله جل جلاله په رسالت اوپيغمبري ځانګړى كړى اوپه نبوت يې نازولى دى ترڅوهغه دالله لوري ته بلونكى اودهغه سم اومستقيم دين ته لارښوونكى وي.

وروسته سورت دژوندانه دپيدايښت لومړنۍ مرحله رااخلي چي الله آسمانونه اوځمكه پداسي دقيق اومحكم شكل پيداكړي كوم چي دالله دنښانودمنكرانوپام دسوچ اوفكرلپاره ځان ته راواړوي خودكفرتيارې هغه څه دي چي ددوى اوايمان راوړلوترمينځ حائل ګرزي هوكائنات ټول دالله په عظمت ګواه اودالله دوحدانيت جل وعلى وياندوى دي.

بياسورت دمكذبينوهلاكتونه رااخلي اوپدې هكله دخورازوورو خلګومثالونه راوړي هغه دعاديانوقوم چي په جبروت كي داسي مرحلې ته رسېدلي ووچي ويل به يې ﴿ مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ﴾ ؟او بيادهغه څه بيان فرمايې كوم چي پردوى رانازل شول اودثموديانوحال تردوى لابترووددوى په طغيان اوسرغړونه كي وروستۍ مرحلې ته رسېدلي اودخپلوپيغمبرانوتكذيب يې كړى وو.

له كفاروروسته بيادمتقينومؤمنانوبيان راځي كوم چي دالله په دين اوشريعت مستقيم وونو دوى ته الله پاک په جنت كي امن اوامان وروبښل اوله نبيانو ، صديقينو ، شهيدانواوصالحانوسره يې ملګري كړل.

له دې وروسته الله ﷻ په كائناتوكي دعجيبه له حكمته ډكو نظاورويادونه فرمايې اوددوى په وړاندي دكفارومنكرينودريز څرګندوي هغوى چي له دې ګردوڅرګندواوښكاره نښونښانوڅخه سترګي پټوي اوايمان نه راوړي

په پاى كي سورت دالله ﷻ هغه وعده له بشريت سره بيانوي كومه چي په آخرالزمان كي به ددې كائناتوځيني رازونه ورښكاره كوي ترڅودوى ته دقرآنكريم دوړاندويني په رښتنولي اوتصديق دليل شي ﴿ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴾.

تسمیه اونومول یې:

دغه سورت ته ځکه دفصلت سورت وایې چې الله پکې د نښانوتفصیل فرمایلی اوپخپل قدرت اووحدانیت یې پکې دلائل راوړي اوپه وجوداوعظمت یې کوتلي براهین ویلي چې دغه پراخ کائنات دالله په جلال اوعظیم سلطان باندې له ورایه ګویادي

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ حمٓ ﴿١﴾ تَنزِيلٌ مِّنَ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٢﴾ كِتَٰبٌ فُصِّلَتْ ءَايَٰتُهُۥ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٣﴾ بَشِيرًا وَنَذِيرًا
فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٤﴾ وَقَالُوا۟ قُلُوبُنَا فِىٓ أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ وَفِىٓ ءَاذَانِنَا وَقْرٌ وَمِنۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ
حِجَابٌ فَٱعْمَلْ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ ﴿٥﴾ قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَٱسْتَقِيمُوٓا۟ إِلَيْهِ
وَٱسْتَغْفِرُوهُ وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ ﴿٦﴾ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٧﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟
وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٨﴾ ۞ قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَرْضَ فِى يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُۥٓ
أَندَادًا ذَٰلِكَ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٩﴾ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ مِن فَوْقِهَا وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقْوَٰتَهَا فِىٓ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِينَ
﴿١٠﴾ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ ﴿١١﴾ فَقَضَىٰهُنَّ سَبْعَ
سَمَٰوَاتٍ فِى يَوْمَيْنِ وَأَوْحَىٰ فِى كُلِّ سَمَآءٍ أَمْرَهَا وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفْظًا ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴿١٢﴾
فَإِنْ أَعْرَضُوا۟ فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَٰعِقَةً مِّثْلَ صَٰعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ ﴿١٣﴾ إِذْ جَآءَتْهُمُ ٱلرُّسُلُ مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا
تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ قَالُوا۟ لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةً فَإِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا عَادٌ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ
بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَقَالُوا۟ مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَكَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿١٥﴾
فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِىٓ أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيقَهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْىِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَخْزَىٰ وَهُمْ لَا
يُنصَرُونَ ﴿١٦﴾ وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَٰهُمْ فَٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْعَمَىٰ عَلَى ٱلْهُدَىٰ فَأَخَذَتْهُمْ صَٰعِقَةُ ٱلْعَذَابِ ٱلْهُونِ بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ
﴿١٧﴾ وَنَجَّيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿١٨﴾ ﴾ فصلت: ۱ - ۱۸

لغتونه:

(فصلت) څرګند شوي (أكنة) د (كنان) جمع اوپردې ته وايې (وقر) درونډوالی هغه چې غوږنه اوري (ممنون) پرې کړی شوی (صرصر) طوفاني سیلۍ اوسخت سوړباد چې سخته غږاوشنهار ورسره وي (نحسات) بدمرغه له نحس څخه اخیستل شوي هغه دنېکمرغي ضد، شؤم، شامت ته وايې (أخزى) ډېرشرمېدلی اورسواچې دسپکاوي په معنادی (الهون) ذلت، سپکتیا اواهانت ته وايې.

تفسیر:

﴿ حمٓ ﴾ له مقطعاتو تورو څخه دی کوم چي دقرآنکریم په اعجازباندي تنبیه ورکوي ﴿ تَنزِيلٌ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ (دغه قرآن) رالیږل شوی دی له هغه (الله) چي خورامهربان ډېر رحم والادی، دغه دوه نومونه یې ځکه خانګړي کړل چي دقرآنکریم نزول له خوراسترو نعمتونو څخه یو نعمت دی هو دغه داسي نعمت دی چي ترقیامته پوري به پاتي اوباقي وي ﴿ كِتَٰبٌ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ﴾ داسي کتاب دی چي په تفصیل سره بیان شوي دي آیتونه دده جامع دی لپاره دمصلحتونو ددارینو، قصص ، مواعظ ،احکام اوامثال یکي په نهایت ښایسته ډول بیان شوي دي ﴿ قُرۡءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوۡمٍ يَعۡلَمُونَ ﴾ پدې حال چي لوستلی شوی دی په عربي ژبه دهغه قوم لپاره چي پرې پوهېږي (په تفصیل دآیتونو اودلائلو داعجازدهغه ځکه چي دغه په خورالوړه پوړۍ داعجازاوبلاغت کي دی اوله هغه چاپرته چي په عربي کي بشپړمهارت ولري بل څوک یې اسرار اورازونه نشي څکلای اوراسپړلای ﴿ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ﴾ زېری ورکونکی دی (داکتاب مؤمنانو ته په جنت) اووېرونکی دی (داکتاب کفارولره له دوزخ څخه ﴿ فَأَعۡرَضَ أَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ﴾ پس مخ وګرزاووزیاتره (ددغو کفارو) پس دوی نه اوري(حق په اورېدلو دقبول سره سره له دې چي ددوی په لغت اوژبه نازل شوی دی. ابوحیان وایې معناداچي اکثره ددوی ورڅخه مخ اړولی سره له دې چي دوی اهل علم هم دي لیکن په بشپړه توګه یکي سوچ اوتدبرنه کوي اوددغه اعراض له امله دی چي دوی یې براهین اودلائل نه اوري (۱) قرطبي وایې چي سورت دقریشودتوبیخ اوتکولولپاره نازل شوی دی چي هغوی دقرآنکریم په اعجازپوهېدل هم خودقبول سماع (اورېدنه) یې چي ورته ګټه ورسوي نه کوله (۲) ﴿ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا فِيٓ أَكِنَّةٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ ﴾ او وایې دغه (کفاررسول الله ته) زموږ زړونه له هغه څه څخه چي ته مو ورته بولې (لکه توحید، ایمان) په پردوکي دي ﴿ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا وَقۡرٞ ﴾ اوپه غوږونوزموږکي درونډوالی دی (چي ستادوینا له پوهېدلومانع ګرزي صاوي وایې چي دوی خپله اورېدنه له هغو غوږونوسره مشابه کړه چي یکي درونډوالی وي ځکه دوی دحق اورېدلوته میلان نه لاره (۳) ﴿ وَمِنۢ بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ حِجَابٞ ﴾ اوپه مینځ زموږاوپه مینځ ستاکي (دمخالفت)پرده ده (چي ستاهیڅ ویناموږته نه رسېږي نوموږ ستاله متابعت څخه معذور یو ځکه چي ترمینځ مومانع شته ﴿ فَٱعۡمَلۡ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ ﴾ نوعمل وکړه ته (پردین خپل) بېشکه موږ هم عمل کونکي یو(پردین خپل) ﴿ قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ ﴾ ووایه(ای محمده !دوی ته) بېشکه همدا خبره ده زه یو بشرانسان

---

(۱) البحرالمحیط ۴۸۳/۷
(۲) القرطبي ۳۳۸/۱۵
(۳) الصاوي ۱۷/۴

یم ستاسي په شان (لیکن توپیرمي دادی چي) ماته وحی کېږي (له طرفه دالله) داسي چي بېشکه همدا خبره ده چي ستاسي معبود یو دی (هغه چي عقلي اوشرعي دلیلونه یې په وحدانیت اووجودباندي شتون لري موجود دي نو بیا زمادتکذیب کولو اړتیانشته ﴿فَٱسْتَقِيمُوٓاْ إِلَيْهِ وَٱسْتَغْفِرُوهُ﴾ پس سم سیخ ورځئ ده ته (په توحید، اخلاص او ایمان) اومغفرت وغواړئ له ده نه (د تېروګناهونو) ﴿وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ﴾ اوافسوس هلاک دی لپاره دمشرکانوهغه چي زکات نه ورکوي یاداسي دخیرکارنه کوي چي پرې پاکېږي. قرطبي وايې چي دوی یې په بخل باندي وتکول هغه څه چي فاضلان یې نه خوښوي اوترې کرکه کوي اوپه آیت شریف کي ددې دلیل شته چي کافردکفرله عذاب سره سره دزکات په نه ورکولوهم معذب کېږي (۱) اوابن عباس وايې مرادله زکات څخه دځانونوزکات اوپاکي ده یعني دوی ځانونه له شرک اوکفرڅخه په توحیدباندي نه پاکوي اونه هم لااله الاالله وايي (۲) ﴿وَهُم بِٱلْـَٔاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ﴾ اودوی پرآخرت (حساب کتاب ثواب عقاب) هم دوی کافران منکران دي. صاوي وايې داچي له زکات ورکولوممانعت یې له کفره سره اندول راووړ پدې چي مال دانسان له روح سره ټینګي اړیکي لري نوڅوک چي یې دالله په لاره کي لګوي پدې دلالت کوي چي نوموړی سړی په دین کي غښتلی اوثابت دی (۳) ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ﴾ بېشکه هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی اوکړي یې دي ښه (عملونه) شته دوی ته اجرنه قطع کېدونکی (دائمي) څوچي جنت وي، ورپسې الله پاک دخپل قدرت اووحدانیت دلائل داسي یادوي چي ﴿قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَرْضَ فِى يَوْمَيْنِ﴾ ووایه (ای محمده! دوی ته) آیابېشکه تاسي خامخاکافران کېږی په هغه الله چي پیداکړي یې ده ځمکه په دوو ورځوکي، استفهام دتوبیخ اوتعجب لپاره دی یعني څرنګه تاسي په هغه قادرعالیشان ذات کافران کېږی؟ چي ځمکه یې په دوې ورځي کي پیدا کړي ﴿وَتَجْعَلُونَ لَهُۥٓ أَندَادًا﴾ اوګرزوی له خپله ځانه (دغه الله ته) شریکان (امثال چي دهغوی عبادت کوی) ﴿ذَٰلِكَ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ دغه ذات (مبدع، خالق) رب د (ګردو) عالمیانو دی (نو څرنګه تاسي ورسره ناچیز بتان په الوهیت اومعبودیت کي شریکوی؟ صاوي وايې استفهام ﴿أَئِنَّكُمْ﴾ لپاره دانکاراوتشنیع دی یعني داچي تاسي پدې پوهېږی چي په عالم سفلي اوعلوي کي دهغه شریک نشته اوبیاهم تاسي ورسره شریکان نیسی؟ (۴) ﴿وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ مِن فَوْقِهَا﴾ اوپیدا کړي دي (الله) په دغه (ځمکه) کي درانه کلک محکم غرونه دپاسه

---

(۱) القرطبي ۳۴۰/۱۵

(۲) دغه وینا ابن کثیرراوړي اونسبت یې ابن عباس ته کړی دی چي مرادله پاکي څخه دځان پاکوالی له شرک څخه دی خودغه معتبرقول نه دی اوصحیح هغه دی چي مفسرینو راوړی اودمال زکات یې ګڼلی دی اوابن جریر غوره کړی دی.

(۳) الصاوي ۱۷/۴

(۴) الصاوي ۱۸/۴

ددې څخه (ترڅو په بشرباندي ونه خوځېږي) ﴿ وَبَٰرَكَ فِيهَا ﴾ او بيايې بركت كېښود په هغې كي چي او به ، زراعت او مالداري يې پكي وپنځول ﴿ وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقْوَٰتَهَا ﴾ او مقرره (په اندازه) كړي يې ده پدې ځمكه كي روزي د (اهل) ددې. مجاهد وايې معناداچي په ځمكه كي يې نهرونه بهولي ، وني يې زرغونې كړي او حيوانات يې پيدا كړي دي ﴿ فِىٓ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِينَ ﴾ (په څلوروورځوكي برابر دي لپاره د پوښتني كونكو) يعني په بشپړو څلورو ورځو كي چي نه پكي زيات او نه كمبود وولپاره دهغه چاچي ځمكي او مافيهاد پيدا ابښت پوښتنه كونكى وي(۱) ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ ﴾ بيايې اراده وفرمايله (پيدا كولو د) آسمان ته حال داچي دغه آسمان يو (ولاړ) لوګى وو ابن كثير وايې چي مرادله دُخان څخه داوبوبخار (بړاس) وو كوم چي دځمكي دپيدا ابښت په وخت پورته ختلى وو(۲) ﴿ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا ﴾ پس وفرمايل الله دغه (آسمان) ته او دغي (ځمكي) ته چي راشي دواړه پخپلي خوښي سره يا په زوړ سره ﴿ قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ ﴾ وويل آسمان او ځمكي راځو موږ (ستا فرمان ته) په خوښي سره زمخشري وايې چي دغه دتمثيل په توګه دى معناداچي كله الله ددوى دتكوين اراده وكړه دوى ممانعت ونكړاو دوى پدې كي لكه منونكى مأمورغوندي ووچي كله دمنل شوي آمرغږ او فرمان ورته وشي اومقصدله دې څخه دالله دقدرت داغيزانځورونه اوتصويردى چي څرنګه په مقدوراتوكي چلېږي بې له دې نه چي هلته سوال او ځواب وي اودالكه هغه متل داسي دى چي وايې دېوال مېخ (موږي) ته وويل چي ولي مي څيروې ؟ هغه ورته وويل له هغه چاڅخه وپوښته چي ماټک وهي(۳) او له ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي الله آسمان ته وفرمايل چي لمر ، سپوږمۍ اوستوري دي راوخېژوه او ځمكي ته يې وويل چي رودونه ،نهرونه ، وني اومېوې دي راوباسه كه په خوښه وي كه ناخوښه نودوى ورته وويل په خپله خوښه ستادامراو فرمان پرځاى كونكي يو(۴) دغه ابن جرير غوره كړي ده ﴿ فَقَضَىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَاتٍ فِى يَوْمَيْنِ ﴾ پس مقررجوړكړل (الله لوګي څخه) اوه آسمانونه په دووه ورځوكي نودځمكي اوآسمانونو پيدا ابښت په شپږ ورځوكي ترسره شواوكه چېري الله تعالى غوښتلي واى دسترګوپه رپ به يې پيداكړي وو ليكن ددې لپاره داسى وشول چي بندګانوته حلم اوپه كراره دكارونوترسره كول وروښيي ﴿ وَأَوْحَىٰ فِى كُلِّ سَمَآءٍ أَمْرَهَا ﴾ اوويې لېږل (مقرريې كړل) په هر آسمان كي كار (مناسب تدبير) دهغه (آسمان) ابن كثيروايې معناداچي مرتب يې كړ په هرآسمان كي هغه چي ورته اړتيالري له پرښتواويانوروشيانوچي له الله پرته يې بل چاته علم نشته ﴿ وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفْظًا ﴾ اوښايسته كړي مودى دغه نژدې آسمان په ډېوو (ستورو) سره (اوساتلى مو دى) په ساتلو سره (له

---

(۱) الكشاف ۴/۱۴۷

(۲) مختصرابن كثير ۳/۲۵۷

(۳) الكشاف ۱۴۸-۴

(۴) القرطبي ۱۵/۳۴۳

شیطانانو هغه چي ملأ الأعلى ته غوږنیسي) ﴿ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴾ دغه (مخلوقات) اندازه كول دي دالله ښه غالب قوي(پخپل سلطنت كي) ښه عالم (په مصلحتونو د خلكو باندي) ﴿ فَإِنْ أَعْرَضُوا۟ فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَٰعِقَةً مِّثْلَ صَٰعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ ﴾ پس كه چېري مخ وگرزاوو (دغو كفارو له ايمان څخه وروسته له دغه بيانه) پس ووايه (اى محمده! دوى ته) چي وېروم زه تاسي له سخت عذابه په مثل د سخت عذاب دعاديانو(چي بادصرصر وو) اوثموديانو(چي جبرائيلي چيغه وه تعبيرېږي په ماضي زمانه سره وفرمايو چي تحقق اووصول ته يې اشاره وكړي ﴿ إِذْ جَآءَتْهُمُ ٱلرُّسُلُ مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ ﴾ كله چي راغلل دوى ته رسولان (هوداوصالح عليهما السلام) له طرفه دوړاندي (ددغو كفارو) اوله طرفه دوروستو ددغو (كفاروا ود دوى په لارښوونه كي له هره لوري هڅي او كوښښونه وكړل نو دكفارو له لوري يې پرته له مخ اړولو او تكبرنه بل څه ونه ليدل دوى ته يې وويل ﴿ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ﴾ مه كوئ عبادت مگر يوازي دالله ﴿ قَالُوا۟ لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةً ﴾ وويل(كفارو په ځواب درسولانو كي) كه اراده فرمايلي وى رب زمو(په لېږلو درسولانو) نوخامخا لېږلي به يې وې پرښتې (نه بنيادمان) ﴿ فَإِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴾ (پس بېشكه موږ په هغه څېزچي تاسي په هغه سره رالېږلى شوي ياست كافران يو) يعني موږ ستاسي په رسالت كافران يو ستاسي پيروي نه كوو تاسي هم لكه موږ بشر ياست اوداچي ويې ويل ﴿ بِمَآ أُرْسِلْتُم ﴾ دغه يو ډول ملنډي او تمسخر دى چي په انبياوو(عليهم السلام) يې كاوو ﴿ فَأَمَّا عَادٌ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ﴾ (پس هرچي عاديان وو پس (كبر) لويې يې غوره كړه په ځمكه كي په ناحقه سره) دغه دعاديانو او ثموديانو دعذاب تفصيل دى يعني عاديانو لويي وكړه سرغړونه عصيان اوبغاوت يې وكړ دالله په بندگانو(هود) اوورسره مؤمنانو باندي يې پرته له استحقاقه استعلاء اولويې كوله ﴿ وَقَالُوا۟ مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ﴾ وويل دوى چي څوك دى زيات سخت له موږ څخه په قوت كي (موږ به پخپل ځواك اوقوت سره عذاب له ځانه دفع كړو ابوالسعود وايي دوى دېرغټ بدنونه لرل دېراوچت قديې درلود دومره غښتلي ووچي يوسړي به له غره څخه غټه دېره بېلولاى شواى اوپه لاس باندي يې دغره له تل څخه رااېستلاى شواى[1]) ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ﴾ آيانه ويني (اونه پوهېدل) دوى چي بېشكه الله هغه (ذات) دى چي پيدا كړي دي دوى هغه ډېرسخت دى له دوى نه په زور قوت كي ، دغه اعتراضيه جمله اوددوى دبدي خبري په وړاندي تعجب دى معناداچي آياد وى دالله له قدرت څخه غافل شول اوپدې نه پوهېدل چي الله جل جلاله هغه ذات دى چي دوى اوكائنات يې پيدا كړي دي هغه چي تردوى په قوت اوقدرت كي لوړاو پورته دى؟ ﴿ وَكَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا يَجْحَدُونَ ﴾ اودوى ووپه دلائلو (قدرت) زموږچي انكاربه يې كولو(سره له علمه په دې باندي چي هغه حق دى) امام رازي

---

[1] دابوالسعود تفسير ۵/ ۲۱

وايي چي بېشکه دوی په دې پوهېدل چي هغه حق دی ليکن له دې سره سره ورځخه منکرېدل لکه چي يوځوک ديوچاله امانت ځخه چي ورته ايښودل شوی وي منکرشي(١) ﴿ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا ﴾ پس راومولېږه پردوی باندي بادد ېريخ زورور هيبتناک (چي په يخني اوقوت يې خلک هلاکول) ﴿ فِيٓ أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ ﴾ په ځو ورځوکي چي د ېري بدي شومي وې (برکت پکي نه وو) ﴿ لِّنُذِيقَهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْيِ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ لپاره ددې چي وځکوو موږپردغو(کفارو) عذاب رسواکونکی په دغه ژوندون ددنياکي. امام رازي وايي چي د ﴿ عَذَابَ ٱلْخِزْيِ ﴾ معنادسپکاوي اوذلت عذاب دی اوسبب يې داچي دوی له ايمان ځخه استکبارکاوو نوالله ددوی دتکبرپه مقابل کي دغه دسپکتيا اواهانت عذاب ور وليدل (٢) ﴿ وَلَعَذَابُ ٱلْأٓخِرَةِ أَخْزَىٰۖ وَهُمْ لَا يُنصَرُونَ ﴾ اوخامخاعذاب دآخرت خود ېر رسواکونکی دی حال داچي له دوی سره به مددونکړی شي (چي عذاب ورځخه دفع کړي) ﴿ وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَٰهُمْ فَٱسْتَحَبُّواْ ٱلْعَمَىٰ عَلَى ٱلْهُدَىٰ ﴾ اوهرڅه چي ثموديان ووپس لارمو وښودله دوی ته (په لېږلود رسولانو سره) پس غوره کړدوی ړوندوالی (ضلالت) په هدايت (اورهنمايي) يعني هغوی ته موسمه لاره دسعادت وښودله خودوی ګمراهي په هدايت غوره کړه اوکفرته يې په ايمان ترجيح ورکړه ﴿ فَأَخَذَتْهُمْ صَٰعِقَةُ ٱلْعَذَابِ ٱلْهُونِ ﴾ پس ونيول دوی لره سختي چيغي (دجبريل او) عذاب سپک کونکي ﴿ بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴾ په سبب دهغه (شرک اوعصيان) چي وو دوی چي کول به يې (طغيان اودحضرت صالح عليه السلام تکذيب. ابن کثير وايي چي الله پردوی باندي چيغه اوزلزله راواستوله ، هوان اوذلت يې ورباندي مسلط کړځکه چي دوی دصالح عليه السلام تکذيب وکړ اوناقه يې ووژله ﴿ وَنَجَّيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴾ (اونجات مو ورکړهغوکسانوته چي ايمان يې راوړی وواو وودوی چي پرهېزګاري به يې کوله (له شرک ځخه) يعني حضرت صالح عليه السلام اومؤمنان موله دغه عذابه وژغورل.

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى ٱلنَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَٰرُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿٢٠﴾ وَقَالُواْ لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَاۖ قَالُوٓاْ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَن يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ وَلَٰكِن ظَنَنتُمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيرًا مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٢﴾ وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ ٱلَّذِي ظَنَنتُم بِرَبِّكُمْ أَرْدَىٰكُمْ فَأَصْبَحْتُم مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن يَصْبِرُواْ فَٱلنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْۖ وَإِن يَسْتَعْتِبُواْ فَمَا هُم مِّنَ ٱلْمُعْتَبِينَ ﴿٢٤﴾ ۞ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُواْ لَهُم مَّا بَيْنَ

---

(١) کبيرتفسير ٢٧/ ١١٢

(٢) کبيرتفسير ٢٧/ ١١٢

أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ فِىٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ خَٰسِرِينَ ﴿٢٥﴾
وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَسْمَعُوا۟ لِهَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ وَٱلْغَوْا۟ فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ﴿٢٦﴾ فَلَنُذِيقَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ عَذَابًا شَدِيدًا
وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَسْوَأَ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٢٧﴾ ذَٰلِكَ جَزَآءُ أَعْدَآءِ ٱللَّهِ ٱلنَّارُ ۖ لَهُمْ فِيهَا دَارُ ٱلْخُلْدِ ۖ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا يَجْحَدُونَ
﴿٢٨﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ رَبَّنَآ أَرِنَا ٱلَّذَيْنِ أَضَلَّانَا مِنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ أَقْدَامِنَا لِيَكُونَا مِنَ ٱلْأَسْفَلِينَ ﴿٢٩﴾
إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُوا۟ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسْتَقَٰمُوا۟ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا۟ وَلَا تَحْزَنُوا۟ وَأَبْشِرُوا۟ بِٱلْجَنَّةِ
ٱلَّتِى كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ نَحْنُ أَوْلِيَآؤُكُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ ۖ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِىٓ أَنفُسُكُمْ
وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾ نُزُلًا مِّنْ غَفُورٍ رَّحِيمٍ ﴿٣٢﴾ وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا وَقَالَ
إِنَّنِى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾ وَلَا تَسْتَوِى ٱلْحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُ ۚ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِى بَيْنَكَ وَبَيْنَهُۥ عَدَٰوَةٌ كَأَنَّهُۥ
وَلِىٌّ حَمِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٣٥﴾ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ
فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٦﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيْلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا۟ لِلشَّمْسِ
وَلَا لِلْقَمَرِ وَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿٣٧﴾ فَإِنِ ٱسْتَكْبَرُوا۟ فَٱلَّذِينَ عِندَ
رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُۥ بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُونَ ۩ ﴿٣٨﴾ ﴾ فصلت: ١٩ – ٣٨

مناسبت: کله چې الله تعالی په تېرو آیتونو کې دعادیانو او ثمودیانو دهلاکت بیان وفرمایو دلته یې ورپسې په عامه توګه دګردو کفارو دسرنوشت حال کوم چې دوی ته به په آخرت کې له عذاب او هلاکت څخه رسېږي یادکړل ترڅو چې مؤمنان دګناهونو له کولو او دالله په نعمتونو له کفران څخه ډډه وکړي او بشپړ پند او نصیحت واخلي.

لغتونه: (یوزعون) لومړني یې دوروستنیو لپاره څنډول چې سره یوځای شي. (تستترون) تاسي پټوی (أرداکم) سخت هلاکېدونکی ستاسي (یستعتبون) دالله خوښي غوښتونکي (معتبین) منل شوی عتاب ددوی (قیضنا) مور چمتو کړی (نزلا) مېلمستیا او اکرام (یسأمون) خوابدي ماره کیدونکي.

دنزول سبب: ابن مسعود رضی الله عنه وایې درې تنه چې دوه یې قریشیان او یو یې ثقفي وو دکعبې خوا کې یوځای شول دوی په عقل ډنګر او بدن چاغ وو یوه وویل آیا الله هرهغه چې مونږ وایو اوري؟ بل په ځواب کې ورته وویل که مونږ یې په لوړ آواز وایو بیا یې اوري او که په ورو یې وایو بیا یې نه اوري دریم ورته وویل که چېري په زوره غږ اوري بیا نو په ورو هم اورېدلای شي نو الله جل جلاله دا آیت نازل کړچې: ﴿ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَن يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ ﴾ (١) دآیت ترپایه.

(١) الحدیث أخرجه مسلم کذافی القرطبي ١٥/٣٥١

تفسير:

﴿ وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى ٱلنَّارِ ﴾ او (یادکړه) هغه ورځ چي راټول به کړل شي دښمنان دالله اور (ددوزخ) ته (په څمکه دمحشرکي)﴿ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴾ (پس دوی به ډلي ډلي کړی شي) يعني لومړني به يې وروستنيوته تم او ودرول شي ترڅو سره يوځای شي ابن کثيروايې چي ددوزخ متصرفين زبانيه به لومړني اوروستني سره يوځای کړي(۱)﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا ﴾ ترهغه وخته پوري چي راشي دوی دغه (اورته) اودحساب لپاره ودرېږي ﴿ شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَٰرُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ شاهدي به ورکړي پردوی غوږونه ددوی اوسترګي ددوی اوپوستکي ددوی (اونوراعضاء)په هغو(کارونو) چي دوی به کول. په حديث شريف کي راځي چي ددوی په خولوبه مهرولګول شي اوبيابه يې غړواندامونو ته وويل شي چي وګړېږئ نوبه هغوی پخپلوکړو وړو اعتراف وکړي بيابه بيرته پرېنده ته دخبرو کولو اجازه ورکړل شي نوهغه به خپلواندامونوته وايې: ای کمبختانوليري او ورک شئ ماخوستاسي په ګټه جګړې نښلولي وې (حال داچي تاسي پخپلوجرائمواقرار وکړ) (۲)﴿ وَقَالُوا۟ لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا ﴾ او وبه وايې (کفارپه تعجب سره اعضاوواو)پوستکيوخپلوته ولي موشاهدي وکړه تاسي پرموږ؟ (دغه به دتوبيخ اوتعجب په ډول ورته ووايې چي موږخوپه دنياکي له تاسوڅخه مدافعه کوله تاسي ولي پرموږګواهي ورکړه اواقرارمو وکړ﴿ قَالُوٓا۟ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَنطَقَ كُلَّ شَىْءٍ ﴾ نو وبه وايې (دغه پوستکي اندامونه چي موږپخپله نه يوغږېدلي بلکه) غږولي يوموږ هغه الله (مقتدرذات) چي هرشی يې غږولی دی) يعني دوی به دمعذرت وړاندي کولوپه توګه ووايي چي خبره زموږدخپل واک نه ده بلکه موږهغه الله غږولي يوچي جمادانسان اوحيوان يې په قدرت باندي ګوياکړي نوځکه موږستاسي په بدواعمالوشاهدي ولوستله ﴿ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ﴾ (حال داچي الله پيداکړي يی تاسي اول ځلي) يعني الله تاسوله عدم څخه موجودکړی اوله نېستي څخه يې ژوندي کړي ياست اوڅوک چي پردې قادروي نوهغه زموږپه ګوياکولوهم قادردی ﴿ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ اوخاص همدغه الله ته بيرته بېولی شي(مجازاتوته په بعث سره) ابوالسعودوايې معناداچي زموږ نطق دهغه ذات له لوري چي هرساکښ يې ګوياکړي څه عجيبه کارنه دی ځکه هغه ذات چې ستاسي په لومړي پيدايښت قادردي اوبياستاسو په بعث اونشورباندي دوهم ځلي قدرت لري نودغه دتعجب وړخبره نه ده چي ستاسي اعضاووته دي دخبروکولوتوان وروبښي (۳)﴿ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَن يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ ﴾ اونه وی تاسي (په وخت دکولودغوفواحشو داسي) چي پټول به مو (دغه فواحش له وېري ددې) چي

(۱) دابن کثيرمختصر ۳ /۲۶۰

(۲) دغه دمسلم شريف داوږده حديث ټوټه ده اوپدې کي دليل شته چي دقيامت په ورځ په انسانانوخپل هډونه شاهدي وايې والله علی کل شئ قدير.

(۳) دابو السعود تفسير ۵ /۲۲

شاهدي به ورکړي پرتاسي غوږونه ستاسي اونه سترګي ستاسي اونه پوستکی ستاسي ، يعني تاسودا ګمان نه کاوو چي ګڼه دغه اندامونه به سبا درباندي شاهدي وايې پدې کي داتنبيه نغښتي ده چي مؤمن بايدتل داپه پام کي لري چي ځارونکی يې څاري (۱)﴿ وَلَٰكِن ظَنَنتُمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيرًا مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ وليکن تاسي به ګمان کاوو(په وخت دپټولوکي) ددې چي بېشکه الله نه دی خبرپه ډېرو له هغو کارونوچي تاسي به کول(نوځکه دغه ګمان تاسي په ګناه کولوزړه ورکړي ﴿ وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ ٱلَّذِى ظَنَنتُم بِرَبِّكُمْ أَرْدَىٰكُمْ ﴾ اودغه (فاسدګمان) ستاسي هغه ستاسي ګمان دي چي کاوو به مو په رب خپل (په هلاکت او په اورکي يې)غورځولي ياست ﴿ فَأَصْبَحْتُم مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴾ پس وګرځېدی تاسي له زيانکارانوڅخه(چي دځان اوخپلوانونېکمرغي موله لاسه ووته اودغه نوبشپړ خسران اوشقاوت دی ﴿ فَإِن يَصْبِرُوا۟ فَٱلنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴾ پس که دوی صبروکړي (يايې ونکړي)پس اور ددوی هستوګنځی دی (هيڅکله به ترې خلاصون ونه مومي) ﴿ وَإِن يَسْتَعْتِبُوا۟ فَمَا هُم مِّنَ ٱلْمُعْتَبِينَ ﴾ اوکه دوی دالله رضاکېدل غواړي پس نه به وي دوی له قبول کړی شويو(په طلب درضادالله) قرطبي وايې چي عتبی دمعتوب عليه رجوع ته ويل کېږي هغه څه ته چي دعاتب رضا ترلاسه کړي وايې چي:(استعتبته فاعتبنی) معنا ماورڅخه دهغه خوښي وغوښتله اوهغه زما خوښيې ترګنده کړه (۲)﴿ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ ﴾ (اومقررکړی مودی دوی ته ملګری) يعني مشرکانوته موبد ملګري شيطانان ورګمارلي دي اوهمداسي سرغړونکي انسانان مو ورانډيوالان کړي دي ﴿ فَزَيَّنُوا۟ لَهُم مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ﴾ پس ښايسته کړي يې دي دوی ته هغه څيزونه چي وړاندي له دوی دي اوهغه څيزونه چي وروسته له دوی دي) يعني اوسني اوراتلونکي بداعمال يې ورته ښايسته کړي دي . ابن کثيروايې چي دوی ته يې ګرد کارونه داسي ښايسته کړي چي دوی ځان ښځي پرحق ګڼي (۳)﴿ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ ﴾ اوثابته شوي ده پردوی خبره (دعذاب قطعي فيصله چي دوی اشقياء دي)﴿ فِىٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ﴾ په (ډله د) هغوامتونوکي چي په تحقيق تېرشوي دي پخواله دوی نه له پېريانانواوانسانانوڅخه ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ خَٰسِرِينَ ﴾ بېشکه چي دوی وو زيانکاران ، دغه ددوی دعذاب دوړتيااواستحقاق لپاره تعليل دی يعني دوی په دنيااوآخرت کي زيانکاران دي نوځکه د ابدي عذاب مستحق وګرزېدل ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَسْمَعُوا۟ لِهَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ ﴾ او وايې هغه کسان چي کافران شوي دي (په وخت دقرائت دقرآن کي) چي مه اوری غوږمه نيسئ تاسي دغه قرآن ته) .کله چي الله تعالی دعاديانواوثموديانوکفربيان کړ وروسته يې دغه

---

(۱) تفسيرالبيضاوي ۲/ ۱۵۲
(۲) دقرطبي تفسير۱۵/ ۳۵۴
(۳) مختصرابن کثير۳/ ۲۲۷

دقریشي مشرکانو څخه اخبار وفرمایل چې دوی څیني څیني نوروته وایې کله چې محمد ﷺ قرآن لولي تاسي ورته غوږمه ږدئ او ﴿ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ﴾ اوشورماشور جوړکړئ (په وخت دلوستلو د) ده کي ښايي چې تاسي غالب شی (په دین دده باندي) ابن عباس ﷺ وايې چې ابوجهل ويل کله چې محمد قرآن لولي تاسي يې په وړاندي چيغي اوزوږ جوړکړئ چې ونه پوهېږي چې څه وايې (۱) ﴿ فَلَنُذِيقَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا عَذَابًا شَدِيدًا ﴾ (الله فرمايې چې) پس خامخاوبه څکوو موږ هرومرو هغو کسانوته چې کافران شوي دي عذاب سخت) يعني قسم دی چې خامخابه دغومستهزئينوپه قرآن ته سخت عذاب ورو څکو چې نه به سپکېږي اونه به ختمېږي ﴿ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَسْوَأَ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ اوخامخا جزابه ورکړو موږ هرومرو دوی ته ډېره بده سزادهغواعمالو چې وو دوی چې کول به يې ﴿ ذَٰلِكَ جَزَاءُ أَعْدَاءِ اللَّهِ النَّارُ ﴾ دغه (سخت عذاب) جزاء ده ددښمنانو دالله (يعني) چې اور دی (ددوزخ جزاء د مجرمينو) ﴿ لَهُمْ فِيهَا دَارُ الْخُلْدِ ﴾ شته دوی ته په دغه اورکي كور دهمېشه والي (تل ترتله چې هيڅ به ځني نه ايستل کېږي) ﴿ جَزَاءً بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ ﴾ (دپاره دجزاء)په جزاء ورکولو په سبب دهغه چې وو دوی (په دنياكي) چې په آيتونوزموږ(قرآن) به يې انكاركاوو(استهزآء وي به يې كولې. امام رازي وايې چې په قرآن باندي ددوی لغوي ته يې څکه جحود ووايو چې دوی كله چې پدې وپوهېدل قرآنكريم په بشپړه توګه وروستي سرحد داعجازته رسېدلی دی نوپدې ووېرېدل كه چېري يې خلګ واوري ورباندي ايمان به راوړي نويې دغه فريب وسنجول چې دلوستلو په وخت كي يې په شورماشور لاس پوري كړی دغه پدې دلالت كوي چې دوی په دي پوه ووچي دغه معجزكلام دی نودحسدله مخي يې ترې انكار وكړ(۲) ﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا رَبَّنَا أَرِنَا الَّذَيْنِ أَضَلَّانَا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ﴾ او وبه وايې (په دوزخ) هغه كسان چې كافران شوي دي ای ربه زموږ وښيه موږته هغه (دوه تنه) له پېريانو اوله انسانانو چې موږيې ګمراهان كړي وو، دلته يې دماضي په لفظ (قال) ددې لپاره تعبيروفرمايو چې دغه ثابته خبره ده اومعنايې دمستقبل دی ابوحيان وايې چې مرادله ﴿ الَّذَيْنِ ﴾ څخه جنس دی يعني هريوله ګمراه كونكي له دغودووانواعو څخه (۳) ﴿ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ أَقْدَامِنَا ﴾ چې وايې اچوولاندي له قدمونو خپلو(دكسات اخيستلواوزړه يخولو لپاره) ﴿ لِيَكُونَا مِنَ الْأَسْفَلِينَ ﴾ (لپاره ددې چې شي دوی له ښكته خلګو څخه) يعني ترڅودوی په درک أسفل كي شي هغه چې دمنافقينو ځای دی اودغه دجهنم خوراسخت عذاب دی كله چې الله دبدمرغه مجرمينو حال بيان كړوروپسې دنېكمرغه مؤمنانو حال بيانوي چې ﴿ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ

(۱) القرطبي ۳۵۲/۱۵
(۲) كبيرتفسير ۱۲۰/۲۷
(۳) البحرالمحيط ۴۹۵/۷

أَسْتَقَـٰمُواْ ﴾ بېشكه هغه كسان چي ويلي يې دي صدقاً له زړه چي رب زموږ الله دى بيا ټينګ ولاړوي (په دغه توحيد اونورو ديني اعمالو طاعاتوترمرګه پوري) روايت كېږي چي حضرت عمررضى الله عنه كله چي په منبرداآيت تلاوت كړنويې وويل : زمادي قسم په الله وي (معناداً) چي ټينګ ولاړوي په طاعت اوداسي نه وي لكه د ګيدړو غوندي چي يوه بله خواچل ول كوي ، مقصدداچي دوى دالله په شريعت پخپلو ټولو كړو وړو اخلاقو ، اقوالو اوافعالوكي ټينګ ولاړوي نودغه حقاني مؤمنان اوربښتوني مسلمانان دي له ځيني عارفانوڅخه دكرامت په هكله وپوښتل شول هغوى ورته وويل چي استقامت عيني كرامت دى له حسن بصري رحمه الله څخه روايت شوى چي هغه به ويل : (اللهم أنت ربنافارزقناالاستقامة). ﴿ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحْزَنُواْ ﴾ راناز لېږي به پردوى پربښتې (دنزع په وخت كي) چي مه وېرېږئ اومه خپه كېږئ يعني مه وېرېږئ له احوالودقيامته اومه خفه كېږئ په هغه مال اواهل اولادچي له تاسي څخه پاتي كېږي موږ ستاسوله خوا ددوى تكفل كوو ﴿ وَأَبْشِرُواْ بِٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴾ اوخوشحاله اوسئ تاسي په جنت هغه چي وى تاسي چي وعده يې درسره كړى شوي ده (دانبياووپه ژبه) شيخ زاده وايې چي پربښتې به دزنكندن په وخت مؤمن ته حاضرېږي اودغه زېرى به وركوي چي دمرګ له سختيومه وېرېږه اودقبرله كړاوونو اودقيامت له سختيوپروا مكوه اومؤمن به خپلودوو پربښتوته ګوري چي سرته به يې ولاړي وي هغوي به ورته داسي وايې چي نن مه خوابدى كېږه اومه وېرېږه زېرى دركووپه هغه جنت چي درسره يې وعده كړل شوي ده نن به ته څه هېښونكي حالات ووينې چي كله دي هم نه دي ليدلي ته ځني مه وېرېږه دغه دنورولپاره دى (١) ﴿ نَحْنُ أَوْلِيَآؤُكُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْـَٔاخِرَةِ ﴾ (بل ملائكي داسي ورته وايې) موږ ستاسي دوستان يوپه دغه دنيوي ژوندانه اوپه أخروي كي (چي هغه لوري ته به مورهنمايي وكړو چي ستاسوددارينو نېكمرغي پكې وي) ﴿ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِىٓ أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴾ اوشته تاسي ته په دغه جنت كي هغه نعمتونه چي مينه ورته كوي نفسونه ستاسي اوشته تاسي ته په دغه (جنت) كي چي غواړى يې تاسي (له لذتونوڅخه اوتمنايې كوى) ﴿ نُزُلًا مِّنْ غَفُورٍ رَّحِيمٍ ﴾ مېلمستياده له جانبه د(الله) ښه بښونكى ډېررحم والا(لپاره دمتقيانوبندګانو) ﴿ وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَـٰلِحًا وَقَالَ إِنَّنِى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴾ اوڅوك دى ډېرښايسته (بلكه نشته) له جهته دويناله هغه چا چي بولي (خلګ) دالله لوري ته او وايي بېشكه زه له مسلمانانو غاړه اېښودونكويم(احكام الله ته) يعني څوك دى ډېرښايسته له جهته دويناترهغه چاچي خلګ دالله توحيد اوطاعت ته پخپل قول ، فعل اوحال سره بولي نېک عملونه كوي اواسلام يې خپل دين اومذهب غوره كړى وى ابن كثيروايې دغه آيت دهرهغه چالپاره عام دى څوک چي پخپله سم اونورخلګ دخيرښېګڼي لوري ته بولي (٢) زمخشري وايې

---

(١) حاشية شيخ زاده على البيضاوي

(٢) مختصرابن كثير ٣ /٢٢٤

چي آيت د هرهغه چاپه هکله عام دی څوک چي دغه درې سپېڅلي صفتونه يې يوځای کړي وي پخپله معتقد مؤمن د ښو کارونو کونکی او ښو کارونو ته بلونکی وي دغه بل څوک نشي کېدای پرته له عاملينو علماوو (١) ﴿ وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ﴾ اونه برابرېږي سره نېکي اونه بدي (په جزاء اوحسن عاقبت کي بلکه ددوی ترمينځ ستر فرق شته) ﴿ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ﴾ دفع کوه (بدي) په هغه خصلت سره چي هغه ډېر ښه وي، لکه چي غضب په صبر، جهل په حلم، ظلم په عفو سره دفع کوه (٢) ﴿ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ﴾ پس ناڅاپه هغه څوک چي په مينځ ستا او مينځ د هغه کي عداوت دښمني وي لکه چي دی به دوست وي ډېر مهربان) يعني کله چي دي داسي وکړل نو به دي دښمن دوست وګرزي ﴿ وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا ﴾ (اونه ورکول کېږي دا (نېک خصلت د بدي دفع په نېکي سره) مګرهغو کسانو ته چي صبرتحمل کوي) يعني دغه ستره رتبه او اوچت ښايسته خوی نه ورکول کېږي مګرهغه چا ته ورکول کېږي چي قهر خوري ، غصه زغمي او تکليف برداشت کوي ﴿ وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴾ اونه ورکول کېږي دا (نېک خصلت) مګرخاوند دبرخي ډېري لويي ته (له خيراو سعادت څخه) ﴿ وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ ﴾ اوکه ورسېږي تاته له طرفه د شيطان څخه وسوسه (چي وادي ړوي له دغه ښه خصلته او انتقام اخيستو ته دي وهڅوي) نو پناه ونيسه په الله (له شره اوفريبه دده څخه) ﴿ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾ بېشکه الله همدی دی ښه اورېدونکی (په اقوالو دبندګانو)ښه پوهېدونکی (په افعالو او احوالو يې ورپسې الله دخپل قدرت دلائل او بالغه حکمت داسي بيانوي ﴿ وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ﴾ اوځيني له دلائلو (دقدرت) د الله شپه او ورځ دي (چي يو په بل پسي يې را ډېره کوي)اولمر سپوږمی (يې دبشر د مصالحو لپاره تابع کړي دي) ﴿ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ ﴾ مه کوئ تاسي سجده لپاره دلمر او نه لپاره دسپوږمۍ او سجده کوئ تاسي خاص لپاره دهغه (الله) چي پيدا کړي يې دي (داشيان) ﴿ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴾ که چېري يی تاسي چي خاص هم ده (الله) ته عبادت کوی (يوازي نو له ده پرته بل چاته سجده مه کوئ ﴿ فَإِنِ اسْتَكْبَرُوا ﴾ پس که لويي وکړه دوی (کفارو له سجدې کولو الله ته نو الله مستغني دی) ﴿ فَالَّذِينَ عِنْدَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ ﴾ پس هغه څوک چي په نزد درب ستادی (له پرښتو) تسبيح وايي دغه (الله) ته هم په شپه هم په ورځ کي ﴿ وَهُمْ لَا يَسْأَمُونَ ﴾ او حال دا چي دوی له دغه (تسبيح او عبادته) نه ستړي کېږي

---

(١) کشاف ۴/۱۵۲

(٢) القرطبي ۱۵/۳۶۱

الله تعالى فرمايي:

﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلْأَرْضَ خَٰشِعَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاهَا لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ
شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَآ ۗ أَفَمَن يُلْقَىٰ فِى ٱلنَّارِ خَيْرٌ أَم مَّن يَأْتِىٓ ءَامِنًا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ ٱعْمَلُوا۟
مَا شِئْتُمْ ۖ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِٱلذِّكْرِ لَمَّا جَآءَهُمْ ۖ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾ لَّا يَأْتِيهِ ٱلْبَٰطِلُ مِنۢ
بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِۦ ۖ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴿٤٢﴾ مَّا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِن قَبْلِكَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ
وَذُو عِقَابٍ أَلِيمٍ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ جَعَلْنَٰهُ قُرْءَانًا أَعْجَمِيًّا لَّقَالُوا۟ لَوْلَا فُصِّلَتْ ءَايَٰتُهُۥٓ ۖ ءَا۬عْجَمِىٌّ وَعَرَبِىٌّ ۗ قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟
هُدًى وَشِفَآءٌ ۖ وَٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ فِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرٌ وَهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ
﴿٤٤﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَٱخْتُلِفَ فِيهِ ۗ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَفِى شَكٍّ
مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿٤٥﴾ مَّنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٤٦﴾ ۞ إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ ۚ
وَمَا تَخْرُجُ مِن ثَمَرَٰتٍ مِّنْ أَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَآءِى قَالُوٓا۟
ءَاذَنَّٰكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَدْعُونَ مِن قَبْلُ ۖ وَظَنُّوا۟ مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴿٤٨﴾ لَّا يَسْـَٔمُ
ٱلْإِنسَٰنُ مِن دُعَآءِ ٱلْخَيْرِ وَإِن مَّسَّهُ ٱلشَّرُّ فَيَـُٔوسٌ قَنُوطٌ ﴿٤٩﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ
هَٰذَا لِى وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً وَلَئِن رُّجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّىٓ إِنَّ لِى عِندَهُۥ لَلْحُسْنَىٰ ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِمَا عَمِلُوا۟
وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٠﴾ وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ فَذُو دُعَآءٍ
عَرِيضٍ ﴿٥١﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ثُمَّ كَفَرْتُم بِهِۦ مَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾
سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ
﴿٥٣﴾ أَلَآ إِنَّهُمْ فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ۗ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيطٌۢ ﴿٥٤﴾ فصلت: ٣٩ – ٥٤

مناسبت:

كله چي الله تعالى دابرارومؤمنانوصفات يادكړل وربسې يې پخپل وجود اووحدانيت باندي دلائل راوړل اودخپل علم اوحكمت كمال (بشپړتوب) يې وستايونودلته يې هغه څه بيان كړل چي په بعث اونشور دلالت كوي اوهغه دلائل هم په دغه كائناتي وير كتاب كي چي دليدلووړدى ترسترګو كېږي اوبيايي دكفارو وملحدينو يادونه وكړه چي دالله جل جلاله دآيتونواوپيغمبرانواونبيانو تكذيب كوي اودسورت پاى يې دبدمرغه مجرمينو په حال هغوى چي له قرآن كريمه منكروي وتاكو.

لغتونه:

(يلحدون) له حق څخه ميلان كوي ، الحاد ميلان او عدول ته وايي ويل كېږي : (ألحد في دين الله) يعني دالله له دين څخه يې عدول او كږوالی وكړ (أعجميا) د عجمو په لغت (وقر) دروندوالی چي له اورېدلو مانع شي (أكمامها) د (كم) جمع او د مېوې اوښكي ته وايي (محيص) د تېښتي ځاى (نأى) ليري شو (الآفاق) د ځمكي او آسمانونو اقطار (څنډي څوكي) (مرية) شك او ستره شبه

تفسير:

﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلْأَرْضَ خَٰشِعَةً ﴾ (او ځيني له دلائلو (د قدرت) د دغه (الله) دا دی چي بېشكه ته وينې ځمكه وچه كلكه) يعني له هغو دلائلو چي دالله په وحدانيت او بشپړ قدرت ګوياوي ځيني هغه دي چي ته وچه كلكه ځمكه وينې چي هيڅ زرغون بوټی پكي نه ترسترګو كېږي لكه خاشع او عاجز خوارسړی چي سپېرې دوړې او خاورې ترې پورته كېږي ﴿ فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ﴾ پس هر كله چي نازلې كړو موږ په دغې (ځمكې) اوبه (دباران) نوسره وخوځېږي او وپړسېږي (او شنه شي په بوټو، دانو، مېوو باندي) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاهَا لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰٓ ﴾ بېشكه هغه الله چي ژوندی كړي يې ده دا (ځمكه خامخا ژوندی كونكی دی دمړيو (له قبرونو څخه په راپورته كولو) ﴿ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ (بېشكه الله په هر شي (چي اراده يې وفرمايې) ښه قادر دی) يعني دالله له هيڅ شي ترسره كولو څخه څوک مانع نشي ګرځېدلای لكه چي وابنه فصلونه او مېوې يې له وچې ځمكي څخه راز رغونې كړي همداسي د مړو په راژوندي كولو باندي قادر دی ، وروسته هغه چاته وعيد او روي كوم چي وروسته له دلائلو براهينو بيا هم دالله له آيتونو څخه الحاد او كږوالی كوي فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَآ ﴾ بېشكه هغه كسان چي ميلان كوي له حقه باطل ته په آيتونو (دقرآن) زموږ كي پرموږ پټ نه دي (نو ددغه الحاد جزابه ورکړو ، پدې كي وعيد او تهديد دی ، قتاده وايي چي الحاد كفر او عناد ته وايي او ابن عباس ﷺ وايي چي الحاد د كلام تبديل او له خپله ځايه پرته په بل ځای كي اېښودل دي[1] ﴿ أَفَمَن يُلْقَىٰ فِى ٱلنَّارِ خَيْرٌ أَم مَّن يَأْتِىٓ ءَامِنًا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ آيا پس هغه څوک چي په اور كي وغورځول شي (په وېرې هيبت سره غوره دی يا هغه څوک چي رابه شي په امن (له عذابه) په ورځ د قيامت كي ؟ امام رازي ﷫ وايي چي غرض پردې باندي تنبيه ده چي دالله د آيتونو ملحدين به په اور كي غورځول كېږي او مؤمنان به له عذابه په امن وي د دوی د دواړو ترمينځ د ځمكي او آسمان فرق دی[2] ﴿ ٱعْمَلُوا۟ مَا شِئْتُمْ ﴾ (نو ورته ويل كېږي چي) كوئ تاسي هر څه چي موخوښ وي (دغه تهديد دی چي وعيد پكې دی) ﴿ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ بېشكه الله په هغه چي تاسي يې كوی ليدونكی دی (ستاسي هيڅ عمل له هغه څخه پټ نه دی او ورباندي به جزا

---

(۱) د قرطبي تفسير ۱۵ /۳۶۶

(۲) كبير تفسير ۲۷ /۱۳۱

درکړي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِٱلذِّكْرِ لَمَّا جَآءَهُمْ ﴾ بېشکه هغه کسان چي کافران شوي دي په ذکر(قرآن) کله چي دوی ته راغئ (اِنّ) خبر محذوف دی چي دأمرهيبت اوډچاري دهشت څرګند کړي لکه چي ويلي يې وي ژردی چي ددوی په کفر به داسي سزا ورکوله شي چي له ډېري سختي اوفظاعته يې بيان نشي کېدای (١)﴿ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴾ حال داچي بېشکه دغه قرآن خامخاکتاب قوي دی (په حجت اودليل کي چي هيڅ مثال اوساری يې نشته ، په اعجازمشتمل دی چي هرمنکراومعاندمغلوبوي ﴿ لَّا يَأْتِيهِ ٱلْبَٰطِلُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِۦ ﴾ نه راځي دغه قرآن ته باطل نه دمخي له طرفه دده اونه دشاله طرفه دده . ابن کثيروايې معناداچي بطلان ورته لاره نلري ځکه چي درب العالمين له لوري نازل شوی دی (٢)﴿ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴾ رالېږل شوی دی له طرفه دحکمت والا ثنا ويلي شوي (الله) يعني دغه قرآن رالېږلی شوی دی له لوري دهغه حکيم ذاته چي په تشريع احوالو اقوالوکي يې حکمت دی اودبندګانو له طرفه ستايلی شوی ذات دی ځکه چي ډېرنعمتونه يې ورکړي دي، له دې وروسته الله تعالی خپل پيغمبرته د کفارو څخه په کړاوونو ګاللوداسي ډاډ اوتسليت ورکوي چي ﴿ مَّا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِن قَبْلِكَ ﴾ (نه ويل کېږي (تاته ای محمده !) مګر(هم هغسي) ويناچي په تحقيق ويلی شوي وه لپاره دهغو رسولانوچي پخواله تاتېرشوي دي) يعني تاته ستادقوم کفارهم هغه څه وايې چي ترتادمخه پيغمبرانوته به کفارو ويل اودالله په کلام باندي به يې پېغورونه تړل ، قرطبي وايې چي الله خپل پيغمبرته دلاساينه ورکوي(٣)﴿ إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ وَذُو عِقَابٍ أَلِيمٍ ﴾ بېشکه رب ستاخامخاڅښتن دمغفرت دی(مؤمنانولره)اوڅښتن ددردناک عذاب دی (کافرانو لره)نوخپلي چاري هغه ته وسپاره چي هغه دي له دښمنانوڅخه کسات (انتقام) واخلي بياالله تعالی دکفارو دتعنت اومکابرې يادونه هسي فرمايې چي: ﴿ وَلَوْ جَعَلْنَٰهُ قُرْءَانًا أَعْجَمِيًّا ﴾ اوکه ګرزولی مو وای دغه قرآن په ژبه دعجمو ﴿ لَّقَالُوا۟ لَوْلَا فُصِّلَتْ ءَايَٰتُهُۥٓ ﴾ نوخامخاويلي به وودغو(عربو کفارو) ولي واضح ندي بيان شوي آيتونه ددې (قرآن) چي موږ ورباندي پوهېدلي وای ولي زموږپه عربي فصيحه ژبه نه دی نازل شوی)؟ ﴿ ءَا۬عْجَمِىٌّ وَعَرَبِىٌّ ﴾ آياعجمي دی او(نبي يې) عربي دی؟دغه انکاري استفهام دِی يعني آياقرآن عجمي اوپيغمبرعربي دی؟(داخونه ښايې) امام رازي وايې چي داسي ويل کېږي چي کفاروبه دخپلي سرکشي له کبله ويل چي ولي قرآن په عجمي ژبه ندی نازل شوی ؟ نودوی ته ځواب ورکول شوکه چېري داسي شوي وای لکه چي تاسويې وړانديز کوی بيابه موهم اعتراض کاوو(چي قرآن عجمي اوپيغمبرعربي دی) وروسته زياتوي چي

---

(١) دغه داکثره مفسرينورأيه ده اوابوحيان په البحرالمحيط کي ليکي چي د(اِنّ) خبرمذکور دی هغه داچي ﴿ لَّا يَأْتِيهِ ٱلْبَٰطِلُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ ﴾ خبردی خوعائدځني حذف شوی مګرلومړۍ وينابښکاره ده.

(٢) مختصرابن کثير ٣ /٢٦٥

(٣) ١٥/ ٣٦٧ قرطبي

زمایه نزدحقه خبره داده چي دغه سورت ځیني یې له ځیني نورسره له سره ترپایه پېیلی ، اوبدلی دی تعلق اوپتلېزلري دسورت په پیل کي الله فرمایلي ووچي ﴿ وَقَالُوا۟ قُلُوبُنَا فِىٓ أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ ﴾ (فصلت ۵) نوبیاالله تعالی ددوی تردید په دې وفرمایوکه چېري دغه قرآن دعجموپه ژبه وای نوبه دوی ویل چي څرنگه عجمي کلام دعربوخلگوته راغلی دی نوددوی هغه وینابه پرځای وه چي ویل یې: ﴿ وَقَالُوا۟ قُلُوبُنَا فِىٓ أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ ﴾ څکه نوموږ پرې نه پوهېږو ، اوداچي دعربوپخپله ژبه رانازل شوی اودوی دهمدې لغت خلگ دي نوڅرنگه بیادوی ته امکان میسردی چي داسي دي ووایې چي پرې نه پوهېږو؟! نومعلومه شوه چي آیت شریف په خورانښکلي وجوهاتومشتمل دی ([1]) ﴿ قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هُدًى وَشِفَآءٌ ﴾ ووایه (دوی ته ای محمده!) چي دغه قرآن دپاره دهغو کسانو چي ایمان یې راوړی دی هدایت اوشفادی یعني دغه قرآن د مؤمنانولپاره له ضلالت څخه هدایت اوله جهل اوشک شبهې څخه شفادی ﴿ وَٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ فِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرٌ ﴾ اوهغه کسان چي ایمان نه راوړي په غوږونودوی کي دروندوالی دی (څکه یې دشور ماشور جوړولوحیلې بهانې جوړولې) ﴿ وَهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ﴾ (حال داچي دغه قرآن په دوی باندي پټوالی ړوندوالی دی چي کمال جمال یې نه ویني) یعني لکه څرنگه چي داقرآن دمؤمنانولپاره رحمت دی همداسي دکفارولپاره بدبختي اوهلاکت دی لکه چي الله فرمایې ﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴾ (الاسراء۸۲) دبیضاوي په حاشیه کي لیکي چي قرآنکریم له ښکاره دلائلو اوڅرګندونښانوڅخه دحق لوري ته هادي اودشک او شبهې له مینځه وړونکی دی دجهل اوناپوهي ، کفراوشبهاتوله ګردوناروغیوشفاورکونکی دی او څوک چي پکي شک اوشبهه کوي دغه شک اوشبهه یې له شهوتونو پلوي کولوڅخه سرمنشاء اخلي اودنجات اونېکمرغي له لاروڅخه یې راګرزوي([2]) ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴾ دغه کفار (ګواکي داسي دي لکه چي) غږ ورته کاووه شي له لیري ځایه (بېشکه چي دوی دغه غږنه اوري او نه پرې پوهېږي دغه دمثال په توګه بیان دی) ابن عباس وایې معناداچي دوی

([1]) کبیرتفسیر۲۷/ ۱۳۳ دغه چي امام رازي ذکرکړی بېخي ښکاره دی څکه دوی خودغه ورانديز کله هم ندی کړی چي قرآن دي دعجموپه ژبه وای بلکه دغه دفرض اوتقدیرپه توګه اودلیل یې هم دادی چي ﴿ وَلَوْ جَعَلْنَٰهُ قُرْءَانًا أَعْجَمِيًّا ﴾ اوداهغه څه دي چي موږهم ترجیح ورکړي اوعلامه قرطبي هم دغه لوري ته تللی چي دآیت شریف په تفسیرکي داسي لیکلي: یعني که چېري موږ داقرآن پرته له عربي ژبي په بله ژبه نازل کړی وای نوبه دوی ویل ولي یې آیتونه په عربي ژبه نه دي موږ خوعرب یوپه عجمي ژبه خوګردسره نه پوهېږونو الله ددې بیان وفرمایوچي قرآن یې ددوی په لغت نازل کړچي داعجاز معنایې ثابته شي څکه دوی دوخت خوراستر ژب پوهان ووچي په نظم اونثرکي ددوی پوهه لوړسرحدته رسېدلې وه اوکله چي دوی له دې سره سره دقرآن کریم له معارضې څخه ناتوانه شول نودغه خوراکلک دلیل اوکوتلی برهان دی چي داالهي کلام دی.
([2]) حاشیة شیخ زاده علی البیضاوي ۳/ ۲۲۵

لکه چارپایان غوندي دي چي په څه نه پوهېږي مګر په چيغو نارو(۱) ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَٱخْتُلِفَ فِيهِ ﴾ اوخامخا په تحقيق ورکړی وو موږ موسی ته کتاب (تورات) پس اختلاف وکړشو په هغه کي (چاېې تصديق وکړ اوچاېیاتکذيب نوستادقوم حال هم دقرآنکريم په هکله همداسي دی قرطبي وايي چي دغه رسول الله ته تسليت ورکول دي چي ته دخپل قوم داختلاف په هکله خواشيني مکوه تردې له مخه نوروقومونوهم دخپلو کتابونو په هکله اختلاف کړی دی څينو ورباندي ايمان راوړی اوڅينوېي تکذيب کړی دی(۲) ﴿ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ﴾ اوکه چېري نه وای هغه خبره چي رومبی شوي ده (له طرفه) درب ستا(چي تاخيردعذاب دی ترقيامته پوري) نوخامخاحکم به کړی شوی ووپه مينځ ددوی(په دنيا) کي ، يعني که چېري دغه دحساب جزاء اوتأخيرحکم ترقيامته پوري ځنډېدلی نه وای نوارومروبه الله دوی معذب کړي اوپه دنياکي هلاک کړي وو ﴿ وَإِنَّهُمْ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴾ او ببشکه چي دغه (کفار) خامخاپه داسي شک کي دي(له دې قرآنه) چي داضطراب موجب دی (ددوی عقول ادراک نلري اوسترګي ېې دحق له ليدلوړندې دي چي داسي ېې شکمن کړي دي ﴿ مَّنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَسَآءَ فَعَلَيْهَا ﴾ هرڅوک چي نېک کاروکړي (په دنياکي) پس لپاره دخپل ځان ېې دی اوهرڅوک چي بدکاروکړي (په دنياکي) پس هغه په ده باردی (ضررېې ورته راجع دی) ﴿ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴾ اونه دی رب ستاظلم کونکی پربندګانو(چي بې موجبه ېې په عذاب اخته کړي) يعني الله جل جلاله پرته له دې نه چي څوک ګناه وکړي يوچاته عذاب نه ورکوي يعني بې موجبه الله پاک څوک نه ځوروي، مفسرين کرام وايې چي د(ظلام) صيغه دمبالغې لپاره نه ده بلکه دغه دنسبت لپاره ده اومثال ېې لکه: عطار،نجار،اوتمار غوندي دی اوکه چېري دمبالغې لپاره واخيستل شي نوبيابه داسي خيال کېږي چي الله د هرظلم نه کوي اودابه افاده کېږي چي کله ناکله څوظلم کوي اودغه معناناروا اومستحيل ده ځکه چي الله جل جلاله له ظلم څخه منزه دی ﴿ إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ ﴾ خاص همدغه (الله) ته ورکاووشي علم دقيامت(چي څه وخت به واقع کېږي بل چاته معلوم نه دی امام رازي وايې چي دقيامت بعينه وخت هيچاته پرته له الله څخه معلوم نه دی ددې مناسبت له رومبني سره دادی چي څرنګه الله پاک کفارپه دغې ويناچي ﴿ مَّنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَسَآءَ فَعَلَيْهَا ﴾ باندي ووېرول اومعناېې داچي ددوی جزاء به دقيامت په ورځ ورکول کېږي نوبه پوښتونکي ته سوال پيداکېدوچي دغه دقيامت ورځ به نوکله وي الله جل جلاله وفرمايل چي ددغي ورځي علم له الله پرته بل چاته هډو معلوم نه دی (۳) ﴿ وَمَا تَخْرُجُ مِن ثَمَرَٰتٍ مِّنْ أَكْمَامِهَا ﴾ اونه راوزي هيڅ قسم له مېووڅخه له غلافونو (وږي ,وانبکي) ددوی څخه ﴿ وَمَا

(۱) تفسير کبير ۲۷/ ۱۳۴
(۲) القرطبي ۱۵/ ۳۷۰
(۳) کبيرتفسير ۲۷/ ۱۳۲

﴿ تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِهِۦۚ ﴾ اونه اخلي بار هيڅ ښځينه (له انسانه او حيوانه) او نه ږدي بار (حمل خپل مګر په علم دالله سره (دالله له علم څخه يو ذره په ځمکه او آسمان کي پټ نه دي) ([1]) ﴿ وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ أَيۡنَ شُرَكَآءِي ﴾ اوپه هغه ورځ غږبه وکړي (الله) مشرکانو ته چي څه شول شريکان زما (په زعم ستاسو پدې کي تهکم او تقريع ده) ﴿ قَالُوٓاْ ءَاذَنَّٰكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ ﴾ نو وبه وايې دغه (مشرکان) چي خبر کړئ مو ږ ته (اوس) چي نشته زموږ نه هيڅوک شاهد (پدې چي تا ته شريک شته) مفسرين کرام وايې کله چي دوی د قيامت ورځ ووينې نو به دوی له شريکانو څخه بېزاره شي او بتان به له دوی څخه بېزاره شي دوی به په داسي وخت کي ايمان په توحيد راوړي کله چي ايمان ورته ګټه نه رسوي ﴿ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَدۡعُونَ مِن قَبۡلُۖ ﴾ اوورک به شي له دوی نه هغه (بتان) چي وو دوی چي عبادت به يې کاوو پخوا له دې نه (په دنيا کي) ﴿ وَظَنُّواْ مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٖ ﴾ اويقين به راشي د دوی چي نشته دوی ته هيڅ ځای د تېښتې (له عذابه دالله) ﴿ لَّا يَسۡـَٔمُ ٱلۡإِنسَٰنُ مِن دُعَآءِ ٱلۡخَيۡرِ ﴾ نه ستړی کېږي انسان له غوښتلو د خير (ښېګنو غوښتلو لپاره د ځان لکه مال، روغتيا، دولت او پاچهي) ﴿ وَإِن مَّسَّهُ ٱلشَّرُّ فَيَـُٔوسٞ قَنُوطٞ ﴾ او که ورسېږي ورته کوم شر پس دی ډېر سخت ناأميده وي) يعني که چېري ورته ناروغي او فقر ورسېږي بيا دی دالله له رحمت څخه ناهيلی وي ﴿ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ رَحۡمَةٗ مِّنَّا مِنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ ﴾ اوقسم دی خامخا که وڅکوو ده ته رحمت مهرباني (غنا او صحت) له جانبه زموږ پس له هغي سختي چي ده ته رسېدلي وي (له فقر او مرض څخه) ﴿ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا لِي ﴾ نو خامخا وبه وايې دی چي دغه (غنا او صحت لائق) زما دی (چي ما پخپل زيارا وکوښښ ځان ته ګټلي دي. ابو حيان وايې چي نعمت ته يې ځکه رحمت ووايو چي هغه د رحمت له آثارو څخه دی ([2]) ﴿ وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةٗ ﴾ او ګمان نه کوم په قيامت د رېدونکي (چي رابه شي) ﴿ وَلَئِن رُّجِعۡتُ إِلَىٰ رَبِّيٓ إِنَّ لِي عِندَهُۥ لَلۡحُسۡنَىٰۚ ﴾ اوقسم دی که (بالفرض) بيرته وګرزولی شم په طرف د رب خپل نو بېشکه زما لپاره به وي په نزد د دغه (الله) کي خامخا نېکي (جنت لکه چي ما ته يې په دنيا کي نعمتونه راکړي وو. ابن کثير وايې چي دغه په الله جل جلاله باندي سره له دې چي يقين او نېک عمل نلري آرزوګاني اوتمنيات تړي ([3]) ﴿ فَلَنُنَبِّئَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِمَا عَمِلُواْ ﴾ پس خامخا به خبرور کړو هرومرو هغو کسانو ته چي کافران شوي دي په هغو (عملونو) چي دوی کړي دي) يعني قسم دی چي

([1]) په الظلال تفسير کي ليکي: زړه همداسي د مېوو ابنکي او وړي پلتي په ارحامو کي د ماشومانو او په باغونو کي د مېوو د غلافونو ځارنه کوي هغه چي خورابې شمېره دي او په خيال کي نه راځي نو دلته دالله جل جلاله د علم او پوهي انځور په ضمير کي را دبره شي څومره چي يې د انسان او بشر زړه ځايولای شي هغومره حقيقت پکي ځرګند ېږي او بشپړ حقيقت يې يوازي الله جل جلاله ته معلوم دی چي حدود نلري. في ظلال القرآن ۲۴/ ۱۴۰

([2]) البحر المحيط ۷/ ۵۰۴

([3]) دابن کثير مختصر ۳/ ۲۷۷

دغو کافرانو ته به ددوی د عملونو په حقیقت پوهېدنه او ددوی په بدو اعمالو لیدنه ورکړو ﴿ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴾ او خامخا وبه څکوو هرومرو دوی له سخته لویه عذابه څخه (چي هغه تل ترتله په دوزخ کي اوسېدل دي) ﴿ وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ ﴾ او کله چي انعام وکړو موږ پر انسانانو نو وګرزي له حقه او له شکره په څنګ شي (او دالله له اوامرو غاړه وغړوي او تکبر ته ملا وتړي) ﴿ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٍ ﴾ او کله چي ورسېږي ده ته کومه سختي (بلا) پس دی داوږدې دعا خاوند وي (چي زاري جګي کوي دغه دانسان خته او طبیعت) دی چي کله یې تکلیف په برخه شي نو الله یې په یادوي او چي په نعمت کي غوپه شي بیا یې الله هېروي ابن کثیر وایې چي (عریض) پلنوالی یې د دعا اوږدوالي لپاره استعاره کړی لکه چي دعذاب دسختوالي لپاره یې (غلیظ) استعاره راوړی دی[1] ﴿ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ثُمَّ كَفَرْتُم بِهِۦ ﴾ ووایه (ای محمده دوی ته) آیا وینئ تاسي (نو ماهم خبر کړئ چي) که چېري وي دغه قرآن له نزده د الله بیا کافران شئ تاسي په دغه (قرآن) یعني ای محمده دغو مشرکانو ته ووایه که چېري داقرآن دالله له جانبه وي او تاسو بې له سوچ او فکره وربانديکافران شی نو ستاسي حال به څه وي؟ ﴿ مَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴾ څوک دی ډېر ګمراه له هغه چا څخه چي دی په مخالفت لیري کي (له حقه) وي؟ دغه استفهام انکاري او دنفي په معنا دی یعني نشته تردې بل ستر ګمراه څکه چي عداوت او شقاوت یې منتهاته رسېدلی دی ابو السعود وایې داچي ﴿ مَنْ أَضَلُّ ﴾ یې د (منکم) پر ځای راوړی ددې لپاره دی چي ددوی دحال بیان او د زیات ضلالت سبب یې وښیي[2] ﴿ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْـَٔافَاقِ ﴾ ژر دی چي وبه ښیو دوی (مشرکانو) ته دلائل خپل (پردې چي قرآن حق دی) په آفاقو (دځمکي او آسمان کي, لکه لمر, سپوږمی، ستوري ، ونې، نباتات او نور علوي او سفلي عجائبات) ﴿ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ ﴾ او په نفسونو ددوی کي (له عجائباتو د قدرت دالله ددوی په خلقت او تکوین کي. قرطبي وایې چي په نفسونو کي مراد هغه لطیف صنعت او بدیع حکمت دی آن تردې چي دموادغائطه او ادرارو له دلاري جلاوالی څکه چي انسان په یوه خوله خوراک، څښاک کوي مګر له دوو لارو څخه بیرته څني خارجېږي او دالله جل جلاله له بدیع صنعت څخه یو هم هغه دانسان په سترګو کي یو ځاځکی او به دي چي له ځمکي تر آسمانه دپنځو سوو کالو واټن وربانديویني او همداسي یې په غوږونو کي چي دول دول غږونه ورباندي اوري او دهغوی ترمینځ توپیر کوي او داسي نور چي دالله دښایسته او بدیع صنعت ښېلګي او مثالونه دي[3] ﴿ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ﴾ تر هغه پوري چي ښکاره شي دوی ته چي بېشکه دغه قرآن حق دی ﴿ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴾ (آیا کافي نه دی

---

[1] کبیر تفسیر ٢٧/ ١٣٨
[2] ابو السعود ۵/ ٢٧
[3] القرطبي ١۵/ ٣۵٧

رب ستا (بلکه کافي دی)بېشکه الله پر هرڅيزشاهد، ګواه دی) يعني آيا دوی ته ستاد رښتنولي په توګه دا کافي نه دی چي ستاله ربه په څمکه او آسمان کي هيڅ شی هم پټ نه دی؟ ګرد شيان هغه ته څرګند او هغه پرې خبردار دی ﴿ أَلَآ إِنَّهُمْ فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ﴾ (واوره خبردارشه چي بېشکه کفار په شک کي دي له ملاقاته درب خپل (ځکه چي له بعثه منکردي) ﴿ أَلَآ ﴾ دتنبيه کلمه اوداستفتاح لپاره ده يعني ای قومه خبردار اوسئ چي کفارله حساب، جزاء اوبعث څخه په شک کي دي ځکه نودوی تفکرنه کوي او ايمان نه راوړي ﴿ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيطٌۢ ﴾ واورئ خبردارشئ چي بېشکه الله په هرڅيزچاپېرکېدونکی دی (په علم اوقدرت نودوی ته به ددوی په کفرسزا ورکړي).

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبيان اوبديع کومي ښکلاوي شته لنډون يې دادی:

۱-دطباق صنعت چي د ﴿ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ﴾ ترمينځ او ﴿ طَوْعًا أَوْ كَرْهًا ﴾ اود ﴿ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ﴾ اود ﴿ ٱلْحَسَنَةُ ......وَلَا ٱلسَّيِّئَةُ ﴾ اود ﴿ مَغْفِرَةٍ وَذُو عِقَابٍ ﴾ اود ﴿ ءَا۬عْجَمِىٌّ وَعَرَبِىٌّ ﴾ اود ﴿ تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ ﴾ ﴿ ٱلْخَيْرِ...... ٱلشَّرُّ ﴾ ترمينځ شتون لري.

۲-سلبي طباق لکه ﴿ لَا تَسْجُدُوا۟ لِلشَّمْسِ وَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ﴾ اوهمداسي د ﴿ ءَامَنُوا۟ هُدًى وَشِفَآءٌ وَٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ په جملو کي.

۳ - دالتفات صنعت چي فرمايي: ﴿ فَإِنْ أَعْرَضُوا۟ ﴾ چي وروسته له دې ويناڅخه راځي ﴿ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ ﴾ چي دغه له خطاب څخه غياب ته التفات دی اودغه اعراض مناسب هم دی ځکه چي دوی له حق څخه اعراض کړی دی اوداښکلی تناسب دی.

۴ - تمثيلي استعاره چي فرمايي: ﴿ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا ﴾ دالله جل جلاله دقدرت داغيزمثال يې ديوباچاله فرمان سره مثال راوړی هغه چي يومأموريامريبي ته حکم کوي اودهغه حکم ژرترژره ترسره کېږي اومنل کېږي.

۵-تصريحي استعاره چي پدې کلام کي ده ﴿ وَقَالُوا۟ قُلُوبُنَا فِىٓ أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ وَفِىٓ ءَاذَانِنَا وَقْرٌ ﴾ دلته په حقيقت کي کوم چي دوی ويناکوله هيڅ هم موجودنه وومګردوی دغه خبره پدې کوله چي دوی دقرآن کريم کوم وعيدونه ياجوامع البيان اورېدو پردوی به دروند شولکه چي دوی له ډېري کرکي اونفرته يې له اورېدو کانه شوي وواوزړونه يې له پوهېدلو راندہ شوي وو.

٦- بله استعاره چي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ يُنَادَوۡنَ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ﴾ د دوی حال د پند ونوله نه منلو او اعراض سره له هغه چاسره مشابه کړ چي له ليري ځايه ږغ ورته نارې وهي نو نه يې دوی غږ اوري او نه پرې پوهېږي او وجه جامع يې په دواړو کي نه پوهېدل دي.

٧- تهديدي امر لکه: ﴿ ٱعۡمَلُواْ مَا شِئۡتُمۡ ﴾ امر يې له خپلي صيغي څخه دوعيد او تهديد معناته ايستلى دى.

21/21 ٨- مرسله مجمله تشبيه لکه دا چي فرمايې ﴿ وَلِيٌّ حَمِيمٞ ﴾ د تشبيه ادات ذکر شوى او وجه د شبه حذف شوي نو مرسله مجمله تشبيه ده.

٩- انسان د قرآني اسلوب د جمال او ښايست له انځورولو چي د بلاغت په تول يې وتلي عاجز او ناتوانه دى دغه بياني جمال او ښکلا چي د الله تعالى پدې کلام کي نغښتي ده ولوله: ﴿ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلۡأَرۡضَ خَٰشِعَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡۚ إِنَّ ٱلَّذِيٓ أَحۡيَاهَا لَمُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰٓۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴾ او دغه هنري تناسق او پېيلتوب ته وګوره چي په تعبير او اداکي له ورايه برېښي بيا د خشوع او اهتزاز کلماتي وځېره او بيا د خمکي د پرسوب خبره چي الله يې له مرګه وروسته راپنځوي يو په بل مخ واړوه لکه چي الله مړي له قبرونو څخه راپاڅوي دغه د بېرته راپاڅون فضاء او د ژوندانه د بېرته ترلاسه کېدلو ډګر دى وګوره چي دغه انځورونه څرنګه عقلونه ځان ته راکاږي او خپلوي يې.

د فصلت سورت تفسير د الله په مرسته بشپړ شو

***

د (الشورى) سورت مکي دى او درې پنځوس آيتونه لري.

د سورت په وړاندي:

دغه مکي سورت دى او د نورو مکي سورتونو په شان موضوع لري هغه چي له عقيدې څخه بحث کوي، وحدانيت، رسالت او بعث جزاء څېړي هغه محور چي سورت وربانديي راتاوېږي هغه وحى او رسالت دى چي د سورت بنسټيزه موخه (هدف) يې ګڼلاى شو.

سورت په پيل کي د وحى او رسالت مصدر څېړي رب العالمين الله هغه ذات دى چي په انبياوو پيغمبرانو يې وحى او رسالت رانازل کړى او د پيغمبري لپاره يې هغه کسان غوره کړي چي د ده خوښ وي ترڅو چي بشريت د شرک او ګمراهي له تيارو څخه د هدايت او ايمان لورته وباسي.

ورپسې د ځيني مشرکانو حال راآخلي هغوى چي الله ته يې د اولاد، ذوذات نسبت کړى تردې چي آسمانونه نژدې له دې سختي خبري څخه وچوي خو دوى له دې سره سره په خپلي ګمراهي کي لامبي او هلته

ملا الاعلی پخپلو تسبیحاتو کي لګیا او د الله جل جلاله تمجید او تسبیح وايي دا هغه پر تله کېدل دي چي دځمکي دخلګو کفراو ګمراهي او دآسمان د مخلوقاتو د ایمان او باور خبره سپینوي

بیا سورت بیرته دوحی حقیقت اورسالت ته راګرزي اوداجوتوي چي دین یودی چي الله پاک ګردانبیاء وربانديرا استولي دي اوداچي دانبیاو وعلیهم السلام شریعتونه که څه هم سره ګوښي وو خو دین دټولو یو دی او هغه د اسلام سپېڅلی دین دی چي الله ورباندي نوح ، عیسی، موسی او نور انبیآء علیهم السلام را استولي دي ﴿ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓ ﴾.

سورت دقرآنکریم دمکذبینوله بیان څخه دقیامت دبعث اوجزاء منکرینوته لېږدي او هغوی په خورا سخت عذاب وېروي داسي عذاب چي له وېري يې دسروښتان سپینېږي اوزړونه دربېږي خو دوی په دنیاکي دهغه عذاب په هکله ملنډي وهي او داستهزآء په توګه يې ژر ترژره راتلل غواړي

وروسته له دې چي سورت دکائناتو په ویړ کتاب کي دایمان ننبي او دلائل وښیي هغه چي دالله جل جلاله له آثارو څخه یو اثر او دالله دحکمت او قدرت یوه بېلګه ده نو بیا خلګو ته دالله جل جلاله دبلني استجابت ته اودالله حکم ته په غاړه اېښودلو دعوت ورکوي پخوا تردې چي دوی ته ترینګلي ورځ راشي چي هلته نه مال دولت دچا په کار ېږي او نه هم خپلوان چاته ګټه رسولای شي: ﴿ ٱسۡتَجِيبُواْ لِرَبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۚ ﴾.

سورت په پای کي له وحی او قرآن څخه خبري کوي لکه چي وربانديپیل شوی هم و ترڅو چي پیل او پای سره پېلی او متناسق وي ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ رُوحٗا مِّنۡ أَمۡرِنَاۚ مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ ﴾ .دآیت ترپایه.

تسمیه او نومول يې:

دغه سورت ته ځکه دشوری سورت وايي چي دشوری سترمقام په اسلام کي وښیي او مؤمنانو ته ددې ښوونه وکړي چي په دغه ښایسته بشپړه ښکمرغي تګلاري خپل ژوند روان کړي ځکه چي دغه شوری دفرد او ټولني په ژوند کي خورا مهم رول لري لکه چي الله فرمايي: ﴿ وَأَمۡرُهُمۡ شُورَىٰ بَيۡنَهُمۡ ﴾.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ حمٓ ١ عٓسٓقٓ ٢ كَذَٰلِكَ يُوحِيٓ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٣ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٤ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِن فَوۡقِهِنَّۚ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ

وَيَسْتَغْفِرُونَ لِمَن فِي الْأَرْضِ أَلَا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٥﴾ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ اللَّهُ حَفِيظٌ
عَلَيْهِمْ وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿٦﴾ وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِّتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ لَا
رَيْبَ فِيهِ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ ﴿٧﴾ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَهُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِن يُدْخِلُ مَن يَشَاءُ فِي رَحْمَتِهِ
وَالظَّالِمُونَ مَا لَهُم مِّن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٨﴾ أَمِ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ فَاللَّهُ هُوَ الْوَلِيُّ وَهُوَ يُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ
قَدِيرٌ ﴿٩﴾ وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿١٠﴾ فَاطِرُ
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ
وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴿١١﴾ لَهُ مَقَالِيدُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ
﴿١٢﴾ ۞ شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰ أَنْ
أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن
يُنِيبُ ﴿١٣﴾ وَمَا تَفَرَّقُوا إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى
لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ أُورِثُوا الْكِتَابَ مِن بَعْدِهِمْ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿١٤﴾ فَلِذَٰلِكَ فَادْعُ وَاسْتَقِمْ كَمَا
أُمِرْتَ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَقُلْ آمَنتُ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ مِن كِتَابٍ وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ اللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ لَنَا
أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ اللَّهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿١٥﴾ وَالَّذِينَ يُحَاجُّونَ فِي اللَّهِ
مِن بَعْدِ مَا اسْتُجِيبَ لَهُ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿١٦﴾ اللَّهُ الَّذِي أَنزَلَ
الْكِتَابَ بِالْحَقِّ وَالْمِيزَانَ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيبٌ ﴿١٧﴾ يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا وَالَّذِينَ
آمَنُوا مُشْفِقُونَ مِنْهَا وَيَعْلَمُونَ أَنَّهَا الْحَقُّ أَلَا إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ لَفِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿١٨﴾ ﴾

الشورى: ١ - ١٨

لغتونه:

(يتفطرن) چوي، فطورچاودلو ته وايي لکه چي بل ځای فرمايي ﴿ هَلْ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ ﴾ (فاطر) خالق ، مبدع اومخترع ته وايي (يوم الجمع) دقيامت ورځ ځکه چي خلگ پکي يوځای کېږي(أم القرى) مکه مکرمه (يذرؤكم) پيدا کوي اوزياتوي مو(مقاليد) د(أقليد) غيرقياسي جمع اوکليگانوته وايي (شرع) مقرر کړی اوښکاره کړی دی (كبر) ستراوعظيم دی سخت دی (ينيب) له گناهونوڅخه توبه اورجوع کولو ته وايي (مريب) دشک اوشبهې ځای(داحضة) باطل اوزائل , وايي چي (دحضت رجله) معناداچي پښه يې وښوئېدله

تفسير: ﴿ حمٓ عٓسٓقٓ ﴾ دغه مقطعات توري اودقرآنکريم په اعجازدلالت کوي چي انسان په لومړنيوتورو پوهوی کوم چي په ناآشناتوگه پيل کېږي ﴿ كَذَٰلِكَ يُوحِي إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكَ اللَّهُ الْعَزِيزُ

ٱلۡحَكِيمُ ﴾ په مثل د(وحی) دهمدې (سورت) همېشه تاته وحی کوي (ای محمده!) اووحی يې کړي وه (هغونبيانوته) چې ترتادمخه وو الله ښه غالب قوي (پخپله پاچهي کې) ښه حکمت والا(پخپل صنعت کي) ﴿ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ ﴾ خاص همده لره دي هرهغه شيان چې په آسمانونوکي دي اوهرهغه شيان چې په ځمکه کي دي (خلقاًملکاً اوعبيداً) ﴿ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ﴾ او همدی دی ډېر پورته ډېرلوی (منفرد(په کبريا اوعظمت کي) ﴿ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِن فَوۡقِهِنَّۚ ﴾ نژدې دي آسمانونه (تړول دې ته) چې وچوي له پاسه ددوی (له جهته دظهورد کبريااوجلاله درب اوشناعته دهغي ويناچې مشرکين يې کوي اوالله لره ولدثابتوي) ﴿ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ ﴾ اوپرښتي تسبيح وايي سره له حمده درب خپل (دالله تنزيه کوي له هغه څيزڅخه چې ورسره نه ښايي) ﴿ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِمَن فِي ٱلۡأَرۡضِۗ ﴾ اومغفرت غواړي لپاره دهغه چاچې په ځمکه کي دي (له مؤمنانوپه التسهيل کي وايې چې په آيت شريف کي عموم دی اودخصوص اراده ترې کيږي ځکه چې پرښتې يوازي مؤمنانو ته ښښنه اومغفرت غواړي لکه چې بل ځای فرمايي: ﴿ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ (غافر۷)([1]) ﴿ أَلَآ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾واوره! خبردارشه چې بېشکه هم دغه (الله)ښه مغفرت کونکی (دخطيئاتو دبندګانو)ډېررحم والادی (پردوی باندې چې ژرترژره عذاب نه ورکوي سره له دې چې هغوی کفراوګناهونه کوي. قرطبي وايې چې الله جل جلاله په پيل کي دهيبت اوجلال يادونه وکړه اوپه پای کي يې بيادمهرباني اوبشارت لورينه وفرمايله ([2]) ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ ﴾ اوهغه کسان چې نيولي دي دوی بې له دغه (الله نور) دوستان(بتان) په الوهيت سره) ﴿ ٱللَّهُ حَفِيظٌ عَلَيۡهِمۡ ﴾ الله ښه ساتونکی دی (په اعمالواحوالود) دوی (هيڅ شی له الله څخه پټ اوالونيانه دی الله به له دوی سره حساب وکړي) ﴿ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِوَكِيلٖ ﴾ اونه يې ته پردوی وکيل (مسلط کړی شوی چې په زوره يې دايمان راوړلوته اړباسي بلکه ته يوازي وېرونکی يې) ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا ﴾ اوهمداسي (چې هرنبي ته مو وحی کوله) وحی موکړي ده تاته (ای محمده!) عربي قرآن (معجزچې هيڅ التباس پکي نشته ابهام اوغموض نلري) ﴿ لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَا ﴾ دپاره ددې چې ووېروي اهل دمور دښارونو(چې مکه مکرمه ده) اوهغه کسان چې له دې چاپېر (خواوشا) دي امام فخر رازي وايې چې مکې ته يې ځکه دښارونو مور وويله چې شرافت اوتعظيم يې وشي ځکه په مکه کي مقام ابراهيم او بيت الله دي عرب اصل دهرڅيزته دهغه مور وايې داسي ويل کېږي چې دغه قصيده دفلاني شاعر د قصيدوله

([1]) التسهيل لعلوم التنزيل ۴/۱۷

([2]) القرطبي ۱۲/ ۵

امهاتو (مېندو) څخه دی (١) ﴿ وَتُنذِرَ يَوۡمَ ٱلۡجَمۡعِ ﴾ چي وو ېروي خلک له ورځي د جمع کېدلو (هغه هيبتناکه ورځ چي خلک د حساب ورکولو لپاره په يوه ډګر راغونډ ېږي ﴿ لَا رَيۡبَ فِيهِۚ ﴾ هيڅ شک نشته (په راتلو د دغه (قيامت) کي ﴿ فَرِيقٞ فِي ٱلۡجَنَّةِ وَفَرِيقٞ فِي ٱلسَّعِيرِ ﴾ يوه ډله به وي په جنت کي (چي مؤمنان دي) او بله فرقه به وي په دوزخ کي (چي کافران دي) کله چي دوی له حسابه وروسته په أشقياوو او سعداوو ووېشل شي لکه چي الله فرمايي ﴿ فَمِنۡهُمۡ شَقِيّٞ وَسَعِيدٞ ﴾ (هود: ١٠٥) ﴿ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَهُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ ﴾ او که الله اراده فرمايلي وای نو خامخا ګرزولي به يې وو دغه ګرد خلک يو امت (چي اسلامي امت دی) ضحاک وايې چي د يوه دين پلويان هغه که د ضلالت او ګمراهي وای او يا د هدايت پيروان (٢) ﴿ وَلَٰكِن يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ ﴾ وليکن ننی باسي (الله) هر هغه چي اراده وفرمايې په رحمت (جنت) خپل کي (او داچي الله ته معلومه ده چي څوک ضلالت غوره کوي نو بيا هغه دوزخ ته بيايې څکه الله فرمايې:

﴿ وَٱلظَّٰلِمُونَ مَا لَهُم مِّن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ﴾ او ظالمان چي دي نشته دوی ته هيڅوک دوست او نه مرستندوی (چي د الله له عذابه يې وژغوري، ابوحيان وايې چي په آيت شريف کي د رسول الله لپاره تسليت دی چي هغه د خپل قوم له لاسه کړاوونه ګالل او ددې سپيناوی دی چي دغه د سعادت او شقاوت چاري الله ته سپارلي شوي دي چاته چي الله پاک نېکمرغي ليکلي وي الله يې پخپل رحمت کي نغاړی او اسلام راوړي (٣) ﴿ أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۖ ﴾ آيا نيولي دي کفارو پرته له الله (نور بتان دوستان) ؟ استفهام د انکار لپاره دی يعني آيا دوی له دغو بتانو څخه مرسته غواړي او شفاعت ته يې سترګي په لار دي؟

﴿ فَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡوَلِيُّ ﴾ (که دوی حقاني دوست نيسي) پس الله چي دی هم دی دی دوست (په حقه سره) مرستندوی مؤمنانو لره) ﴿ وَهُوَ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ ﴾ او هم دی مړي ژوندي کوي (دغه بتان د هيڅ څېز توان نلري نه ګټه رسولای شي او نه هم زيان دفع کولای شي) ﴿ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴾ او هم دی پر هر څېز باندي قادر دی (په حقيقت کي په دوستۍ نيولو سره الله جل جلاله مستحق دی) ﴿ وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۚ ﴾ او په هغه خبره کي چي جګړه کوی تاسي (ای مؤمنانو له ديني او دنيوي چارونه) پس حکم (فيصله) د هغه (مفوض دی) الله ته (الله د هغه په باب پخپل کتاب او د خپل نبي په سنت کي حکم فرمايلی دی) ﴿ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبِّي ﴾ دغه موصوف پدې صفاتو (مطلق قدير چي په حقه سره حکم کوي) الله دي رب زما، قرطبي وايې چي پدې کي اضمار شته يعني (ای محمده ورته ووايه چي دغه ذات چي مړي ژوندي کوي او د مختلفينو په مينځ کي فيصله کوي دغه زما پروردګار دی) ﴿ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ ﴾ خاص

---

(١) کبير تفسير ٢٧/ ١٤٧
(٢) القرطبي ١٢/ ٦
(٣) البحر المحيط ٧/ ٥٠٩

پرهم ده ماتوکل کړی دی (په ګردوچاروکي) ﴿ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴾ اوخاص هم ده ته رجوع کوم (په ټولومشکلاتو او کړاوونوکي له هغه پرته بل هيڅوک نلرم. امام رازي رحمه الله وايي چي دغه عبارت حصرافاده کوي يعني زه په بل چاتوکل نه کوم مګرپه الله يي کوم بل چاته رجوع نه کوم مګرالله ته يې کوم پدې کي دااشاره هم شته چي څوک پرته له الله بل څوک په دوستي نيسي دغه لاره ناسمه ده[۱])وروسې الله جل جلاله خپل قدسي جليل صفات چي دربوبيت له مظاهرواو آثاروڅخه دي داسي بيانوي:

﴿ فَاطِرُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ (الله) پيداکونکی دی دآسمانونواودځمکي (بې له پخواني مثاله) ﴿ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا ﴾ پيداکړي دي الله (پخپل قدرت) تاسوته له ځانونوستاسي جوړې (له جنسه ستاسي ښځي انساناني) ﴿ وَمِنَ ٱلْأَنْعَٰمِ أَزْوَٰجًا ﴾ اوله چارپايانوجوړې (نراوښځه د اوښانو، غوايانو، پسونو اووزوڅخه) ﴿ يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ ﴾ پيداکوي (زياتوي) تاسي ته په دغه (طريقه دتوالداوتناسل سره (که دغه نرينه او ښځينه مخلوق نه وای نوبه دغه توليداوپيداښت نه وو ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ﴾ نشته په شان د دغه (الله) هيڅ څيز(نه په ذات، نه په صفاتواونه په افعالو کې الله واحداحددی فرد اوصمددی، غرض له دې څخه دالله پاکي بيانول دي چي الله له مخلوق سره مشابه نه دی کاف دنفی دتاکيدلپاره راغلی دی معناداچي: (ليس مثله شئ) ابن قتيبه وايې عرب خلګ مثل دځان پرځای راوړي مثلاوايې: (مثلی لايقال له هذا) معنا يې داچي (لايقال لي هذا) دآيت شريف معناداچي: دالله په شان هيڅ شی هم نه دی[۲] قرطبي وايې هغه څه چي پدې هکله بايد وړباندي عقيده ولرل شي دادی چي الله جل اسمه په خپل عظمت، کبريا، پاچهي اواسماء حسنی کي له هيڅ مخلوق سره مشابه نه دی اونه هيڅوک له ده سره مشابهت لري اوهغه صفات چي په شريعت کي دخالق اومخلوق دواړولپاره راغلي په حقيقي معناکي يې ترمينځ مشابهت نشته ځکه چي دقديم صفات ماسوی له صفاتودحادث څخه دي اودمخلوق صفتونه له اعراضواواغراضوڅخه خالي نه وي اوالله تعالی له دې څخه منزه دی. ځينومحققينوويلي دي چي دتوحيدمعنا اثبات دذات دی چي له ذواتوسره مشابه نه وي اونه هم معطل کونکی دصفاتووي. واسطي پردې وينا باندي دازياته کړي چي وايې: نشته په شان دذات دالله کوم ذات اونشته لکه نوم دده بل نوم اونشته لکه فعل يې بل فعل همدغه دحق دلاري لارويانو اهل سنت اوجماعت تولی عقيده ده[۳]) ﴿ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴾ اوهمدغه (الله) دی ښه اورېدونکی (دټولواقوالو دبندګانو) ښه ليدونکی (په ګردواعمالويې) ﴿ لَهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ خاص دغه الله لره دي کليګاني (دخزانو) دآسمانونواوځمکي (له بارانونو، نباتاتو اوګردو اړتياوو حاجاتوڅخه) ﴿ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ﴾ پراخوي رزق روزي لپاره دهرهغه چاچي اراده وفرمايې اوتنګوي يې (په هغه چاچي اراده

---

(۱) کبيرتفسير ۲۷/ ۱۴۹

(۲) دجمل حاشيه په جلالين باندي ۴/ ۵۵

(۳) قرطبي تفسير ۱۲/ ۸

وفرمايي) څرنګه چي دالهي حکمت غوښتنه وي ﴿ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ﴾ بېشکه دغه(الله) په هرڅېز باندي ښه عالم دی ؛ دغه دپخواني لپاره تعليل دی يعني دالله علم ارت پراخ اوپه ګردوشيانوچاپېردی الله ته ښه معلوم دی چي دبنده لپاره بڼايي ښه ده اوکه فقر ﴿ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحٗا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ﴾ (مقرر کړی بيان کړی دی(الله) تاسي ته له دين څخه هغه چي وصيت (حکم) يې کړی ووهغه سره نوح ته اوهغه څيزچي وحی کړی ووتاته (ای محمده) يعني ای مؤمنانوتاسوته الله جل جلاله هغه ښايسته اوآسانه حنيف دين تاکلی کوم چي دشريعت خاوندانواودانبياوو له مشاهيروڅخه لکه نوح اومحمد عليهما السلام ته ورباندي حکم شوی وو ﴿ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ ﴾ اوهغه څيزچي حکم کړی وو موږ (دالزام په توګه) په هغه سره ابراهيم ته اوموسی ته اوعيسی ته (له شرائعواواحکاموڅخه. صاوي وايې دغه څوتنه پيغمبران يې ځکه ځانګړي يادکړل چي دوی ستر انبياء ,اوالوالعزم دي دمعظموشرائعوخاوندان دي هريوه ددوی ته نوی شريعت ورواوله دوی پرته نورانبياء عليهم السلام هغوی به دپخوانيودشريعتونو دتعقيب او پالني لپاره رااستول کېدو اوتل ترتله به دغه چاره دانبياووپه راتلواودپيغمبرانوپه مبعوث کېدلوپېتنګېدله يوپه بل پسي به راتلويو شريعت وروسته له بل شريعته پس کېدوترڅوچي الله تعالی د ولسونوپه غوره ولس اودامتونوپه چاڼ شوي امت باندي دالړۍ ختم کړه اوخاتم الانبياء محمدرسول الله يې ورته رااستاوو نومعلومه شوه چي زموږ(شريعت دمحمدي امت) شرع هغه څه دي چي دګردو پخوانيوشرائعو داعتقاداتواواحکامو اصول پکي ځای شوي دي نوځکه الله وفرمايل ﴿ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ ﴾ داسي چي قائم کړئ سم ودروئ دين د(توحيد) اومه اچوئ اختلاف په هغه کي ، قرطبي وايې معناداچي دين تل ترتله سم ودروئ په اصولوکي يې خلاف اواختلاف ته لاره مه ورکوئ ځکه چي هيڅ شريعت له بله مختلف نه دی اوهغه توحيد، لمونځ ، روژه ,زکات ,حج اونوردي دغه ټول دمتحده ملت لپاره يودين مقررشوی دی (١)﴿ كَبُرَ عَلَى ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ﴾ درندروند دی په مشرکينوهغه (څيز) چي ته دوی هغه (توحيداوعبادت) ته بولې ﴿ ٱللَّهُ يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ ﴾ (الله راکاږي خپل ځان ته (غوره کوي هغه څوک چي اراده وفرمايې (دغوره کولو يې) يعني الله غوره کوي اوچاڼوي هغه کسان چي غواړي يې له بندګانوخپلو لپاره دايمان او توحيداو لارښوونه کوي دهغه چاچي طاعت عبادت کوي اوحق دين مني الله دوی ته توفيق ور ملګری کوي اوځان ته يې په رحمت اواکرام سره نژدې کوي ﴿ وَمَا تَفَرَّقُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ ﴾ اونه وو سره مختلف شوي (پخواني خلګ په دين خپل کي) مګرپس له هغه چي راغی دوی ته علم (نومختلف شول) يعني دمختلفواديانوخلګ له يهودانو اونصرانيانواونوروڅخه ترهغومختلف نه وومګرهغه وخت چي دلائل اوبراهين ورته ددوی دمرسل نبي

---

(١) دقرطبي تفسير ١٦/١٢

په هکله ښکاره شول بیایې اختلاف وکړ ﴿ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ ﴾ له جهته دحسده پخپل مینځ کې (په ظلم عناداوتعدی سره) ﴿ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ﴾ که چېرې نه وی یوه خبره چې ړومبی ویلې شوې ده له (جانبه) درب ستاترنېټې په نامه کړی شوې پورې (دتاخیردعذاب تروروځې دقیامته) ﴿ لَّقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ ﴾ نوخامخاحکم به کړی شوی ووپه مینځ ددوی کې (په عذاب دکفاروپه دنیا) کې ابن کثیروایې معناداچې که چېرې دالله له لورې پخوادمهلت حکم نه وای شوی چې دبندګانوعذاب دې ترقیامته پورې معطل وي نوبه ژرترژره دوی ته عذاب ورکول شوی وو(۱) ﴿ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُورِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ ﴾ (اوبېشکه هغه کسان چې ورته په میراث ورکړل شوی دی کتاب) یعنې اوبېشکه ځینې هغه اهل کتاب چې درسول الله په زمانه کې اوسېدل وروسته له خپلواسلافوڅخه ﴿ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ﴾ (خامخاپه داسې شک کې دي له دې (کتابه) چې په اضطراب کې اچونکې دي) یعنې دوی له تورات اوانجیل څخه په سخت شک اوحیرت کې دي دوی پخپل دین اوکتاب باورنلري ایکې یوازې دخپلوپلرونو اواسلافوتقلیدکوي کوم علمي سند اوبرهان یې نشته ، بیضاوي وایې معناداچې دوی پخپل کتاب علم نه لري اونه پرې پوهېږي نه یې ورباندې په حقه ایمان راوړی دوی مطلقًا له هغه څخه په شک کې دي(۲) ﴿ فَلِذَٰلِكَ فَٱدۡعُۖ وَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَۖ ﴾ (پس دغه (توحید) ته پس وبوله (ای محمده دغه خلګ) اومحکم ولاړاوسه (پدې دعوت) لکه چې تاته امرحکم کړی شویدی) یعنې ددغې تفرقې اواختلاف له وجهې چې اهل کتاب ورباندې اخته دي تاته موحکم وکړای محمده!چې خلګ اسلامي حنیف دین ته راوبولې هغه دین چې ترتاله مخه ګردوانبیاووته موږ ورباندې حکم کړی وو نوهمغه دین ته بلنه ورکړه اوپه سمه سیخه لاره یې مستقیم اوسه لکه څرنګه چې دې رب درته حکم کړیدی ﴿ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡۖ ﴾ اومکوه متابعت دخواهشاتوددوی یعنې دمشرکانودباطلوخواهشاتومتابعت مکوه کله چې دوی تادتوحیدله دعوت څخه راګرځوي ﴿ وَقُلۡ ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٖۖ ﴾ اووایه (ای محمده! دوی ته) ایمان مې راوړی دی پرهغه چې نازل کړی دی الله له (جنسه دسماوي) کتاب ځخه . امام رازي وایې یعنې ایمان په ټولو آسماني کتابونومې راوړی څکه چې کتابیان پخپل دین کې متفرق دي په ځینویې نه راوړي(۳) ﴿ وَأُمِرۡتُ لِأَعۡدِلَ بَيۡنَكُمُۖ ﴾ اوامرحکم کړی شوی دی ماته چې عدل وکړم ستاسوپه مینځ کې (په حکم کولوکې ابن جزي وایې معنا داچې کله تاسوماته خپل خصومتونه وړاندې کړی ماته ددې حکم شوی چې عادلانه فیصلې

---

(۱) دابن کثیرمختصر ۳/ ۲۷۲

(۲) دبیضاوي تفسیر۲/ ۱۷۳

(۳) کبیرتفسیر۲۷/ ۱۵۸

درته واوروم(١)﴿ ٱللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ﴾ الله رب زموږ اورب ستاسو دی (نو لازم دی چي موږ يې په وحدانيت ومنواوعبادت يې پرخای کړو ﴿ لَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ ﴾ موږ ته ده (جزاء د) اعمالو زموږ او تاسي ته ده (جزاء د) اعمالو ستاسو (که خيروي او که شر نه موږ ته ستاسو نېکي او حسنات ګټه رسوي اونه مو هم سيئات موږ ته تاوان کوي. ابن کثير وايي دغه دبرائت معنا ورکوي لکه چي الله فرمايي: ﴿ وَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل لِّي عَمَلِي وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ أَنتُم بَرِيٓـُٔونَ مِمَّآ أَعْمَلُ وَأَنَا۠ بَرِيٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ (يونس ٤١)(٢)﴿ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ﴾ نشته هيڅ جګړه زموږ او ستاسو په مينځ کي؛ ځکه چي حق ځرګند دی داسي ځرګند لکه چي لمر په تکنده غرمه کي وي خو تاسو عناد او سرغړونه کوی ﴿ ٱللَّهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ﴾ الله به جمع وکړي زموږ او ستاسو ترمينځ (لپاره دفيصلې) او خاص همده ته بيا ورتلل دي (چي هرچا ته په خپل عمل که خيروي او که شر جزاء ورکړي) صاوي وايي چي حق واضح او ځرګند دی دلائل ښکاره دي له عناد ځخه پرته بل هيڅ مانع نشته اوله عناد سره بيا هيڅ دليل او جدال نه ځائېږي الله به ګرد خلګ په قيامت کي سره يو ځای کړي او هرچا ته به پخپلو کړو وړو جزاء ورکړي(٣)﴿ وَٱلَّذِينَ يُحَآجُّونَ فِي ٱللَّهِ ﴾ او هغه کفار چي مخاصمې جګړې کوي په (دين د) الله کي (چي خلګ له ايمانه ځخه را وګرزوي ﴿ مِنۢ بَعْدِ مَا ٱسْتُجِيبَ لَهُۥ ﴾ وروسته له هغه چي قبول والی کړی شوی دی (حکم د) دغه الله ته (او په دين کي يې داخل شوی دی)﴿ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ خصومت حجت د دوی باطل دی په نزد درب ددوی (ثبوت نلري ابن عباس وايي چي دغه دبني اسرائيلو ديوې ډلې په هکله نازل شوی چاچي به خلګ له اسلام ځخه ګرزول او په باطلو دلائلو به يې ګمراه کول(٤)﴿ وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴾ او پردوی غضب دی (دالله) او شته دوی ته عذاب ډېر سخت (په آخرت کي) ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ ﴾ الله هغه (لوی ذات) دی چي نازل کړی يې دی (قرآن) (ټول الهي کتابونه) په حقه سره (ټول احکام اخبار او تشريعات يې په قطعي توګه رښتيا دي ﴿ وَٱلْمِيزَانَ ﴾ او تله يې هم مقرره کړي ده (دعدل او انصاف) دغه دابن عباس وينا ده مفسرين کرام وايي چي عدل ته يې ځکه ميزان وو وايو ځکه چي پر تله باندي عدل او انصاف ځرګندېږي نودلته تسميه دشي ده په نوم دسبب سره ﴿ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ قَرِيبٌ ﴾ او څه شي خبر کړی يې ته (ای مخاطبه!) ښايي چي قيامت دي نژدې وي؟ نو په هوښيار سړي دالازم دي چي له راتلونکې وو ډېرېږي او ځان ورته چمتو کړي. ابو حيان وايي چي دآيت شريف له پخواني

---

(١) التسهيل لعلوم التنزيل ١٩/٤
(٢) مختصر ابن کثير.
(٣) حاشية الصاوي ٣٣/٤
(٤) البحر المحيط ٥١٣/٧

سره د پیوستون وجه داده چې دقیامت ورځ دحساب ورځ ده نولکه چې ویلي یې دي الله تاسو ته دعدل اومساوات کولو امرکړی دی ترپخواله دې چې تاسو ته هغه ورځ راشي کومه چې دحساب ورځ ده اوهلته ستاسواعمال تلل کېږي (۱) ﴿ يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا ﴾ تلواره کوي په راتلودغه (قیامت) هغه کسان چې نه راوړي ایمان په هغه (قیامت) اوداستهزاء په توګه وایي چې کله به وي قیامت؟! ﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا مُشْفِقُونَ مِنْهَا ﴾ اوهغه کسان چې ایمان یې راوړی دی وېرېدونکي دي له دغه (قیامته چې راشي) ﴿ وَيَعْلَمُونَ أَنَّهَا الْحَقُّ ﴾ اوپدې پوهېږي چې بېشکه دغه قیامت حق دی ﴿ أَلَا إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ لَفِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴾ واوره خبردارشه بېشکه هغه کسان چې مخاصمه جګړې کوي په راتللودقیامت کې خامخادوی په ګمراهي لیرې کې دي (له حقه څکه چې دوی دالله دعدل اوحکمت څخه انکارکوي

الله تعالی فرمایي:

﴿ اللَّهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ (۱۹) مَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ (۲۰) أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَن بِهِ اللَّهُ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (۲۱) تَرَى الظَّالِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا كَسَبُوا وَهُوَ وَاقِعٌ بِهِمْ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فِي رَوْضَاتِ الْجَنَّاتِ لَهُم مَّا يَشَاءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ (۲۲) ذَٰلِكَ الَّذِي يُبَشِّرُ اللَّهُ عِبَادَهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ وَمَن يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ (۲۳) أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا فَإِن يَشَإِ اللَّهُ يَخْتِمْ عَلَىٰ قَلْبِكَ وَيَمْحُ اللَّهُ الْبَاطِلَ وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ (۲۴) وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَعْفُو عَنِ السَّيِّئَاتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ (۲۵) وَيَسْتَجِيبُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِ وَالْكَافِرُونَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ (۲۶) ۞ وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَاءُ إِنَّهُ بِعِبَادِهِ خَبِيرٌ بَصِيرٌ (۲۷) وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِن بَعْدِ مَا قَنَطُوا وَيَنشُرُ رَحْمَتَهُ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ (۲۸) وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَابَّةٍ وَهُوَ عَلَىٰ جَمْعِهِمْ إِذَا يَشَاءُ قَدِيرٌ (۲۹) وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ (۳۰) وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ (۳۱) ﴾ الشوری: ۱۹ — ۳۱

---

(۱) پخوانی مرجع .

مناسبت:

کله چي الله تعالی دقيامت يادونه وکړه اوهغه څه يې بيان کړل چي ابرارمؤمنان اوفجار کافران به ورسره مخامخ کېږي نودلته يې ورپسې دازياته کړه چي الله په بندګانو لطف کونکی دی ژرترژره ګناهګارانوته عذاب نه ورکوي سره له دې چي دعذاب مستحق هم وي اوبيايې دمتقيانو وروستی برخه ليک اوهمداسي دمجرمينوبيان وکړ کله چي په آخرت کي به ورسره مخامخ کېږي هلته چي دعدل اوجزاء ځای دی.

لغتونه:

(لطيف) نېکي، نرمي اومهرباني کونکی(حرث الآخرة) حرث په اصل کي په ځمکه کي تخم اچولو ته وايې چي بيامحصولات ورکوي وروسته بيادا عمالوپه ثمراتواونتائجوکي مستعمل شوی دی اواستعاره پکې ده(الفصل) پخوانی فيصله (يقترف) ترسره کوي (روضات) د(روضة) جمع اوهغه هغه ځای ته وايې چي ډېرګلان ، ونې مېوې اومنظرې لري (الغيث) باران ته وايې ځکه يې غيث بولي چي هغه دخلګوپه ښمرښېګنه ورځي (قنطوا) ناهيلي شول (بث) خپاره کړې تيت کړي(معجزين) دالله له عذابه تښتېدونکي

تفسير:

﴿ اللَّهُ لَطِيفٌۢ بِعِبَادِهِۦ ﴾ الله ډېرلطف کونکی ښه مهربان دی په بندګانو خپلو(چي ددوی له ګناهونو سره سره وربانديې داحساناتو، ښېګڼواوخيراتونوباران اوروي . مقاتل وايې چي لطيف په بر اوفاجربانديې دی چي هغوی سره له ګناهونوله لوږې څخه نه هلاکوي ([1])﴿ يَرْزُقُ مَن يَشَآءُ ﴾ (رزق روزي ورکوي (الله) هغه چاته چي اراده وفرمايې) يعني پراخوي رزق دهغه چاچي ورته خوښه يې شي . قرطبي وايې داچي چاته ډېرمال دولت ورکوي پدې کي حکمت دی ترڅوچي ځيني، ځيني نوروته اړوي اوترڅوچي بدای په فقير و ازمويې اوفقيرپه بدای وازمويې لکه چي الله تعالی فرمايې ﴿ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً أَتَصْبِرُونَ ۗ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا ﴾ (الفرقان۲۰)﴿ وَهُوَ ٱلْقَوِىُّ ﴾ اوهم دی قوي زورور زبردست (قادرپه هرڅه دی) ﴿ ٱلْعَزِيزُ ﴾ ډېرغالب دی (چي څوک وربانديې غلبه موندلای نشي، وروسته څرنګه چي وېې فرمايل الله ډېر لطف کونکی په بندګانودی اوډېراحسان ورکونکی دی نودې ته اشاره ده چي پردوی بانديې لازم دي چي انسانان څوچي پدغه ژوندکې وي دنېکمرغي داسبابواوخيرښېګڼي لاري ولټوي ويې فرمايل: ﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ ٱلْـَٔاخِرَةِ نَزِدْ لَهُۥ فِى حَرْثِهِۦ ﴾ هرڅوک چي اراده لري (په عمل سره ثواب) کښت دآخرت نوزيادت کووده ته په کښت دده کي (چي حسنات يې مضاعف کوو) ﴿ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ ٱلدُّنْيَا نُؤْتِهِۦ مِنْهَا ﴾ (اوهرڅوک چي وي دی اراده لري (په عمل سره متاع) کښت ددنيانو وربه يې کړو ده ته له هغه څخه) يعني اوهرڅوک چي په خپل عمل سره يوازي دژوندانه متاع او نعمت غواړي

([1]) تفسير القرطبي ۱۲/ ۱۸

نوخیني له هغه چي ده ته مقدر دی وربه یې کړو ﴿ وَمَا لَهُۥ فِى ٱلۡـَٔاخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ﴾ اونه به وي ده ته په آخرت کي هیڅ برخه (له ثوابه اونعمته څخه) زمخشري وایې چي هغه عمل یې چي عامل یې دګټي ترلاسه کولو لپاره کوي حرث وباله اوپدې کي مجازدی اوددې ترمینځ یې توپیرهسي وکړڅوک چي دآخرت لپاره عمل کوي نېکي اوحسنات به یې څوچنده شي او څوک چي یې ددنیالپاره عمل کوي هغه ته به یوڅه خني ورکړی شي نه ګردهغه چي دی یې غواړي (۱) اوپه التسهیل کي وایې دآخرت کښت عبارت دی له عمل کولولپاره دآخرت اوهمداسي ددنیاکښت اودغه دځمکي له کروندې څخه استعاره شوی څکه چي کروندګرکله چي کرونده وکري دخپل زیار دمحصول اوګټي انتظارکوي (۲) ورپسي الله دکفارو عبادت چي غیرالله ته یې کوي داسي غندي فرمایې: ﴿ أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَـٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ ﴾ (آیادي دوی لره شریکان چي سازکړي دوی لپاره هغوی ته له دینه هغه (څیز) چي حکم ندی کړی په هغه سره (الله) استفهام دتقریر اوتوبیخ لپاره دی یعني آیاددغوکفارولپاره له شیطانانواوبتانوڅخه شریکان شته چي دوی ته یې دشرک اوعصیان هغه لاري چاري جوړي کړي چي الله وربانديامرنه دی کړی؟ شیخ زاده وایې چي د تشریع نسبت بتانو ته مجازي دی اودغه نسبت دفعل سبب ته دي اودغه یې دین دمشاکلت په توګه ونوماوو اوپدې کي تهکم دی(۱) ﴿ وَلَوۡلَا كَلِمَةُ ٱلۡفَصۡلِ لَقُضِىَ بَيۡنَهُمۡۗ ﴾ اوکه چېري نه وای (ویلي شوي) خبره دفیصلې (په ازل کي) (دتأخیردعذاب) نوخامخا حکم به کړی شوی ووپه مینځ ددغو (کفاروا ومؤمنانو) کي (په ورکولودعذاب ظالمانو او ورکولود ثواب مؤمنانوته ژرترژره ﴿ وَإِنَّ ٱلظَّـٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ (اوبېشکه ظالمان چي دي شته دوی ته عذاب دېردردونکی) یعني کفارو هغوکسانوته چي په خپل ځان یې په کفراوعصیان ظلم کړی وي هغوی لره دردناک عذاب دی. ﴿ تَرَى ٱلظَّـٰلِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا كَسَبُواْ ﴾ وبه وینې ته په قیامت کي ظالمان وېرېدونکي له جهته (دجزآء) دهغو(بدیو) چي کړي یې دي (په دنیاکي) ﴿ وَهُوَ وَاقِعُۢ بِهِمۡۗ ﴾ خامخاچي جزابه پر دوی پرېوتونکي وي (که وېرېږي اوکه نه) ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ فِى رَوۡضَاتِ ٱلۡجَنَّاتِۖ ﴾ اوهغه کسان چي ایمان یې راوړی دی اوکړي یې دي ښه عملونه په (خورابنو) باغونود جنت کي به وي (په لوړو ماڼیوکي به اوسي) ﴿ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمۡۚ ﴾ وي به دوی ته (په نزد درب ددوی هغه نعمتونه چي ددوی خوښ وي ابن کثیر وایې چي دغه اوهغه څومره زیات توپیرلري؟ هغه ظالمان کسان خوراپه ذلت ، هوان کي اوهغه مؤمنان چي په باغچودجنان کي دي اوټول خوندونه دخوراک، څښاک نعمتونه یې په واک کي وي څکه الله فرمایې ﴿ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ ﴾ دغه (مذکور کرامت) همدغه دی فضل دېرلوی (چي هیڅ څیزورسره نه پرتله کېږي) قرطبي وایې معناداچي داسي

(۱) حاشیة البیضاوي ۳/ ۳۷۵
۲ مختصر ابن کثیر ۳-۳۷۵

فضل دی چي ستاينه يې امکان نلري اونه يې دصفت داندازې تاکنه عقل کولای شي کله چې يې الله (کبير) بولی نو څوک يې اندازه کولای شي ؟([1]) ﴿ ذَٰلِكَ ٱلَّذِى يُبَشِّرُ ٱللَّهُ عِبَادَهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ دغه (ثواب) هغه دی چي الله زيری کوي(په هغه سره) په هغو بندګانو چي ايمان يې راوړی دی او کړی يې دي ښه (عملونه متقيان دي ترڅوېې خوښي زياته اودلقاء شوق يې بشپړشي ﴿ قُل لَّآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًا إِلَّا ٱلۡمَوَدَّةَ فِى ٱلۡقُرۡبَىٰ ﴾ (ووايه (ای محمده دوی ته!) چي نه غواړم په دغه (پيغام رسولو) اجر(مزدوري) ليکن دوستي غواړم په قرابت خپلوي کي) يعني ای پيغمبره دوی ته ووايه چي زه په دغه تبليغ درسالت له تاسوڅخه مزدوري نه غواړم چي مال راکړئ بلکه داهيله لرم چي دخپلوي خاطرمي وساتئ اوتکليف رانکړئ څوچي خپل رسالت په ښه توګه ابلاغ کړم. ابن کثيروايې چي زه په دغه تبليغ اونصيحت باندي له تاسي څخه دمال دولت غوښتنه نه کوم خوداغواړم چي تاسوموقع راکړئ ترڅودالله رسالت ورسوم اوماته په لحاظ دخپلوي لرلوتکليف مه راکوئ([2])عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وايې: معناداچي له تاسودبل څه انتظار نلرم يوازي داچي زمااوستاسوترمينځ چي کومه خپلوي (قرابت) شته هغه وپالئ اوماته تکليف مه راکوئ ﴿ وَمَن يَقۡتَرِفۡ حَسَنَةً نَّزِدۡ لَهُۥ فِيهَا حُسۡنًا ﴾ اوهرڅوک چي وکړي نېک کارونه زيادت به کړو مونږ ده ته په هغه نېک کار کي ښايست (ثواب به يې مضاعف کړو) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴾ (بېشکه الله ښه مغفرت کونکی (دمعصيت) ښه قبلونکی دطاعت دی) يعني الله دګناهکارانو معصيت ښښي اودمحسنانو داحسان قدرداني کوي د هغه په نزد دهيڅ عمل نه ضائع کېږي ځکه نوده ګناهونه هم ښښي اولږنېکي هم څوچنده کوي ﴿ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ﴾ آيا وايې (داکفار) چي له خپله ځانه تړلي دي (محمد) پرالله دروغ؟ (چي قرآن يې له خپله ځانه جوړکړي؟. ابوحيان وايې چي استفهام مشرکانوته دانکاراوتوبيخ لپاره دی چي څرنګه داسي وايا ست ؟ يعني داسي سړی خوله دي سره نه ښايې چي ددروغوتور ورباندي ولګول شي تاسوخودهغه په رښتنولي اوامانت اعتراف کوی !([3]) ﴿ فَإِن يَشَإِ ٱللَّهُ يَخۡتِمۡ عَلَىٰ قَلۡبِكَ ﴾ (که اراده وفرمايې الله نومهربه کېږدي په زړه ستا) يعني که چېري داسي وي لکه چي دوی تور لګوي چي ته په الله دروغ تړې نوالله به ستاپه زړه مهرکېښولی وو ترڅوچي قرآن دي هېرشي خوتاافتراء نه ده کړي ځکه الله مرسته درسره کوي) ابن کثيروايې ددغه هسي مثال دی لکه چي الله فرمايې: ﴿ وَلَوۡ تَقَوَّلَ عَلَيۡنَا بَعۡضَ ٱلۡأَقَاوِيلِ لَأَخَذۡنَا مِنۡهُ بِٱلۡيَمِينِ ثُمَّ لَقَطَعۡنَا مِنۡهُ ٱلۡوَتِينَ ﴾ (الحاقة: ٤٤- ٤٦) ابوالسعودوايې چي په آيت شريف کي ددې استشهاددی چي: ددوی ويناباطله ده ځکه که چېري (محمدصلی الله عليه وسلم) په الله دروغ تړلای نوله دې څخه به يې قطعًامنع کړی ووپه زړه به يې مهر لګولی ووچي هيڅ معناله معانيوڅخه يې په زړه نه پاتي کېدای اونه يې په يوه توري له توروڅخه ګړېدلای شوای

([1]) تفسيرالقرطبي ١٦/ ٢٠
([2]) دابن کثيرمختصر ٣/ ٢٧٥
([3]) البحرالمحيط ٧/ ٥١٢

(١)﴿ وَيَمْحُ اللَّهُ الْبَاطِلَ ﴾ اومحوه کوي الله باطل (په بشپړه توګه) ﴿ وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ ﴾ اوثابتوي حق په خپلو کلماتوسره (چي منزل کلام اومبرم قضاء ده . ابن کثيروايي چي د (کلماته) معنا حجج اوبراهين دي ﴿ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴾ بېشکه دغه (الله) ښه عالم دی په خبرود سينود (زړونو) باندي هم . قرطبي وايي مقصد داچي که ته له ځانه سره هم داسي جوړه کړې چي په الله افتراء وکړې نوالله ته معلومه ده په زړه به دي مهرولګوي (٢)﴿ وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ ﴾ (اوالله هغه (مهربان ذات) دی چي قبلوي توبه له بندګانو خپلو) دغه دالله له لوري يوډول امتنان دی چي پخپل فضل اوکرم سره دبندګانوتوبه مني کله چي له ګناه څخه لاس واخلي اوپه رښتوني نيت اواخلاص توبه ګارشي ﴿ وَيَعْفُوا عَنِ السَّيِّئَاتِ ﴾ او عفو کوي له بدوکارونو (يعني دصغيره اوکبيره ګناهونوبښنه کوي هرچاته چي يې اراده شي ﴿ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴾ او ورمعلوم دی هرهغه کارچي تاسي يې کوی (له خيراوشرڅخه) ﴿ وَيَسْتَجِيبُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ﴾ اوقبلوي الله (دعاء) دهغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی اوکړي يې دي ښه (عملونه) امام رازي وايي چي دلته لام حذف شوی دی اصل يې داچي: (ويستجيب للذين آمنوا) او ددې مثال هغسي دی لکه چي الله فرمايي: ﴿ وَإِذَا كَالُوهُمْ ﴾ (المطففين٣) چي په اصل کي (کالوا لهم) وو ﴿ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِ ﴾ اوزيادت کوي دوی ته له مهرباني خپلي (زيات له هغه چي دوی غوښتي وي اوزيات له هغه چي دوی يې مستحق وي ځکه الله جواد ، براوکريم دی ﴿ وَالْكَافِرُونَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴾ اوکافران چي دي شته دوی ته عذاب ډېرسخت (ددوزخ) ﴿ وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ ﴾ اوکه چېري الله ارته (پراخه) کړي وي روزي لپاره دټولوبندګانو خپلو نوخامخاسرکښي به کړي وه دوی په ځمکه کي (په فسادخپرولوګناهونوکولوسره ځکه چي بډايي دطغيان اوسرکښي موجب ګرزي . ابن کثيروايي معناداچي که چېري الله جل جلاله ددوی له اړتيازيات څه ورکړي وای نوبه يې دوی سرغړوني اوبغاوت ته اړايستلي وو اوځينوبه په ځينو نورو باندي تکبرکاوو. قتاده وايي بهترينه روزي هغه ده چي تاخوندي ساتي اوطغيان ته دي نه راکاږي (٣)﴿ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَاءُ ﴾ وليکن نازلوي (روزي الله دوی ته) په هغي اندازې سره چي اراده وفرمايي (اودحکمت اومصلحت مقتضاوي لکه چي په قدسي حديث شريف کي راغلي: بېشکه ځيني له بندګانوزماهغه دي چي له بډايي پرته بل څه ورسره نه ښايي که چېري يې زه مسکين کړم نودهغه دين به مي ورباندي له مينځه وړی وي اوبېشکه ځيني له بندګانوزماهغه څوک دي چي له مسکنته اوفقره پرته بل څه ورسره وړنه دي اوکه چېري هغه ته پراخ رزق

---

(١) دابوالسعود تفسير ٣٤/٥
(٢) دقرطبي تفسير ٢٥/١٢
(٣) دابن کثيرمختصر ٢٧٦/٣

ورکړم نودين به بې له مينځه لاړشي([1]) ﴿ إِنَّهُۥ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ بَصِيرٌ ﴾ (بېشکه الله پخپلو بندگانو ښه خبردار دی ښه ليدونکی دی) يعني ددوی په احوالو او مصالحو پوهېدونکی دی چاته يې ورکوي او له چاڅخه يې منع کوي چاته روزي پراخوي چاته يې تنگوي هغسي سم چي دالله د حکمت غوښتنه وي ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى يُنَزِّلُ ٱلْغَيْثَ مِنۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوا۟ ﴾ او الله هغه لوی ذات دی چي اوروي باران وروسته له هغه چي نااميده شي (خلک له اورښته) ﴿ وَيَنشُرُ رَحْمَتَهُۥ ﴾ او غوړوي خوروي رحمت (باران) خپل (په ټولو ځايونو کي په بندگانو خپلو) ﴿ وَهُوَ ٱلْوَلِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴾ او همدی دی کارساز د هر ستايلی شوی (ثناويل شوی) په هره ژبه ځکه چي گردو ته يې نعمتونه ورکړي دي ﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ او ځيني له دلائلو (د قدرت) د الله پيداکول د آسمانونو او د ځمکي (په دغه بديع شکل سره) دی ﴿ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَآبَّةٍ ﴾ او پيداکول د هغو اشياوو دی چي خواره کړي يې په آسمانونو او ځمکه کي له خوځېدونکو (مخلوقاتو ابن کثير وايې چي دغه پرښتو، پېريانو، انسانانو او ټولو حيواناتو ته شامل دی چي مختلف شکلونه، رنگونه، جنسونه او انوع لري ([2]) مجاهد وايې معنايې انسانان او پرښتې دي ﴿ وَهُوَ عَلَىٰ جَمْعِهِمْ إِذَا يَشَآءُ قَدِيرٌ ﴾ او دغه (الله) په جمع کولو ددوی (محشرته) هر کله چي اراده وفرمايي ښه قادر دی ﴿ وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ ﴾ او هغه څه چي رسېږي تاسي ته (ای مؤمنانو) له کوم مصيبت پس (له شامته) د هغو اعمالو دی چي ستاسو لاسونو کړي دي. جلال وايې چي تعبيريې په لاسونو وفرمايو ځکه چي د هر کارونه په لاسونو تر سره کېږي ([3]) ﴿ وَيَعْفُوا۟ عَن كَثِيرٍ ﴾ او عفوه کوي الله له ډېرو گناهونو جزا ورباندي نه درکوي که په گردو گناهونو يې ستاسي مؤاخذه کولای نو هلاک شوي به وای په حديث شريف کي راغي چي: بنيادم ته هيڅ تکليف نه رسېږي لکه د اغزي جگېدل، پښه ښوئېدل او درگونو اوښتل مگر دده دگناه په سبب وي او هغه گناهونه چي الله يې عفوه کوي خوراډېر دي ([4]) ﴿ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ (او نه يی تاسي عاجزکونکي د الله (ای مشرکانو په انفاذ د احکامو خپلو سره) په ځمکه کي) يعني او ای مشرکانو تاسو د الله له قضاء او عذابه څخه په ټوله ځمکه کي تښتېدونکي او خلاصېدونکي نه ياست ﴿ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴾ او نشته تاسي ته غيرله الله هيڅوک ولي، دوست کارجوړونکی او نه مددکونکی (چي د الله عذاب او انتقام درڅخه دفع کړي.

([1]) همداسي ابن کثير له انس رضی الله عنه څخه مرفوع روايت کړی دی.

([2]) د ابن کثير مختصر ٣ / ٢٧٨

([3]) د جلالين تفسير ٤ / ٣٨

([4]) البحر المحيط ابن کثير دغه حديث مرسل بولي چي ابي حاتم له حسن څخه روايت کړی دی.

فائده:
کوم مصیبتونه چي خلکوته رسېږي هغه دګناهونو درژولولپاره وي اوچي انبیاوعلیهم السلام ته رسېږي نو دهغوی ددرجاتو دلوړولولپاره وي ځکه دوی له ګناهونو څخه معصوم دي.

تنبیه:
ځيني علماء وايي چي داليري نه دی چي په سیاراتواوعلوي عالم کي پرته له ملائکودی نور مخلوقات هم شتون ولري چي دځمکني مخلوقاتوسره دي مشابه وي اوداسي حیوانات دي پکي وي چي له دغوحیواناتوسره ورته وي لکه دافلاکودلائل اونښي نښانې چي ښیي چي په مریخ کي دي ژوندوي اوپه دې آیت شریف یې استدلال کړی چي ﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَآبَّةٍ ﴾ دآیت ترپایه پوري. زه وایم چي احتمال لري په دې ارته فضاء کي دي له انسانه پرته نورژوندي مخلوقات وي مګردانسان په هکله قطعي باوردادی چي پرته له دغي ځمکني کرې بل ځای نشته چي الله فرمايي

﴿ قَالَ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ ﴾ (الاعراف ۲۵).

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلْجَوَارِ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَٰمِ ﴿٣٢﴾ إِن يَشَأْ يُسْكِنِ ٱلرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ
شَكُورٍ ﴿٣٣﴾ أَوْ يُوبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوا۟ وَيَعْفُ عَن كَثِيرٍ ﴿٣٤﴾ وَيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴿٣٥﴾ فَمَآ أُوتِيتُم
مِّن شَىْءٍ فَمَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٣٦﴾ وَٱلَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلْإِثْمِ
وَٱلْفَوَٰحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا۟ هُمْ يَغْفِرُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ
﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَابَهُمُ ٱلْبَغْىُ هُمْ يَنتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾ وَجَزَٰٓؤُا۟ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۖ فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾ وَلَمَنِ ٱنتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهِۦ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَا عَلَيْهِم مِّن سَبِيلٍ ﴿٤١﴾ إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَظْلِمُونَ ٱلنَّاسَ وَيَبْغُونَ فِى
ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴿٤٣﴾ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ
فَمَا لَهُۥ مِن وَلِىٍّ مِّنۢ بَعْدِهِۦ ۗ وَتَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ يَقُولُونَ هَلْ إِلَىٰ مَرَدٍّ مِّن سَبِيلٍ ﴿٤٤﴾ وَتَرَىٰهُمْ يُعْرَضُونَ
عَلَيْهَا خَٰشِعِينَ مِنَ ٱلذُّلِّ يَنظُرُونَ مِن طَرْفٍ خَفِىٍّ ۗ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّ ٱلْخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ
وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ أَلَآ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ فِى عَذَابٍ مُّقِيمٍ ﴿٤٥﴾ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنْ أَوْلِيَآءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۗ
وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن سَبِيلٍ ﴿٤٦﴾ ٱسْتَجِيبُوا۟ لِرَبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ۚ مَا لَكُم مِّن مَّلْجَإٍ
يَوْمَئِذٍ وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٍ ﴿٤٧﴾ فَإِنْ أَعْرَضُوا۟ فَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ إِنْ عَلَيْكَ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ۗ وَإِنَّآ إِذَآ أَذَقْنَا

ٱلْإِنسَـٰنَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَإِنَّ ٱلْإِنسَـٰنَ كَفُورٌ ﴿٤٨﴾ لِّلَّهِ مُلْكُ
ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَـٰثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ﴿٤٩﴾ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَـٰثًا ۖ
وَيَجْعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيمًا ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾ ۞ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَآئِ حِجَابٍ أَوْ
يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِىَ بِإِذْنِهِۦ مَا يَشَآءُ ۚ إِنَّهُۥ عَلِىٌّ حَكِيمٌ ﴿٥١﴾ وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنتَ تَدْرِى مَا
ٱلْكِتَـٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَـٰنُ وَلَـٰكِن جَعَلْنَـٰهُ نُورًا نَّهْدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾ صِرَٰطِ ٱللَّهِ
ٱلَّذِى لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلْأُمُورُ ﴿٥٣﴾ ﴾ الشورى: ٣٢ ــ ٥٣

مناسبت:

کله چي الله پخپل وحدانيت باندی دځمکي، آسمان پيدا ينبت او په هغوکي د بېشمېره مخلوقاتو په پيدا کولو او خپرولو ځيني دلائل ياد کړل ورپسې يې ديو بل دليل چې د قادر حکيم ذات الله تعالی په وجود شاهدي ورکوي راوړ چي هغه غټې کښتۍ (بېړۍ) دي چي غرونو ته په لوی والي او پلن والي کي ورته دي دالله په قدرت سره داوبو په سر د رومي او خورادرانه بارونه, خوراکي توکي او رزق روزي يې بار کړي دي په پای کي سورت دوحی په اثبات او د قرآن په رښتنولي پای ته رسېږي.

لغتونه:

(الجوار) د جارية جمع او بېړۍ ته وايي ځکه يې جارية بولي چي په اوبو کي روانه وي (كالأعلام) د علم جمع او هغه ستر او چت غره ته وايي (رواكد) د راكد جمع او ولاړ ته وايي (محيص) د خلاصون او تېښتي ځای (يوبقهن له (اوبق) ځخه اخيستل شوی او هلاکولو ته وايي (الفواحش) د فاحشة جمع دی او هغه څه ته ويل کېږي چي په بدي او قبح کي ورو ستني سرحد ته رسېدلی وي لکه زنا، قتل، شرک او نور (نكير) هغه منکر ګڼونکی د نازلېدونکي عذاب (عقيمًا) له عقم ځخه اخيستل شوی او شنډوالي ته وايي.

تفسير:

﴿ وَمِنْ ءَايَـٰتِهِ ٱلْجَوَارِ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَـٰمِ ﴾ او ځيني له دلائلو (د قدرت د الله روان جهازونه په بحر سيند کي په شان دغرونو (په لويوالي کي) ﴿ إِن يَشَأْ يُسْكِنِ ٱلرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِۦٓ ﴾ که اراده وفرمايي (الله) نو وبه دروي دغه باد (خوځونکی) پس وبه ګرزي (دغه جهازونه) ولاړ په شا د دغه بحر (چي له ځايه به حرکت نه کوي) ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَـٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴾ بېشکه په دغه (حرکت د بېړيو) کي خامخا لوی دلائل (د قدرت) دي دپاره د هر صبر کونکي (په کړاوونو، مصيبت) شکر کونکي (په نعمت، سوکالي کي) صاوي وايي معنا دا چي په مصيبتونو د هر صبر کونکی او په نعمتونو د هر شکر کونکی وي[1] ابو حيان وايي دا چي په بحر کي يې د بېړيو يادونه وفرمايله ځکه چي پدې کي خورا ستر د قدرت دلائل شته په دې چي اوبه نرۍ او شفاف جسم دی چي درون د ځېرکي د وبېړې او بېړۍ پداسي حال کي چي درانه بارونه

---

[1] حاشية الصاوی ۳۹-۴

پکي باروي اوستراجسام لري الله تعالى په اوبو کي داځواک ايښی دی چي له ډوبېدلو څخه يې ژغوري اوبيايې بادونه دهغوی دروانولواوبهولولپاره سبب پيداکړي دي اوکله چي الله پاک وغواړي هغه ودروي نوبادونه کرار کړي بيابېړۍ له ځايه هم نه خوځېږي (۱)﴿ أَوْ يُوبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوا ﴾ (يابه هلاک (ډوب) کړي دغه (جهازونه) په سبب دهغوګناهونوچي کړي دي (راکبينويې) يعني که الله اراده وفرمايې دغه بادونه به توپاني کړي اوبېړۍ به ډوبي کړي سره له سپرليوپه سبب دګناهونوددوی ﴿ وَيَعْفُ عَن كَثِيرٍ ﴾ اوعفو کوی (الله) له ډيرو(ګناهونو څخه يې نه غرقوی) ﴿ وَيَعْلَمَ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِنَا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴾ اوچي پوه شي هغه کسان چي مجادلې جګړې کوي په آيتونوزموږکي چي نشته دوی ته هيڅ ځای دخلاصېدلو (له عذابه دالله څخه. قرطبي وايې معناداچي: کفارپه دې وپوهېږي کله چي يې ددرياب په مينځ کي طوفاني بادونه ګردچاپېرشي چي دالله ـ له عذابه دخلاصېدلواوتښتېدلو ځای هېڅ ونشته اوداسي دفع کونکی هم نه ويني چي دالله له عذابه يې وژغوري نوبه يوازي همدغه الله ته عبادت کوي(۲)﴿ فَمَا أُوتِيتُم مِّن شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ﴾ پس هغه چي درکړی شوی دی تاسي ته (ای مخاطبانو) له څه شيزه (لکه دنيوي اسباب) متاع دژوندددنيا دي (چي زائلېږي څه موده تاسي ورباندي خونداخلی)﴿ وَمَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴾ اوهغه ثواب چي د الله په نزدخيرغوره او ډېرباقي (تلپاتي) دی (نوتاسي فاني دنياته په باقي ترجيح مه ورکوئ) ﴿ لِلَّذِينَ آمَنُوا ﴾ دپاره دهغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی (اوددنيا نعمتونوته يې شاکري ده) ﴿ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ او(خاص) پخپل رب باندي توکل کوي (په ګردوچاروکي) ﴿ وَالَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ ﴾ او (دپاره د) هغوکسانوچي ځان ساتي دوی له غټوګناهونو څخه (لکه شرک، قتل اوعقوق دوالدينو) ﴿ وَالْفَوَاحِشَ ﴾ اونوروقبائحونه. ابن عباس وايې دفواحش معنازناوې دی ﴿ وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ ﴾ او هرکله چي په غضب شي هم دوی ښښنه کوي. صاوي وايې له مکارم الاخلاق څخه يودادی چي دغضب په وخت کي سړی حلم اوزغم خپل کړي لاکن پدې شرط چي دمېړاني برخلاف نه وي اونه هم کله چي ددينې واجباتواوحرماتوهتک اوپايمالي وشي نوپه دې وخت کي بايد له غضب څخه کار واخيستلی شي دحلم اوزغم مظاهره کول سم نه دي. امام شافعي رحمه الله وايې: (څوک چي په همداسي چارو کي غضب ته وهخول شي خوبياهم غضب نکوي هغه بوده دی) اوشاعروايې: چي دځوان زغم اوصبرپرته له خپله ځايه جهل اوناپوهي ده(۳)﴿ وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ ﴾ (او(دپاره) دهغوکسانوچي اجابت کوي (داحکامو) درب ددوی) يعني هغوی چي درب بلني ته لکه توحيداوعبادت لبيک وايې بيضاوي ليکي:چي دغه

---

(۱) البحرالمحيط ۵۲۰/۷

(۲) القرطبي ۳۳/۱۲

(۳) حاشية الصاوي على الجلالين ۴۰/۴

دانصارو رضوان الله علیهم په باب نازل شوی دی کله چي رسول الله ﷺ دوی ایمان ته راوبلل هغوی یې اجابت وکړ([1]) ﴿ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ اوسم دروي (اداکوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ (پخپلو وختونو کي سره له شروطو اوآدابویې ﴿ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ ﴾ اوکاردوی په مشوره سره وي په مینځ ددوی کي (تلواره نه کوي) ﴿ وَمِمَّا رَزَقْنَـٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴾ اوځیني دهغوشیانوچي موږدوی ته ورکړي نفقه کوي یې (په لاره دالله کي په نیکی سره یې دالله مخلوق ته ورکوي) ﴿ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَابَهُمُ ٱلْبَغْىُ هُمْ يَنتَصِرُونَ ﴾ او(لپاره د) هغوکسانوکله چي ورسېږي دوی ته ظلم تعدی(دکفاروله لوري) نودوی انتقام اخلي (له متجاوزینواستعمارګرانو څخه (نه ورته تسلمېږي) ابراهیم نخعي رحمه الله وایي مؤمنانوله دې څخه کرکه کوله چي ځان سپکتاني ته ورکړي اوفاسقان ورباندي زړه ورشي ([2]) ابوالسعودوایې چي دغه دمؤمنانودزړورتیااوغښتلتوب صفت دی چي وروسته له نورو اوصافو یې راوړی دی اودغه له ببښني سره منافي نه دئ څکه چي هریوپخپل ځای کي ستایلی شوی دی([3]) ﴿ وَجَزَٰٓؤُا۟ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ﴾ اوجزاء دبدکاربدکاردی په شان دهغه (نه زیات) امام رازي رحمه الله وایې: کله چي الله وفرمایل: ﴿ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَابَهُمُ ٱلْبَغْىُ هُمْ يَنتَصِرُونَ ﴾ نو ورپسې یې زیاته کړه چي کسات اخیستل بایدهغه تجاوزپه مثل وي زیات نه وي اوسیئة چي یې وبلله له دې جهته چي چاته ورسېږي هغه یې بدکنې ([4]) ﴿ فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ﴾ (پس هرچاچي عفوه وکړه اوسوله یې وکړه پس اجردده پرالله دی) یعني چاچي ظالم ته عفوه وکړه اودځان اوهغه ترمینځ یې صلح وکړه الله به په دې ورته ستراجرورکړي ابن کثیروایې چي الله تعالی په عدل سره قصاص رواکړی دی اوفضل یې مستحب فرمایلی دی چي هغه عفوه دی نوڅوک چي عفووکړي الله یې دغه عفوه نه ضائع کوي اواجر ورکوي لکه چي په حدیث شریف کي راځي(ومازادالله تعالی عبدابعفو الاعزا) ([5])الله تعالی بنده ته په ببښنه (عفو) سره عزت ورزیاتوي ﴿ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴾ بېشکه الله ظالمان نه خوښوي (بلکه الله ﷻ له هغوسره چي په ظلم شروع کونکي وي بغض اوکرکه لري) ﴿ وَلَمَنِ ٱنتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهِۦ ﴾ اوخامخاهغه څوک چي واخلي حق خپل پس له مظلوم کېدلودده ﴿ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ مَا عَلَيْهِم مِّن سَبِيلٍ ﴾ پس دغه کسان (چي خپل حق یې اخیستی دی) نشته پردوی هیڅ لیاره (دملامتیااومؤاخذې څکه دوی خپل رواکسات اخیستی دی) ﴿ إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَظْلِمُونَ ٱلنَّاسَ ﴾ بېشکه همدا خبره ده چي لاره د(معاتبت) په هغوکسانوده چي (ابتدآء په) ظلم کوي په خلکو باندي (تجاوزېږي کوي) ﴿ وَيَبْغُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ

([1]) دبیضاوي تفسیر ۲ /۱۷۵
([2]) القرطبي ۱۲/ ۳۹
([3]) ابوالسعود ۵ /۳۲
([4]) دابن کثیر مختصر ۳ /۲۸۰
([5]) دصاوي حاشیة ۴ /۴۱

﴿الْحَقِّ﴾ اوسرکښي تجاوزکوي په ځمکه کي په ناحقه سره ، په تکبراوجبروت باندي فسادګناوي کوي اودخلګوپه ځان اومال باندي تېرى اوتعدى کوي ﴿أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ دغه (ظالمان)شته دوى ته عذاب دردناک (په سبب دظلم اوتجاوزددوى) ﴿وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ﴾ اوخامخا هغه څوک چي صبروکړي (په ظلم اوآزاراودالله له وجي کسات نه اخلي) اوبښنه يې وکړه ، ببشکه دغه (صبر، غفران اوعفوه) خامخاله عزم الاموراوغوره کارونوڅخه ده (کوم چي الله جل جلاله يې ماربښنه کړي او ورباندي تاکيدېي فرمايلى دى . صاوي وايې صبرېي داهتمام اوترغيب لپاره مکرر راوړى دى اوداچي وښيي دصبرآخره خاتمه (عاقبت)ستايلى شوى (محمود) دى[١] ﴿وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن وَلِيٍّ مِّن بَعْدِهِ﴾ اوهرهغه څوک چي الله يې ګمراه کړي پس نشته ده ته هيڅوک ولي دوست کار جوړونکى وروسته له(ګمراه کولود)الله نه (چي حق ته يې لاربښوونه وکړي) ﴿وَتَرَى الظَّالِمِينَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ﴾ او وينې به ته ظالمان (کافران) هرکله چي ووينې دوى عذاب ددوزخ (په ورځ دقيامت کي) ﴿يَقُولُونَ هَلْ إِلَىٰ مَرَدٍّ مِّن سَبِيلٍ﴾ وايې به دوى آيا شته بيرته تللو(ددنياته) کومه لاره ؟(چي بيرته دمافات تدارک وکړو) قرطبي وايې دوى به غواړي چي دنياته ستانه شي ترڅودالله طاعت وکړي خوخبره به يې نه اوربدل کېږي[٢] ﴿وَتَرَاهُمْ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا﴾ او وينې به ته دوى چي وړاندي کولاى به شي په دغه اور ﴿خَاشِعِينَ مِنَ الذُّلِّ﴾ چي وېرېدونکي به وي له خواري (اهانته) ﴿يَنظُرُونَ مِن طَرْفٍ خَفِيٍّ﴾ ګوري به دوى(دغه اورته) په پټي کتني (له ډېره هيبته به دسترګوترکو نجانوورته ګوري لکه چي يوڅوک دوژلولپاره په ميدان درول شوى وي هغه توري ته په سمه توګه له وېري کتلاى نشي . ابن عباس وايې چي دوى به په مړاوسترګوپه سپکاوي ګوري قتاده وايې معناداچي دوى به له ډېري وېري په غلاکتنه کوي[٣] ﴿وَقَالَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ الْخَاسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ اووايې به هغه کسان چي ايمان يې راوړى وي (داسي چي) ببشکه زيانکاران هغه کسان دي چي خپلوځانونو او خپلو کورنيو ته يې زيان رسولى دى په ورځ دقيامت کي (په خلودفى الجحيم اوحرمان عن النعيم سره) ﴿أَلَا إِنَّ الظَّالِمِينَ فِي عَذَابٍ مُّقِيمٍ﴾ واوره خبردارشه چي ببشکه ظالمان په همېشني عذاب کي دي ﴿وَمَا كَانَ لَهُم مِّنْ أَوْلِيَاءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ﴾ اونه به وي دغوکفاروته هيڅوک له دوستانوچي مددوکړي له دوى سره (په دفع کولودعذاب کي) غيرله الله څخه (لکه چي دوى به په دنياکي هيله لرله) ﴿وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن سَبِيلٍ﴾ اوهرهغه څوک چي الله يې ګمراه کړي نه به وي ده ته هيڅ لاره (حق ته په

---

(١) دقرطبي تفسير ١٢/ ٤٥
(٢) دقرطبي تفسير ١٢/ ٤٦
(٣) کبيرتفسير ٢٧/ ١٧٨

دنیاکښې اوجنت ته په آخرت کې) (ځکه چې دده پرمخ دنجات لاره تړل شوې ده. ابن کثیروايي ځوک چې الله گمراه کړي دخلاصون لاره يې نشته (۱) ﴿ ٱسۡتَجِيبُواْ لِرَبِّكُم ﴾ اجابت وکړئ (ای خلگو) رب ستاسو ته (په ایمان اوتوحید سره) طاعت يې وکړئ) ﴿ مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۚ ﴾ (پخواله هغه چې راشي (هغه) ورځ چې نشته هیڅ رداودفع هغې (ورځې) لره له (جانبه د) الله) یعنې پخواله هغه چې راشي هغه هیبتناکه ورځ چې هیڅوک يې ردولای نشي ځکه چې دافع اومانع يې نشته ﴿ مَا لَكُم مِّن مَّلۡجَإٖ يَوۡمَئِذٖ ﴾ نه به وي تاسې ته هیڅ دپټېدلو (تښتېدلو) ځای په دغه ورځ کې ﴿ وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٖ ﴾ اونه به وي تاسې ته هیڅ لاره دانکار (یعنې تاسولره به انکار کونکی نه وي چې ستاسو دغه نازلېدونکی عذاب منکروګڼي) اوابوالسعودوايي معناداچې تاسوته به دانکارلاره نه وي چې له خپلوکړي ګناهونوڅخه يې وکړئ ځکه هغه ستاسو په اعمالناموکې لیکلي شوي دي اوستاسې اندامونه دربان دي شاهدي وايي(۲)) ﴿ فَإِنۡ أَعۡرَضُواْ ﴾ پس که مخ وګرزاوو دغو مشرکانو(له ایمانه اودالله لاربښوونه يې ونه منله) ﴿ فَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيظًاۖ ﴾ پس نه يې لیږلی موږ ته پردوی ساتونکی(داعمالودوی اومحاسب پردوی باندې ﴿ إِنۡ عَلَيۡكَ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُۗ ﴾ نشته پرتا مګر یوازې تبلیغ (داحکامودوی اوتادغه کارکړی دی. ابوحیان وايي په آیت شریف کې درسول الله لپاره تسلیت اوتأنیس دی اوددوی په هکله درسول الله دخفګان اوغم غلطول اولیرې کول دي. وروسته له دې الله تعالی دانسان طبیعت ښيي چې دهغه په ختېه کې دنعمتونوکفران اغښلی دی فرمايي: ﴿ وَإِنَّآ إِذَآ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ فَرِحَ بِهَاۖ ﴾ اوبېشکه کله چې موږ وڅکوو(جنس) دانسان ته له خپله لوري کوم رحمت (لکه روغتیا، بډایي اوامن نو پرهغه خوشحاله شي اوتکبراوغرورخپل کړي) ﴿ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ فَإِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ كَفُورٞ ﴾ (اوکه ورسېږي ده ته کوم ډول بدي (لکه ناروغي، قحطي، مصیبت، کړاو) په سبب دهغوبدیوچې پخوا لیږلي دي لاسونوددوی بېشکه چې (جنس د) انسان ناشکره دی) یعنې نهایته کفران کونکی دی نعمتونه هېروي اومصیبتونه یادوي. صاوي وايي داچې دنعمت په پیل کې يې (اذا) اودبلاء په سرکې يې (ان) راوړ دې ته اشاره ده چې نعمت خامخاشته اوبلادغسې نه ده کله کله وي ځکه چې دالله رحمت ترغضب ړومبی دی(۳) امام فخررازي وايي ددنیانعمتونه که څه هم خورالوی اوستردي په نسبت داُخروي نعمتونولکه څاڅکی ددریاب په وړاندې هسې دي ځکه نوالله تعالی دهغوی په هکله څکل یادکړل نوالله داسې وفرمایل چې انسان که څه هم په دومره لږ نعمتونوهم بسیاشي وربان دي خوشحاله کېږي اودغرور تکبرسبب يې شي اوداسې انګېري لکه چې ګردې هیلې اوآرزوګانې يې ترسره

(۱) دابن کثیرمختصر ۱۸۲/۱۳
(۲) دابوالسعودتفسیر ۳۷/۵
(۳) دصاوي حاشیه ۴۷/۴

شوي وي او دغه دده دهغي ناپوهي لامل (نتيجه) ده کوم چي د دنيا او آخرت د حال په هکله يې لري[۱]

﴿ لِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ﴾ (خاص الله لره دی سلطنت پاچهي د آسمانونو او د ځمکي پيدا کوي (الله) هرهغه شی چي اراده وفرمايي) يعني الله تعالی دگردو کائناتو مالک دی هغه که علوي دي او که سفلي دی الله په هغوی کي څرنگه چي غواړي په خلق او ايجاد کي تصرف کوي. مقصد له آيت شريف څخه دادی چي انسان دي پخپل مال دولت او جاه او جلال باندي نه تېروزي پدې دي وپوهېږي چي گرده پاچهي يوازي له الله سره ده دالله په يد قدرت کي د آسمانونو او ځمکي د تصرفاتو کليگاني دي چاته مال دولت ورکوي له چانه يې اخلي دالله د حکم او فيصلې مانع څوک نشته ﴿ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَٰثًا ﴾ ښښي لپاره د هرهغه چاچي اراده وفرمايي لوڼي (بې زامنو) ﴿ وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ﴾ او ښښي الله لپاره د هرهغه چاچي اراده يې شي زامن (پرته له لوڼو) ﴿ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَٰثًا ۖ وَيَجْعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيمًا ﴾ ياجوړه ورکوي (نارينه او ښځينه) ځامن او لوڼي (دواړه برخي) او گرزوي هرهغه څوک چي (الله) اراده وفرمايي شنډ (يعني ځيني نارينه گان الله بې اولاده شنډ و گرځوي اولادې نه زېږي او ځيني ښځي الله شنډي وگرزوي اولادې نه کېږي. بيضاوي وايي معنادا چي د بندگانو احوال د اولاد په هکله مختلف گرزوي څرنگه چي د الله د مشيت غوښتنه او مقتضاء وي هغسي کوي ځينو ته يوازي يو يو نوع نارينه يا ښځينه اولاد ورکوي او ځينو ته دواړه ورکوي ځيني بيا شنډ وي هيڅ اولاد ذوذات يې نه زېږي[۲] غرض له آيت څخه په کائناتو کي د الله جل جلاله د قدرت نفاذ دی هرډول چي يې خوښه شي هغسي کوي څکه نو فرمايي: ﴿ إِنَّهُۥ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴾ بېشکه دغه الله دی ښه عالم (په فائدې د هرچا) ښه قادر (په هرشي باندي چي اراده وفرمايي) يعني هغه څه کوي چي د حکمت يې غوښتنه او مصلحت پکې وي. ابن کثير وايي چي الله خلگ څلور ډوله وگرزول ځيني د لوڼو پلرونه، ځيني د زامنو، ځيني د دواړو او ځيني بې اولاده خلگ چي هيڅ ذوذات يې نه وي فسبحان العليم القدير[۳] ورپسې الله تعالی وحی يادوي او د هغې اقسام بيانوي فرمايي: ﴿ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحْيًا ﴾ او نه ښايي لپاره د هيڅ بشر دا چي له ده سره الله خبري وکړي مگر په وحی سره (په خوب کي يا په الهام سره څکه چي د انبياوو عليهم السلام خوبونه حق دي لکه چي ابراهيم عليه السلام ته واقع شوي وه ﴿ إِنِّىٓ أَرَىٰ فِى ٱلْمَنَامِ أَنِّىٓ أَذْبَحُكَ ﴾ (الصافات ۱۰۲) ﴿ أَوْ مِن وَرَآئِ حِجَابٍ ﴾ يا وروسته له پردې څخه (لکه چي له موسی عليه السلام سره يې خبري کړي وې) ﴿ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِىَ بِإِذْنِهِۦ مَا يَشَآءُ ۚ ﴾ يا ولېږي الله کوم رسول استاذی (له ملائکو لکه جبرئيل عليه السلام په وحی راوړلو ښيانو ته) په التسهيل کي وايې چي الله جل جلاله په آيت کي د ابيان فرمايلی دی چي دده خبري له بندگانو سره په درې ډوله ترسره کېږي يو دا چي په الهام يا منام سره ورته

---

(۱) کبير تفسير ۱۸۴/۲۷

(۲) بيضاوي ۱۷۲/۲

(۳) د ابن کثير مختصر ۲۸۳/۳

وحی وکړي بل داچي دپردې له هاخوا کلام وروا وروي، دریم داچي دپرښتې په وسیله ورته وحی راواستوي اودغه وروستی یې په انبیاوو علیهم السلام پسي ځانګړی دی اودوهمه یې په موسی علیه السلام اومحمد رسول الله پسي خاص دی اولومړی ډول یې دانبیاوو اولیاوو لپاره ځانګړی دی (۱) صاوي وایې چي الهام له انبیاوو پرته اولیاووته هم کېږي خوداولیاوو له الهام سره کله کله شیطاني اوهام هم ملګري کېږي ځکه چي دوی لکه انبیاء علیهم السلام غوندې معصوم نه دي دانبیاوو علیهم السلام الهام له شیطان څخه محفوظ اوژغورل شویدی دی(۲) ﴿إِنَّهُۥ عَلِيٌّ حَكِيمٌ﴾ بېشکه دغه (الله) دېرپورته غالب دی (په نازلولو دوحی کي) ښه حکمت والادی (په صنعت خپل کي) یعني الله دېرپورته لوړدی له صفاتو دمخلوقاتو څخه ښه حکمت والادی پخپل فعل اوصنع کي چي ګرد کارونه یې دحکمت په غوښتنه ترسره کېږي. ﴿وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا﴾ اوهمداسي (لکه چي وحی مو کړې وه له تاپرته نوروانبیاووته) وحی رالېږلي موږتاته (ای محمده!) روح (قرآن) په امرحکم خپل سره، قرآن ته یې ځکه روح وویل ځکه چي پدې سره دجهل اوناپوهي له مرګه څخه ژوندون پیدا کېږي اومالک بن دینار به وویل ای دقرآن خلګو قرآن ستاسو په زړونو کي څه کرلي دي؟ ځکه قرآن دزړونو زرغونونکی پسرلی دی لکه باران چي دځمکي زرغونونکی وي(۳) ﴿مَا كُنتَ تَدْرِي مَا ٱلْكِتَٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَٰنُ﴾ (نه وې ته (ای محمده) چي پوهېدې به چي کتاب څه دی (اونه پوهېدې په دې چي څه شی دي شرائع اوایمان) یعني ای محمده! ته دقرآن اووحی ترنزول له مخه دایمان په شرائعو تفصیلاً نه پوهېدې ﴿وَلَٰكِن جَعَلْنَٰهُ نُورًا نَّهْدِي بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا﴾ ولیکن ګرزولی دی موږدغه (قرآن) داسي یوه رڼا چي سمه لاره ښیو په هغه سره هغه چاته چي اراده وفرمایو موږ له بندګانو خپلو (چي متقیان وي) ﴿وَإِنَّكَ لَتَهْدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ اوبېشکه خامخا ښودل کوې ته (خلګوته) په طرف دمستقیمي لاري (چي اسلام دی) ﴿صِرَٰطِ ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ﴾ سمي لاري دهغه الله ته چي خاص ده لره دي هرهغه شیان چي آسمانونو کي دي (له علویاتو) اوهرهغه شیان چي په ځمکي کي دي (له سفلیاتو، سره له آسمانونو اوځمکي خلقاً، ملکاً او عبیداً) ﴿أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلْأُمُورُ﴾ واوره خبردار اوسه! خاص الله ته بیرته ګرزي ټول کارونه (دمخلوقاتو په قیامت کي توبه په عادلانه حکم سره ددوی ترمینځ فیصله کوي

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

(۱) التسهیل لعلوم التنزیل.
(۲) دصاوي حاشیه.
(۳) دقرطبي تفسیر ۱۶/۵۵

۱ - مرسل مجازچي فرمايي: ﴿ لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ ﴾ ځکه وېرول خوأهل دأم القرى ته دى اوپدې کي داحتباک صنعت هم شته هغه داچي له هريوه څخه هغه حذف کړي چي په بل کي يې ثابت کړي دي تقديريې داچي ترڅوأم القرى له عذابه ووېروي او ووېروي خلک په ورځ دقيامت کي.

۲ - دمبالغي له صيغې سره پرله پسې مؤکدات راوړل لکه ﴿ أَلَآ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ چي هغه د(الا) کلمه اودفصل ضمير (ان) دى

۳ - دطباق صنعت د ﴿ ٱلْجَنَّةِ ..... ٱلسَّعِيرِ ﴾ ترمينځ اود ﴿ يَبْسُطُ ..... وَيَقْدِرُ ﴾ اود ﴿ ذُكْرَانًا ..... وَإِنَٰثًا ﴾ ترمينځ راغلی دی.

۴ - سلبي طباق لکه ﴿ يَسْتَعْجِلُ بِهَا ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مُشْفِقُونَ مِنْهَا ﴾.

۵ - استعاره چي فرمايي ﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ ٱلْءَاخِرَةِ ﴾ په آيت شريف کي يې دآخرت عمل دکروندګرله کروندې سره تشبيه کړی ترڅوکرونده وکړي اومېوې دانې يې ټولي کړي اودغه تمثيلي استعاره اوله باريکو استعاراتوڅخه يوه ده.

۶ - دمقابلې صنعت لکه. ﴿ وَيَمْحُ ٱللَّهُ ٱلْبَٰطِلَ وَيُحِقُّ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦٓ ﴾.

۷ - عطف دعام پرخاص باندي چي فرمايي: ﴿ يُنَزِّلُ ٱلْغَيْثَ مِنۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوا۟ وَيَنشُرُ رَحْمَتَهُۥ ﴾ باران خاص اورحمت عام دى.

۸ - مرسله مجمله تشبيه پدې آيت کي ﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلْجَوَارِ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَٰمِ ﴾ يعني لکه غرونه په لويوالي اوپلن والي کي.

۹ - دتقسيم صنعت لکه داچي ﴿ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَٰثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَٰثًا ﴾.

۱۰ - اشتقاقي جناس چي پدې آيت کي دى: ﴿ وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ ﴾.

۱۱ - دمبالغي صيغې چي پدې آيت کي شته ﴿ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴾ يعني ډېرصبرکونکی ، ډېر شکر کونکی.

۱۲ - مشاکلت لکه داچي ﴿ وَجَزَٰٓؤُا۟ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ﴾ دوهمي ته هم (سئية)وويل شوه چي له لومړي سره په صورت کي مشابهت لري.

۱۳ - دفواصلو توافق اودغه له بديعي محسناتوڅخه ګڼل کېږي اوپه قرآنکريم کي زښته ډېر راځي.

دالله جل جلاله په مرسته دالشورى سورت تفسيربشپړشو.

***

د(الزخرف)سورت مكي دي اونه اتيا آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالزخرف سورت مكي دى اوداسلامي عقيدې اساسات دايمان تاداوونه (تهدابونه) چي ايمان په وحدانيت ، رسالت اوبعث اوجزادي څېړي لكه چي به همداډول نورومكي سورتونوهم څېړل سورت دوحى مصدروړاندي كوي اوددغه قرآن رښتنولي بيانوي كوم چي الله پاک په أمي پيغمبرباندي په خورافصيحه ژبه اوڅرگندبيان باندي نازل كړي دي ترڅوددغه عربي نبي لپاره ښكاره معجزه وي

بيادالله په قدرت اووحدانيت باندي دلائل راوړي كوم چي په دغه پراخوكائناتوكي په آسمانونو، ځمكو، غرونو، خوړونو، بحرونواو رودونوكي ترسترگوكېږي اوورپسې هغه پرېمانه اوربنت چي له آسمانه را اوري يادوي بيادبېړيويادونه كوي چي داوبوپه سرروانې وي اوهغه چارپايان چي الله دبشرلپاره اهل اوتابع كړي ترڅويې له غوښوخوړلواوسپرليوڅخه گټه واخلي دهغوى يادونه كوي

ورپسې سورت دجاهليت دوخت بت پرستي، خرافات اوناولي دودونه بيانوي چي دوى خو پخپله له لونړوسره كركه لرله اونفرت يې ترې كاوومگردالله لپاره يې لوڼې په حماقت اوناپوهي غوره كړي وي دوى به ويل چي ملائكة دالله لوڼې دي نوآيتونه نازل شول چي ددغوباطلوخرافاتواو انحرافاتومخه ونيسي اوخلگ بيرته فطرت ته اولومړنيوقطعي حقائقوته وگرزوي سورت په لنډه توگه دابراهيم خليل الله دعوت اوبلني ته كتنه كوي هغه چي مشركان گومان كوي دوى دابراهيم عليه السلام په دين اودهغه له ذوذاته دي نوآيتونه ددوى ددغي دعوې تكذيب كوي اوداخبره په ډاگه كوي چي ابراهيم عليه السلام هغه لومړنى څوک ووچي دبتانوله عبادت كولوڅخه بېزاره اوهغه يې نه منل.

له دې په هيسي سورت دهغي ناروااشتباه ترديدكولوته لېږدي كوم چي مشركانودرسول الله صلى الله عليه وسلم درسالت په هكله لرله دوى داسي وړانديزكاووچي قرآنكريم بايددمال دولت او جاه اوجلال په خاوندنازل شي نه په هغه چاچي لكه محمدصلى الله عليه وسلم يتيم ،فقيراوبېوزله وي نوآيتونه نازل شول داخبره يې سپينه كړه چي مرتبه اومال دانساني كرامت معيارنه دى اونه دسترو منصبونولپاره داستحقاق اووړتياسبب كېداى شي بلكه دنياپخپله حقيره اوسپكه خواره ده دومره خواره حقيره كه الله غوښتي واى گرده به يې كفاروته وربښلي اومؤمنانوته به يې هيڅ هم نه وه وركړي.

بياوروسته په سورت كي دموسى عليه السلام او فرعون كيسه راځي دهغه پخواني حقيقت تأكيدكوي همدغه فرعون دى چي پخپل سلطنت اوځواک باندي په موسى عليه السلام باندي فخر كوي لكه چي قريشي سرداران پخپل جهل كي غوپه دي اوپه رسول الله صلى الله عليه السلام باندي ځان لوړ گڼي او وروستى پايله اونتېجه به يې لكه دفرعون غرقېدل دمشركانوهلاكت هم وي

په پاى كي دآخرت اوقيامت دځينوكړاوونو ،حالاتواومشكلاتويادونه كوي اودبدمرغه مجرمينو حال بيانوي چي ددوزخ په اوركي به اوري رااوړي.

تسميه او نو مول يې:

دغه سورت ته ځکه دالزخرف سورت ويل کېږي چې پدې کې د دنيا د زائلېدونکي او فاني کېدونکي متاع خورا په زړه پوري مثال راغلی دی چې دغه د دنيا فاني کېدونکي نعمت مزخرف خل او بل کېدونکي دي چې ډېر خلګ ورباندي تېروزي خو د الله په نزد دغو ماشي دو زر قيمت هم نلري ځکه يې الله پاک ابرارو، فجارو ته لوته ورکوي او اخيار اشرار ګرد ځني نفع اخلي خو آخرت بيا الله پاک له متقيانو پرته بل چاته نه ورکوي دنيا فاني کېدونکي او آخرت تلپاتي او باقي دی.

***

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ حمٓ ﴿١﴾ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢﴾ إِنَّا جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿٣﴾ وَإِنَّهُۥ فِيٓ أُمِّ ٱلۡكِتَٰبِ
لَدَيۡنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٤﴾ أَفَنَضۡرِبُ عَنكُمُ ٱلذِّكۡرَ صَفۡحًا أَن كُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّسۡرِفِينَ ﴿٥﴾ وَكَمۡ أَرۡسَلۡنَا مِن
نَّبِيّٖ فِي ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٦﴾ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن نَّبِيٍّ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٧﴾ فَأَهۡلَكۡنَآ أَشَدَّ مِنۡهُم بَطۡشٗا وَمَضَىٰ مَثَلُ
ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٨﴾ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٩﴾ ٱلَّذِي جَعَلَ
لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا وَجَعَلَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا لَّعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ﴿١٠﴾ وَٱلَّذِي نَزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءَۢ بِقَدَرٖ فَأَنشَرۡنَا
بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ كَذَٰلِكَ تُخۡرَجُونَ ﴿١١﴾ وَٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡفُلۡكِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ مَا تَرۡكَبُونَ ﴿١٢﴾
لِتَسۡتَوُۥاْ عَلَىٰ ظُهُورِهِۦ ثُمَّ تَذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ رَبِّكُمۡ إِذَا ٱسۡتَوَيۡتُمۡ عَلَيۡهِ وَتَقُولُواْ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ
مُقۡرِنِينَ ﴿١٣﴾ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴿١٤﴾ وَجَعَلُواْ لَهُۥ مِنۡ عِبَادِهِۦ جُزۡءًاۚ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ أَمِ ٱتَّخَذَ
مِمَّا يَخۡلُقُ بَنَاتٖ وَأَصۡفَىٰكُم بِٱلۡبَنِينَ ﴿١٦﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحۡمَٰنِ مَثَلٗا ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا وَهُوَ
كَظِيمٌ ﴿١٧﴾ أَوَمَن يُنَشَّؤُاْ فِي ٱلۡحِلۡيَةِ وَهُوَ فِي ٱلۡخِصَامِ غَيۡرُ مُبِينٖ ﴿١٨﴾ وَجَعَلُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ ٱلَّذِينَ هُمۡ عِبَٰدُ ٱلرَّحۡمَٰنِ
إِنَٰثًاۚ أَشَهِدُواْ خَلۡقَهُمۡۚ سَتُكۡتَبُ شَهَٰدَتُهُمۡ وَيُسۡـَٔلُونَ ﴿١٩﴾ وَقَالُواْ لَوۡ شَآءَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مَا عَبَدۡنَٰهُمۗ مَّا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنۡ
عِلۡمٍۖ إِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ﴿٢٠﴾ أَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ كِتَٰبٗا مِّن قَبۡلِهِۦ فَهُم بِهِۦ مُسۡتَمۡسِكُونَ ﴿٢١﴾ بَلۡ قَالُوٓاْ إِنَّا وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا
عَلَىٰٓ أُمَّةٖ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّهۡتَدُونَ ﴿٢٢﴾ وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا وَجَدۡنَآ
ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٖ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّقۡتَدُونَ ﴿٢٣﴾ ۞ قَٰلَ أَوَلَوۡ جِئۡتُكُم بِأَهۡدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمۡ عَلَيۡهِ ءَابَآءَكُمۡۖ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ
أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٢٤﴾ فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٢٥﴾ ﴾ الزخرف: ١ ــ ٢٥

لغتونه:

(صفحا) اعراض او مخ اړولو ته وايي (بطشا) په قوت نيولو او کسات اخيستلو ته ويل کېږي (مهدا) فراش (أنشرنا) مو ړ ژوندي کړي نشور هغې احياء ته وايي چې وروسته له مرګه وي (تستو) چې تاسي سپاره

شی(مقرنين) طاقت لرونکي(کظيم) له غمه ډک (يخرصون) دروغ وايي (أمة) دين اولاره (مترفوها) مترف په نعمتونوکي ډوب اوهوسا،سوکاله ته ويل کېږي

تفسير:

﴿ حمٓ ﴾ له مقطعاتوتوروڅخه دی چي دقرآنکريم په اعجازتنبيه فرمايي﴿ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴾ (قسم دی په دغه کتاب روښانه بيانونکي) يعني زمادي قسم وي په دغه روښانه کتاب چي څرګندونکی دی دحق له باطله څخه اودهدايت له ضلالت څخه همداسي ښکاره کونکی دی مؤمنانوته دګردوهغواحکامو اوشرعي دلائلوچي دوی ورته اړتيالري ﴿ إِنَّا جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا ﴾ بېشکه موږګرزولی دی دغه (کتاب) قرآن په عربي ژبه ، دغه مقسم عليه دی يعني موږ دعربو په لغت نازل کړی دی چي دفصاحت بلاغت په کمال اوبشپړتوب ، محکمواسلوبواومعجزبيان مشتمل دی ﴿ لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴾ دپاره ددې چي تاسي پرې وپوهېږی (عقل پکي وچلوی) احکام يې وپېژنی اوپدې پوه شی چي ددغه قرآن حکيم اسلوب دبشرله توان څخه وتلی دی. بيضاوي وايي چي الله په قرآنکريم لوړه کړي چي قرآن يې عربي ګرزولی اودغه دبلاغت له بدائعوڅخه يودی ترڅوقسم اومقسم عليه سره متناسب وي اوپدې تنبيه ورکړي چي ترقرآنکريم بل پورته شی نشته چي ورباندي قسم وشي اودغه دقرآنکريم په شرافت اوعزت دلالت کوي (١) ﴿ وَإِنَّهُۥ فِيٓ أُمِّ ٱلۡكِتَٰبِ لَدَيۡنَا ﴾ اوبېشکه دغه کتاب(ثابت دی) په اصل دکتاب(لوح محفوظ) کي په نزدزموږ﴿ لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴾ خامخاخاوند دلويي مرتبې ډېر مستحکم دی) دسترشان خاونداودلوړقدراوبالغ حکمت څښتن دی. ابن کثيروايي دقرآنکريم شرافت يې په ملأالاعلی کي ولمانځل ترڅودمځکي خلګ يې تعظيم اوشرافت ومني (معنا دا چي قرآنکريم په لوح محفوظ کي زموږ په نزددستري مرتبې ، عزت اوشرف خاونددی (٢)﴿ أَفَنَضۡرِبُ عَنكُمُ ٱلذِّكۡرَ صَفۡحًا ﴾ آياپس بندکړو (وګرزوو) له تاسي دغه ذکرپند(قرآن) بندېدل (ګرزېدل) استفهام دانکارلپاره دی يعني آيا موږتاسي ته پند درنکړو اودغسي مولکه چارپايان پرېږدو ؟﴿ أَن كُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّسۡرِفِينَ ﴾ له دې سببه چي تاسي يی يوقوم له حده تېرېدونکی (په تکذيب سره ، نه ؛ بلکه تاسوته به ورباندي پند درکوو ترڅودحق لاري ته راوګرزی ، قتاده وايې چي که چېري دغه قرآن کله چي پخواني مشرکانوونه مانوپورته شوی وای نودوی به خامخاهلاک شوي وو لکن الله پخپل رحمت بار بار ورته اورول اوترشلو کالونو پوري يې ورته راوبلل (٣) ابن کثيروايې چي دقتاده ويناخورادباريکي معنالرونکي ده هغه الله پاک دخپل هغه لطف اومرحمت له مخي چي په خپلوبندګانويې لري تل ددوی دعوت دخيراوښېګنې لورته کوي که څه هم چي دوی تجاوزګران اومخ اړونکي دي هغوی ته امرکوي ترڅوهغه کسان چي په

(١) حاشية شيخ زاده ٣ /٢٨٨

(٢) دابن کثيرمختصر ٣ / ٢٨٤

(٣) کبيرتفسير ٢٧/ ١٩٥

تقدیر کې یې هدایت لیکلی شوی وربانديي ایمان راوړي او په هغه چاباندي چي شقاوت یې په برخه وي دلیل اوحجت شي(۱) ﴿ وَكَمْ أَرْسَلْنَا مِن نَّبِيٍّ فِي ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ اوڅومره ډېر مولېږلي دي له انبیاوو څخه په پخوانیو (خلکو) کي؟ دغه درسول الله لپاره ډاډینه اوتسلیت دی ﴿ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن نَّبِيٍّ إِلَّا كَانُوا بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ اونه به راتودوی ته هیڅ نبي مګروو به هغوی چي په هغه (نبي) پوري به یې مسخرې کولې. صاوي وایې چي پدې کي درسول الله لپاره تسلا ده معنادا چي ته مه خفه کېږه داچي کوم چلندله تاسره کېږي له پخوانیوانبیاوو علیهم السلام سره شوي دی(۲) ﴿ فَأَهْلَكْنَآ أَشَدَّ مِنْهُم بَطْشًا ﴾ پس هلاک کړل موږهغه (پخواني خلګ چي) سخت تر(وو) له دوی نه له جهته دقوت (او ځواک) یعني دمکې ترکفاروو لاډېرقوي او سرغړونکي، باغیان وو ﴿ وَمَضَىٰ مَثَلُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ اوتېرشوی دی (څوځایه په قرآنکریم کي) مثال دړومبنیو خلګو (چي دوروستنیومکذبینو لپاره وعظ اوپند شي. امام فخر رازي وایې چي دمکې کفارودپخوانیومکذبینو لاره پل په پله تعقیب کړه نودوی دي له دې څخه ووېرېږي چي هغه څه ورته ونه رسېږي کوم چي پخوانیوته رسېدلي وودهغوی مثالونه خوددوی په وړاندي دی ﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾ اوقسم دی خامخاکه چېري پوښتنه وکړې ته له دغو کفاروچي څوک دی هغه ذات چي پیداکړي یې آسمانونه او ځمکه؟ (په دغه عجیبه اوبدیع شکل باندي) ﴿ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ نوخامخاوبه وایې دغه کفار خامخاچي پیداکړي دي (ټول هغه الله چي) ښه غالب قوي (په انفاذداحکامو) ښه علیم دی (پخپل مخلوق باندي) قرطبي وایې چي دوی دالله جل جلاله په خلق اوایجاداقرارکوي خوبیاهم له الله سره بل څوک په عبادت کولو کي شریکوي اودغه ددوی دجهل اوحماقت نښه ده (۳) بیاالله پاک دوی ته خپل جلیل صفات چي په بشپړ قدرت اوحکمت یې دلالت کوي داسي بیانوي چي ﴿ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا ﴾ الله هغه (ذات) دی چي تاسي ته یې ځمکه فرش ګرزولې (ترڅوتاسي وربانديي واوسی) ﴿ وَجَعَلَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا ﴾ اوګرزولي دي تاسي ته په دغې ځمکي کي لیاري (چي تاسودسفرونو په وخت کي وربانديي تګ راتګ کوی ﴿ لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴾ لپاره ددې چي تاسي سمه لاره وموموی (دحکیم اوخالق ذات قدرت وپېژنی هغه ذات چي دغه عجیبه نظام یې تیارکړی دی ﴿ وَٱلَّذِى نَزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ ﴾ اوهغه ذات چي نازلې کړي یې دي (له طرفه دآسمانه اوبه په اندزه سره (څومره چي کفایت کوي او ورته اړتیاوي. بیضاوي وایې معنادا چي په اندازه

(۱) مختصر ۳/ ۲۸۵
(۲) صاوي په جلالین ۴/ ۴۴۰
(۳) دقرطبي تفسیر ۱۲/ ۶۴

سره چي ګټه وري وي اوتاوان ونه رسوي (۱)﴿ فَأَنشَرۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةً مَّيۡتًاۚ ﴾ پس ژوندی کړی دی موږ په دغواوبو سره کلي مړ(وچه کلکه ځمکه) ﴿ كَذَٰلِكَ تُخۡرَجُونَ ﴾ په شان ددغه ژوندي کېدلو دځمکي) راوبه ایستل شی تاسي (هم بیاژوندي له قبرونوڅخه) ﴿ وَٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ كُلَّهَا ﴾ اوهغه ذات چي پیداکړي يې دي (اصناف (انواع دمخلوقاتو) ټول ددوی (له حیوانه، نباته اونوروشیانوڅخه. ابن عباس وايې چي ازواج معنااصناف اوانواع لکه خوږ، تریو، سپین، تور، نارینه، ښځینه(۲)﴿ وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡفُلۡكِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ مَا تَرۡكَبُونَ ﴾ اوګرزولي يې دي تاسي ته له بېړيواوله چارپایانوهغه چي تاسي پرې سپرېږی (په سفرونوکي) ابن کثیروايې معناداچي اهل اوتابع کړي يې دي تاسي ته ترڅوغوښي يې وخوری او ورباندي سپاره شی (۳)﴿ لِتَسۡتَوُۥاْ عَلَىٰ ظُهُورِهِۦ ﴾ لپاره ددې چي سم برابرکېنی تاسي په شاوؤ(دهریوه) دهغه دمرکب که بېړۍ وي اوکه اوبښ یانورمراکب) ﴿ ثُمَّ تَذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ رَبِّكُمۡ إِذَا ٱسۡتَوَيۡتُمۡ عَلَيۡهِ ﴾ بیایادکړی تاسي (قلبًا) نعمت درب خپل کله چي برابرکښېنی (سواره شی) پرهغه ﴿ وَتَقُولُواْ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا ﴾ اووواياست تاسي پاکي ده هغه(لوی ذات) ته چي مسخرکړي يې دي موږ ته دغه (مذکورله مراکبو) ﴿ وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقۡرِنِينَ ﴾ اونه وو موږ ده لره په ضبط کي راوستونکي (قادرپه سپرېدلويې که دالله تسخیرنه وای) ﴿ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴾ اوبېشکه چي موږرب خپل ته خامخا ورتلونکي یو(وروسته له مرګه بیضاوي په حاشیه کي لیکي چي مرادله يادولو دنعمت څخه په زړه تېرول اوتصورکول نه دي بلکه مقصددادی چي ددې یادونه وکړي چي دغه دنعمت حصول دقادرعلیم حکیم ذات په تدبیرسره شوي چي دطاعت اوشکر مستوجب دي ځکه څوک چي داسوچ وکړي چي انسان پداسي مرکب سپرېږي چي ترده په قوت اوبدن کي خورا ستردی خوله ده سره دده لپاره اهل اوتابع دی هرلوري ته يې چي انسان بیايي بېول کېږي اوپدې کي سوچ وکړي چي دریاب اوباد(هوا) يې هم دانسان لپاره تابع دی سره له دې چي په دواړوکي خوراهیبت او وېره شته نودلته دالله تعالی په معرفت ، کبریا اوعظمت کي مستغرق شي دالله بشپړقدرت اوحکمت ورپه یادشي نودغه استغراق اویادونه يې دې ته راکاږي چي په تعجب سره ووايې : ﴿ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقۡرِنِينَ ﴾ (۴)کله چي الله تعالی دمشرکانواعتراف یادونه وکړه چي دوی هم وايې چي دځمکي اوآسمان پیداکونکی رب العلمین دی نو ورپسي يې ددوی سفاهت اوجهالت چي دغیرالله عبادت کوي داسي بیان کړ: ﴿ وَجَعَلُواْ لَهُۥ مِنۡ

---

(۱) دبیضاوي تفسیر۲ /۱۷۷
(۲) دجمل حاشیه په جلالین باندي۴ /۷۷
(۳) دابن کثیرمختصردصابوني لیکنه.
(۴) دشیخ زاده حاشیه په بیضاوي باندي ۳ /۲۹۷

﴿عِبَادِهِۦ جُزۡءًا﴾ او گرځوي (مقرروي کفار) الله ته له بندګانو دده يوه برخه (اولاد چي ملائکو ته دالله لوني وايي) ﴿إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ مُّبِينٌ﴾ بېشکه چي (کافر) انسان خامخا ښکاره ناشکره دی (سترمنکراو سرغړونکی دی بيضاوي وايي: معنادا چي کفران يې ظاهره اوښکاره وي ځکه چي الله تعالی ته د اولادنسبت کول دزيات جهل اودالله دعظيم شان د تحقير کولو نښه ده[۱]) ﴿أَمِ ٱتَّخَذَ مِمَّا يَخۡلُقُ بَنَاتٖ وَأَصۡفَىٰكُم بِٱلۡبَنِينَ﴾ آيا وايی تاسي چي(الله) نيولي دي له هغه مخلوقه چي پيدا کوي لوني؟ او غوره کړي يې ياست تاسي په زامنو؟ دغه د دوی له حاله سره تعجب او انکار دی يعني آيا الله د ځان لپاره لوني اوتاسو ته يې زامن غوره کړي دي؟ ابن کثيروايي چي دغه پر دوی باندي دانکاروروستی سرحد دی اوبشپړانکار ورپسي الله داسي بيانوي[۲]) ﴿وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحۡمَٰنِ مَثَلٗا ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا وَهُوَ كَظِيمٌ﴾ حال دا هر کله چي زېری ورکړی شي يو ددوی ته په (زېږېدو دهغه) سره چي ګرځولی يې دی رحمان ته مثل (چي دلوڼو نسبت يې ورته کړی نو) وګرزي مخ دده تک تور حال دا چي دی به له غمه ډک وي. امام فخررازي وايي مقصدله آيت شريف څخه ددوی دعقلونو سخافت دی چي هغه څېزچي له نقص څخه دغي مرتبې ته راتيټ وي نو عاقل سړی به يې څرنګه دالله جل جلاله لپاره اثبات کړي او دځينو عربو څخه روايت شوی چي ديوه سړي مېرمني لور وزېږوله نوخاوند يې هغه کور پرېښود چېري چي دده مېرمن اوسېدله[۳]) ﴿أَوَمَن يُنَشَّؤُاْ فِي ٱلۡحِلۡيَةِ﴾ آيا (دوی الله ته هغه څوک مقرروي چي) لويولی شي په ګېڼو کي (چي ښځينه دي) ﴿وَهُوَ فِي ٱلۡخِصَامِ غَيۡرُ مُبِينٖ﴾ حال دا چي هغه په وخت دجګړو کي (رأيه) نشي ښکاره کولای) يعني هغه داسي څوک دي چي ددعوی داثبات په وخت کي خپل مطلب نشي بيانولی (چي ضعيف الرأی دی آيا دغه دالله له عظيم جناب سره نسبت کول مناسب دی؟ په التسهيل کي وايي چي مقصدله دې ټکو څخه په هغو کسانو باندي چي ويل به يې ملائکي دالله لوني دي رد کول دي لکه چي فرمايلي يې دي آيا تاسو الله ته دهغه چا نسبت کوی چي هغوی په سينګار او پسول کي لويولی شي؟ دغه خود نقص صفت دی ورپسي يې يو بل نقص داسي بيانوي چي ﴿وَهُوَ فِي ٱلۡخِصَامِ غَيۡرُ مُبِينٖ﴾ يعني مېرمن کله چي له چا سره دعوی لري نشي کولای په ښکاره توګه خپل دليل وړاندي کړي ځکه چي ناقصات العقل دي ډېرځله ښځمني خپله خبره نشي سره بېلولای نو څرنګه به الله ته دداسي ناقص مخلوق نسبت سم وي؟ ابن کثيروايي چي مېرمن په صورت اومعنا دواړو کي ناقصه ده دصورت اوظاهر نقص يې دګېڼې اوسينګار په کولو بشپړوي اوپسول اوګېڼه اغوندي اوهر چي معنوي نقص يې دی هغه دا چي عاجزه ضعيفه ده بری نشي موندلای لکه چي ځيني عربو پر هغه مهال کله چي به ورته دلور زېری ورکړی

([۱]) دبيضاوي تفسير ۲ /۱۷۷
([۲]) دابن کثير مختصر ۳ /۲۸۲
([۳]) التسهيل ۴ /۳۲

شو داسي ويل: دغه غښتلي اولادنه دی زوريږي په ژړا او ګټه يې په غلا کي ده (١) ﴿ وَجَعَلُوا۟ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ ٱلَّذِينَ هُمۡ عِبَٰدُ ٱلرَّحۡمَٰنِ إِنَٰثًاۚ ﴾ اوګرزوي (کفار) پرښتې هغه چي دوی عباد الرحمن دالله بندګان دي ښځي (لوڼي دالله) يو بل کفر چي ددوی دغه شنيع وينا ده هغه دا چي دعربو کفارو به عقيده درلوده چي پرښتې اکمل العباد او په الله ګراني دي هغوی ښځينه دي دوی دغه حکم کاوو ﴿ أَشَهِدُوا۟ خَلۡقَهُمۡۚ ﴾ آيا حاضر وو (دغه کفار په وخت د) پيدا کېدلو ددغو پرښتو کي (چي ښځي لو نه پيدا شوي دي؟) (دغه ددوی دتجهيل بيان او پر دوی باندي تهکم دی) ﴿ سَتُكۡتَبُ شَهَٰدَتُهُمۡ وَيُسۡـَٔلُونَ ﴾ ژر دی چي وبه ليکلی شي شاهدي ددوی او پوښتنه به (هم) تري وکړی شي (په آخرت کي) يعني ژر دی چي موږ به پرښتوته ددوی دروغجن شهادت ددوی په اعمالناموکي دليکني امر صادر کړو او دوی به له دې څخه په ورځ دقيامت کي وپوښتلی شي دغه ددوی لپاره تهديد او اخطار دی مفسرين کرام وايي چي الله تعالی دعربو له کفارو څخه درې ناروا اقوال راوړل يو دا چي دوی الله ته داولاد نسبت وکړ دوهم دا چي لوڼي يې ورته ثابته کړې او دريم دا چي معززو پرښتو ته يې دښځينه نسبت بې له کومه علمي سند او برهانه وکړ نو قرآنکريم ددوی درې سره اقوال تکذيب کړل بيا دوی يو بل بهتان او ضلالت هم ښکاره کړ چي دوی دغه عمل دالله جل جلاله په خوښه او رضا باندي کوي ﴿ وَقَالُوا۟ لَوۡ شَآءَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مَا عَبَدۡنَٰهُمۗ ﴾ او وايي دغه (مشرکان) که رحمان اراده فرمايلي وای نو عبادت به مونه وو کړی ددغو (باطلو معبودانو) دوی به دغه داستهزاء او ملنډو په توګه ويل يعني که الله نه غوښتلای نو موږ به ددغو ملائکو او بتانو عبادت نه کاوو څرنګه چي دغه دالله په مشيت باندي دي نو هغه له موږ څخه راضي دی. قرطبي وايي چي دغه يوه حق کلمه ده چي باطل ورباندي اراده شوی دی هرشی دالله په اراده ترسره کېږي خو مشيت له رضا څخه بېل دی او په مشيت باندي دليل نه نيول کېږي څکه که چېري دوی دبتانو پرځای دالله عبادت کولای نو موږ به ارومرو پوهېدلو چي الله ورڅخه دغه غواړي (٢) نو الله ددوی تکذيب داسي فرمايي: ﴿ مَّا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍۖ ﴾ (نشته دوی ته په دغي (خپلي وينا) هيڅ قدر علم او پوهه) يعني دوی ته پدغه ويناکوم برهان او حجت نشته دی ﴿ إِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ﴾ ندی دوی مګر دروغ وايي (خوشي چټي بېکاره) اټکلونه چلوي څکه چي الله پدې کفر راضي نه دی) ﴿ أَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ كِتَٰبًا مِّن قَبۡلِهِۦ فَهُم بِهِۦ مُسۡتَمۡسِكُونَ ﴾ (آيا ورکړی مودی دوی ته کوم کتاب پخوا له دغه (قرآنه) پس دوی په هغه کتاب منګولي خښونکي (دليل نيونکي دي) دغه پر دوی باندي يو بل رددی يعني آيا موږ پر دغو مشرکانو پخوا له دې قرآنه کوم کتاب نازل کړی دی چي دوی دهغه کتاب په توجيهاتو عمل کونکي دي؟ امام فخر رازي وايي: معنا دا چي آيا دوی دغه باطل په کوم بل کتاب کي چي له قرآنه پخوا نازل شوي دي موندلی دی چي دوی ورباندي دليل

(١) دابن کثير مختصر ٣ / ٢٨٧

(٢) دقرطبي تفسير ١٢ / ٧٣

ونيسي(۱) ﴿ بَلْ قَالُوٓاْ إِنَّا وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ ﴾ بلکه وايي دغه مشرکان بېشکه موږ موندلي مودي پلرونه خپل پريوې لارې (دين) باندي؛ (بل) داضراب لپاره دی چي له يوه کلام څخه بل ته لېږدي يعني دوی کوم عقلي اونقلي دليل په خپل زعم تېرولای نشي بلکه دوی اعتراف کوي چي دوی پرته دخپلو پلرونولهړانده تقليده بل دليل او حجت نلري. ابو السعود وايي (أمة) دين اولاري ته وايي څکه بې أمة بولي چي قصد کاووه شي (۲) ﴿ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّهْتَدُونَ ﴾ او بېشکه موږ په قدمونو (پلونو) ددوی لاره موندونکي تلونکي يو ﴿ وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِى قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ ﴾ (اوهمداسي (ستاپه شان) نه وولېږلي موږ پخوا له تانه په هيڅ قريه کلي کي کوم وېرونکی (له عذابه) يعني لکه چي دغه کفار دخپلو پلرونواواجدادو بې له کومه دليله پلوي اودپلونوپيروي او اقتداء کوي همداسي دپخوانيوأمتونو مکذبينوهم کول يعني پر هيڅ امت کي مي ترتادمخه کوم پيغمبر ندی استولی خو ﴿ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَآ إِنَّا وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّقْتَدُونَ ﴾ (مگروبه ويل هوسا اونعمت لرونکو (خلگو دهغو کليو)بېشکه موږ چي يو موندلي مودي پلرونه خپل پريوې لاري اوبېشکه موږ په قدمونو ددوی اقتداء کونکي تلونکي يو) يعني هغوکسانوچي په سوکالي او آرام ژوندبه بسياوو، شهوتونو اونعمتونوبه دحق په لارکي د کړاوونو څخه منع کول نوبه دوی ويل چي زموږ پلرونه په کومه لاره تللي موږهم په هغې تلونکي يو. بيضاوي وايي چي په آيت شريف درسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره تسليت اوډاډينه ده اوددې تنبيه ده چي په داسي چاروکي تقليدکول پخوانی گمراهي ده ددوی داسلافوهم کوم باوري سندنه وو چي دغسي بې کول اوداچي سوکاله او هوساخلگ بې په خانگړې توگه يادکړل څکه هغوی پخپل عيش اوعشرت کي داسي ډوب وي چي هغه عيش اوعشرت بې دغه ړانده تقليدته اړباسي (۳) اودلته بې (مقتدون) راووړ مخکښي بې (مهتدون) فرمايلي وودغه تفنن دی ددواړو معنايوشی دی ﴿ قَٰلَ أَوَلَوْ جِئْتُكُم بِأَهْدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمْ عَلَيْهِ ءَابَآءَكُمْ ﴾ وبه ويل (نبي) دوی لره (آيادخپلو پلرونو متابعت کوی؟) اگرکه راتگ کړي دي ماتاسي ته په ښه لاره ښوونکي له هغه څه چي موندلي دي تاسي پرهغه شي باندي پلرونه ستاسي ﴿ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴾ (وبه ويل دوی بېشکه موږ چي يوپه هغه (دين) چي تاسي په هغه سره لېږلی شوي ياست کافران يو) يعني موږ په توحيد، ، بعث اونشورايمان نه لرو ﴿ فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴾ پس له دوی موانتقام واخيست پس وگوره څرنگه وه آخره خاتمه ددروغجن گڼونکيو؟!

***

(۱) کبيرتفسير ۲۷/ ۲۰۶

(۲) دابو السعود تفسير ۵ / ۴۲

(۳) دبيضاوي تفسير ۲ /۱۷۸

الله تعالى فرمايي: ﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّنِى بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾ إِلَّا ٱلَّذِى فَطَرَنِى فَإِنَّهُۥ
سَيَهْدِينِ ﴿٢٧﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِى عَقِبِهِۦ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾ بَلْ مَتَّعْتُ هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ وَرَسُولٌ
مُّبِينٌ ﴿٢٩﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ وَإِنَّا بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٠﴾ وَقَالُوا۟ لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ ٱلْقَرْيَتَيْنِ
عَظِيمٍ ﴿٣١﴾ أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ۚ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَٰتٍ
لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا ۗ وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٣٢﴾ وَلَوْلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً لَّجَعَلْنَا
لِمَن يَكْفُرُ بِٱلرَّحْمَٰنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّن فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ ﴿٣٣﴾ وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَٰبًا وَسُرُرًا عَلَيْهَا
يَتَّكِـُٔونَ ﴿٣٤﴾ وَزُخْرُفًا ۚ وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَٱلْءَاخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٣٥﴾ وَمَن يَعْشُ
عَن ذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُۥ شَيْطَٰنًا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٌ ﴿٣٦﴾ وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٧﴾
حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ يَٰلَيْتَ بَيْنِى وَبَيْنَكَ بُعْدَ ٱلْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ ٱلْقَرِينُ ﴿٣٨﴾ وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ
فِى ٱلْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٩﴾ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ أَوْ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَمَن كَانَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٤٠﴾ فَإِمَّا نَذْهَبَنَّ
بِكَ فَإِنَّا مِنْهُم مُّنتَقِمُونَ ﴿٤١﴾ أَوْ نُرِيَنَّكَ ٱلَّذِى وَعَدْنَٰهُمْ فَإِنَّا عَلَيْهِم مُّقْتَدِرُونَ ﴿٤٢﴾ فَٱسْتَمْسِكْ بِٱلَّذِىٓ أُوحِىَ إِلَيْكَ ۖ إِنَّكَ
عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٤٣﴾ وَإِنَّهُۥ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۖ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُونَ ﴿٤٤﴾ وَسْـَٔلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلْنَا
مِن دُونِ ٱلرَّحْمَٰنِ ءَالِهَةً يُعْبَدُونَ ﴿٤٥﴾ ﴾ الزخرف: ٢٦ – ٤٥

مناسبت:

کله چي الله تعالى دمشرکانودهغه ړانده تقليديادونه وکړه چي هغوی به دخپلوپلرونواو اجدادو کاوودلته يې دحنفاوو دامام حضرت ابراهيم خليل الله بيان وفرمايوهغه چي عرب ورباندي وياړي اوځانونه هغه ته منسوبوي هوکي ابراهيم عليه السلام خوله خپله قومه اوتېره بېزاري اعلان کړه اودبتانوعبادت کول يې وغندل ددوی اودهغه ترمينځ به توپيردلته څرګندشي اودضلالت اوهدايت ترمينځ مقايسه همداسي دصواب اوسم عقل اودهوا اوهوس دمنطق به يوله بله پرتله وشي.

لغتونه:

(براءٌ) له برئ څخه اخيستل شوی اوبېزاري ته وايې(عقبه) نسل اوذوذات. ابن شهاب وايې (عقب) زوی اولمسي ته ويل کېږي (سخريا) تابع په کارګمارل شوی (معارج) دمعراج جمع اوزينې ته وايې هغه چي انسان ورباندي لوړخېژي (يظهرون) پورته کېږي خېژي(زخرف) له سرو اوسپينوزرو څخه ګېڼه اوپسول (يعش) چي مخ واړوي له (عش البصر) څخه اخيستل شوی کله چي سترګي کمزوري شي خليل وايې چي (عش البصر) معنادا چي په ضعيف نظر کتل کوي

تفسير:

﴿ وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦٓ إِنَّنِي بَرَآءٞ مِّمَّا تَعۡبُدُونَ ﴾ اويادكړه هغه وخت (اى محمده!) كله چي وويل ابراهيم خپل پلار (اومشرك) قوم خپل ته چي بېشكه زه بېزاره (جلا) يم له هغو (بتانو) چي تاسي يې عبادت كوى (پرته له الله) ﴿ إِلَّا ٱلَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُۥ سَيَهۡدِينِ ﴾ (مگرهغه الله چي زه يې پيداكړى يم پس بېشكه چي هغه الله به ثابت لري مايه هدايت (اوحق دين خپل) باندي) يعني هغه ذات چي زه يې له عدمه څخه وجود پيداكړى يم هغه به مي حق دين اودنېكمرغي لاري ته لاربنوونه كوي ﴿ وَجَعَلَهَا كَلِمَةَۢ بَاقِيَةٗ فِي عَقِبِهِۦ ﴾ اوگرځولي وه (ابراهيم دغه كلمه (دتوحيد) تلپاتي په اولاد خپل كي (تل به په دوى كي موحدين وي) ﴿ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴾ لپاره ددې چي دوى بيرته راوگرزوي (له شركه ايمان ته) مجاهدوايي ﴿ وَجَعَلَهَا كَلِمَةَۢ بَاقِيَةٗ فِي عَقِبِهِۦ ﴾ معناداچي (لااله الاالله) به ترقيامته پوري دده په اولادكي يوځوك وايي[1] ﴿ بَلۡ مَتَّعۡتُ هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمۡ ﴾ (دوى همغسي ونكړل) بلكه نفع وركړي ده مادغو (دمكې خلكو) اوپلرونوددوى ته (چي دوى دابراهيم عليه السلام نسل ووپه عمراونعمت موونازول خودوى په نعمتونواوشهواني غوښتنوكي له توحيدڅخه محروم اوغافل شول ﴿ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ وَرَسُولٞ مُّبِينٞ ﴾ (ترهغه پوري چي راغى دوى ته حق (دين قرآن) اورسول (محمد) ښكاره بيانونكى (دشرعي احكامو) يعني ترڅوچي دوى ته قرآن راغى اوهغه استازى چي رسالت يې ځرگنداوپه معجزاتو باندي تائيد شوى ومبعوث شوامام فخر رازي وايي چي دآيت شريف نظم اوپېيلتوب داچي كله دوى تقليد ته مخه كړه اودليل ته يې شاكړه پكي سوچ يې نه كاوو نودوى په اوږد ژونداومهلت تېروتل اوداچي الله دوى ته نعمتونه وركړي ورباندې غره شول اوله حق څخه يې ځنگ اواعراض وكړ[2] ﴿ وَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ ﴾ (اوڅه وخت چي راغى دوى ته حق (دين قرآن) ووويل (كفارو) دا سحر (كوډي) دي) يعني كله چي دوى ته قرآن كريم راغى ترڅويې دغفلت له خوبه راوېښ كړي اود توحيدلوري ته يې لاربنوونه وكړي نوپه دې وخت كي دوى لانوره سرغړونه اوگمراهي زياته كړه ويې ويل چي داكوډي دي ﴿ وَإِنَّا بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴾ اوبېشكه موږپردغه قرآن كافران يو (نه يې منوچي دغه دالله كلام دى، ابوالسعودوايي چي قرآن يې كوډي ونوماوو ورباندي كافران شول په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندي يې ملنډي ووهلې نودوى په رومبني كفرباندي دحق معانده اواستهزاء ورزياته كړه[3] ﴿ وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنَ ٱلۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيمٍ ﴾ اوووويل (كفارو) ولي نه نازلاوه شي داقرآن په يوه سړي له دغو دوو قريوڅخه (چي مكه اوطائف دي چي دغه سړي هم) دپرلوى دي (لكه وليدپه مكه كي اوعروة په طائف كي) مفسرين

---

[1] دابن كثيرمختصر ۳ / ۲۸۸
[2] كبيرتفسير ۲۷ /۲۰۸
[3] دابوالسعودتفسير ۵ / ۴۳

کرام وایې چي دمشرکانو قصد له لوی سړي څخه په مکه کي (ولیدبن مغیرة) او په طائف کي (عروة بن مسعود ثقفي) وو دوی دغه مستبعد ګڼله چي قرآنکریم دي په یویتیم ، فقیر اوبېوزله محمد صلی الله علیه وسلم نازل شي اوداسي وړاندیزېې کاووچي دادي په یوغټ، مشرډمال اوشتوپه خاوند نازل شي په دې ګمان چي غټ اومشرهغه دی چي مال دولت اوجاه ، عظمت ولري) دغه په ټولوځایونو اووختونوکي دزمانې دجهالو منطق دی مګردحقیقي عظمت اولوړتیا معیاردالله اوهوښیارانوپه نزد دنفس عظمت دی دروح لوړوالی اواوچت والی دی اوتر رسول الله (محمدصلی الله علیه وسلم) نوڅوک دستراوعظیم ذات اوپاکیزه اوچتي روح خاوند کېدای شي؟ ځکه نوالله تعالی ددوی تردید په دې وینافرمایې ﴿ أَهُمۡ يَقۡسِمُونَ رَحۡمَتَ رَبِّكَۚ ﴾ آیادوی وېشي رحمت (نبوت) درب ستا (چي یوچاته نبوت ورکوي لکه چي دوی یې وړاندیزکوي چي فلانی غټ اوفلانی بډای ته دي ورکړل شي؟ ﴿ نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُم مَّعِيشَتَهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ ﴾ (نه ده داسي بلکه پخپله) موږ وېشلی قسمت کړی مودی په مینځ ددوی کي معیشت ددوی په دغه دنیوي ژوندون کي) یعني موږ پخپل حکمت سره دغه بډای کړی اودابل موفقیراوبېوزله کړی ددوی دمالونواوارزاقوترمینځ مو توپیر پیداکړی کله چي دمعیشت وېش (چي دېرحقیراوناڅیزدی) موږپخپل لاس کي اخیستی نود نبوت د ورکولوچاري (چي خورادعظمت اوسترتوب چاري دي) څرنګه به یې ددوی له خواهشاتواو غوښتنو سره سمي عیارکړو؟! په التسهیل کي وایې لکه څرنګه چي مودمعیشت دنیوي اسباب وېشلي همداسي دیني مواهب وېشوکله چي خواري اوحقیري ونډي خوشي اوچتې نه پرېږدو نوستري اود شرافت نه ډکي برخي به څرنګه خوشي اوچتې پرېږدو[1] ﴿ وَرَفَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ ﴾ او پورته کړي مودي ځیني ددوی دپاسه دځینونورو په مرتبوکي (یعني په رزق روزي کي ځیني ترځینو لوړوي دغه غني دی دغه فقیراودغه هم متوسط الحال دی ﴿ لِّيَتَّخِذَ بَعۡضُهُم بَعۡضٗا سُخۡرِيّٗاۗ ﴾ چي ونیسي ځیني د دوی (چي غټان غنیان دي) ځیني نور (چي فقیران بیوزلان دي) تابعان کارکونکي (ترڅو دژوندانه چاري سمبالښت ومومي. صاوي وایې داچي الله خلګ په رزق روزي کي سره متفاوت پیداکړي ترڅو ځیني له ځینونورو څخه ګټه واخلي که ټول په ټولو حالاتو کي سره یوډول وای نوهیچابه دبل چا خدمت (چوپړ) نه کاوو نوبه دعالم نظام درهم اوبرهم شوی وای[2]) ابوحیان وایې دالله تعالی جل جلاله دا کلام چي ﴿ سُخۡرِيّٗا ﴾ دسین په ضمه سره له تسخیر څخه اخیستل شوی اواستخدام ته وایې له سخریه څخه نه دی چي دملنډو په معنا راغي اوحکمت پکي دادی چي ځیني دي ځینو نوروته اړوي اوخپلو منافعوته دي پکي رسېږي که هرچاخپل ټول کارونه پخپله کولای طاقت به یې نه درلود اوهلاک شوي به وو او پدي وینا کي ﴿ نَحۡنُ قَسَمۡنَا ﴾ دلته ددې ښوونه شوي چي خلګ دي په دنیا پسي منډي نه وهي په الله جل جلاله دي توکل کوي وېش الله فرمایلی دی قتاده وایې چي ته به یوضعیف ناتوانه بې خولې اوژبي سړی وینې چي پراخه روزي الله ورباندي لوروِلي

(۱) التسهیل ۴ /۲۸
(۲) دصاوي حاشیه ۴ /۴۸

وي او يو ډېر د کار او هنر خاوند چي ژبغړاند او ژبه وروي روزي به يې ډېره تنګه او ژوند به يې سخت تېرېږي

امام شافعي رحمه الله وايي: ومن الدليل على القضاء وكونه * بؤس اللبيب وطيب عيش الاحمق .

يعني په الهي قضا باندي دغه دليل دی چي هوښياران فقيران او احمقان بډايان وي ﴿ وَرَحۡمَتُ رَبِّكَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ﴾ او رحمت درب ستا (جنت) ډېر غوره دی له هغو (مالونو) چي دوی يې په دنيا کي ټولوي ،بيا الله تعالى د دنيا د حقارت او سپک قدر داسي يادونه کوي چي: ﴿ وَلَوۡلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ لَّجَعَلۡنَا لِمَن يَكۡفُرُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ لِبُيُوتِهِمۡ سُقُفٗا مِّن فِضَّةٖ ﴾ او که نه وی دغه (خطره) چي دا خلک يو ه ډله (متفق په کفر) شي نو خامخا ګرزولي به مو وو هغه چا لره چي په رحمان کافر کېږي لپاره د کوټو ددوی چتونه (بامونه) له سپينو زرو (لوړ مزخرف قصرونه او مانۍ به مو ورکړي وې) ﴿ وَمَعَارِجَ عَلَيۡهَا يَظۡهَرُونَ ﴾ اوزينې (به موهم له سپينو زرو ورجوړولې څو) په هغو سره به دوی ختلو ﴿ وَلِبُيُوتِهِمۡ أَبۡوَٰبٗا وَسُرُرًا عَلَيۡهَا يَتَّكِـُٔونَ ﴾ او د پاره د کوټو ددوی (د سپينو زرو) دروازې به وي او تختونه (به وو د سپينو زرو) چي پر هغو به دوی تکيې وهلي وي ﴿ وَزُخۡرُفٗاۚ ﴾ او (له سرو زرو او سپينو (به يې بامونه، دروازې او تختونه وو[1]) دغه د ابن عباس رضی الله عنه وينا ده او ځيني مفسرين د (زخرفا) معنا نور د زينت شيان لکه پردې ، بالښتونه او نقوش اخلي ﴿ وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ ﴾ او نه دي دا ټول (مذکوره شيان) مګر متاع نفع د دغه ژوندون د دنيا (فاني دی چي مونږ کفاروته ورکړی دی ﴿ وَٱلۡأٓخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلۡمُتَّقِينَ ﴾ او (متاع نفع د) آخرت (جنت) په نزد درب ستا لپاره د متقيانو دی) يعني جنت او هغه ګرد نعمتونه او لذتونه چي بيان کول ورڅخه ممکن نه دي دغه په متقيانوپسي ځانګړي دي هيڅوک ورسره پکي ګډون نلري . مفسرين کرام وايي چي آيتونه د دنياوي ژوندانه د حقارت څرګندولو لپاره راغلي دي او دغه يې د سپکتيا او خواري لويه نښه ده چي که چېري د فتنې خطره او وېره نه وای نو مونږ به کفار و رباندي مختص کړي وو د هغوی کوټې دروازې ، زينې او چتونه (بامونه) به د سرو او سپينو زرو وو او کفاروته چي دغه نعمتونه په دنيا کي ورکول شوي څکه دوی د اُخروي ژوندانه څخه برخه نلري) الله جل جلاله پخپلو بندګانو مهربان دی څکه يې ځيني کفار بډايان او ځيني خواران کړي او ځيني مؤمنان يې بډايان ، ځيني بېوزلان کړي دي . په حديث شريف کي راځي که چېري دنيا د الله په نزد د غوماشي دوزر تول او ارزښت لرلای نو کافرته به يې دا و بويو غوړپ قدري هم نه وو ورڅښلی[2] زمخشري وايي که څوک دا پوښتنه کوي چي کله الله تعالى دنيا کافرانوته د دي لپاره زښته پرېمانه ورنکړه چي بيا به مسلمانان ټول کافران شي نو خو مسلمانانوته دي ورکړي وای چي پخپل دين يې منګولي لګولي وای زه وايم چي پدې کي د فساد وېره ده څکه بيا به خلګ د دنيا لپاره په اسلام کي لکه منافقين داخلېدل نو د الله

[1] القرطبي ١٦/٨٧

[2] ترمذي او وايي چي حسن صحيح دی.

حکمت پدې کې نغښتی دی چې دوی ډلې بې وګرزولې یوه ډله اغنیاء بله فقرآء اوفقرېې په غناباندې زیات کړ(۱) ﴿ وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ ﴾ اوهرڅوک چې اعراض کوي (سترګې پټوي) له ذکر(دقرآن اوعبادت) درحمان څخه ﴿ نُقَيِّضْ لَهُۥ شَيْطَٰنًا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٌ ﴾ مسلط به کړو موږپرهغه باندې یوشیطان پس هغه به له ده سره (دائمي) ملګری وي (چې ګناهونوته یې لمسوي) اوله سمې لارې بې کړوي) لکه چې الله فرمايي: ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّآ أَرْسَلْنَا ٱلشَّيَٰطِينَ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴾ (مریم: ۸۳) ﴿ وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ ﴾ اوبېشکه دغه (شیطانان) خامخا اړوي دغه (کفارخپل ملګري ګمراهان) له لارې (دحق) څخه ﴿ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴾ اوګومان کوي دغه (سترګي پټونکي کفارله حقه) داسې چې بېشکه دوی دسمې لارې موندونکي دي ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا ﴾ ترهغه پورې چې موږته راشي (دغه کافرسره له خپله شیطان اندیواله چې په ځنځیرانوبه تړلي وي) ﴿ قَالَ يَٰلَيْتَ بَيْنِى وَبَيْنَكَ بُعْدَ ٱلْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ ٱلْقَرِينُ ﴾ نووبه وايي دغه (اعراض کونکی خپل ملګري ته) کاشکي چې وای په مینځ زمااومینځ ستاکې لیرې والی له مشرقه ترمغربه پس بدملګری یې (ته زماځکه چې زه دې بدمرغه کړم باطل دی راته ښایسته کړ) طبري وايي چې دغه دتغلیب له بابه دی لکه چې وايي قمران، عمران ، ابوان نودلته مشرق په مغرب غلبه موندلې. ابوالسعیدالخدري وايي کله چې کافرله خپل اندیوال سره یوځای راپاڅول شي نوبه له هغه څخه نه بېلېږي ترڅودوزخ ته ولوېږي ﴿ وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِى ٱلْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴾ (اوله سره به څه فائده ونه رسوي تاسې ته نن ورځ (له دې جهته) چې ظلم کړی دی تاسې (په شرک سره) داچې بېشکه تاسې (سره له خپلوملګرو) په عذاب کې سره شریکان یی) یعني تاسوته به دعذاب شرکت اوګډون څه فائده ونه رسوي ځکه دهرچاپاره خپله برخه اوونده دی په التسهیل کې وايي معناداچې په عذاب کې ګډون به دوی ته فائده مند نه وي اونه به هغه راحت مومي لکه چې په دنیاکې یوڅوک دمصیبت په وخت کې دبل چاپه ګډون راحت پیداکوي ځکه مصیبت اوبلاچې کله عامه شي تخفیف پیداکوي نوالله وفرمایل چې دوی ته دعذاب ګډون کومه ګټه نلري ﴿ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ أَوْ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَمَن كَانَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ (آیاپس ته به (اې محمده !) اورول وکړې کڼوته یاسمه لاره به وښیې ړندوته اوهغه چاته چې په ښکاره ګمراهي کې وي)؟ یعني ای محمده آیاته کولای شې چې دغه کفارچې لکه کاڼه اوړانده داسې دي واوروې اوسمه لاره وروښیې ؟ بلکه نشې کولای نوکه دوی کافران پاتي شي ته خوامه بدوه مفسرین کرا م وايي په آیت شریف کې درسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره تسلیت اوډاډینه ده ځکه هغه صلی الله علیه وسلم به ددوی ایمان ته په رابللوکې خورازیات زیار اوکوښښ کاووخودوی به له دې سره سره له حق څخه سترګي پټولې طغیان اوضلالت به یې زیاتاوو ﴿ فَإِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنْهُم مُّنتَقِمُونَ ﴾ پس که بېول وکړو موږ خامخاپه تاسره (پخواله تعذیب دمنکرانو) پس بېشکه

---

(۱) دکشاف تفسیر۴/ ۱۹۷

موړله دوی نه انتقام اخیستونکي یو(وروسته ستاله وفاته) ﴿ أَوۡ نُرِيَنَّكَ ٱلَّذِي وَعَدۡنَٰهُمۡ فَإِنَّا عَلَيۡهِم مُّقۡتَدِرُونَ ﴾ یابه وښیوتاته (په ژوندستاکي) هغه (عذاب) چي له دوی سره یې وعده کووپس بېشکه موږپه (عذاب د) دوی قادریو(دوی زموږ دواک په قبضه کي دي له موږڅخه خلاصېدلای نشي . ابن عباس وايي الله تعالی جل جلاله دمشرکانوعذاب دبدرپه ورځ رسول الله ته ورولید ، ابن کثیروایي معناداچي خامخابه موږدوی ته عذاب ورکوو یا ستاپه ژونداویاستاله وفاته وروسته اوالله جل جلاله رسول الله ته ترهغوژوندورکړترڅویي ددښمنانو په عذاب سترګي یخي شوې(۱)﴿ فَٱسۡتَمۡسِكۡ بِٱلَّذِيٓ أُوحِيَ إِلَيۡكَۖ ﴾ پس منګولي ښخي کړه (ای محمده!) په هغه (قرآن) چي تاته وحی کړی شوی دی﴿ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴾ بېشکه ته پرسمي لاري روان یې (هغه چي جنات النعیم ته رسېږي)﴿ وَإِنَّهُۥ لَذِكۡرٞ لَّكَ وَلِقَوۡمِكَۖ وَسَوۡفَ تُسۡـَٔلُونَ ﴾ اودغه (قرآن) ذکرپند (عظیم شرف) دی تاته (ای محمده!) اوقوم ستاته اوژردی چي پوښتنه به وکړی شي له تاسي (ددغه نعمت په قیامت کي) په التسهیل کي وايي چي دلته (ذکر) دشرف په معنادی اودنبي علیه السلام قوم قریش اوګردعرب دي څکه دوی په اسلام باندي ددنیا اوآخرت شرف ترلاسه کړاودغه بس دی چي دوی ختیز اولویدیځ فتح کړل اوخلافت پاچهي ته ورسېدل(۲)اودغه قرآن دهرهغه چالپاره چي ایمان یې راوړی اومتابعت یې کړی شرافت دی دغه آیت شریف دهغه آیت په څېردی چي الله فرمايي: ﴿ لَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ كِتَٰبٗا فِيهِ ذِكۡرُكُمۡۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴾ (الانبياء ۱۰)﴿ وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رُّسُلِنَآ ﴾ اوپوښتنه وکړه (ای محمده!) له هغه چانه چي لېږلی مودی پخواله تاله رسولانوزموږ(دغه په فرضي توګه ویل شوي اوپه کلام کي محذوف شته هغه داچي که بالفرض ته دتوحیدپه هکله شکمن یې نودپخوانیوپیغمبرانوڅخه پدې هکله وپوښته (په شپه دمعراج یاله علماوواوکتابونوڅخه یې)﴿ أَجَعَلۡنَا مِن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ءَالِهَةٗ يُعۡبَدُونَ ﴾ (آیامقررکړي وو موږ بې له رحمانه نورمعبودان چي عبادت به یې کاوو ؟)یعني آیاکوم پیغمبرهم دغیرالله دعبادت لپاره دعوت چلولی دی؟آیت شریف لکه دالله جل جلاله داوېناغوندي دی چي﴿ فَإِن كُنتَ فِي شَكّٖ مِّمَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ فَسۡـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقۡرَءُونَ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكَۚ ﴾ یونس: ۹۴ ابوالسعودوايي چي له آیت شریف څخه مراد,ددي استشهاددی چي انبیاوعلیهم السلام په توحیدباندي اجماع لري اوپه دې تنبیه فرمایل دي چي دغه کوم نوی کاراوبدعت نه دی چي ورسره دښمني وشي اویايي څوک تکذیب وکړي(۳)ابوحیان وايي ښکاري چي خطاب دی داورېدونکي لپاره وي اودلته مجاز راغلی چي دانبیاوواودیان وګورئ آیاپه کوم یوه دین کي هم دبتانو عبادت کول راغلي دي؟ اودغه دشاعرانو دهغو ویناووپه څېرده چي دوی له

(۱) دابن کثیرمختصر ۲۹۰/۳
(۲) التسهیل لعلوم التنزیل ۲۹/۴
(۳) دابوالسعود تفسیر ۴۵/۵

ورانو كليو او باڼو سره خبري كوې او وايې چي: له ځمكي وپوښته ، رودونه او نهرونه دي چاكيندلي وني چادرباندي كښېنولي ، مېوې يې چاځوړولي كړي دي ؟ كه هغه په خوله ځواب ورنكړي خودحال په ژبه پنداوعبرت بيانوى اودغه ټول دمجازپه صنعت كي راغلي دي.

***

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَقَالَ إِنِّي رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٤٦) فَلَمَّا جَاءَهُم بِآيَاتِنَا إِذَا هُم
مِّنْهَا يَضْحَكُونَ (٤٧) وَمَا نُرِيهِم مِّنْ آيَةٍ إِلَّا هِيَ أَكْبَرُ مِنْ أُخْتِهَا وَأَخَذْنَاهُم بِالْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ (٤٨) وَقَالُوا
يَا أَيُّهَ السَّاحِرُ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ (٤٩) فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ (٥٠)
وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِن تَحْتِي أَفَلَا تُبْصِرُونَ (٥١) أَمْ
أَنَا خَيْرٌ مِّنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ (٥٢) فَلَوْلَا أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ أَوْ جَاءَ مَعَهُ الْمَلَائِكَةُ
مُقْتَرِنِينَ (٥٣) فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ (٥٤) فَلَمَّا آسَفُونَا انتَقَمْنَا مِنْهُمْ
فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ (٥٥) فَجَعَلْنَاهُمْ سَلَفًا وَمَثَلًا لِّلْآخِرِينَ (٥٦) ۞ وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا
قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ (٥٧) وَقَالُوا أَآلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًا بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ (٥٨) إِنْ هُوَ
إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ (٥٩) وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنكُم مَّلَائِكَةً فِي الْأَرْضِ يَخْلُفُونَ (٦٠)
وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ (٦١) وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطَانُ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ
(٦٢) وَلَمَّا جَاءَ عِيسَىٰ بِالْبَيِّنَاتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُم بِالْحِكْمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُم بَعْضَ الَّذِي تَخْتَلِفُونَ فِيهِ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ
(٦٣) إِنَّ اللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ (٦٤) ﴾ الزخرف: ٤٦ - ٦٤

مناسبت:

كله چي قريشو رسول الله ﷺ ته دنبوت په هكله پېغور وركاوو چي دغه فقير بې وسه او بې جاه او جلاله دى قرآن خوبه په يو بډاى او دستر جاه او جلال په څاوندرانازلېدونو الله ﷻ دلته دحضرت موسى عليه السلام اودفرعون دكيسې يادونه وكړه ترڅو دې ته اشاره وكړي چي دعناداوطغيان منطق هروخت يو ډول وي فرعون پخوالا پخپل مال او سلطنت باندي دحق له بلني سرغړولى اوداد ليل يې وايو چي هغه ترموسى دزيات مال او جاه څښتن دى نو آيتونه دغه بى دليل او برهانه نيمه خوا بهانه ترديدوي

لغتونه: (ينكثون) له (نكث) څخه اخيستل شوى او عهد ماتولو ته وايي (مهين) سپک او حقير خوار ته وايې (آسفونا) موږ يې په غصه كړو. (سلفا) پېشوا مقتداء (يصدون) دصاد په زېر سره چيغي وهي او په ضمه سره يعني خلګ له ايمانه اړوي[1] او فراء وايې چي دواړه برابر دي (تمترون) امتراء شک كولو ته وايې.

---

[1] صحاح، لسان العرب والقاموس المحيط

دنزول سبب:

له مجاهد څخه روايت شوی وايي چي قريشو به ويل محمد غواړي موږ دده داسي عبادت وکړو لکه چي نصاراوو دعيسى بن مريم كاوو نوالله داآيت نازل كړ: ﴿ وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوۡمُكَ مِنۡهُ يَصِدُّونَ ﴾.

تفسير:

﴿ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ ﴾ (اوخامخاپه تحقيق لېږلی موږموسى سره له (نهو) دلائلو(دقدرت) زموږفرعون ته اومشرانوددغه (فرعون)ته) يعني قسم دی چي په تحقيق سره موږموسى عليه السلام سره دده دنبوت دتصديق دمعجزاتوفرعون ته اودهغه قوم (اقباطو) ته لېږلی وو ﴿ فَقَالَ إِنِّي رَسُولُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ پس وويل موسى بېشكه زه چي يم رسول درب العلمين يم (رااستولی يې يم چي تااوستاقوم يوازي دالله عبادت ته وبولم) ﴿ فَلَمَّا جَآءَهُم بِـَٔايَٰتِنَآ إِذَا هُم مِّنۡهَا يَضۡحَكُونَ ﴾ پس كله چي راغی موسى دوی ته سره له دلائلو(دقدرت) زموږناڅاپه دوی په دغودلائلو (دقدرت زموږ) به يې خندل (ملنډي به يې وربانَدي وهلې. قرطبي وايې څكه به يې وربانديَ خندل چي خپل پلويان وغولوي چي ګني دغه كوډي دي اودوی يې مخه نيولای شي الله فرمايي: ﴿ وَمَا نُرِيهِم مِّنۡ ءَايَةٍ إِلَّا هِيَ أَكۡبَرُ مِنۡ أُخۡتِهَا ﴾ اونه موښوده دوی ته (هيڅ) دليل) له دلائلو(عذاب) مګرچي هغه لوی وو له خوره ددوې (يعني له پخواني عذابه لكه طوفان ، ملخان ، سپږي يوبه يې تربل ستر اوڅرګندوو. صاوي وايې معناداچي هغه وروستی به ترلومړني په اعجازكي اوچت اولوړ وو چي كتونكي به داسي انګېرله چي دغه ترلومړني غټ دی (۱) ﴿ وَأَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡعَذَابِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴾ اونيولي وو موږدوی په عذاب سره دپاره ددې چي دوی راوګرزي (له كفره خپله) ﴿ وَقَالُواْ يَٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ ﴾ اووويل (قبطيانوموسى ته) ای كوډګره وبوله زموږلپاره رب خپل (چي دغه بلااوعذاب راڅخه پورته كړي) دابه يې هغه وخت ويل كله چي به يې عذاب په ستركووليد) ﴿ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ ﴾ په سبب دهغي وعدې (دالله) چي له تاڅخه ده (چي ستا دعابه قبلوي) ﴿ إِنَّنَا لَمُهۡتَدُونَ ﴾ بېشكه چي موږخامخالاره موندونكي يو(كه چېري ستاپه دعاعذاب راڅخه پورته كړی شي. مفسرين كرام وايې ددوی دغه وينا چي وايې ﴿ يَٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ﴾ دسپكاوي لپاره نه ده بلكه ددوی په ګمان دغه درناوی او تعظيم دی څكه سحرددوی دزمانې علم اوهنروو اوبدنه ګڼل كېدونودوی په دغه نامه دتعظيم لپاره ورته غږكړ ابن عباس ﷺ وايې معناداچي ای عالم اوپوهيالی ذاته! ساحر په دوی كي دغتې مرتبې اومقام خاوندوو دوی به يې تعظيم كاوو ﴿ فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابَ إِذَا هُمۡ يَنكُثُونَ ﴾ پس كله چي ليري مو كړ له دوی نه عذاب (په دعادموسى ﷺ سره) ناڅاپه ماته كړه

---

(۱) دصاوي حاشيه په جلالين باندي ۵۱/۴

دوى (هغه خپله كړې وعده او كفراو عصيان ته بې ملا وتړله) ﴿ وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِۦ ﴾ اوغږوكړ فرعون (په افتخارسره) پخپل قوم كې (كله چې دموسى عليه السلام معجزاتې بې وليدې اوپه دې وويرېدوچې دوى به مسلمانان شي) ﴿ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ ٱلْأَنْهَٰرُ تَجْرِي مِن تَحْتِيٓ ﴾ اى زماقومه آيانشته مالره ملک سلطنت دمصر اودغه ويالې چې بهېږي (اواصلي منبع بې نيل دى) لاندي تر(مانۍ) زما؟ قرطبي وايې چې ستري ويالې بې څلوروې چې يوه بې (نهرالملک)بله بې (نهرطولون) بل (نهردمياط) اوڅلورم بې (نهرتيس) ووچې ګردې له نيل څخه راجلاشوي وې قتاده وايې معنادا چې دباغونوويالې بې دفرعون ترمانۍ لاندې رواني وى(١)﴿ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴾ آياپس تاسې دغه نه وينئ؟ (چې زماڅومره لويې اوجاه او جلال دى او موسى څومره بېوزله خواركوټى اوبې نوم اونښانه دى؟﴿ أَمْ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْ هَٰذَا ٱلَّذِي هُوَ مَهِينٌ ﴾ بلكه زه بهتريم له دغه سړي (موسى) چې هغه سپک (اوحقير) دى (هيڅ جاه اوسلطان بې نشته (مقصدبې په دې ويناسره موسى عليه السلام وو﴿ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴾ اونه دى نژدې(دې ته چې) صاف بيان (دمطلب) وكړي (نودرسالت لپاره به څرنګه دى مناسب وي؟ ابوالسعودوايې چې فرعون دغه په موسى عليه السلام افترآء كوله اودهغه تنقيص بې دخلګوپه وړاندې څرګنداوو څكه چې پخوادهغه په ژبه كې لكنت ووخوالله هغه ترې ببولې ووڅكه چې دعايې وكړه ﴿ وَٱحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي يَفْقَهُوا۟ قَوْلِي ﴾ طه: ٢٧ - ٢٨(٢)﴿ فَلَوْلَآ أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ ﴾ ولې نه غورځول كېږي په ده باندې وبنې له له سروزرو(چې دده كرامت اوعزت وبنيې اوپه نبوت بې دلالت وكړي !! مجاهدوايې كله چې به دوى يوتن رئيس ټاكل نوبه بې دوه وبنې دسروزرو ورپه لاس كړل اودسروزروطوق (وسام)به بې درياست دڅرګندولولپاره ورپه غاړه كړ(٣)﴿ أَوْ جَآءَ مَعَهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِينَ ﴾ ياولې نه دي راغلي له ده سره پرښتې پيوسته چې دده خدمت اوساتنه كوي اودده په رښتنولي تصديق وي ابوحيان وايې چې فرعون ځان په عزت اوپاچهي وستايو اوموسى عليه السلام بې له ځانه سره پرتله كړچې دهغه بېوزلي اوبېكسي بې څرګنده كړه اوبيابې دااعتراض وكړچې كه چېري په رښتياپيغمبروى نو ولې بې پروردګاروبنې نه دي ورباندې لورولې اوپرښتې بې مرستندوى ولې نه دي ورسره رااستولي ؟!!(٤) ﴿ فَٱسْتَخَفَّ قَوْمَهُۥ فَأَطَاعُوهُ ۚ ﴾ پس سپک بې عقل وموند(فرعون) خپل قوم پس اطاعت بې وكړ دهغه (فرعون په ګمراهي دده كې) ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴾ بېشكه چې دوى وويوقوم فاسقان (نودفاسق فرمان بې ومانو) ﴿ فَلَمَّآ ءَاسَفُونَا ٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ ﴾ پس كله چې خفه بې كړو (په غضب بې كړو دوى موږ)نو انتقام

(١) البحرالمحيط ٨/ ٢٢
(٢) دابوالسعود تفسير ٥/ ٤٢
(٣) دقرطبي تفسير ١٢/ ١٠٠
(٤) البحرالمحيط ٨/ ٢٢

واخيست موږ له دوی نه) په سخترين عذاب باندی ﴿ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ پس غرق ډوب موكړل دوی ټول (په بحيره قلزم كي چي هيڅ يو موژوندی پرې نښود مفسرين كرام وايې فرعون پخپل عظمت او سلطان باندي غره شوچي ويالې يې ترمانې لاندي رواني دي نو الله په همغه څيز باندي چي ده ورباندي ويار كاوو هلاک كړهغه داچي دبحر په اوبويې غرق كړاوپدې كي دااشاره هم شته چي څوک په يو څيز باندي غره وي په هغه به يې دالله له لوري هلاكت مقرروي ﴿ فَجَعَلْنَٰهُمْ سَلَفًا وَمَثَلًا لِّلْءَاخِرِينَ ﴾ پس وموګرزول دوی پېشوايان (لپاره دعبرت اخيستلو) او مثال لپاره دوروستنيو (كفارو په استحقاق دعذاب كي ترڅود دوی له برخه ليک څخه پندواخلي اودوی ته داسي هلاكت او عذاب ونه رسېږي. مجاهدوايې معنا دا چې پېشوايان لپاره دقريشي كفاروچي دوزخ ته به يې بيايې اوعبرت لپاره دوروسته راتلونكو دي (١) ﴿ وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ ﴾ اوكله چي وګرځاووشوزوی دمريمي مثل(پس) ناڅاپه قوم ستاپرهغه (مثال) شورماشورد خوشحالتيا كوي) يعني كله چي به په قرآنكريم كي دعيسى ﷺ مثال يادشواودهغومعبودانو يادونه به وشوه چي پرته له الله يې مشركان بولي نو قريشي مشركانو به چيغي اوناري سوري پيل كړې مفسرين كرام وايې كله چي رسول الله ﷺ داآيت شريف تلاوت كړچي ﴿ إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ﴾ (الانبياء٩٨) نو(ابن الزبعرى) وويل چي آيا دغه يوازي زموږ لپاره دي اوكه دګردو اُمتونو لپاره؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل دغه ستاسو اوستاسو دخدايانو(معبودانو) اوګردو اُمتونو لپاره دي نو ويې ويل چي زمادي په رب دكعبې قسم وي درڅخه ومي ګټله! آيانصارى دمسيح عبادت نه كوي؟ اوآيا يهودو دعزيرعبادت نه كوي ؟ اوآيا فلانی قبيله دپرښتو عبادت نه كوي كه دغه ټول كسان په اوركي وي بيانو موږ هم راضي يو چي زموږ معبودان دي هم په اوركي وي رسول الله ﷺ دوحی دراتلو په انتظار چُپ پاتي شونودوی داسي وانګېرله چي په دليل كي بريالي شول مشركانو وخندل شورماشور بې جوړ كړاوناري بې لوړي شوې (٢) نو الله ﷻ داآيت نازل كړچي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا ٱلْحُسْنَىٰٓ أُولَٰٓئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴾ (الانبيآء١٠١) قرطبي وايې كه (ابن الزبعرى) سوچ كړی وای بيا به يې اعتراض نه كاووځكه چي الله تعالى فرمايلي دي ﴿ إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴾ داسي يې نه دي ويلي چي (ومن تعبدون) بلكه الله بتان ښودلي دي او داهغه څه دي چي عقول نلري. حضرت مسيح ﷺ اوپرښتې يې مرادنه دي كه څه هم چي هغوی هم معبودان وو (٣) ﴿ وَقَالُوٓا۟ ءَأَٰلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ ﴾ اووايې دغه (كفار) آيا زموږ معبودان غوره دي اوكه هغه غوره دي ؟ (هركله چي عيسى په دوزخ كي شونو زموږ بتان دي هم (ورسره) په دوزخ كي وي ﴿ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًۢا ﴾ نه دی ترلی دوی دغه مثال تاله مګرمحض لپاره

---

(١) دقرطبي تفسير ١٢/١٠٢

(٢) دقرطبي تفسير ١٢/١٠٢

(٣) نفس المرجع.

دمجادلې خصومت جګړې (د مکابرې لپاره نه دحق دغوښتلو لپاره) ﴿ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ ﴾ بلکه دوی یو قوم جګړه کونکی دی چي دباطل په هکله سپين سترګي اولجاجت کوي) په التسهيل کي وايي معناداچي دوی دغه مثال ستا لپاره يوازي دمجادلې په توګه راوړي هغه داچي څوک په مناظره کي خپل مقابل لوری مغلوبول غواړي نوکه هغه په حقه وي اوکه په باطله ؟ ابن الزبعری اودده ملګروسيالانوته خودابنه معلومه وه چي دالله پدې ويناکي چي ﴿ حَصَبُ جَهَنَّمَ ﴾ دی عيسی عليه السلام نه راځي خودوی مغالطه کوله ځکه الله دوی په شديد خصومت سره وستايل چي ﴿ قَوْمٌ خَصِمُونَ ﴾ (١) بيي وبلل ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ ﴾ ندی دغه (عيسی) مګريوبنده دی چي موږ نعمت پرې کړی وو(نبوت مو ورکړی اوپه رسالت مو نازولی وو هغه اله نه دی اونه يې زوی دی لکه چي نصاراګمان کوي) ﴿ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ ﴾ اوګرزولی موووده يومثل (ننبه دعبرت) لپاره دبني اسرائيلو(چي دالله جل جلاله په قدرت باندي وربانديز دليل ونيسي چي الله پاک هغه بې له پلاره پيداکړی وو. امام رازي وايي معناداچي هغه مويوعجيب عبرت ګرزولی وولکه متل داسي به يادېدولکه چي آدم موبې مور اوپلاره پيداکړی همداسي موعيسی عليه السلام بې پلاره پيدا کړی وو(٢)﴿ وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنكُم مَّلَائِكَةً فِي الْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ﴾ اوکه اراده فرمايلي وای موږ نوخامخاګرزولي به موووې دتاسي پرځای پرښتې په ځمکي کي چي خليفګان شوي به وو. مجاهد وايې معناداچي ستاسي پرځای به هغوی دځمکي تعمير او ودانول کول (٣)﴿ وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ ﴾ او بېشکه دغه (عيسی) خامخاعلامه ننبه ده دپاره دقيامت ځکه چي هغه به نژدې قيامت ته له آسمانه را کوزېږي. ابن عباس اوقتاده وايي چي حضرت عيسی عليه السلام دقيامت له علائموڅخه دی ځکه چي لږ دمخه ترقيامت به له آسمانه رابنکته کېږي ﴿ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا ﴾ پس شک مه کوئ تاسي په (راتلود) قيامت کي (هغه خامخاراتلونکی دی په حديث شريف کي راځي چي: نژدې دی تاسوته دی عيسی بن مريم عادل قضاوت کونکی راشي(٤).﴿ وَاتَّبِعُونِ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴾ (اوتاسي متابعت وکړئ زما(په دين کي) دغه لاره سمه برابره ده(چي هيڅوک نه پرې ګمراه کېږي) يعني ای محمده دوی ته ووايه چي زمادهدايت اوشريعتِ متابعت وکړئ دغه دين چي زه تاسو ورته رابولم سمه سيخه لاره ده ﴿ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطَانُ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴾ اونه دې اړوي تاسي له دغي لاري) بېشکه چي دغه (شيطان) تاسي ته ښکاره دښمن دی (چي ستاسي پلارېي لاله جنته څخه بربنډ راوېوست اودنور جامې يې ترې وکښلې ﴿ وَلَمَّا جَاءَ عِيسَىٰ بِالْبَيِّنَاتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُم بِالْحِكْمَةِ ﴾ اوکله چي راغی

(١) التسهيل لعلوم التنزيل ٤ / ٣٢
(٢) کبيرتفسير ٢٧ / ٢٢٢
(٣) القرطبي ١٢ / ١٠٥
(٤) رواه البخاري.

عیسی په ښکاره دلائلو سره وویل: عیسی چې په تحقیق راغلی یم زه تاسې ته په حکمت (معجزاتو او نبوت شریعت سره څرنګه چې یې الهي حکمت غوښتنه او تقاضا کوي) ﴿وَلِأُبَيِّنَ لَكُم بَعْضَ ٱلَّذِى تَخْتَلِفُونَ فِيهِ﴾ او لپاره ددې چې بیان کړم تاسې ته ځینې له هغو احکامو چې وی تاسې چې اختلاف به موکاوو په هغو کې (له دیني چارو څخه) ابن جزي وایې داچې وېې فرمایل ﴿بَعْضَ ٱلَّذِى﴾ تو لېې ونه ویل ځکه چې انبیاء علیهم السلام خو دیني چارې ښیي دنیوي نه ښیي([1]) او طبري وایې([2]) معناداچې (دیني امور، نه دنیوي) ﴿فَٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ﴾ پس ووېرېږئ له (عذابه د) الله او زما اطاعت وکړئ یعني د الله داوامرو امتثال او له نواهیو څخه اجتناب وکړئ او زه چې کوم شرعي تکالیف درته ښیم په هغو کې مې اطاعت وکړئ ﴿إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ رَبِّى وَرَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ﴾ بېشکه الله هم هغه دی چې رب زما او رب ستاسو دی پس عبادت کوئ یوازې ددغه (الله او حکم یې منئ) ابن کثیر وایې معناداچې زه او تاسې دالله بندګان یو هغه ته محتاج او یوازې دهغه عبادت کونکي یو ﴿هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾ دغه لاره سمه برابره (دتوحید او شریعت ده کومه چې جنات النعیم ته رسېدونکې ده).

الله تعالی فرمایي:

﴿فَٱخْتَلَفَ ٱلْأَحْزَابُ مِنۢ بَيْنِهِمْ ۖ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٦٥﴾ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن
تَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٦﴾ ٱلْأَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٦٧﴾ يَٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ
عَلَيْكُمُ ٱلْيَوْمَ وَلَآ أَنتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٦٨﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُوا۟ مُسْلِمِينَ ﴿٦٩﴾ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ أَنتُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ
تُحْبَرُونَ ﴿٧٠﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ ۖ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ ٱلْأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلْأَعْيُنُ ۖ وَأَنتُمْ فِيهَا
خَٰلِدُونَ ﴿٧١﴾ وَتِلْكَ ٱلْجَنَّةُ ٱلَّتِىٓ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٧٢﴾ لَكُمْ فِيهَا فَٰكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُونَ
﴿٧٣﴾ إِنَّ ٱلْمُجْرِمِينَ فِى عَذَابِ جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٥﴾ وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا۟ هُمُ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧٦﴾ وَنَادَوْا۟ يَٰمَٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ إِنَّكُم مَّٰكِثُونَ ﴿٧٧﴾ لَقَدْ جِئْنَٰكُم بِٱلْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كَٰرِهُونَ
﴿٧٨﴾ أَمْ أَبْرَمُوٓا۟ أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ﴿٧٩﴾ أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُم ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ﴿٨٠﴾ قُلْ إِن كَانَ
لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْعَٰبِدِينَ ﴿٨١﴾ سُبْحَٰنَ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبِّ ٱلْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٨٢﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا۟
وَيَلْعَبُوا۟ حَتَّىٰ يُلَٰقُوا۟ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴿٨٣﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى فِى ٱلسَّمَآءِ إِلَٰهٌ وَفِى ٱلْأَرْضِ إِلَٰهٌ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٨٤﴾
وَتَبَارَكَ ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَعِندَهُۥ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٥﴾ وَلَا يَمْلِكُ ٱلَّذِينَ

([1]) التسهیل ۴/ ۳۲

([2]) مختصر ابن کثیر ۳/ ۲۹۵

يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلشَّفَـٰعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ بِٱلْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ
﴿٨٧﴾ وَقِيلِهِۦ يَـٰرَبِّ إِنَّ هَـٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ فَٱصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلَـٰمٌ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾ ﴾ الزخرف: ٦٥ ـ ٨٩

مناسبت:

کله چي الله ﷻ دعیسی ﷺ یادونه وکړه اوددعوت بلنه یې وښوده وروسته یې داهل کتابوضلالت ذکرکړچي څرنګه یې په هکله ډلګۍ ډلګۍ شول اواختلاف یې خپل کړځینوبه ویل چي هغه اله دی ځینوبه ویل چي هغه دالله زوی دی ځینوبه ویل چي هغه ددریودریم دی بیاالله دقیامت کړاوونه اوحالات بیانوي اودسورت پای دحق معبودچي واحدأحد جل وعلاذات دی په صفاتوپای ته رسېږي

لغتونه:

(الأخلاء) دخلیل جمع اوګران دوست ته وایې (تحبرون) خوشحاله کېږئ(اکواب) دکوب جمع هغه پیالې ته وایې چي لاستی نه لري (مبلسون) له رحمته څخه ناهیلي اوله ډېري نا اُمیدي غمجن ته وایې (أبرموا) محکم کړی دی (ابرام) احکام ته وایې (یؤفکون) اړول کاووشي.

دنزول سبب:

مقاتل وایې مشرکانوپه دارالندوه کي درسول الله ﷺ دقتل توطئې جوړي کړې آن تردې چي داخبره یې دابوجهل په وړاندیزسره غوڅه کړه چي له هري قبیلې څخه به یوتن درسول الله دوژلولپاره ګډون کوي څوچي دهغه دوژلوپه توریوه قبیله متهم نشي(١) (اوبني عبدالمطلب بیادیت اخیستلوته چمتوشي).

تفسیر:

﴿ فَٱخْتَلَفَ ٱلْأَحْزَابُ مِنۢ بَيْنِهِمْ ﴾ پس مختلف شول سره دغه قومونه (دنصاراوو) پخپل مینځ کي (په شان دعیسی ﷺ کي . ابن کثیروایې چي ډلي ډلي شول ځیني هغه ووچي ویل به یې هغه دالله بنده اوپیغمبردی اودغه حق پرستان ووځینوداسي ادعاء لرله چي هغه دالله زوی اوځینو پخپله الله بالو (تعالی الله عن قولهم علواًکبیرا) ﴿ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴾ پس افسوس هلاک خرابي ده دپاره دهغوکسانوچي ظلم یې کړی دی(په باب دعیسی کي) له عذابه دورځي دردونکي(چي دقیامت ورځ ده) ﴿ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً ﴾ آیامنتظردي دغه (مشرکان مکذبان یعني نه دي) مګرقیامت ته چي رابه شي دوی ته یوناڅاپه ﴿ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ اودوی به نه پوهېږي (په دنیوي چاروکي به غافل اواخته وي هله به پښېماني کوي چي پښېماني ورته کومه ګټه نلري بیاالله جل جلاله دقیامت احوال داسي یادوي: ﴿ ٱلْأَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ یاران دوستان په دنیاکي په دغه ورځ (دقیامت کي) ځیني ددوی له ځینو نورو سره به دښمنان وي مګر(پاتي به وي) دوستي دمتقیانوهغه چي محبت یې لِله وي ابن کثیروایې هرمحبت او صداقت چي لغیرالله وي

(١) دابن کثیرمختصر ٣/ ٢٩٥

دقيامت په ورځ به په دښمني بدلېږي مګرهغه چي خاص دالله لپاره وي هغه به تل ترتله وي([1]) ابن عباس وايي چي هره يارانه به په قيامت کي په دښمني بدلېږي پرته له متقيانو او ددوی دخوشحالولو اوتعظيم لپاره الله فرمايي: ﴿ يَٰعِبَادِ ﴾ ای (زما(مؤمنو) بندګانو (هغه چي د رب العلمين لپاره موعبادت ترسره کړی دی ﴿ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ ﴾ نشته هيڅ ويره پرتاسي نن (پرسخته ورځ) اونه به تاسي غمجن کېږی (په هغه څه چي په دنياکي درڅخه پاتي شوي دي) بيايې تفسيرهسي فرمايې ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ مُسۡلِمِينَ ﴾ هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی په آيتونوزموږ او وودوی مسلمانان (په دنياکي) يعني هغوی چي دقرآنکريم تصديق يې کړی وو اودالله حکمونوته يې غاړه ايښې وه دالله طاعت يې کاوو ﴿ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ أَنتُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ تُحۡبَرُونَ ﴾ ننوزئ (ای زمامؤمنانوبندګانو) جنت ته تاسي او (مؤمناني)ښځي ستاسي چي خوشحال به کړل شی (په نعمتونو دجنتونوباندي اودخوبې نښي نښانې به ستاسي په مخونو ښکارګندي شي) ﴿ يُطَافُ عَلَيۡهِم بِصِحَافٖ مِّن ذَهَبٖ وَأَكۡوَابٖ ﴾ (ګرزول کېږي به (دغلمانوله خوا) پردغو جنتيانوکاسې ګلاسونه دسروزرو (اوطلائي) صراحې ګاني) يعني جنتيانوته په زرينوکاسوکي خوراکونه راوړل کېږي او(زريني) پيالې به دشرابوورته ډکي وړاندي کېږي. مفسرين کرام وايي چي دجنتيانودخوړلو کاسې اودڅښلولوښي به ګرددسرو اوسپينو زرو وي لکه چي الله تعالی فرمايي: ﴿ وَيُطَافُ عَلَيۡهِم بِـَٔانِيَةٖ مِّن فِضَّةٖ وَأَكۡوَابٖ كَانَتۡ قَوَارِيرَا۠ ﴾ الإنسان: ١٥ په حديث شريف کي راځي: تاسي دورېښموجامې مه اغوندئ او دسروسپينوزروپه کاسواولوښوکي خوراک مه کوئ اوپه زرينوګلاسونوکي څښاک مکوئ ځکه دغه ددوی (کفارو) لپاره په دنياکي اوستاسي لپاره په آخرت کي دي([2]) ﴿ وَفِيهَا مَا تَشۡتَهِيهِ ٱلۡأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلۡأَعۡيُنُ ﴾ اووي به (دوی ته) په دغه (جنت) کي هغه څيزونه چي خواهش کوي دهغونفسونه (ددوی) اوچي پرې خونداخلي سترګي (ددوی چي قسماقسم لذائذاومشتهيات اوډول ډول ښايسته مناظربه وي ﴿ وَأَنتُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ اوتاسي به په دغه جنت کي تل همېشه اوسېدونکي ياست (هيڅکله به ځني نه وزی . ابوالسعودوايې چي دغه دنعمتونو بشپړاوی اودخوشحالي اکمال دی ځکه هرفاني نعمت ددې موجب وي چي دزوال ويره يې و ي([3])کله چي يې دجنت يادونه وکړه چي هغه دخوښي ځای دی نوبيايې دهغه نعمتونه وستايل لومړی يې د خوړلو اوبيا څښلولوښي وښودل ورپسې يې يوبشپړ بيان هسي زيات کړچي ﴿ وَفِيهَا مَا تَشۡتَهِيهِ ٱلۡأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلۡأَعۡيُنُ ﴾ خودنعمت پشپړوالی يې په خلوداوبقاسره بيان کړاودنعمتونو حصريې هسي وفرمايوچي ګردشيان ياخودزړونوغوښتونکي (مشتهاة)وي اويا په سترګوباندي ښه لګېدونکي زړه راښکونکي

([1]) نفس المرجع السابق.

([2]) متفق عليه .

([3]) دابو السعود تفسير ٥ / ٤٩

﴿ وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ او دغه جنت دی هغه چي په ميراث درکړل وي(١) شوی دی هغه تاسوته په سبب دهغو(نېکوعملونو) چي تاسي به په دنياکي کول ابن کثيروايي معناداچي ستاسي نېک اعمال دالله درحمت سبب شول چي تاسي ته جنت درکول شوځکه پخپل عمل هيڅوک هم جنت ته نه داخلېږي بلکه دالله په فضل اومرحمت سره جنت ترلاسه کېږي هوکي ددرجاتواومرتبوتفاوت دنېکواعمالوپه سبب شونی دی (٢) په حديث شريف کي راغي چي هريوستاسوته يوکورپه جنت کي دی اوبل کورپه دوزخ کي کافرد مؤمن هغه کورچي په دوزخ کي يې شته ترلاسه کوي اومؤمن بيادکافرهغه دجنت کورپه ميراث اخلي اودغه الله تعالی داويناديچي فرمايي ﴿ وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ (٣) ﴿ لَكُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُونَ ﴾ (شته تاسي ته په دغه (جنت) کي (نبې غوره) مېوې ډېري چي له هغوڅخه به يې خوری تاسي) يعني پرته دخوراک اوڅښاک له توکوډول ډول مېوې دفاکهي په توګه شته . مفسرين کرام وايي چي جنتيان به ځيني مېوې دجنت خوري اونوري به تل ترتله په ونوباندي ځوړندي وي چي هيڅکله به هم کومه ونه بې مېوې نه ترسترګوکېږي ځکه که دکومي وني مېوه وخوړل شي سمدستي به يې ځا ، نوره مېوه ډکوي په حديث شريف کي راغي چي هيڅوک په جنت کي کومه مېوه نه غوڅوي خو پرځای يې سمدلاسه نوره مېوه رازرغونه شي (٤) کله چي الله دنېکمرغه خلکوحال بيان کړ وروسته بيې دبدمرغانو اواشراروفجارو بيان هسي وفرمايو ﴿ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ﴾ ببشکه چي مجرمان (کافران) به په عذاب ددوزخ همېشه پاتي کېدونکي وي. صاوي وايي چي مرادله مجرمينو څخه کافران دي ځکه چي دمؤمنانو په مقابله کي ذکرشوي دي ﴿ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ ﴾ نه به سپکاووشي له دوی څخه (عذاب) يوه شېبه هم) ﴿ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴾ او دوی به په دغه عذاب کي نااميده (ناهيلي) وي (له هره خيره) ﴿ وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا هُمُ الظَّالِمِينَ ﴾ اوموږ پردوی ظلم ندی کړی وليکن دوی ووهمدوی ظالمان (چي ځانونه يې دتل ترتله عذاب مستحق کړل) ﴿ وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ﴾ اوغربه وکړي (دوزخيان) چي ای مالکه (خازنه ددوزخ) حکم دي وکړي پرموږرب ستا (چي مړه شواوله دغه عذابه خلاص شو) . ابن عباس وايي چي دوی ته به وروسته له يوزرکالوځواب ورکول شي (٥) ﴿ قَالَ إِنَّكُم مَّاكِثُونَ ﴾ وبه وايي (مالک بسيا) وروسته له زروکالوددوی په ځواب کي) چي ببشکه تاسي (ژوندي) پاتي کېدونکي يې (په دوزخ کي چي په هيڅ توګه ترې خلاصېدلای نشی ﴿ لَقَدْ جِئْنَاكُم بِالْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كَارِهُونَ ﴾ خامخاپه تحقيق راغلي وو موږتاسي ته (دانبياوو په وسيله) په حق سره وليکن زياتره ستاسي حق لره بد ګڼونکي يې؛

(١) حاشيه شيخ زاده على البيضاوي ٣ / ٣٠٤
(٢) دابن کثيرمختصر ٣ / ٢٩٢
(٣) أخرجه ابن ابي حاتم .
(٤) دابو السعود تفسير ٥ / ٤٩
(٥) دابن کثيرمختصر

دغه خطاب دتقريع اوتوبيخ دى يعني اى كفارومورډتاسي ته په ځرګند برهان سره راغلي وولیکن تاسودالله له دين څخه كركه اونفرت كاوو ځكه چي ستاسوله خواهشاتواوشهوتونوسره په ټكركي وو. امام رازي وايي دغه لكه دپخواني مذكور علت غوندي دى اومقصدددوى نفرت له قرآنكريم او محمدصلى الله عليه وسلم سره ښيي او داچي له حق دين سره يې سخت بغض كاوو[1] ﴿ أَمْ أَبْرَمُوٓا۟ أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ﴾ بلكه محكم كړى دى (كفارودانبياووپه خلاف) يوكار پس بېشكه موږهم محكم كونكي يو (دخپل تدبيرچي دانبياوو مرسته كوو) دلته كلام له قريشي كفاروڅخه بيانېږي يعني دغه مشركان دمحمد ﷺ په هكله چي كومه توطئه محكموي نوموږ خپل امر دده په نصرت اوحمايت كي محكموو اوكفار هلاكوو. مقاتل وايي چي دغه آيت ددوى دهغي توطئې په هكله كومه چي مشركانوپه دارالندوة كي سره غوته كړه نازل شوى دى[2] ﴿ أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُم ﴾ (آياګمان كونكي دي (كفار) چي بېشكه موږ نه اورو پټي خبري ددوى اوپټي مشورې ددوى (نه ده داسي) يعني آياددوى داګمان كوي چي ددوى په پټو رازونو اوياهغه پټ دزړه په خوالوزموږاورېدل نشته ؟ په التسهيل كي وايي چي (سر) هغه څه پټ رازته وايي چي سړي يې له خپله ځانه سره اويابل چاته پټ ووايي او(نجوى) بياهغه وي چي پخپل مينځ كي ورباندي خبري وكړى شي [3] ﴿ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ﴾ بلكه اورو يې اوزموږ رسولان(چي حفظه ملائكي دي) له دوى سره دي چي ليكي(ټول اعمال ددوى) روايت كېږي چي دغه آيت شريف دأخنس بن شريق اوأسودبن عبديغوث په هكله نازل شوى چي دوى دواړه يوځاى شول أخنس وويل آياالله زموږپټ راز اوري؟ هغه بل ورته وويل زموږ(نجوىٰ) مشوره اوري اوپټ رازنه اوري[4]

﴿ قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْعَٰبِدِينَ ﴾ ووايه (اى محمده دوى ته !) كه وي بالفرض والتقديرلكه چي تاسي وایاست) رحمن ته ولد(زوى لور) پس زه به (دغه ولدلره) ړومبى له عبادت كونكووم (خوالله تعالى جل جلاله له زوجې او ولدڅخه منزه دى. قرطبي وايي ددې مثال هسي دى لكه چي ته يوچاته دمناظرې په وخت كي وايې كه داستارايه په دليل ثابته شي نوزه به لومړنى ځوك يم چي عقيده به پرې كوم اودغه په استبعادكي مبالغه اوهمدارنګه په كلام كي نرمښت دى[5] طبري وايي چي دغه په كلام كي ملاطفت دى. بيضاوي وايي چي پدې كي دولددثبوت اودهغه دعبادت په بشپړه توګه نفى شته هسي نه چي پدې سره دي دولد دوجود اوعبادت سم والى ښكاره شي بلكه له ولدڅخه انكاردعنادله مخي نه دى شوى خوكه چېري بالفرض واى نوبه په طريقه اولى سره خلګوپه هغه اعتراف كاوو اونبي

(1) كبيرتفسير ۲۷ /۲۳۷

(2) دقرطبي تفسير ۱۲ /۱۱۸

(3) التسهيل ۴ /۳۳

(4) التسهيل ۴ /۳۳

(5) قرطبي ۱۲ /۱۱۸

عليه السلام خوپه الله ﷻ اوهغه څه چي له الله سره نه ښايي ښه عالم دی (۱) ﴿ سُبْحَٰنَ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبِّ ٱلْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴾ پاكي ده رب د آسمانونو ته او (رب د) ځمكي ته رب د عرش ته له هغه څه چي بيانوي (دوی ورته چي نسبت د ولد او شرک او نور عيوب دي) ﴿ فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا۟ وَيَلْعَبُوا۟ ﴾ پس پرېږده دوی چي غوټې وهي (په جهل ضلال او باطلو خبرو) او لوبي كوي (په دنيا خپله كي) ﴿ حَتَّىٰ يُلَٰقُوا۟ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴾ ترهغه پوري چي ملاقات وكړي له ورځي د دوی سره هغه (هغه ورځ) چي وعده كړی شوی ده (له دوی سره په دغه ورځ د قيامت كي د عذاب نوژر به ووينې چي د دوی حال او برخه ليک به څه وي؟)

24
24

﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى فِى ٱلسَّمَآءِ إِلَٰهٌ وَفِى ٱلْأَرْضِ إِلَٰهٌ ﴾ او الله هغه (لوی ذات) دی چي په آسمانونو كي معبود دی او په ځمكه كي معبود دی . په التسهيل كي وايي معنا دا چي هغه دځمكي د اهل او د آسمان د اهل معبود دی ابن كثير وايي يعني هغه د هغه چا چي په آسمانونو او ځمكه كي معبود دی گرد د هغه عبادت كوي هغه ته غاړه ايښودونكي او په وړاندي يې خضوع كونكي دي(۲) ﴿ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ (او هم دی دی ښه حكمت والا ښه عالم) يعني او همدی دی ښه حكمت والا په تدبير د خپل مخلوق او ښه عالم په مصلحتونو د دوی دغه لكه چي د الله په وحدانيت باندي دليل وي ﴿ وَتَبَارَكَ ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ﴾ او بركت ناک دی هغه (لوی ذات) چي خاص ده ته دی ملک سلطنت د آسمانونو او د ځمكي او د هر هغه څه چي په مينځ د دغو دواړو كي دي (له انسانانو، پېريانو او پرښتو څخه چي د دوی گرد و خالق، مالک او په كائناتو كي متصرف دی هيڅوک يې ممانعت او مدافعت نشي كولای) ﴿ وَعِندَهُۥ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ ﴾ او (خاص) همده سره دی علم د قيامت (چي څه وخت به وي) ﴿ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ او (خاص) هم دغه (الله) ته بيرته بېولی شي (ټول قيامت ته لپاره د جزاء چي هرچاته به په خپل عمل باندي جزا وركړي

﴿ وَلَا يَمْلِكُ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلشَّفَٰعَةَ ﴾ او اختيار نلري هغه معبودان چي دوی يې عبادت كوي بې له دغه (الله) د شفاعت (لكه چي منكران گمان كوي) ځكه چي شفاعت د الله په اذن باندي ترسره كېږي ﴿ إِلَّا مَن شَهِدَ بِٱلْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ مگر هغه څوک چي شاهدي يې ويلي وي (په ژبه) په حقه سره (ايمان يې راوړی په پوهي او بصيرت نو دهغه شفاعت گټه لري) ﴿ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ حال دا چي دوی پوهېږي (او علم يې وي پرهغو باندي په زړه سره) چي شفاعت پرته د الله له اذنه نشي كېدای . مفسرين كرام وايي چي مراد له ﴿ مَن شَهِدَ بِٱلْحَقِّ ﴾ څخه حضرت عيسى ، عزير او ملائكه دي ځكه دوی د الله د وحدانيت او حق

(۱) دغه وينا ښه او سمه ده چابيا وېلي چي (ان) د (ما) په معنا دی يعني (ماكان للرحمن ولد) يعني الله لره ولد نشته بيا به كلام دلته بشپړ و بلل شي او بيرته به پيل شي فقال ﴿ فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْعَٰبِدِينَ ﴾ خو دغه وينا كمزوري ده .
(۲) مختصر ابن كثير ۳/ ۲۹۸

شاهدي ويونکي دي نوددوی شفاعت دمؤمنانولپاره گټوردی که څه هم دوی پرته له الله معبودان گڼل شوي دي ﴿ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَهُمۡ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ﴾ اوقسم دی که وپوښتې ته دوی چې چاپيدا کړي دي دغه (عابدان او معبودان) نوخامخاوبه وايې هرومرو دوی چې الله (پيدا کړي دي دوی په دې اعتراف کوي چې الله خالق دی خوله دې سره سره دغه چاعبادت کوي چې هغه په هيڅ شيز قادرنه وی ﴿ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴾ پس کوم طرف ته گرزول کېږي دغه (مشرکان له عبادت درحمان څخه عبادت دبتانوته ؟ دغه نهايته جهل او پرېمانه ناپوهي ده) ﴿ وَقِيلِهِۦ يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ لَّا يُؤۡمِنُونَ ﴾ او (قسم دی) پردغي وينادد غه (رسول چې ای زماربه بېشکه (دغه قريش مشرکان) يوقوم دی چې دوی ايمان نه راوړي) (په قرآن اونه په رسالت زماباندي . قتاده وايې چې دغه ستاسودپيغمبر رسول الله ﷺ وينا ده چې دخپل قوم شکايت خپل پروردگارته وړاندي کوي ([1]) ﴿ فَٱصۡفَحۡ عَنۡهُمۡ وَقُلۡ سَلَٰمٞ ﴾ (پس مخ وگرزوه له دوی (او طمع پرې کړه له ايمانه ددوی) او ووايه (ای محمده دوی ته غوارم له شره ستاسو) سلامتي يعنی ای محمده له دوی څخه مخ وگرزوه اوددوی دچلند په شان ورسره چلند مه کوه ! صاوي وايې چې دغه له دوی څخه دبېزاري اوليري والي په هکله حکم دی کفاروته دسلام وراچولو په معنانه دی ([2]) قتاده وايې الله لومړی ځل په مخ اړولو اوتېرى کولوورته حکم کړي اوبيايې له دوی سره دقتال کولو حکم ورته فرمايلي دي نو(صفح) په (سيف) سره منسوخ شوی دی([3]) ﴿ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ﴾ پس ژردی چې پوه به شي دوی (په عاقبت دکفر، اجرام او تکذيب خپل دغه دمشرکانولپاره وعيداوتهديداودرسول الله ﷺ لپاره تسليت دی([4])

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١ - بليغه تشبيه لکه ﴿ جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا ﴾ يعني لکه مهداوفراش دتشبيه توری (ادات) اودشبه وجه حذف شوی بليغه تشبيه گڼل کېږي.

٢ - تبعيه استعاره چې پدې کلام کې دی ﴿ فَأَنشَرۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ ﴾ ځمکه يې ترباران اوربدلود مخه له مړه انسان سره مشابه گڼلې بيايې په باران راپاڅولي نوپدې کې تبعيه استعاره ده.

٣ - تاکيد په (ان) او(لام) باندي سره دمبالغې له صيغې چې کله فرمايې ﴿ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ مُّبِينٌ ﴾ فعول اوفعيل دواړه دمبالغې صيغې دي

٤ - تهکمي اسلوب دتوبيخ اوتقريع لپاره پدې آيت شريف کې چې ﴿ أَمِ ٱتَّخَذَ مِمَّا يَخۡلُقُ بَنَاتٖ وَأَصۡفَىٰكُم بِٱلۡبَنِينَ ﴾ اودبنين اوبنات ترمينځ دطباق صنعت دی.

([1]) مختصر ٣ /٢٩٨

([2]) دصاوي حاشيه .

([3]) قرطبي تفسير ١٢ /١٢٤

([4]) دابوالسعود تفسير ٥ /٥١

۵ - مرسل مجاز هلته چي فرمايي ﴿ وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِۦ ﴾ مراد په کلمه سره هغه جمله ده چي ويلي يې وو ﴿ إِنَّنِي بَرَآءٌ مِّمَّا تَعۡبُدُونَ ﴾ نو دلته په لفظ کي مجاز دی.

۶ - استعاره پدې کلام کي چي: ﴿ أَفَأَنتَ تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ أَوۡ تَهۡدِي ٱلۡعُمۡيَ ﴾ کفاريې له کڼو ړندو سره د تمثيلي استعارې په راوړلو مشابه کړي دي.

۷ - اشتقاقي جناس د الله جل جلاله په دې کلام کي ﴿ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رُّسُلِنَآ ﴾ چي د دواړو ترمينځ د شکل او ځينو نورو توروتغيير شته دی

۸ - حذف الايجاز پدې آيت کي ﴿ بِصِحَافٖ مِّن ذَهَبٖ وَأَكۡوَابٖ ﴾ چي په حقيقت کي داکواب من ذهب دی خو هغه حذف شوی ځکه چي پخوانی کلام وربانديې دلالت کوي

۹ - دعام يادونه وروسته له خاص ځخه لکه داچي: ﴿ وَفِيهَا مَا تَشۡتَهِيهِ ٱلۡأَنفُسُ ﴾ وروسته له دې قوله چي ﴿ يُطَافُ عَلَيۡهِم بِصِحَافٖ ﴾ دآيت ترپايه.

۱۰ - دطباق صنعت لکه ﴿ أَمۡ يَحۡسَبُونَ أَنَّا لَا نَسۡمَعُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۚ ﴾ ځکه مراد ځني پټه او ښکاره ده.

۱۱ - زړه راښکونکي سجع چي تکلف په کي نه وي لکه ﴿ كَذَٰلِكَ تُخۡرَجُونَ ﴾ ﴿ مِّنَ ٱلۡفُلۡكِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ مَا تَرۡكَبُونَ ﴾ ﴿ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴾ او نور د پرداسي بديعي محسنات چي په دې سورت کي راغلي دي

د الله ﷻ په مرسته د الزخرف سورت تفسير بشپړ شو.

***

دالدخان سورت مکي او نه پنځوس آیتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالدخان سورت مکي اودمکي سورتونو أهداف اوموخي لکه توحید، رسالت اوبعث څېړي ترڅوچي دایمان ستني ټینګي اوعقیده مضبوطه شي.

سورت په پیل کي له قرآن کریمه غږېږي هغه چي تلپاتي معجزه اوترهغوبه باقي وي څوچي دغه ځمکه اودهغې اوسېدونکي وي اوبیاالله تعالی ته وردرومي دسورت په ترڅ کي دانبودل کېږي چي دغه پاک کتاب له ډېروغوره دعمرشپوڅخه په یوه ډېره مبارکه شپه چي دقدرشپه ده الله نازل کړی دی ددغي شپې شرف یې پدې څرګند کړی چي په هغې کي دخلګوچاري تدبیرمومي اودغه شپه پاک الله دهغه آسماني کتاب درانازلولولپاره چاڼ کړي ده چي دټولوروستنی کتاب اوپه وروستني پیغمبر حضرت محمد ﷺ رانازل شوی دی

بیادمشرکانودریزدنومورې کتاب په هکله څرګندوي چي دوی دهغه په باب شک اوشبهې لري سره له دې چي آیتونه یې روښانه اودلائل یې څرګنددي نودوی ته دسخت عذاب وېرونه ورکوي.

ورپسې دفرعون اوتېرڅخه یې پرده پورته کوي چي څرنګه دخپل طغیان اوکفر داورشومه شول اوڅومره سخت عذاب ورته ورسېدوچي ګڼ باغونه اوماڼۍ ترې پاتي شوې چینې، ویالې اونعمتونه یې ګردبني اسرائیلوته په میراث ورسېدل اوبیادهغوی (بني اسرائیلو) تیت اوپرک کېدل او اختلاف را اخلي کله چي یې دالله ﷻ داوامرو عصیان ته مخه کړه.

سورت دقریشي مشرکانوهغه انکارچي دبعث اونشورپه هکله یې لرل بیانوي دوی دبیرته راژوندي کېدلومرحله ډېره لیري اومستبعد ګڼله ځکه یې نودپیغمبرانوتکذیب کاوو دلته داپه ګوته کوي چي دوی په الله باندي ترهغوسرغړونکواُمتونوګران نه دي چي پخوایې دخپلوپیغمبرانوتکذیب کړی اوهلاک شوي دي دغه دمکذبینو هلاکول دالله ﷻ تېره لاره ده چي هیڅکله تغییرنه مومي.

په پای کي سورت دنېکانواوفاجرانوبرخه لیک کاږي لکه چي دقرآنکریم اسلوب دی ترغیب اوترهیب سره یوځای راوړي اوتبشیرااوانذارسره نغاړي

تسمیه اونومول یې:

ځکه یې دالدخان سورت بولي چي الله ﷻ دغه ددوی دوېروني لپاره یونښه را استولي ده دوی په سخته کاختي اولوږه کي پدې سبب اوسېدل چي درسول الله ﷺ تکذیب یې کاووالله ﷻ ورباندي لوګی راواستاوو چي نژدې وو ګردهلاک شي بیاالله پاک درسول الله ﷺ ددعاپه برکت وژغورل

***

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ حمٓ ﴿١﴾ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢﴾ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةٖ مُّبَٰرَكَةٍۚ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ﴿٣﴾ فِيهَا يُفۡرَقُ كُلُّ أَمۡرٍ حَكِيمٍ
﴿٤﴾ أَمۡرٗا مِّنۡ عِندِنَآۚ إِنَّا كُنَّا مُرۡسِلِينَ ﴿٥﴾ رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦﴾ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا
بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٧﴾ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٨﴾ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ

يَلۡعَبُونَ ﴿٩﴾ فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ﴿١٠﴾ يَغۡشَى ٱلنَّاسَۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١١﴾ رَّبَّنَا ٱكۡشِفۡ عَنَّا
ٱلۡعَذَابَ إِنَّا مُؤۡمِنُونَ ﴿١٢﴾ أَنَّىٰ لَهُمُ ٱلذِّكۡرَىٰ وَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مُّبِينٞ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ وَقَالُواْ مُعَلَّمٞ مَّجۡنُونٌ ﴿١٤﴾ إِنَّا كَاشِفُواْ
ٱلۡعَذَابِ قَلِيلًاۚ إِنَّكُمۡ عَآئِدُونَ ﴿١٥﴾ يَوۡمَ نَبۡطِشُ ٱلۡبَطۡشَةَ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ﴿١٦﴾ ۞ وَلَقَدۡ فَتَنَّا قَبۡلَهُمۡ قَوۡمَ فِرۡعَوۡنَ
وَجَآءَهُمۡ رَسُولٞ كَرِيمٌ ﴿١٧﴾ أَنۡ أَدُّوٓاْ إِلَيَّ عِبَادَ ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ﴿١٨﴾ وَأَن لَّا تَعۡلُواْ عَلَى ٱللَّهِۖ إِنِّيٓ ءَاتِيكُم بِسُلۡطَٰنٖ
مُّبِينٖ ﴿١٩﴾ وَإِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمۡ أَن تَرۡجُمُونِ ﴿٢٠﴾ وَإِن لَّمۡ تُؤۡمِنُواْ لِي فَٱعۡتَزِلُونِ ﴿٢١﴾ فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ مُّجۡرِمُونَ ﴿٢٢﴾
فَأَسۡرِ بِعِبَادِي لَيۡلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَٱتۡرُكِ ٱلۡبَحۡرَ رَهۡوًاۖ إِنَّهُمۡ جُندٞ مُّغۡرَقُونَ ﴿٢٤﴾ كَمۡ تَرَكُواْ مِن جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ﴿٢٥﴾
وَزُرُوعٖ وَمَقَامٖ كَرِيمٖ ﴿٢٦﴾ وَنَعۡمَةٖ كَانُواْ فِيهَا فَٰكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَۖ وَأَوۡرَثۡنَٰهَا قَوۡمًا ءَاخَرِينَ ﴿٢٨﴾ فَمَا بَكَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلسَّمَآءُ
وَٱلۡأَرۡضُ وَمَا كَانُواْ مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾ الدخان: ١ – ٢٩

لغتونه:

(يفرق) جلاكاووشي بيانېږي (ارتقب) منتظرشه (يغشى) پټوي احاطه كاووشي (نبطش) مونږنيسو،په زور او قوت سره نيول بطش بولي (فتنا) مونږ وازمويلى (تعلوا) تكبراولويي يې وكړه (عذت) پناه مي يوووړه الله ته (أسر) دشپې تگ وكړه (رهوا) ساكن ،عريان (رهو) سكون ته وايې جوهري وايې (رهاالبحر) معناداچي ساكن اوآرام شواوچي وايې (جاءت الخيل رهوا) معناداچي آسان په آرام اوكرار راغلل (منظرين) مهلت وركول شوى (نعمة) په فتحه (زور) سره دسوكالي اوراحت ژوندته وايې اوپه كسره (زېر) سره بياإحسان، وركړې اوافضال ته ويل كېږي

دنزول سبب:

له ابن مسعود ﷛ څخه روايت شوى وايې چي كله قريشوله رسول الله ﷺ څخه سرغړونه اوعصيان وكړنوپيغمبرعليه السلام ورته ښېراوكړه چي لكه ديوسف ﷺ دكاختي غوندي وچكالي دي درباندي راشي هغه وودوى ته داسي كاختي ورسېده چي هډوكي يې وخوړل اوسړي به آسمان ته كتل دده اوآسمان ترمينځ به لكه لوگې غوندي له لوږي ورته ښكاره كېدو نو الله ﷻ داآيت نازل كړچي: ﴿ فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ﴾ نودوى رسول الله ته راغلل اورسول الله ته وويل شوچي (مضر) ته دعاوكړه چي هلاك شول نورسول الله استسقاء وكړه اوباران واورېدوچي بياداآيت نازل شو: ﴿ إِنَّا كَاشِفُواْ ٱلۡعَذَابِ قَلِيلًاۚ إِنَّكُمۡ عَآئِدُونَ ﴾ كله چي دوى ته آسودگي اوسوكالي ورسېده بيرته پخواني حال ته ستانه شوو نو الله ﷻ داآيت نازل كړچي ﴿ يَوۡمَ نَبۡطِشُ ٱلۡبَطۡشَةَ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ﴾ [1].

---

[1] رواه البخاري

تفسير:

﴿ حٰمٓ ﴾ له مقطعاتو توروڅخه دى چي دقرآنكريم په اعجازباندي تنبيه وركوي اوتفصيل يې پخواتېرشوى دى ﴿ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ﴾ قسم دى پردغه كتاب ښكاره كونكي (فرق كونكي په مينځ دهدايت اوضلالت درونې اعجاز اوڅرگندواحكاموښتن دقسم ځواب داچي ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِى لَيْلَةٍ مُّبَٰرَكَةٍ ﴾ بېشكه موږنازل كړى مودى هغه په شپه بركت ناكه كي (چي ليلة القدردرمضان دمياشتي دى لكه چي الله فرمايي ﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ ﴾ (البقرة: ۱۸۵) ابن جزي وايي د قرآن كريم دنزول معناداچي يوځاى ددنيا آسمان ته پكي رانازل شوى دى اوبياحضرت جبرئيل په نبي عليه السلام باندي ټوټه ټوټه نازلاوو (۱) چابياويلي چي لومړنى ابتداء دنزول يې په ليلة القدركي شوئ ده. قرطبي وايي داچي بركت ناكه شپه يې وبلله ځكه چي الله پدې شپه كي پخپلومخلوقاتو بركات اوخيرات رانازلوي اوثوابونه وركوي (۲) ﴿ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ﴾ بېشكه موږ يو وېرونكي (په رالېږلوددغه قرآن ځكه چي زموږشان دادى چي خلگ بې له انذاراود عذاب له وېرولونه پرېږدو ترڅوچي درباندي حجت قائم كړو ﴿ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ﴾ په دغه شپه كي بيانوه شى بېلاوه شي هركارحكمتناک (داسي ټينگ چي نه بدلېږي) له ارزاقودبندگانوله آجالو (دمرگ نېټو) اونوروټولو چارو احوالوددوى. ابن عباس وايي چي الله له يوه كاله تربله پوري دژوند، مرگ، رزق روزي فيصلې كوي مفسرين كرام وايي چي الله تعالى دقدرپه شپه له لوح محفوظ څخه گردهغه شيان چي په دغه كال كي دبندگانوله روزي، اجل اونوروچاروكه دخيروي اوكه دشرمقررشوي وي رااخلي اوليكي آن تردې چي يوسړى به په ښارونو كي گرزي نكاح به كوي اولادبه يې زېږي خونوم به يې په مړوكي ليكلى شوى وي (۳) ﴿ أَمْرًا مِّنْ عِندِنَآ ﴾ حكم زموږله نزده يعني ټول هغه څه چي موږيې په دغه شپه كي تقديرفرمايواو پرښتوته دبندگانودچاروپه هكله وحى كوو دغه حكم دى چي زموږله لوري صادرېږي زموږ په علم اوتدبيرسره صورت نيسي ﴿ إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴾ بېشكه موږلېږونكي د رسولانو (انبياوو چي بشرته الهي احكام شرائع ورسوي اودهدايت لاري ته يې راوبولي ﴿ رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ﴾ لپاره درحمت (اومهرباني پرخلگو) له رب ستا. په البحرالمحيط كي وايي چي دظاهرراوړل چي (ربک) دى دضميرپرځاى چي فرمايلي يې واى (رحمة منا) ددې لپاره دى چي داوښيي ربوبيت په بندگانوباندي درحمت اومهرباني غوښتونكي دي (۴) ﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ بېشكه الله هم دى دى ښه اورېدونكى (دټولواقوالو) ښه عالم دى په

(۱) التسهيل لعلوم التنزيل ۴/ ۳۴

(۲) تفسير القرطبي ۱۲/ ۱۲۶

(۳) دشيخ زاده حاشيه په بيضاوي باندي ۳/ ۳۱۰

(۴) البحرالمحيط ۸/ ۳۳

(يولواحوالوافعالودبندګانو) ﴿ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴾ (رحمت دی کړدوته له طرفه د) رب د آسمانونو او ځمکي او (رب د) هغو شیانو چي په مینځ ددوی کي دی که چېري یی تاسي یقین کونکي) یعنی که چېري یاست تاسي یقین کونکي ایمان راوړونکي یاست؟ هغه ذات چي قرآن یې نازل کړی رب د آسمانونو او ځمکي ومابینهمادی ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ ﴾ نشته لائق د عبادت بل هيڅوک مګر هم دی دی چي ژوندي کوي او وژل کوي دغه (الله چي د کمال جلال په صفاتو متصف دی له ده پرته بل معبود نشته ﴿ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴾ (دغه الله) رب ستاسي دی او رب د پلرونو ړومبنیو ستاسي دی (له پخوانیو اُمتونو څخه. امام رازي وايي له آيت څخه مقصد دادی چي هرکله نازلونکی ذات ددومره زیاتو صفاتو خاوند دی نو نازل کړی کتاب به یې اورمرو دستري مرتبې او شرف څښتن وي (۱) ﴿ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ يَلۡعَبُونَ ﴾ بلکه دوی په شک کي دي (له بعث څخه) چي لوبي کونکي دي (په مؤمن به شیانو) یعني دوی یقین نه کوي پخپله دې ویناکي چي وايي الله زموږ خالق دی بلکه دوی لوبي وربانديي کوي او ملنډي پرې وهي شيخ زاده وايي چي دلته د التفات صنعت راوړل شوی دی چي ﴿ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ يَلۡعَبُونَ ﴾ ترڅو ددوی د شان تحقیرو کړي او د خطاب له مقام څخه یې لیري کړي ځکه چي دوی کوټلي دلائلو او براهینو ته هيڅ نه ګوري او نه هم د حق او باطل ځيزیاد ګتور او تاواني ترمینځ توپیر کوي (۲) کله چي الله تعالی ددوی د حماقت او طغیان شان وستایو نو یې خپل حبیب ﷺ ته د التفات خطاب وفرمایو چي تسلیت او ډاډ ورکړي او داورته وښیي چي ددوی له ایمان راوړلو دي بې پرواشي ﴿ فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ﴾ پس منتظر اوسه (ای محمده دوی ته) په هغه ورځ چي راشي آسمان په ښکاره لوګي سره (چي هرڅوک یې ویني. ابن مسعود ﷺ وايي چي کله د قریشو له رسول الله ﷺ څخه سرغړونه او عصیان اوج ته ورسېدو نو رسول الله ﷺ ورته ښېراوکړه ويې ويل اللهم أشدد وطأتک على مضر واجعلها عليهم سنين کسني يوسف) ای الله پر مضر باندي دي کړاوونه سخت کړه او داسي کاختي ورته راوله لکه چي د يوسف عليه السلام په زمانه کي (په مصريانو) راغلي وه همداسي پرد غو خلګو کاختي راغلي آن تردې چي مړزګي یې وخوړلې او یوتن به له بل سره غږېدو له پريره لوګي څخه چي د ځمکي او آسمان ترمینځ به خپور وو متکلم به یې نه ليدلو او غږ به يې اورېدو (۳) او ابن عباس ﷺ وايي (دخان) تېرشوی نه دی هغه به تر قیامت لږ ګړی د مخه راځي مسلمان ته به د زکام په ډول وررسېږي او د کافرانو منافقانو به کوپړی پخې شي اولکه مست غوندي به وي نو لوګی به یې ختي

---

(۱) کبیر تفسیر ۲۷/ ۲۴۱
(۲) شیخ زاده ۳/ ۳۱۱
(۳) البحر المحيط ۸/ ۳۴

اولړمونونه ورډک کړي له سپوږمو، غوږونو او مقعد څخه به يې راوزي[۱] ﴿ يَغْشَى ٱلنَّاسَ هَـٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ (چي پټ به کړي ټول مخلوق (وبه وايي دوی) دغه عذاب ډېر دردناک دی) يعني کفارا او قريش به له هره لوري سره راونغاړي ﴿ رَّبَّنَا ٱكْشِفْ عَنَّا ٱلْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ ﴾ ای ربه زموږ لري کړه له موږ دغه عذاب بېشکه موږ ايمان راوړونکي يو (په محمد او قرآن باندي که دي عذاب ليري کړ. بيضاوي وايي دغه د دوی له لوري د ايمان راوړلو ژمنه او وعده وه[۲]) ﴿ أَنَّىٰ لَهُمُ ٱلذِّكْرَىٰ ﴾ چېري به نفع ورسوي دوی ته پنداخيستل (پس د عذاب له نزوله دغه استبعاد دی يعني له کومه به دوی وروسته د عذاب له پورته کېدلو پند واخلي ؟) ﴿ وَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُولٌ مُّبِينٌ ﴾ حال دا چي په تحقيق راغلی وو دوی ته رسول ښکاره بيانونکی (چي په څرګندو معجزاتو سره يې ملاتړ شوی وو خو بيا هم دوی ورباندي ايمان نه راووړ او نه يې متابعت وکړ) ﴿ ثُمَّ تَوَلَّوْا۟ عَنْهُ وَقَالُوا۟ مُعَلَّمٌ مَّجْنُونٌ ﴾ بيا هم دا سي وګرځېدل دوی له هغه (اجابت د رسول څخه) او وويل (کفارو) ده ته ښودنه کړی شوي ده (د قرآن له بل چانه) دی لېونی دی (نو آيا دا سي قوم چي دا سي ناولي صفتونه ولري بيا هم ايمان راوړي؟ امام فخررازي وايي چي دمکې کفارو د قرآنکريم په هکله چي د رسول الله په وسيله ورته راوړل شوی وو دوه رائي لرلې ځينو به ويل چي محمد دغه قرآن له بل چا څخه زده کوي او ځينو بيا ويل چي دی لېونی دی پېريان ورته د بېهوشي په حالت کي دغه کلام راوړي[۳]) ﴿ إِنَّا كَاشِفُوا۟ ٱلْعَذَابِ قَلِيلًا ۚ إِنَّكُمْ عَآئِدُونَ ﴾ بېشکه موږ لري کونکي يو د دغه عذاب لږ موده بېشکه تاسي بيرته ګرځېدونکي يی کفر خپل ته امام رازي وايي مقصد له دې څخه دا تنبيه ده چي دوی پخپله وعده وفا نکوي د عجز په حالت کي زاری کوي الله بولي کله چي وېره ليري شي بيرته کفر او د پلرونو تقليد ته ورګرزي[۴]) ابن مسعود وايي کله چي د رسول الله د دعا په برکت عذاب ځني پورته شو بيرته بيا تکذيب ته راوګرزېدل ﴿ يَوْمَ نَبْطِشُ ٱلْبَطْشَةَ ٱلْكُبْرَىٰٓ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ﴾ (ياد کړه) هغه ورځ چي وبه نيسو موږ (دغه کفار) په نيولو سختو لويو سره بېشکه موږ انتقام اخيستونکي يو (په دغه ورځ کي) ابن مسعود ﷺ وايي چي ﴿ ٱلْبَطْشَةَ ٱلْكُبْرَىٰٓ ﴾ د بدر ورځ ده او ابن عباس ﷺ وايي چي دغه د قيامت ورځ ده ابن کثير وايي ظاهر دا دی چي دغه دي د قيامت ورځ وي که څه هم د بدر ورځ هم (بطشة) وه[۵]) امام رازي وايي دوهمه وينا ترنورو سمه ده ځکه چي د بدر ورځ هغو سترو او صافو ته نشي رسېدلای کوم چي دغه ورځ ورباندي لمانځل شوي بشپړ انتقام او کسات اخيستل خو د قيامت په ورځ وي او دا چي په (کبری) سره يې وستايله

---

(۱) د ابن مسعود قول څرګند او ابو السعود غوره کړی دی او د نظم او سياق سره هم مناسب دی ابن کثير د واړه ويناوي راوړي دي او بيا يې د ابن عباس وينا غوره ګڼلي او وايي چي ابن عباس ويلي د قناعت وړ ده چي دغه دي د قيامت له نښانو څخه وي. ابن کثير ۳ / ۳۰۰

(۲) البيضاوي ۳ / ۳۱۲

(۳) کبير تفسير ۲۷ / ۲۴۴

(۴) نفع المرجع .

(۵) مختصر ابن کثير ۳ / ۳۰۲

نودغه به ترګردوسخت نیول وي چي دقیامت سره ښایي[1] بیایې قریشي کفاروته هغه هلاکتونه وریاد کړل کوم چي فرعون اومصري قبطیانوته رسېدلي وو ﴿ وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ﴾ اوخامخاپه تحقیق ازمویلي وو موږ پخواله دوی نه قوم دفرعون (چي قبطیان وو) ﴿ وَجَآءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ﴾ اوراغلی وو دوی ته رسول (موسی) عزتمند (په نزددالله تعالی) یعني دوی ته دشریف حسب اونسب خاوندچي دالله په بندګانو کي دالله په نزدعزتمندبنده اوکلیم الله وو رااستول شوی وو ﴿ أَنْ أَدُّوٓا إِلَىَّ عِبَادَ ٱللَّهِ ﴾ (او وویل موسی فرعونیانو ته) چي وسپارئ تاسي په مابا ندي بندګان دالله (چي بني اسرائیل دي[2]) لکه چي الله تعالی فرمایي ﴿ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ﴾ (طه ۴۷) ﴿ إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴾ بېشکه زه تاسي ته امانتګر رسول یم (په وحی باندي په تکذیب تورن نه یم تاسوته نصیحت کوم زمانصیحت ومنئ) ﴿ وَأَن لَّا تَعْلُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ ﴾ او(وویل موسی فرعونیانوته) چي سرکشي مه کوئ پرالله (له طاعت څخه یې تکبرمکوئ) ﴿ إِنِّىٓ ءَاتِيكُم بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴾ بېشکه چي زه راوړونکی یم تاسي ته دبرهان دلیل ښکاره (چي هرهوښیارسړی وربا ندي اعتراف کوي) ﴿ وَإِنِّى عُذْتُ بِرَبِّى وَرَبِّكُمْ أَن تَرْجُمُونِ ﴾ (او وویل موسی فرعونیانوته) چي بېشکه زه پناه نیسم په رب خپل اوپه رب ستاسي له دې نه چي تاسي ماسنګسارکړی. قرطبي وایې داسي معلومېږي لکه چي دوی دوژلو اخطار ورکړی وي نو ده الله ته پناه یوړه[3] ﴿ وَإِن لَّمْ تُؤْمِنُوا۟ لِى فَٱعْتَزِلُونِ ﴾ نوکه ایمان نه راوړی تاسي (ای فرعونیانو) پرماپس (له ما) په څنګ شئ (تکلیف اوخورمه راکوئ زمالاره خوشي کړئ ابن کثیروایې معناداچي زماپه وړاندي ربړونه ختنوونه مه جوړوئ په آرامه پرېږدئ چي الله زموږاوتاسو ترمینځ فیصله وکړي ﴿ فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ ﴾ پس دعاوکړه (موسی) خپل رب ته داسي چي بېشکه دغه (قبطیان) یوقوم دی ګنهګاران (کافران) نوله دوی څخه انتقام واخله ﴿ فَأَسْرِ بِعِبَادِى لَيْلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴾ (نو وفرمایل الله تعالی موسی ته چي) پس بوزه بندګان زما دشپې بېشکه تاسي (د قبطیانو) متبوع یې (هغوی درپسي درومي اوپه دې کي به یې هلاکت وي) ﴿ وَٱتْرُكِ ٱلْبَحْرَ رَهْوًا ﴾ او پرېږده بحرسیندولاړ (ساکن) کوڅي کوڅې) کله چي ته ترې پوري وزې) ﴿ إِنَّهُمْ جُندٌ مُّغْرَقُونَ ﴾ بېشکه دوی لښکري دي ډوبي کړی شوي (پدې سیندکي په التسهیل کي وایې کله چي موسی علیه السلام ترسیند پوري ووت ویې غوښتل بیرته

([1]) کبیرتفسیر ۲۷ / ۲۴۴

([2]) دغه دمجاهد قول دی اودتسهیل مؤلف غوره کړی دی اوابن عباس وایې معناداچي ای دالله بندګانو ماته ایمان اوطاعت راکړئ.

([3]) دقرطبي تفسیر ۱۲ / ۱۳۵

يې په لکره ووهي ترڅوبیرته سره پرله پوري شي نوالله ﷻ ورته امروکړچي همداسي يې پرېږده څوفرعون ورګډشي سره له خپله قومه اوپکې غرق شي اوداچي الله پدې باندي خبردارکړ ددې لپاره چي ځوپوري يې زړه مطمئن شي چي فرعونيان يې نيولاى نشي اوله شرڅخه يې وژغورل شول وروسته يې

الله دهلاکت بيان داسي فرمايې ﴿ كَمْ تَرَكُوا۟ مِن جَنَّـٰتٍ وَعُيُونٍ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴾ څومره ډېرپرېښودل دوى له باغونو او(له) چينو (داوبو) او(له) فصلونو (چي ډول ډول مزروعات پکې وو) او(له)

ځايونوښايسته اوغوره څخه. قتاده وايې ﴿ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴾ هغه د ناستي او هستوګني عمده ځايونه

دي[1] ﴿ وَنَعْمَةٍ كَانُوا۟ فِيهَا فَـٰكِهِينَ ﴾ اوله نعمتونو (اوله هسي د هوسايي اوآرام سامان) چي په هغو(نعمتونو) کي خوشحال خوندوربه وي. امام رازي وايې چي الله تعالى دابيان وکړچي دوى له غرقېدلو وروسته دغه پنځه شيان پرېښودل چي باغونه، چينې، فصلونه، ښايسته ښکلي ښکلې اودناستي ملاستي ځايونه اودعيش اوسوکالي سامانونه (نعمة العيش) دنون په زور سره دژوندانه

ځلااوښکلااوهوسايي ته وايې [2] ﴿ كَذَٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنَـٰهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴾ همداسي (هلاک کړل موږ له مکذبينو) اوپه ميراث مو ورکړل (دغه شيان) بل قوم (سبطيانو) ته د هغوى چي دقبطيانو چوپړيان (بني اسرائيل) وو. ابن کثيروايې چي مرادله دغه بل قوم څخه بني اسرائيل دي ځکه چي دوى دقبطيانو فرعونيانو له غرقېدلووروسته په قبطي مملوکاتوواکمن شول اودمصرټول واک دوى ته ورکول شولکه

چي الله تعالى فرمايې: ﴿ وَأَوْرَثْنَا ٱلْقَوْمَ ٱلَّذِينَ كَانُوا۟ يُسْتَضْعَفُونَ مَشَـٰرِقَ ٱلْأَرْضِ وَمَغَـٰرِبَهَا ﴾

(الاعراف ١٣٧) اوالله تعالى بل ځاى فرمايې ﴿ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَـٰهَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ (الشعراء ٥٩)[3] ﴿ فَمَا بَكَتْ

عَلَيْهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ ﴾ (پس ونه ژړل پردوى (ياپه هلاکت ددوى) باندي آسمانونو اوځمکي) يعني

غمګين اومتأثرنشول ورباندي هيڅوک کله چي دوى غرق شول اوله مينځه لاړل ﴿ وَمَا كَانُوا۟ مُنظَرِينَ ﴾ اونه وو دوى مهلت ورکړى شوي (تربل وخته پوري بلکه دوى ته عذاب په دنياکي هم ژر ورکول شو. قرطبي وايې چي کله په عربو کي کوم سردار او وتلى شخصيت ومري نودوى وايې چي آسمان اوځمکي ورباندي وژړل يعني دهغه مصيبت دومره عام ووچي ګردوشيانو ته ورسېدو آن ترديې چي ځمکو، آسمانونو ورباندي وژړل برېښنااوهوا ورباندي غمجن شول لکه چي شاعروايې: فيا شجرالخابورمالک مورقا *

کانک لم تجزع لموت طريف !؟

يعني اى دخابوروني ولي دي پاڼي غوړېدلي لکه چي دطريف په مړينه خواشيني نه يې ؟! دغه ﴿ فَمَا بَكَتْ .... ﴾ دتمثيل اوتخييل په توګه مبالغه راغلي معنداچي دوى خوهلاک شول خوغم يې چاپه غم ونه

(1) البحرالمحيط ٨ /٣٦
(2) کبيرتفسير ٢٧ / ٢٤٢
(3) دابن کثيرمختصر ٣ /٣٠٢

بالو، چابیاویلي چي داکلام په حذف دمضاف باندي دی یعني علوي اوسفلي عالم چي دآسمان اوسېدونکي اودځمکي اوسېدونکي دي ددوی په مړینه اوغرقېدلويې ونه ژړل(١).

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ ﴿٣٠﴾ مِن فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيًا مِّنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ ٱخْتَرْنَٰهُمْ
عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٢﴾ وَءَاتَيْنَٰهُم مِّنَ ٱلْءَايَٰتِ مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٌا۟ مُّبِينٌ ﴿٣٣﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ﴿٣٤﴾ إِنْ هِيَ إِلَّا
مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ﴿٣٥﴾ فَأْتُوا۟ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣٦﴾ أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ
أَهْلَكْنَٰهُمْ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ﴿٣٧﴾ وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَٰعِبِينَ ﴿٣٨﴾ مَا خَلَقْنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ
وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ مِيقَٰتُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٠﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِى مَوْلًى عَن مَّوْلًى شَيْـًٔا وَلَا هُمْ
يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ إِلَّا مَن رَّحِمَ ٱللَّهُ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٢﴾ إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ ٱلْأَثِيمِ ﴿٤٤﴾
كَٱلْمُهْلِ يَغْلِى فِى ٱلْبُطُونِ ﴿٤٥﴾ كَغَلْىِ ٱلْحَمِيمِ ﴿٤٦﴾ خُذُوهُ فَٱعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ صُبُّوا۟ فَوْقَ رَأْسِهِۦ
مِنْ عَذَابِ ٱلْحَمِيمِ ﴿٤٨﴾ ذُقْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْكَرِيمُ ﴿٤٩﴾ إِنَّ هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِۦ تَمْتَرُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ
فِى مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٢﴾ يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٥٣﴾ كَذَٰلِكَ
وَزَوَّجْنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٥٤﴾ يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَٰكِهَةٍ ءَامِنِينَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلْمَوْتَ إِلَّا ٱلْمَوْتَةَ
ٱلْأُولَىٰ ۖ وَوَقَىٰهُمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥٦﴾ فَضْلًا مِّن رَّبِّكَ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٥٧﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ
يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ فَٱرْتَقِبْ إِنَّهُم مُّرْتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾ ﴾ الدخان: ٣٠ ـ ٥٩

مناسبت:

کله چي الله تعالی دفرعون دهلاکت بیان وفرمایو وروسته یې دخپلوهغواحساناتو یادونه وکړه کوم چي په بني اسرائیلویې لورولي ووترڅوداالله دنعمتونوشکراداکړي بیاالله تعالی دمکې کفارله خپل نیولواوانتقام څخه ووېرول دسورت پای یې دقیامت په ورځ دنېکمرغه (سعداوو) اوبدمرغه (اشقیاوو) دحال په بیانولوسره بشپړکړ.

لغتونه:

(عالیا) متکبراوجبارته وایي (بلاء) ازموینښت اوامتحان (منشرین) له مرګه وروسته راپاڅېدل (قوم تبع) قوم دیمن پاچـا. جوهري وایي دیمن پاچهانوته تبابعه وایي اویوېې (تبع) بولي(٢) دلغت پوهان وایي چي (تبع) دیمني پاچهانولقب دی لکه چي (قیاصره) دروم دپاچهانواو(أکاسره) دفارسیانو یا(خلفاء)

---

(١) دقرطبي تفسير ١٢/١٣٩

(٢) الصحاح للجوهري مادة تبع

دمسلمانانو د پاچهانو([1]) (يوم الفصل) دقيامت ورځ (مولى) مرستندوى چاره ساز (المهل) ويلى شوي مس (الأثيم) فاجر گنهگار (اعتلوه) په سختي سره يې کش کړئ (سندس) نري وربښم (استبرق) پنډو ربښم (عين) غټې سترگې (ارتقب) انتظارو کړه.

تفسير:

﴿ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ ﴾ (او خامخا په تحقيق نجات مو ورکړ بني اسرائيلو ته له عذابه سپکونکي) چي قبطيانو به ورکاوو او فرعون به ددوى نارينه ماشومان وژل او نجوني به يې پرې ښودلې چي ددوى چوپړ ووهي او پخپله دوى به يې په درندو کارونو گمارل ﴿ مِن فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيًا مِّنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴾ چي له (طرفه د) فرعون وو بېشکه دغه (فرعون) وو سرکښه متکبر له حده تېرېدونکى سرغړونکو څخه. صاوي وايي دغه هم په بني اسرائيلو باندي د الله د نعمتونو شمېرل دي او مقصد ور څخه رسول الله ﷺ ته تسليت او ډاډينه ورکول دي چي الله جل جلاله به دى او مؤمنان د مشرکانو له زور زياتي څخه ژغوري څکه مشرکان په جبروت او ځواک کي د فرعون او قوم مقام ته يې نه دي رسېدلي([2]) ﴿ وَلَقَدِ ٱخْتَرْنَٰهُمْ عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ او خامخا غوره کړي موو ودغه بني اسرائيل) په علم خپل په خلگو (د زمانې ددوى) قتاده وايي چي غوره کړي يې وو دوى د زمانې پر خلگو د رسول الله ﷺ په امت غوره نه وو څکه چي الله تعالى فرمايي: ﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ﴾ (آل عمران: ١١٠) ﴿ وَءَاتَيْنَٰهُم مِّنَ ٱلْءَايَٰتِ مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٌا۟ مُّبِينٌ ﴾ او ورمو کړ دوى ته له دلائلو (د قدرت خپل په لاس د موسى) هغه (خوارق) چي په هغو کي ښکاره ازموينه وه (چي چاپکي سوچ کولاى) امام رازي وايي چي دغه دلائل د قدرت لکه د بحر چاودل، د وريځي راتلل او پرې سيورى کول، من او سلوى ورته را نازلېدل او نور هغه ټول شيان چي له دوى پرته الله په هيچا هم نه وو پېرزو کړي([3]) ﴿ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ إِنْ هِىَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ﴾ (بېشکه دغه (کفار) خامخا وايي چي نه دى دغه عاقبت زموږ مگر هم دا ړومبى مرگ زموږ دى (په دنياکي) يعني دمکې کفار وايي چي خامخا زموږ هم دغه يو مرگ دى چي په دنياکي به يې وينو (هؤلآء) په کلمه کي ددوى تحقير او سپکاوى نغښتى دى مفسرين کرام وايي کله چي د سورت په پيل کي خبره د مکې کفارو په هکله وه ورپسې د فرعون او د هغه د تېرکيسه پسې راوړل شوه چي دوى هم لکه هغه غوندي په کفر او ضلالت باندي اصرارلري او پس بيرته د مکې کفارو ته خبره راغبرگه شوه او غرض له دغي وينا ددوى څخه چي وايي: ﴿ إِنْ هِىَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ ﴾ د بعث او نشور څخه انکار دى او وروسته يې پدې وينا سره له دغه انکار څخه تصريح وکړه چي: ﴿ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ﴾ او نه يو موږ له

([1]) د قرطبي تفسير ١٢/ ١٤٤
([2]) د صاوي حاشيه په جلالين ٤٨/ ٢٠.
([3]) کبير تفسير ٢٧/ ٢٤٨

راپورته کړی شو یو (له قبورو څخه) ﴿ فَأْتُوا۟ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ ﴾ پس ژوندي راولئ پلرونه زموږ که چېري يي تاسي صادقان (رښتيني په دغه خپله ويناکي خطاب رسول الله ﷺ اومؤمنانوته دی او دغه دتعجيز خطاب دی يعني که تاسو پدې ويناکي چي هلته وروسته له دغه ژونده بل ژوند شته رښتوني ياست نوزموږ پلرونه راژوندي کړئ چي ستاسي په رښتنولي خبر راکړي. امام فخر رازي وايې چي کفارو دحشر اونشردنفی کولو دليل داوو چي؛ که چېري بعث او نشور ممکن او معقول وي نوژر ترژره زموږ مړه شوي پلرونه راژوندي کړئ ترڅو دغه ستاسو په دعوی باندي يو شاهد وي چي په قيامت کي بعث اونشور شته([1]) قرطبي وايې چي ددغي وينا قائل ابوجهل وو ويې ويل : ای محمده ! که ته پخپل قول کي رښتونی يې نو زموږ له پلرونو څخه دوه تنه چي يو يې قصی بن کلاب وي هغه رښتيا ګوی سړی وو راپاڅوه موږ به ترې وپوښتو چي له مرګه وروسته به څه پېښېږي؟([2]) ﴿ أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ ﴾ (نو الله فرمايې) آيا دغه (قريش) غوره دي (په مال اوقوت کي) که قوم دتبع؟ استفهام دانکار اوتهديد لپاره دی يعني آيا دوی ديمني پاچهانوترتېرهغوی چي زيات مالونه او نعمتونه يې لرل غوره دي؟ ﴿ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ أَهْلَكْنَـٰهُمْ ﴾ اوهغه کسان چي پخواتېرشوي له دغو (قوم دتبع لکه عاديان ، ثموديان) هلاک کړل موږ دوی (زبر اوزبر موکړل هستوګنځايونه مو وران کړل. ابوالسعود وايي چي مقصد له پخوانيو څخه عاديان ، ثموديان اوددوی امثال نور جبابره دي دوی تر دغو قريشو دزيات مال دولت خاوندان ووچي هغوی هم هلاک شول نو دغه دمکې مشرکان خو به اړومرو هلاکېږي ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ﴾ بېشکه دوی ګنهګاران وو(کافران منکرله بعث اونشوره) دغه دهلاکت لپاره علت دی اوپه دې کي دقريشولپاره وعيداوتهديددی چي پردوی باندي به هم الله تعالی لکه دتېرو اُمتونو غوندي هلاکت راولي بياالله پاک دبعث په دلائلو داسي تنبيه فرمايې چي الله هغه ذات دی چي عالم يې په حقه سره پيداکړی دي ﴿ وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَـٰعِبِينَ ﴾ اونه دي پيداکړي موږ آسمانونه اوځمکه اوټول هغه شيان چي په مينځ ددغو دواړو کي دي حال داچي لوبي کونکي يو ﴿ مَا خَلَقْنَـٰهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾ (يعنی عبث) ندي پيداکړي موږدغه دواړه مګرپه حقه سره (تر څوچي نېکوکارته په احسان دده اوبدکار ګنهګارته په بدي دهغه جزاء ورکړو) ﴿ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ وليکن زياتره ددغو(مشرکانو) په دي نه پوهېږي (نوله بعث اوجزاڅخه سترګي پټوي انکار کوي مفسرين کرام وايې الله تعالی بني نوع بشرپيداکړی اودهغه دژوندانه داسبابوانتظام يې فرمايلی دی چي لوړچت آسمان يې ورباندي درولی فرش يې ځمکه ورته غوړولي اوعجائبات د مصنوعاتواوبديع دمخلوقاتويې په مينځ دسقف او مهاد کي پيداکړی دی اوبيايې په ايمان اوطاعت مکلف کړي دي نوځينوايمان راوړی اوځينوکفرغوره کړی دی نواړومرودجزاء اوسزا اړتياشته ترڅو محسن اونيکوکار دخپل نيک عمل جزاء ووينې اومُسِئ

([1]) کبير تفسير ۲۷/ ۲۴۹
([2]) دقرطبي تفسير ۱۲/ ۱۴۴

اوبدکاردخپل بدعمل سزا ترلاسه کړي اوکه دغه بعث اوجزاء نه وي بیاخوداپیدا ینبت خوشي عبث کاردی اوالله له دې څخه منزه دی ځکه وروسته فرمایي: ﴿إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ مِيقَـٰتُهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ بېشکه دغه ورځ دفیصلې (قیامت په مینځ دخلګوکي) وعده د(جمع کولو) ددوی ټولودی(چي په دغه ورځ به ددوی ګردوحساب په یوه وخت کي کېږي لکه چي الله تعالی فرمایي ﴿يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ﴾ (الممتحنة۳) ﴿يَوْمَ لَا يُغْنِي مَوْلًى عَن مَّوْلًى شَيْـًٔا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ﴾ هغه ورځ چي دفع به نشي کولای هیڅ دوست خپلوان له دوست خپله څخه هیڅ څيز(له عذابه) اونه به له دوی سره مددوکړی شي (که څه هم چي خپلوان بې وي لکه چي الله فرمایي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ وَٱخْشَوْا۟ يَوْمًا لَّا يَجْزِى وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيْـًٔا﴾ (لقمان ۳۳) ﴿إِلَّا مَن رَّحِمَ ٱللَّهُ﴾ مګرهغه څوک چي الله پرې رحم وکړي ، استثناء متصل دی یعني هیڅ خپل به بل چاته مرسته نشي ورکولای پرته له هغه چاچي دوی مؤمنان وي هغوی ته به دسپارښت اوشفاعت اذن ورکول کېږي (۱)چا بیاویلي چي استثناء منقطع دی معناداچي په چاباندي الله رحم وکړي نوهغه ته بیاګته رسېږي اوشفاعت بې کېږي . ابن عباس وایي مقصدله دغه چاڅخه مؤمن دی ځکه چي دهغه لپاره انبیآء اوپرښتې شفاعت کوي (۲)﴿إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ﴾ بېشکه الله هم دی بنه غالب قوي (کسات اخیستونکی له دښمنانو) ډېر رحم والا(پرخپلواولیاووباندي) کله چي دقیامت یادونه وشوه اودلائل بې راوړل شول وروسته بې ددغې سختي ورځي صفتونه بیان اولوړی بې دکافرانولپاره وعیداوبیادنېکانوابرارو لپاره زېری وستایوچي ترهیب اوترغیب سره یوځای راشي ویې فرمایل: ﴿إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ طَعَامُ ٱلْأَثِيمِ﴾ بېشکه (مېوه) وني دزقوم خواړه د(ډېرولویو) ګنهګارانو(کافرانو) دی (چي له دې پرته نورخواړه بې هډونشته ، ابوحیان وایي چي (أثیم) ډېراثم کونکي ته وایي اوتفسیرېې په مشرک سره کړی دی (۳)﴿كَٱلْمُهْلِ يَغْلِى فِى ٱلْبُطُونِ﴾ په شان دمسو (اوژېړ) ویلي کړی شوي چي په ګېډوکي ایشېږي ﴿كَغَلْىِ ٱلْحَمِيمِ﴾ په شان دایشېدلواوبوخوټېدونکو. قرطبي وایي: زقوم هغه ونه ده چي الله تعالی د دوزخ په مینځ کي پیداکړي ده او ﴿وَٱلشَّجَرَةَ ٱلْمَلْعُونَةَ﴾ .بې بللي ده کله چي دوزخیان لوږه احساس کړي نو دغي وني ته به پناه وروړي له هغې څخه به خوراک وکړي نوهغه به بې په ګېډوکي لکه ایشېدلي اوبه راوخوټېږي الله دغه له ویلي شوي مسواوژیړو سره تشبیه کړي ده مرادله اثیم څخه فاجر ګنهګارابوجهل دی ځکه چي هغه به ویل مورته محمد په دوزخ کي دزقوم دخوړلو تهدید راکوي خو دغه زقوم(مکهن) کوچي (مسکه) اوخرمادی (۴)بیابه بې کوچي اوخرماراو غوښتل اوملګروته به بې ویل راشئ زقوم

---

(۱) البحرالمحیط ۸/ ۳۹

(۲) کبیرتفسیر ۲۷/ ۲۰۱

(۳) البحرالمحیط ۸/ ۳۹

(۴) القرطبي ۱۲/ ۱۵۱

وخورئ هغه به يې زقوم بلل اوپه كلام الله باندي يې ملنډي وهلې الله تعالى به ددوزخ خازنانوته و فرمايې چي: ﴿ خُذُوهُ فَٱعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴾ ونيسئ دی پس راكاږئ دی (په زورسختي سره) برابرمينځ ددوزخ ته ﴿ ثُمَّ صُبُّوا۟ فَوْقَ رَأْسِهِۦ مِنْ عَذَابِ ٱلْحَمِيمِ ﴾ بياورتوي كړئ پاس پرسر دده له عذابه دايشېدلواوبو ﴿ ذُقْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْكَرِيمُ ﴾ (وبه ويل شي) ده لره) وڅكه (دغه عذاب) بېشكه ته هم دغه ته عزتمن غټ مشر (كافر) وې (پخپل زعم سره) دغه به داستهزآء اواهانت په توګه ورته وويل شي عكرمه ﷺ وايې چي يوه ورځ رسول الله ﷺ له ابوجهل سره مخامخ شو رسول الله ﷺ ورته وويل: چي ماته الله حكم كړی دی چي تاته ووايم ﴿ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴾ (القيامة ۳۴) ابوجهل ورته وويل: په څه شي ماته تهديد راكوې؟ زمادي په الله سوګندوي نه ته اونه هم ستاپروردګارپه ماهيڅ كولای شې زه په بشپړه توګه ددغي وادي مشرا ودقوم عزتمن يم نوالله دبدرپه ورځ وواژه ذليل يې كړ اودغه آيت نازل شو(۱) ﴿ إِنَّ هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِۦ تَمْتَرُونَ ﴾ بېشكه چي دغه عذاب هغه دی چي وی تاسي چي په ده كي به موشک كاوو(په دنياكي نواوس يې وڅكئ) ﴿ أَفَسِحْرٌ هَٰذَآ أَمْ أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ ﴾ (الطور:۱۵) كله چي الله ددوزخيانوحال بيان كړ ورپسې يې دجنتيانواحوال داسي راووړ چي ﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى مَقَامٍ أَمِينٍ ﴾ بېشكه چي متقيان به په ځای دامن كي وي (له ټولو ناخوالومكروهاتو) يعني هغه كسان چي په دنياكي له الله څخه وېرېدل دالله اوامرېې پرځای كول اوله نواهيوڅخه يې ځان ژغورل نونن ورځ به دامن په ځای كي وي له آفاتواوتلخيوڅخه به بې غمه وي په جنت كي به اوسي څكه يې ورپسې و فرمايل: ﴿ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴾ په جنتونواوچينوكي به وي (چي بهېږي به) ﴿ يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ ﴾ چي اغوندي به دوی (جامې) له وريښمونازكواوله پېړو ﴿ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴾ پداسي حال كي چي مخامخ به سره ناست وي ترڅويودبل له مجلسه خوند واخلي ﴿ كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴾ همداسي به وي (بې تغيره اوبې تبديله) او ملګري به كړو موږدوی ته له پېغلوسپين پوستوغټو (ښايسته) سترګوسره. بيضاوي وايې: معناداچي يوځای به كړو له دوی سره حوري (حورآء) يعني سپين پوستي (عينآء) يعني غټ سترګي (۲) اوداچي الله تعالى ددوی نعمتونه پدې وستايل څكه چي باغونه او رواني ويالې اوچينې ترهرڅه خوشحالونكي اوښه منظرجوړونكي دي غم ورباندي غلطېږي اوبيايې پی مخي غټ سترګي حوري ورسره جوړه كړې څكه چي دانسان دنېكمرغي اوسعادت بشپړاوی په همدې دريوڅيزونوسره كېږي لكه چي ويل شوي دي درې څيزونه له زړه غم اوخواشيني ليري كوي رواني اوبه، زرغونه ځمكه او ښايسته مخ ، بيايې دنعمتونوپه زياتوالي كي وفرمايل: ﴿ يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَٰكِهَةٍ ءَامِنِينَ ﴾ غواړي به دوی په دغه (جنت) كي له هر قسمه مېوې حال داچي په امن كي به وي (له ضرره دمېوو ،

---

(۱) القرطبي ۱۲-۱۵۱

(۲) دبيضاوي تفسير۲ /۱۸۲

ناروغيو، بدهضمي اوتكليف ستوماني څخه) ﴿ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلۡمَوۡتَ إِلَّا ٱلۡمَوۡتَةَ ٱلۡأُولَىٰ ﴾ نه به څکي دوی په دغه (جنت) کي مرګ مګر خوهغه ړومبنی مرګ (چي په دنياکي تېرشوی دی بلکه تل ترتله به په جنت کي ژوندوي ﴿ وَوَقَىٰهُمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ﴾ اووبه ساتي (الله) دوی له عذابه د دوزخ څخه ﴿ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكَۚ ﴾ له جهته دفضل له طرفه درب ستا(يعني تفضلا منه) ﴿ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴾ دغه (انعام اواکرام) همدا د پرلوی بری دی(چي ترې پورته بل بری نشته) ﴿ فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴾ پس بېشکه همدا خبره ده چي آسان کړی مودی دغه (قرآن) په ژبه ستا (چي دعربو ژبه ده) دپاره ددې چي دوی پند واخلي ﴿ فَٱرۡتَقِبۡ إِنَّهُم مُّرۡتَقِبُونَ ﴾ پس منتظراوسه ته (هلاکت ددوی ته) دوی هم منتظردي (هلاکت د)تاته (اوژردی چي ورته معلومه به شي چي بری اوغلبه په دنيااو آخرت کي دچاپه برخه دی؟ پدې کي درسول الله ﷺ لپاره زېری اوددوی لپاره تهديددی.

بلاغت: پدې سورت کي چي دبيان اوبديع کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱-دمبالغې صيغې لکه:﴿ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴾ او﴿ هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ او﴿ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴾.

۲-دطباق صنعت چي الله فرمايي:﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ ﴾ اوهمدارنګه﴿ إِنۡ هِيَ إِلَّا مَوۡتَتُنَا ٱلۡأُولَىٰ وَمَا نَحۡنُ بِمُنشَرِينَ ﴾.

۳-دايمان اوعقيدې لپاره دهمت خوځول اوتحريک لکه:﴿ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴾.

۴-ايجازبالحذف لکه داچي:﴿ فَأَسۡرِ بِعِبَادِي ﴾ په حقيقت کي (وقلنابأن أسر بعبادی) وو.

۵ - لطيفه استعاره پدې کلام کي چي ﴿ فَمَا بَكَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ ﴾ يعني ددوی په هلاکېدلو هيڅ څيزهم تغيرونه موند اونه هم ددوی په له مينځه تللو ځمکه اوآسمان خواشيني اوغمجن شول ، عرب دتعظيم په وخت کي وايي (بکت عليهم السمآء والارض) يعني آسمان اوځمکي ورباندي وژړل اويادنياورباندي تياره شوه اودتحقيراوسپکاوي لپاره وايي فلانی مړشوخوغرونو دده لپاره عجزاونيازونکړ.

۶-دتعجيزاسلوب لکه﴿ فَأۡتُواْ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴾.

۷-دتهکم اوسخريې اسلوب لکه:﴿ ذُقۡ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡكَرِيمُ ﴾.

۸-دغم اوخفګان اظهارلکه چي فرمايي:﴿ كَمۡ تَرَكُواْ مِن جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ وَزُرُوعٖ وَمَقَامٖ كَرِيمٖ ﴾ ؟

۹-مرسله مجمله تشبيه پدې کلام کي چي:﴿ كَٱلۡمُهۡلِ يَغۡلِي فِي ٱلۡبُطُونِ كَغَلۡيِ ٱلۡحَمِيمِ ﴾.

۱۰- ښایسته بې تکلفه سجع هغه چې د کلام په رونق او جمال کې زیاتوالی راولي لکه داچې: ﴿ إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ طَعَامُ ٱلْأَثِيمِ كَٱلْمُهْلِ يَغْلِي فِي ٱلْبُطُونِ كَغَلْيِ ٱلْحَمِيمِ خُذُوهُ فَٱعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ثُمَّ صُبُّوا۟ فَوْقَ رَأْسِهِۦ مِنْ عَذَابِ ٱلْحَمِيمِ ذُقْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْكَرِيمُ ﴾.

دالله په مرسته د (الدخان) د سورت تفسیر بشپړ شو.

د(الجاثية)سورت مکي او وروسته له (الدخان) څخه نازل شوی دی ۳۷ آيتونه لري څورلسم آيت يې مدني دی

د سورت په وړاندي:

جاثية مکي سورت دی او دنورو مکي سورتونو په شان دعقيدې په پراخ درشل کي موضوعات څېړي ، ايمان په الله تعالی دالله په وحدانيت ايمان په قرآن کريم همداراز دمحمد ﷺ په نبوت او په آخرت باندي ايمان راوړل او په بعث او جزا عقيده لرل بيانوي نژدې چي د سورت هغه محورچي ورباندي راڅرخي دالله په وحدانيت باندي دلائل تېرول او براهين راوړل وي.

سورت په پيل کي له قرآن کريمه غږېږي او مصدريې ښيې چي هغه دعزيز غالب او حکيم ذات له لوري دی هغه ذات چي دغه ستراومجيد کتاب يې درحمت دلورېني لپاره بندګانوته رااستولی دی ترڅو ددوی لپاره دخيرښېګني او نېکمرغي دلاري موندلو لپاره بل مشال وي.

وروسته بيا په کائناتو کي دالله دقدرت ښېي ښانې بيانوي په آسمانونو کي ښانې دي ، په ځمکه کي ښانې دي ، دانسان او ګردو حيواناتو او مخلوقاتو په پيدا ايښت کي دالله دقدرت ښانې شته ، دشپې او ورځي په ادلون بدلون کي دهوا او وتسخير او په اوربښت کي ښانې دي ، لنډه داچي په ګردو شيانو کي دالله په عظمت او جلال باندي ګويا شواهد او په قدرت او وحدانيت باندي يې کوتلي براهين او دلائل شته او ورپسې آيتونه له دروغ ګڼونکو او مجرمانو څخه خبري کوي هغه کسان چي روښانه آيتونه يې اوري خوله کبرا و طغيان څخه ورباندي غوږنه ګروي نو آيتونه دوی ته ددوزخ په تل کي ددردناکو عذابونو خبر ورکوي.

د سورت مبارک نور آيتونه دالله په بندګانو باندي دالله دنعمتونو شمېرښيي ترڅو چي شکر اداکولو ته يې وهڅوي او دالله په هغو نعمتونو کي چي ورباندي لورولي يې دي سوچ وکړي او پدې وپوهېږي چي يوازي الله تبارک وتعالی ددغو ظاهري او باطني نعمتونو خاوند دی او پرته له الله بل خالق او رازق نشته بيا دالله هغه اکرام چي په بني اسرائيلو يې فرمايلی وو بيانوي کوم چي دوی بيا په عصيان او انکار کولو باندي ولمانځو او دغسي دطغيانګرو مجرمانو هغه دريځ چي دانبياوو عليهم السلام په وړاندي يې خپل کړی وو ښيي او داخبره په ډاګه کوي چي دالله تعالی په عدل او حکمت کي محسنين او مجرمين سره يو ډول کېدای نشي اونه به اشراردابراروغوندي مقام پيداکړي له دې په وروسته بيا د مشرکينو دضلالت او ګمراهي اسباب بيانوي چي دوی خپل نفسي خواهشات په اُلوهيت منلي چي ددوی پوهي يې يومخ ايزه له مېنځه وړي نو حقيقي الله ته له سره لاره نشي موندلای

سورت په پای کي دقيامت دورځي عادلانه جزاء بيانوي کله چي خلګ دوه ډلي وېشل کېږي يوه ډله په جنت کي او بله په دوزخ کي لوېږي

تسمیه اونومول یې:

دي سورت ته څکه جاثیة وایې چي دحساب په ورځ به خلګ دومره کړاوونه ویني چي له ډېري وېري به په ګونډو شي اودحساب انتظاربه کوي اوخلګوته به داسي خواشینونکي سختي ورسېږي چي کله یې په زړه هم نه تېرېدلې ﴿ وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٖ جَاثِيَةٗۚ كُلُّ أُمَّةٖ تُدۡعَىٰٓ إِلَىٰ كِتَٰبِهَا ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴾ په رښتیاهم چي دغه خوراسخته ورځ ده چي ماشومان پکي بوډاګان کېږي

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ حمٓ ﴿١﴾ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٢﴾ إِنَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٣﴾ وَفِي خَلۡقِكُمۡ وَمَا يَبُثُّ
مِن دَآبَّةٍ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن رِّزۡقٖ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا وَتَصۡرِيفِ
ٱلرِّيَٰحِ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿٥﴾ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۖ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَ ٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ يُؤۡمِنُونَ ﴿٦﴾ وَيۡلٞ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ
أَثِيمٖ ﴿٧﴾ يَسۡمَعُ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن لَّمۡ يَسۡمَعۡهَاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٨﴾ وَإِذَا عَلِمَ مِنۡ ءَايَٰتِنَا شَيۡـًٔا ٱتَّخَذَهَا
هُزُوًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿٩﴾ مِّن وَرَآئِهِمۡ جَهَنَّمُۖ وَلَا يُغۡنِي عَنۡهُم مَّا كَسَبُواْ شَيۡـٔٗا وَلَا مَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَۖ وَلَهُمۡ
عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠﴾ هَٰذَا هُدٗىۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَهُمۡ عَذَابٞ مِّن رِّجۡزٍ أَلِيمٌ ﴿١١﴾ ۞ ٱللَّهُ ٱلَّذِي سَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡبَحۡرَ لِتَجۡرِيَ
ٱلۡفُلۡكُ فِيهِ بِأَمۡرِهِۦ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿١٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٣﴾ قُل لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَغۡفِرُواْ لِلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ أَيَّامَ ٱللَّهِ لِيَجۡزِيَ قَوۡمَۢا بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿١٤﴾
مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۖ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ﴿١٥﴾ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡكِتَٰبَ
وَٱلۡحُكۡمَ وَٱلنُّبُوَّةَ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ وَءَاتَيۡنَٰهُم بَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِۖ فَمَا ٱخۡتَلَفُوٓاْ إِلَّا مِنۢ
بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿١٧﴾ ثُمَّ جَعَلۡنَٰكَ
عَلَىٰ شَرِيعَةٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ فَٱتَّبِعۡهَا وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُمۡ لَن يُغۡنُواْ عَنكَ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۚ وَإِنَّ
ٱلظَّٰلِمِينَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۖ وَٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١٩﴾ هَٰذَا بَصَٰٓئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ﴿٢٠﴾ ﴾
الجاثية: ١ ـ ٢٠

لغتونه:

(یبث) خپروي تیتوي(تصریف) اړولوته وایې(ویل) هغه کلمه چي دعذاب اوهلاکت لپاره استعمالېږي (أفاک) ډېردروغجن(أثیم) ډېرګنهګار(رجز) سخت عذاب (یصر) له اصرارڅخه اخیستل شوی اوپه ټینګارسره دیوکارکولوعزم ته اصراروایې (یغني) دفع کول یاګټه رسول لکه چي الله فرمایې (ماأغنى عنى مالیه) (الحاقة: ٢٨) (بصائر) نښې نښانې اودلائل

تفسیر:

﴿ حمٓ ﴾ له مقطعاتو تورو څخه دی چي د قرآنکریم په اعجاز تنبیه ورکوي (١) ﴿ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴾ (نازلېدل د کتاب له طرفه د الله دی چي ډېر غالب قوي دی ښه حکمت والادی) یعني دغه قرآنکریم د هغه الله له لوري نازل شوی چي غالب دی پخپله پاچهي کي د حکمت خاوند دی په خپله صنع کي هغه چي هیڅ کار بې له حکمته اومصلحته نه کوي ورپسې الله تعالی دوحدانیت اوقدرت دلائل داسي راوړي ﴿ إِنَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ ببشکه په پیدا ایښت د آسمانونو کي اوپه ځمکي کي خامخا ډېر دلائل (د قدرت) دي مؤمنانو ته (هغو کسانو ته چي د الله په وجوداو وحدانیت باور کوي) ﴿ وَفِي خَلۡقِكُمۡ وَمَا يَبُثُّ مِن دَآبَّةٍ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ﴾ اوپه پیدا کولو د هر یوه ستاسي کي اوپه هغه څه کي چي خواره کړي دي الله په ځمکه کي (له هر ډول خوځېدونکو) ډېر دلائل (د قدرت اواستدلال) دي لپاره دهغه قوم چي (په قدرت درب العالمین) یقین کوي ﴿ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ ﴾ اوپه اختلاف دشپې اودورځي(په تیاره اورڼا چي تل یوپه بل پسې راځي ستوماني اوخلل پکي نه راځي اوپه ډېر دقیق نظام سره اوړي رااوړي) ﴿ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن رِّزۡقٖ ﴾ اوپه هغه کي چي الله نازل کړي دي له (طرفه د) آسمانه له (اسباب د) رزق (باران نه) هغه چي په هغه سره دبشرمعاش اورزق تأمینېږي . ابن کثیروایې چي الله تعالی باران په رزق ونوماوو ځکه په هغه سره رزق پیدا کېږي (٢) ﴿ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا ﴾ پس الله ژوندي کړه په دې (اوبو)سره ځمکه پس له مرګه (وچوالي) دهغې (نوقسماقسم فصلونه مېوې اونباتات یې رازرغونه کړل) ﴿ وَتَصۡرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ ﴾ اوپه بدلولو دبادونو(په یوقسم بل قسم سره له شماله جنوب ته اوله سړو څخه ګرموته ﴿ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴾ (دلائل (دقدرت) دي لپاره د(هغه) قوم چي عقل چلوي) یعني په دې ګردو شیزونو کي ښکاره ننښي نښانې دي چي د الله په وجوداووحدانیت ګواهي ورکوي لپاره دهغه قوم چي روښانه عقول اورڼا بصیرتونه لري صاوي وایې چي الله تعالی شپږ دلائل په دریوآیتونوکي بیان کړي لومړی آیت یې په (للمؤمنین) پای ته رسولی دوهم یې په (یوقنون) باندي اودریم یې په(یعقلون) سره بشپړ کړی دی ددوی ترمینځ بدلون اوتوپیر پدې ډول کېږي چي انسان کله آسمانونه اوځمکي ګوري اوپکي سوچ کوي دې پایلي اونتیجې ته رسېږي چي خامخا دغه یوپیداکونکی لري اوپه وجودیې باوراوایمان راوړي کله چي بیا دخپل ځان اونورو پیدا ایښت کي سوچ کوي دغه باور اوایمان یې پخېږي اویقین ته رسي اوچي کله بیاپه ګردو پېښو حوادثو اوکائناتو کي نظرڅغلوي نوعقل یې بشپړېږي اوعلم اوپوهه یې ټینګاراواستحکام مومي (٣) ﴿ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّ ﴾ دغه (علامې دقدرت لوی)

---

(١) وګوره تفصیل ددغې خبرې دالبقره سورت دپیل په تفسیر کي.

(٢) دابن کثیر مختصر ٣/٣٠٨

(٣) په جلالین باندي دصاوي حاشیه ٤/ ٦٣

دلائل (دقدرت) دالله دي چي موږيې په تاباندي لولو (اى محمده!) په حقه سره (داسي څرګندي چي هيڅ پټوالى اوغموض پکي نشته) ﴿فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعۡدَ ٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ يُؤۡمِنُونَ﴾ پس پرکومه يوه خبره پس له خبري دالله (قرآن) اوپس له دلائلو(دقدرت) دالله به دوى ايمان راوړي؟ (بلکه نه يې راوړي مقصد ددوى دهغه تکذيب چي دقرآن کريم په وړاندي يې درلوداستعظام (لويوالى) دى يعني سره له ښکاره بيان اواعجازه دوى ورباندي ايمان نه راوړي) ﴿وَيۡلٞ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٖ﴾ خرابي هلاک افسوس دى هردروغ ترونکي ګنهګارته امام رازي وايې دغه ستروعيددى او(أفاک) دهردروغ ترونکي (أثيم) خورازيات ګنهګارته وايې([1]) ﴿يَسۡمَعُ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ﴾ چي اوري آيتونه دالله چي لوستل کېږي پرده (خورلتحرګند (خوراښکاره اوروښانه) ﴿ثُمَّ يُصِرُّ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا﴾ بيالاښه کلک شي په کفر خپل پدې حال کي چي متکبر(ګرزېدونکى) وي له ايمانه) لکه چي نه يې دي اورېدلي هغه(آيتونه دقرآن) ﴿فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٖ﴾

پس زېرى ورکړه ده ته (اى محمده) په عذاب دردناک سره. دغه يې بشارت ونوماوچي پردوى باندي تهکم اواستهزاء وشي ځکه زېرى اوبشارت خودخوشحالونکي خبرلپاره راځي په التسهيل کي ليکي چي عطف يې د(ثم) په توري سره راووړچي داصرار سترتوب وښيي چي سره له دې چي دالله آيتونه اوري خوبياهم کفرغوره کوي دغه له عقل اوطبيعت څخه دېرليري دى ([2])مفسرين کرام وايي: دغه آيتونه د(نضربن حارث) په هکله نازل شوى هغه به دعجموخبرونه اخيستل اوراغونډول بيابه يې خلګ دقرآن کريم له اورېدلوڅخه ورباندي مشغولول دآيت حکم عام اودهرهغه چالپاره چي داسي کوي ثابت دى ﴿وَإِذَا عَلِمَ مِنۡ ءَايَٰتِنَا شَيۡـًٔا ٱتَّخَذَهَا هُزُوًا﴾ اوکله چي پوه شي له آيتونودهغه کتاب چي په محمد(ص) باندي نازل شوى(قرآن) زموږپريوڅه شي نونيسي يې په ټوکو اومسخرودغه (دروغجنان متکبران اواستهزاء کونکي) ﴿أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ﴾ (شته دوى ته عذاب سپکونکى) يعني دغوپه قرآن باندي ملنډي وهونکوته سخت عذاب سره له سپکاوي اواهانته انتظارباسي ﴿مِّن وَرَآئِهِمۡ جَهَنَّمُۖ﴾ وروسته له (مرګه) ددوى دوزخ دى) يعني ددوى په وړاندي دوزخ دوى ته سترګي په لاردى ځکه چي دوى په دنياکي له حق څخه تکبرکاوو ﴿وَلَا يُغۡنِي عَنۡهُم مَّا كَسَبُواْ شَيۡـًٔا﴾ اودفع به نکړي له دوى نه هغه څېزچي کسب يې کړى وي دوى هيڅ څېز(له عذابه) يعني دوى ته به ددوى دنياوي املاک لکه مال اواولادڅه ګټه ورنه رسوي ﴿وَلَا مَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَۖ﴾ اونه (به دفع کوي) هغه بتان چي دوى بې له الله دوستان نيولي دي(اوپه دنياکي به يې عبادت کاوو) ﴿وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ اوشته دوى ته عذاب دېرلوى (تلپاتي دردناک. ابوالسعودوايي چي دنفى په مينځ کي نفي راوړل چي ﴿وَلَا مَا ٱتَّخَذُواْ﴾ سره له

([1]) کبيرتفسير ۲۷/ ۲۶۱
([2]) التسهيل ۴/ ۳۸

دې چې دبتانو ګټه نه رسول خوبېخي ځرګنداوترمال اولادښکاره بربنډدي ددې لپاره شوي چې دوی به عقيده لرله دغه بتان به دقيامت په ورځ زموږشفاعت کوي همداراز پدې کې پردوی باندي تهکم اواستهزاء هم راغلي ده ﴿ هَٰذَا هُدًى ﴾ دغه (قرآن کامل) هدايت دی (چې څوک ورباندي ايمان راوړي اوپلوي يې وکړي) ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ ﴾ اوهغه کسان چې کافران شوي دي په آيتونودرب خپل (قرآن کريم باندي سره له ځرګندوالي يې پدې کې ددوی دکفرزيات شناعت اودحال بدوالی اوفظاعت دی ﴿ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ﴾ شته دوی ته عذاب له (هغه ډېرسخت) عذاب دردرسونکي څخه . زمخشري وايې چې رجز سخت عذاب ته وايې اومراد له ﴿ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ ﴾ څخه قرآن دی(١) له دې وروسته کله چې الله دوی ته په قسماقسم عذابونوتهديدورکړ سترنعمتونه ورپه يادوي ترڅوچې شکريې اداکړي اودالله توحيدومني فرمايي: ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى سَخَّرَ لَكُمُ ٱلْبَحْرَ ﴾ الله هغه ذات دی چې مسخرکړي يې دي (په حکمت اوقدرت خپل) تاسي ته بحرسيند(سره له لويوالي دهغه او ژوروالي يې) ﴿ لِتَجْرِىَ ٱلْفُلْكُ فِيهِ بِأَمْرِهِۦ ﴾ چې ګرځي بېړۍ په دغه (بحر)کي په امرحکم دالله سره (پرته له دې چې پکي ډوبي شي . امام فخررازي وايې چې داوبومخ يې داسي ښوی پيداکړی دی چې بېړۍ ورباندي درومي اولرګي ته يې داسي ځانګرتيا وربښلي چې داوبوپه سرګرزي اودغه له يوالله پرته دبل چاپه واک اوځواک کي نشته (٢) ﴿ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ ﴾ اولپاره ددې چې طلب کوی تاسي دالله له فضله (په سوداګري کولو ، ملغلري لؤلؤاو مرجان اوماهيانوله بحره راايستلوسره) ﴿ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ اولپاره ددې چې شکريې وباسئ (په نعمتونواو مهربانيو بأندي قرطبي وايې: الله تعالی دخپل بشپړقدرت اوپه بندګانوباندي دپوره نعمت يادونه وکړه اودايې بيان کړل چې دغه ګرددالله فعل ؛ خلقت ، انعام اواحسان دی(٣) ﴿ وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ﴾ اوپه کارلګولی مسخرکړی يې دي تاسي ته هرهغه شيان چې په آسمانونوکي دي (لکه لمر، ستوري اوسپوږمی) اوهرهغه شيان چې په ځمکه کي دي (لکه اوبه ، سيندونه ، غرونه ،خاوره ، حيوانات اونور) ټول (تابع) له (طرفه د) الله (دي) ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ بېشکه په دغه (تسخير) کي خامخالوی دلائل (دقدرت) دي لپاره دهغه قوم چې فکر کوي (په دغومخلوقاتوکي بياد الله له دغه بديع صنعتونوڅخه دالله په قدرت او وحدانيت باندي دليل نيسي او ورباندي ايمان راوړي . کله چې الله تعالی دخپل قدرت توحيداوحکمت دلائل وښودل وروسته دښواخلاقواونېکو کړو وړو دفضائلو ښوونه هسي کوي چې: ﴿ قُل لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يَغْفِرُوا۟ لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ

(١) الکشاف ٤/ ٢٣٧
(٢) کبيرتفسير ٢٧/ ٢٢٢
(٣) دقرطبي تفسير ١٢/ ١٦٠

﴿أَيَّامَ ٱللَّهِ﴾ (ووايه (اى محمده) هغه كسانوته چي ايمان يې راوړى دى چي ببښنه وكړي (دآزار) هغو كسانوته چي هيله نلري دورځو(دحوادثو، وقائعود) الله) يعني كفاروته دي دهغوبدوافعالواوتېريو مغفرت وكړي چي له هغوى نه صادرشوي وي مقاتل وايي: له كفاروڅخه يوه تن عمرﷺ ته په مكه كي ښكنځل وكړل عمرﷺ وغوښتل چي هغه ته دخپل بدعمل سزاوركړي نوالله ﷻ دعفوي اوتجاوز امرصادركړاو دا آيت شريف نازل شو([1])اومرادله ﴿لَا يَرۡجُونَ أَيَّامَ ٱللَّهِ﴾ څخه دادى چي دوى دالله له نيولواوعذاب څخه نه وېرېږي ځكه چي دوى په آخرت هډوايمان نلري اونه دالله سره دپيوستون هيله لري . ابن كثيروايي چي: مسلمانانوته ددې حكم شوى دى چي دمشركانواواهل كتاب په آزارونودي صبروكړي او ودي زغمي ترڅودهغوى زړونه رامات شي خوكله چي هغوى پخپل كفراو عنادباندي اصراروكړنو الله بياورته دجلاداوجهادمارپينه وكړه([2])﴿لِيَجۡزِيَ قَوۡمَۢا بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ﴾ (دپاره ددې چي الله جزاء وركړي هغه قوم ته پرهغه چي وو دوى چي كسب به يې كاوو) پدې كي وعيداوتهديدى يعني ددې لپاره چي كفارومجرمانوته ددوى دګناه اوجرم په سبب جزاوركړي اوتنكيردتحقيرلپاره دى ﴿مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۖ﴾ هر هغه څوک چي وكړي (كوم كار) نيک نو(وكړه داكار) لپاره د(نفعي د) ځان اوهرهغه څوک چي وكړي (كوم كار)بدپس پرهم ده ده (وبال اوضرريې)بل چاته يې ګټه اوضررنه رسي)﴿ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ﴾ بيا خاص رب ستاسي ته به بېول كېږى (په قيامت كي لپاره د جزا داعمالونېكوكارته دنېكي جزاء او بدكارته دبدي سزاكله چي الله دعمومي نعمتونويادونه وفرمايله ورپسې يې دخصوصي نعمتونوبيان داسي زيات كړچي په بني اسرائيلويې لورولي وو:﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحُكۡمَ وَٱلنُّبُوَّةَ﴾ اوخامخاپه تحقيق وركړى وموږبني اسرائيلوته كتاب (تورات) اوحكم (په تورات په مينځ د خلكوكي اونبوت (موسى اوهارون ته له دوى نه)﴿وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ﴾ اوروزي مو وركړي وه دوى ته له پاكوحلالوڅېزونوڅخه (لكه من اوسلوى يانورخوراكي اوڅښاكي توكي غذاګاني اومېوې)﴿وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ اوفضيلت وركړى وو موږدوى ته په خلكو (د زمانې خپلې) صاوي وايي مقصدله دې څخه درسول الله ﷺ تسليت اوډاډينه ده لكه چي ويلي يې دي اى محمده ته دخپل قوم په كفرمه غمجن كېږه ! ځكه چي موږ بني اسرائيلوته ډېرسترنعمتونه اوكتاب وركړى ووخودوى دنعمتونو ناشكري وكړه اوپخپل كفرېې اصرار اوټينګاروكړهمداسي ستاقوم هم دى([3])﴿وَءَاتَيۡنَٰهُم بَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِۖ﴾ او وركړى وو موږدوى ته ښكاره دلائل له امره او(له ديني احكامو) يعني دوى ته مود شريعت چاري اودمحمد ﷺ په هكله په

([1]) كبيرتفسير ۲۷ /۲۶۳

([2]) دابن كثيرمختصر

([3]) دصاوي حاشيه په جلالين

بشپړه توګه بیان کړې وو. ابن عباس وايي چې ﴿ بَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ ﴾ يعني د محمد ﷺ په باب معلومات او د نبوت شواهد يې موږ ورته ښودلي وو چې له تهامه څخه به يثرب ته هجرت کوي او هغه خلک به يې ملاتړ او نصرت کوي (١) ﴿ فَمَا ٱخْتَلَفُوٓا۟ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ ﴾ پس دوى اختلاف ونکړ مګر پس له هغه چې راغئ دوى ته علم (په صدق د نبوت دده) ﴿ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ﴾ له جهته د هغه ضد او عناده چې د دوى په مينځ کې وو (او د رياست او واکمني غوښتنه يې درلوده. امام فخر رازي وايي چې مقصود له دغه حالته څخه تعجب دى ځکه چې په يو څېز باندي علم راتلل اختلاف له مينځه وړي او دلته بيا د پوهي او علم شتون د اختلاف سبب شو ځکه چې د دوى مقصد داسي علم نه وو چې اختلاف دي له مينځه يوسي بلکه د دوى مقصد د رياست غوښتل او ړومبى کېدل وو ځکه نو چې کله وپوهېدل عنادته يې مخه کړه (٢) ﴿ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِى بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴾ بېشکه رب ستا به حکم وکړي په مينځ د دوى (او ستاسي) کي په ورځ د قيامت په هغه شي کي چې وو دوى چې په هغه کي به يې سره اختلاف کاوو) يعني الله به د قيامت په ورځ د خپلو بندګانو ترمينځ فيصلې وکړي په هغو ديني چاروکي چې دوى به يې په هکله يو له بل سره اختلاف کاوو په آيت شريف کي د مشرکانو لپاره زجردى چې د هغو تېرو سرغړونکو اُمتونو تګلاره دي نه تعقيبوي ﴿ ثُمَّ جَعَلْنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ فَٱتَّبِعْهَا ﴾ بيا مو وګرزولې ته ولاړ په شريعت ارته لاره له کاره د دين پس د هغه متابعت وکړه (کوم چې تا ته د سم دين وحى کاوو شي) ﴿ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (او متابعت مکوه د آرزوګانو د هغو کسانو چې دوى نه پوهېږي (په حقيقت د توحيد) يعني د مشرکانو ګمراهانو د آرزوګانو متابعت مکوه. بيضاوي وايي معنا داچې د هغو جاهلانو چې د خپلو خواهشاتو تابع وي رايه مه منه د غه قريشي سرداران وو چې ورته ويل به يې: د خپلو پلرونو دين ته راستون شه ! (٣) ﴿ إِنَّهُمْ لَن يُغْنُوا۟ عَنكَ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ﴾ بېشکه چې دوى له سره به دفع نه کړي له تا (له عذابه د) الله هيڅ شى (که چېري ته د دوى د غوښتنو پلوي وکړې ﴿ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ﴾ او بېشکه چې ظالمان ځيني د دوى دوستان (کارساز) دي د ځينو نورو (په دنيا کي او په آخرت کي د دوى کارجوړونکى او دوست نشته) ﴿ وَٱللَّهُ وَلِىُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ او الله ولي دوست د متقيانو دى (په دنيا او آخرت کي) ﴿ هَٰذَا بَصَٰٓئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴾ دغه (قرآن) بصيرتونه پندونه د روښنايي او رڼا دي) لپاره د خلکو او هدايت لارښوونه او رحمت دى لپاره د هغه قوم چې يقين راوړي (په بعث باندي).

---

(١) د جمل حاشيه ٤ / ١١٢

(٢) کبير تفسير ٢٧ / ٢٦٥

(٣) حاشيه شيخ زاده ٣ / ٣٢٣

***

الله تعالی فرمايي:

﴿أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ
سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٢١﴾ وَخَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ وَلِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ
﴿٢٢﴾ أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِ غِشَاوَةً فَمَنْ يَهْدِيهِ مِنْ بَعْدِ
اللَّهِ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾ وَقَالُوا مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُمْ بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ
﴿٢٤﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ مَا كَانَ حُجَّتَهُمْ إِلَّا أَنْ قَالُوا ائْتُوا بِآبَائِنَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٥﴾ قُلِ اللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ
ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ
يَخْسَرُ الْمُبْطِلُونَ ﴿٢٧﴾ وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ۚ كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰ إِلَىٰ كِتَابِهَا الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾ هَٰذَا كِتَابُنَا يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ
بِالْحَقِّ ۚ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِي رَحْمَتِهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ
الْفَوْزُ الْمُبِينُ ﴿٣٠﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا أَفَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُجْرِمِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا قِيلَ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ
حَقٌّ وَالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيهَا قُلْتُمْ مَا نَدْرِي مَا السَّاعَةُ إِنْ نَظُنُّ إِلَّا ظَنًّا وَمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِينَ ﴿٣٢﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُوا وَحَاقَ
بِهِمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٣٣﴾ وَقِيلَ الْيَوْمَ نَنْسَاكُمْ كَمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا وَمَأْوَاكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ نَاصِرِينَ ﴿٣٤﴾ ذَٰلِكُمْ
بِأَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا وَغَرَّتْكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُونَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٣٥﴾ فَلِلَّهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمَاوَاتِ
وَرَبِّ الْأَرْضِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٣٦﴾ وَلَهُ الْكِبْرِيَاءُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٣٧﴾﴾ الجاثية: ٢١ ـ ٣٧

مناسبت:

کله چي الله تعالی دبني اسرائیلوضلالتونه اوگمراهي بیان کړي اودایي وښودل چي قرآن کریم رڼااوهدایت دی ورپسې بې زیاته کړه چي مؤمن اوکافرسره برابرنه دي اونه هم نیکوکارله بدکاره سره پرتله کېدای شي دغه عدم مساوات په دنیااوآخرت دواړوکي شته له دې وروسته بیاپه بعث اونشور دلائل وړاندي کوي

لغتونه:

(اجترحوا) چي ترسره کړي بې دي له اجتراح څخه اخیستل شوی اوجارحه هم له دغي کلمې څخه دی (غشاوة) پرده، مخ پوټی ،برغولی(جاثیة) په گونډو(نستنسخ) موږلیکونسخ دیوځیزتدوین اولیکلوته وایي (حاق) نازل شواوچاپېر وگرزېدو(یستعتبون) دالله رضایت غوښتنه کول (الکبریآء) عظمت پاچهي اوجلال ته وايي.

دنزول سبب:

روايت كېږي چي ابوجهل يوه شپه په بيت الله شريفه طواف كاوه اووليدبن مغيره ورسره وو نود رسول الله ﷺ په شان كي يې خبري اتري پيل كړې ابوجهل وويل: زمادي په الله سوګندوي چي زه پدې ښه پوهېږم هغه رښتونى دى وليد ورته وويل: چي نه، ته په څه توګه وربانديي پوهېدلى يې؟ ابوجهل ور غبرګه كړه چي اى دعبدشمس پلاره موږ هغه په هلكتوب كي لاصادق اوأمين بالواوكله چي يې عقل بشپړاوسريتوب ته ورسېدونوموږ يې دروغجن اوخائن بولو!! زمادي په الله سوګندوي چي زه ښه پوهېږم هغه صادق دى نووليدورته زياته كړه بياولي وربانديي ايمان نه راوړې؟ هغه ورته وويل: چي بيابه دقريشونجوني وايې چي: ماداابوطالب ديتيم وراره متابعت اوپيروي ديوې مړى ډوډۍ لپاره وكړ زمادي په لات اوعزّى سوګندوي زه به يې هيڅكله هم متابعت ونكړم اونه به وربانديي ايمان راوړم

(١) نودغه آيت شريف نازل شو چي: ﴿أَفَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ﴾ دآيت دآيت ترپايه.

تفسير:

﴿أَمْ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجْتَرَحُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ﴾ (استفهام دانكارلپاره دي) آياګمان كوي هغه كسان چي بدكارونه يې كړي دي(كفاردي) ﴿أَن نَّجْعَلَهُمْ كَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ﴾ چي وبه ګرزوو موږ دوى په شان دهغوكسانوچي ايمان يې راوړى دى اوكړي يې دي ښه (عملونه) ﴿سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ﴾ برابر(اويوشاني) به وي ژوندون ددوى اومرګ ددوى (بلكه ندى برابرمؤمنان له كفاروسره نه په دنياكي اونه هم په آخرت كي ځكه مؤمنان په تقوى اوطاعت كي ژوندكوي اوكفاربياپه ناولتيااو معصيت كي شپې ورځې سباكوي ددوى ترمينځ خوراستروابن دى لكه چي الله فرمايي: ﴿أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا ۚ لَّا يَسْتَوُۥنَ﴾ (السجدة: ١٨) مجاهدوايي: مؤمن په ايمان مري په ايمان راپاڅېږي اوكافربياپه كفرمري اوپه كفر راپاڅول كېږي (٢) ﴿سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ﴾ بددى هغه چي دوى حكم كوي(چي دابرابردي) ابن كثيروايي: معناداچي ددوى دغه ګمان پرموږاوزموږپرعدل باندي ناروا ګمان دى چي موږبه دكفاروفجارو اومؤمنينوابرارو ترمينځ يوشانته برابري منولكه چي له أغزي څخه انګورنشي ترلاسه كېداى همداسي فجاردابرارو منزلت نشي ترلاسه كولاى (٣) ﴿وَخَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ﴾ اوپيداكړي دي الله آسمانونه اوځمكه پرحقه باندي (ترڅوچي پردوى باندي دخپل قدرت اووحدانيت دلالت وكړي) ﴿وَلِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ﴾ لپاره ددې چي

---

(١) مقاتل روايت كړي القرطبي ١٧٠/١٢

(٢) القرطبي ١٢٢

(٣) دابن كثيرمختصر ٣١١/٢

جزاورکړه شي هرنفس ته په هغه عمل سره چي کړی يې وي او پردوی به ظلم ونکړی شي (چي دمؤمن له ثوابه څه لږ شي اويادکافرپه عذاب څه ورزيات شي . شيخ زاده وايي :کله چي الله آسمانونه اوځمکي دحق داظهار لپاره پيداکړې اودهغوی پيداينبت دالله دحکمت اوعدل غوښتنه وه نوله دې څخه دالازمېږي چي دمظلوم لپاره دې له ظالم څخه کسات واخلي نوپدې باندي دحشراوبعث ، نشورثبوت کېږي (۱)﴿ أَفَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ ﴾ آياپس وينې ته هغه څوک چي نيولی وي ده معبود خپل آرزو(دنفس) خپل) يعني ای محمده دهغه چاله حاله خبرراکړه چي خپل خواهش يې معبود ګرزولی اودالله عبادت يې پرې ايښی وي ۱۱ په البحرالمحيط کي وايي معناداچي هغه دخپل خواهش منونکي وي هرلوري ته چي يې بولي دی يې پلوي اومتابعت کوي (۲)ابن عباس وايي: معناداچي دغه کافر دين دخپل خواهش په غوښتنه جوړوي هرڅه چي يې خواهش وي دهغه متابعت کوي ﴿ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ ﴾ (اوګمراه کړی وي ده لره الله په علم باندي) يعني الله دغه بدمرغه پداسي حال کي چي په حق باندي پوه وي اوجاهل نه وي ګمراه کړی وي داترهغه دېر بدتردی چي څوک په ناپوهي کي ګمراه شي ځکه له پوهي سره ګمراهي دعناد پايله اونتيجه وي لکه چي الله فرمايي: ﴿ وَجَحَدُوا۟ بِهَا وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ﴾ (النمل: ۸۴) ﴿ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ ﴾ اومهريې لګولی دي په غوږونو دده اوزړه دده (چي مواعظ ورباندي اغيزه نه کوي اونه هم په آياتونو اونُذُروکي سوچ کوي) ﴿ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةً ﴾ اوګرزولي يې وي په سترګو دده پرده (سمه لاره نهويني اونه هم دليل اوري چي لاره وروښيي ﴿ فَمَن يَهْدِيهِ مِنۢ بَعْدِ ٱللَّهِ ﴾ (پس څوک به لاره وښيي ده ته پس له (ګمراه کولو د) الله)؟ يعني څوک کولای شي چي هغه ته سمه لاره وروښيي وروسته له دې چي الله ګمراه کړي دی؟ ﴿ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ پس آياتاسي پند نه اخلی ؟(ای خلګو. صاوي وايي : الله کفارپه څلوروصفتونو ستايلي يوداچي دنفسي خواهشاتو عبادت کوي دوهم داچي ګمراهي يې له پوهي سره سره غوره کړي دريم داچي په غوږونو اوزړونويې مهرلګېدلی اوڅلورم داچي په سترګويې پردې دي اوداهرصفت دضلالت اوګمراهي غوښتونکی دی نوپه هيڅ توګه دوی ته لارښوونه ممکن نه ده (۳) بياالله تعالی دمشرکانوله قيامت څخه شبه اوانکار داسي بيانوي چي:﴿ وَقَالُوا۟ مَا هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا ﴾ (اووايي (کفار) نشته ژوندون مګرهمدغه ژوندون زموږ دی په دغي دنياکي چي مړه کېږو اوژوندي کېږو) يعني مشرکان وايي چي له دغه ژونده پرته بل ژوندهډونشته دغه دنياوي ژوندی دی چي مړه کېږي ځيني زموږ اوژوندي کېږي پکي ځيني زموږ نورنه بعث اونه حشرشته ابن کثيروايي چي دغه د دهريانوويناده چي عربي مشرکان يې هم ملګري شوي اوله معادڅخه انکارکوي ددوی مراددادی چي له دې نه بغيرکوم بل ژوندنشته دغه دده دهري فلاسفه ووحکماوو عقيده

---

(۱) شيخ زاده په بيضاوي ۳ /۳۲۵

(۲) البحرالمحيط ۸ /۴۸

(۳) دصاوي حاشيه په جلالين باندي ۴ /۲۷

ده هغوی چي له خالق څخه منکردي اوپدې باوردي چي هردرې دېرش زره کاله وروسته هرڅېزخپلي اصلي بڼي ته رجوع کوي ګرزي(١) ﴿ وَمَا يُهْلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهْرُ ﴾ اونه موهلاکوي مګرزمانه (تېرېدل چي شپې ورځي تېرېږي امام رازي وايي: دوی داسي انګېري چي دژوند اومرګ لپاره موجبات دغه دطبیعت تأثیرات اودافلاکو خوځښتونه اوحرکات دي اودخالق مختار وجودته اړتیانشته نودغه ډلګي ددووانکارونو اجتماع کوي یوداچي له الله څخه منکر اودوهم داچي وايي: بعث اونشور نشته(٢)الله تعالی ددوی په تردید کي داسي فرمايي: ﴿ وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ﴾ او نشته دوی ته (په دغه نسبت کولو دمرګ زمانې ته) هیڅ قدرعلم (نه دوی عقلي سندلري اونه هم نقلي څکه نو بې له علمي سنده ، دلیل او شاهده دالله له وجوده انکارکوي ﴿ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴾ نه دي دوی مګرګمان کوي (اواټکل چلوي وهم اوخیال څغلوي یقین پکي ځای نلري) ﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ ﴾ (اوهرکله چي ولوستل شي پردغو(کفارو) آیتونه د(قرآن) زموږښکاره) یعني کله چي مشرکانوته په بعث اونشور باندي مشتمل ښکاره آیتونه ولوستل شي ﴿ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱئْتُوا۟ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ نونه وي حجت دلیل ددوی مګرداچي وايي راولئ پلرونه زموږکه چېري تاسي رښتیني یی (پدغه خپله ویناکي چي له مرګه وروسته ژوندشته) ددوی دغي وینا ته یې دتهکم په توګه دلیل اوحجت وو ایو ﴿ قُلِ ٱللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ﴾ (ووایه (ای محمده ! دوی ته) چي الله ژوندي کوي تاسي بیاالله مړه کوي تاسي) یعني الله هغه ذات دی چي تاسي ته له نطفې څخه ژونددرکوي اوهغه ذات دی چي کله موټاکلي موده راشي تاسومړه کوي داسي نه دی لکه چي تاسوګمان کوی چي موږ دهراوزمانه پیداکوي اومړه کوي مو ﴿ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ ﴾ بیابه سره ټولوي تاسي ورځي دقیامت ته چي نشته هیڅ شک په (راتلود) هغې کي څکه هغه څوک چي په لومړي پیدایښت قادروي هغه په اعاده باندي هم قدرت لري اودحکمت تقاضااوغوښتنه داده چي ګردخلګ دي دقیامت په ورځ هغه چي دهغې په راتلوکي هیڅ شک نشته را پاځول شي اوخپله جزاء دي هرڅوک ترلاسه کړي ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ ولیکن زیاتره (کافران) خلګ نه پوهېږي څکه چي جاهلان اوپه دلیل اوتفکرکي تقصیرلرونکي وي دالله قدرت ورته معلوم نه دی نوله بعث اوجزآء څخه انکارکوي بیاالله دحشراونشر امکان بیانوي اودقیامت دورځي احوال په تفصیل سره ښیي چي: ﴿ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ او خاص الله لره دی سلطنت دآسمانونو اودځمکي (علوي اوسفلي کائناتو) ﴿ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَخْسَرُ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴾ اوپه هغه ورځ کي چي قیامت ودرېږي نوپه دغه ورځ به زیان کاره شي مبطلان (کافران) ﴿ وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ﴾ اووبه وینې ته (ای مخاطبه په

(١) دابن کثیرمختصر ٣/ ٣١١
(٢) کبیرتفسیر ٢٧/ ٢٧٥

قيامت كي) هرأمت ناست په ځنگنونو (له ډېري وېري او هيبته لكه چي مدعيان دحاكم په وړاندي په ځنگنونو عاجز او په خوف كي ډوب ناست وي. ابن كثيروايې دا په هغه وخت كي كله چي جهنم راوستل شي او هغه چيغه وكړي ساو كاږي نو هيڅوک به پاتي نشي مگرچي په گونډو به شي(١) ﴿كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰٓ إِلَىٰ كِتَٰبِهَا﴾ هريو أمت به رابللى شي په طرف دكتاب اعمالنامې خپلي (نو وبه ويلى شي دوى ته له جانبه دالله تعالى چي:) ﴿ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ نن ورځ به جزاء دركړه شي (تاسي ته د) هغو اعمالو چي وى تاسي چي كول به مو (په دنيا كي له خيراو شرڅخه) ﴿هَٰذَا كِتَٰبُنَا يَنطِقُ عَلَيْكُم بِٱلْحَقِّ﴾ دغه كتاب زموږ دى خبري كوي (او شاهدي وايې) پراعمالود) تاسي باندي په حقه سره(چي نه پكي زياتوب شته او نه نقصان په التسهيل كي وايې چي: كه څوک پوښتني چي څرنگه يې دكتاب يو ځل دوى ته نسبت وكړ او بل ځل يې الله ته؟ ځواب دا چي دوى ته يې نسبت پدې وكړچي ددوى عملونه پكي ليكل شوي دي او الله ته يې ځكه نسبت وكړچي هغه يې مالک دى او پرښتوته يې دليكلو امرهم هغه فرمايلى دى (٢) ﴿إِنَّا كُنَّا نَسْتَنسِخُ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ بېشكه موږ وو چي امربه مو كاوو په ليكلو سره دهغه څيزچي وى تاسي چي كول به مو (په دنيا كي) مفسرين كرام وايې چي (نستنسخ) دلته د(نكتب) په معنا دى او نسخ په اصل كي له يوه څخه بل ته نقل كولو ته وايې ابن عباس رضي الله عنه وايې: پرښتې دبنيادمو اعمال ليكي او بيايې آسمان ته او چتوي او بيا له هغو مؤكلو پرښتو سره مخامخ كېږي كومي چي ددغو اعمالنامو (چي حفظه و وليكلي) په ديوان گمارلي شوي دي دوى ته له لوح محفوظ څخه په هرليلة القدر كي هغه څه څرگندېږي كوم څه چي الله ترپخوا له پيدا اېښت دبندگانو ليكلي (نو د پرتله كولو په وخت كي) نه يو حرف زياتېږي نه كمېږي همدغه استنساخ دى ابن عباس به ويل: آيا تاسو عرب نه ياست؟ آيا استنساخ پرته له اصل څخه كېداى شي ؟(٣) له دې وروسته الله پاک دمطيعانو او عاصيانو احوال داسي بيانوي چي: ﴿فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِى رَحْمَتِهِۦ﴾ پس هرهغه كسان چي ايمان يې راوړى وي او كړي يې دي ښه (عملونه) پس ننباسي دوى رب ددوى په رحمت (جنت) خپل كي (جنت ته) يې رحمت ځكه و وايو چي داهسي ځاى دى چي هلته دالله رحمت نازلېږي ﴿ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْمُبِينُ﴾ دغه (ننوتل جنت ته) همدغه ښكاره برى دى (چي ترې پورته برى نشته) ﴿وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَفَلَمْ تَكُنْ ءَايَٰتِى تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ﴾ او هرچي هغه كسان چي كافران شوي دي (وبه ويل شي دوى ته داسي) آيا نه وو آيتونه (دقرآن) زما چي لوستل كېدل به پرتاسي باندي؟ دغه به دوى ته دتوبيخ او تقريع په توگه وويل شي) ﴿فَٱسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنتُمْ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ﴾ پس تكبرمو وكړ(ايمان مو پرې نه راووړ له اورېدلو څخه مو ځنگ وكړ) او وى تاسي قوم گنهگاران (كافران

---

(١) دابن كثيرمختصر ٣/ ٣١٢
(٢) التسهيل لعلوم التنزيل ٤/ ٤٠
(٣) البحرالمحيط ٨/ ٥١

غرق په ګناه کي) ﴿ وَإِذَا قِيلَ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ﴾ اوهرکله چي وبه ويل شو(تاسي ته ای کفاروچي) بېشکه چي وعده دالله حقه ده(بعث اونشورخامخاشته) ﴿ وَٱلسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيهَا ﴾ اوقيامت (راتلونکی دی) شک پکي نشته ﴿ قُلْتُم مَّا نَدْرِى مَا ٱلسَّاعَةُ ﴾ نووبه ويل تاسونه پوهېږو چي قيامت څه شی دی ؟(آياهغه حق دی که باطل؟ بيضاوي وايې دغه به دوی داستغراب تعجب اوزيات انکارپه ډول ويل(١) ﴿ إِن نَّظُنُّ إِلَّا ظَنًّا ﴾

ګمان نه کوومګرلږ ګمان(يعني موږ ورباندي باورنلروخوله خلکو اورو چي قيامت شته نوموږ يې توهم کوو﴿ وَمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِينَ ﴾ اونه يو موږيقين راوړونکي (په راتلودقيامت همدغه يې دقيامت دانکارلپاره تأکيددی ﴿ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُوا۟ ﴾ اوښکاره به شي(په قيامت کي) دوی ته ناکاره وا لی بدي (جزاوي) دهغو(بدو)اعمالوچي دوی کړي وو(په دنياکي) ﴿ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ اوچاپېر(نازل) به شي پردوی(عذاب د)هغه څه چي وودوی په هغه پوري به يې مسخرې کولې (په دنياکي) ﴿ وَقِيلَ ٱلْيَوْمَ نَنسَىٰكُمْ كَمَا نَسِيتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَـٰذَا ﴾ اووبه ويل شي چي نن ورځ به هېر کړو (پرې به ږدو) موږتاسي(په دوزخ کي) لکه چي تاسي هېرکړی وو ملاقات ددغي ورځي ستاسي (چي ديوم الميعادلپاره مود طاعاتوتوښه نه وه برابره کړي) ﴿ وَمَأْوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ ﴾ اوځای ستاسي اوردی ﴿ وَمَا لَكُم مِّن نَّـٰصِرِينَ ﴾ اونشته تاسوته هيڅوک له مددګارانو(چي ترې خلاص مو کړي) ﴿ ذَٰلِكُم بِأَنَّكُمُ ٱتَّخَذْتُمْ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ هُزُوًا ﴾ دغه (تعذيب له دې سببه دی) چي بېشکه تاسي نيولي وو آيتونه (دقرآن د) الله په ټوکو سره ﴿ وَغَرَّتْكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ﴾ اومغرور کړي وی تاسي دغه ژوندون ددنيا (چي تردې يې راورسولی چي ګمان مونه کاووله دې ژونده پرته دي بل ژوند بعث اونشور هم وي) ﴿ فَٱلْيَوْمَ لَا يُخْرَجُونَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴾ نونن ورځ به نه دوی له دوزخه ايستلی شي اونه به ددوی عذرقبول او(توبه منلی) شي ځکه په دغه ورځ توبه اوطاعت نفع نه رسوي ﴿ فَلِلَّهِ ٱلْحَمْدُ رَبِّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلْأَرْضِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ (پس خاص الله لره دي ټوله ثناصفت چي رب دآسمانونواورب دځمکي دی رب دټولوعالميانودی) يعني خاص الله لره حمددی بل هيڅوک دحمدمستحق نه دی يوازي هغه ذات دحمدمستحق دی چي خالق مالک دګردوکائناتودی ﴿ وَلَهُ ٱلْكِبْرِيَآءُ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ اوخاص الله لره ده لويي په آسمانونواوځمکي کي (دعظمت اوجلال بقاء اوکمال په علوياتواوسفلياتوکي الله لره دی) ﴿ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ اوهم دی دی ښه غالب قوي (چي مغلوببدلای نشي) ښه حکمت والا(پخپل صنع ، فعل اوتدبيرکي چي هيڅ کاربې له مصلحته نه کوي).

بلاغت: پدغه سورت کي چي دبلاغت بياني اوبديعي کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

(١) حاشية الجمل ٤/ ١٣٢

۱- تاکید په إن او لام سره لکه: ﴿ إِنَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَأَيَٰتٍ ﴾ ځکه چي مخاطبین دالله له وحدانیته منکر دي.

۲- د مبالغې صیغه لکه ﴿ وَيْلٌ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴾ ځکه چي فعال او فعیل د مبالغې صیغې دي

۳- تهکمي اسلوب پدې کلام کي ﴿ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ ځکه بشارت او زېرى د خوښي او ښېګڼي لپاره وي دلته د استهزآء لپاره راوړل شوى دى.

۴- مرسل مجاز لکه چي فرمايي: ﴿ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن رِّزْقٍ ﴾ رزق يعني باران او علاقه يې مسببيت دى ځکه رزق خو له آسمانه ،نه رانازلېږي بلکه باران راورېږي چي د رزق، روزي سبب دى.

۵- مرسله تشبيه لکه ﴿ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا ﴾ يعني لکه چي د قرآن آيتونه يې اورېدلي نه وي.

۶- مبالغه د مصدر په راوړلو سره لکه داچي: ﴿ هَٰذَا هُدًى ﴾ لکه چي قرآن له ډېره روښانه دليله پخپله هدايت وي.

۷- د اطناب صنعت د لفظ په تکرارولو سره چي فرمايي: ﴿ سَخَّرَ لَكُمُ ٱلْبَحْرَ... وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ ترڅو د امتنان اظهار وشي.

۸- سلبي طباق لکه: ﴿ فَٱتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ .

۹- مرسل مجاز په دې آيت کي: ﴿ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِي رَحْمَتِهِۦ ﴾ په رحمت يعني په جنت کي ځکه چي هغه د رحمت ځاى دى.

۱۰- د طباق صنعت چي فرمايي: ﴿ مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۖ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴾ او همداسي د ﴿ نَمُوتُ وَنَحْيَا ﴾ او ﴿ يُحْيِيكُمْ .... يُمِيتُكُمْ ﴾ ترمينځ چي راغلى دى.

۱۱- تصريحي استعاره چي کله فرمايي: ﴿ هَٰذَا كِتَٰبُنَا يَنطِقُ عَلَيْكُم بِٱلْحَقِّ ﴾ يعني شاهدي وايي پرتاسو استعاره دلته تر حقيقت لا زياته أبلغ ده ځکه چي د کتاب شاهدي په خپل بيان سره د انسان تر شاهدي په ژبه سره ډېره قوي ده.

۱۲- د التفات صنعت لکه: ﴿ فَٱلْيَوْمَ لَا يُخْرَجُونَ مِنْهَا ﴾ دلته التفات دى چي له خطاب څخه غيبت ته راغلى ترڅو دوى د خطاب له مرتبې څخه وغورځوي

۱۳- تمثيلي استعاره پدې آيت کي چي: ﴿ ٱلْيَوْمَ نَنسَىٰكُمْ كَمَا نَسِيتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ﴾ د دوى پرېښودل به داسي وي لکه چي يو محبوس په يو داسي ځاى کي پرې ښودل شي چي د بنديخانې د مسئولينو له پامه وغورځي او د خوراک څښاک توکي ورته نه رسېږي ترڅو چي هلاک شي او دغه تمثيلي استعارې په توګه راغلى دى مقصد له آيت شريف څخه داچې په عذاب کې به پرېښودل شي او د هير شوي محبوس په څېر به ورسره وشي ځکه الله تعالیٰ خو له نسيان څخه منزه او پاک دي. د الجاثية تفسير بشپړ شو.

داحقاف سورت مکي دی او پنځه دېرش آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دغه سورت مکي اواهداف يې ګردسره لکه دنورومکي سورتونو په شان دعقيدې اصول لکه وحدانيت ، رسالت اوبعث اوجزاء دي دسورت محور درسالت اورسول په خواوشاراخرخي ترڅو محمدي رسالت ثابت اودقرآن کريم رښتنولي وښيي.

په پيل کي سورت له قرآن عظيم څخه غږېږي هغه چي دالله له لوري په حقه رانازل شوی دی ورپسې دبتانوخبري رااخلي هغوی چي مشرکانويې عبادت کاوو اوګمان يې درلودچي دغه معبودان به دالله په وړاندي ددوی شفاعت کوي نوددوی ګمراهي په ګوته کوي چي دوی دهسي څېزعبادت کوي چي نه اوري نه ګټه رسوي اوبيادمشرکانوهغه شک اوشبه راوړي چي دوی دقرآن کريم په هکله لرله هغه په کوټلي دليل اوبرهان سره ترديدوی.

ورپسې دبشريت دوې نمونې دهدايت اوضلالت له نظره ښيي چي ديوه صالح نيکوکاره او مستقيم دفطرت په لاره له مور اوپلاره سره نېکي کونکي زوی په بڼه چي هرڅومره يې عمرزياتېږي تقوی اوصلحيت يې ورسره نورډېرېږي اوله مور اوپلارسره يې نېکي اواحسان اوج ته رسېږي يوه بله نمونه يې دبدمرغه ، اومنحرف له فطرته اودمور اوپلار آزاري زوي ښيي کوم چي له ايمان بېزاره اوپه ايمان پسي ټوکي مسخرې کوي بعث اونشور په دروغوليکه کوي سورت ددواړو انجام بيانوي . بياورپسي سورت دهودعليه السلام کيسه له خپله قومه عاديانوسره رااخلي هغوی چي په ښارونوکي يې طغيان پيل کړی اوپخپل قدرت اوځواک غره ووترڅوچي الله تعالی دوی په باداوهوا باندي هلاک کړل اوپدې کي دقريشي کفارولپاره غوږ وهنه ده چي طغيان ته يې لاس اوږدکړی اودالله له اوامروڅخه يې استکبارکړی درسول الله صلی الله عليه وسلم تکذيب يې کړی دی.

په پای کي سورت دځوتنوپېريانودکيسې يادونه کوي چي قرآنکريم ته يې غوږ کېښودورباندي ايمان يې راووړاوبياخپل قوم ته ستانه شول چي هغوی ووېروي اوايمان ته بلنه ورکړي اوپدې کي دمعاندوانسانانولپاره يادونه ده چي پېريانان تردوی له مخه په اسلام مشرف شوي دي.

تسميه اونوموليې:

دغه سورت په (احقاف)څکه ونومول شوچي (احقاف) دعاديانوهستوګنځی دی کوم چي الله هغوی ددوی دطغيان اوجبروت په نتيجه کي هلاک کړل ددوی دغه مساکن ديمن په ځمکه کي وو

﴿ وَٱذۡكُرۡ أَخَا عَادٍ إِذۡ أَنذَرَ قَوۡمَهُۥ بِٱلۡأَحۡقَافِ ﴾ دآيت ترپايه.

دینځم ټوک پښتو صفوة التفاسیر دسورتونو اوآیتونو نوملړ

صفوة التفاسير 5 ټوک

د نصيراحمد احمدي

لخوا سکين او pdf سو

تاريخ. ۲۷-۱۱-۱۳۹۸

واتساپ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعـا محـتـاج احمدي!